
تالیف: شهید یحیی سنوار
ژباړن: معراج الدین سعادت

اغزي او لونګ



د شهید
یحیی سنوار
رښتینې
واقعات

اغزي او لونګ

(د شهيد يحيى السنوار رښتيني واقعات)

حکمرانان کتابتون: https://t.me/Azizafghn

تاليف

شهيد يحيى السنوار

ژباړن

معراج الدين سعادت

کتاب پېژندنه:



د کتاب نوم:	اغزي او لونګ
تالیف:	شهید یحیی السنوار
ژباړن:	معراج الدین سعادت
ترتیب و تدوین:	محمد فهیم عاطف
چاپکال:	۱۴۰۳هـ،ش ۲۰۲۴ میلادي کال

د موندلو درک

د لراو بر په ټولو مشهورو کتابخانو کې ترلاسه کېدای شي!

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دا ناول نه زما شخصي قصه ده او نه د يو خاص شخص قصه ده، البته د دې ناول ټول واقعات ريښتيني دي، د دې هره واقعه او يا د واقعاتو مجموعه حتماً له يوه فلسطيني وګړي سره تړاو لري. په دې کې تخيل فقط دومره کارول شوی چې د يو ناول شکل ورکړل شوی چې هغه په ځانګړو کرکټرونو باندې راڅرخي تر څو په دې کې د ناول غوښتنې پوره کړای شي. له دې پرته هر څه ريښتوني دي او د دې زياتره برخه ما له هغو خلکو اورېدلي چې دوی په خپله. يا يې کليوالو او خپلوانو د فلسطين په پاکه خاوره تر لسيزو پورې زغملي دي.

زه دا کتاب د هغو خلکو په نوم کوم د چا زړونه چې د اسراء او معراج له ځمکې سره مينه لري. له بحر اوقيانوس نه نيولې تر خليج پورې. بلکې له بحر اوقيانوس نه نيولې تر بحر اوقيانوس پورې.

يحيى ابراهيم السنوار
بئر سبع زندان ۲۰۰۴

1403-10-24
محمد يرغل

پېلیزه

یحیی سنوار یو فلسطیني نظامي او سیاسي څېره وه چې د حماس په نظامي څانگه القسام کې یې مهم رول لوباوه. هغه په ۱۹۶۲ میلادي کال کې د غزې ترانگې د خان یونس سیمې په یو مهاجر کمپ کې نړۍ ته سترگې وغړولې. هغه د غزې په اسلامي پوهنتون کې زده کړې کړې دي او له همدې ځایه یې په عربي ژبه کې د ادبیاتو لسانس سند هم ترلاسه کړی دی. د حماس غورځنگ د جوړېدو په اوائلو کې یې په هغه کې گډون وکړ او ډېر ژر یې پرمختگ وکړ. په ۱۹۸۸ کې هغه د اسرائیلي فوځ لخوا ونیول شو او هغه یې په عمري قید محکوم کړ خو بیا له اسرائیلو سره په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د بندیانو د یوې تبادلې په ترڅ کې ازاد شو. یحیی سنوار په ۲۰۱۷ کې د حماس د سیاسي څانگې د مسؤل په حیث وټاکل شو. هغه د یوه سخت دریځه مشر په توگه پېژندل کېده چې له اسرائیلو سره یې د هر قسم مفاهمت مخالفت کاوه. کله چې د حماس مشر اسماعیل هنیة په ۳۱ جولایي ۲۰۲۴ کې په ایران کې په شهادت ورسید نو یحیی سنوار د حماس د نوي مشر په توگه وټاکل شو. هغه د نورو مشرانو برعکس په غزه کې له خپلو خلکو او مجاهدینو سره اوسیده او په زیاترو جنگونو کې به یې برخه اخیستله چې له امله یې د فلسطین او په ځانگړې توگه د غزې په خلکو کې محبوبیت لا پسې زیات شو. د ۲۰۲۴ په شپاړسم اکتوبر د رفح په یو کور کې له دښمن سره تر اخري سلگۍ وجنگېده او د ۶۲ کلونو په عمر د شهادت لوړ مقام ته ورسېده.

هغه دا ناول د زندان د تورو تمبو شاته او د جلادانو له نظرونو په پټه لیکلی دی او په دې کې یې د فلسطین د خلکو او مجاهدینو د سختیو حقیقي انځور گرې کړې ده.

تاسو به ولولئ چې د فلسطین بااحساسه محصلین څنګه د یو زبرځواک په وړاندې په ډبرو او چاقوګانو سره مبارزه پیل کوي. د یو میل سلاح د نشتون له امله څنګه مجاهدین شهیدان کېږي. په ډېرو ګروپونو کې یوه تومانچه د عملیاتو لپاره ګرځي راګرځي. د یو توپک پیدا کیدل د دوی لپاره څومره د خوښۍ ورځ وي؟... د فلسطین خلک له عربو واکمنانو څخه څومره هیلې ساتي خو هغوی څومره بې وفایي کوي؟... میندې څنګه خپل د زړې ټکړې د فدایي عملیاتو لپاره استوي او د صبر او استقامت توصیه ورته کوي؟... اشغالګر یهودیان له کومو لارو چارو څخه کار اخلي تر څو د فلسطین خلک د خپلو خلکو پر ضد وکاروي او د جاسوسي کار ترې واخلي؟...

ما خپله ټوله هڅه کړې ده چې ژباړه روانه او بې تکلفه و اوسي. د ځینو لغاتونو هغه معنی اخیستل شوې چې د پښتنو په ټولنو کې استعمالیږي. اګر که لفظاً مغایرت ولري. خو بیا هم که ځینې ځایونه په معیاري پښتو نه وي ژباړل شوي او پر ځای بې کلیوال لغات کاریدلي وي نو دا به زما کمزوري وي او په پیل کې بې ښنه غواړم.

مولوي معراج الدین سعادت

لومړی څپرکی

د ۱۹٦۷ کال ژمی ډېر سخت و، د تګ نوم يې نه اخيست او د پسرلي د روښانه او تود لمر د مخنيوي هڅه يې کوله او کله به چې پسرلي د خپلې رڼا د راوړلو هڅه کوله نو اسمان به په سړو ورېځو وپوښل شو او ناڅاپه به باران شروع شو. دغه باران به د غزې په ښار کې د الشاطئ مهاجر کمپ خام کورونه ډوب کړل. په کوڅو کې به د سيلاب په شکل بهيده، کورونو ته به هم د ننه شو او د ورو خونو اوسيدونکي به يې په په تکليف کې واچول ځکه د هغوی کوټې د نږدې سړک له سطحې څخه لاندې وې. او هر وخت به د باران د سيلاب اوبه زموږ کوچنۍ انګړ ته ننوتې. له هغه وخت راهيسې چې موږ په ۱۹۴۸ کال کې د فلوجه ښارګوټي له اشغال شويو سيمو څخه هجرت وکړ؛ هر وخت به زموږ همدا حال وو. هر وخت به زما، زما د دريو ورونو او زما د خور چې ټول له ما څخه لوی وو؛ په زړونو کې ويره وه. په داسې حالاتو کې به زما مور او پلار موږ پورته کولو او مور به مو بسترې پورته کولې ترڅو اوبه يې لمدې نه کړي دا چې زه تر ټولو کوچنی وم نو د خپلې مور په غاړه پسې به ځوړند وم په داسې حال کې چې زما کوچنۍ خور به يې هم په غېږ کې وه.

څو ځله به د شپې په اوږدو کې د خپلې مور د لاسونو په لمس له خوبه پاڅيدم او يوې خوا ته به يې کړم او په خپله بستره به يې زما څنګ ته د المونيم لوښی يا يوه خټينه لويه پياله ايښې وه تر څو د چت له درز څخه بهيدونکي اوبه پکې جمع شي. يو لوښی دلته، يوه خټينه پياله هلته او بل لوښی به بل ځای ايښی ؤ. هر وخت به مې د ويده کېدو هڅه کوله. کله ناکله بريالی شوم او کله کله به د اوبو د څاڅکو په غږ له خوبه پاڅېدلم چې مسلسل به په لوښي کې غورځيدل.کله به چې لوښی تقريبا ډک شو نو له هر څاڅکي سره به اوبه زموږ په مخ لګيدلې. نو مور به مو را پورته شوه او نوی لوښی به يې ورته کېښود او هغه ډک لوښی به يې له کوټې څخه بهر تش کړ.

زه پنځه کلن وم او د ژمي يو سهار، چې د پسرلي لمر يې د سړې شپې د اغيزو ختمولو هڅه کوله، زما اوه کلن ورور محمد زه په لاس نيولی وم او د کمپ په کوڅو کې ګرځيدو . موږ د کمپ څنډې ته روان شو چې هلته د مصري پوځ کمپ وو.

په دې کمپ کې مصري پوځيانو موږ ډېر خوښولو او په دوی کې يوه فوځي زموږ سره شناخت هم پيدا کړی ؤ حتی زموږ نومونه يې هم زده کړي ول او کله به يې چې موږ وليدو نو موږ ته به يې راغږ کړ محمده! احمده! دلته راشئ ... نو موږ به د هغوی خوا ته ولاړو او په ولاړه به مو انتظار کاوه چې موږ ته څه راکوي؟ عسکر به د فوځي پتلون له جيب څخه د هر يوه لپاره د پستې حلوا يوه يوه ټوټه را وايستله او هر يو به خپله ټوټه واخيستله او په شوق سره به يې وخوړه. هغه عسکر به لاسونه زموږ په اوږو ايښي وو او بالاخره به يې زموږ په سر لاسونه راتېر کړل او امر به يې وکړ چې بيرته کور ته لاړ شو او موږ به هم په کشبدلو قدمونو بيرته ولاړو.

له اوږده او سخت ژمي وروسته د يخ موسم پای ته ورسيده او ښايسته ګرمه هوا شروع شوه او موږ د باران له ناخوالو خلاص شولو. ما فکر کاوه چې د يخ موسم ډير اوږد شو او ژر به بيا نه راګرځي، خو ما په خپل شاوخوا کې د اضطراب او پريشاني حالت احساس کاوه، د کور ټول خلک د هغې باراني شپې په پرتله ډير په بد حالت کې وو او ما په هغه وخت کې د وضعيت د درک کولو توان نه درلود مګر دومره پوهيدم چې حالت نورمال نه دي. حتی په يخو شپو کې به هم زما مور لوښي له اوبو ډکول او هغه لوښي به يې په انګړ کې کيښودل. پلار مې له ګاونډيانو څخه يو بېل په پور اخيستی و او کور ته په مخامخ انګړ کې يې يوه لويه او اوږده کنده وکېندله. زما ورور محمود چې لس کلن و په هغه وخت کې له دوی سره يو څه مرسته کوله. کله چې خندق چمتو شو نو زما پلار د پاسه پرې د لرګيو ټوټې کېښودلې، بيا يې د انګړ يوه برخه د اوسپنې په پوښ سره پټه کړله.

ما دا محسوس کړه چې زما پلار په یو مشکل کې دی ځکه چې شاوخوا یې یو څه لټول، بیا مې ولیدل چې د پخلنځي دروازه یې راوشکله او د خندق په سر یې نصب کړه. خو کله چې ما ولیدل چې زما مور او ورور محمود د خندق له یوه خلاص سوري څخه ښکته کوز شول نو پوه شوم چې کار خلاص شو. ما جرئت وکړ او سوري ته ورنژدې شوم او خندق ته په ټیټه ملا ننوتم او هلته مې د ځمکې لاندې یوه تیاره کوټه ولیدله. زه په هیڅ نه پوهیدم خو داسې معلومیده چې مور د یوه ستونزمن او غیر معمولي کار په تمه یو او شاید د هغو طوفاني او باراني شپو څخه هم سخت حالت وي.

زه هیڅا هم له لاس نه نیولم تر څو مې نږدې د مصري فوځیانو کمپ ته بوځي تر څو مور د پستې حلوا وخورو او زما ورور هم دا غوښتنه بار بار رد کوله چې دا زما او محمد لپاره یو ستر بدلون ؤ. او زه د هغه د پوهولو وړ هم نه وم. حسن هم زمونږ په دې راز نه پوهېده، شاید هغه پوهېده خو زمونږ سره په دې راز کې شریک نه و او ماته هم دا نه معلومیده چې پرون هغه له مونږ سره ولې نه و تللی؟ خو زما همزولی د تره زوی ابراهیم چې زمونږ په ګاونډ کې اوسیده؛ له دې معاملې خبر و. د محمد له انکار او له ما سره د نه تللو نه وروسته زه د خپل تره کور ته ولاړم تر څو له ابراهیم سره پاتې شم. ما دروازه خلاصه کړه او کوټې ته د ننه شوم او تره مې ناست ولیده چې د هغه د مخ کیفیت به زما هیڅکله هېر نشي. د هغه په لاس کې یو ټوپک و چې هغه یې په جوړولو مصروف و. ما سوچ وکړ چې شاید زه هم له دې ټوپک سره یو څه وکړای شم. ټوپک زما توجه جلب کړه او زما ټول نظر اوس په همدې متمرکز شو. تره مې ځان ته وغوښتلم او له ځان سره یې کینولم او بیا یې د ټوپک په اړه داسې خبرې راته کولې چې زه پرې نه پوهېدم او بیا یې زما په سر لاس راتېر کړ او له کوټې نه یې بهر وویستم. ما ابراهیم له ځان سره ملګری کړ او دواړه د مصري کمپ طرفته روان شو خو مونږ چې هلته ورسیدو نو حالات مکمل بدل شوي وو. هغه فوځي اوس هلته نه و

چې زموږ انتظار به یې کاوه او ښه راغلاست به یې راته ویل بلکې دا ځل یې موږ ته د لیرې تللو اشاره وکړه او راته یې وویل چې بیرته د خپلو میندو خوا ته لاړ شو . موږ مایوسه بیرته راستانه شو ځکه دا ځل موږ د خپلې خوښې حلوا ترلاسه نکړه او زه په دې بدلون هیڅ نه پوهیدم.

راتلونکې ورځ زموږ مور د کور یو څو بسترې واخیستلې او په همااغه خندق کې یې هوارې کړلې او ورسره یې د اوبو دوه درې منګي او یو څه خوراکي توکي هم یوړل او موږ یې هم هلته کښینولو، د تره ښځه او د تره زامن حسن او ابراهیم هم له موږ سره کیناستل. زه ډیر پریشان شوم چې موږ خپل کور، انګړ او کوټې پریښې دي او په دې تنګ ځای کې یې کښینولي یو او کله به هم چې ما د بهر وتلو کوښښ کاوه نو مور به مې راکش کړم او بیرته به یې کښینولم او کله کله به یې موږ ته لږ ډوډی او یو څو زیتون راکړل .

لمر په ډوبیدو شو. د ورځې رڼا تته شوه او تیاره په خندق کې په ډیرېدو شوه. زموږ په زړونو کې وېره زیاته شوه او موږ ماشومانو په ژړا پیل وکړ. زما مور او د تره ښځې هڅه کوله چې موږ پخلا کړي هغوی به موږ ته ویل: "ماشومانو! بهر جګړه ده. ایا تاسو د جګړې په معنی نه پوهیږئ؟ زه هغه وخت د جګړې په معنی نه پوهیدم مګر دومره خبر وم چې دا یو څه وحشتناک، غیر معمولي او ټکان ورکوونکی څیز دی. موږ بیا بیا د وتلو هڅه کوله خو بیا به یې هم ایسار کړلو نو زموږ ژړا نوره هم په زوره شوه او هغې هڅه کوله چې موږ خاموش کړي.

په دې وخت کې محمود وویل: مورې، ایا زه یو څراغ راوړم چې موږ یې روښانه کړو؟ هغې ځواب ورکړ: هو! محمود چې کله د بهر وتلو لپاره پورته شو نو مور مې هغه بیا را ایسار کړ او ویې ویل: زویه بهر مه ځه! خو هغه بهر ولاړ او بیرته راغی او په لاس کې یې "کیروسین " څراغ و، هغه یې روښانه کړ او یوه خاموشي او اطمینان خپور شو. زه، زما ورونه او د تره زامن د خوب غیږې ته ولاړو او زما مور او د تره ښځه هم له خوب سره په جنګ جنګ کې ویدې شوې. راتلونکې

ورځ هم څه خاص خبره ونشوه او زموږ ډيره ورځ په خندق کې تېره شوه.
زموږ ګاونډۍ معلمه (ښوونکې) عايشې يوه راډيو درلوده او هغه به يې کوله چې له راډيو سره خندق ته نږدې پاتې شي او تازه خبرونه واوري او کله به يې هم چې تازه خبر واوريده نو زما مور او تره ښځې ته به يې رساوه چې له امله به يې په چاپېريال کې خپګان او غم زيات شو او چوپتيا به خپره شوه او په دې سره به زموږ د ميندو خپل وطن ته د تګ تياريانې او زموږ خولهشات هم اغيزمن شول .کله به چې هغې موږ ته د خاموشه کيدو وويل نو دا خبره به په موږ ډيره درنه تمامه شوه. د احمد سعيد لخوا د "صوت العرب" څخه کيدونکي ګواښونه او په سمندر کې د يهودانو د غورځولو خبرې به کم رنګه شوې. او زموږ د والدينو وطن ته د بيرته ستنيدو خوبونه به د دې شګو د کلاګانو په څير خواره واره شول چې موږ ماشومانو به د لوبو په وخت کې جوړ کړي ول. زموږ لوی ارمان دا و چې موږ بيرته هغه سيمې ته لاړ شو چې زموږ وه. او زموږ کاکا چې د فلسطين د آزادۍ په اردو کې و. او زموږ پلار چې په ولسي مقاومت کې و. په خوندي توګه بيرته موږ ته راستانه شي. هر نوی خبر چې ميرمن عايشې به راوړ. خپګان او پريشاني به يې نوره هم زياته کړه، خلک به په دعاګانو بوخت شول. لاسونه به يې اسمان ته پورته کړل او د سلامتيا او راستنيدو دعاګانې به يې کولې. د چاودنو غږونه په رانږدې کيدو شول.

زما مور به وخت په وخت له خندق نه بهر وتله او له کور څخه به يې د خوړو يا پوښاک لپاره يو څه راوړل. يا به يې زما د تره ميرمن ته زموږ د نيکه په اړه تسلي ورکوله چې هغه په خپله خونه کې د اوسېدو ضد کړی و او نه يې غوښتل په خندق کې له موږ سره يوځای پاتې شي.

په لومړي سر کې دوی هيله درلوده چې موږ به ژر په فلوجه کې خپلو کورونو او کروندو ته راستانه شو او زموږ لپاره به هيڅ خطر نه وي ځکه چې خطر به د يهودانو لپاره وي چې د عربو فوځونه به يې تر پښو لاندې کړي مګر کله چې

دوی د جګړې په نوي حقیقت پوه شول چې دا زموږ په ګټه نه ده چې له جنګ تېښته وکړو ځکه چې ژوند او مرګ د دوی لپاره برابر وو. نو دوی ویل چې تر کومه وخته به له خپل تقدیر څخه تښتو؟

یو ځل بیا تیاره شوه او موږ ویده شولو او څو ځلې د چاودنو غږونه واوریدل شول. راتلونکې ورځ د چاودنو غږونه زیات شول خو په دغه ورځ څه خاص خبره نه وه بغیر له دې واقعې چې ډېر خلک په منډه راغلل او چیغې یې وهلې چې «جاسوس! جاسوس!» دا معلومه وه چې دوی په جاسوس پسې منډې وهي. له هغه سره د موټر په څېر یو شی و چې دوه ټایرونه یې هم درلودل او خلکو تعقیباوه. زه د خپلې مور، تره میرمن او عایشې له خبرو پوه شوم چې دا جاسوس د یهودانو سره څه تړاو لري. دا ښکاره وه چې اوس دوی لویدیځ طرفته کورونه په نښه کوي. د چاودنو غږونه زیات او رانږدې شول. د هرې نوې چاودنې سره ویره او چیغې زیاتې شوې. که څه هم د امن ورکولو هڅې روانې وې. هره شیبه وروسته به عایشه د خندق کړکۍ ته راتله او خبرونه به یې زما مور او د تره میرمن ته اورول.

څو ورځې وروسته زما مور ته بیرون وتل ناممکنه شول، عایشې خبرونه ورته راوړل او له خبرونو سره یې په ژړا او چیغو پیل وکړ او خپلې پښې یې قابو نشوې کړای او ښکته وغورځیدله. هغې په ژړا کې وویل: یهودو زموږ هیواد اشغال کړ! د یوې شیبې لپاره چوپتیا خپره شوه خو دا چوپتیا زما د وړې خور مریم په دردناکه چیغې ماته شوه، هغې هم د مور د ژړا په وجه ژړا پیل کړه.

د بمباریو او چاودنو غږونه بند شول او یوازې کله ناکله د ډزو غږونه اورېدل کېدل. نږدې ماښام دا غږونه هم ودرېدل او چوپتیا شوه، ماښام د ګاونډیانو غږونه اوچت شول، هغوی له کورونو او خندقونه څخه راووتل چې هلته تر ډیرې مودې پټ شوي ول. عایشه بهر ولاړه او د حالاتو له معلومولو وروسته راغله او وېې ویل: جنګ ختم شوی دی، بهر راووزئ! مور او د تره میرمن لومړی ووتلې

او بیا یې موږ هم بهر وغوښتلو.
له څو ورځو وروسته مو په لومړي ځل د طبعي هوا ساه واخیسته. خو دا هوا د بارودو او وران شویو کورونو له دوړو او غبار ډکه وه. له دې نه مخکې چې زما مور ما بیرته خپل کور ته بوزي؛ ماته د شاوخوا سیمو د لیدلو فرصت پیدا شو. ما ولیدل چې زموږ په شاوخوا کې د ویجاړې نښې دي. بمبارۍ د ډېرو ګاونډیانو کورونه زیانمن کړي وو خو زموږ کور ته هیڅ زیان نه و رسیدلی. موږ کور ته دننه لاړو او نیکه موږ په غیږ کې ونیولو او هر یو یې جلا جلا ښکل کړو. د خدای شکر یې اداء کړ چې موږ خوندي یو. او زموږ د پلار د ژر تر ژره راستنیدو لپاره یې دعا وکړه.
په هغه شپه د تره میرمن او د هغې دوه زامن له موږ سره ویده شول. زموږ پلار او تره هغه شپه بیرته راستانه نه شول او داسې ښکاریده چې د دوی بیرته ستنیدل به ډیر وخت ونیسي. سهار د کمپ په کوڅو کې حرکات پیل شول. هر څوک د خپلو ماشومانو. خپلوانو او ګاونډیانو د حال پوښتنې لپاره ولاړل او د خدای شکر یې اداء کړ چې دوی روغ جوړ دي. او هغه یې کوله چې د هغو کورنیو حال معلوم کړي چې د بمباریو له امله یې کورونه زیانمن شوي دي.
دا یوه کیسه ده چې د یوه فلسطیني کلي حالات بیانوي کله چې اسرائیلي پوځ اشغال کړ او په کلي کې یې یو شمېر کسان ووژل. خو ډېرې کلیوال د سمندر خوا ته او یا شاوخوا باغونو او کروندو ته وتښتېدل او یا یې په کیندل شویو خندقونو کې پناه واخیستله.
یوځل اشغالګر ځواکونه په یوه سیمه کې له سخت مقاومت سره مخ شول نو هغوی شاتګ وکړ او لږ ساعت وروسته څو ټانکونه او پوځي جیپونه راښکاره شول چې د مصر بیرغونه پرې رپېدل نو مقاومت کوونکي جنګیالي خوشحاله شول چې ګواکې کومک راورسېده او له خندقونو څخه راووتل او هوایي ډزې یې پیل کړې خو کله چې فوځي کاروان دوی ته ورنږدې شو نو پر مقاومت

کوونکو يې سختې ډزې وکړې او ټول يې شهيدان کړل او په موټرو د مصري بيرغونو پر ځای بيرته اسرائيلي بيرغونه رپاند شول.

خلکو په نږدې ښوونځي هجوم وروړ چې له جګړې مخکې د مصر د اردو کمپ و، او هر څه چې په لاس ورغلل هغه يې لوټ کړل، چا مېزونه تښتول، چا څوکۍ تښتولې، چا غلې دانې او چا د پخلنځي لوښي په لاسونو کې اخيستي وو.

د دې پر ځای چې اشغالګرو ځواکونو په دې شيانو قبضه کړې وای، خلکو خپل ځانونه د دې شيانو وارثان وګڼل ځکه چې د مصر پوځ له هغه ځايه غائب شوی و. ځينو خلکو د نږدې دوکانونو دروازې ماتې کړې او له هغه ځايه يې لوټ مار شروع کړ او ځينو په کمپ کې پاتې شوې وسلې او مهمات واخيستل. دا ګډوډي تر څو ورځو پورې روانه وه او ټول خلک پکې بوخت وو.

يوه ورځ د ماسپښين په شاوخوا کې له ليرې څخه په لوړ غږ په عربي ژبه کې اعلان وشو چې ګرځبنديز ولګېد او هرڅوک بايد په خپلو کورونو کې پاتې شي او څوک هم چې بهر وځي نو د مرګ له خطر سره به مخ شي. خلک په کورونو کې پاتې شول او په پوځي جيپونو کې به همدا اعلانونه کيدل. دوی بيا اعلان وکړ چې ټول نارينه چې عمرونه يې د ۱۸ کالو څخه پورته وي بايد نږدې ښوونځي ته راټول شي او هرڅوک چې له دې امر څخه سرغړونه وکړي د مرګ سره به مخامخ شي.

زما پلار او تره واپس نه وو راغلي او زما مشر ورور محمود کوچنی و. کله چې زما نيکه د ښوونځي په طرف ته روان شو نو يوه عسکر وليده او امر يې ورته وکړ چې بيرته لاړ شه ځکه چې هغه زوړ او ضعيف و، هغه وروسته نا اميده راستون شو. لږ ساعت وروسته په لوی تعداد کې فوځيانو چې په وسلو سمبال او ګوته په ماشه ول، د کورونو تلاشي شروع کړه او کوم نارينه به چې دوی وموند هغه به يې بغير له مهلت ورکولو په مرمۍ وويشت.

د کلي خلک په يوه نږدې ښوونځي کې راټول شول او پوځيانو دوی د ښوونځي

په انګړ کې د ځمکې پر سر په قطار کینول . عسکرو دوی له ټولو خواوو څخه محاصره کړل او ګوته په ماشه ورته کښیناستل. کله چې د نارینه وو د راټولولو مرحله پای ته ورسیده نو یو پوښلی پوځي جیپ ښوونځي ته راغی او یو سړی ترې راښکته شو چې په ملکي جامو کې و، خو هغه د اشغالګر پوځ مهم شخص و ځکه چې ټولو عسکرو په توجه سره د هغه خبرو ته غوږ نیولی و. هغه به حکمونه کول او عسکرو به د هغه د لارښوونو سره سم صفونه برابرول. هغه سړیو ته امر وکړ چې یو. یو پورته شي او روان شي ترڅو د هغه جیپ مخې ته تیر شي چې په اخر کې راغلی و. سړي یو په بل پسې پورته کیدل او د هغه جیپ له مخې به تیریدل. او کله چې به یو خاص عسکر په کوم سړي باندې (یو خاص قسم هارن وواهه نو پوځیانو به د هغه سړي په طرف ورمنډې کړې او په زور او سپکاوی سره به یې ونیوه او شاته به یې هغه ځای ته بوتلل چې څارنه یې تر دې ځای هم لا سخته وه.
دا څرګنده خبره وه چې په هر چا باندې به چې هارن ووهل شو نو د هغه به قسمت خراب و ځکه چې هغه به یو خطرناک سړی ګڼل کېده. دا سلسله روانه وه تر دې پورې چې وروستی سړی هم تېر شو. هر لږ ساعت وروسته به هارن وهل کېده او یو څوک به د جیپ له مخ څخه لیرې کیده او هغه خلک چې د تېرېدو په وخت کې به پرې هارن نه وهل کېده هغه به یې یوې خواته کښینول.
کله چې دا سلسله ختمه شوه نو ملکي جامې په تن افسر ودرېد او له ناستو خلکو سره یې په درنه خو د پوهېدو وړ عربي ژبه خبرې شروع کړې. ځان یې د "ابو الدیب" په نوم معرفي کړ چې د اسرائیلو د استخباراتو چارواکی او د دې سیمې مسوول و. هغه د عربو له ماتې وروسته د نویو حالاتو په هکله یوه اوږده وینا وکړه او ویې ویل: زه په سیمه کې سوله او امن غواړم او هېڅ مشکلات جوړول نه غواړم خو که چا د سولې د ګډوډولو هڅه وکړه نو یا به وژل کیږي او یا به زندان ته ځي. او دا یې هم وویل چې د هغه دفتر خلاص دی که هر څوک د اسراییلو د

دفاعي ځواکونو کوم خدمت ته اړتیا ولري نو راتلی شي. کله چې هغه خبرې پای ته ورسولې نو حاضرو خلکو ته یې امر وکړ چې یو، یو په خاموشی سره ووځي. سړي راپورته شول او له ښوونځي څخه د کورونو په طرف روان شول او هر یوه داسې احساس کاوه چې یقیناً له مرګ څخه خلاص شو. اسرائیلو د کلي شاوخوا سل نارینه جلا کړي وو.

هغه افسر چې په جیب کې راغلی و، هغه میدان ته ورغی چې سړي یې پکې راټول کړي وو او امر یې وکړ چې یو یو ودرېږي او بیا د جیب مخې ته تیر شي، کله به چې هم هارن پرې ووهل شو هغه سړی به بیا ونیول شو او نږدې دېوال ته به ودرول شو او مخ به یې دیوال ته شو. پاتې نور خلک د میدان په څنډه کې ناست وو، له دغو خلکو څخه یې پنځلس کسان انتخاب کړل او دیوال ته یې ودرول او افسر ځینو سرتیرو ته امر وکړ چې د دوی په وړاندې ودرېږي. دوی خپل ټوپکونه راوباسل او ولاړو خلکوته یې په نښه کړل او ډزې یې وکړې چې له امله یې ټول په ځمکې وغورځیدل، پاتې خلک چې په خولو کې ډوب ول د هغوی لاسونه تر شا تړل شوي او په سترګو یې پټې لګیدلې وې. هغوی یې په یوه بس کې واچول د مصر پولې ته یې یوړل، هلته موجودو پوځیانو ورته امر وکړ چې له پولې تېر شئ او مصر ته لاړ شئ او څوک چې مخکې نه ځي او شاته وګوري نو په ډزو به وژل کیږي.

دوهم څپرکی

ورځې تېرېدې خو پلار او تره مې واپس رانغلل او د دوی په اړه هېڅ خبر نه راتلو. زما نیکه، مور او د تره میرمن له هر چا نه د دوی پوښتنه وکړه خو کومه ګټه یې ونکړه زموږ غم زموږ د ډېرو ګاونډیانو په شان و ځکه د هغوی هم د فلسطین د آزادۍ په پوځ یا د ولسي مقاومت په غورځنګ ډیری خلک ورک شوي وو. زموږ په ګاونډ کې وضعیت د لویدیځې غاړې او غزې تړانګې د نورو سیمو په

ځير و چې هرې خواته به نا اميدي، اضطراب او ګډوډي په نظر راتلله او خلک له دوی سره به څه کيږي.
نه پوهيدل چې له دوی سره به څه کيږي.
هر سهار به زما نيکه خپله امسا واخيستله او د خپلو زامنو په لټه کې به يې له ټولو هغو کسانو څخه پوښتنه کوله چې دوی يې پيژندل او يا يې نه پيژندل. تر دې چې له ډيرې ستړيا او زحمت څخه مايوسه شو. زما مور او د تره ميرمن چې له جګړې ختميدو وروسته له کور څخه نه وې وتلې؛ له دروازې سره به ناستې وې او زموږ د نيکه د بيرته راتګ انتظار به يې کاوه، دوی د خپلو خاوندانو د نامعلوم برخليک له امله (بې اوره) سوځيدلې .زما وروڼه، خويندې او د تره زامن نه پوهيدل چې څه تيريږي مګر زه دومره کوچنی وم چې په بشپړ ډول نه پوهېدم چې زما شاوخوا څه تيريږي. زما مور او د تره ميرمن زموږ د پاملرنې په اړه انديښمن وو، نو زما مشرې خور (فاطمه)) موږ ته د يو څه خوراک او څښاک چمتو کولو او د زموږ د پاک ساتلو مسؤليت په غاړه اخيستی و.
په دې ورځو کې يوه ورځ ماښام چې زما نيکه د خپلو زامنو په لټه کې بهر تللی و. راستون شو، زما مور دروازه خلاصه کړه او د کوڅې له پيل څخه يې د هغه انتظار کاوه، څه شيبه وروسته زموږ نيکه د خپلې امسا په مټ روان راښکاره شوه او خپل قدمونه يې داسې په ځان پسې کشول لکه چې کوم بد خبر يې راوړی وي او په اوږو يې درووند تمام شوی وي. مور مې له مشر وررور محمود څخه وغوښتل چې هرکلي ته يې ورشي او مرسته ورسره وکړي، محمود په منډه ورغی او هغه ته په کتو شو چې اوښکې پرې بهيدلې،د محمود له ډيرو کوششونو سره سره هغه هيڅ خبرې ونشوې کړای تر دې پورې چې دوی دواړه د کور دروازې ته ورسيدل. نيکه په ديوال باندې تکيه وهلی ودرېد خو پښو يې ورسره ياري ونکړه او لاندې غورځېده خو زما مور او د تره ميرمن را پورته کړ او پوښتنه يې ترې وکړه چې څه شوي دي؟ څه خبره ده؟ آيا کوم حال معلوم شو؟ دوی دواړه له ويرې لړزيدلې خو نيکه نه د خبرو کولو توان درلود او نه يې حرکت کولی

شو. نو دوی کوښښ وکړ او کوټې ته يې د ننه راوست او په خپله بستره يې کېښناوه. د کور ټول خلک د هغه په شاوخوا راټول شول او انتظار يې کاوه چې د هغه له شونډو څخه کومه خبره وځي؟ مور مې د ختو په جام کې اوبه ورکړې 2
خو هغه يې د پورته کولو توان نه درلود او د مور په مرسته يې څو څاڅکي اوبه وڅښلې.

د بابا سترګې تر ډېره زما د تره په ميرمن باندې متمرکزې وې او داسې ښکارېده چې له هغه سره کوم بد خبر دی چې زيات زما د تره اړوند دی. د تره ميرمن نا آرامه شوه او وېې ويل: ابو ابراهيم! څه پېښ شوي، خيريت خو به وي کنه؟ د نيکه سترګې له اوښکو ډکې شوې او هغه يې کوله چې خپل احساسات کنټرول کړي. د تره ميرمن مې په ژړا کې وويل: آيا محمود وفات شوی دی؟ بابا د تائيد سر وخوځاوه او د هغې ژړا او چيغو زور واخيست او د خپل سر د وېښتانو په شوکولو يې پيل وکړ. زما مور هم په ژړا پيل وکړ مگر هغې قوي زړه درلود او هڅه يې کوله چې هغې ته تسليت ورکړي خو هغې په دوامداره توګه ويل "محمود مړ شو، محمود مړ شو" مور مې ورته وويل: نه ام حسن! هغه مړ نه دی بلکې شهيد دی. زما وروڼه، خويندې او تره زامن ټول په ژړا شول خو زه په خپل ځای غلی ولاړ وم او نه پوهېدلم چې څه کېږي.

دروازه وټکېدله او ورور مې محمود ورغی چې دا څوک دي. څو ګاونډۍ ښځې چې د ژړا او چيغو غږ يې اورېدلی وو د حال پوښتنې او غمشريکي لپاره راغللې. کوټه له ښځو څخه ډکه شوه. زه په ګڼه ګونه کې ورک شوم او ژړا او چيغې نور هم زور اخلې.

ورځې تېرېږي خو زما د پلار په اړه هيڅ خبر نه راځي. چا چې په اخري ځل ليدلی و هغوی ويل چې هغه ژوندی دی، کله چې يهوداتو ښار ونيوه نو هغه او څينې نور مقاومت کوونکي سوريې طرفته لاړل. بس همدا خبرې وې او نوي څه شی نه وو. نيکه زموږ د تره د تعزيت له ختميدو وروسته بيا زما د پلار لټون پيل

کړ خو هېڅ په لاس ورنغلل خو اخر دې پایلې ته ورسېده چې انتظار کول غوره دي، شاید یو څه خبر پخپله راشي او ټول مجبوراً انتظار شول څکه زموږ پلار نه زموږ حالات معلوم و خو موږ ته د هغه حالات نه وو معلوم.

ورځې تیرېدې او ژوند بیرته عادي حالت ته روان شو او خلک مجبور شول چې له هر نوي حالت سره څانونه عیار وساتي. ښوونځي بیرته خلاص شول او زما وروڼه، خور او مشر د تره زوی ښوونځي ته تلل، سهار به مې مور او د تره ښځې دوی ښوونځي ته چمتو کول او دوی به ټول یو ځای تلل. زه .زما کشره خور او د تره زوی ابراهیم به په کور کې پاتې شو. ورځ به چې لږ تېره شوه نو زما نیکه به له کوره بهر ولاړ او کله کله به یې ځیني سبزیجات لکه رومیان، پالک او کچالو واخیستل ترڅو یې زما مور یا د تره ښځه پاخه کړي او کله چې ماشومان له ښوونځي څخه کور ته راشي دوی به یې ورته چمتو کړي.

هر سهار به مې مور یا د تره میرمن د ختو یا د اوسپنې لوښي بهر وړل او هلته به یې د نورو شیانو په کتار کې د نلکې مخې ته کېښودل. دا نلکه د ملګرو ملتونو د مرستې او کار اداري UNRWA د کوڅې په منځ کې نصب کړی وه چې د ورځې دوه یا درې ساعته به اوبه پکې راتللې، چا چې به نوبت ترلاسه کړ نو خپل لوښي به یې ډک کړل او چا ته به چې نوبت ونه رسیده نو بلې ورځې ته به یې انتظار کاوه او یو څه اوبه به یې په پور له ګاونډي څخه یوړې. ډیر ځله به داسې هم وشول چې کوم ګاونډی چې سهار وختي به نه وه پاڅیدلې او خپل لوښي یې په قطار کې نه وو ایښي هغې به د بل چا د نوبت غلا کولو هڅه کوله او خپل لوښي به یې د نورو له لوښو څخه مخکې کړل او کله به چې څوک ونیول شو نو جګړه به په لومړي سر کې د "زما نوبت "او "ستا نوبت" په کلمو پیل شوه او بیا به د لاس•اچولو جګړې او ویښتانو کش کولو ته خبره ورسیده او کله کله به د ختو لوښي هم پکې مات شول.

کله به چې زما ورور او د ګاونډیانو هلکان له مکتب نه راغلل او د غرمې ډوډۍ

به یې وخوړله نو په خپلو کې به یې د اوو ټوټو (سبع شقف) لوبه کوله، هغوی به د نلکې له خوا نه د ختمو ټکړې (کودړې) راوړل او هغه به یې په اووه ګردو ټوټو وویشلل، او هره ټوټه به له بلې څخه لویه وه او بیا به یې یو په بل له پاسه کېښودلې، تر ټولو غټه ټکره به لاندې او کوچنۍ به یې په سر ایښې وه. له دوی سره به یو غونډوسکی ؤ چې له زړې موزې څخه یې جوړ کړی ؤ چې له امدادي سامان څخه به موږ ته پاتې کیده او هغه به په کال کې موږ ته دوه ځله راکول کیده. موږ به هغه د جامو له ټوټو څخه ډک کړ او د لاس د موټي په اندازه یو غونډوسکی به مو ترې جوړ کړ او بیا به مو وګانډه. بیا به موږ دوه ډلې (ټیمونه) جوړ کړل، د یوه ټیم به یو لوبغاړی په څو متره فاصله کې ودرېد او د ختمو په کودړې به یې په دغه غونډوسکي سره ګزار وکړ او دا کوښښ به یې کاوه تر څو دغه کودړې وغورځوي، که هغه به ناکام شو نو د بل ټیم لوبغاړي به همدا هڅه کوله او که هغه به کامیاب شو نو هغه او د هغوی د ټیم نورو لوبغاړو به منډه کړه او د مخالف ټیم هغه لوبغاړی چې له ختمینو کودړو سره به ولاړ ؤ هغه به کوښښ کاوه چې د مخالف ټیم یو لوبغاړی وولي تر څو د کودړو د ویشتلو نوبت د دوی شي او که هغه به ناکام شو نو انتظار به یې کاوه تر څو د خپل ټیم کسان ده ته بیرته غونډوسکی ور وشړي، او په دې وخت کې به د لومړي ټیم کسانو کوښښ کاوه چې په همدې موده کې غورځول شوې کودړې بیرته په ترتیب سره کیږدي، که دوی به په دې کې کامیاب شول نو لوبه به بیا له سره پیل شوه او که ناکام به شول او یا به یې وکتل چې غونډوسکی د دوی په طرف را روان دی نو بیا به یې منډې کړې تر څو په غونډوسکي ونه لګیږي.

انجونو به حجله (چینډری) لوبه کوله چې د کاڼي یو همواره ټکره به یې راواخیستله او په ځمکه باندې به یې درې مربعې جوړ کړې چې هره مربع به یو ګز اوږده او یو ګز پلنه وه او بیا به د دریمې مربع په سر باندې یوه دایره جوړه وه، لوبغاړې به کاڼی په لومړی خانه کې ګزار کړ او بیا به یې په یوه پښه په هغې کې

ټوپ واهه او بیا به یې کانی په یوه پښه مخې طرفته واهه تر څو بلې خانې ته یې واړوي او همداسې به یې په یوه پښه باندې تر بلې خانې پورې د کانې په بیولو سره مزل کاوه. او هر کله به چې دایرې ته ورسیده نو هلته په دوو پښو باندې ودریدلی شوه(دمه یې کولی شوه) او همداسې به یې تر اخره پورې په یوه پښه کانی رساوه. که چیرته به هغه وغورځیدله او یا به یې پښه په کومه کرښه باندې راغله نو هغه به ناکامه شوه او د دې په ځای به د بلې مخالفې لوبډلې نوبت ؤ. او کله کله به انجونو د رسی نه د ټوپ اچولو لوبه هم کوله.

کله کله به هلکانو د عربو او د یهودو لوبه هم کوله. دوی به د عربو او یهودو په ټیمونو وویشل شول. له هر ټیم سره به د لرګي یا لښتو ټوټې وې چې د ټوپک په شکل سره به یې جوړې کړې وې او یو پر بل باندې به یې ډزونه کول. یوه به ورته ویل چې اول مې ته ویشتلی یې او بل به ویل چې نه! اول مې ته ویشتلی یې او ډیری وختونه به دا لوبه په جنګ بدله شوه چې څوک یې لومړی ویشتلی دی. خو اکثره به د عربو ټیم د یهودو ټیم ته ماتې ورکوله ځکه لوی او تکړه هلکان انتخابول د هر ټیم د لوبغاړو انتخاب وو او هغه به د عربو په ټیم کې ول.

زما نیکه به په میاشت کې یو ځل د مرستې د ویشلو مرکز ته ورتللو او هلته به یې خپل، زموږ او زموږ د تره د کور د راشن کارډونه وړل، هغه به تر ماسپښین پورې هلته ؤ او بیا به د کلي د نورو خلکو سره یو ځای په خرګاډي کې راتلو چې په هغه کې به د اوړو بوجی، د غوړیو ګیلن او یو څو ټوکرۍ وې او په هغو کې به په کوچینو بوجیو کې مختلف رقم دال لکه چولې او مسور وو. کله به چې ګاډی زموږ د کور مخې ته ودریده نو ماشومانو به د ورختلو لپاره ورمنډه کړه. د ګاډي والا به ماشومان منع کول او لښته به یې ورته خوځوله او هغوی به یې لیرې کړل. زما نیکه به خپل سامان کور ته یوړ او د ګاډي والا ته به یې یو څو سکې ورکړې، د ګاډي والا به یې شکریه ادا کړه او سکې به یې په جیب کې واچولې

او بیا به یې خرګادی روان کړ او ماشومانو به له شا منډې پسې وهلې او مشرانو به منع کول.
زما مور به کله کله زما کشره خور مریم کلینیک ته بیوله چې زموږ د کمپ په څنګ یې موقیعت درلود، هلته به یې د هغې معاینه کوله او د مور او ماشوم د پاملرنې په شعبه کې به یې هغه وزن کوله. دلته به په کلینیک کې ډیرې زنانه راجمع کیدلې او د خپلو ماشومانو معاینه به یې کوله، ښځې به هلته د لرګیو په اوږدو سپینو بینچونو (چوکیو) کښیناستلې او ځینې به په ځمکه ناستې وې او په خپلو کې به یې خبرې کولې.
هرې ښځې به د خپلو ستونزو او پریشاینو په هکله له بلې سره خبرې کولې تر څو د یو بل زړونه سپک کړي او وګوري چې د نورو ستونزې هم له دوی کمې نه دي. هرې ښځې به خپلې ستونزې بیانولې او نورو به اوریدلې او همدارنګه به یې یو بل ته تسلي ورکوله. زه هم څو ځله له مور سره ولاړم او هلته به د روغتون مخې ته یو ریړی والا ولاړ ؤ چې مختلف قسم خواږه به یې خرڅول، ما به هر وخت د خپلې مور لمن کش کوله او د ریړی طرف ته به مې اشاره کوله تر څو ماته د نمورا یوه ټکړه واخلي او زما مور به هم زما په ټینګار سره مجبوراً ماته واخیستله او حال دا چې زما د پلار د نه راتګ هم ډیر وخت شوی ؤ.
یادونه: نمورا مشهور مصري خواږه دي چې له سوجي، غوړیو، بورې او د کوپرې له زړو څخه جوړیږي. د دې په سر باندې بادام یا پسته وي. د نمورا په جوړښت کې د نرم والي او وچوالي یو ښکلی ترکیب وي او ډیری وختونه د شربت یا عطرو په خوشبو سره نور هم خوندور ګرځي. دا خواږه په خاصو وختونو، مراسمو او د میلمه پالنې لپاره زیات انتخابیږي.
... زما د نیکه لپاره هم کار کول ستونزمن شوی ؤ ځکه په هغه وخت کې د ځوانانو او طاقتورو خلکو لپاره هم روزګار پیدا کیدل ډیر کم ؤ خو بیا هم زموږ اقتصادي حالت د نورو ګاونډیانو په نسبت ډیر بد نه ؤ ځکه ما به له خپل نیکه او

مور سره یو څه روپۍ لیدلې چې ماته یې معلومات نه کیدل چې له کومه طرفه راغلي خو له جګړې مخکې ما د خپلې مور په لاسونو کې د سرو زرو بنګړي لیدلي وو او بیا مې له جنګ وروسته هیڅ تر سترګو نشول. زما ماما صالح به کله کله زموږ کور ته راتلو او زما مور ته به یې یو څه روپۍ ورکولې او همدارنګه به یې موږ او زموږ د تره زامنو ته هم یو څو روپۍ راکړې تر څو موږ هم د ابو جابر له دوکان څخه خواږه شیان واخلو.

زما ماما ډیر خوش نصیب ؤ ځکه د هغه د رخت جوړولو فابریکه وه چې په هغه کې د رخت جوړولو برقي ماشینونه وو چې هغه له مصر څخه راوړي وو. دا فابریکه له اشغال وروسته هم روانه وه او په ښه مقدار کې رخت به یې جوړاوه او د غزې په تجارانو به یې خرڅاوه. د ۱۹۹۷ له جنګ وروسته کرار کرار د لویدیځې غاړې او غزې په مابین کې نقل و حرکت شروع شو نو هغه ځینې خپل توکي د لویدیځې غاړې په جنوب کې د الخلیل په سیمه کې خرڅول شروع کړل. د هغه اقتصادي حالت ښه ؤ نو ځکه به یې یو څه وخت وروسته زما مور ته لږ روپۍ ورکولې، زما مور به نه اخیستې خو هغه به قسم وکړ او په خفګان سره به یې ویل: که زه له تا سره مرسته ونکړم نو څوک به یې کوي او ستا ماشومان به څنګه ژوند کوي؟ نو هغې به سر ښکته کړ او روپۍ به یې ترې واخیستې او په مخ به یې اوښکې روانې شوې. ماما به مې خفه شو او ویل به یې: هر ځل ته ولې ژاړې؟

زما د تره میرمن او د تره زامن تقریباً ټول له موږ سره اوسیدل او زموږ سره به یې خوراک او څښاک ګډ کاوه. زموږ نیکه زما ورور محمود او د تره زوی حسین ته وویل چې زموږ او د تره د کور په مابین کې دیوال ړنګ کړي نو له یو څه محرمیت سره زموږ او د تره کور مو یو شو. زموږ د تره فامیل په سخت حالت کې وه او زموږ نیکه له هغوی سره د مرستې جوګه نه ؤ، د هغې خاوند شهید شوی ؤ او د روزګار یې هیڅوک نه ؤ. د وخت له تیریدو سره یې په هغې فشار راوړ تر

ځو واده وکړي ځکه خاوند يې وفات شوی دی نو د جلا اوسيدنې يې څه جواز دی؟ او هغې به له دې ويرې انکار کاوه چې ماشومان به يې ضايع شي خو هغه به يې پوهوله چې نيکه او د تره زامن به پاملرنه ورته کوي او کومک به ورسره کوي خو تاته واده کول پکار دي ځکه چې تراوسه پورې ځوانه يې او خپله راتلونکې دې په مخ کې ده، بايد د وخت په تيريدلو سره دا فرصت او ځواني ضايع نکړې. او په همدې خبرو کې ورځې، مياشتې او کال تېر شو.
يو ځل زموږ ماما زموږ کور ته راغی او زموږ مور ته يې پيسې ورکولې خو هغې ډير سخت انکار وکړ، له ډيرو کوښښونو سره سره يې هغه د پيسو په اخيستلو رضاء نه کړای شوه. بيا هغوی يو چل جوړ کړ او زموږ مور ته يې وويل چې دوی نه غواړي چې په خپله فابريکه کې نوي مزدور ته د صفايي او د کار ترتيب کولو دنده وسپاري او لکه څنګه چې محمود او حسن اوس لوی شوي او ځوانان دي نو له مکتب څخه د راتللو وروسته دې له موږ سره په فابريکه کې کار کوي او دا روپۍ د هغوی د تنخوا له حساب څخه پيشکي درواخله. نو بيا زموږ مور په همدې شرط روپۍ ترې واخيستې چې دوی به له راتلونکې ورځې څخه کار شروع کوي او په حقيقت کې هم محمود او حسن د کورنۍ د کفالت مسؤليت واخيست.
دوی به غرمه له مکتب نه راغلل، له خپلو جامو څخه د بوجيو په څېر جوړې شوې بکسې به يې کيښودلې، مور به مو د دوی او نورو ورونو او تره زامنو لپاره ډوډۍ تياره کړه او بيا به د اوږدو نصحيتونو لړۍ شروع شوه چې څنګه بايد په لاره لاړ شئ، څنګه بايد په صداقت او ايمانداري سره کار وکړئ او څنګه بايد د صفايي کار وکړئ... بيا به يې د دوی په اوږو لاس کيښود او له دروازې څخه بهر به يې دوی رخصت کړل او د لمر له غروب مخکې به يې دوی ته داسې ښه راغلاست ويل لکه يو فاتح عسکر چې بيرته راځي. په همدې ډول به ماما زموږ

مور ته روېې ورکولې چې گواکې دا د محمود او حسن معاش دی او حال دا چې دوی به په فابریکه کې کوم خاص کار هم نه درلود.
زه به ډېری وختونه سهار د خپل نیکه د دعاگانو په اواز پاڅیدلم، کله به چې هغه اودس کاوه نو ما به د هغه د اواز او دعاگانو څخه خوند اخیست او بیا به مې د هغه په اواز کې د قران کریم تلاوت او د سهار د لمانځه وروسته دعا اوریدله او د ورځو په تیردلو سره مې تقریباً هغه تولې دعاگانې یاد کړلې مثلاً اللهم اهدني فیمت هدیت... خو نیکه به مې د سهار لمانځه لپاره جومات ته نشوای تللی ځکه په هغه وخت کې به گرځبندیز ؤ او څوک به چې بهر ووتل نو هغه به د هغو اشغالگرو فوځیانو د مرمیو ښکار شو چې په کوڅو کې به گرځیدل او یا به کوم ځای پټ ناست ول. دا گرځبندیز به د ماښام له اووه بجو څخه تر سهار پنځه بجو پورې ؤ او پاتې تول لمونځونه به نیکه په جومات کې ادا کول بغیر له کوم عذر نه لکه راشن ته ورتلل او یا د گرځبندیز له امله.
زمونږ د کلي جومات د یوې لوېې کوتې په څېر ؤ، چت یې د اوسپنې په څادر پټ شوی ؤ، په دې کې یو څو کړکی وې او یو وړوکې مناره یې درلوده چې مؤذن به په ډبرینو زینو ور پورته شو او اذان به یې پکې وکړ. د جومات له دروازې سره یوه بیت الخلاء او یو څو د ختو جوړ لوښي د اوداسه او اوبو څښلو لپاره اینبي وو. د جومات په غولي باندې څو دانې پخواني او زاړه پوزې یا قالینې غوړیدلې وې او د جومات په مخ کې یو وړوکی منبر ؤ چې د لرگیو زینې یې درلودې.
زما نیکه به اکثره د ماسپښین له لمانځه مخکې جومات ته ولاړ، هغه به زما وړوکی لاس نیولی ؤ چې د هغه ورغوي به مکمل احاطه پرې کړې وه، د هغه عمر له اویا کلونو څخه پورته ؤ او هغه به ډیر کرار مزل کاوه خو بیا به هم ما په هغه پسې شاته منډې وهلې ځکه هغه به زه په تگ کې په ځان پسې کشولم او زه به له هغه سره داسې کښیناستلم چې سر به مې د هغه په لاسونو کې کیښود.

شيخ حامد به له جيب نه لاسي ساعت راوکيښ او وخت ته به يې کتل، کله به چې د اذان وخت نږدې شو نو هغه به منارې ته پورته شو او په خپل زړه راښکونکې غږ به يې اذان وکړ، ما به له خوښۍ يوې او بلې خوا ته کتل، کله به چې شيخ حامد اذان ختم کړ او لاندې به راغی نو موږ به سنت کول، زه به له خپل نيکه سره ودريدم او د هغه د تمثيل کوښښ به مې کاوه. د کمپ مشران خلک به راغلل او په جماعت سره به يې لمونځ ادا کړ چې د هغوی شمېر به له لسو څخه زيات نه وو، دوی ټول سپين ږيري ول بغير له ما او يو دوه ماشومانو چې خپلو نيکونو به له ځان سره راوستل.

زموږ په کور کې نوې پيښه دا وه چې زما د تره ميرمن خپلې کورنۍ واده ته مجبوروله چې دا کار د هغې لپاره اسان نه ؤ . زما مور به له هغوی سره داسې چلند کاوه لکه له خپلو زامنو سره خو بيا به هم په دې کار سره د مور او پلار نشتون نشواى جبيره کيدلی البته تر يوه حده يې دوی ته تسلي ورکوله. او همداسې شپې او ورځې تيريدلې او زه به د خپل نيکه د سهار د اوداسه او لمانځه په اواز له خوبه پاڅيدلم، بيا به زما مور زما ورور . خور او د تره زامن له خوبه پورته کول او د مکتب تګ ته به يې اماده کول او هغوی به مکتب ته تلل. زما نيکه به بازار ته ولاړ، مور به مې د کور صفايي شروع کړه او زه به له خپلې کوچنۍ خور مريم سره کيناستلم تر څو چې هغه له خوبه د راپورته کيدو وروسته ونه ژاړي څکه مور به مې د کور په کارونو کې مصروفه وه.

زما نيکه به يوازې واپس راغی او زما ورور او د تره زوی به هم له مکتب نه راغلل، بيا به زموږ مور موږ ته ډوډۍ تياره کړله او موږ به يو ځای وخوړله او بيا به مې مور له معمول سره سم زما ورور محمود او حسن ته نصيحتونه شروع کړل او کله به چې هغوی زموږ د ماما د فابريکې په طرف روان شول نو تر دروازې پورې به ورسره ولاړه. موږ به بهر لوبې کولې، کله به د عربو او يهودو او کله کله به مو د ۷ کودړو لوبه کوله او انجونو به ګاټي کول تردې پورې چې ماښام به

نږدې شو او محمود او حسن به هم له فابریکې واپس راغلل، او ژوند په همدې طریقه بغیر له نوې پیښې تیریده.

یو ماښام محمود او حسن له فابریکې نه ناوخته واپس راغلل خو دا ځل ورسره زموږ ماما صالح هم راغی، د هر وخت په څېر موږ له هغه ګیر چاپیره کیناستلو او هغه د تېر په څېر له موږ سره په خوښي روغبړ وکړ او موږ یې په مینه ښکل کړو.

بیا یې هر ماشوم ته خپله برخه پیسې ورکړې او له دې نه ووسته خبرې اترې شروع شوې. ماما زموږ له مور سره زموږ د ترور فتحیه د رشتې په باب خبرې کولې چې د هغې د رشتې لپاره څه خلک راغلي وو، هغوی زموږ ماما پیژندل چې د لویدیځې غاړې د یو وړوکي ښارګوټي سره یې تعلق درلود او د رخت کاروبار یې کاوه او زموږ له ماما څخه به یې رخت اخیست. هغوی زما ماما ډیر ښه پیژانده او په دې باب یې له هغه مشوره غوښتله. مور مې ورته وویل چې ستا څنګه خوښه وي خو که چیرته فتحیه راضي وي او دا خلک هم ته پیژنې نو بسم الله کړئ! په دې وخت کې زموږ مور موږ له ماما سره پریښودلو او بهر ولاړه او ماما له موږ سره په خبرو بوخت شو ، زموږ د مکتب او نورو کارونو په باره کې یې پوښتنې کولې.

له یو څه ځنډ وروسته مې مور راغله او د چای چاینک یې راوړ، زموږ ماما له موږ سره یو ځای چای نوش کړ او بیا د تګ لپاره پورته شو، مور مې ډیر ورته وویل چې نن شپه له موږ سره وکړي خو هغه انکار وکړ او ویې ویل: تاته ښه معلومه ده چې زه له کور بهر شپه نشم کولی ځکه چې په کور کې مې فقط لوڼې دي. مور مې دعا ورته وکړه چې الله تعالی دې ښه ځای درته پیدا کړي صالحه. ماما مې ورته وویل چې زه به هغو خلکو ته ستاسو د رضایت په هکله ووایم او کله چې دوی نیته وتاکي نو موږ ته به هم ووایي تر څو ځان تیار کړو.

صبا سهار چې کله زما نیکه لمونځ وکړ نو له فوځي جیپونو څخه یې په لاوډسپیکر اعلان واوریده چې په ماته ګوډه عربي کې یې ویل:« الو الو.. منع

تجول تا حکم ثاني» يعنی تر حکم ثاني پورې ګرځيدل منعه شول او څوک چې
له دې حکم نه سرغړونه وکړي هغه به د مرګ له خطر سره مخ شي. زموږ مور
ټولو ماشومانو ته وويل چې نن مکتب ته مه ځئ او هيچاته هم له کوره د وتلو
اجازه نشته! هغه له کوټې ووتله تر څو زموږ نيکه او د تره زامن حسن او ابراهيم
هم خبر کړي. موږ ټوله ورځ په کور کې بنديوان ناست وو او څوک به چې
دروازې ته ورنږدې شول نو مور به مې په زور سره منع کړ او ويل به يې که
دروازه خلاصه کړي نو ويه وژل شي. موږ به بار بار دا اوريدل چې ګرځبنديز
لګيدلی، زما ورور او خويندې په کور کې په لوبو کولو مجبور شول او زموږ مور
دا ځل د غرمې ډوډۍ لپاره بيصارة تياره کړه چې د ملوخية د وچو پاڼو سره د دالو
د خوراک نوم دی.

يادونه: بيصاره يو مشهور مصري خوراک دی چې تر ډيره پورې د سبزي
خوړونکو خلکو لپاره مقبول دی، په دې کې پياز، اوړه، دنيا، زيره او نورې
مسالې استعماليږي. بيصاره د يو ټينګ مربع په شکل کې تياريږي او دا له ډوډۍ
يا وريژو سره خوړل کيږي.

... زما ورور، خويندې او د تره زامن د مکتب په کتابونو ويلو کې مشغول شول او
زه د دوی کتابونو ته په کتو شوم. ماښام موږ بيا په لاوډسپيکر کې د ګرځبنديز د
اعلان تصديق واوريده او ويل به يې: که څوک سرغړونه وکړي هغه به په خطر
کې واقع شي. سهار زما د نيکه د لمانځه او دعاګانو له غږ وروسته په پنځه بجې
اعلان وشو چې ګرځبنديز ختم شو، زما مور ماشومان پاڅول او مکتب ته يې
تيار کړل او ژوند بيرته د معمول په څېر روان شو. په دې ورځ نوې خبره دا وه
چې د تېرې ورځې د ګرځبنديز وجه موږ ته معلومه شوه چې يوه سړي د
اشغالګرو فوځيانو موټر ته لاسي بم ور غورځولی ؤ او په موټر کې موجود
فوځيان يې ټپيان کړي ول او د فوځيانو په ناتاره ډزو کې څو کسان هم ټپيان
شول.

دریم څپرکی

د جمعې په ورځ مور، ته زموږ مور ښکلې جامې راواغوستلې چې هغې له راشن څخه د اخیستلو جامو نه دوباره موږ، ته ګنډلې وې او موږ یې له ځان سره د ترور کور ته د بیولو لپاره تیار کړو تر څو هغې ته د کوژدن مبارکي ورکړي چې په نږدې ورځو کې کېدونکې وه. مور موږ، اووه ورونه او خویندې له ځان سره کړو او په ساعتونو ساعتونو مزل مو وکړ. موږ د کمپ له حدودو ووتلو او په یو سړک روان شو چې په هغه باندې به کله کله فوځي او ښاري جیپونو تګ راتګ کاوه چې فوځیانو به پکې توپکونه د خلکو په خوا نیولي وو او موټر به ډېر کرار مزل کاوه. موږ له ډېر مزل وروسته د خپل ماما صالح کور ته ورسیدو، د هغه کور زموږ له کور نه ډېر ښه ؤ ځکه زموږ د کور چت له خښتو جوړ ؤ او د هغوی د کور چت د سیمنټو څخه جوړ ؤ. د کور په انګړ کې یې خښتې لګولې وې او برق یې هم درلود.

زما ورور محمود دروازه وټکوله نو زما د ماما لور «ورده» دروازه خلاصه کړه او چیغې یې کړې چې زما ترور او د ترور زامن راغلل! موږ، ته یې سلام وکړ او کور ته یې دننه کړو چې هلته زموږ ماما. د ماما میرمن او د هغوی بلې لور «سعاد» موږ، ته هر کلی ووایه.

ترور موږ، ته سلام وکړ او یو یو یې ښکل کړو، زما مور، ورور او خویندو هغې ته د کوژدې مبارکي ورکړه چې نږدې کېدونکې وه او دوی خبرې شروع کړې او موږ په لوبو او یو په بل پسې په منډو وهلو مشغول شو. له ماښام نه مخکې موږ کور ته واپس راغلو. څو ورځې وروسته چې محمود او حسن له فابریکې واپس راغلل نو مور ته یې وویل چې ماما وایي چې راتلونکې جمعه به د فتحیه نکاح کیږي او مور بیا موږ د تېرې جمعې په څېر تیار کړو او ماسپښین بیا د ماما کور ته ولاړو. درې موټر راغلل چې په هغو کې سړي او زنانه وې، هغوی راښکته شول او د ماما کور ته را دننه شول. وړو ماشومانو به یو بل ته پټ په غوږ کې خبرې

کولې او یو غنمرنګ هلک ته به یې اشاره کوله چې دا زوم دی. سړي د کور په انګړ کې ناست ول او د دوی په مابین کې ملا صاحب له خپلې سرې خولې سره ناست ؤ.

ښځې په جلا کوټه کې ناستې وې او مور له ارام نه بغیر هلته او دلته منډې وهلې، کله په کوټو کې، کله له کور نه بهر او کله به په موټرو پسې ونښلیدو. مور په لوبو کې او سړي د نکاح په مراسمو کې مشغول ول او ښځې له ترور فتحیه سره مشغولې شوې. دا ورځ به زما کله هم هېره نشي چې په دې ورځ مور بې حسابه بقلاوه (یو قسم خواږه دي) وخوړله تر دې پورې چې مور مو اندیښمنه شوه چې مریضان نشو. بالاخره یې زمونږ ترور ته رخصت ورکړ.

تقریباً یوه میاشت وروسته شپه په ژوره تیاره او د خاموش سکون په څادر کې نغښتې وه چې د کمپ په غریب او بد حال کورونو باندې چاپیره ؤ. بغیر له دې چې له لیرې څخه د سپیو د غپیدا اوزا یا د پیشو د میاؤ اواز چې د خپل بچي په تلاش کې یې کاوه چې هغه به کوم ماشوم له ځان سره وړی وي د دې لپاره چې په کور کې یې وساتي او چې کله لوی شي نو شاید هغه مورکان وخوري چې د کورونو سکون یې برباد کړی دی. د کمپ په کوچنیو او تنګو کوڅو کې د ګرځبندیز د قانون او پیښیدونکو خطراتو سره سره به ابو حاتم په دې کوڅو کې د پیشو په څېر پټ پټ ګرځیده، په هر څلورلاي به ودرید او هر طرفته به یې کتل چې چیرته خو به کوم دښمن حرکت نکوي او یا به چیرته پټ شوی نه وي، کله به چې هغه ډاډه شو چې څوک نشته نو په خپله لاره به روان شو.

ابو حاتم د اوږد قد، چست او مضبوط جسم خاوند ؤ. هغه به په سر باندې کفیه (د فلسطین رواجي رومال) تاو کړی ؤ چې په مخ به یې هم اچولی ؤ او فقط سترګې به یې ښکاریدلې. کله چې د مصر په غزې باندې حکومت ؤ نو هغه د فلسطین د ازادی د فوځ یو عسکر ؤ. هغه د ۱۹٦۷ په جنګ کې زیاته زړورتیا ښودلې وه خو هغه او یو څو تنو زړورو کسانو به په یو بایللي جنګ کې څه

کړي وای؟ ابو حاتم د کمپ په کوڅو کې په پټه گرځیده، هغه خپله لاره پیژندله، یوه شیبه ودریده، شاوخوا یې وکتل او بیا د یوه کور د کړکي په خوا روان شو او په کرار یې د کړکی څنگ درې ځلې وټکاوه، لومړی یې یو ځل او بیا یې دوه ځله او بیا یې یو ځل کړکی وټکاوه، د کړکي تر څنگ ودرېد او سر یې ورنږدې کړ او په کرار یې وویل: ابو یوسفه! له هغه خوا ورته غږ وشو: څوک یې؟ ابو حاتم په کرار ورته وویل: ابو حاتم یم. ابو یوسف وویل: یقین مې نه راځي، ابو حاتم ورته وویل: یقین وکړه ابو یوسفه! هغه ورته وویل :صبر زه دروازه خلاصوم. ابو حاتم د ننه ولاړ او ابو یوسف دروازه بنده کړه او دواړه یو بل ته ور ترغاړه شول، ابو یوسف وویل: یقین مې نه راځي خو د الله تعالی شکر دی چې ته روغ یې ابو حاتمه!

ام یوسف هم راپورته شوې وه هغې ټیکری په سر کړ او له کوټې د باندې راووتله او په ټیټ غږ یې وویل: د خدای شکر دی ابو حاتمه چې ته روغ یې، راځئ د ننه راشئ! ابو حاتم او ابو یوسف دواړه کوټې ته ننوتل او اُم یوسف د اشپزخانې په طرف ولاړه. ابو حاتم ورته غږ وکړ: ډوډی یا چای مه راوړه او نغری مه بلوه! اُم یوسف په حیرانتیا ترې وپوښتل: خیریت خو به وي ابو حاتمه، ته زموږ کور ته میلمه راغلی یې. ابو حاتم مسکی شو او په کرار یې ورته وویل: په تاسو او ستاسو په نیکي دې زر ځله سلامتیا وي خو زه وږی نه یم او زه نه غواړم چې د انغري د لگولو غږ پورته شي. اُم یوسف ورته وویل: سمه ده زه تاته ډوډی او زیتون راوړم، ابو حاتم په مسکا ورته وویل: سمه ده، زه پوهیږم چې ته مې له ډوډی خوړلو پرته نه پریږدې. ابو یوسف په دوامداره توگه مسکا کوله او بیا یې له ابو حاتم سره خبرې شروع کړې. ابو یوسف ترې وپوښتل: ته چیرته وې؟ په الله قسم ما فکر کاوه چې ته به شهید شوی یې او یا به مصر ته تللی یې. ابو حاتم جواب ورکړ: زه د منځني کمپونو په سیمه کې د جنگونو په ترځ کې ټپي شوم او یوې گاډی ته په ښویدلو ورسیدم چې هلته د کوچیانو یوې کورنۍ وساتلم، زما

د زخمونو علاج یې وکړ، ماته یې خوراک راکړ او زه یې تر روغیدو پورې پټ وساتلم.
د یوسف مور د سلام په کولو سره کوټې ته راغله او دوی په ټیټ غږ د سلام ځواب ورکړ. هغې په یوه ټوکرۍ کې یو څو ډوډۍ او په یو قاب کې زیتون او یو د اوبو جیک د دوی مخې ته کیښودل او بیا له کوټې ووتله او د خپلو ماشومانو په کوټه کې کیناستله چیرته چې د خاورو د تیلو ځراغ بلیده او د وړوکي سور چت کوټې ته یې روښنایي ورکوله. ابو یوسف او ابو حاتم د یو بل په غوږ کې پټ پټ غږیدل. ابو یوسف ترې وپوښتل: آیا اوس هم مجاهدین شته؟ ابو حاتم ځواب ورکړ: هو! ډیر ځوانان شته، زه او ابو ماهر په خان یونس کې یو، ابو صقر په رفح کې دی او ابو جهاد په منځني کمپونو کې دي، ما په خپله دوی لیدلي دي او له دوی سره یو ځای مو بیرته د مقاومت د شروع کولو وعده کړې ده.
ابو یوسف ، ابو حاتم ته ورنږدې شو او په کرار یې ترې وپوښتل: د مختار څه حال دی؟ ابو یوسف په ټیټ غږ ورته وویل: اوریدلي مې دي چې هغه هم ژوندی دی او په منځني شاړو کې د شجاعیه او زیتون په طرف په حرکت کې دی، زه یې په لټون کې یم او شاید په یو څو ورځو کې یې پیدا کړم. مهمه خبره داده چې موږ باید کار منظم کړو تر څو چې په ټوله سیمه کې یو ځای مقاومت شروع شي. هیواد روغ دی ابو یوسفه او ځوانان تیار دي فقط د هغوی منظم کوونکی او لومړی قدم اخیستونکي ته ضرورت دی. موږ ټول باید یو ځای شو او کار منظم کړو. د راتلونکې جمعې په سهار صالح محمود د خپلې لور واده کوي او د هغې خاوند هغه «خلیل» ته بیایي او شپې ته د هغوی کور خالي کیږي، ما هغوی ته ویلي دي چې د کور کیلي د دروازې لاندې کیږدي، د مجاهدینو گروپ به هلته راجمع کیږي او موږ به کار منظم کوو او ان شاء الله ژر تر ژره به یې اغاز کوو. تا خو د صالح کور لیدلی دی، د جمعې په شپه به هلته ملاقات کوو، څوک چې ناوخته راشي هغه به په یوه خاصه طریقه باندې کړکی

تکوي. په دې دوران کې به ابو حاتم یوه نوړی او ورسره یو زیتون خوړلو او د
زیتون زړی به یې په یوه خاص انداز سره زیبښلو چې د ابو یوسف سره د مینې او
د یوسف د مور له خوراک سره د اشتهاء ښکارندوي یې کوله.
د جمعې په سهار مور وختي د تګ تیاری شروع کړی ؤ. ښکلې لباسونه مو
واغوستل او د ماما صالح کور ته روان شو. سره له دې چې مونږ ژر ورسیدو خو
بیا مو هم د ماما کور له خلکو او د واده له تیاریو څخه ډک وموند. مونږ په لوبو
کې مصروف شو او زمونږ خویندو ، د ماما لونو او نورو انجونو دریا وهله ،
سندرې یې کولې او اتڼ یې کاوه. محمود او حسن د څوکیو په ترتیب کولو او د
ماما د کور مخې ته د اوبو په شیندلو مصروف شول تر څو ګردونه ونکړي او زما
مور ، د ماما میرمن او نورې ښځې د ناوې په تیارولو مصروفې وې. زما ماما هر
طرفته منډې وهلې او په یو وخت په ډیرو کارونو مصروف ؤ. په دې ورځ د
خلکو شمېر بیخي زیات ؤ او د دریا اواز ډیر منظم او په صحیح شکل اوریدل
کیده چې د دې کار مسؤلیت د ترور یوې ګاونډۍ او د هغې همزولو اخیستی ؤ.
لږ وروسته یو څو موټران راغلل او یو بس راغی چې په هغه کې د زوم د کورنۍ
څه خلک وو. موټر ودرېد او له هغه نه د زوم عبدالفتاح په شمول څو کسان
راښکته شول. دریاوهل پیل شول او مشهوره سندره په ضفادي لهجه باندې
زمزمه کیدله. دوی ټول د کور په طرف روان شول چیرته چې ماما له نورو کسانو
سره د دوی ښه راغلاست ته راوتلی ؤ. سړیو له سړیو او ښځو له ښځو سره ستړې
مشي وکړله او ښځو یو بل سره ښکل کړلې. ښځې د ننه ولاړې او سړي د کور په
انګړ کې کیناستل. بقلاوه په قابونو کې تقسیم شوه او زما ورور محمود په ویشلو
کې تر ټولو ډیر فعال ؤ ، هغه راغلو خلکو ته سور شربت ورکړ. او د ښځو
سندرې او دریا په دوامداره توګه غرېدل.
دې سلسلې تقریباً د یوه ساعت لپاره دوام وکړ او ماما به له زوم او د هغه له پلار
سره خبرې کولې. له هغوی سره نور سړي هم ول چې ما نه پیژندل. بیا ماما کور

ته ولاړ او ټول تيار شول، زوم او د هغه پلار په دروازه کې ودريدل. له سندرو او دريا سره يې ناوې له لاس نيولې رابهر کړله چې د هغې سپين لباس پر تن ؤ او په سر باندې يې سپين ټيکری ؤ چې د هغې ښکلا يې نوره هم زياته کړې وه او د سپوږمۍ په څېر ځليدله. 3

هغه په کرار کرار تر دروازې ولاړه او هلته زوم د هغې لاس ونيو او ښځو په زوره د واده سندرې ويلې. زوم او ناوې د يو موټر په خوا روان شول او ټول خلک په دوی پسې تر شا روان شول، زما مور به زما له ترور او ماما ښځې سره روانه وه. زوم او ناوې په يو ښکلي موټر کې کښيناستل او نور سړي او ښځې هم موټرو ته ورپورته شول. زما مور د محمود لټون شروع کړ او په لوړ غږ يې ورته وويل: زويه! خپل ورونه دې له ځان سره کړه او د نيکه سره بيرته کور ولاړ شه. زه به ډير ژر واپس راشم، په کور کې هر څه تيار دي او زما تر راتګ پورې به د هيڅ شي ضرورت هم پيدا نشي، د نيکه او د تره زامنو خيال ساته. له ګرځبنديز مخکې دروازه بنده کړه او تر لمو راختلو پورې دروازه خلاصه نکړې! محمود د تل په څېر د تائيد سر وخوځاوه، هغه به زما د مور په لارښوونو پوهيده او سمدستي به يې عمل پرې کاوه. فاطمې مريم په غېږ کې نيولې وه، زما مور، ترور، زما خويندې او د ترور لورګانې ټول په يوه موټر کې سپاره شول او محمود موږ د خپل نيکه تر څنګ راټول کړو چې هغه د خپلې امسا په مټ اولاړ ؤ.

د ټولو خلکو موټرو ته له پورته کيدلو وروسته زما ماما او د زوم پلار د معاملاتو په منظم کولو مصروف شول. زما ماما د کور د بندولو اجازه وغوښتله او له هغه نه يې وغوښتل چې يوه شيبه انتظار وکړي، هغه په بيړه کور ته راغی او له اشپزخانې څخه يې يوه بوجۍ واخيستله او په مهمان خانه کې يې کيښوده، بيا يې بهرنۍ دروازه بنده کړه، د هغه له لاسه يو څه وغورځيدل او هغه يې د پورته کولو لپاره پسې ټيټ شو او په همدې وخت کې يې د کور کيلياني د دروازې لاندې کيښودلې بيا هغه موټر ته وخوت او قافله روانه شوه او د دريا او سندرو غږونه هم

شروع شول تر دې پورې چې دوی پنا شول او مور له خپل نیکه سره کور ته روان شو او له لمر لویدلو مخکې کور ته ورسیدو، د دې ورځې د لوږې، خوراکونو او خوښي له امله مور ستړي شوي وو، محمود دروازه کلکه بنده کړه او مور په ژور خوب ویده شولو.
شپې په غزي باندې خپلې تورې پردې خورې کړې او په یو تیاره سمندر کې یې ډوبه کړه چیرته به چې یو چا خپله ګوته هم په مشکله لیدلی شوای. د ښار په مرکزي سړک باندې د اشغالګرو فوځیانو ګزمه روانه وه او په لاوډسپیکر باندې د ګرځبندیز د وخت اعلان کیده، یوه ژوره چوپتیا خپره وه چې کله کله به د فوځي موټرونو غږ ماته کړه چې خپل موجودیت او د امنیت د تامین ښکارندوي یې کوله. اووه کسان په خاموشي سره زما د ماما د کور په خوا روان شول، هغوی د دروازې لاندې کیلیانې راواخیستې او د ټولو کسانو تر ننوتلو پورې یې روښنايي نه لګوله بیا هغوی پردې واچولې او له پاسه یې پرې کمبلې واچولې تر څو رڼا بهر ولاړه نشي او بیا هغوی کوټه رڼا کړله او هغوی یوه بوجۍ وموندله چې زما ماما ایښې وه. ابو حاتم هغه بوجۍ خلاصه کړه او هغه له خوراکي توکو او خوږو ډکه وه، هغوی وویل: صالح په ریښتیا چې شریف او سخي سړی دی که هغه په کور کې وي او که نه وي. دوی په یوه وړوکې دائره شکل کیناستل او په ساعتونو ساعتونو یې پټې خبرې کولې او په نیمه شپه کې ویده شول او پیره به یې په نوبت نوبت کوله. کله چې سهار نږدې شو نو یو، یو له کور څخه ووتل او په اخر کې ابو حاتم دروازه بنده کړه او کیلیانې یې د دروازې لاندې کیښودې، هغوی د الله تعالی په توکل روان شول او دا آیت به یې تلاوت کاوه: و جعلنا من بين ايديهم سداً و من خلفهم سداً فاغشيناهم فهم لا يبصرون.
زه د خپل نیکه د سهار لمانځه په غږ بیدار شوم، محمود ژر پاڅیده او د مور کارونه یې ترسره کړل، هغه زما ورور حسن، محمد او زما د تره زامن حسن او

ابراهیم پورته کړل او دوی ته یې ناشته تیاره کړه او هغوی پنځه سره مکتب ته روان شول او زه او نیکه مې په کور کې پاتې شولو.
په دې ورځ مې نیکه بازار ته نه ولاړ او کله چې لمر سترګه راپورته شوه نو زه یې له ځان سره کړم او پیتاوي ته کیناستلو، یوه شیبه وروسته هغه ماته د ځوانی د وخت او د خپلو بایللو ځمکو کیسې شروع کړې، بیا هغه خپله کوچنی بټوه راوباسله او له هغې نه یې ماته یوه روپۍ راکړله او راته یې وویل: لاړ شه او د ځان لپاره څه شی واخله او ژر بیرته راځه! زه د ابو خلیل د دوکان طرفته په منډه روان شوم او یو څو دانې خوږې ګولۍ مې واخیستې، کله چې زه راغلم نو یوه ګولۍ مې په خوله کې اچولې وه، نیکه مې زه له ځان سره کینولم او راته یې وویل: څه شی دې واخیستل؟ ما ورته په لاس کې نیولی شی وښوده او یوه ګولۍ مې هغه ته ونیوله، هغه ډیر وخندل او راته یې وویل: نه زویه دا ستا ده! زه له هغه سره ناست وم او د لمر د شعاوو نه مو خوند اخیست او ګولۍ مې زبیښلې.
ماسپښین نږدې شو او نیکه مې د خپلې امسا په مټ پورته شو او راته یې وویل: راځه احمده چې جومات ته ولاړ شو او د ماسپښین لمونځ وکړو، زه یې له لاسه ونیولم او او جومات ته روان شو، هلته مې نیکه په اوداسه شروع وکړه او ما هم د هغه په تمثیل کې اودس شروع کړ، هغه به ماته په مسکا سره راکتل، شیخ حامد راغی او په خندا یې زما نیکه ته وویل: ان شاء الله دا ماشوم به دینداره سړی جوړیږي، نیکه مې په کرار وویل: ان شاء الله، ان شاء الله.
ورځې تیریدلې او زه په خپل شاوخوا شیانو باندې تر ډیره حده پوه شوی وم. او یو نوی شی چې ماته ډیر واضح ؤ هغه د مقاومت شروع کیدل ؤ. هره ورځ به په اشغالګرو باندې ډزې، د لاسي بمونو غورځول او د ماینونو چاودنې کیدلې او هر ځل به اشغالګرو عسکرو په ډیر زور او شدت سره په بې ګناه خلکو باندې حملې او ناتاره ډزې کولې ، خلک به یې ټپیان او شهیدانول، بیا به دوی ته نور کومک راغی او په سیمه کې به یې ګرځبندیز ولګاوه او خلک به یې په مکتب

کې راتول کړل، هلته به عسکرو خلک وهل، ذليل کول او ځينې به يې نيول. دا صحنې او غږونه به هره ورځ په تکراري شکل ليدل او اوريدل کيدل. مقاومت پراخه او مخ په ډيريدو شو تر دې پورې چې موږ ځيني مخ پټي کسان وليدل چې له انګريزي ټوپکونو او لاسي بمونو سره به د کمپ په کوڅو کې ګرځيدل په ځانګړې ډول به د ماښام په وخت کې زيات ليدل کيدل. دا زموږ لپاره يوه د معمول خبره شوه چې موږ پوهيدلو چې د شپې ګرځبنديز يو درواغ دی چې په موږ ماشومانو، زموږ په ميندو او ځينو بې ګناه خلکو باندې نه چليږي، د مقاومت خلک د شپې په کمپ کې حاکمان دي او د اشغالګرو عسکرو موټر کوڅو ته نشي داخليدلی بلکې فقط په مرکزي سړک باندې ګرځي، او سهار به بيا د مقاومت خلک ورک شول.

د اوړي رخصتی راورسيدې او مور مې زه په مکتب کې داخل کړم، زه څو ورځې بعد مکتب ته د تګ لپاره چمتو کيدم او زما مور ماته يو جوړ څپلی واخيستې چې زما لپاره نوې وې خو په حقيقت کې مستعملې وې، دا د کمپ په دوکانونو کې هغه زړې څپلی وې چې له رنګ ورکولو وروسته به نوې ښکاريدې، د دې څپليو سور رنګ ماته او زما نيکه ته ډير خوند ورکړ. زما مور له زړو جامو څخه ماته يوه کوچنی بکسه هم جوړه کړه نو زما د مکتب لپاره هر څه تيار شول، په ځانګړې توګه چې ماته به زما ورور، خويندو او د تره زامنو د مکتب په هکله د سهار اسمبلي، صنفونه، استادان او د وقفې په باب کومې خبرې کولې.

د اوړي د رخصتيو له ختميدو مخکې د مقاومت يوه جنګيالي په يوه کوڅه کې د اشغالګرو خواکونو د ګزمې انتظار کاوه، کله چې ګزمه ورنږدې شوه نو هغه لاسي بم ور وغورځاوه چې په جيپ کې موجود څو تنه عسکر يې ټپيان کړل او جيپ له يوه نږدې ديوال سره له ټکر کيدو وروسته ودريد. عسکرو ژړل او چيغې يې وهلې. څوک چې ژوندي پاتې شول او په هوش کې راغلل هغوی په هر څه

باندې دزې کولې. سمدستي په لوی شمېر کې عسکري کومک راورسېد او په لاوډسپیکر یې د ګرځبندیز اعلان وکړ او ویې ویل چې سرغړونکو ته به سزا ورکول کیږي. خلک کورونو ته روان شول او بیا په درجنو درجنو عسکر د کمپ د څنډې کورونو ته ورننوتل او ښځې، ماشومان او سړي به یې په بې رحمه ډول وهل.
په لاوډسپیکر کې له ۱۸ کلنو څخه تر ۶۰ کلنو سړیو لپاره مکتب ته د تللو حکم وشو. کله چې لاوډسپیکر خاموش شو نو د ځینو خلکو غږونه اوچت شول چې: ټول خلک له کورونو مه وځئ، اشغالګر کمپ ته نشي داخلیدلی ځکه چې د مقاومت جنګیالي په هر طرف کې موجود او چمتو دي. او واقعاً فقط هغه خلک مکتب ته ولاړل چې کورونه یې د کمپ په څنډو کې وو چیرته چې اشغالګرو ته زیات خطر موجود نه ؤ. کله به چې اشغالګرو کمپ ته د ننوتلو کوښښ کاوه نو د کوڅې له هر کونج څخه به د ټوپکو او ماشیندارو ګولۍ پرې وریدې چې له امله به یې هغوی چیغې وهلې او تیښتې ته به مجبور شول.
کوم خلک چې مکتب ته ورغلي وو هغوی ته دو چنده سزا او بې عزتي ورکول شوه او بیا یې واپس کمپ ته د تګ اجازه ورکړه. ګرځبندیز تر یوې اونۍ پورې دوام وکړ او په دې هفته کې موږ په بیصاره، دالو، چنو او زیتون باندې ګزاره کوله. دا خوراک اګر که له ویرې سره مل ؤ خو دا د اشغالګرو ځواکونو له شروع څخه تر نن پورې موږ ته خوندور خوراک ؤ ځکه هر چا د مقاومت په ساتنه کې خپل عزت حس کاوه. د ګرځبندیز د لومړنیو دوو ورځو له تیریدو وروسته خلک له کورونو راووتل او په کوڅو کې د خپلو کورونو مخې ته د کیناستلو جرائت یې وکړ. په ځانګړې توګه هغه خلک چې د کمپ په منځ کې په تنګو کوڅو کې اوسیدل چیرته چې اشغالګر په اسانۍ سره نشوای ورتللای او هلته به وار له مخه د مقاومت جنګیالي تیار ناست ول او په یو کونج یا د دیوال تر شا به د دښمن په انتظار کې ول. ما ډیر د مقاومت خلک ولیدل خو هیڅ یو مې ونه

پېژانده څکه هغوی ټولو مولونه وهلي وو او وسله په لاس به په خپلو ځايونو ولاړ ول.
ما په کوڅه کې ځينې خلک ليدل چې د چای څښلو او سيګريټ څکولو پر مهال به يې د خپلو احساساتو او د خپل خوف په هکله خبرې کولې. هغوی د اشغالګرو لخوا د سپکاوي او ذلت د ښکار کېدو سره سره د عزت او وقار احساس کاوه او د يو نامعلوم راتلونکي په ويره کې مبتلا وو. آيا حالات به همداسې پاتې شي؟ آيا هغوی به د لوی لښکر په مټ پر کمپ حمله ونکړي؟ آيا هغوی به کمپ په لويو توپونو ويشتلو سره ونه سوځوي او خلک به يې له تباهي سره مخ نکړي؟ مختلف نظرونه به وړاندې کېدل خو د صبر او استقامت په اساس ولاړ نظرونه به غالب ول او بار بار ويل کېدونکې خبره دا وه چې: زموږ سره د بايللو لپاره څه پاتې دي؟ يوازې زولنې او محکمې دي نو بيا ويره له څه شي لرو؟ او په همدې باندې به خبره ختميدله. بل به وويل: هو ورو‌ره! بالکل صحيح خبره دې وکړه، د يوې دقيقې د عزت ژوند له زرو کلونو د ذلت ژوند څخه بهتر دی. دا حال فقط زموږ د کمپ نه ؤ بلکې د ټولې غزې د کمپونو او ښارونو په سړکونو به همدا حال ؤ. په لويديځه څنډه او غزه کې مقاومت په مخ روان ؤ، د يو څه اندازه منظم او زياتو انفرادي او ځايي خلکو له طرفه اقدامات کېدل. موږ به په ځانګړې توګه زموږ د نږدې جباليه کمپ د مقاومت خبرې او کارنامې زياتې اورېدلې، هلته ابو حاتم د مقاومت رهبري کوله او د کمپ د ځوانانو په ګډون د نږدې سيمو په لسګونو خلک پکې شامل شوي وو. او ټولو خلکو به «مخيم الثورة» باله.
دا خبرې په کمپ کې د ځنګله د اور په څېر خپرېدې، د خلکو خوشحالي زياتيدله او حوصلې يې لوړېدلې. په موږ ماشومانو يې هم اثر کړی ؤ تر دې پورې چې زموږ په لوبه «عرب او يهودو» يې هم اثر کړی ؤ. موږ به روزانه دا

لوبه کوله او دا یوه قاعده گرځېدلې وه چې عرب به کامیابیږي او خپل دښمنان به وژني.

څلورم څپرکی

ما به تل شپه یا د مکتب په اماده گي او یا د مکتب په هکله خبرې کولې او یا به مې له ورورونو څخه په دې باب پوښتنې کولې او یا به مې دغه خوبونه لیدل څکه صبا زما د مکتب لومړی ورځ وه. له ویده کیدو مخکې زه په کوټه کې یوې وړوکې الماری ته ورغلم او هلته مې نوي جامې بدلې کړې او نوې څپلی مې په پښو کړې، کله چې زما مور ولیدم نو چیغه یې راباندې وکړه: احمده! څه کوې؟ ما په کرار ځواب ورکړ: د مکتب لپاره تیاری کوم، هغې په خندا راته وویل: تر صبا پورې خو لا ډیر وخت دی.

سهار زه د خپل نیکه د دعاگانو او لمانځه په غږ راپورته شوم او له دې وروسته ویده نشوم. کله چې زما مور له خوبه پورته شوه نو زه سمدستي له خپلې بسترې نه راجگ شوم او د مکتب په تیاري لگیا شوم. یوه شیبه وروسته مور زما نور ورونه هم راپاځول او محمود ته یې وویل چې په بله کوټه کې زما د تره زامن هم راپورته کړي چې هغوی له نیکه سره ویده ول. زما مور زه په بهترینه طریقه تیار کړم، داسې لکه زه چې خپل واده ته روان یم او ماته یې ډیر نصیحتونه وکړل او زما د تعریف په کولو سره یې راته وویل چې اوس ډیر عصري شوی او لوی شو یې! بیا یې مور هر یوه ته یوه «شلنا» راکړه چې د پنځه اغورات اسرائیلي لیرو معادل ؤ او زموږ د ټولو په خالي بکسو کې یې د ډوډی یوه ټکړه کیښوده.

یادونه: اسرائیلي اغورات (agorot) د اسرائیلي کرنسي یوه حصه ده، د اسرائیلو کرنسي شیکیل (shekel) ده او یوه شیکیل په سل اغوراتو تقسیمږي، یعنې اغورات د شیکیل وړوکې حصې دي، لکه په امریکایي ډالر کې چې سینټونه دي. د اغورات مختلفې سکې وي لکه ۱۰ اغورات، ۵۰ اغوارت وغیره...

... زما مور زما ورور محمود ته زما په هکله ډېر په ټينګار سره وويل چې ځانګړې پاملرنه به ورته کوې. ځکه محمد په دريم صنف کې دريم نومره ؤ او زما سره په يو مکتب «ذکور اللاجئين الابتدائيه (ا)» کې ؤ. زما خور مها په دې وخت کې په پنځم صنف کې په اناث اللاجئين الابتدائيه (ب) ښوونځي کې وه. زما ورور حسن په لومړي صنف کې په ذکور اللاجئين الاعداديه (ا) کې ؤ او زما خور فاطمه په دريم صنف کې په اناث اللاجئين الاعداديه (ا) کې وه. زما ورور محمود په دوهم صنف کې په «مدرسة الکرمل» کې ؤ. زما د تره زوی ابراهيم په دوهم صنف کې زموږ په ښوونځي کې ؤ او زما بل د تره زوی حسن په لومړي صنف کې په مدرسة الکرمل کې ؤ. موږ ټول يو ځای له کوره ووتلو. زما ورور محمد زما يو لاس ونيو او د تره زوی ابراهيم مې بل لاس ونيو او ما خپله د رخت ته جوړه بکسه په غاړه کې اچولې وه او د مکتب په طرف روان وو. له يوې فاصلې قطع کولو وروسته موږ په مختلفو ګروپونو سره جلا شو او موږ درې يو ځای پاتې شولو.

کوڅې له هلکانو او انجونو ډکې وې او ټول مکتب ته روان وو. هلکانو د مختلفو رنګونو جامې په تن وې او انجونو يو قسم لباس کړی ؤ چې هغه ته يې «مربول» ويل. دا د سپينو او شنو کرښو نه جوړ رخت ؤ. د هر رنګ کرښه به نيم سانتي متر وه او هغوی خپل د سر ويښتان په يو سپين کليپ سره بند کړي وو. موږ هلکان به له ويښتانو پيژندل کيدلو چې بالکل واړه يا د صفر په اندازه به قطع شوي وو. موږ مکتب ته ورسيدو چې هلته ځينې سړيو او ښځو په وړو ريړيو کې شيان خرڅول او ځينو يې په کوچنيو هټيو باندې راخوړند کړي وو. مکتب ته له داخليدو سره هلته يو لوی ميدان ؤ چې لوړې لوړې ونې پکې ولاړې وې او د ميدان شاوخوا کوټې وې. مکتب ته داخل شو او هلته مو يو وړوکی باغ وليد چې په هغه کې بوټي او ګلان او يو د اوبو حوض ؤ. زما ورور محمد ماته د مکتب په هکله خبرې وکړې چې دا لومړی صنف (A) دی او دا لومړی صنف (B) دی او

دا لومړی صنف (C) دی، دا دوهم صنف دی او دا دریم صنف دی... دا د استادانو کوټه ده، دا د مدیر کوټه ده، دا دوکان دی، دا بیت الخلاء ده او دا د اوبو فوارې دي.

کله چې د سهار تالې ووهل شوه نو استادان راغلل او ښخواني شاګردان یې په صفونو کې په ترتیب ودرول، خو موږ نوي شاګردان چې په اول صنف کې وو؛ استادانو راټول کړو او زموږ نومونه یې اخیستل او د چا نوم به چې واخیستل شو هغه به یو طرفته ودرېده او په همدې طریقه یې موږ په درې ګروپونو وویشلو او هر ګروپ یو استاد واخیست، زموږ استاد یو شیخ ؤ چې چپنه یې اغوستې وه او د هغه په سر باندې «طربوش» ؤ یعنی هغه یو ازهري شیخ ؤ.

موږ لومړي صنف (A) ته ولاړو او هلته موږ استاد د قد په حساب سره برابر کړو. له ټولې وړوکی یې مخې ته کړ، په هر ګروپ کې درې کسان ول او هر درې کسان به د لرګي په یوه اوږده چوکی باندې کیناستل. موږ د لرګي په یوه تخته کیناستو چې د هغه اوږدوالی یو متر او لوړوالی یې تقریباً پنځه ویشت سانتي متره ؤ او زموږ مخې ته یوه بله تخته وه چې د هغې اوږدوالی هماغه خو لوړوالی یې تقریباً څلویښت سانتي متره ؤ چې هلته به موږ خپل کتابونه او کتابچې کیښودلې، زموږ لاندې یوه بله تخته هم وه چې هلته به موږ بکسې کیښودلې او دا ټول له لرګي څخه جوړ شوي وو چې دې ته به بینچ ویل کیده. په هر صنف کې به د دې بینچونو درې صفونه ول او په هر صف کې به تقریباً اووه بینچونه ول او په هر بینچ به درې شاګردان کیناستل. د هر صف په مابین کې به یو نیم متر فاصله وه. د صفونو په مابین کې او د بینچونو په مخ کې به د استاد څوکی او مېز ؤ او په دیوال باندې به یوه توره تخته وه چې هغې ته به موږ «سبورة» ویل.

موږ هر یو په خپل نشست باندې کیناستلو او استاد موږ ته خپل تعارف وکړ چې هغه شیخ حسن دی او بیا یې له موږ هر یوه څخه هم تعارف وغوښت. له هره یوه څخه به یې د نوم، د پلار، تره او نیکه نوم پوښتنه کوله تر دې پورې چې

زموږ يقين راغی چې ګواکې هغه زموږ ټول خپل خپلوان پيژني. کله چې ما خپل تعارف وکړ چې زما نوم احمد ابراهيم الصالح دی نو شيخ په لوړ اواز دعا وکړه او لاسونه يې پورته کړل: الله تعالی دې ستا پلار روغ رمټ راستون کړي نو بيا ماته معلومه شوه چې زما پلار ورک دی او موږ ته يې معلومات نشته.

يوه شيبه وروسته زموږ صنف ته کتابونه، کتابچې، پنسلونه او پنسل پاک راوړل شول او شيخ حسن د دې شيانو ويش پيل کړ. هر يو شاګرد ته يو د لوستلو کتاب ورکړل شو چې په ښکليو رنګينو عکسونو ډک ؤ او لاندې ترې داسې ليکل شوي ؤ چې تراوسه پورې موږ نشوای لوستلی، يو د حساب کتاب، او د قران کريم عم يتساءلون سپاره، هر يوه ته پنځه کتابچې، پنځه پنسلونه او يو پنسل پاک ورکړل شول. د کتابچې پوښ شين او سور ؤ چې په هغه باندې د ملل متحد د تعليمي برخې يونيسکو نښان جوړ شوی ؤ. بيا شيخ حسن موږ ته راکړل شوي شيان راوپيژندل چې دا د ليک لوست کتاب دی، دا د حساب (رياضي) کتاب دی، دا کتابچې دي په دې کې درې د خپلو ميندو سره کيږدئ او يوه د لوستلو او يوه د حساب لپاره خاص کړئ او هره ورځ د ليک لوست کتاب، رياضي، سيپاره، دوه کتابچې، يو پنسل او يو پنسل پاک درسره راوړئ! او بيا هغه د هر يو شاګرد په شيانو باندې په ښکلي تور رنګ سره د هغه نوم وليکه.

تعليمي ورځ ختمه شوه ، محمد او زما د تره زوی ابراهيم زما لاسونه ونيول او د کور په طرف روان شو او هر يوه خپله د رخت بکسه له ځان سره اخيستې وه چې له کتابچو څخه ډکه وه. ورځې تيريدې او زه له ليک، لوست او حساب سره بلد شوم او د نورو شاګردانو په څېر ما هم د قرانکريم واړه واړه سورتونه ياد کړل. موږ ټول به يو ځای مکتب ته تللو، په وقفه کې بهر وتلو او هلته به مو لوبې کولې او هغه سينډويچ به مو خوړل چې زموږ مور راته تيار کړي وو چې په هغو کې به ميده مرچ هم ؤ، او کله کله به عربي پنير هم ؤ. کله کله به مو د مکتب په دروازه کې له ناستو ښځو څخه لبنه هم اخيسته او کله به مو چې هغه زيبنله نو

هغه به ووتله او د هغه تریخ خوند به زموږ لپاره ډیر خوندور ؤ. کور ته به چې راغلو نو د غرمې ډوډۍ به مو وخوړله او بیا به محمود او حسن زما د ماما صالح فابریکې ته ولاړل او موږ به په لوبو مصروف شو یا به مو د مکتب کتابونه لوستل او د شیخ حسن راکړل شوې کورنۍ وظیفه به مو سرته رسوله او کله به د شپې د جامو مینځلو د تالۍ نه ګیر چاپیره کیناستلو او هغه به مو په ځټ واړوله او په مابین کې به مو څراغ کیښود او کتابونه او کتابچې به مو راته کیښودې او سبق به مو لوسته، زما مور او نور د کورنۍ غړي چې په لیک لوست به نه پوهیدل هغوی به له موږ سره نږدې کیناستل او په خپلو کې به یې خبرې کولې.
یوه اونۍ به هم داسې نه تیریدله چې موږ به په لاؤډسپیکر کې د ګرځبندیز اعلان نه اوریده چې له دې ځخه به موږ پوه شولو چې بیا کوم فدایي د اشغالګرو عسکرو په خلاف کوم عملیات کړي دي لکه د لاسي بم حمله او یا په عسکرو باندې ډزې کول. کله به چې هم اشغالګرو کمپ ته د ننوتلو کوښښ کاوه نو فدایانو به یې مقابله کوله او هغوی به بیرته شاتګ وکړ. په دې کال کې نوې پیښه دا وشوه چې ابو یوسف شهید شو، هغه له دوو نورو ځوانانو سره یو ځای د یو لړ فدایي عملیاتو لپاره روان شو چې مقصد یې په هغو عسکرو باندې عملیات کول ؤ چې روزانه به په یو معلوم وخت کې هغوی پیره کوله. پلان داسې ؤ چې یو تن به په عسکرو باندې لاسي بم ورغورځوي او بیا به شاته راځي چې په دې سره به هغوی ته ورښیي چې هغه وتښتیده، او د هغه د شاته راتګ په لاره کې به ابویوسف او دوهم فدایي له کارلوستوف ټوپک او لاسي بمونو سره ناست وي تر څو د هغه تعقیب کوونکي عسکر تر برید لاندې ونیسي خو کله چې دوی د عملیاتو لپاره منتظر ناست وو نو د شا له طرفه عسکرو په دوی حمله وکړه او دواړه یې شهیدان کړل.
دا ځل اشغالګرو ځواکونو په کمپ کې ګرځبندیز اعلان نکړ. د کمپ ټول سړي، ښځې، سپین ږیري او ماشومان له کورونو راووتل او اکثرو د ابو یوسف په

شهادت ژړل، د شهیدانو عظیم الشان جنازه روانه وه چې د کمپ ټولو خلکو پکې ګډون وکړ او شعارونه به یې پورته کول: بالروح و بالدم نفدیک یا شهید..! بالروح وبالدم نفدیک یا فلسطین..! او جنازه یې څو ځله په کمپ کې وګرځوله او بیا یې دوی په نږدې مقبره کې دفن کړل. په دې ورځ زما نیکه زه له ځان سره د کور یو کونج ته بوتللم چې هلته یو څو تنه سپین ږیري راټول شوي وو او د روانو حالاتو او تازه پرمختګونو په هکله یې بحثونه او خبرې کولې. ښکاره خبره وه چې د نن ورځې خبرې د ابو یوسف اړوند وې چې هغه څنګه شهید شو. یوه وویل: دوی سمدستي ونیول شول (له دوی سره دوکه وشوه) بل کس ترې وپوښتل: دا کار څنګه وشو؟ نو هغه ځواب ورکړ: په هغوی باندې د شا لخوا ډزې وشوې یعنی له هغه طرفه پرې ډزې وشوې چې دوی ترې د دښمن د ورتګ توقع نه درلوده. یو دریم تن پوښتنه وکړه: دا څه سره وایې وه وروره؟ هغه ځواب ورکړ: همداسې مې اوریدلي دي. زما نیکه پوښتنه وکړه: آیا د دې مطلب خیانت او دوکه ده؟ نو هغه سړي وویل: زه څه خبر یم خو بس همداسې شوي دي. یو بل تن وویل: دا خو ټکان ورکوونکې خبره ده، الله تعالی په ابو یوسف رحم وکړي او مور ته دې خدای ښه بدله راکړي.

څو ورځې وروسته یوه ورځ لمر ډوبیدو ته نږدې ؤ او د معمول سره سم د ګرځبندیز وخت هم نږدې ؤ، مونږ په کوڅه کې لوبې کولې چې یو دم مخ پټي فدایان راغلل او په کوڅه کې ځای پر ځای شول، ابو حاتم راغی او د کمپ یو سړی یې له غوږونو په کش کولو د ذلت په حالت کې را روان کړی ؤ. د ابو حاتم په لاس کې د بانس یوه لښته وه او په مټ کې یې ټوپک ځوړند ؤ. مونږ لوبه پریښودله او دوی ته ودریدو او د کوڅې ټول خلک له کورونو څخه د دوی په تماشه شول. لښته په لاس ابو حاتم نیول شوی شخص د خلکو په وړاندې پیش کړ خو هغه د لاسونو په مټ د خپل مخ د پټولو کوښښ کاوه او خپل بدن یې ځوړند کړی ؤ.

یوه ژوره چوپتیا خپره شوه چې د ابو حاتم لړزونکي غږ ماته کړه: ای خلکو! تاسو ټولو ابو یوسف پیژانده چې هغه په کمپ کې د ملي ازادی غوښتونکو مشر ؤ او تاسو د هغه د زړورتیا او عملیاتو په هکله هم خبر یاست چې هغه زموږ د ټولو سر اوچت کړی ؤ او اشغالګرو ته یې د عبرت سبق ورکړی ؤ. او تاسو دا ذلیل هم پیژنئ چې جاسوس وخوت او دا هغه څوک دی چې ابو یوسف یې تعقیباوه او یهودي عسکرو ته یې د هغه خبر ورکړ. د کمپ ټول خلک په غیر واضح ډول خبرو لګیا شول. ابو حاتم لښته پورته کړه او په چیغه یې له هغه سړي نه پوښتنه وکړه: ای ذلیله! د خلکو په وړاندې ووایه چې څه دې کړي دي؟ هغه په غیر واضح ډول یو څو خبرې وکړې نو د ابو حاتم لښتې پرله پسې په هغه ووریدلې، هغه کیناست او خپل سر یې په لاسونو ونیو. ابو حاتم په چیغه کولو امر ورته وکړ: پورته شه او خلکو ته ووایه چې څه دې کړي دي؟ هغه سړي اقرار وکړ چې د کمو پیسو په مقابل کې یې د ابو یوسف او د هغه د ملګرو خبر عسکرو ته ورکړی ؤ خو هغه ته دا معلومه نه وه چې دوی به وژل کیږي. د ابو حاتم لښتې بیا پرې ووریدلې او د خلکو غږونه پورته شول: الله دې تا وشرموي، ای ذلیله! الله دې وشرموه، ای خاینه! ای جاسوسه!

ابو حاتم بیا لښته پورته کړه او خلکو ته یې د چپ کیدو اشاره وکړه، کله چې خلک چپ شول نو ابو حاتم وویل: ای خلکو! دې یهودیانو زموږ څمکه اشغال کړې ده، موږ یې له خپل هیواد نه وباسلي یو، زموږ سړي یې قتل کړل او زموږ عزتونه یې پایمال کړل خو زموږ په مابین کې ځینې داسې خلک دي چې له دوی سره د هغو فدایانو په ضد ملګري شوي دي چې سرونه یې په لاسونو کې نیولي دي. د داسې خاینانو څه انجام کیدای شي چې څوک له یهودو سره کار کوي؟ د خلکو غږونه پورته شول: مرګ! مرګ! ابو حاتم خپل ټوپک له اوږې راښکته کړ او د هغه خاین سر ته یې په نښه کړ، زما مور زما په سترګو لاسونه کیښودل خو ما یې د لیرې کولو کوښښ وکړ تر څو ووینم چې څه کیږي خو ما

د ډزو غږونه واوريدل او د خلکو چيغې پورته شوې: مرګ په خاينانو، مرګ په جاسوسانو!

راتلونکې ورځ فدايانو د اشغالګرو د ګزمې موټرو ته کمين نيولی ؤ. هغوی د شهيدانو په وينو قسم خوړلی ؤ چې د ابو يوسف انتقام به اخلي، کله چې جيپونه دوی ته راورسيدل نو دوی يو څو لاسي بمونه ور وغورځول او بيا يې دوی په مرميو سره تر اور لاندې ونيول چې له امله يې څو تنه عسکر مړه او ټپيان شول. عسکرو په سمدستي ډول ډزونه نشوای کولی خو په لوی شمېر کې کومک ورته راورسېده او سيمه يې محاصره کړله او له نږدې کورونو څخه يې سړي په بې عزتي او وهلو ټکولو رابهر کړل او هوايي ډزونه به يې هم کول. هغوی سړي ديوال ته مخ کړي ودرول او د هغوی په سرونو يې ټوپکونه نيولي وو او د وهلو ټکولو لړی روانه وه. د سيمې د استخباراتو مشر راغی او د هر سړي يې جلا جلا معاينه وکړه او بيا يې هر يو جلا جلا ځانته راوبلل او هغه په خپل موټر کې ورته ناست ؤ او د موټر دروازه يې خلاصه کړې وه. هر سړی به چې د هغه خواته ورتلو نو ټوپک به د هغه په طرف نښه کړی شوی ؤ. بيا هغه پوښتنې شروع کړې. په لسګونو بلکې په سلهاوو پوښتنې يې وکړې چې شايد هغه ته د فدايانو په تشخيص کې لږ مالومات هم حاصل شي.

څو ورځې وروسته ګرځبنديز ختم شو او موږ له معمول سره سم مکتب ته روان شولو. له لومړنيو درويو ساعتونو وروسته د وقفې په وخت کې زه بيت الخلاء ته روان شوم، هلته ما ماشومان په يو ديوال باندې د ختلو په حالت کې وليدل چې دا ديوال ډير لوړ نه ؤ او ماشومانو د ديوال له سر څخه لاندې کتل او له نورو ماشومانو سره يې خبرې کولې. زه هم د نورو ماشومانو په څېر ديوال ته ور پورته شوم او چې کله مې وکتل نو راته معلومه شوه چې له دې ديوال څخه زه هغه ليسه هم ليدلی شم چيرته چې زما ورور حسن سبق وايي، د هغې ليسې ماشومان د عمر او قد په نسبت له ما څخه لوی ښکاريدل.

په دې ورځ چې مور کله له مکتب نه کور ته روان شولو نو ما د ډېرو شاګردانو په مابین کې زما د تره زوی حسن ولیده چې لاس یې د خولې طرفته یوړو او په خوله کې یې څه شی واچول، آیا دا خو به سیګریټ نه وي؟ بیا ما ولیدل چې هغه خپل لاس ښکته کړ او له خولې نه یې دود پورته شو. محمد او ابراهیم چې له عادت سره سم یې زما لاسونه نیولي وو، ما هغوی په لاس کې ټینګ کړل او د حسن په طرف مې ورته اشاره وکړله، هغوی پوه نشول او له ما څخه یې په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه: څه خبره ده؟ ما ورته وویل : حسن... هغوی بیا پوښتنه وکړه : په هغه څه شوي دي؟ حسن پوه شو چې مور د هغه په اړه خبرې کوو نو ژر یې سیګریټ ګزار کړ او محمد او ابراهیم هیڅ ونه لیده او مور هغه ته نږدې ورسیدو. زه چپ شوم تر څو حسن مې ونه وهي او کله چې کور ته ورسیدو نو مور مې یوازې ولیدله او د موقع په ګټلو سره مې د هغې په غوږ کې وویل: مورې! حسن مې ولیده چې سیګریټ یې څکولو؟ مور مې په برندو سترګو راوکتل او راته یې وویل: ته یقیني غلط شوی یې او هسې وهم دې کړی دی او دا خبره هیچاته هم مکوه! ما سر وښوراوه او په منډه بهر ووتلم. په دې ورځ ما مور ولیدله چې حسن یې ځانته راوغوښت او خبرې یې ورسره کولې، حسن سر ښکته اچولی ؤ او د مور خبرو ته یې غوږ نیولی ؤ خو زه یې په خبرو پوه نشوم. څو ورځې وروسته چې کله مور له مکتب نه واپس راغلو نو زما ورور محمود مور ته وویل چې نن حسن مکتب ته نه ؤ راغلی او له مکتب نه تښتیدلی دی. ما د مور په مخ خفګان ولید او د دې مشکل د حل په لټه کې شوه. هغې زما له نیکه سره خبرې وکړې او حسن یې راوغوښت او په سخته لهجه یې ورسره خبرې وکړې. حسن د خپل ځان د سپیناوي ډېر کوښښ وکړ خو ناکام شو او هغه ته یې اخطار ورکړ چې که بیا له مکتب نه وتښتیده نو محمود او حسن ته به ویل کیږي چې په انګړ کې یې په ستنه پورې وتړي او ویې وهي. څو ورځې وروسته زما مور د هغه د پتلون په جیب کې یو څو سیګریټ او یو څلور انیزه لیره

وموندله او زمونږ نیکه ته یې وویل: وګوره چې ستا د لمسي په جیب کې مې څه شي پیدا کړل؟ نیکه مې په حیرانتیا سره دغو شیانو ته وکتل او پوښتنه یې وکړه: دې هلک روپۍ له کومه پیدا کړلې؟ په دې وخت کې زما مور محمود او حسن راوغوښتل او ورته یې وویل چې سمدستي حسن راولئ. هغوی یو څه وخت غائب شول او بیا یې حسن راوست. نیکه مې خفه او پریشان ؤ څکه هغه هیڅ نشوای کولی خو مور مې له حسن نه تحقیق شروع کړ چې دا روپۍ تا له کومه پیدا کړې؟ حسن وویل: کومې روپۍ؟ مور مې ورته څلور انیزه لیره او سیګریټ ور وښودل. حسن چُپ شو او داسې یې انګیرله چې ګواکې هغه ته د خپل مصیبت احساس وشو. هغه بهانې جوړولې خو مور مې محمود او حسن ته حکم وکړ چې هغه ونیسي او فاطمې ته یې وویل چې رسۍ راوړي. ټولو خپل مسؤلیت ژر تر ژره پوره کړ. زه، زما ورور محمد او زما د تره زوی ابراهیم د نیکه شا ته ولاړ وو او دا ننداره مو کوله او زیات ویریدلي او حیران وو.
محمود او حسن زما د تره زوی حسن ونیو او د ستنې په طرف یې روان کړ. فاطمې رسۍ راوړه او مور مې د حسن د تړلو کوښښ کاوه او په عین حال کې یې ترې تحقیق هم کاوه. کله چې حسن پوه شو چې دا هر څه جدي دي نو چیغه یې کړه: ما له نیکه څخه غورځیدلی اتانیز (نیمه لیره) راپورته کړې وه. نیکه مې حیران شو چې دا له ما څخه څنګه غورځیدلې ده او له ما سره څومره اتانیزه دي؟ مور مې تحقیق ته دوام ورکړ: دا چیرته ترې غورځیدلې وه؟ حسن متردد شو او درواغ یې ښکاره شول. مور مې محمود او حسن ته وویل چې هغه وتړي. هغه چیغه کړه: دا مې د نیکه له بټوې څخه اخیستې ده، مور مې په زوره ورته وویل: تا اخیستې ده؟ دې ته اوس د اخیستلو نوم ورکوې؟ بلکې داسې ووایه چې د نیکه له بټوې څخه دې غلا کړې ده. بیا هغې زما د نیکه په طرف راوکتل او ورته یې وویل: ابو ابراهیمه! ستا څه رایه ده چې له ده سره باید څه وکړو؟ نیکه مې بټوه راوباسله او روپۍ یې پکې وکتلې نو په هغه کې فقط اتانیز پاتې ؤ یعنی

حسن د کور نیمایي خرڅه غلا کړې وه. نیکه مې په کمزوري غږ وویل: هغه په ستنې پورې وتړئ، هغه وتړئ! مور مې د نیکه په طرف وکتل تر څو معلومه کړي چې آیا هغه جدي دی؟ نیکه مې سر وښوراوه او په سترګو کې یې مور ته په کتلو سره وویل چې ماشومانو ته دا ورښودل پکار دي چې د داسې کارونو په کولو به د سزا حقدار وي او که داسې ونشي نو د داسې کارونو به په دوی باندې څه اثر وي؟ زما مور حسن په ستنې پورې وتړلو او په خپل او د حسن په قسمت یې ژړل او په ژړا کې یې ورته ویل: افسوس ستا په حال، د شهیدو زویه! ستا پلار شهید شوی دی،آیا ته پوهیږې چې د شهید څه مطلب دی؟ ستا پلار یو شهید دی او ته د خپل نیکه له بټوې څخه نیمه د کور خرڅه غلا کوې؟ حسنه! آیا ته شرمیږې نه؟ بیا یې مور ټولو ته په زوره وویل: ټول کوټې ته ولاړ شئ نو مور هم بې له خندا روان شولو.

په دې ورځ په موږ باندې په کور کې خو څه کوې چې په کوټه کې هم د مور له طرفه ګرځبندیز لګیدلی ؤ، هغې ټول شپه موږ ته له کوټې څخه د وتلو اجازه نه راکوله بغیر له ډیر اضطراري حالت څخه او موږ یې په ژر ویده کیدلو باندې مجبوره کړلو.

پنځم څپرکی

زموږ ترور فتحیه او د هغې خاوند زموږ کور ته راغلل، زما مور د هغې ښه راغلاست په ډیره مینه وکړ او هغه یې ښکل کړله او ترور موږ هم هر یو جلا جلا ښکل کړو. زما مور میلمنو ته د کیناستلو ځای برابر کړ او زما نیکه ته یې غږ کړ چې میلمانه راغلي دي. نیکه مې له خپلې کوټې نه رابهر شو او د ترور له خاوند سره یې ستړې مشي وکړله. زموږ ترور له ځان سره یوه ټوکری راوړې وه چې په هغې کې یو څو کاغذي کڅوړې وې او هغه یې زما مور ته ورکړې. فاطمې چای پوخ کړ او ټولو چای وڅښه او بیا د ترور خاوند اجازه وغوښتله تر څو د ماما کور ته ولاړ شي. ترور مې وویل چې هغه به نن ورځ او شپه له موږ سره وي او د هغې

خاوند به يې صبا بيرته بيايي. نيکه مې هغه ته هم وويل چې پاتې شي او شپه له موږ سره تېره کړي خو هغه معذرت وغوښت چې نن ورځ د يو څو کارونو ختمول ضروري دي. زما مور، نيکه او ترور تر دروازې پورې له هغه سره ولاړل او هغه يې رخصت کړ او بيا زموږ نيکه خپلې کوټې ته ولاړ او مور او ترور زموږ کوټې ته راغلل او موږ ترې گيرچاپيره کيناستو.

مور مې توکرى راوړله او شيان يې ترې راوباسل، په يوه کڅوړه کې غټه سره مڼه وه چې موږ له دې وړاندې نه وه ليدلې او يقيناً چې داسې مڼه مو نه وه خوړلې ځکه موږ په خپل عمر کې دوه يا درې ځله مڼې خوړلې وې او هغه هم په دې شکل منې نه وې. په بله کڅوړه کې يوه بله ميوه وه چې نوم يې تراوسه پورې ماته معلوم نه ؤ خو چې لوى شوم نو پوه شوم چې هغه شفتالو ؤ. په دريمه کڅوړه کې د وچو شيدو يو څو تکړې وې. مور مې ترور ته وويل: تا په موږ لوى احسان وکړ فتحيې! د ترور په سترگو کې اوښکې راغلې او ويې ويل: کاشکې ما په صحيح معنى سره ستاسو کومک کولاى شواى زما خوږې خورې! بيا هغې وويل چې د خاوند اقتصادي حالت يې الحمدلله ښه دى. مور مې ميوه واخيستله او له مينځلو وروسته يې راوړله او محمود ته يې تقريباً نيمه مڼه او شفتالو ورکړ تر څو يې هغه د نيکه او د تره زامنو کوټې ته يوسي. مور او ترور مې د شپې تر ناوخته پورې خبرې کولې او موږ ترې گير چاپيره ناست وو ځکه چې زموږ خوږه ترور راغلې وه.

د ترور خاوند عبدالفتاح د ماما کور ته د شپې کولو لپاره ولاړ او هغه ته يې د الخليل سيمې، ښار او کليو په باره کې معلومات ورکړل. عبدالفتاح څو کله مخکې ثانوي تعليم پوره کړى ؤ او له خپل پلار سره يې د زراعت او مالدارى په کارونو کې مرسته کوله. هغه د اردن يا سعودي عربستان له کوم پوهنتون څخه د نور تعليم حاصلولو په هکله فکر کاوه. ماما ترې د مقاومت، د فدايانو احوال، د خلکو د ژوند تيرولو کيفيت او د هغوى د تياريانو او حوصلو په اړه معلومات

ویوښتل په ځانګړي ډول په تېرو دریو کلونو کې چې اسرائیلو سیمه اشغال کړې وه.
د الخلیل ښار له اشغال کیدو څو ورځې وروسته د سیلانیانو لویې ډلې د حرم ابراهیمي زیارت ته راتګ پیل کړ. د اسرائیلو عقیده وه چې په دې ځای باندې د دوی تاریخي حق دی چې له امله یې په ښار کې د اقتصادي خوښیو دروازه خلاصه شوه او د ښار لویو تاجرانو له دې موقع نه فائده واخیستله، دوکانونه یې خلاص کړل او په سیلانیانو باندې یې د سامانونو خرڅول شروع کړل او په هغوی باندې به یې هر شی په لوړ قیمت خرڅول تر دې پورې چې هغوی بلوط (ونه) هم خرڅوله. د خارجیانو دا عقیده وه چې بلوط زموږ د نیکه ابراهیم علیه السلام د ملک له امله مقدسه ده. تر دې پورې چې یهودانو به هم په الخلیل کې له دوکانونو او مارکیټونو څخه د ضرورت شیان اخیستل چې له امله یې په ښار کې حقیقي اقتصادي خوشحالي راغله او د ژوند په کیفیت کې ښه والی راغی.
دا هم لیدل کیدل چې اشغالګرو به له خلکو سره ډیر اختلاط نه کاوه، داسې ښکاریده چې دا کار هم د ښاروال شیخ الجعبري په غوښتنه کیده چې هغه په دې ښار باندې د اسرائیلو له ولکې وروسته د اسرائیلو له مشرانو سره ملاقات کړی ؤ او له هغوی نه یې غوښتنه کړې وه چې عسکر دې د خلکو په عزت او مال حمله نکوي. په دې مشرانو کې «شې دیان» هم موجود ؤ چې هغه د دې خبرې په اهمیت پوه شو او د دې نصیحت په عملي کولو کې ډیر جدي ؤ، له دې امله د عسکرو به له خلکو سره اختلاط بالکل کم وو.
خلک تازه د «نکسة» او شکست له صدمې څخه وتلي وو او په اکثرو خلکو باندې د اشغال او د یهودو خوف غوړیدلی ؤ، یو یهودي به یوازې په ښار کې ګرځیده او د هغه په لاره کې به هیچا خنډ نه جوړاوه او نه به چا په هغه باندې د حملې کولو فکر کاوه او که چاته به معلومه شوه چې یو څوک د داسې کار کولو فکر لري نوهغه به یې د خوف او احتیاط له امله منع کاوه خو کله کله به بیا هم

يو څه مقاومت کيده، او کله ناکله به د ډزو، يو چا په ښنه کولو او د بمونو غورځولو پېښې کيدلې او دا حملې به د ښار په اطرافو يا په شاوخوا کليو کې د اشغالګرو د ګزمې په عسکرو کيدلې. او حال دا چې ځينې کلي او سيمې داسې هم وې چې هلته اشغالګر داخليداى هم نشواى. ځينې مجاهدين په غرونو کې په غارونو کې اوسېدل چې د غرونو لاندې به ډير ژور غځېدلي وو. هغوی به کله ناکله راووتل او د اشغالګرو په ګزمه به يې بريد وکړ چې له امله به يې عسکر ټپيان او کله کله مړه هم شول او مجاهدينو به بيرته غرونو ته پنا يوړه چې هلته به نه اشغالګرو د ورتللو همت کولی شواى او نه يې دا سيمې پيژندلې. په دې مقاومت کوونکو کې تر ټولو مشهور «ابو شرار» وو چې په دې سيمه کې يې د اشغالګرو خوبونه حرام کړي وو.

فتح غورځنګ په ښار او شاوخوا سيمو کې د مقاومت کوښښ شروع کړی ؤ خو په سيمه کې پرمختګ ډير محدود ؤ ځکه اشغالګرو عسکرو هغه ګروپونه نيول چې د مقاومت د شروع کولو کوښښ يې کاوه او يا به په ابتدائي مراحلو کې ول او تر اوسه پورې به په پښو نه وو دريدلي. شايد د خلکو د ژوند ستونزو او اقتصادي مشکلاتو له امله په سيمه کې مقاومت کامياب او عام نشو.

خو په ښار کې د تظاهراتو يو سياسي خوځښت شروع شو چې د فتح حمايت کوونکو خلکو په ځانګړي ډول د زده کوونکو په حلقو کې منظم کيده او همدارنګه جبهة الشيعية هم د تحرکاتو شروع کولو کوښښونه شروع کړي وو. لکه څنګه چې د مقاومت په ميدان کې واضحه کاميابي حاصله نشوه نو له دې امله فعاليتونه په سياسي، ملي او مدني فعاليتونو متمرکز شول. زما ماما په توجه سره زما د ترور د خاوند عبدالفتاح خبرې اوريدلې چې د سيمې حالات يې بيانول او وخت په وخت به هغه د وضاحت لپاره څه پوښتنې کولې او کوښښ يې کاوه چې په هره وړه او لويه خبره پوه شي تر څو د لويديځ اردن او د غزې ترمنځ د حالاتو په فرق پوه شي.

له اشغال نه یو څه وروسته د اشغالګرو د ګزمې موټر کلي ته نږدې راغلل او له کلي څخه به د لویدیځې غاړې د نورو کلیو په څېر تاویدل او ورته به یې کتل. د دې کلي خلک په کوچنیو، ساده او له کاڼو جوړ کورونو کې د زیتون، انځر، انګورو او بادامو د ونو په منځ کې اوسیدل. هغوی به د حیواناتو او چرګانو د ساتلو په واسطه روزي ګټله او د الله تعالی شکر به یې ادا کاوه چې د هغه بې شمېره نعمتونه دي. د دې کلي خلک په خپل لوړ کردار او سرېتوب باندې مشهور وو او هغوی به د فلسطین کلیوال لباس اغوستی ؤ.

یو طرفته به دې چې وکتل نو یوه سړي به خپله لښته اخیستې وه او مېږې او وزې به یې د غره په لمن کې څرولې او ښځې به د خپل لباس او سر په پټولو سره راښکاره کیدلې. زما ترور له غزې نه صوریف ته په انتقال کېدو زیات فرق محسوس نکړ فقط د کلیوال او زراعتي ژوند فرق ؤ، د خلکو چال چلند او ارواح یو شان وو، شاید په سیمه ایزه لهجه کې به لږ فرق موجود ؤ خو دا لوی فرق نه ؤ او ډېر ژر هغه د هغه ځای له ژوند سره بلده شوه. د هغې خاوند ثانوي زده کړې د الخلیل ښار په طارق بن زیاد ښوونځي کې مکمل کړې ځکه په صوریف کې د ثانوي زده کړو مکتب نه ؤ لکه د ښار د اطرافو د کلیو خلکو به چې ثانوي زده کړې په الخلیل کې ترسره کولې. د ترور خاوند په الخلیل کې د زده کړو له امله د هغه ښار له حالاتو نه واقف شو او هلته یې د مکتب ډېر دوستان هم ول.

د ترور یو زوی پیدا شو او د هغه نوم یې عبدالرحیم کیښود، زما مور د اقتصادي ستونزو له امله نشوای کولی چې الخلیل ته ولاړه شي او هغې ته د زوی مبارکي ورکړي نو هغه زما د ماما کور ته ولاړه او هغه ته یې مبارکي ورکړه او هغه ته یې وویل چې کله د فتحیې کور ته ولاړ شي نو زما له طرفه هم مبارکي ورکړه او زما عذر ورته پیش کړه ځکه هغه زما له اقتصادي او کورني حالت څخه خبره ده.

زما د ترور خاوند د اردن پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې د داخلې کولو لپاره د سفر اماده ګي نیوله خو د پلار سختې مریضي دې ته اړ کړ چې خپل سفر

وځنډوي او بيا د پلار وفات هغه په پوهنتون کې له درس ويلو څخه بالکل لاس په سر کړ. هغه د خپل پلار د تجارت تعقيب او د هغه د ځمکو د ساتنې فيصله وکړه او د خپل تعليم د نه کولو غم يې په دې خبره سپک کړ چې هغه به د خپل ورور عبدالرحمن سره په تعليم کې مرسته کوي چې هغه په الخليل کې د طارق بن زياد په ښوونځي کې د دوهم ټولګي طالب العلم ؤ.

عبدالفتاح به ډيری وخت د خپل کور په بام ولاړ ؤ او خپلې ميرمنې ته به يې د لويديځې سيمې «خربه علين» په طرف اشاره کوله چيرته چې د ۱۹٦۷ جنګ نه وړاندې د «الجهاد المقدس» مجاهدينو کمپ ؤ او د هغه ځای اوسيدونکو به د دوی ضروريات پوره کول. يوه ورځ د صوريف يوه اوسيدونکي محمد عبدالوهاب القاضي چې خپلې اوزې يې څرولې په صناحين سيمه کې د يهودو يو کاروان وليد چې له بيت شميش نه د آتسيون په طرف روان ؤ هغه مجاهدينو ته خبر ورکړ او هغوی ډير ژر په «ظهر الحجة» سيمه کې کمين ونيوه او په هغوی يې حمله وکړه او ټول يې ووژل چې په هغوی کې ۳۵ افسران او فوځي ډاکټران ول. دې پيښې د يهودو په زړه کې د صوريف په ضد نفرت پيدا کړ او د ۱۹٦۷ په جنګ کې يې د انتقام په خاطر په صوريف باندې د توپو حمله وکړه او څو کورونه يې ويجاړ کړل.

د عبدالفتاح تجارتي فعاليتونو او د الخليل په ښار کې له تجارانو او صنعتکارانو سره د هغه اړيکو هغه ته يو لويه شبکه په لاس ورکړه، هغه به په خپلو ناستو او ملاقاتونو کې تفصيلي خبرې او مباحثې کولې، په يو دوکان کې به له بخاری ګير چاپيره کيناستل چې سکروټې به پکې بليدلې، دوی به چای څښلو او د مقاومت او اشغال په اړه به يې خبرې اترې کولې. دغو واقعاتو به هر وخت د دې خبرې څرګندونه کوله چې د دې سيمې خلک د مقاومت په فائدو باندې يقين نلري او د خپلو ځانونو لپاره يې تاواني بولي او د دوی زياته توجه د خپل ژوند د کيفيت ښه کولو، اقتصادي پرمختګ او د مال په زيادت باندې وه. دوی به هر وخت

ویل چې هر کله عربي څواکونه د اسرائیلو په مقابل کې ناکام شول نو څو تنه فدایان به له معمولي اسلحو او کم شمېر وسائلو سره څنګه کامیاب شي؟
عبدالفتاح به د دې نظرونو سره په ښکاره مخالفت نه کاوه څو هغه به د دې خبرو په اوریدلو سره په منطقي طریقه د بحث کولو کوښښ کاوه او بالاخره به هغه خلک له چای څښلو او یو ساعت کیناستلو وروسته رخصت شول او په دوی کې به څینو ویل: زموږ له دې کارونو سره څه کار دی؟ الله ته یې پرېږدئ . الله دې هغه وکړي چې په څه کې خیر وي او دا خبرې به د الخلیل اوسیدونکو د دوی په یوه خاصه لهجه کې کولې چې د ویلو پر وخت به یې حروف زیات راښکل.
په دې ناستو، حلقو او روابطو کې زما د ترور خاوند له ابو علي سره ملاقات وکړ چې هغه د فلسطین د قضیې په اړه د یو اقدام په کولو یقین درلود، اګر که مقاومت د هیواد په ازادی او د اشغال په ختمیدو کې مؤثر نشوای تمامیدلی خو لږ تر لږه د ملي فرض اداء کول خو ضرور ؤ.
زما د ترور خاوند او ابو علي به اکثره د الخلیل په سړکونو ګرځیدل، او کله به چې عبدالفتاح الخلیل ته تللو او یا به ابو علي صوریف ته راتلو نو دوی به اکثره د اشغال په مقابل کې د مقاومت د ضرورت او فقط په مال ډیرولو کې د مصروف نه اوسیدو په اړه خبرې کولې، لکه څنګه چې د دوی نظریات سره متفق وو نو څکه یې ملګرتیا هم مضبوطه شوه. یوه ورځ ابو علي زما د ترور خاوند ته وویل: زه لاس تر زنې نشم کیناستلی ماته پکار دي چې لږ تر لږه څپل فرض پوره کړم، زما د ترور خاوند تري پوښتنه وکړه: ته د څه کولو اراده لرې؟ ایا ته کومه اسلحه لتوې تر څو د ګزمې په موټر حمله وکړې او بیا له تښتیدو وروسته د هغو مطلوبو خلکو لکه ابو شرار او نورو مجاهدینو په شان ژوند وکړې؟ ابو علي څواب ورکړ: نه! دا زما مقصد نه دی بلکې زه مقاومت منظم کول غواړم تر څو هغه یو تنظیم او تحریک جوړ شي. زما د ترور خاوند پوښتنه وکړه. هغه څنګه؟ ابو علي څواب

ورکړ: زه اردن ته ځم او هلته فتح غورځنګ ته خپله خبره کوم، ایا ته پوهېږې چې د کرامه نه وروسته فتح یو مقام خپل کړی دی او هغه به ضرور زما پیشنهاد قبلوي او له ما سره به مکمل کومک کوي. عبد الفتاح د دې فکر تعریف وکړ او ابو علي ته یې د هر ممکن احتیاط تاکید وکړ او هغه ته یې وویل چې ما په هر قدم کې خپل شریک وګڼه او په دې خبره اتفاق وشو چې ابو علي به یوازې سفر کوي او د خپل سفر لپاره به یوه تجارتي بهانه جوړوي تر څو په هغه شک ونشي.

په اردن کې د کرامه له فتحې بعد ټول هیواد د مقاومت تابع شو او د مهاجرینو په کمپونو کې د فتح د کامیابي جشنونه لمانځل کیدل، هر چا د فدایانو د ژوند په حق کې شعارونه ورکول او د فلسطین د ازادۍ غورځنګ ته دعاګوی ول. د ابو علي په څېر شخص ته دا مشکله نه وه چې هلته له فدایانو سره ووینې او د لویدیځې غاړې په هره سیمه کې د فتح د عسکري قطعاتو په منظم کیدو ورسره معاهده وکړي او د دې مقصد لپاره یې مالي او نظامي مرسته وشي. له یو څو خپلوانو سره تر لیدلو وروسته ابو علي څه تجارتي معاملات ختم کړل تر څو خپل اصلي مقصد پټ وساتلی شي او بیا هغه لویدیځې غاړې ته واپس راغی او له خپلو ځوانو شناخته خلکو سره یې رابطې شروع کړې.

څوک به هم چې د فتح په صفونو کې شامل شو نو له هغه څخه به یې غوښتنه کوله تر څو دوه یا درې خپل اعتمادي ملګري هم له ځان سره شامل کړي چې د اشغال په مقابل کې د مسلح اقدام لپاره اماده وي او دا کار له شمال لویدیځې غاړې نه تر الخلیل پورې وغځیده. چیرته به هم چې د اعتماد وړ شخص پیدا شو او هغه به د نورو ملګرو د پیدا کولو غوښتنه ومنله نو هغوی ته به یې وړوکی ګروپ برابر کړ. زما د ترور خاوند عبدالفتاح ته یې د اسلحو د راغونډلو مسؤلیت وسپاره ځکه د هغه تجارت د هغه لپاره ډیره ښه پرده وه. په همدې ډول په کمه موده کې په مختلفو ښارونو کې ګروپونه او ډلګی جوړې شوې، او دوی به

کوچني کوچني عملیات لکه د لاسي بمونو حملې، په ګزمه ډزې کول او له لیرې څخه عسکر په نښه کول.. ترسره کول لکه څنګه چې د مقاومت په هر غورځنګ کې وي. په یوه ګروپ کې د معمولي خرابي له امله د هغه ګروپ خلک ونیول شول او د تحقیق په وخت کې ځینو اقرار وکړ او نور خلک یې پرې ونیول او په همدې ډول خبره تر ابو علي پورې ورسیده او هغه هم ونیول شو او د الخلیل د تحقیق په خونو کې یې ډیرې سختی وزغملې. ابو علي د ډیر غیرت او ثابت قدمي په ښودلو سره له هر هغه شي نه انکار وکړ چې ځینو مجاهدینو د تحقیق په وخت کې منلي وو.

د اسرائیلو استخباراتو د ابو علي د روابطو او ملګرو په اړه تحقیق وکړ او زما د ترور خاوند یې هم ونیوه او د هغه د کور په تالاشي کولو سره یې هلته هر څه ګډوډ کړل او زما ترور او د هغې کوچنی زوی عبدالرحیم یې له وهلو ټکولو معاف نه کړل. عبدالفتاح د الخلیل زندان ته یوړل شو او له سخت تحقیق او تعذیب سره مخ شو. له هغه نه د ابو علي په اړه پوښتنه وشوه او دا هم ورته وویل شول چې هغه ستا په باب اقرار کړی دی خو عبدالفتاح انکار وکړ چې په نتیجه کې یې هغه ته شپږ میاشتې او ابو علي ته د نورو ملګرو د اقرار له امله پنځه کاله قید ورکړل شو.

دلته زما د ترور لپاره د زندان د دنیا یوه نوې کیسه پیلیږي، هغه به هره میاشت له خپل خاوند سره د ملاقات لپاره زندان ته ورتلله، د ملاقات په سهار به هغه وختي پاځیده، خپل زوی به یې تیار کړ او د کلي د مرکز په خوا به روانه شوه. دلته به هغې موټر ونیو چې په کلي کې به ډیر کم پیدا کیدل او د الخلیل ښار په طرف به تلل. هغې به یو اوږد سفر کاوه تر څو هغې ودانۍ ته ورسیږي چې د الخلیل په ښار کې د فوځي افسرانو مرکز ؤ. هلته به هغې په سلګونو ښځې لیدلې چې له خپلو قیدیانو سره به د لیدلو لپاره راغلې وې، هغه د ښځو په قطار کې ودریده او خپل هویت کارد یې په لاس کې نیول ؤ. هغې به یا په اول ګروپ کې ملاقات

کولی شوای او یا به د زندان مؤظف عسکر اعلان کاوه چې گروپ مکمل شو نو د بل گروپ جوړېدو پورې انتظار وکړئ.
هغه چې گله د زندان وړوکي سوري ته رسېږي نو خپل هویت کارډ عسکر ته ورکوي چې د دیوال شاته ناست وي تر څو بې هغه معلوم، تصدیق او راجستر کړي، بیا هغه نږدې دروازه خلاصوي او هغه د ښځو په برخه کې داخلیږي او هلته د ښځو مفصله تالاشي اخیستل کیږي، ترور خپله غصه کنترولوي ځکه هغه نه غواړي چې د گروپ جوړولو دوره بې ضایع شي. په دې وخت کې د عبدالرحیم پلار د هغوی انتظار کوي او یقیناً چې هغه او د هغه زوی عبدالرحیم له یو بل سره ملاقات ته تږي دي خو له هغه حقیر عسکر سره هم هیڅ نشي کولی. د تالاشي نه وروسته ملاقات کوونکي په یوه کوټه کې راغونډیږي او بیا هغوی د اوږدو لارو او کمې روښنایي درلودونکو دالانونو څخه تیریږي او د ملاقات برخې ته رسیږي چیرته چې په دیوالونو کې کړکي جوړ شوي وي او د اوسپنې جالی ورته لگیدلې وي او د هرې کړکی شاته یو زنداني ولاړ وي او ملاقات کوونکي د خپلو قیدیانو په لټه کې وي او کله چې هغوی پیدا کړي نو کړکی ته ورته راشي او د پلار په سترگو کې بې اوښکې راشي چې کله خپل زوی له کړکی شاتهویني او په غیر کې بې نشي اخیستلی، د مور یا ښځې په سترگو کې هم اوښکې راځي چې گله خپل زوی یا خاوند د پنجرو شاته ویني او دا هسورته معلومه نه وي چې له دیوال شاته بې رحمه عسکر له دوی سره څه کوي. خلک تر اوسه پورې د سفر له ستړیا او د انتظار او تالاشي له سرگردانی څخه نه وو خلاص شوي او نه بې د خپلو خاوندانو، پلرونو ، زامنو او خپلوانو حال پوښتلی ؤ چې په دې وخت کې د ملاقات کوونکو تر شا ولاړ عسکر لاسونه پرقوي او چیغې وهي چې د ملاقات وخت ختم شو، هغوی قیدیان له پنجرو شاته کش کوي او ملاقات کوونکي بهر وباسي، د ترور خاوند خپلې اوښکې کنترولوي تر څو عسکر بې په لیدلو خوشحال نشي او د خپلو احساساتو

په کنټرولولو سره ښېلې مېرمن ته تسلي ورکوي او ورته وايي چې خلاصون مې نږدې دی فقط ښځه مياشتې پاتې دي او هغې ته په عبدالرحيم او کور باندې د پام ساتلو تاکيد کوي او تولو ته د سلام کولو ورته وايي. ترور د خپل سر د سپين ټيکري په څنډو باندې اوښکې پاکوي او ورته وايي: هيڅ خبره نشته، بس ته حوصله ساته او فکر مه کوه د الله پامان.

په کليو، کوڅو ،بانډو او کمپونو کې نوي ګروپونه جوړيږي او د لويدځې غاړې په ښارونو، بانډو او ښارو کې منظم کيږي. ځوانان د درو په ژورو او د غرونو شاته په تازه ترلاسه شويو او يا له پلرونو او نيکونو ورته پاتې اسلحو باندې تربيت حاصلوي او په لومړي فرصت کې له دښمن سره مقابلې ته ځانونه اماده کوي. هغوی په بې صبرې سره د هغې شيبې انتظار باسي چې په وسله سمبال شي او له دښمن سره مخ شي، سره له دې چې وسلې کمزورې دي او دوی يې له استعمال سره نابلده دي خو زړونه يې له جوش او جذبې ډک دي.

کله چې موسم سوړ ؤ نو زما د ترور خاوند او ابو علي به له ځينو تجارانو سره په يو دوکان کې ملاقات کاوه، چای به يې څښلو او د جنګونو خبرې به يې کولې. خلکو په دوکان کې د دوی په نيول کيدو باندې هم خبرې اترې پيل کړې او تجاران په دې خبره متفق وو چې د دوی عمل بې کاره ؤ او د هغوی نيول د هغوی د نظرياتو د ريښتوني کيدو ثبوت دی. يوه تاجر حساب وکړ چې زما د ترور خاوند په زندان کې څومره شپې تيرې کړې دي او په دې وخت کې هغه د روازنه په حساب سره درې اسرائيلې ليرې ګټلې شوای يعنی هغه لږ تر لږه پنځه سوه ليرې نقصان وکړ او له دې سره سره هغه او د هغه کورنی له ذلت او بې عزتي سره مخ شوه. د اقتصادي ستونزو او د دې په نتيجه کې د ډيرو خلکو له مقاومت سره د يو ځای کيدو له ويرې اسرائيلي مشرانو سوچ وکړ چې خلکو ته په تدريجي ډول د کار کولو فرصتونه برابر کړي او له سختې امنيتي ارزونې وروسته هغوی ته اجازت ورکړل شي. له دې اعلان نه وروسته د پاسپورټ او

جواز ورکولو دفترونو په ۱۹۴۸ کال کې په اشغال شویو سیمو کې د کار لپاره د غوښتنلیکونو ورکوونکو سرېو غوښتنلیکونه قبلول شروع کړل او دې اقدام په فلسطیني خلکو کې سخت بحث راوپاراوه.

زموږ د کلي په څلور لارې باندې به خلک ناست ول او مجلسونه به یې کول او زما نیکه به له ډېر عمر او مریضي سره سره په دې مجلسونو کې ګډون کاوه. هلته هم په دې موضوع باندې خبرې وشوې او د خلکو رایې په دوه حصو تقسیم شوې. ځینو خلکو یې سخت مخالفت وکړ ځکه د دښمن د ریاست په تعمیر او مضبوط کیدو کې برخه اخیستل څنګه روا شي په داسې حال کې چې د دښمن فوځیان زموږ د خلکو پر ضد د جنګ تیاری کوي او ځینو خلکو له دوی سره کار کول د غداري یو شکل وباله. خو روښان فکره خلک پوهیدل چې حقیقت ځان وښوده او د اسرائیلو حکومت قائم شوی دی او د څو سوه یا څو زره خلکو کار نه کول به یې مات یا کمزوری نکړي. او ټوله خبره دا وه چې دې قضیې ته له دې زاویې کتل پکار دي چې دلته ځیني داسې کورنۍ هم شته چې یوه خوله ډوډۍ او د ماشومانو یو څاڅکی شیدو ته ضرورت لري او موږ هغه هم نشو ترلاسه کولی اګر که له اسرائیلو سره کار کول سخت او تریخ دی. او له بلې زاویې نه زموږ د خلکو په کمپونو او باندو کې د پاتې کیدو لپاره یو ملي فرض دی چې هغوی ته د ضرورت له مخې بیا هجرت کول پیښ نشي. خو خلیل الرحمن ته په دې بازار کې له اسرائیلو سره کار کول ډېر خوښ وو ځکه د هغه ځای خلک په حساب کتاب باندې ښه پوهیدل، دلته د احصایې لوبه ده او خلکو ته د کار زمینه برابرول د هیواد پرمختګ تضمینوي چې له امله یې د هیواد په هره برخه کې کیفیت ښه کیږي او زموږ د خلکو به له ځمکې سره ارتباط نور هم مضبوط شي تر دې پورې چې الله تعالی په عملي شکل د بدلون حکم وکړي.

خو په کمپونو لکه په الشاطئ کمپ کې اوسیدونکو د مقاومت خلکو دا یو جرم وباله او د هغو خلکو معلومات راټولول یې شروع کړل چاته چې د کار کولو اجازت نامه ورکړل شوې وه او دا اجازت نامې به یې له مزدورانو راټولولې او سوځولې او د دې کار خطرات او د ملي ګټو سره ټکر به یې خلکو ته واضح کاوه. کله کله به یې د اجازت نامې مالک په ټنډه باندې د بانس په لښته او یا په څپېړه وهلو او یا به یې سخت الفاظ ورته کارول. او داسې به هم لیدل کیدل چې د هغو مزدورانو له جملې څخه به یو تن د فدایانو د قانع کولو کوښښ کاوه او د خپلې اجازت نامې له ورکولو به یې انکار کاوه، خپل تر شا موجود ۸ ماشومانو ته به یې اشاره وکړه چې هغوی وږي دي او د ملل متحد کومک هم ودریدلی دی او ماشومان مو اکثر وخت وږي وي او له فدایانو څخه به یې غوښتنه کوله چې د دوی حالت درک کړي او اجازت نامه بیرته ورکړي خو هغوی به انکار وکړ او د اجازت نامې په اخیستلو به یې اصرار کاوه او په سترګو کې به یې اوښکې راغلې چې کله به هغوی وکتل چې د دې خلکو د خپلو ضروریاتو او ملي ارزوګانو په مابین کې څومره لوی تضاد دی؟ شاید هغوی له تګ نه وروسته په دې باندې خبرې اترې کړې وي او د اجازت نامې د څیرې کولو وروسته به یې د شرم احساس کړی وي.

اووم څپرکی

زما د ورور محمود د لسم صنف د ازموینو څخه یو څو اونۍ وړاندې په کور کې اضطراري حالت اعلان شو. په مور کې به چې د چا غږ لوړ شو نو زما مور به پرې چیغه کړه چې شور مکوه! او د خپل ورور محمود لپاره ارام چاپیریال جوړ کړئ څکه چې څو ورځې وروسته د هغه د لسم صنف ازموینه ده. په مور کې به چې چا د یوه بل پسې منډې وهلې نو مور به راباندې چیغې کړې. که په مور کې به له چا څخه یو شی وغورځید. یا به مو یو بل ته دیکه ورکړه اویا به مو په عذاب کړ نو ماسختن به چې کله د جامو د مینځلو له تالی نه ګیر چاپیره کیناستلو

نو هر يو به د خپلې حصې څپېړه او يا د غوږ پيچلو سزا څکله. په موږ لازمه شوې وه چې د محمود د مطالعې لپاره ارام چاپېريال جوړ کړو او په موږ کې به چې چا وغوښتل چې بل څوک په يو مشکل کې واچوي او د مور وهل وخوري نو پټ پټ به يې هغه ته د ريشخند څهره جوړه کړه او اکثر به زما خور په دې جال کې ونښتله څکه هغه بغير له خندا نشواى پاتې کيدلی، هغې به ډير کوښښ وکړ چې خپله خندا تم کړي خو کله به چې موږ د ريشخند حرکات پيل کړل نو هغه به له خندا شنه شوه او له مور نه به يې څو څپېړې وخوړې او مور به هم د علت عمق ته ځان نه رساوه او اصلي مجرم به يې نه نيوه.

موږ خپلې کلنۍ ازموينې ترسره کړې خو محمود به خپله مطالعه کوله څکه د لسم صنف ازموينې به زموږ له ازموينو يوه مياشت وروسته کيدلې او زموږ د ازموينو له ختميدو سره سره په کور کې اضطراري حالت د پخوا په څېر حاکم ؤ او د محمود د ازموينو تر ختميدو پورې موږ مجبور وو چې داسې انتظار وکړو لکه د اشغال ختميدو ته چې انتظار باسو. د لسم صنف د ازموينو په اخري ورځ چې کله محمود کور ته راغی نو موږ د هغه ښه تود هرکلی وکړ، موږ د خپلو زړونو ښراس چې له دوو مياشتو مو ايسار کړی ؤ وباسه، کور له شور او چيغو نه ډک شو، موږ ټول هلکان او اونجونې په محمود اخته شو، هغه ته مو لغتې او سوکان ونيول او د هغه په چيچلو مو شروع وکړه. زموږ مور موږ ليدلو او کوښښ يې کاوه چې موږ خاموش کړي او په خپل مخ باندې يې د خندا د پټولو ناکامه هڅه کوله. کله چې موږ محمود پريښود نو موږ ټول له محمود سره په مور ورغلو او د هغې سر، لاسونه او پښې مو ښکلول شروع کړل او هغې په غير سنجيده طريقې سره د ځان خلاصولو کوښښ کاوه او د خپلې خندا په قابو کولو کې ناکامه پاتې شوه.

زموږ د ازموينو پايلې اعلان شوې او موږ ټول کامياب شو پرته له دې چې زما د تره زوی حسن چې په لسم صنف کې ؤ ناکام شو، موږ اوس د محمود پايلو ته

انتظار کاوه، د پایلو د اعلان په ورځ یو ځل بیا په کور کې اضطراري حالت اعلان شو تر هغه وخته پورې چې محمود بیرته راغی، د هغه مخ له خوښۍ نه پړکیده او د دروازې له پرانیستلو سره یې وویل: (مورې ۹۲) زما د مور په رخسار ګړندۍ اوښکې روانې شوې او بیا د هغې د خوښۍ غږ پورته شو. مور بیا په جوش سره د محمود بریا ولمانځله ځکه د هغه بریا زموږ بریا وه چې موږ ټولو په کې ونډه درلوده، مور مې پخلنځي ته لاړه او د حُلبې په جوشولو یې پیل وکړ او د هغې له اوبو سره یې د اوړو او بورې په ګډولو سره د حلبې حلوا تیاره کړه تر څو یې محمود د کلي لوی تنور ته یوسي او پخه یې کړي. کله چې محمود بیرته راغی نو موږ دې ته انتظار ونکړ چې مور یې په قابونو کې واچوي بلکې موږ له ټولو خواوو څخه خوړله او هغې به په خپل لاس داسې اشاره کوله چې یو څوک به ووهي مګر هغې هیڅوک ونه وهل او د یو څو قابونو په پورته کولو کامیابه شوه چې د مبارکۍ لپاره راتلونکو خلکو ته یې ورکړي.

زما نیکه سخت ناروغه شوی و او داسې ښکاریده چې هغه به موږ یوازې پریږدي. هغه ډیر کم له کوټې څخه بهر وتلو، د جمعې له ورځې پرته به جومات ته نه راتلو او د کلي په مشهور څلورلارې کې به یې د هرې ورځې په مجلسونو کې ونډه نه اخیستله، د حسن ناکامۍ یې اضطراب او ناروغي زیاته کړه او نه یې غوښتل چې زموږ په مجلس کې ګډون وکړي، بیا هم موږ ټول له هغه سره راغونډ شو او لومړۍ شپه مو ورسره تېره کړه، هڅه مو وکړه چې هغه وخندوو او زړه یې خوشحال کړو. محمود د خپلو ثانوي زده کړو له بشپړولو وروسته یو کال انتظار ته اړ ؤ ترڅو د مصر په پوهنتون کې داخله وکړي، د هغه لپاره د پیسو د سپمولو یو ښه فرصت ؤ چې مصر ته له تګ وروسته به یې په کار راشي. هغه په ۱۹۴۸ کې په اشغال شوې ځمکه کې کار کول په بشپړه توګه رد کړی وو، نو هغه باید د خپل ماما په فابریکه کې کار ته دوام ورکړی وای او اضافي کار یې موندلی وای ترڅو له یو ځای او بل ځای نه یو څه پیسې جمع کړي. محمود او

زما مور د اوږدې مودې لپاره فکر وکړ او بالاخره دوی پریکړه وکړه چې محمود باید زما د ماما په فابریکه کې کار پریږدي او زما ورور محمد د هغه پر ځای شي، ترڅو زما وروڼه حسن او محمد د ماما په فابریکه کې کار وکړي او محمود په یو سنجیده او د ښه عاید لرونکي کار کې بوخت شي.
هغه د داسې یو کار شروع کولو فیصله وکړه چې زیاته سرمایه پکې مصرف نشي او په خپله سیمه کې یې د سبزي خرڅولو د یوې ریړۍ د ودرولو فیصله وکړه چې د هغې لپاره فقط د یو څو لیرو ضرورت وو او لږ ګټه یې کولی شوای خو د وخت په تیریدو سره یې سپما کولی شوای·او یو څه پیسې یې جمع کولی شوای. همداسې وشول او زما مور به محمود سهار وختي پاڅولو او د ګرځبندیز د ختم کیدو له اعلان سره سم به هغه د ښار د عمده پروشي بازار ته ولاړ او هلته به یې د دریو او څلورو لیرو سبزي واخیستله او هغه به یې په خپله ریړۍ کې خرڅوله او ماسپښین به چې کومه سبزي ورسره پاتې شوه هغه به یې کور ته راوړله او مور به پخه کړه. محمود به هره ورځ له خپلې ګټې څخه شل پیسې او یا څلور انیز سپماوه. د ورځې په اوږدو کې به څو ځله ګرځبندیز ولګید خو لکه څنګه به چې د کلي خلکو د محمود سبزي ته ضرورت پیښیده نو د ګرځبندیز سره سره به د هغه سبزي نه خرابیدله. هغه به ریړۍ د کور په خوا را راوانه کړې وه او د کمپ په کوڅو کې به چې د چا ضرورت ؤ هغه ته به یې رسوله او د اشغالګرو عسکر به په کوڅو کې له داخلیدلو څخه ویریدل ځکه هلته د مقاومت د کسانو د برید خطر موجود ؤ.
د مقاومت او فدایانو د حملو له کبله فوځي قوماندانانو ته احساس وشو چې د کمپ په تنګو کوڅو کې عملیات کول ستونزمن دي نو له دې امله دوی سوچ وکړ چې کمپ باید په پراخو سړکونو وویشل شي تر څو د کمپ کنټرول او تالاشي کول اسان شي. یوه ورځ د ګرځبندیز اعلان وشو او په لوی شمېر کې عسکر راغلل ګویا که دوی یو نوی ځای اشغالوي، له ځینو عسکرو سره د سور

رنګ سطلونه او برشونه ول او د ځينو کورونو په ديوالونو باندې يې په سور رنګ د ضرب لوی نښانونه جوړ کړل، په ځينو کورونو يې عمودي کرښې وباسلې او په ځينو کورونو يې کوچني د ضرب نښانونه جوړ کړل. د هر کور مالک ته به يې 5 خبر ورکړ چې د چا په کور باندې لوی د ضرب نښان وي هغه به مکمل ړنګيږي او په کوم کور چې وړوکی د ضرب نښان او يا عمودي کرښې وي د هغو به بعضې برخې ړنګيږي، له هرې خبرتيا سره به چيغې او ښکنځلې شروع شوې. دا خلک به خپلې ميرمنې او ماشومان چيرته بيايي؟ آيا دوی به دوباره په سړکونو اوسيږي؟

له نيکه مرغه زموږ په کور باندې هيڅ نښان جوړ نشو نو ځکه زموږ کور وساتل شو. اوس به زموږ کور د تنګې کوڅې پر ځای په پراخ سړک باندې واقع وي او زموږ د ګاونډي به ټول کور ړنګيږي. دا په ځانګړې ډول زما د ورور محمود لپاره د خوښي خبره وه ځکه که چيرته زموږ کوو يا د کور يوه برخه ړنګه شوې وای نو د هغه په مصر کې د تعليم لپاره جمع شوې روپۍ به زموږ د حالت ښه کيدو لپاره کافي نه وای او د هغه لپاره به شونې نه وای چې له غزې څخه لاړ شي او موږ د سړک په سر پريږدي خو الله تعالی ته هغه او زما غريبه مور محبوبه وه لکه څنګه مې چې له دوی نه دا خبرې اوريدلې وې. څو ورځې وروسته بلډوزرې او ډير عسکر راغلل او اعلان يې وکړ چې هغه کورونه خالي کړئ چې د ړنګولو خبرتيا ورکړل شوې وه. بلډوزرو کورونه داسې هموار کړل لکه ديو چې د خپل ښکار هډوکي هوار کړي او له دې امله د سلګونو سړيو، ښځو او ماشومانو زړونه مات شول چې يو ځل بيا دوی خپل ځانونه د سړکونو په سر بې يار و مددګار وليدل.

بلډوزر به کمپ ته راتلل او هره شيبه به د يو چا زړه مات ماتيده، يا به کومې ښځې خپل ويښتان شوکول او خپل مخ ته به له ځپيړو وهلو سره غورځيدله او يا به يو سړی عسکرو په بد شکل وواهه کله به چې هغه د بلډوزر مخې ته

ځملاست او هغوی به يې د هغه چت له رنګولو منع کول چې د زامنو او لونو لپاره يې يوازينی سر پنا وه. تر ماښام پورې ډير زخمونه بيا تازه شوي وو او خلکو ته يې له مرهم پرته بله لاره نه وه. زما د تره کور له واده وروسته خالي شوی ؤ ځکه زما د تره زامن حسن او ابراهيم زما له نيکه سره په يوه کوټه کې اوسيدل نو زما مور زموږ دوو ګاونډيانو ته په هغه کور کې د موقتي اوسيدو اجازه ورکړه تر څو هغوی د ځان لپاره يوه چاره وکړي. او موږ د منني او تعريف ډير الفاظ په هغه ورځ واوريدل چې موږ ته به ويل کيدل. په راتلونکې ورځ د سره صليب نماينده ګان راغلل تر څو د حالاتو جاج واخلي او حقايق ثبت کړي. بله ورځ وروسته د UNRWA د کورونو جوړونې کارمندان راغلل او معلومات يې راټول کړل او خلکو ته يې وويل چې تاسو به په نويو کورونو کې اباد کړو چې دوی به په بله سيمه کې جوړوي. دا خبر د خلکو لپاره له اسمان څخه يو نازل شوی زيری ؤ، خلکو زياتې پوښتنې ترې شروع کړې چې موږ به هلته کله استوګن کيږو؟ څنګه به کيږو او داسې نور.. او د کارمندانو سره به ښکاره ځوابونه نه ول خو د لومړۍ مياشتې په دوران کې د هغوی نويو کورونو ته انتقال شروع شو چې د غزې په سيمه يا د العريش په ښار کې جوړ شوي ول چيرته چې اسرائيلو په ۱۹٦۷ کال کې ټوله سينا اشغال کړې وه. او په دې وخت کې هغه دوه کورنۍ هم تللې وې چې زموږ د تره په کور کې اوسيدلې او هرې کورنۍ ته نوی کور رسيدلی ؤ. په ۱۹۴۷ کې په اشغال شويو سيمو کې د کار زمينې برابريدو خلک په يو اضطراب کې اچولي وو خو د خپلو زامنو د لوړې ختمولو او د خپل عزت د ساتنې په خاطر په مناسب کورونو کې د اوسيدلو ضرورت هغوی په دې سيمو کې په کار کولو مجبوره کړي وو.

د تعليم، دوايي او انفلاسيون ضروريات د دې کارونو سره د مخالفت کوونکو په ضد تر ټولو مضبوط دلايل وو. نو لهذا د ژوند بهير د ژوند د جاري ساتلو او ښه کولو خواهش ژوندی کړ او والدينو به کوښښ کاوه چې د خپلو زامنو راتلونکی

روښانه کړي. دې بهير په تدريجي ډول وده وکړه تر دې پورې چې دا يو معمول جوړ شو او د فدايانو لپاره د دې بندول ناممکن شول.
د سړکونو د کيندلو او په کې د کارونو د کولو د فرصتونو له برابريدو وروسته او د اشغالگرو د استخباراتو او فوځ لخوا په مقاومت کوونکو د جنگ له امله دوی يو څه ارام محسوس کړ. د سهار په وخت کې به گرځبنديز وختي ختم شو تر څو مزدوران ژر خپلو د کار ځايونو ته ورسيږي چې د لويديځې غاړې او غزې نه تر حيفا، يافا او نورو سيمو له ساعتونو ساعتونو مزل وروسته به ورسيدل. دا هم څرگنده شوې وه چې د کومو کورنيو مشران چې په هيواد د ننه کې کار کوي د هغوی د ژوند کيفيت هم ښه شوی وو او په کم وخت کې دوی د خپلو کورونو چتونه د اوسپنې په څادرو سره پټول شروع کړل، ځينو د خپلو کورونو لپاره مضبوطې دروازې ولگولې، ځينو د سيمينټو بوجۍ او د سمندر شگې واخيستې او مزدوران به يې راوستل تر څو د کور انگړ پوخ جوړ کړي او په همدې شکل زموږ شاوخوا کورونو ډير پرمختگ وکړ او کيفيت يې ښه شو په داسې حال کې چې زموږ کور په زاړه حال ؤ. له جنگ مخکې زموږ کور د کلي له بهترينو کورونو څخه ؤ خو اوس د نورو کورونو د پرمختگ په مقابل کې وروسته پاتې شو.
هغه گاونډيان چې په کور کې د لويو بدلونونو لپاره ورسره اسباب نه ول هغوی د پلاستيک لوی څادرونه واخيستل او د کور په بامونو يې وغوړول او بيا يې د هغو څنډې وپيچلې او د لرگي د ټکړو سره يې د ميخونو په واسطه په بامونو ټک وهل او هر د پلاستيک څادر به يې په دواړو طرفونو کې وتړل تر څو له خپل ځای نه بې ځايه نشي او همدارنگه به يو څه وزن هم پرې واچول شو چې له حرکت او غورځيدو وژغورل شي. د دې پروژې لگښت زيات نه ؤ او دا د باراني اوبو له امله د بامونو د څڅيدو او په بسترو د غورځيدلو لپاره مناسبه حللاره وه چې د هغو نه د ځان ساتنې لپاره به موږ د بسترو په مابين کې لوښي کيدل چې د

باران څاڅکي يکې جمع شي. کله چې زما مور د دې ستونزې په هکله زما له ورور محمود سره مشوره وکړه او د دې لګښت يې معلوم کړ نو په بامونو يې د پلاستيک د اچولو پريکړه وکړه. محمود پلاستيک، د لرګي ټکړې او ميخونه واخيستل او له يوه ګاونډي نه يې څټک او زينه راواخيستله او زما دوو ورونو حسن او محمد هم ورسره همکار شول. په بام باندې د پلاستيک اچول زموږ په ژوند کې يو عجيبه بدلون ؤ په ځانګړې توګه په ژمي کې، او موږ د اوبو له څڅيدو او په لوښو کې يې د غورځيدو له غږونو خلاص شو او خوب مو ارام شو.

کله چې زه دريم ټولګي ته ورسيدم نو عموماً به داسې کيدل چې د مؤسسې د کلينيک ډاکټر به مکتب ته راغی او صنفونه به يې له نظر تيرول او د شاګردانو د صحت معاينه به يې کوله او څوک به چې څرګند د غذائي قلت او کمزوري سره مخ ؤ د هغه نوم به يې له ځان سره نوټ کړ او څو ورځې وروسته به هغه شاګر ته يو کارډ ورکړل شو چې په هغه سره به يې په کمپ کې د مؤسسې په روغتيايي مرکز کې په ورځ کې يو ځل خوراک کولی شوای. دا ځل ډاکټر راغی او کله چې زموږ ټولګي ته راغی نو له ما څخه يې د نوم پوښتنه وکړه او زما نوم يې نوټ کړ نو زه پوه شوم چې څو ورځې وروسته به ماته هم د خوراک کارډ راکړل شي. کله چې ماته هغه کارډ راکړل شو نو زه له خوښۍ نه په جامو کې نه ځايدم. ما کارډ واخيست او کور ته واپس راغلم او خپلو ورونو او خور ته مې زيری ورکړ. فاطمه ډيره غصه شوه او له ما څخه يې د کارډ د اخيستلو کوښښ کاوه او چيغې يې وهلې چې موږ غريبان نه يو! ما د کومک لپاره خپلې مور ته اواز کړ او هغې فاطمه ځان.ته وغوښتله او هغه يې پوه کړله چې په کارډ اخيستلو کې هيڅ عيب نشته، موږ مهاجرين يو او دا طبعي خبره ده چې په هلکانو کې يو څوک د خوراک کارډ واخلي. موږ هسې هم د موسسې په سيوري کې ژوند کوو. کور د مؤسسې دی، ښوونځی د مؤسسې دی، د روغتيا خدمات مؤسسه وړاندې کوي.

کله چې د خلکو کورونه وران شول نو دوباره چا اباد کړل؟ خو همدې مؤسسې اباد کړل. په دې خبرو فاطمه غلې شوه خو دا کار د هغې د خوښې خلاف ؤ او قناعت يې ونکړ.

هره ورځ به د ټولګيو د رخصت کيدو وروسته په سلګونو هلکانو او انجونو د خوراکي مرکز په خوا منډې وهلې، موږ به په يو اوږد کتار کې ودريدو او د ننوتلو لپاره به مو يو بل ټيل وهل، مداخلت او جنګونه کول خو د خوراک مرکز ته په ننوتلو سره بايد موږ خاموش پاتې شوي وای ځکه د خوراکي مرکز مشر به د څوکۍ شاته ناست ؤ او له هر شاګرد نه به يې کارډ اخيسته، په هغه به يې د نن ورځې تاريخ درج کړ. بيرته به يې ورکړ او يوه وړوکې ډوډۍ به يې ورکړه، بيا به يو بل کارمند موږ ته يو قاب راکړ چې په هغه کې به درې څلور قسمه مختلف خوراکونه په شمول د ميوې او پيرني موجود ول، موږ به دا خوراک له ځان سره دهليز ته يوړ چې هلته به په ميزونو او څوکيو کيناستلو تر څو دا خوندور خوراک وخورو او بيا به مو تش قابونه د هغه پخلنځي له کړکۍ نه ور غورځول تر څو يې هغوی ومينځې او موږ به بهر راووتلو. بهر له دروازې سره به يو کارمند يا کارمنده ولاړه وه او دا به يې کتل چې څوک له ځان سره په پټه خوراک بهر نکړي ځکه دا خوراک به فقط زموږ لپاره د روغتيا په اساس خاص کړلی شوی ؤ او که له چا سره به ونيول شو نو د هغه خوراک به يې په کثافات داني کې وغورځاوه تر څو هغه ووينې چې خپل خوراک بايد په مرکز کې د ننه وکړي.

زما د تره زوی ابراهيم زما تر ټولو نږدې ملګری ؤ او موږ به ټول وخت يو ځای وو. يوه ورځ د سې شنبې په ورځ موږ لوظ وکړ چې زه به د هغه لپاره په نيمه ډوډۍ کې کوفته راوړم ځکه د سې شنبې ورځ د کوفتې لپاره خاص شوې وه. ما له ځان سره د نائلون يوه کوچنۍ خلته يوړه. زه په ميز ناست وم او ابراهيم له دروازې سره زما انتظاره کاوه. ما په ارام او احتياط سره خپله نيمه کوفته د نيمې ډوډۍ په حصه کې وپيچله او په خلته کې مې واچوله او بيا مې هغه د خپل پتلون

په جیب کې واچوله او باقي خوراک مې وخوړ او په خپل پتلون مې یو نظر تېر کړ تر څو د تالاشي په وخت کې څه شی پکې ښکاره نشي. ما د خوراک قاب له کړکۍ نه وغورځاوه او د یو مؤدب هلک په شان په دروازه کې د تالاشي لپاره محترمې عائشې ته ودریدم او خپل لاسونه مې پورته کړل او هغې هم په بیړه زما تالاشي واخیستله او زه بهر شوم. زه د ابراهیم په لټون کې یو طرف او بل طرف ته ګرځیدم او له پتلون څخه د نیمې ډوډۍ په راویاسلو لګیا شوم.
څنګه چې ډوډۍ زما لاس ته راغله نو ما ولیدل چې تقریباً د دیرشو هلکانو یوه ډله چې د نړدې سیمې وو او مور به دوی «هیکسوس» بلل؛ زما خواته منډې راوهلې او له ما څخه یې د ډوډۍ اخیستلو کوښښ کاوه. ما په خپل ټول توان سره منډه شروع کړه او له ډیرې منډې وهلو نه وروسته پوه شوم چې له دوی نه لیرې راغلی یم او شاته مې وکتل تر څو ډاډه شم چې دوی درېدلي دي او که بیرته تللي دي خو کله چې ما شاته وکتل نو یو چا لویه ډبره زما په سترګه راوویشتله او زما په سترګو تیاره راغله او نیمه ډوډۍ له ما څخه په خاورو کې وغورځیدله. ما د ډوډۍ د راخیستلو کوښښ ونکړ خو خپل کارډ مې مضبوط ونیو او د مورې مورې په نعرو وهلو سره مې د کور په طرف منډه شروع کړه. له ډیرې فاصلې قطع کولو نه پس په سترګو مې د لاسونو کیښودلو سره کور ته ورسیدم. مور مې چیغې کړې او زما له سترګو نه یې لاسونه لیرې کړل او په چیغو کې یې وویل: افسوس د هلک سترګه لاړه.
هغې خپل ټیکری راواخیست او زه به یې کله په غیږ او کله له لاسه نیولی د کلینیک په خوا په منډه روان کړم، له سخت تکلیف او مشقت نه وروسته موږ کلینیک ته ورسیدو او د سترګو د علاج په خونه کې داخل شو او هلته یوه تکړه نرسه موجوده وه. هغې زما له مور نه د کلینیک کارډ (راشن کارډ) وغوښت چې د هغه کارډ له ښودلو پرته د هیڅا درملنه نه کیده خو زما د مور د خوف او بیړې له امله هغه کارډ هیر شوی ؤ او نرسې ته یې ډیرې زارۍ وکړې خو هیڅ فائده یې

ونګړه او ورته يې وويل چې راشن کارډ راوړه او د هغه نه بغير د هلک علاج نه کيږي. زما مور زه د سترګو د کلينيک مخې ته د لرګي په څوکۍ کينولم او د کارډ راوړلو لپاره په منډه روانه شوه تر څو د کلينيک له بنديدلو مخکې بيرته راورسيږي.

کله چې نرسه پوه شوه چې زما مور يقيني د کارډ راوړلو لپاره ولاړه نو زه يې ځان ته وغوښتلم او په څوکۍ يې کينولم او زما د سترګو معاينه يې شروع کړه. هغې زما په سترګه پټۍ کيښوده او هغه يې پټه کړه، زه د خپلې مور راتګ ته منتظر شوم. زما مور بيرته راغله ،ساه يې بنده بنده کيدله او د اوږدې فاصلې د قطع کولو له امله ستړې شوې وه، هغې د راجستريشن ټول مراحل خلاص کړل او له نرسې نه يې زما د سترګې په اړه اطمينان ترلاسه کړ چې سترګه يې روغه ده او بيا زما مور زما په سر د مينې لاس راتېر کړ او مونږ کور ته راغلو.

په دې وخت کې زما او زما د مور موضوع فقط دا نه وه چې زما سترګې ضربه خوړلې وه بلکې موضوع دا وه چې زما خور فاطمې د دې فرصت نه په استفادې زما د خوراک کارډ خيرې کړ او ماته يې دومره زور راکړ لکه زما دوهمه سترګه يې چې څيرې کړې وي ځکه هغې زه له خوراک نه محروم کړم. زمونږ اقتصادي حالت په دې ورځو کې ګزاره حال ؤ، ځينې خلک له مونږ نه په اقتصادي لحاظ ښه وو ځکه د هغوی د کورنيو مشرانو په اشغال شويو ځمکو کې مزدوري کوله او ځينې خلک له مونږ نه هم شاته وو لکه زمونږ د ګاونډۍ ام العبد کورنۍ، هغه د څلورو زامنو او دريو لوڼو مور وه او د ګټې وټې يې هيڅوک هم نه وو د هغې خاوند په ۱۹٦۷ کې شهيد شوی ؤ او خپل بچيان او ښځه يې د غوښې ټکړې (يک تنها) پريښودل.

د ملګرو ملتونو مرستندويه مؤسسې د ژوند په اکثرو برخو احاطه کړې وه خو بيا هم ځينې کورنۍ داسې هم وې چې هغوی مالي ملاتړ ته ضرورت درلود چې مؤسسې نه شو ورکولی. ام العبد د خپلې کورنۍ د ضرورياتو رفع کولو لپاره هره

جائزه طریقه کاروله، د هغې زوی به د هرې هفتې په ورځ له خالي بوجیو سره د ۱۹۴۸ سیمې حدود ته تلو چیرته چې د یهودو د کلیو کثافات اچول کیدل. له هغه ځایه به یې زړې چپلکې، مستعمل قوطي، د بیر خالي بوتلونه او هر هغه شی چې د خرڅولو یا استعمال وړ ؤ هغه به یې راټول کړل او په بوجیو کې به یې کور ته راوړل.

د هغه مور به دا بوتلونه په ښه طریقه ومینځل او په یوه میرمن به یې خرڅول او هغې به د کلینیک مخې ته خرڅول، خلکو به اخیستل او له کلینیک نه اخیستل شوې دوایانې به یې پکې اچولې او هغې به چپلکې جوړه جوړه کړې او بیا به یې په بازار کې خرڅولې او همدارنګه به هر سهار د خوراک د ویش ځای ته ولاړه او له هغو ښځو نه به یې شیدې اخیستلې چې هغوی به نه کارولې او له دې شیدو څخه به یې جمید (نیمې سختې مستې) جوړولې او د ښوونځي په دروازه کې به یې په ماشومانو خرڅولې . که له ماشومانو سره به روپۍ نه وې نو د ډوډۍ د ټکرو په مقابل کې به یې پرې خرڅولې. هغې به له دغې ډوډۍ نه یو څه د کورنۍ د ضرورت لپاره کیښودې او اضافه ډوډۍ به یې خرڅوله تر څو لږ روپۍ جمع کړي او د خپلو ماشومانو اړتیاوې پرې رفع کړي، هغه له خپل نصیب نه خوشحاله وه او د سر په بیعه یې د خپلو ماشومانو پالنه کوله.

زما د ورور محمود د قاهرې پوهنتون د انجنیري په پوهنځي کې داخله وشوه او مور له معمول سره سم بیا جشن جوړ کړ، شور ماشور مو جوړ کړ. په محمود مو د سوکانو، لغتو او چیچلو سره حمله وکړه، زموږ مور د هغه لپاره د حُلبې حلوا تیاره کړه او مبارکیانې یې ترلاسه کړې. محمود مصر ته د تګ چمتوالی شروع کړ، د سبزي د دوکان ساتل هم ضروري ؤ ځکه د هغه له لارې د کلونو تعلیم لګښت پوره کیدای شوای نو ځکه به هغه د ښوونځي او درس د وختونو مطابق د دوکان انتظام کاوه او دا سلسله د محمود مصر ته د تګ تر ورځې پورې روانه وه ځکه هغه مصر ته د تګ تر ورځې پورې په خپل کاروبار کې مشغول ؤ. زه

مجبور وم چې په فابریکه کې له خپل ورور محمد سره د صفايي او ترتیب په کارونو کې خپل نوبت تېر کړم. مصر ته له تګ مخکې زموږ مور د محمود لپاره خوندور شیان تیار کړل چې هغه یې له ځان سره یوسي، د هغه لپاره یې د زیتون تیل، چای، وچه ملوخیه، وچې بینډۍ او داسې نور شیان چمتو کړل. هغه خپلې جمع کړې روپۍ په مصري پاونډونو بدلې کړې او محمود دغه روپۍ یو خیاط ته یوړې چې د پتلون لاندې په یو جیب کې یې واچولې او هغه ځای یې وګنډلو تر څو محمود په مصر کې خپل لګښتونه ترې پوره کړي ځکه د یهودو د ګمرک کارمندانو به روپۍ ضبط کولې او مسافر به یې مصر ته له تګ نه راګرځول.

محمود د سره صلیب دفتر ته څو ځله ورغی چې د اشغالګرو او مصري چارواکو تر منځ یې د محصلینو له غزې څخه مصر ته د تګ راتګ عمل منظم کاوه، تر دې پورې چې هغه ته د خپل تګ نیټه معلومه شوه. هغه مجبور ؤ چې د نورو محصلینو په څېر په سرایا کې د استخباراتو شعبې ته ورشي، هلته یې له هغه نه تحقیق وکړ او له مقاومت سره د کار کولو په اړه یې خبردار کړ او څومره یې چې کوښښ وو هغه یې وکړ چې یو څوک له ځان سره وګماري. مصر ته له تګ یوه شپه مخکې موږ تر ډیره پورې ویښ پاتې وو ځکه محمود له موږ نه رخصت کیده او تقریباً تر یو کال پورې به له موږ نه لیرې پاتې وي، دا شپه د خندا، ژړا، خوښې او غم یو عجیبه ترکیب ؤ ، په ځانګړې توګه دا شپه زما د مور د لارښوونو او حکمونو نه ډکه وه.

سهار موږ وختي پاڅیدو، زما مور دوه لوی مستعمل بکسونه تیار کړل چې محمود اخیستي وو او په هغو کې یې خپل ټول سامان ایښی وو، زما ورور حسن یو بکس واخیست او د تره زوی حسن بل بکس واخیست او زما مور د خدای پاماني لپاره ورسره بهر ووتله او موږ د کوڅې تر څنډې پورې ورسره ولاړو او له خفه زړونو سره واپس راغلو ځکه موږ اوس ډیر پوهیدلي وو چې د خپلوانو جدایي څه معنی لري؟

هغه یې د سور صلیب تر دفتر پورې ورساوه چیرته چې ډیر خلک د خپلو زامنو سره د خدای پاماني لپاره راغلي ول، محصلینو په بسونو کې انتظاره کاوه او والدینو به د دوی مخې ته له لیرې څخه لاسونه ورته ښورول، بیا بسونه روان شول او والدینو لاسونه ورته ښورول تر دې پورې چې بسونه له سترګو پنا شول. د محمود له سفر څو ورځې وروسته زموږ یوه ګاونډۍ راغله او ګیله یې وکړه چې زما د تره زوی حسن د هغې لونې تنګوي، زما مور له شرمه تکه سره شوه او وعده یې ورسره وکړه چې دا ستونزه به حل کوي. زما نیکه د مریضي او سپین ږیروالي له امله په بستره پروت ؤ او محمود مصر ته تللی ؤ او په کور کې فقط له حسن نه کوچني ماشومان پاتې ول چې د هغوی کنټرولول ستونزمن وو نو ځکه زما مور د حیلې او د هغه د قانع کولو سوچ وکړ.
کله چې ماښام شو نو هغې حسن راوغوښت او هغه ته یې وویل: زما خوږه! د ګاونډي حق، د خپل شهید پلار عزت، د کورنۍ عزت، زموږ عزت او شهرت... په اخره کې حسن وعده وکړه چې هغه به کلیوالو انجونو ته نږدې هم نه ورځي. مور مې ترې وپوښتل: آیا وعده ده؟ حسن وویل: وعده ده.
څو ورځې وروسته ګاونډۍ په لړزیدا بیرته راغله او کور ته په چیغو راننوتله: ای د محمود مورې! دا هلک په نبي علیه السلام درود نه وایي، هغه انجلۍ په سړک کې ونیوله او لاس یې پرې واچاوه، زما مور له غصې نه تکه سره شوه او هغې ته یې د تسلي ورکولو کوښښ کاوه او هغه یې کور ته د ننه راوستله او ورته یې وویل: ای ام العبد! ته پوهیږې چې نه ستا په کور کې او نه زما په کور کې سړي شته چې هغه مهار کړي. الله پوهیږي چې ستا لونې زما د لونو په څېر دي. راځه فکر وکړو چې دا هلک څنګه لارې ته راولو. موږ کیناستلو او زما مور وړاندیز وکړ چې هغه به د خوب پر وخت وتړو او زه او نور هلکان به هغه ووهو او که بیا یې داسې حرکت وکړ نو له فدایانو به مرسته وغواړو او د هغه لاسونه او پښې به مات کړو.

زما مور رسۍ او لښته تیار کیښودل ، کله چې حسن کور ته راغی او له ډوډۍ خوړلو نه وروسته ویده شو او زما مور، زما وروړ حسن او محمد د هغه له ویده کیدلو نه مطمئن شول نو زما مور په ارام سره د هغه لاسونه او پښې وتړل، بیا یې زموږ نیکه راپورته کړ او د حسن د ناوړه عمل نه یې خبر کړ. هغه په لړزیدلې لهجه وویل: الله دې مخ تور کړه حسنه، مخ دې تور شه. هغه ووهئ، لاسونه او پښې یې ور مات کړئ. حسن چې کله بیدار شو او خپل لاسونه او پښې یې تړلې ولیدل نو اخطارونه یې شروع کړل خو ټولو سخت وواهه او مور مې په دې پوه کړ چې دا هر څه یې په کور د ننه کړي دي تر څو بدنامي جوړه نشي او که بیا یې «سعاد» په عذاب کړه نو فدایانو ته به ووایې او پښې او لاسونه به درته مات کړي او بیا یې هغه تر سهار پورې تړلی پریښود او په سهار یې زما د تره زوی ابراهیم ته وویل چې هغه پرانیزي.

ابراهیم ډیر نېک، مطیع، ذهین او په سبق کې محنتي هلک ؤ. هغه ولاړ او له خپل ورو نه یې رسۍ پرانیزلې نو حسن هغه هم وواهه او اخطارونه یې ورکړل او بیا زموږ د کوټې په طرف را روان شو تر څو زما مور وګواښي خو مور مې پرې چیغه کړه: څغله! ته فکر کوې چې ما به وګواښې؟ ته یو بې کاره انسان یې او بې کاره انسان څوک نشي ګواښلی او ته به نه سړی جوړ شې او نه به نارینه جوړ شې. حسن په غصه کې زما د مور په خوا روان شو او هغې ته یې دیکه ورکړه او هغه په څمکه پریوته. موږ ټولو هلکانو او انجونو په حسن حمله وکړه او لاندې مو په څمکه وویشت او د هغه په وهلو ډبولو. ویښتانو نیولو او چیچلو موې شروع وکړه، حسن لغتې وهلې، کنځلې او تهدیدونه یې کول او په هم دې حالت کې مو له کور نه وویست. هغه په خپله مخه ولاړ او بیا رانغی او کله چې موږ د هغه پوښتنه وکړه نو معلومه شوه چې هغه د ۱۹۴۸ کال اشغال شویو (د اسرائیلو) سیمو ته تللی او هلته کار کوي او د سبق نه ویلو پریکړه یې کړې ده.

د نیکه طبیعت خراب شو او خپل روح یې حقیقي مالک ته وسپاره او موږ هغه له اوښکو او ژړا سره رخصت کړ. الله تعالی دې په هغه باندې خپل رحمتونه نازل کړي او په جنت کې یې په اعلی مقامونو ونازوي. نیکه مو په داسې حالت کې وفات شو چې هغه ته زموږ د پلار په هکله معلومات ونشو چې له پنځو کلونو راهیسې غائب ؤ او خپل لمسی یې هم ونه لیده چې له غزې نه وتښتید او په اسرائیلو کې یې کار شروع کړ او نه هم محمود له هغه سره ؤ خو موږ خپل مسؤلیت ادا کړ او گاونډیانو له موږ سره مرسته وکړه، د مهاجرینو کمپ په غم او ښادی کې د یوې کورنۍ په څېر وي.

اتم څپرکی

هر سهار به اووه بجې د کمپ په سلگونو هلکان او انجونې ښوونځي ته تلل. له اووه کلنو نیولې (چې هغوی به په لومړي ټولگې کې زده کړې کولې) تر اتلس کلنو ځوانانو پورې چې هغوی به په لیسه کې زده کړې کولې؛ ټول به زده کړو ته تلل. د هلکانو ډله به وروسته وه او د انجونو ډله به ورپسې روانه وه او دا سلسله به هره ورځ روانه وه. د کمپ اکثره هلکانو او انجونو د مینې او عشق اړیکو په جوړولو کې رغبت نه درلود ځکه د کمپ او کلیو د اصولو له مخې کلیوالو انجونو سره باید د خویندو په شان چلند وشي. زما مور به همیشه زما وروڼه او خویندې له مخالف جنس سره د هر قسم اړیکو په هکله خبردار ساتل، هغې به اکثر زما وروڼه د گاونډیانو انجونو طرفته د کتلو او له هغوی سره د خبرو کولو نه منع کول او موږ به یې اگاه کولو چې د نورو په عزت باندې د لاس اچولو نه ځانونه وساتو ځکه که موږ داسې وکړو نو زموږ په عزت به هم یو څوک لاس واچوي اگر که څوک ځان څومره عقلل مند هم وگڼي. او دا په موږ بندیز وو چې موږ باید دا سوچ هم ونکړو چې موږ هغه څه وکړو چې نور هلکان یې کوي، یعنی هغوی به د سپوږمۍ په شان انجونو ته د سړک په سر ودریدل چې کله به هغوی ښوونځي ته تللې.

په دوی کې ځینې ځوانان داسې وو چې فقط به د سړک په سر د انجونو د لیدلو لپاره ودریدل او ځینې به د یو څو الفاظو لپاره لاره نیولې وه مثلاً: «چیرته ځې ښکلې؟» او یا «موږ ته هم ګوره» او «لويي يوازې له الله سره ښايي» او ځینې خلک به هلته د خپلې خوښې انجونو لپاره دریدل چې له هغوی سره به یې مینه کوله او په خپلو زړونو کې به یې له هغوی سره د مینې یقین درلود او دا ارزو به یې درلوده چې له هغې سره په اړیکو کې پرمختګ راشي او هغه انجلۍ یو نظر ورته وګوري تر څو زړه یې له خوښي نه ډک شي او دا هیله به یې درلوده چې هغه انجلۍ دده یو خط قبول کړي چې د زړه له کومې یې ورته لیکلی دی. هو! د کمپ خلک د نورو خلکو په خبر ول چې په ظاهره د مشکلاتو او ستونزوه سره سره عشق او محبت کوي او د نورو خلکو په خبر ژوند تیروي خو دا خبره یقیني وه چې رواياتو او عاداتو ته د اعتقاد کچه لوړه وه او همسايه انجونو ته نږدې ورتګ د دې رواياتو مخالف ګڼل؛ د محبت او عشق اظهار پاک وساته او اکثرو عاشاقانو به د مینې احساسات په زړونو کې پټ ساتل بغير له کله کله د محبت نه د ډک نظرونو يا له ليرې څخه د عقيدت او شوق نه او يا د کومې کورنۍ له واضح کومک نه چې د کورنۍ خلک به يې په دې تحقيق مجبور کړل چې د دې خدمت او د ګټو ساتنې تر شا څه علت دی؟
خو د کمپ ځینې ځوانانو د دې اصولو د ماتولو جرائت کړی وو نو دوی ځان ته د خطونو لیږلو او یو بل سره د شریکولو جواز ورکړی ؤ او مکتب ته د تګ او راتګ په وخت کې به یې ملاقاتونه کول اګر که په ظاهره به د یو بل تر شا روان ول او کله کله به یې یوه نیمه خبره هم سره تبادله کوله ګویا که دوی له خپلو ملګرو سره خبرې کوي. او ځینو انجونو به د خپلې کوټې کړکۍ په یو خاص وخت کې خلاصولې چې په هغه وخت کې به د هغې عاشق د دې له زړه سره نږدې تیریده او هغې به په دې وخت کې یو خط ور ګزار کړ. ځینې انجونې د خپلو پلرونو او ورونو له خوا ووهل شوې چې کله به له هلکانو سره د خطونو د

تبادلې په وخت ونيول شوې. خو دا کيسې له جنګ نه وروسته په لومړنيو حالاتو کې ډيرې کمې وې.

بل طرفته د هغو مزدورانو شمېر په تدريجي ډول سره ډيريده چې سهار به يې د ۱۹۴۸ په اشغال شويو سيمو کې مزدوري کوله او له دې سره سره نور ظواهر هم په زياتيدو شول. سړي به سهار وختي ووتل او له هر يو سره به يوه کڅوړه وه چې په هغې کې به يې د ورځې خوراک له ځان سره يوړو، او له اوږده مزل وروسته به د مزدورانو تم ځای ته ورسيدل. هلته به په ډير شمېر کې موټر، ټرکونه او بسونه ولاړ وو، دا موټر، يافا ته ځي، دا اشدود ته ځي، دا تل ابيب ته ځي او داسې نور... او هر چلونکي به مسافر د خپل منزل په خوا دعوت کول او مزدوران به تر شا پسې روان شول او هغه موټر ته به وختل چې دوی به يې خپل ځای ته رسول. د فلافلو (يو مصري خوراک دی)، چنو او مشروباتو خرڅوونکو د مزدورانو لوی شمېر د خپل کاروبار لپاره يو مناسب هدف او نفع مند بازار وموند، مزدوران به چې کله د موټرو په لخوا روان شول نو له جيب نه به يې يو څو روپۍ راوويستلې او فلافل به يې واخيستل او هغه به يې په بيړه وخوړل او با به يې خپلې کڅوړې ته واچول او په موټر کې به کيناست او خپل هغه خوب به يې پوره کړ چې د يو دوه ساعتونو لپاره يې پريښی ؤ تر دې پورې چې دوی به د کار ځای ته او خپل اشغال شوي وطن ته ورسيدل.

دغو مزدورانو به هر هغه سخت او مسلکي کار کولو چې يهودو به په ډير فخر سره ترې انکار کاوه لکه زراعت، تعميرات، صفايي وغيره. هلته به يهودي مالک (معلم) د دوی لپاره ولاړ ؤ، دوی ته به يې احکام ورکول او د دوی د کار نظارت به يې کاوه. د سهار لس بجې به هغوی ته نيم ساعت وقفه ورکول کيده چې په دې وخت کې به دوی خپله ناشته او يا د غرمې دوډۍ خوړله او که د چای پخولو موقع به وه نو چای به يې هم څښلو. بيا به دوی د کار لپاره پورته شول او د ماذديګر درې يا څلور بجې به يې کار ختم کړ او د موټرو لټون به يې کاوه تر

ځو دوی غزې یا لویدیځې غاړې ته ورسوي، د بیرته راتګ په لاره کې به دوی خوب کاوه او خپلو کورونو ته به په داسې حال کې ورسیدل چې کارونو به ستړي کړي ول.

د جمعې په ورځ به دوی د ماسپښین تر دوو بجو پورې کار کاوه ځکه یهودي مالکانو به د هفتې ورځې لپاره چمتوالی نیوه چې د دوی په اونۍ کې د رخصتي ورځ ده. په دوی کې به ځینو مزدورانو روزانه کار کاوه او د ورځې په اخر کې به يې خپله مزدوري وصول کړه او راتلونکې ورځ به بیا د مزدورانو په ځای کې راټولیدل. د یهودو مالکان او قراردادیان به په خپلو موټرو کې راتلل او هغه مزدوران به یې لټول چې د دوی د کار لپاره به مناسب ؤ. ځینو مزدورانو به د یوې اونۍ، یا د میاشتې او ځینو به دائمي مزدوري کوله.

د مزدورانو او یهودي مالکانو په مابین کې اړیکې پراخې شوې او د دوی د روزانه ستړیا له امله مالکانو د خپلو مزدورانو لپاره د اونۍ اوسیدو ځایونو لټون پیل کړ نو له دې وروسته به مزدوران د یک شنبې په سهار ووتل او د جمعې تر ماسپښین پورې به يې کار کاوه او بیا به کور ته راغلل. د دوی په جیبونو کې به روپۍ او په کڅوړو کې به يې له اسرائیلو نه راوړي شیان ول. ځینو مزدورانو په قفیلیه یا طول الکرم کې کورونه په کرایه ونیول تر ځو اشغال شویو سیمو ته نږدې وي او ځینې مزدوران به په یو کور یا یوه کوټه کې یوه اونۍ یا کله کله یوه میاشت هم اوسیدل تر ځو د سفر کرایه وسپموي او د روزانه سفر له ستړیا خلاص شي. په اشغال شویو سیمو کې به فلسطیني مزدوران له یوې نوې دنیا سره مخ شول چې د هغوی عادات، روایات او ارزښتونه زموږ له ټولنې نه مختلف ول. په دوی کې به اکثره مزدوران له دې کارونو څخه نه متاثره کیدل بلکې هغوی ته به يې په سپک نظر کتل خو ځینې ځوانان له دې کارونو نه متاثره شول، چا شراب څښل پیل کړل، چا د زناکارو ښځو ځایونو او ګډا محفلونو ته ورتګ شروع کړ او په نادرو حالاتو کې به ځینو مزدورانو له یهودي انجونو سره

ملاقاتونه کول، له هغوی سره به یې مینه کوله او د هغې ټولنې له عاداتو سره سم به له هغې سره اوسیدل.

د مزدورانو په تګ راتګ کې د زیادت له امله د موټرو ضرورت زیات شو چې له امله یې نویو موټروانانو ته فرصت پیدا شو، ځینو مزدورانو خپل موټر واخیستل او له ځان سره به یې نور کلیوال مزدوران هم وړل چې هغوی به هم کرایه ورکوله او په همدې ډول دوی د سهار په وخت له پیاده تګ اوماښام واپس راتګ نه خلاص شول. پیجو موټران هم په سیمه کې داخلیدل شروع شول او د موټرو په تګ راتګ کې اضافه وشوه. داسې به هم لیدل کیدل چې ځینو مزدورانو به په خپل موټر کې څوکۍ او نور سامان الات هم راوړل چې د هغوی یهودي مالکانو به د نویو سامانونو په راوړلو سره له کوره وباسلي وو. دغو مزدورانو به دا سامانونه د خپل کور د ژوند ښه کولو لپاره راوړل او یا به یې خپلو دوستانو او خپلوانو ته په تحفه کې ورکول او یا به یې په مارکیټ کې خرڅول.

یهودي تجارانو الخلیل ښار او نورو نږدې سیمو لکه طول الکرم او قفیلیه ته راتګ شروع کړ او هلته به یې د خپل اړتیا وړ توکي اخیستل. ځینو تجارانو به د ورکشاپونو، خیاطانو او ترکاڼانو سره قراردادونه کول چې دوی ته سل دروازې، کړکۍ او داسې نور شیان تیار کړي ځکه دلته به د اسرائیلي فابریکو په نسبت ارزانه تمامیدل.او بیا به فلسطیني کاروباریانو د دې قیمت لوړ کړ او زیاته ګټه به یې کوله او زیاتو خلکو ته به یې د کاروبار زمینه برابروله.

د حالاتو د ښه کیدو سره سره مقاومت روان ؤ دا مقاومت به کله کم او کله زیات شو ځکه مقاومت فقط له اقتصادي حالت سره نه ؤ تړلی بلکې له ملي تړاو او احساس سره تړلی ؤ. که څه هم غریبي به دا احساس نور هم تېز کړ او د مقاومت فعالیتونه به روان وو. کله به یو ځای بم الوتی ؤ کله به د ډزو پیښه وشوه،کله به دلته ګرځبندیز ولګید او کله به هلته څوک ونیول شو، تحقیقات به کیدل او

خلک به په ساعتونو ساعتونو ایساریدل او کله به کوم جاسوس ونیول او یا ووژل شو.

د یهودي دولت د ننه د زرګونو مزدورانو داخلیدلو مقاومت کوونکو ته موقع په لاس ورکړه تر څو د ۱۹۴۸ په اشغال شویو سیمو کې لوی عملیات ترسره کړي.
عبدالحفیظ چې زموږ د ګاونډی ام العبد زوی ؤ، خپله مور یې قانع کړه چې د خپلو ورونو د آینده لپاره زده کړې پریږدي او کار شروع کړي تر څو یې ورونه تعلیم جاري وساتي او مور یې له سختو کارونو خلاصه شي، له ډیرو کوښښونو وروسته د هغه مور رضا شوه او عبدالحفیظ د نورو خلکو په شان په اسرائیلو کې کار شروع کړ او څو میاشتې وروسته هغه د خپل کور لپاره مناسبه دروازه او د ټیم د څادر په اخیستلو بریالي شو او د خپل کور ځمکه یې هم په کانګریټو سره هواره کړله.

خو څه موده وروسته ټولو خلکو ته معلومه شوه چې د عبدالحفیظ مقصد فقط د خپل ژوند جوړول او د ورونو تعلیم نه ؤ. تقریباً دوه کاله وروسته خلکو ته معلومه شوه چې عبدالحفیظ په ملي محاذ کې شامل شوی ؤ او مقصد یې په اسرائیلو کې فدایي عملیات ول. څو میاشتې وروسته چې کله به د کار وقفه شوه نو هغه به په خپله کڅوړه کې پټ کړی بم یافا مقام ته یوړ او په کوم بس، هوټل، یا نائټ کلب کې به یې کیښود او له کار خلاصیدو وروسته به کور ته راغی او هلته به بم وچاوده او ډیر خلک به پکې مړه او ټپیان شول.

عبدالحفیظ په دې حالاتو کې دوه کاله دوام وکړ او هغه به په ډیره ځیرکتیا او احتیاط سره کارونه کول. هغه څو کامیاب عملیات وکړل خو د شین بیټ د جاسوسانو تحقیقاتو په ده باندې شک پیدا کړ. یوه شپه د اشغالګرو په لوی شمېر کې عسکرو د هغوی په کلي چاپه واچوله . د هغه کور یې محاصره کړ او هغه یې ونیوه. د تحقیقاتو په مهال هغه د سخت تعذیب. شکنجې او اذیت سره مخ شو خو هغه یو جرم هم نه منلو او بالاخره اسرائیلو دده یو ملګری ونیوه او

هغه اقرار وکړ چې عبدالحفیظ په «جبهة الشیعیة» کې فعال دی او کله یې چې له عبدالحفیظ سره مخ کړ نو هغه هم فقط همدومره جرم ومانه او هغه ته د یو نیم کال قید سزا ورکړل شوه.

یادونه: شین بیټ (shinbet) لکه څنګه چې د اسرائیلو عمومي امنیتي څانګه ده چې هغې ته (general security service) یا GSS وایي. په اسرائیلو کې د داخلي امنیت او تروریزم ضد ادارې هم کار کاوه چې د شین بیټ په نامه یادیدله. د دې ادارې کار د اسرائیلو داخلي امنیت تامینول، د تروریزم مخنیوی او د جاسوسانو پر ضد اقدام کول وو.

... کله چې د تعلیمي کال په اخر کې د اوړي د رخصتیو له امله زما د ورور محمود بیرته راتګ نږدې شو نو مور به د سور صلیب دفتر ته ورتلو تر څو معلومه کړو چې د مصري پوهنتونونو محصلین کله راځي او یا به مو د اعلاناتو تختې کتلې چې په هغو باندې به یې د واپس راتلونکو ګروپونو نومونه او د راتګ تاریخونه لیکلي ول. په کومه ورځ چې محمود واپس راتلو په هغه ورځ مور د پاسپورټ د دفتر مخې ته منتظر وو، هلته به محصلین په بسونو کې راتلل چې له هغوی سره به فوځي جیپونه هم ول، هغوی به د پاسپورټ په دفتر کې ښکته شول او په انتظار خونه کې به کیناستل چې د هغوی د کورنۍ غړي به هلته د ملاقات لپاره ورته لیواله وو، هغوی به یې ښکلول. په غیږ کې یې نیول او بیا به کورونو ته تلل.

مور به هر کال محمود ته همالته منتظر ناست وو . هغه بیرون راغی او مور د هغه خواته منډې کړې، هغه له مور سره په مینه روغبړ وکړ، زمور د حال پوښتنه یې وکړه او زما د مور سر او لاسونه یې ښکل کړل او زما مور به د فخر او مینې په نظر د هغه خواته کتل او په سترګو کې به یې د خوښۍ اوښکې راغلې. هغې به په خپل زوی «انجنیر محمود» باندې فخر کاوه، زمور د محدودو اسبابو سره سره زما

مور هر قسم خوراکونه تیار کړل تر څو د محمود ښه راغلاست وشي او د هغه د یوه کال محرومتیا جبران شي.

محمود زموږ لپاره د مصري محصولاتو د کتان کالي راوړي وو او موږ په هغو ورځو کې د نویو جامو په لمس او بوی وپوهیدو ځکه له دې وړاندې به موږ فقط هغه جامې اغوستلې چې موږ ته به چا په خیرات کې راکړې او یا به مو د نورو مستعملو شیانو په دوکانونو کې اخیستلې. د لومړي کال زده کړو پوره کولو نه وروسته زما مور هغه ته د انجنیر اصطلاح کاروله.

د کوڅې په یو کونج کې به ځینو ځوانانو یوه توره کمبله غوړولې وه او په هغه به بې تاش کاوه، هره ورځ له ماښام وروسته به دوی هلته کیناستل تر څو ساعت تیری وکړي ځکه د تفریح نور اسباب موجود نه ول. هغوی به خپله لوبه تر ماښام پورې کوله او کله به چې تیاره خوره شوه نو هغوی به د تاش ورقې ټولې کړې او کمبله به یې وخنډله او خپلو کورونو ته به روان شول ځکه لږه شیبه وروسته به د ګرځبندیز اعلان کیده. یوه ورځ چې هغوی هلته ناست ول شیخ احمد له هغه ځایه تیریده هغه به د شیخ احمد په نوم سره یادیده سره له دې چې هغه ځوان ؤ او هغه به د ماښام له لمانځه وروسته بیرته جومات ته راتلو. هغه به هره ورځ د سلام په کولو سره په دوی تیریده خو دا ځل هغه دوی ته راغی او ورسره کیناست. ځوانانو په حیرانتیا سره لوبه ودروله، د تاش ورقې یې ټولې کړې او د نوي راغلي شخص طرفته متوجه شول. شیخ احمد دوی ته وویل: زه یوه مهمه خبره کوم چې هغه ستاسو سره تړاو لري. د هغوی په څهرو باندې حیرانتیا څرګنده وه او هغوی وویل: مهرباني وکړه ووایه! بیا شیخ احمد د ایاتونو او احادیثو نه په حوالو ورکولو سره تفصیلي خبره وکړه، د وخت د ضایع کیدو په تاوانونو او د عبادت په اهمیت یې تاکید وکړ، د الله تعالی نعمتونه یې یاد کړل او د اخرت د نقصان او د جهنم د عذابونو څخه یې خبردار کړل او هغوی ټول یې په ډیره نرمي سره د اسلام له مستقبل سره وتړل او ویې ویل چې دا ضروري ده

چې د فلسطين بيرغ چې د معراج او اسراء ځای دی پورته شي تر څو د فلسطين ځمکه ازاده شي ، خلک نجات ومومي او کامياب شي.
ځلورو ځوانانو په خاموشي سره د شيخ خبرې اوريدلې او د هغوی لپاره لومړی ځل و چې داسې خبرې اوري. د هغوی د دين او وطن د جذبې دا عجيبه ترکيب ډير خوښ شو ځکه د فلسطين په صحنه کې به شيخ او ديندار سړی له حقيقت او ملي درد نه ناخبره ؤ او فدايي به له دين داري نه ناخبره ؤ. د هغوی په څهرو د خوښۍ او قناعت نښې څرګندې شوې، په هغوی کې يوه پوښتنه وکړه: شيخ صاحب له موږ نه ستا څه توقع ده؟ د شيخ احمد په شونډو مسکا راغله. هغه وويل: صبا ته ان شاء الله تاسو غسل وکړئ، ځانونه پاک کړئ. اودس وکړئ او بيا د اذان په اوريدو سره جومات ته راشئ او لمونځونه وکړئ. ځوانانو په رضايت سره سرونه وښورول. شيخ احمد له هر يوه سره جلا جلا خدای پاماني وکړه او روان شو. ځوانانو د تاش ورقې ټولې کړې، کمبله يې وځنډله او روان شول ځکه تياره خوره شوې وه او د ګرځبنديز وخت نږدې شوی ؤ.
د سړکونو د کيندلو له پروسې وروسته دا څرګنده شوې وه چې د اشغالګرو په کمپ باندې تسلط ډير اسانه شوی دی، او د دوی د ګزمې موټرې په اساني سره ګرځيدلی شي او په کمپ کې په کيدونکو فعاليتونو باندې نظر ساتلی شي، او بيا د هر مشکوک حرکت سيمه محاصره کولی او تالاشي کولی شي او مشکوک کسان نيولی يا وژلی شي. د ګزمې د موټرو تېز رفتار او د کمپ هرې برخې ته د ژر رسيدو صلاحيت د مقاومت او فدايانو په کارونو هم اثر غورځولی ؤ نو د يوې نوې طريقې ضرورت پيدا شو تر څو فدايانو ته ژر تر ژره د اشغالګرو د موجوديت خبر ورسيږي او دوی خپل امنيتي تدابير ونيسي. بيا داسې وشول چې چيرته به هم اشغالګر عسکر چا وليدل نو ماشومانو، انجونو، سپين ږيرو ، نارينه او زنانه وو به په لوړ غږ دا نعره کوله «بيعو» او چا به چې دا غږ واوريده نو هغه به

هم «بيعو بيعو... و اتريح منو» نعره وکړه. په هغه وخت کې يې مقصد په اشغالګرو باندې د وسلو خرخولو غوښتنه وه.

د دې نعرې پورته کول او په لوړ غږ يې ويل په لنډ وخت کې د يوې ملي نغمې شکل اختيار کړ، کله به چې هلکانو او انجونو ښوونځي ته د تګ او راتګ په مهال د اشغالګرو د ګزمې موټر ليدل نو هغوی به يوه ملي نغمه زمزمه کوله «بيعو..بيعو... و اتريح منو والصندل احسن منه»- او هغوی به دا نغمه تر هغه وخت پورې زمزمه کوله تر څو به يې چې د ګزمې موټر له سترګو نه وو پنا شوي او عسکر به نه پوهيدل چې په دې هکله څه وکړي او په يوه سرګرداني کې به واقع شول.

فدايانو به چې دا غږونه واوريدل او ددې اوازونو ځای به يې معلوم کړ نو خپل ځانونه به يې محفوظ کړل. طريقه دا وه چې ماشومانو به دا نعره تکراروله خو که ماشومان به نه وو او سړيو بايد نعره کړې وای نو هغوی به هم په لوړ اواز کې د نعرې کولو نه دريغ نه کاوه. ورځې په تېزي سره تيريدې او مور د محمود له مصر نه د راتګ ورځې شمارلې، هغه د انجنيرۍ له پوهنځي نه فارغ التحصيل کيده او مور به روزانه د سور صليب دفتر ته ورتلو او د هغه د نوم انتظار به مو کاوه او له مصر نه په راتلونکو کاروانونو کې به مو د هغه د نوم لټون کاوه. څو ورځې وروسته د واپس راتلونکو کسانو د نومونو ليست په تخته راځوړند شو او مور په دريمه قافله کې د محمود نوم وموند مور کور ته منډې کړې تر څو مور ته د انجنير محمود د راتلو زيری ورکړو.

د محمود د راتګ انتظار او چمتوالی په زور او شور سره شروع شو. تر ټولو مهمه خبره دا وه چې زما مور زما ورور حسن ته وويل چې چونه واخلي، مور د کور په منځ کې يوه کنده وکيندله او په هغه کې مو چونه او وروسته اوبه واچولې تر څو هغه يخه شي او بيا مو ټول کور په چونې سره سپين رنګ کړ چې په هغه کې لږ شين والی هم شامل ؤ. له دې نه وروسته زما مور د خوراک او څښاک چمتوالی

شروع کړ په ځانګړې توګه هغې حلوا او بسبوسة «د کیک په شان» د راتلونکو میلمنو لپاره تیار کړل.

د محمود د راتګ په ورځ موږ چمتوالی شروع کړ او هغه ته د ښه راغلاست لپاره ووتلو موږ «د پاسپورټ عمومي ریاست» مخې ته ورسیدو چې هغلته بسونه د فوځي موټرو له نظارت لاندې راغلل، موږ او په سلګونو کورنیو په بې صبري سره انتظاره کاوه. واپس راتلونکي کسان یو په بل پسې بهر راوتل تر دې پورې چې محمود هم بهر راغی، موږ په منډه د هغه خواته ورغلو او زموږ مور له موږ نه وړاندې وه، هغه موږ په غیږ کې ونیولو او له سترګو یې اوښکې رواني وې کله چې موږ مور ولیدله نو هغې هم له خوښی نه ژړل. محمود د هغې سر او لاسونه ښکل کړل او هغه ته یې د فراغت مبارکي ورکوله، محمود ورته وویل: مورې! زه بیرته راغلم او ان شاء الله نور د سختیو او غمونو دوران ختم شو. مور مې ورته وویل: الحمدلله الحمدلله.. ان شاء الله.. ان شاء الله.

کله چې موږ کور ته ورسیدو نو تقریباً ټول کلی د محمود ښه راغلاست ته د یو لوی جشن په شکل راوتلی وو، ټولو سړیو له هغه سره په غیږه ستړې مشې کوله او ښځو زما مور ته مبارکیانې ورکولې. کور ته ننوتل ستونزمن ؤ ځکه په کوځه کې ډیر ازدحام ؤ. کلیوال کور ته د مبارکی لپاره راغلل او زما مور، وروڼو او خور د میلمنو لپاره حلوا او مشروبات راوړل. خلکو به محمود ته انجنیر صاحب ویل او له هغه نه یې د مصر پوهنتون او د هغه د روغتیا پوښتنه کوله.

لمر ډوبیدو ته نږدې ؤ او تیاره په خوریدو شوه او د ګرځبندیز وخت رانږدې شو. کلیوال خپلو کورونو ته لاړل او د مبارکي کلمې به یې تکرارولې. موږ له محمود نه ګیر چاپیره کیناستلو او همدارنګه زموږ د تره کورنی هم، ځکه هغه هم اوس زموږ د کورنی برخه ګرځیدلې وه. خبرې شروع شوې، حسن به دوکان بندوي او خپلو زده کړو ته به متوجه کیږي. زه او محمد به د ماما په کوچنی فابریکه کې کار پریږدو. موږ به په کور کې یوه نوې کوټه جوړوو چې له امله به

بې د دوو کوټو بامونه هم لوړ شي او په اسبیستوس سره به چت ورکړلی شي او
مور به د کور انګړ په سیمینټو سره پخوو. دا ټولې پروژې به هلته پوره کیږي چې
کله محمود په وظیفه مقرر شي او معاش یې شروع شي.
دا څرګنده وه چې محمود به کمپ نه پریږدي او نه به د سیمې په پرېښودو سره
بیرون هیواد ته د کار لپاره لاړ شي. هغه د کور نه لیرې د تعلیم له حصول وروسته
راغلی ؤ او ډېر خوشحال و. مور د محمود د راتګ او فراغت په خوښۍ کې دوه
ورځې نورې هم تېرې کړې او مبارکې ته د راتلونکو خلکو ښه راغلاست مو
وکړ. دریمه ورځ د شپې چې کله د ګرځبندیز وخت تېر شو او مور ویده وو نو
مور د موټرو غږونه واورېدل چې یو ځل شروع او بیا تېر شول خو ناڅاپه مو په
کور کې د فوځیانو غږونه واورېدل چې هغوی په زوره سره دروازه ټکوله او مور
ته یې وویل چې انګړ ته بهر راووځو. زما مور او خویندو ژر ټیکري په سر کړل
او مور ټول بهر ووتلو. محمود مخته مخته تللو او مور ولیدل چې په درجنو
عسکر کور ته راننوتلي دي او مور ته یې ټوپکې په نښه کړې دي. زما مور په
چیغه کولو سره وویل: تاسو څه غواړئ؟ یوه افسر محمود ته په کتلو سره وویل:
ایا ته محمود یې؟ محمود ځواب ورکړ: هو! زه محمود یم. افسر وویل: مور به تا
له سرایا ته بیایو، زما مور په زوره وویل: ولې؟ هغه خو پرون له مصر نه راغلی
دی؟ افسر وویل: فقط یو څو پوښتنې ترې کوو او سهار به یې بېرته راولیږو. هغه
محمود ته وویل چې ورسره روان شي محمود د جامو بدلولو ورته وویل خو
هغوی انکار وکړ او په هغه حالت کې یې ورسره د تلو امر وکړ. کله چې زما مور
له دوی سره د بهر وتلو کوښښ وکړ نو هغوی منعه کړه او روان شول او دروازه
یې له بهر نه بنده کړله. د موټر د انجن غږونه لیرې ولاړل او په دې شپه مور
خوب ونکړ او زما مور په چیغو ژړل او په خپل قست یې لعنت ویل. فاطمې او
حسن هغې ته تسلي ورکوله چې محمود به صبا راشي ځکه افسر ویل چې فقط
یو څو پوښتنې ترې کوو خو هغې به ویل: څو پوښتنې؟ که پوښتنې یې ترې

کولی نو د ورځې به یې غوښتی وای، خبر به یې ورته رالیږلی وای او بیا به یې به
خپل قسمت ژړل: های زما قسمته، های زما قسمته، محموده تا څه وکړل؟
د سهار له ګرځبندیز ختمیدو سره هغې حسن له خان سره کړ او سرایا ته لاړه هلته
په دروازه باندې پیره دار عسکر هغه ودروله او د ننه یې د تګ اجازه نه ورکوله او
هغې به د عسکر د پوهولو کوښښ کاوه چې اخر څه شوي دي؟ زه خو فقط له
محمود سره ګورم خو هغه هیڅ نه پوهېده او همدا به یې ویل چې له دې ځایه
ولاړ شئ! حسن چې دا حالات ولیدل نو مور یې پوه کړه چې د ننه اجازه نه
راکوي او مور باید د دروازې مخې ته انتظار وکړو او هغه یې د مرکز د مخې
طرفته راوستله او هلته یې کینوله، یو ساعت تېر شو.. ورپسې دوهم ساعت تېر شو
خو محمود بهر رانغی او هغې غوښتل چې د ننه لاړه شي خو حسن به منعه کوله
او د هغې د پوهولو کوښښ یې کاوه چې د ننه اجازه نه ورکوي بلکې سپکاوی
یې کیږي. مور په کور کې د غم په حالت کې قرار درلود او د ماتم اعلان مو
کړی ؤ او مور منتظر وو چې مور او حسن به محمود له خان سره راولي خو زمونږ
انتظار اوږد شو.
د لمر ډوبید په وخت کې مور او حسن واپس راغلل او خپل قدمونه یې په خان
پسې راښکل او په مخونو یې غم خپور شوی ؤ. مور مې په داسې حالت کې وه
چې ما هیڅکله په داسې بد تر حالت کې نه وه لیدلې. د پوښتنې کولو ډیر وخت
ؤ خو مونږ د یوه لفظ ویلو جرائت هم نشو کولی او هر یو بغیر له کوم غږ نه په
خپله بستره څملاستو. حسن له مور سره کیناست او تسلي یې ورکوله او هغې ته
یې وویل: زه به صباته یو وکیل ته ورشم تر څو د محمود په هکله ترې پوښتنه
وکړم او د دې قضیې لپاره یې وټاکم او سور صلیب ته به یې د نیولو په اړه خبر
ورکړم. مور مې خواب ورکړ زه به هم درسره یم او دواړو په دې خبره اتفاق وکړ.
سهار وختي بیا دواړه روان شول تر څو هغه کارونه ترسره کړي، یو وکیل یې مقرر
کړ او سور صلیب ته یې هم خبر ورکړ او دوی ښه پوه شول چې مونږ به فقط

انتظار کوو څکه تر يوې مياشتې پورې هېڅ معلومات نه کېږي بلکې فقط انتظار او انتظار به وي. لومړۍ ورځ توره، درنه او له غم ډکه وه خو داسې معلوميده چې موږ د هر مشکل سره د ژوند کولو توان پيدا کړی دی که څه هم مشکل څومره لوی هم وي، بس اول وختونه يې سخت وي او بيا خبره د تېرو غمونو په څېر عامه شي. مهمه خبره دا وه چې زموږ مخکيني ټول پلانونه منسوخ او يا په ښه حالت کې ځنډېدلی دي. حسن په خپل دوکان کې ،ما او محمد د ماما په فابريکه کې د صفايي او ترتيب کار ته دوام ورکړ.

د څو ورځو له تيرېدو وروسته مور او حسن په اونۍ کې يو يا دوه ځله او يا په مياشت کې يو ځل وکيل او سور صليب ته ورتګ شروع کړ، وکيل موږ ته وويل چې د محمود په ضد د تورونو ليست تيارېږي او هغه به محکمې ته وړاندې کوي خو داسې ښکاري چې قضيه يې ساده ده او په يو دوه اونيو کې به خبره واضحه شي. تقريباً دوه اونۍ وروسته موږ ته معلومه شوه چې محمود محکمې ته وړاندې شوې دی او قاضي يې د توقيف موده دوه مياشتې غځولې ده. دوه اونۍ وروسته موږ ته د سور صليب له لارې معلومه شوه چې د محمود ملاقات به د غزې په مرکزي زندان کې کېږي او موږ ورسره د هرې مياشتې په لومړۍ جمعه کې کتلی شو او دا ملاقات به د راتلونکې مياشتې نه پيل کېږي.

حسن ثانوي زده کړې مکمل کړې وې او د کورنۍ اقتصادي حالت ته په کتو په مصر يا بل ځای کې د هغه د زده کړو بوج يې نشو پورته کولی. هغه راضي شو او د يو اين آر ډبليو اې په صنعتي ښوونځي کې يې داخله وکړه او د تخنيکي سامانونو او مشين زده کړې په شعبه کې قبول شو. هغه بايد د کال په شروع کې داخله وکړي او د دوه کاله درس نه وروسته به صنعتي ډپلوم ترلاسه کړي.

نهم څپرکی

په اردن کې د کرامه له فتحې وروسته شا حسين وويل: موږ ټول فدايان يو او د دې فتحې له جذباتو سره د عربي هيوادونو په مهاجر کمپونو کې په زرګونو

فلسطيني ځوانان د فتح له غورځنګ سره يو ځای شوي دي او په اردن او نورو عربي هيوادونو کې د فلسطين انقلاب خپلې جرړې قوي کړې دي . د دوی مشران په ځانګړې توګه ياسر عرفات په عربي پايتختونو کې په تود هرکلي سره نازول کيده په ځانګړې توګه په قاهره کې د جمال عبدالناصر په دور کې چې هغه د عربي ملت مشر ګڼل کيده.

ډيرې فلسطيني کورنۍ په لويديځه غاړه او د پناغوښتونکو په کمپونو کې تقسيم شوې وې، نه يوازې هغه کورنۍ چې په ۱۹۴۸ کې يې هجرت کړی وو بلکې هغه کورنۍ هم چې د ۱۹٦۷ جنګ نه وروسته خورې ورې شوې وې او د اسرائيلو د اشغال له خوف نه يې خلک فرار شوي وو. په دوی کې يوه کورنۍ د تاجر احمد هم وه چې د الخليل سيمې سره يې تړاو درلود. د احمد څلور زامن ول چې د هغوی له جملې نه يو له ده سره په الخليل کې اوسيده او ۳ زامنو يې د ۱۹٦۷ کال د اسرائيلو د اشغال ا‌ه امله اردن ته هجرت کړی ؤ او په هغوی کې دوو تنو د اردن په انقلاب کې ګډون اختيار کړی وو او دريم يې هلته د ټرک موټرواني کوله. هغو دوو زامنو يې چې په انقلاب کې ګډون غوره کړی وو هغوی هيڅکله الخليل ته نشوای راتللی ځکه د هغوی د نيول کيدو واقعي خطره وه او دريم زوی يې احمد به کله کله له خپلې کورنۍ سره د ملاقات په خاطر الخليل ته راتلو او له خپل پلار سره به په دوکان کې کيناست او هلته به يې زما د ترور له خاوند سره هم کتل اوپه اردن کې به يې د فلسطينيانو په هکله خبرې ورته کولې.

بې له شکه چې په اردن کې د فلسطينيانو حالت د فخر او عزت باعث وو خو احمد به د راتلونکي په اړه فکرمند ؤ. هغه يقين درلود چې په اردن کې د فلسطينيانو زياتيدونکی طاقت به بادشا حسين پريشان کړي او له دې نه هم زياته د انديښنې وړ خبره دا وه چې ځينو فدايانو به د هغه ځای د خلکو د احساساتو په نه پام کې نيولو سره عمليات کول چې احتمالاً د بادشاه او انقلاب په مابين کې

د تضاد وجه کیدای شوه. احمد څو ځله د خپل تشویش اظهار وکړ خو خیني حاضرینو به ځان ته تسلي ورکوله چې حالات به د تضاد او جګړې تر حده نه رسیږي بلکې دا بیخي امکان نلري خو نا څاپه خبرونه راغلل چې د ۱۹۷۰ د ستمبر د هغو جنګونو اغاز وشو چې د «تور ستمبر» د واقعاتو په نوم سره یادیږي او په حقیقي جنګونو بدل شول چې په ټوله سیمه کې یې غبرګ واوریدل شو او د عربي مشرانو په سطحه یې سیاسي تحرکات پیدا کړل.

د اُم احمد درې زامن په اردن کې په دې خونړیو جنګونو کې شامل ول او د دې دریو زامنو یې میرمنې او څو بچیان هم ول او هلته په ریښتیا هم په خطره کې ول چې له امله به یې ام احمد نه خوب او نه خوراک کولی شوای ځکه هغه به د هغوی د ویرې له امله لړزیدله. ابو احمد به هغې ته د تسلي ورکولو او په الله تعالی باندې د یقین لرلو توصیه به یې. کوله چې ځنګه د الله تعالی خوښه وي هغه به کیږي خو د مور زړه په داسې حالاتو کې سکون نه پیژندلو.

د دې له وجې نه ابو احمد مجبوراً اردن ته د تللو پریکړه وکړه تر څو د خپلو زامنو او د هغوی د کورنیو حال معلوم کړي خو ام احمد ورته وویل: آیا ته به یوازې ځې؟ ابو احمد ورته وویل: هو! نو ام احمد وویل: ددې څه فائده شوه؟ زما ویره او تشویش به نور هم زیات شي. ابو احمد وویل: نو بیا څه حل لاره ده او ستا څه رایه ده؟ ام احمد ځواب ورکړ: مونږ دواړه به یو ځای ځو. ابو احمد هغه له خپلې ارادې نه د ګرځولو ډیر کوښښ وکړ خو ناکام شو نو هغه د ځان او خپلې میرمنې لپاره اجازت نامه راواخیستله او اردن ته روان شول چې هلته حالات د یو ریښتیني جنګ په څېر وو.

د دوی د زوی موټروان سعید کور ته د رسیدو لپاره دوی له ډیرو ستونزو سره مخ شول. کله چې دوی کور ته ورسیدل نو سکون یې پیدا نکړ ځکه حالات ډیر خطرناک وو او د مرمیو باران نه وو دریدلی چې له امله یې دوی کړکۍ بندې کړې او فرنیچر او الماری یې ورته کینبودلې تر څو مرمۍ د ننه رانشي او چاته

تاوان ونه رسوي او هر وخت به په ټيټه ملا تګ باندې مجبور وو. څوک به هم چې په ولاړه روان ؤ نو ټولو به پرې چيغه کړه چې سر مه پورته کوه تر څو په مرمۍ ونه لګيږي. ابو احمد به کله کله ورته وويل: دا هر څه ستا له امله کيږي، موږ هلته خوندي وو. ام احمد ځواب ورکړ: دلته له خپلو زامنو سره د خطر ژوند هلته له انتظار نه زر ځله غوره دی، ابو احمد وويل: سمه ده سمه ده الله دې خير وکړي، يا ساتر ساتر.

د سټمبر د جرش او عجلون واقعات پای ته ورسيدل او غورځنګ لبنان ته منتقل شو او چې څنګه حالات پر سکون شول نو ابو احمد او ميرمن يې بيرته الخليل ته راغلل او ابو احمد به دوکان ته ولاړ او د هغو ويرونکو پيښو او حقيقي خطراتو په هکله به يې خبرې کولې او د الله تعالی شکر به يې ادا کاوه. حاضرو خلکو به د هغه د سلامتيا مبارکي ورکوله او دوباره به يې د الله تعالی شکريه ادا کوله چې هغه. ام احمد. د هغوی زامن او ټول خوندي دي.

ډير وخت نه ؤ تېر شوی چې راډيو د جمال عبدالناصر د مړينې اعلان وکړ چې په فلسطيني خلکو د تندر په شان پريوت چې هغوی به د عربي ملت مشر او اميد ګڼلو. د هغه په مړينه باندې په ټول هيواد، کمپونو، ښارونو او کليو کې پراخ لاريونونه شروع شول. په الشاطئ مهاجر کمپ کې څو ورځې تعليم معطل شو، د نه خوړلو اعتصاب وشو نو دوکانونه بند شول او لاريونونه ترسره شول چې رهنمايي به يې استادانو او پوهانو کوله. دوی به د عربو په حق کې شعارونه ورکول او د خپل صدر ستاينه به يې کوله او د عربو ملي شعارونو او جمال عبدالناصر ته به يې دعا کوله او د هغه عکسونه به يې پورته کړي وو. په دې لاريونونو کې د کمپ ټولو يا اکثره خلکو ګډون وکړ، سړيو او ښځو به ژړل او د دوی آهونه به لوړ شول. لاريون خپل اوج ته رسيدلی ؤ، دا له کمپ نه وتلی ؤ او د ښار تر مهمو سړکونو، مرکزي ښار او شارع عمر المختار پورې ورسيده. موږ هم د شاګردانو په حيثيت ګډون پکې وکړ، لويو، وړو، هلکانو او انجونو به

شعارونه ورکول: تعیش الوحدة العربیة، فلسطین عربیة، بالروح بالدم نفدیک یا جمال.

کله چې لاریون په لومړي ځل د غزې ښار مرکزي سړک عمر المختار کوڅې ته ورسیده نو هلته له لوی شمېر فوځ سره مخ شو چې هغوی د لاریون کوونکو د ویرولو او خواره کولو لپاره په هغوی هوايي ډزې وکړې، لاریون کوونکو د کاڼو ګزارونه پیل کړل نو عسکرو یې په ښو باندې ډزونه شروع کړل چې له امله یې زیات خلک ټپیان شول او هغوی الشفاء روغتون او د مؤسسې کلینیک ته یوړل شول چې د ۱۹٦۷ اشغال نه وروسته یې هلته د خلکو درملنه کوله. اشغالګرو عسکرو او د هغوی چارواکو د سیمې د کنټرول او د مقاومت غورځنګ د مخنیوي لپاره ډېر اقدامات وکړل لکه د خلکو سر شمېرنه کول، بالغو سړیو او ښځو ته هویت کارډونه ورکول، ماشومان راجستر کول او د پیدایښت راجستریشن. او د همدې مقصد لپاره د پاسپورټ او اجازت نامې دفترونه خلاص شول چې د ښاري امورو څارنه به یې کوله.

هغوی د سیمې له مشرانو او ملکانو سره رابطې او جوړ جاړی شروع کړ . دوی به فوځي والي وخت پر وخت ځان ته ور بلل تر څو د خلکو د ژوند په چارو باندې بحث ورسره وکړي او د هغوی په منځ خلکو ته خپلې خبرې ورسوي. په دې مشرانو کې به چې څوک له والي سره ملاقات ته تلل نو چپنه به یې اغوستله او د بریتونو په تاوولو سره به د والي کوټې ته ننوتل چې هغه به په عامو حالاتو کې له دوی سره په احترام لیدل کول خو د لاریون او یا عملیاتو په وخت کې به هغه غصه ؤ او په دوی به یې چیغې وهلې خو مشران به غلي ناست ول او چې کوم یوه به خبره کوله نو د «جناب والي صیب» او « ښاغلی محترم» په الفاظو به یې خبرې شروع کولې.

دغو ملکانو به له ځان سره د ملکي تاپې ګرځولې. او کله به هم چې یوه مستنده موضوع راغله نو د ښاریانو او نورو خلکو لپاره دا تاپه ضروري وه. که څوک به

بیرون هیواد ته تلل، یا به یې کومه پروژه شروع کوله، یا به یې د تعمیر لپاره اجازه غوښتله او یا به هم کومه رسمي معامله وه نو د خپل کلي ملک ته ورتګ ضروري ؤ چې په کاغذ خپله ټاپه ورته ووهي او عموماً به یې د دې په بدل کې یو څو روپۍ هم اخیستې.

په اشغال شویو سیمو کې به فوځیانو ګزمه کوله. له هغوی سره نظامي نقشې موجودې وې او له هغو نقشو سره سم به روان ول تر څو د سیمې مخفي معلومات د شپې او ورځې معلوم کړي. هغوی به په ښارونو، کلیو، کمپونو ،درو او غرونو کې ګرځېدل. په درجنو عسکر به په دوو یا دریو کتارونو کې روان وو، د عسکرو په مابین کې به فاصله وه او هغوی به خپل ټوپکونه نیولي یو او بل طرفته کتل په داسې حال کې چې په وروستي کتار کې موجود عسکر به کله کله مکمل شاته وګرځېدل تر څو پوه شي چې د شا لخوا خو حمله کوونکي نشته؟ بیا به د یوې شیبې لپاره ودریدل افسر به په خپل لاس کې نیولې نقشې ته وکتل او پلانځ شوي طرفته به روان شول. په لاره کې به یې یو څوک ودرول د هغه هویت کارډ به یې وکاته تر څو د هغه شناخت وشي، افسر به له جیب نه یو کاغذ راوویست چې په هغه کې به د ځینې مطلوبو کسانو نومونه او د هویت کارډ شمېرې لیکې وې چې د هغوی نیول یا د تحقیقاتو لپاره بیول یې ضروري وو. هره ورځ یا څو ورځې بعد به فوځي جیپونه ښکاریدل چې د هغوی مخې ته به یو بې نښې د زېړ نمبر پلیټ جیپ روان ؤ او تر شا به یې پنځه لسګونو فوځي جیپونه روان وو. دا ټول به د یو چا په کور یا باغ باندې د چاپې وهلو لپاره روان وو تر څو کوم فدایي او یا د هغه همکار ونیسي. کله کله به دوی په داسې حال کې واپس راتلل چې مطلوب شخص به یې نیولی ؤ او د هغه لاسونه به یې د جیپ له څوکې سره تړلي وو او په سر به یې د ډبل رخت فوځي رنګ کڅوړه ور اغوستې وه. کله کله به هغه شخص له خپلو جامو پیژندل کیده او کله به نه پیژندل کیده او د تحقیقاتو لپاره به یې روان کړی ؤ.

خو له دې ټولو کارونو سره سره به د مقاومت عملیات هم روان وو، هر څو ورځې بعد به اوریدل کیدل چې د ګزمې په موټر د لاسي بم برید شوی چې له امله یو څو عسکر ټپیان شوي دي، یا کوم فدایي په کارلوستاف ټوپک سره په فوځي جیپ یا د ګزمې په عسکرو ډزې کړې دي چې له امله یې څو عسکر مړه یا ټپیان شوي دي خو د اکثرو فدایانو به واضح یا نیم واضح شکلونه ښکاریدل چې په ښکاره به له وسلو سره ګرځیدل یا به یې له جامو لاندې او یا په بوجیو کې اسلحه وړله او خلکو به پیژندله چې دا وسله ده.

دا ټول ښکاره تحرکات په تدریجي ډول سره غائب شول او د فدایانو حرکات تر ډیره مخفي شول. د اویایمې کلیزې په لومړیو وختونو کې د جنرال ایریل شیرون په مشرۍ کې د ۱۰۱ قطعه فعاله شوه چې مشري یې جګړن مایرداجن کوله. دا قطعه د سرو خولیو په سر کولو باندې مشهوره شوه او خلکو به «سورخولیان» بلل دا یوه خاص قطعه وه چې خاص تربیت ورکړل شوی ؤ. دا قطعه به د کمپ په کوڅو او پټیو کې په خفیه طریقه په خلکو ډزې او حملې کولې، هغوی به یې وهل ډبول او بغیر له کوم قانون نه به یې په خلکو ظلم کاوه. دې خلکو د مقاومت په خلاف جنګ کې مهم رول لوباوه او د مقاومت ډیر مشران او افراد یې شهیدان کړل. د دې قطعې هر یو ټیم به له لسو څخه تر شلو پورې کسان درلودل چې ټولو به رسمي نظامي یونیفورم اغوسته. دوی ټول ځوانان او بهترین تربیت یافته عسکر وو چې له دوی سره به عصري وسلې وې او سرې خولۍ به یې په سرونو وې. له دوی سره به د لرګي کوچنی لښتې هم وې او په دوی کې به له یوه څخه د زیاتو سره لویې مخابرې وې چې د هغو انتن به ډیر جګ ؤ او پرله پسې به ترې هدایات او احکام اوریدل کیدل.

یوه ورځ همدې قطعې یو فدایي تعقیب کړ چې بم ورسره ؤ او هغه د کمپ په کوڅو کې منډې وهلې، د قطعې عسکرو د شا لخوا په منډه کې په هغه ډزې کولې او د مخابرې والا عسکر به له رهبري سره په تماس کې ؤ. هغوی هغه سیمه

معلومه کړه چې فدايي پکې پټ شوی ؤ او هغه سيمه يې محاصره کړه. ډير ژر په لوی شمېر کې عسکر راغلل او هغه ټوله سيمه يې محاصره کړه، خلکو ته يې حکم وکړ چې له کورونو راووزي او هغوی يې د سړک څنډې ته کينول. جاسوسانو له يو، يو څخه تحقيق شروع کړ او عسکر کورونو ته ننوتل او د دې ځوان په لټون کې يې هر شی په بل مخ واړول. په څه طريقه دوی د هغه فدايي د پنا کور معلوم کړ، افسران او جاسوسان به د ننه ولاړل او بيا به بهر راووتل او مشورې به يې کولې او بالاخره يې د هغه کور دروازه پيدا کړه او د لاوډسپيکر په واسطه يې هغه ته د بهر راوتلو حکم وکړ خو څوک رابهر نشول.

عسکر دروازې ته ورنږدې شول نو په دوی باندې ډزې وشوې چې له امله يې دوی ټول په شا شول. بيا د قطعي ځينې عسکر په خفيه طريقه ورغلل او په هغه ځای کې يې چاوديدونکي توکي ځای پر ځای کړل او بيا لاړل او بيا يې چاودنه ورکړه. د چاودنې غږ ټول کمپ ولړزاوه او بيا دوی يو بلډوزر راوست چې هغه کور يې وران کړ او په کور کې د موجودو شيانو د لټون په موخه يې کيندل شروع کړل. يوه شيبه وروسته د څلورو فدايانو جسدونه راووتل چې په دې کور کې يې پنا اخيستې وه.

د وخت په تيريدو سره د «الجبهة الشيعية» خلک کم شول او ډيری مقاومت کوونکي د فتح له غورځنګ سره ملګري شول. په ځينو سيمو کې به چې د جبهې اکثريت ؤ هلته د ځوانان نيول کيدل تم نشول او هره ورځ به په درجنو خلک نيول کيدل په ځانګړې توګه له فدايي عملياتو وروسته. کله کله به هغوی بيرته پريښودل کيدل. هر وخت به ليدل کيدل چې يوه ښځه به د خپل خاوند يا زوی د نيول کيدو له ويرې د شپې ژړل او نه به پوهيده چې څه وکړي او بل طرفته به يوې ښځې د خپل خاوند يا زوی د څو ورځو. مياشتو او کلونو پورې د تحقيق د کوټو او په زندانونو کې تر غائب کيدو وروسته په راخوشي کيدو باندې د خوښي څرګندونه کوله.

په الخليل ښار کې د نيولو لړۍ د اشغال په لومړنيو کلونو کې شروع شوې وه. کله چې د اسرائيلو لوړپوړي چارواکي د ښار د ښاروال او مشر رهبر محمد علي 7 الجعبري کور ته راغلل او هغه ته يې د خاص درناوی او د تعريف مراتب وړاندې کړل او له هغه نه يې د غوښتنې په هکله وپوښتل نو هغه ورته وويل چې ستاسو عسکر دې د خلکو په عزت او مال حمله نکوي او هغو چارواکو يقين ورکړ چې داسې به نه کيږي او عسکرو يې تر يوه حده احترام هم وکړ. خو په راتلونکو ورځو کې عسکرو پراخې سيمې اشغال کړې چې ډيرې سيمې يې د الجعبري د کورنۍ وې او يو څه د نورو کورنيو ځمکې هم پکې داخلې وې. په دې ځمکو باندې د کريات اربع کالونۍ د جوړولو کار شروع شو او له همدې امله د خالد بن وليد د جومات تعمير هم بند شو چې له دغو اشغال شويو سيمو سره نږدې ؤ. همدارنګه اسامه بن منقذ ښوونځی، د بسونو زړه اډه او الدبوئيه اپارتمان هم اشغال شول چې هلته پکې فوځي مرکزونه جوړ شول او د وخت په تيريدو سره په پراختيايي مراکزو او د حرم ابراهيمي په طرف د تلونکو او راتلونکو خلکو په مراکزو بدل شول.

د هغه وخت دښمن خپل فوځي تحرکات پياوړي کول خو ورسره يې هميشه دا کوښښ کاوه چې له ځايي خلکو سره يې ټکر رانشي او له هغوی سره يې روابط ښه شي او تر ټو پورې چې ممکنه وي ښه روابط وساتل شي او يا لږ تر لږه د غير دښمن په شان تعلقات ورسره وساتي. د عربو او يهودو ماشومانو په مابين کې ځينې جنګونه وشول او د ځينې عسکرو په مرسته به لوی زورواکي لکه «ربي حاخام ليونګر» او داسې نور د سيمې مشرانو ته راغلل تر څو د عربو له دود او دستور سره سم صلحه وشي او هغوی به اصرار کاوه چې ښه ګاونډيتوب او د دروروليٰ روابط وساتل شي. هغوی به (عطوه) اخيستله او جريمه به يې هم اداء کوله او که ضرورت به شو نو ديت به يې هم ادا کاوه . په عموم کې مهمه خبره دا وه چې عرب خلک له سکون ډک او ارام چاپيريال کې وساتل شي.

د دهیشه او العروب مرکزي کمپونه چې د یروشلم او بیت اللحم په سړک واقع وو او د مقاومت میدان پکې ګرم ؤ. کله به چې فوځي چارواکو، فوځي کارمندانو، زورواکانو او سیلاتیانو په دې لاره سفر کاوه نو له دې کمپونو څخه به کله کله د ځینو فدایي عملیاتو سره مخ کیدل چې له امله به یې د هغه ځای اوسیدونکي سخت تعذیب کیدل، ګرځبندیز به ولګیده، سړي به توقیف کیدل او وهل کیدل او تر ډیرې مودې پورې به زندانونو ته وړل کیدل.

د ښارونو په ځانګړې توګه د الخلیل ښار اوسیدونکو به د کمپونو خلکو ته په سپک نظر کتل ځکه مهاجرین یا پنا غوښتونکي د تل لپاره سپک ګڼل شوي دي، سره له دې چې دوی هم د اشغال له امله له خپلو کلیو او ښارونو څخه ویستل شوي وو. همدارنګه د شاوخوا کلیو خلک هم د ښاري خلکو په نظر کې سپک ګڼل کیدل لکه څنګه چې د هیواد په مختلفو سیمو کې لیدل کیږي چې د ښار خلک د کلي خلکو ته په سپک نظر ګوري او له هغوی سره له نادرو وختونو پرته په ډیر امتیازي شکل ګوري. د کلیو خلک او د هغوی زنانه د کروندې، حیواناتو پالنې، شیدو او مستو جوړولو کارونه کوي او بیا په ښار کې خپل شیان لکه انګور، انځر او نورې میوې په ټوکریو کې خرڅوي. یا د شیدو او کورنیو غوړیو لوښي خرڅوي او په ښار کې د خپل اړتیا وړ ګران بیه توکي لکه صابون، پیزار، جامې وغیره اخلي او له یو څو روپیو سره خوشحاله خپل کلي ته ستنیږي.

سهار به لیدل کیدل چې په کلي کې به کوم ماشوم یا یوه میرمن د انځرو یا هګیو له ټوکرۍ سره د بس انتظاره کاوه. هغې / هغه به خپل شیان له سینې سره پیوست نیولي وو او چې کله به بس راغی نو یو اوږد سفر به یې شروع کړ چې له خامو لارو څخه به تیریده او بیا به پاخه سړک ته رسیده. په ښار کې له ښکته کیدو نه وروسته به د ښار تجارانو دا شیان ترې اخیستل او هغه به د ښار په بازار کې ګرځیده تر څو د خپلې خوښې شیان واخلي او بیا به یې د بس انتظار کاوه تر څو

خپل کلي ته را ورسيږي. کله به چې په کلي کې له بس نه د بسونو په تم ځای کې ښکته شو نو يوه اوږده مسافه يې بايد وهلې وای او که پيتی به يې دروند ؤ نو په ساعتونو انتظار به يې کاوه تر څو کوم خپلوان يا پيژندګلوی شخص يې پيدا شي او کومک ورسره وکړي خو له دې ټولو ستونزو سره سره به دوی خوشحاله او مطمئن وو.

کله چې په ۱۹۴۸ کې په اشغال شويو سيمو کې د فلسطيني مزدورانو پر مخ د کار کولو دروازه خلاصه شوه نو هغو مزدورانو د يهودو د چاپيريال تفصيلات. عاداتو ، رواياتو او مذهب په هکله ډير څه زده کړل. د جمعې له ماسپښين نه وروسته د يهودو د هفتې اغاز کيږي چې د لمر ډوبيدو نه تر يو څه وخت وروسته پورې وي خو په دوی کې زيات خلک د دې ورځې اهتمام په خپل شخصي ژوند او کورونو کې نکوي خو حکومتي اداري بندې وي او په اور سره کوم شی نه سوځوي او د برق الات هم نه ګل کوي، دا د سختي او جديت ورځ (يوم کپور) وي.

يادونه: يوم کپور د يهودي جنتري يوه مهمه او مذهبي ورځ ده چې عموماً د ستمبر يا اکتوبر په مياشت کې راځي. دې ورځې ته دوی يوم توبه يا عيد کفاره هم وايي. د يوم کپور مقصد د خپلو ګناهونو معافي غوښتل او توبه ويستل وي.

.. له يوم کپور نه څو ورځې وړاندې چې د ٦ اکتوبر ۱۹۷۳ نيټه.وه مزدوران له اشغال شويو سيمو نه واپس راغلل تر څو دوی هم رخصتي په کورونو کې تېره کړي ځکه فابريکې او کاروباري مرکزونه ټول بند وو. دا مزدوران د خپلو کورونو مخې ته کيناستل او په خپلو کې په خبرې اترو، ټوکو ټکالو او چای څښلو مشغول شول چې ناڅاپه يو ګاونډی له کور څخه د راديو سره په منډه راغی او چيغه يې کړه: د عربو او اسرائيلو تر منځ جنګ شروع شو! ټول خلک وويريدل او هغه ته يې وويل: دا څه وايې؟ د عربو او اسرائيلو جنګ؟ کوم عرب؟ هغه د خپلې راديو طرفته اشاره وکړه او ويې ويل: واورئ! د مصر خپرندويه ادارې په

لوړ غږ سره د مصر د مسلحو قواوو لومړي فوځي اعلاميه ويله چې په هغه کې يې د سينا او سويز نهر په ساحلونو د مصر د حملې او په بار ليف کرښه باندې د ولکې اعلان کاوه. ځينو کسانو يو بل ته په کتلو سره وويل: آيا دوی ريښتيا اوري؟ بيا د جشن او خوښۍ اظهار شروع شو کله چې نورو فوځي اعلاميو په جنګ کې د شاميانو د ګډون او د عربو د پرمختګ تصديق وکړ. د مصر او شام د هوايي دفاع ځواکونو په لوی شمېر کې اسرائيلي الوتکې غورځولې وې او ډېر ټانګونه يې تباه کړي وو.

د جنګ د ګټلو او واپس د راتللو خوب د هر چا په زړه کې اميدونه پيدا کړل چې د اشغالګرو د لاؤډسپيکرو په غږونو خاموش شول او هغوی د ګرځبنديز او په کورونو کې د پاتې کيدو اعلان وکړ. خلک کورونو ته لاړل او دا خوب يې ليده چې دا به اخري ځل وي چې په دوی باندې ګرځبنديز لګيږي، ټولې کورنۍ له راديو نه ګير چاپيره کيناستې او موږ هم راډيو ته ناست وو.

لسم څپرکی

يوه ورځ يو محصل چې له مصر نه د اوړي په رخصتيو کې راغلی ؤ او د هغه د سامان د تالاشي په مهال له هغه سره يو خط نيول شوی ؤ چې په هغه کې د هغو فلسطيني ځوانانو نومونه وو چې په مصر کې د فتح په غورځنګ کې منظم شوي وو تر څو په غزه کې فدايي عمليات منظم کړي. په دې ليست کې د محمود نوم هم ؤ چې له امله يې هغه ونيول شو او له هغه نه تحقيق شروع شو. د غزې په زندان کې د تفتيش شعبې ته «مسالخ» ويل کيده ځکه هلته به چې څوک هم يوړل شول نو بې انتهاء ظلم او وحشت به پرې کيده. دا يو اپارتمان ؤ چې په منځ کې يې دهلېز ؤ چې پلنوالی يې تقريباً څلور متره او اوږدوالی يې شل متره ؤ. د دې دواړو طرفونو ته به د مختلفو اندازو د کوټو دروازې راخلاصې وې چې هلته به تحقيق کيده. په دې اوږده دهلېز کې به يې بنديان په ځمکه کينول يا به يې د ديوال طرفته په مخ کولو سره ودرول او د دوی سرونه به د ډبل رخت په

کڅوړو سره پټ شوي وو چې تر اوږدو پورې به اوږدې وې او لاسونه به یې تر شا تړل شوي وو. عسکر به د دوی په مابین کې ګرځېدل او دوی به یې وهل، ټکول. که عسکر به پوه شو چې کوم قیدي د یوې شیبې لپاره هم ویده شو یا یې اررمی وکړ نو په هغه به یې سړې اوبه تویې کړې. وخت په وخت به یې یو بندي په راکاږلو د یوې کوټې په خوا روان کړی ؤ او هلته به یې دده له سر نه کڅوړه لرې کړه او څو تنه د تحقیق افسران به یې مخې ته ولاړ ول چې په عبراني لهجه به یې عربي ویله او په زرګونو پوښتنې به یې کولې. په دې دوران کې به لغتې، سوکان او څپېړې وهل کیدې، یو تحقیقي افسر به ځان د خیرخواه په ښودلو سره د بندي د کومک کولو تمثیل کاوه، هغه به یې له وهونکو افسرانو څخه خلاص کړ او ورته به یې ویل: هغه پرېږدئ! زه ورسره خبرې کوم ماته معلومه ده چې په وهلو هیڅ نه کیږي او ماته معلومه ده چې هغه اقرار کول غواړي. هغه به یې د ظالمانو له کوټې وویست او بیا به یې په خوږو خوږو خبرو د هغه په اقرار باندې د اماده کولو کوښښ کاوه تر څو هغه پوه شي چې د انکار هیڅ ګټه نشته او دوی ته هر څه معلوم دي او که داسې ونکړي نو هغه نور ظالمان به یې ووهي تر دې پورې چې اقرار وکړي نو بیا د دې تکلیف تیرولو څه فائده؟ او داسې خوږې خبرې به یې ورته کولې او کله کله به یې هغه ته سیګریټ یا د چای پیاله هم ورکوله. که هغه به اقرار وکړ نو د هغه نوم به یې ولیکلو او که انکار به یې وکړ نو دوباره به یې ظالم افسران ورته راوغوښتل او هغوی به بیا د خپل طاقت په زور د اقرار اخیستلو کار روان کړ.

کله کله به یې قیدي راځوړند کړ او لاسونه به یې تر شا په زولنو تړل شوي وو. کله کله به د هغه په سر او مخ باندې به د رخت کڅوړه وه او په سینه به یو کس ورته ناست ؤ تر څو د هغه مری خپه کړي او په کڅوړه باندې اوبه واچوي. دوهم کس به یې په خیټه ودرید او دریم کس به د ده د پښو په مابین کې په څوکۍ ناست ؤ تر څو دده پښې یو له بله جلا وساتي او څلورم کس به دده په

خصیو باندې زور کاوه او دوو نورو کسانو به یې پښې نیولې وې. په همدې ډول به له یوې مرحلې شکنجې نه بعد د څو ثانیو پورې وقفه وه او بیا به یې شکنجه کول پیل کړل. کله کله به د هغه لاسونه په زولنو تر شا وتړل شول او بیا به یې زولنې په یوه کړۍ یا په دیوال کې په یوه پایپ پورې وتړلې چې له امله به یې بندي تقریباً راځوړند شو او د پښو د ګوتو سرونه به یې تر ځمکې رسیدل. په دې وخت کې به د هغه په سر یوه یا زیاتې کڅوړې کېښودل کیدې او ګیډې او نورو اعضاوو ته به یې په سوکانو او لغتو سره واهه او له پاسه به سړې اوبه پرې اچول کیدلې او کله کله به یې باد پکې هم ورته چالان کړ چې له امله به یې بندي له یخنۍ نه لړزیده او بدن به یې جم شو.

محمود له دې ټولو پړاوونو د غزې په زندان کې د تحقیق پر مهال تېر شو، د هغه بدن کمزوری شوی ؤ او هغه نه پیژندل کیده. تر څلویښتو ورځو پورې دا لړۍ روانه وه چې په دې ورځو کې د خوب کم فرصت یا لږه ډوډۍ ورته پیدا شوې وه خو بدن ته یې اوبه نه وې رسیدلې.کله به چې هغه وغوښتل چې لږ ارام وکړي تر څو مړ نشي نو هغه به یې یوې وړې کوټه قلفي ته واچاوه چې هغه به یو نیم متر پلنه او دوه نیم متره اوږده وه او هلته به پنځه یا شپږ نور بندیان هم وو چې هغوی به هم د تحقیق تعذیب او بې خوبۍ کمزوري کړي وو. دوی به یو په بل له پاسه وغورځیدل او ویده به شول او بیرته به د جلادانو په لاسونو رابیدار شول. چې دوی به یې بیا د تحقیق لپاره بیول. د اونیو انکار نه وروسته چې محمود له هیڅ تنظیم یا فتح غورځنګ سره څه روابط نشته، د هغه په وړاندې د یو محصل نوم ذکر شو چې له مصر نه راغلی ؤ او له هغه سره د محمود او نورو محصیلنو د نومونو لیست ؤ؛ محمود خپل انکار ته دوام ورکړ او ویې ویل چې دا ټول درواغ دي او محمود یو ځل بیا د تعذیب او شکنجې ښکار شو او بالاخره هغه اقرار وکړ چې په مصر کې هغه یو چا د فتح غورځنګ لپاره منظم کړی ؤ او ورته ویلي یې وو چې هغه به له ده سره رابطه وکړي. محمود فکر وکړ چې نور به کار

خلاص وي خو تحقيق دوباره شروع شو: آيا تا د کومې اسلحې زده کړه کړې ده؟ له تا څخه د کومې اسلحې توقع وشوه؟ له تا سره نور څوک وو؟ آيا تا بل څوک هم په دې غورځنګ کې شامل کړی دی؟ او هغه څوک دی؟ په زرګونو سوالونه وو او د محمود له انکار سره سره چې هغه هيڅ هم نه دي کړي؛ تحقيق دوباره شروع شو او ډير دردناک او ويرونکی شو. محمود هلته سوچ وکړ چې ما غلطي وکړه. حسنين په اول سر کې اقرار کړی ؤ خو بيا هم په هماغه تعذيب کې مبتلاء دی. نو محمود اراده وکړه چې فقط په خپل اقرار ودريږي تر څو ځان په زيات وخت قيد کې ښکيل نکړي. په همدې ډول مفتش محمود او نورو بنديانو ته شکنجې ورکولې چې ټوله ورځ به د بنديانو چيغې او د مفتشينو ښکنځل او بدرد اوريدل کيدل.

تقريباً له څلويښت ورځو تحقيق نه وروسته هغوی پوه شول چې له محمود نه نور څه نه حاصليږي نو هغه يې يو خصوصي زندان ته منتقل کړ او څو اونۍ وروسته يې هغه عام زندان ته منتقل کړ. هغه د زندان په يوې برخې کې يوې کوټې ته يوړل شو چې هلته هغه يو څو جامې، کمبلې، دوه د پلاستيک قابونه او يوه چمچه ترلاسه کړل او هلته هغه تقريباً شل بنديان وليدل چې ځينې يې د کمپ د هلکانو په حيثيت وپيژندل، هلته د هغه ورونو محمود ته ښه راغلاست ووايه، هغه ته يې تسلي ورکړله او ټولو د خپل نوم، سيمې او جرم په ښودلو سره خپل تعارف ورته وکړ.

محمود ته زيات فکر زما د مور او زموږ په هکله ؤ تر څو دوی ډاډه شي چې زه ژوندی يم او ښه يم، د هغه هيله وه چې د زيات وخت لپاره به زنداني نشي. هغه په اوله شيبه کې هم د کور د خلکو سره د ملاقات په اړه پوښتنه وکړه نو ځوانانو ورته وويل چې د غزې لپاره ملاقات د هرې مياشتې په لومړی جمعه وي او کله چې هغه د نيتې پوښتنه وکړه نو معلومه شوه چې دوه اونۍ به نور هم انتظار کوي.

زما مور له ځينې ګاونډيو ښځو نه پوښتنې وکړې چې زامن يې بنديان وو په ځانګړې توګه له ام العبد څخه چې آيا موږ د خوراک او څښاک شيان يا جامې

زندان ته ور ورېلی شو او آیا مور ته به د ننه تګ اجازت راکړل شي؟ خو جواب منفي ؤ نو بیا هغې پوښتنه وکړه چې څومره کسان ملاقات ته ورتللی شو؟ نو جواب ورکړل شو چې درې لویان یا دوه لویان او یو ماشوم ته اجازت شته او په هغه شپه چې صبا ملاقات ؤ مور بحث کاوه چې له مور سره به څوک د محمود ملاقات ته ځي او هر چا به غوښتل چې هغه لاړ شي.

اخر فیصله په دې وشوه چې مور زما خور فاطمه، زه او مریم غوره کړو. حسن خفه شو او د خفګان اظهار یې وکړ خو مور ورته وویل چې هغه غواړي تا له عسکرو او د زندان ساتونکو سره له شخړې وساتي او بله دا چې دا لومړی ملاقات دی مور به لاړ شو، حالات به وګورو او بیا به پریکړه وکړو. حسن له مایوسي سره خپله رضاء څرګنده کړه.

د جمعې په سهار د لمر خاته په مهال مور د غزې مرکزي زندان د اپارتمان سرایا د ځنګ دروازې ته بهر ولاړ وو. هلته په رسیدو سره مور په سلګونو کورنی ولیدلې چې له دیوال سره یې انتظار کاوه. هلته د اوسپنې پایې د کتار د منظم کیدو لپاره نصب شوې وې.مور ټول په یوه خاص انتظار خانه کې کیناستو. په دروازه کې یوه کوچنی کړکي خلاصه وه او عسکر ترې راوکتل او بیا یې دروازه خلاصه کړه او کتابچه په لاس بهر راووت او نومونه یې اخیستل. کله به هم چې د کوم قیدي نوم واخیستل شو نو د کورنی خلک به یې د «صیب» په ویلو سره پورته شول او د اوسپنې د پایو طرفته به روان شول تر څو اپارتمان ته د ننه تلونکو کسانو په کتار کې ودریږي. کله به چې عسکر دیرش نومونه واخیستل او د هغوی د کورنیو خلک به په کتار کې ودریدل نو هغوی به یې له تالاشي اخیستلو نه وروسته د ننه کړل، سړي او ښځې به یې له جلا کولو وروسته بیا سره یو ځای کړل او د ملاقات لپاره به روان شول.

مور په ډیر تلوار سره انتظار کاوه او بالاخره یې د محمود نوم په پنځم ګروپ کې واخیست مور «صیب» وویل او په کتار کې د ګروپ تر مکمل کیدو پورې

ودریدو او بیا دوی موږ ته د ننوتلو اجازه وکړه. له موږ سره بالغ سړی نه ؤ نو
ځکه موږ ټول د ښځو د تالاشي په برخه کې لاړو چې هلته ښځو عسکرو زما د
موږ خویندو او زما تالاشي واخیستله او بیا یې موږ یو انګړ ته ننویستلو چې هلته
موږ د نورو خلکو د تالاشي تر ختمیدو پورې انتظار وکړ. موږ ولیدل چې له موږ
نه مخکې ګروپ له ملاقات نه واپس را روان دی او بیا موږ د اوږدې او کمې رڼا
لرونکې لارې څخه په تیریدلو د ملاقات برخې ته ورسیدو چې هلته په یو
سیمنټي دیوال کې د اوسپنو له جالیو نه ډکې کړکۍ وې چې د دیوال دواړو
طرفونو ته یې موږ له قیدیانو جلا کولو. ماشومان لومړی په منډه داخل شول او
لوبیان په کرار روان وو. زه هم له ماشومانو سره په منډه ساحې ته داخل شوم او
ټولو خپل پلرونه یا ورونه لټول. ما خپل ورور محمود د یوې کړکۍ شاته ناست
ولیده او چیغه مې کړه: محمود دلته دی، محمود دلته دی! شور جوړ شو او زما
مور زما غږ وانه وریده خو زه یې له کړکۍ سره ولاړ ولیدم او هغه له مریم او
فاطمې سره زما په خوا را روان شول.

زما مور په محمود باندې د زرګونو پوښتنو باران وکړ. ستا حالت او صحت څنګه
دی؟ ایا هغوی ووهلې؟ ایا خوراک یې درکړی دی؟ بدن دې څنګه دی؟ لاسونه
یا پښې خو به دې فلج شوې نه وي...؟ هغې له جواب اوریدلو پرته زیاتې
پوښتنې کولې او له سترګو نه یې اوښکې روانې وې. محمود د هغې د ارامولو
کوښښ کاوه او د لاس په اشارې سره یې ویل: مورې زه روغ رمټ یم. له ما سره
ټول خلک روغ رمټ دي. وګوره زه ستا مخ ته یم زما صحت روغ دی. زما پښې
روغې دي او هر څه مې روغ رمټ دي، ته څنګه یې؟ زما ورونه او خویندې
څنګه دي؟ فاطمې ته څنګه یې؟ مریم ته څنګه یې؟ فاطمې د اوښکو په پاکولو
سره خواب ورکړ: زه ښه یم وروره او مریم وویل: الحمدلله.
زما مور له هغه نه د هغه د جرم او محکمې په اړه پوښتنې شروع کړې او محمود
خواب ورکړ چې دا یوه کوچنۍ قضیه ده او ان شاء الله سزا به یې له یو یا یو نیم

کال نه زیاته نه وي. زما مور د دې خبرې په اوریدو سره داسې چیغه وکړه ګویا که روح یې له جسد نه روان وي او ویې ویل: یو یا یو نیم کال؟ های خدایه! محمود هغې ته تسلي ورکوله او د هغې د مطمئن کیدو کوښښ یې کاوه او ورته یې وویل چې یو وکیل یې مقرر کړی دی. بیا د زندان هغه ساتونکی چې زمونږ تر شا ولاړ ؤ او د دوی تر شا ولاړو عسکرو په زوره لاسونه پړقول او چیغې یې وهلې: د ملاقات وختم ختم شو، د ملاقات وخت ختم شو. مور دوباره د خدای پاماني سلام وکړ او ساتونکو عسکرو محمود او نور بندیان ونیول او هغوی یې د دروازو شاته په کشولو روان کړل او مور یې بهر طرفته په دیکه کولو راوویستو.

له دې ملاقات نه ما دا فائده حاصله کړه چې محمود مې ولید، هغه زما حالات معلوم کړل او ما د هغه حالات معلوم کړل. کله چې هغه زما مور ته خدای پامان وویل نو ماته یې هم وویل: خدای پامان احمده! د ملاقات په دې ټول وخت کې زما د مور پوښتنې وې او د محمود تسلي ورکول وو او د قضیې او سزا ورکولو په هکله خبرې رواني وې. مهمه خبره دا وه چې له دې ملاقات نه وروسته زما د مور ذهني حالت په ښه کیدو شو او تر یوه حده د خپل معمول حالت ته راوګرځیده.

محمود د غزې زندان په بلاک (ب) کې ؤ چې اته کوټې یې درلودې او د دروازو خولې درې متره پلن دهلېز ته راخلاصې وې. د هرې کوټې ساحه له پنځلسو مترو نیولې تر پنځه ویشتو متر مربع پورې وه په دې کوټو کې به کوچنی کړکۍ او د اوسپنې سیخونو لرونکې دروازې وې. په یو کونج کې بیت الخلاء وه او په هره کوټه کې به لږ تر لږه شل بندیان ول چې په ځمکه به یې کمبله غوړولې وه او ټول بندیان به له یو بل سره پیوست څملاستل، تر دې پورې چې یو بندي به که اړخ بدلولو ته ضرورت شو نو هغه به پاڅیده او بیا به یې اړخ بدل کړ او که د چا به بیت الخلاء ته د تګ ضرورت پیښ شو نو هغه به د ویده شویو خلکو له پاسه تیریده او کله به چې واپس راغی نو د هغه ځای به نورو بندیانو نیولی ؤ.

سهار شپږ بجې به په لاوډسپیکر اعلان وشو چې یوه شیبه وروسته به د بندیانو شمېرنه شروع کېږي او ګروپونه به یې بل کړل، عسکر به دروازې وټکولې او بندیان به یې راکښېنول. هر بندي به پورته شو خپله کمبله او سامان به یې ټول کړ او د شمېرنې په انتظار کې به کیناست. که کوم بندي به ناوخته پورته شو او خپلو ملګرو به راپورته نکړ نو عسکر به د ننه ورغی او په بې دردۍ سره به یې د وهلو شروع پرې وکړه. ډېر عسکر به د یو افسر په مشرۍ کې راتلل. د بندیانو شمېرنه به بې کوله او بندیان به یې په دوو کتارونو کې ودرول. له محافظینو عسکرو سره له لښتې وې، هیلمیټونه (د اوسپنې خولۍ) به یې په سر کړي وو او د اوښکې بهونکي ګاز ټوپک به ورسره وو. هغوی به ټولو کوټو ته ورتلل او بندیان به یې شمارل او بیا به د بل بلاک شمیرنې ته ووتل او په اخر کې به یې په لاوډسپیکر کې د شمیرنې د ختمیدو اعلان وکړ او له دې نه وروسته به د بندیانو لپاره ډوډۍ تقسیم کیده چې یو څو ټکړې وچه ډوډۍ او لږ غوړي وغیره به وو، کله کله به نیمه جوش شوې هګۍ هم ورسره وه او یوه پیاله به داسې شی ؤ چې خوند او بوی به یې د چای په شان ؤ. بندیانو به ډوډۍ وخوړله او یو په بل پسې به بیت الخلاء ته تلل او کله کله به داسې هم وشول چې یو بندي به بیت الخلاء ته مجبور شو او په ګیډه به یې درد ؤ نو له خپل ملګري نه به یې بار بار غوښتنه کوله چې ژر بهر راووځي ځکه چې د هغه حالات به خراب شوی ؤ.

پیره دار به راغی او له هرې کوټې نه به یې د دوو دوو کسانو په حساب سره بهر ته وباسل چې د «فوره» په نوم انګړ ته یې وباسي. دا یو داسې ځای ؤ چې د لوړو دیوالونو له امله ژور ښکاریده چې له پاسه پرې سیم خاردار تېر شوی ؤ او ساحه یې تقریباً یو سل شل متر مربع وه، بندیان به یې یو. یو کړل او لاسونه به یې تر شا نیولي او په ټیټ سر به یې انګړ ته بیول او هلته به پیره دار له لښتو سره ولاړ ؤ او بندیانو به د حلقې په شکل کې قدم واهه او چا به هم چې له بل بندي سره د خبرو کوښښ وکړ او یا به وروسته پاتې شو او یا به مخې ته ولاړ نو هغه به په

لښتو، لغتو او څپېړو سره وهل کېده. بنديان به په همدې حالت کې يو ساعت يا
څه کم يو ساعت ګرځېدل او بيا به واپس خپلو کوټو ته تلل او هر بندي به په
خپله کمبله کيناسته . دوی د ګروپ يا حلقې په شکل کې د کيناستلو او يو بل
سره د خبرو کولو اجازه نه درلوده او که چا به داسې وکړل نو پيره دار به کوټې ته
ورننوت او هغه به يې وهلو او ډېر ځله به يې هغه کوټه قلفي ته يوړه چې
«سنوکات» نوميده.
د غرمې له شميرنې وروسته به د غرمې د ډوډۍ اعلان وشو چې يو څو کوچنې
ډوډۍ او د سبزي ښورا به پکې وه کله کله به ګازرې او نوره سبزي هم پکې وه
او کله کله به دا ښوروا فقط ګرمې اوبه وې چې د مالګې خوند به پکې ؤ او کله
کله به د الوګانو، وريژو او تورو روميانو ټکړې هم پکې وې. بنديانو ته به چې
کوم شی ورسيد هغه به يې په مشکله وخوړ. ځينو بنديانو به د لوښو مينځلو پر
مهال له ديوال سره تکيه لګولې وه او خوب به پرې غالب شو ځکه دوی به ډېر
بې خوبه ول خو که پيره دار به د چکر وهلو په وخت وليده نو په زوره به يې پرې
چيغه کړه تر څو هغه ويده نشي ځکه د خوب لپاره فقط د شپې اجازه وه.
ساعتونه به درانه تيريدل تر څو به د ماښام د ډوډۍ نوبت راغی چې هغه پخلی به
په قاب کې په مشکله سره ليدل کيده. بنديانو به د ماښام په پنځه بجې ډوډۍ
خوړله او بيا به يې د لمر ډوبيدو انتظار کاوه ، بيا به د ماښام له شميرنې وروسته
پيره دار څراغونه ګل کړل او بنديان به له يو بل سره نږدې څملاستل. پيره دار به
هر وخت د دوی څارنه کوله او د هغه د قدمونو به دروند غږ اوريدل کيده ګويا
که هغه ټوله شپه بنديان خوب ته نه پريږدي.
د پنجشنبې به ورځ به يې بنديان د څلورو څلورو کسانو په ګروپ کې حمام ته
بيول چې هلته به هر بندي ته په اونی کې د پنځو دقيقو لمبيدلو اجازه وه. اوبه به
کله کله ګرمې وې او د يو بيکاره صابون ټکره به د ټولو بنديانو لپاره ايښې وه. له
غسل کولو وروسته به د زندان عسکر هرې يوې کوټې ته يوه د ويښتانو خريلو

چاره ورکوله چې ټولو به په نوبت سره ډېرې پرې لنډولې. د جمعې په ورځ به د کورنیو سره د ملاقاتونو ورځ وه او د هرې سیمې خلک به له خپلو بندیانو سره د ملاقات لپاره په همدې ورځ راتلل. د کومې جمعې په ورځ به چې دکومو بندیانو کورنۍ له هغه سره د ملاقات لپاره راتللې نو هغه بندي به ځان تیار کړ او د لاوډسپیکر د غږ انتظار به یې کاوه چې په دیوالونو باندې نصب شوی ؤ او له یوه ګروپ نه وروسته به یې د بل ګروپ د ملاقاتیانو غږ کاوه او د چا نوم به یې چې واخیست هغه به له خپلې کوټې نه ورغی ، کله به چې عسکر دوی ته دروازه خلاصوله نو دوی به یې له ټولو بلاکونو څخه راټول کړل او یوې انتظار خانې ته به یې یوړل چې هلته به یې دوی تالاشي کول او بیا به یې د ملاقات شعبې ته وړل او هلته به دوباره تالاشي کیدل. د هر بلاک بندیان به یې جلال جلا ساتل او له ملاقات وروسته به یې بیا خپلو کوټو ته یوړل او هلته به خپلو ملګرو د ملاقات مبارکي ورکوله او هغه به ورته ویل: الله دې تاته برکت درکړي، ستا نوبت به هم راشي.

زما ورور محمود تر دې تریخ حقیقت پورې ورسیده او هغه د غزې په دغه زندان کې ژوند تېر کړ چې له مختلفو سیمو نه د راوړل شویو سلګونو بندیانو څخه ډک ؤ. د زندان ادارې د هیڅ ټولنیز فعالیت اجازه نه وزکوله او بندیان یې له خپلو هغو اساسي بشري حقوقو نه محروم ساتلي وو چې د بشري حقوقو کمیسیون او جینیوا کنوانسیون ورکړي وو او چا به هم چې نیوکه وکړه نو هغه به له داسې تعذیب او وهلو سره مخ شو چې انسان یې تصور نشي کولی.

د محکمې په ورځ د زندان عسکر محمود او نورو بندیانو ته وویل چې تاسو محکمې ته د بیولو لپاره تیار اوسئ او په څو دقیقو کې یې هغوی له کوټو نه وویستل، د هغوی مکمل تالاشي یې واخیستله، د هغوی لاسونو او پښو ته یې زولنې واچولې او بیا یې په کشولو د زندان د اپارتمان په بل کونج کې واقع فوځي محکمې ته یوړل. هلته یې دوی په انتظار خونه کې کینول او یو یو به یې د

محکمې کوټې ته راوستل او هلته به یې د زندانیانو په پنجرو کې بند کړل او فوځي به یې څارنه کوله. د محکمې د کوټې په مابین کې یو لوی مېز ایښی ؤ چې د هغه شاته به درې څوکۍ ایښې وې او تر شا به یې د اسرائیلو بیرغ ؤ او قاضیان به یې فوځي افسران ول. دوی به چې کله کوټې ته راننوتل نو یو فوځي به په زوره غږ کړ: ولاړ شئ! په کوټه کې به هر سړی ودرېد تر دې پورې چې د بندي د کورنۍ غړي چې د کوټې په بل کونج کې به ناست وو او فوځیانو به د خپلو ټوپکو خولې وراړولې وې؛ هغوی هم مجبور ول چې ودرېږي. محکمه به شروع شوه او د وکیل رول به د نشتون برابر ؤ.

محمود به لسګونو عسکرو کې د خپلې مور، ماما او ورور حسن په طرف د کتلو کوښښ کاوه چې هغوی د نورو خلکو په مابین کې ناست ول. هغه به په خپل مخ باندې د اطمینان د مسکا راوستلو کوښښ کاوه او مور به یې څواب په یوې پریشانې مسکا سره ورکاوه چې د هغې د فکر او د راتلونکي په اړه د ویرې په پټولو کې به ناکامه شوه. محکمه به بار بار د کومې پایلې نه بغیر روانه وه او هر ځل به یې بندیان دوباره زندان ته یوړل او هلته به یې ملګرو ترې پوښتنې کولې چې څه وشول؟ تسلي به یې ورکوله او که څوک به سزا شول نو حوصله به یې ورکوله چې ازادي نږدې ده او زندان باید سړي متاثر نه کړي او دا د ملي پیوستون قیمت دی.

د ژوند حالات د نه زغملو تر حده رسیدلي وو او د زندان د مشر په هره نیوکه باندې عکس العمل ډیر سخت ؤ. ډیری وختونه به د یوه بندي سر له دې امله مات شوی ؤ چې هغه به د ډوډۍ په هکله پوښتنه کړې وه چې ایا دا د انسانانو د خوراک وړ ده؟ آیا دا کوټه د دومره انسانانو لپاره کفایت کوي؟ اکثره وخت به د یو چا هډوکي په دې وجه مات شوي وو چې هغه به د بلې کوټې په طرف کتلي ؤ کله به چې هغه په کتار کې د میدان په خوا بیول کیده او یا به یې سترګې له دې امله سرې شوې وې چې درې څلورو بندیانو به د خپلې کوټې په کونج کې یو له

بل سره خبرې کولې. نو يو څه کول پکار ؤ تر څو له بنديانو سره دا ناوړه سلوک بند شي. له محمود سره درې څلورو بنديانو په دې هکله خبرې وکړې په داسې حال کې چې هر يو په خپل ځای ناست ؤ تر څو عسکر شک ونکړي او د دې تريخ حقيقت د ختمولو لاره يې لټوله. دوی ټول په دې خبره متفق وو چې د زور له لارې هيڅ نه کيږي ځکه له دوی سره فقط خپل لاسونه دي او له عسکرو سره لښتې، ډالونه، هيلمټونه او اوښکې بهونکی ګاز دی او ورسره وحشت او بې احساسي ده. نو څه کول پکار دي؟ بالاخره دوی ذې نتيجې ته ورسيدل چې د دې حقيقت د ختمولو لپاره يوازينی لاره له خوراک نه انکار کول دي ځکه د نه خوړلو اعتصاب له امله موږ له لوږې او تکليف سره مخ کيږو او د مرګ انتظار کوو تر څو د زندان د مسؤل ظلم او بربريت ته ماتې ورکړو او هغه له موږ سره د چلند په معامله کې بدلون ته مجبور کړو.

فيصله وشوه او د هماهنګي د پيدا کولو لړۍ شروع شوه. هغه بندي چې له کارمند څخه به يې خوراک راوړ، هغه ته دنده وسپارل شوه چې د زندان له عسکر نه يو قلم غلا کړي او يو څو کاغذونه هم راپيدا کړي او له ډيرو کوښښونو وروسته هغه په دې کار کې کامياب شو. هغه قلم او کاغذونه د څو ورځو لپاره د کوټې په يو کونج کې خوندي کيښودل تر څو عسکر يې په اسانۍ سره ونهويني. په کوټه کې د خطونو ليکلو پروسه شروع شوه تر څو نورو کوټو ته هم ورسيږي او په يو ځای اعتصاب شروع شي.

د ملاقات په ورځ ځينو بنديانو خطونه له ځان سره واخيستل او له تحقيقي پروسې نه تېر شول، خطونه يې په پلاستيک کې نغښتلي وو نو په خوله کې يې پټول اسانه وو. او په انتظار خانه کې يې خطونه د نورو بلاکونو بنديانو ته ورکړل او هر يو به خط په خوله کې پټ کړ او په ډير احتياط سره يې په نور بنديانو کې تقسيم کړل. که چا به عسکر وليده چې په دهليز کې د دوی په خوا روان دی نو هغه به ټوخی کاوه او يا به يې قدم په څمکه واهه او په همدې طريقه به يې خط

دوباره راټول کړ او د ډوډۍ د پټولو. کله به چې کوټه خالي شوه نو خط به یې تقسیمولو د راتلونکي قسط انتظار به یې کاوه او بیا به یې نورو بندیانو ته خط ورکاوه او هغوی به لوستلو او نورو ته به یې رساوه او په همدې طریقه په دوو اونیو کې د ټنه ټولو بندیانو ته خبر ورسیده او ټولو د اعتصاب چمتووالی پیل کړ. د یکشنبې په سهار د بندیانو له شمیرلو نه وروسته عسکرو د معمول سره سم بندي د ډوډۍ وړلو لپاره بهر وغوښت. هغه ډوډۍ واخیستله او د لومړۍ کوټې دروازې ته ودریده او غږ یې وکړ: ډوډۍ در واخلئ! بندیانو ځواب ورکړ چې موږ یې نه غواړو او موږ اعتصاب کړی دی. ساتونکی حیران شو او خپل ملګري ته یې خبر ورکړ تر څو لوړپوړي چارواکي خبر کړي. بیا یې بندي ځوان ته بلې کوټې ته د تلو حکم وکړ. هغه ورته اواز وکړ چې ډوډئ درواخلی! خو بندیانو ځواب ورکړ چې موږ یې نه غواړو موږ اعتصاب کړی دی او همدارنګه په دریمه، څلورمه او ټولو کوټو کې همدا خبره وه او په همدې ډول په نورو بلاکونو کې هم ورته کیسه تکرار شوه.
د ساتونکو عسکرو دماغ خراب شول او د زندان رییس او نور چارواکي له لښتو، ډالونو او اوښکې بهونکي ګاز سره د بلاکونو په طرف په منډه راغلل. د زندان رییس په چیغه ساتونکي ته وویل: دروازه خلاصه کړه! هغه دروازه خلاصه کړله او بیا رییس په چیغه سره وویل: ډوډۍ راوړئ! بندي ډوډۍ راوړه او رییس له هر یوه بندي نه جلا جلا پوښتنه وکړه چې ته ډوډۍ خورې؟ ځواب ورکړل شو چې: نه! له دوهم نه یې پوښتنه وکړه هغه هم منفي ځواب ورکړ. دریم هم همدا ځواب ورکړ بالاخره په ټولو کوټو راوګرځید خو هیڅوک هم د ډوډۍ اخیستلو ته تیار نشول بلکې هغوی به فقط اوبه څښلې او د مالګې به یې یو څو دانې خوړلې. د غرمې ډوډۍ راوړل شوه خو هیچا وانخیستله او ورپسې د ماښام ډوډۍ راوړل شوه او هیچا وانخیستله. په همدې ترتیب لومړۍ ورځ، دوهمه ورځ، دریمه ورځ، اونۍ او دوه اونۍ تیرې شوې. بندیان کمزوري شول، بدنونه یې ډنګر شول او

سترګې يې پټې وغورځېدلې. هره ورځ يا څو ورځې بعد به رييس يا بل افسر راغی او کوښښ به يې کاوه چې يو څوک مات شي او شکست ومني او د ډوډۍ خوړلو ته تيار شي خو داسې ونشول او دوی ته معلومه شوه چې بنديان مقابله کوي او په خپل ضد باندې ټينګار کوي. خبره تر لوړ پوړو چارواکو پورې ورسيده نو رييس راغی او له بنديانو څخه يې د دوی د غوښتنو په هکله وپوښتل خو ټولو به همدا يو ځواب ورکاوه: زه د خبرو کولو واک نلرم، له کميټې سره خبره وکړئ چې په رأس کې يې محمود، صالح، حسن ثبات او عبدالعزيز شاهو دي. رييس چيغه کړه: دلته هېڅ کميټې شتون نلري، موږ هيڅ کميټې نه منو او تاسو ټول تخريب کوونکي او مجرمين ياست.

دريمه اونۍ هم تېره شوه او معلومه شوه چې خبره نوره هم خرابيږي او د بنديانو ژوند ته حقيقي خطر موجود دی او په دې کې هېڅ شک نه ؤ چې دا خبره به په نړيوالو مطبوعاتو او بين المللي مجلسونو کې په اسرائيلو فشار زيات کړي، دا مناسبه نه ده چې بنديان له لوږې مړه شي او د فلسطينيانو د زړورتيا داسې عکس هم دنيا ته ښودل مناسب نه دي. مذاکرات پيل شول او کميټې د زندان د رييس دفتر ته وغوښتل شوه، په مېز باندې د خوندورو خوړو قابونه ايښي وو او د زندان د ادارې ټيم د رييس په مشرۍ کې ناست ؤ او مخې ته يې درې بنديان کيناستل. په دوی کې يو هم په څوکۍ باندې په تکيه کولو سره نشواى کيناستلی خو دوی همت وکړ او د خپل بدن د اخري ساه ګانو د راټولولو کوښښ يې کاوه. رييس دوی ته د ډوډۍ خوړلو وړانديز وکړ خو دوی په ادب او نرمي سره انکار وکړ چې دوی هم د خپلو ورڼو په څېر په اعتصاب کې دي او که غوښتنې يې ومنل شي نو دوی به له ټولو وروسته ډوډۍ خوري.

ښه نو ستاسو غوښتنې څه دي؟ ځواب ورکړل شو: د فزيکي شکنجې او وهلو ټکولو پاليسي دې ختمه شي، وطاقونو ته د ازادانه تګ اجازه دې راکړل شي، په ورځ کې د خوب کولو اجازه دې راکړل شي. په انګړ کې د ازادانه تګ او د يو

ځای کیناستلو اجازه دې راکړل شي، موږ ته دې د خوب لپاره مناسب ځایونه راکړل شي، د خوارک مقدار دې زیات شي، د پاکوالي سامان دې دوه چنده شي، د غسل خانې وخت دې په اونی کې دوو ځلو ته زیات کړلی شي، د قلم او کتابونو اجازه دې راکړل شي او نورې غوښتنې یې هم ولیکلې او وروسته د ځواب ورکولو وعده ورسره وشوه. دریو واړو بندیانو په مشکل سره ځانونه پورته کړل او ساتونکو تر خپلو کوټو پورې ورسول او د هغوی په مخونو د حیرانتیا اثار موجود ول چې کله هغوی ولیدل چې د دې ځوانانو عزم او ارادې ورځ تر بلې قوي کیږي. دوه ورځې وروسته بیا کمیټې وغوښتل شوه او رییس د دوی په غوښتنو باندې خپل دریځ وړاندې کړ، ځینې غوښتنې یې ومنلې او ځینې یې رد کړې. د کمیټې مشرانو په تګ تګ کې وویل: دا کفایت نکوي او اعتصاب به روان وي. هغوی کوښښ وکړ چې دوی کینوي او د نورو غوښتنو په اړه ورسره خبرې وکړي خو ځواب ورکړل شو: موږ خپلې ټولې غوښتنې منظوروول غواړو. راتلونکې ورځ کمیټې بیا وغوښتل شوه او ځواب ورکړل شو چې زیاتره غوښتنې یې قبولې شوې دي. کمیټې د اعتصاب په ختمولو باندې اصولي رضامندي ښکاره کړه خو دوی اجازه وغوښتله تر څو د بندیانو بلاکونو ته ولاړ شي او هغوی ته نتیجه واوروي او مشوره ورسره وکړي خو دا غوښتنه یې رد شوه او کمیټې بیا د اعتصاب جاري ساتلو اعلان وکړ او بهر راووتل. څو ساعته وروسته دوی بیا وغوښتل شول او د یو افسر په څارنه کې دوی ته د بلاکونو د چکر اجازه ورکړل شوه. دوی د بلاکونو دوره شروع کړه او یو په بل پسې ټولو بلاکونو او وطاقونو ته لاړل او د هغوی رضایت یې ترلاسه کړ تر دې پورې چې د ټول زندان دوره یې وکړه.

کله چې افسرانو د دې خبرې تصدیق وکړ چې اعتصاب ختم شو او بندیان د دودې خوړلو لپاره اماده دي نوضروري وه چې لومړی درې ورځې باید دوی مایع او نرم خوراک وکړي او له دې نه وروسته به جامد او سخت خوراک ورکول

کيږي ځکه معدې او کولمې چې له څو اونيو راهيسې يې کار نه دی کړی، د عادي خوراک لپاره مساعدې نه دي او دوی بايد په تدريجي ډول فعال شي او دا مشوره په زندان کې يو ډاکټر دوی ته ورکړه.
له لومړي خوراک خوړلو نه وروسته ټول بنديان په هره کوټه کې ډله يز کيناستل. د بلاک (ب) په اووم نمبر کوټه کې د حلقې په شکل کې ناست محمود د دې فتحې په هکله خبرې کولې. هغه وويل چې که ځوانان عزم ولري او له مرګه ونه دار شي نو د دنيا يو شی به يې هم مخې ته ونه دريږي او فتحه به حتماً د دوی وي. هغه د فلسطيني انقلاب په اړه خبرې وکړې چې فقط د سړيو د عزم او چټوالي په پايله کې شروع شو او اعلان يې وکړ چې د فتح د غورځنګ يو شعار دی چې «ځمکه فقط د هغې سړي ازادولی شي». راتلونکې ورځ بنديان بېر انګړ ته ووتل بغير له دې چې پيره دار هلته له کوټک سره ولاړ وي او هر بندي بغير د چا له مداخلت نه هغه څه کول چې خوښه يې وه. هغوی ګرځيدل. او درې څلور به يو ځای سره کيناستل او يوه پيره دار په نږدې بام ولاړ ؤ او بغير له کوم مداخلت نه يې حالات څارل.
يو څه وخت ورسته د زندان د تمبو شاته کلتوري، مذهبي او تعليمي ناستې شروع شوې. په يوه کوټه کې خلکو د فلسطين د تاريخ په هکله خبرې کولې. په دوهمه کوټه کې به سياسي بحث روان ؤ. په دريمه کوټه کې په تازه حالاتو بحث روان ؤ. په څلورمه کوټه کې به د فتح غورځنګ په اصولو، اهدافو او شعارونو باندې بحث کيده او په بله کوټه کې به په اشتراکيت او مارکسيستي فلسفه باندې بحث کيده او په همدې شکل زندان په يوه پرمختللي ښوونځي بدل شو چې هلته به د زده کړې والا نورو ته هم ښوونه کوله او بې تجربې خلکو ته به يې د مناظرو او سياسي تفکر زده کړه ورکوله او د بنديانو په مابين کې يو سياسي او نظرياتي خوځښت په جوړولو پيل وکړ. د دوی د سياسي تړاو سره سم درې

واضح ګروپونه پیدا شول: د لینیزم سره د ملي ازادۍ خلک، د ملي غورځنګ سره د فتح خلک او د مارکسي یساري سره د ملي محاذ خلک ملګري شول.

یادونه:

لینیزم: یوه سیاسي نظریه ده چې د روسي مشر ولادیمیر لینن په لارښوونو او نظریاتو بناء ده. دا نظریه د مارکسزم د اصولو توسیع کوي او د کمونیزم د قیام لپاره په خاصه ستراتیژۍ باندې ټینګار کوي. د لینیزم اساسي مقصد د پانګوال نظام خاتمه او د سوسیالیست دولت قائمول دي.

قوات التحریر الشیعیة: یو نظامي ګروپ د قوات التحریر الشیعیة په نوم پیژندل کیږي چې د فلسطین د ازدۍ لپاره فعالیت کوي. دا تنظیم په ۱۹٦۰ کال کې جوړ شو او د دې مقصد د فسطیني خلکو د حقوقو دفاع او د اسرائیلو په ضد وسلوال مقاومت دی. د دوی اساس په مارکسي ـ لینیني نظریاتو جوړ شوی او دا په فلسطین کې د کمونیستي غورځنګونو یوه برخه ده.

الوطني المجرد: دا یو فلسطیني سیاسي غورځنګ دی چې د فلسطین د خپلواکۍ او حقوقو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي. دا غورځنګ په اساسي توګه یو سیاسي او ټولنیز غورځنګ دی چې مقصد یې د فلسطیني خلکو خپلواکي او د هغوی د حقوقو لپاره مبارزه کول دي.

د فتح غورځنګ: دا یو فلسطیي سیاسي او نظامي غورځنګ دی چې اساس یې په ۱۹٦٥ کال کې یاسر عرفات او د هغه ملګرو کیښود. دا غورځنګ د فلسطین د ملي غورځنګ یوه برخه ده او مقصد یې د فلسطین د خلکو د حقوقو دفاع او فلسطیني دولت جوړول دي.

الجبهة الشیعیة لتحریر فلسطین یا : popular front for the liberation of Palestine (PFLP) دا یو سیاسي او نظامي فلسطیني غورځنګ دی چې په ۱۹٦۷ کال کې جوړ شو، دا غورځنګ د فلسطین د ازادۍ د غورځنګ یوه برخه ده او مقصد یې د فلسطینیانو د حقوقو دفاع او خپلواکي اخیستل دي. دا تنظیم له

بلابیلو لارو څخه فعالیت کوي چې په هغو کې سیاسي فعالیت. ملي غورځنګونه او کله کله مسلح بریدونه هم شامل وي. دې غورځنګ د فلسطین د قضیې په سیاسي اړخ کې مهم رول لوباوه او په ډیرو ادارو کې یې مختلف روابط او اتحادونه جوړ کړي دي.

یوولسم څپرکی

د محمود د خلاصون وخت رانږدې شو، زما مور د هغه د هرکلي او دوباره فتحې په مناسبت چمتووالی پیل کړ، مور کور په چونې سره رنګ کړ او حلبه، بسبوسه او نور خوراکي شیان مو تیار کړل او مور یو ځل بیا د هغو پلانونو او هیلو په اړه خبرې شروع کړې چې د محمود د مصر نه په راتګ به مو کولې.

یادونه: بسبوسه یوه مشهوره عربي حلوا ده چې د سیاه دانې له اوړو، بورې، غوړیو او دانه دارو میوو څخه جوړیږي.

.. د محمود د خلاصون په ورځ مور له ټولو تیاریانو نه پس د زندان د دروازې مخې ته ودریدو او ماسپښین هغه د زندان له دروازې رابهر شو. کله چې هغه مور ولیدو نو زمور طرفته یې رامنډه کړه او مور د هغه طرفته په منډه ورغلو او یو له بل سره مو په غېږ سترې مشې وکړه او د الله تعالی شکر مو اداء کړ. له معمول سره سم زما مور یو څه وروسته راورسیده، محمود ورغی او د هغې سر او لاسونه یې ښکل کړل او مور مې منع کاوه چې مکوه انجنیر صاحب! بیا مور ټول د کور په خوا روان شو او زمور سرونه له فخر نه اوچت وو، کله به هم چې مور په کوم شناخته کس باندې تیریدو نو هغه به پورته شو او مور ته به یې مبارکي راکوله. له محمود سره به یې سترې مشې کوله او ویل به یې: الحمدلله انجنیر صاحب چې تاسو روغ رمټ یاست. کله چې مور خپلې کوڅې ته ورسیدو نو هلته ټول خلک زمور په انتظار ول او د محمود هرکلی یې د یو فاتح په توګه وکړ، خوښۍ او مراسم تر څو ورځو پورې روان وو او خلک به مبارکیانو ته راتلل.

د محمود د خلاصون خوشحالي چې خلاصې شوې نو مور د هغه د دندې د خوښۍ لمانځلو چمتوالی پیل کړ، هغه به د مؤسسې دفتر ته ورتلو او په بیلابیلو پروژو کې د ودانیزو چارو مفتش او ښاري انجنیر په توګه مقرر شو. دا څرګنده وه چې له ډیرې مودې نه بعد زمونږ لپاره د اسمان دروازې خلاصې شوې دي څکه د مؤسسې په دنده کې ډیر ښه معاش ورکول کیده. هر کله چې د محمود د دندې خوښۍ هم خلاصې شوې نو یوه نوې خوښۍ پیل شوه؛ زما خور فاطمه د محمود یو ملګري ته کوژدن شوه او بیا د واده تیاری شروع شو. کله چې د فاطمې د واده مراسم خلاص شول او مور بیرته کور ته واپس راغلو نو مور داسې حس کړه لکه د کور یوه ستنه چې غورځېدلې وي، په فاطمې زمونږ کور ښایسته ؤ بلکې ماته شخصي داسې ښکاریده چې زما زړه له سینې بهر وتلی وي خو د وخت په تیریدو مور له دې سره عادي شو په څانګړې توګه کله چې، مور ته معلومه شوه چې هغه په خپل کور کې خوشحاله ده. څه موده وروسته زمونږ د ګاونډی ام العبد زوی عبدالحفیظ هم له زندان نه راخلاص شو چې هغه په جبهة الشیعیة کې د کار کولو په جرم بندي شوی ؤ. د کوڅې خلکو د هغه هم د محمود په څېر هرکلی وکړ او د هغې مور ام العبد د هغه د راخلاصیدو په خوښۍ کې حلوا وویشله.

زما د ورور محمود او عبدالحفیظ هرکلی ډیر عجیبه ؤ، یو طرفته د دوی ډیره ملګرتیا وه څکه دوی په زندان کې یو ځای اوسیدل او یو ځای په اعتصاب او نورو ستونزو کې سره شریک ول چې له امله یې د دوی ملګرتیا ژوره وه خو بل طرفته د دوی په مابین کې یوه دښمني هم موجوده وه څکه چې کله به هم په سیاسي او فکري معاملاتو بحث کیده نو دوی دواړو به په یو او بل نیوکه کوله. د محمود له دندې نه څو میاشتې وروسته زما مور ټینګار وکړ چې مور به خپلې پروژې پیلوو او د محمود لپاره به یوه مناسبه کوټه جوړوو تر څو هغه د خپلو همزولو، ملګرو او کلیوالو میلمستیا وکولی شي. مور یو مزدور په کرایه ونیو او

ضروري سامان مو واخیست او یوه پراخه کوټه مو جوړه کړله چې دیوالونه یې لوړ او په بام یې د ایسبستوس څادر لګیدلی ؤ، په کوټه کې څو کړکۍ او د لرګي یوه بهترینه دروازه نصب شوه او غولی یې لوړ او له سیمینټو څخه جوړ شوی ؤ.
له دې نه وروسته زما مور ټینګار وکړ چې موږ باید یوه بستره واخلو، هغه مستعمله وه خو زموږ په کور کې د پرمختګ یوه نوې خبره وه. محمود به په هغه بستره خوب کاوه او موږ به هم کله کله پرې څملاستو. او بیا موږ یو مېز او دوه څوکۍ واخیستې او په همدې توګه په کور کې ښکاره پرمختګونه تر سترګو کیدل او بیا د محمود د واده د ارادو په اړه خبرې شروع شوې او زما مور د هغې انجلۍ په هکله ورسره خبرې کولې چې محمود غوښتله، آیا ته کومه خاص انجلۍ غواړې؟ او په خپله ناوې کې کومې کومې ځانګړتیاوې غواړې؟...
د مقاومت زور کم شوی ؤ ځکه ډیر خلک نیول شوي وو او ډیر شهیدان شوي وو او د خلکو لپاره دنیا (کاروبارونه) دروازه خلاصه کړې وه او دوی یې مشغول ساتلي وو. او له دې نه علاوه د اسرائیلو څارګرې ادارې هم د مقاومت په ضد لویه کامیابي حاصله کړې وه، هغوی په ډیر شمېر کې اسلحه او مهمات نیولي وو او داسې ښکاریده چې د هغوی په معلوماتو او د فلسطینیانو د حقیقت په پیژندلو کې اضافه شوې ده چې له امله یې دوی د مقاومت په محدود ساتلو کې بریالي شوي وو. د ملي ازادۍ فوځ تر ډیره حده کمزوری شوی ؤ ځکه دا یو نظامي غورځنګ ؤ او هغوی تنظیمي اړخ او بهرنی حمایت نه درلود او شتون یې فقط تر غزې پورې محدود ؤ او په لویدیځه غاړه کې یې فعالیت نه ؤ خو د وخت په تیریدو سره دوی د فتح او ملي محاذ ځای ونیو. د ډیرو خلکو د نیولو او د هغوی د راخلاصیدو نه وروسته فکري او سیاسي تمایلات په زیاتیدو شول چې له امله یې په ځوانانو او د هغوی په کورنیو کې سخت فکري او سیاسي بحثونه راوپاریدل او په څرګند ډول به معلومیدله چې ځینو خلکو د فتح تګلاره

غوره کړه او د هغوی نظریات به یې مخې ته وړل ، ځینو خلکو د جبهة الشیعیة تګلاره غوره کړه او د هغوی نظریات به یې مخې ته وړل.
عبدالحفیظ به اکثر زموږ کور ته راتلو او هغه له نور ملګرو سره به زما د ورو محمود په کوټه کېناستل او په فکري موضوعاتو به غږیدل. عبدالحفیظ مارکسي سوسیالیت ؤ او هغه فکر ته به یې خلک رابلل. هغه به د تاریخ د حقیقت (دیالیکتیک) په مسائیلو بحث کاوه او د مارکسي لینن یا اینګر په لیکل شویو کتابونو به یې حوالې ورکولې او زموږ د خلکو د مبارزې او د هغوی د حقه حقوقو په اړه به یې د شوروي اتحاد او سوسیالیستانو د ملاتړ خبره کوله او ویل به یې چې موږ ته پکار دي چې د دغو ملګرو او ملاتړ کوونکو له ملاتړ نه سالمه استفاده وکړو. خو د محمود فکر مختلف ؤ د هغه سوچ داسې ؤ چې زموږ ملي قضیه په فکري جریانونو کې د تقسیم کیدو متحمله نه ده، هر چا ته د خپل فکر او نظر ازادي ده خو مهمه خبره داده چې زموږ ټول کوښښونه باید د ملي غورځنګ «فتح» تر قیادت لاندې وي چې په هغه کې مذهبي، سیکولر، کمونیست، عیسائي او مسلمان ټول شامل دي او د فکري اختلافاتو ګنجائش نلري. کله به هم چې دوی زموږ یا دوی په کور کې او یا د سړک په غاړه سره ودریدل نو دا بحثونه به یې شروع کړل او غږونه به یې لوړ شول او هر یو به په خپل دریځ باندې مضبوط ولاړ ؤ او کله کله به بحث دومره تېز شو چې د جنګ شکل به یې غوره کړ خو په اخر کې به دوی د چای لپاره کیناستل او په خپلو کارونو کې به مشغول شول.
بل طرفته شیخ احمد ځینو ځوانانو ته د لمانځه دعوت شروع کړی ؤ، هغوی به جومات ته راتلل، لمونځ به یې کاوه او بیا به په یوه دایره کې کیناستل چې قرآن تلاوت کړي او یا کوم دیني کتاب مطالعه کړي، شیخ احمد به هغوی په تشریح او تفسیر پوهول او تربیت به یې ورکاوه . ځوانانو به د هغه خبرې درک کولې او

منلې. شيخ احمد به دغو ځوانانو ته لارښوونه کوله او خپرول به يې او جومات ته به نور ځوانان راتلل نو په دې توګه د هغه درسي حلقه په زياتيدو شوه.

زما ورور حسن تر ټولو ښه زړه درلود او د نورو په خاطر به هر وخت قرباني ته تيار ؤ، هغه د کور او د محمود د درس لګښتونه په غاړه اخيستي وو، هغه به د سبزي په دوکان کې کار کاوه او خپلې زده کړې به يې هم جاري ساتلې. هغه د صنعت تعليم قبول کړ که څه هم په ثانوي زده کړو کې يې لوړې نمرې اخيستې وې او که مناسب فرصت ورته ورکړل شوی وای نو کولای يې شول چې انجينري يا ساينس زده کړي خو هغه وخت حالات سخت وو هغه صنعتي زده کړې قبولې کړې او د سبزيجاتو د دوکان مسوليت يې هم واخيست. هغه د صنعت په مکتب کې تقريباً د خراطة او برادة له څانګو فارغ شوی ؤ.

يادونه: خراطة او برادة (خرادي) د ماشين کولو دوه مهمې پروسې دي چې د مختلفو فلزاتو او نورو موادو د شکل او اندازې بدلولو لپاره کارول کيږي.

... د سبزيجاتو په هټۍ کې د کار کولو په وخت کې حسن له شيخ احمد سره وليدل چې ځو ځله يې له حسن څخه د کور د اړتيا وړ شيان اخيستي وو. شيخ احمد د حسن غوره اخلاق او ښک خويونه وليدل نو هغه ته يې د لمانځه او جومات ته د راتلو بلنه ورکړه او هغه يې د الله تعالى د نافرمانۍ او د هغه د حکم سره د مخالفت له خطرونو خبراوه. شيخ احمد ورته وويل چې د دين لاره او په دين استقامت تر ټولو غوره لاره ده چې په نړۍ کې د خوشحالي او په آخرت کې د کاميابۍ او نيکمرغۍ لامل کيږي. د شيخ احمد خبرې د حسن زړه ته ښکته شوې او له شيخ سره يې وعده وکړه چې لمونځ به پيلوي او جومات ته به راځي، په رښتيا هم په هغه ماښام حسن اودس وکړ او لمونځ يې پيل کړ او کله به هم چې موقع ورته پيدا شوه نو جومات ته به لاړ. عموماً به حسن د ماښام د لمانځه په وخت کې جومات ته تللو او د ماخوستن تر لمانځه پورې به هلته ناست ؤ او ماخوستن به کور ته راتلو. د کورنۍ د غړو لپاره د حسن دا کار ډېر په

زړه پورې ؤ په ځانګړې توګه زما مور ته ځکه چې لمونځ کول او جومات ته تلل ډېر نیک عمل دی. حسن لوی او هوښیار هلک و او په دې خبره کې یې هېڅ تشویش نه درلود چې زما د ورور او د عبدالحفیظ او نورو ځوانانو په بحثونو کې به یې برخه اخیستله چې هلته به حسن د عبدالحفیظ په مقابل کې ډېر سخت و او په عبدالحفیظ به یې د الحاد، بې دیني او کفر تور لګاوه. عبدالحفیظ په فکري لحاظ له حسن نه ډېر ښه و ښايي د زندان په وخت کې عبدالحفیظ دا فکري مهارتونه زده کړي وي. هغه به په دین باندې د برید په توګه ویل چې دین د خلکو لپاره یوه نشه ده او په مقاومت او ملي مبارزه کې د دیندارو خلکو ونډه چېرته ده؟ حسن به کمزوری ځوابونه ورکول او له محمود سره به یې کله کله ټکر راغی چې هغه به د دین طرفته پر راستنیدو او د ازادۍ په مبارزه کې د هغه په اهمیت ټینګار کاوه. محمود به قوي ځواب ورکاوه چې په دین کې هیڅ شک نشته خو اوس مور ته د ملي ازادۍ ضرورت دی او په هیڅ ډول فکري او مذهبي اختلافاتو کې باید ښکېل نشو. حسن به غلی و او هیڅ ځواب به یې نه ورکاوه په ځانګړې توګه کله به چې محمود وپوښتل چې زمونږ د عیسوي ورونو سره به څه کیږي؟ او په ملي مبارزه کې به د دوی رول څه وي؟ بله ورځ حسن له جوماته څو کتابونه راوړل چې یو یې د مارکسیزم او سوسیالیزم د افکارو د ردولو او بل یې د اسلام د اقتصادي نظام په اړه او دریم کتاب په عقایدو بناء وو. هغه به د دې کتابونو په مطالعه او پاڼو اړولو مشغول و تر څو په تېرو شویو بحثونو کې ناکاموو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړي.

محمود د حسن په بدلونونو باندې تبصره پیل کړه او کله ناکله به یې له هغه څخه د جومات او هلته د فعالیتونو په اړه پوښتنې کولې. محمود حسن ته مشوره ورکړه چې له دې خلکو لرې واوسي خو کله چې حسن ورته غوږ ونه نیوه نو محمود هڅه وکړه چې د مور له نفوذ نه کار واخلي او حسن له دغو کسانو نه لرې وساتي. مونږ به اکثره د "اخونجیه" کلمې اوریدلې. محمود به ویل چې شیخ

احمد او هغه خلک چې جومات ته راځي، ديني کتابونه لولي او تقسيموي يې؛ د اخونجيه يعنی اخوان المسلمين سره تړاو لري او محمود به زموږ مور ويروله چې حسن اخونجيه نه شي، ځکه اخونجيه په قوميت باور نه لري او د جمال عبدالناصر خلاف دي او د هغه د وژلو هڅه يې کړې وه او حکومتونه هم د دوی خلاف دي او تعقيبوي يې نو که چيرته حسن اخونجيه شي نو يقيناً به په خطر کې ولويږي.

زما مور حسن راوغوښت او د محمود د خبرو خصوصاً د اخونجيه په هکله يې پوښتنې ترې وکړې خو حسن کلک انکار وکړ چې هغه د اخوان المسلمين غړی نه دی او نه څوک له هغه سره په جومات کې د اخوان المسلمين په اړه خبرې کوي او نه يې له چا څخه په دې اړه خبرې اورېدلې دي، هغه ويل چې په جومات کې يوازې لمونځ، د قرآن زده کړه او ديني زده کړې کېږي نو آيا دا ناسم کارونه دي؟ مور ورته وويل: نه، او بيا به يې ورته نصيحت کاوه چې احتياط وکړي او په داسې مسايلو کې ښکېل نشي چې د ستونزو لامل شي. حسن ډاډ ورکړ او ټوکې يې ورسره شروع کړې او بالاخره زموږ مور په ډاډه زړه لاړه. ما به د محمود، جسن او د خپلې مور خبرې اورېدې، د محمود خبرې ډيرې منطقي ښکارېدې خو د حسن سادګي او معصوميت هم ډېر د اطمينان وړ و. ښايي حسن له ما سره ښه کړي وي چې د لمانځه لپاره يې وهڅولم او جومات ته به ورسره لاړم. کله به مې لمونځ کاوه او کله به مې پريښوده، زه له هغه سره څو ځله جومات ته لاړم او د ماښام او ماسخوتن تر منځ په "حلقه" کې چې شيخ احمد يې مشري کوله؛ ګډون وکړ. د سورة الزمر او سورة مدثر په تفسيرونو کې مې هم څو ځله ګډون وکړ. د شيخ احمد وينا ډېره په زړه پورې او مؤثره وه، کله به يې چې د جنت او آخرت صحنې، عذاب او نعمتونه بيانول نو ورسره دا به يې هم بيانول چې څنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله احکامات منل، څنګه يې د دعوت مسووليت په غاړه واخيست؟ او څنګه يې تر نورو ورساوه؟

حسن له صنعت څخه فارغ شو او سمدلاسه یې د غزې په زیتون سیمه کې د اهنګر او میخانیک په یوه ورکشاپ کې د ښه معاش دنده ترلاسه کړه او دا وعده ورسره وشوه که چیرې هغه خپل تخنیکي مهارتونه او وړتیاوې ثابتې کړي نو معاش به ورته زیات کړي. موږ ته دا څرګنده شوه چې د ډیرو کلونو بې وزلی او قحطي وروسته موږ د ژوند زرین دور ته داخل شوې یو. ما د منځني ښوونځي زده کړې تقریباً پای ته رسولې وې او زما د تره زوی ابراهیم لیسه شروع کړې وه او زما ورور محمد د ساینس پوهنځي په دوهم کال کې و، زما خور «تهاني» لیسه پای ته رسولې وه او د غزې د ښوونکیو د روزنې په کالج کې یې نوم لیکنه کړې وه او د نتیجو په تمه وه، داسې ښکاریده چې نړۍ یو ځل بیا موږ ته موسکا کوي.

له ډېرو کلونو غیاب وروسته زموږ د تره زوی حسن یو ځل بیا زموږ کور ته راغی خو په نوې بڼه، هغه اوس لوی شوی و، ږیره او ویښتانو ته یې رنګ ورکړی ؤ او جامې یې د یهودانو د جامو په څېر ویرونکې او عجیبې وې. په غاړه کې یې د سرو زرو زنځیر او په لاس یې هم د سرو زرو یو زنځیر تړلی و، هغه یو څیرې شوی کاوبائ پتلون پښو کړی ؤ او په لاس کې یې د سګریټو یو قوطی ؤ او داسې ښکاریده چې له بلې سیارې راغلی وي. هغه دروازه وټکوله او ما دروازه خلاصه کړه، د لومړي ځل لپاره مې هغه ونه پېژانده خو هغه خپلې ګوتې زما په ویښتانو کې واچولې او ویې ویل: ته احمد یې؟ ما د هغه غږ وپیژند او ورته مې وویل: ته حسن یې؟ ویې ویل: هو! نو ما چیغه کړه: مورې، محموده! زما د تره زوی حسن راغلی دی. دوی ټول په منډه له خپلو کوټو څخه دروازې ته راغلل. حسن دوه درې قدمه دننه شو. هر څوک په منډه را روان ؤ خو کله به یې چې حسن ولید نو په خپل ځای به داسې ودرېد لکه برق چې نیولی وي او نه به پوهېده چې څه ووايي. زما ورور محمود لومړی کس و چې خپل هوش یې په

ځای کړ او حسن ته يې سلام وکړ. بيا ابراهيم هم سلام وکړ او محمود هغه خپلې کوټې ته بوتلو او موږ ټول هلته پسې لاړو او زما مور د چای پخولو لپاره لاړه.
موږ په کوټه کې کیناستو او محمود له هغه نه پوښتنې پيل کړې چې له هغه سره څه شوي دي؟ او هغه څنګه تر دې ځايه راورسېده؟ هغه موږ ته وويل چې په تل ابيب کې اوسيږي او د خپلې يهودي ملګرې (ګرل فرېنډ) د پلار په فابريکه کې کار کوي او حالت يې ډېر ښه دی او په يافا کې په يو بهترين کرايه کور کې اوسيږي. عجيبه خبره دا وه چې د هغه ژبه به د عربي په ويلو کې بنديده او په خبرو کې به يې عبراني الفاظ کارول. زما مور چای راوړ او په مېز يې کيښود.
حسن زما مور ته وويل: ته څنګه يې د تره ښځې؟ هغې ځواب ورکړ: الحمدلله.
هغه وويل: مهمه خبره دا ده چې تا ښه ژوند تېر کړ خو ماته وګوره چې د کمپ له بدبختی او محروميتيا نه ووتلم او بهر دنيا مې وليده او په سکون سره ژوند تيروم. زما مور په طنزيه لهجه کې ځواب ورکړ: هو! تا دنيا له خپلې يهودی ملګرې سره وليدله.
حسن وويل: په يهوديت کې نو څه خبره ده؟ په دې دوران کې محمود راغی او پوښتنه يې ترې وکړه: اصلي خبره کوه حسنه! حسن ځواب ورکړ: بس زه ستاسو سلام او د ابراهيم ليدلو ته راغلی يم ، جيب ته يې لاس کړ ، د روپيو يو بنډل يې راوويست ، ډېرې روپۍ يې وشمارلې او ابراهيم ته يې ونيولې. ابراهيم هيڅ حرکت ونکړ او موږ ټول چپ کيناستو. حسن وويل: واخله ابراهيمه! ابراهيم ځواب ورکړ: نه، مننه! زه د خپل تره په کور کې اوسيږم او ماته د هيڅ شي کمی نشته. حسن وويل: واخله ابراهيمه زه ستا ورور يم. ابراهيم ځواب ورکړ: ته به هلته زما ورور يې چې بيرته کور ته راستون شې او له موږ سره اوسيدل پيل کړې او د يهودو سره ژوند تيرول پرېږدې. حسن وويل: په آرام سره ابراهيمه، په ارام سره! آيا ته غواړې چې زه کمپ ته راستون شم؟ ته ولې له ما سره نه ځې؟ ابراهيم ځواب ورکړ: زه په الله سره پنا غواړم. حسن ورته وويل: چې څنګه دې

خوښه وي. محمود له حسن سره خبرې اترې شروع کړې او د هغه يې کور ته د راستنيدو کوښښ وکړ او ورته يې وويل چې دا کور اوس هم ستا انتظار کوي او ته دا کور جوړولی او ښکلی کولی شې، موږ به درته له يوې ښکلې انجلۍ سره واده وکړو او يو عزتمند کاروبار به درته پيدا کړو. حسن به له دې خبرو سره خندل او انکار به يې کاوه. او بيا يې په خوشحالۍ سره رخصت واخيست او لاړ.
زما مور به محمود د واده لپاره د قانع کولو کوښښ کاوه او محمود به په دې بهانه خبره څنډوله چې دا کور کوچنی دی او د واده لپاره مناسب نه دی خو مور به مې ورته ويل چې دا کور به مؤقتي وي تر څو يې پراخ کړو. له موږ سره اوس هم په کور کې درې کوټې دي؛ يوه کوټه چې موږ نوې جوړه کړې ده او دوه پخوانۍ دي چې موږ ترميم کړې دي نو په يوه کوټه کې به زه ، تهاني او مريم اوسيږو، په بله کوټه کې به احمد، محمد او ستا د تره زوی ابراهيم اوسيږي او ته به له خپلې ميرمنې سره په نوې کوټه کې اوسيږې. بيا محمود وپوښتل که ميلمانه راشي نو هغوی به چيرته اوسيږي؟ مور مې ځواب ورکړ چې د هلکانو په کوټه کې او يا زما او د انجونو په کوټه کې. آيا د کمپ ټول خلک همداسې نه کوي؟ او له دې نه علاوه له موږ سره ستا د تره کور هم دی چې يوه کوټه به يې ترميم کړو او کور به پراخ کړو.
په ريښتيا هم همداسې وشول، د تره په کور کې دوه کوټې ترميم شوې چې يوه د محمود او د هغه د ميرمنې لپاره او دوهمه د حسن لپاره چې کله واده وکړي او نوې کوټه د ميلمنو لپاره ځانګړې شوه. د نويو کوټو د جوړولو نه وروسته محمود له مور نه وغوښتل چې واده بايد يو څه وخت وځنډيږي تر څو زما او حسن واده يو ځای وشي او د دوو ودونو د لګښتونو پر ځای د يوه واده لګښت وکړو او د حسن د واده لګښتونه وسپمو ځکه حسن بې چاره خپلې زده کړې زما او د کور لپاره قربان کړې دي. نو راځئ چې دا خوښي يوه کړو. زما مور دا وړانديز

قبول کړ او د حسن د قانع کولو کوښښ يې شروع کړ چې کوټه چمتو ده او واده به حتماً کيږي.
له ځو ورځو کوښښونو او فشار وروسته حسن هم خپله رضاء مندي ښکاره کړه او زما مور له دواړو سره مفصلې خبرې شروع کړې چې دوی څوک غواړي؟ کوم رقم انجلۍ غواړي؟ دوی ورته د فلاني او فلاني د لونو وړانديزونه وکړل او مور مې د هغوی د کورونو سفرونه وکړل تر څو هغوی په کورونو کې وګوري او د کور د پاکوالي او د کورنۍ د غړو عادات يې وګوري خو مور مې له مطلوب معيار نه غير مطمئنه راستنه شوه. تهاني زما مور ته د خپلې يو ملګرې د ليدلو مشوره ورکړه چې د ښوونکيو په انسټيټوټ کې کار کوي ، هغه د څوارلسمې سپوږمۍ په شان ښايسته او په اخلاقي لحاظ هم بهترينه انجلۍ ده. زموږ له طبقې څخه ده او د کورنۍ غړي يې هم ساده مزاج او محترم خلک دي. زما مور له تهاني سره د هغې انجلۍ کور ته د ورتلو پلان جوړ کړ او زما مور ډيره مطمئنه او خوشحاله راستنه شوه ځکه د محمود لپاره يې مناسبه ناوې انتخاب کړې وه خو دومره خبره پاتې وه چې د محمود خوښه شي او همدارنګه انجلۍ او د کورنۍ غړي يې رضاء شي او څوک به له انجنير محمود نه انکار وکړي؟ زما مور له محمود سره خبره وکړه او د هغې انجلۍ بيان يې وکړ نو محمود لومړنۍ رضاء څرګنده کړه چې د انجلۍ د ليدلو نه وروسته به وروستۍ پريکړه کوي.
زما مور دوباره د ابو محمد السعيد کور ته ولاړه، هلته يې د ام محمد سره خبرې وکړې چې موږ غواړو ستا د لور «وداد» خپلوي زما له زوی محمود سره وکړو نو آيا موږ رسماً راتللی شو؟ ام محمد په کور کې له بيړنۍ مشورې نه وروسته وويل: هر کله راشئ! او له جمعې نه وروسته وخت يې مقرر کړ. د جمعې په ورځ زما ماما هم په پلاوي کې شامل شو او زما خور فاطمه هم راغله، زما مور، محمود، حسن او تهاني د ناوې کور ته لاړل. له معمول سره سم نارينه په يوه کوټه کې او زنانه په بله کوټه کې کيناستل او د ښه راغلاست او تعريفونو خبرې شروع شوې.

په اخر کې محمود او وداد يو بل وليدل او دواړو د يو بل د خوښيدلو او رضاء څرګندونه وکړه نو زغاريد (د خوښۍ نعرې) پورته شول او د دوی د کوژدن اعلان وشو او دوه مياشتې وروسته د واده نيټه وټاکل شوه تر څو موږ خپل کارونه تکميل کړو په ځانګړې توګه حسن ته د واده ځای ولټوو او وداد هم د ښوونکيو له انستيټيوټ نه ډيپلوم ترلاسه کړي.

زما مور حسن ته د مناسبې ميرمن د لټولو کوښښ جاري ساتلی ؤ او هره ورځ به د يوې انجلۍ د ليدلو لپاره تلله، نو کله کله به يې په دې وجه خوښه نشوه چې ويښتان يې خلاص پريښی دي، کله له دې امله چې پوزه يې اوږده ده، کله له دې امله چې غاښونه يې لوی دي او کله کله له دې امله چې.کور يې پاک نه دی ساتلی. هر ځل به زما مور د لټون نه وروسته حسن ته تفصيلي راپور ورکاوه او تهاني به هم ورسره وه. له ډير کوښښ نه وروسته حسن له مور نه پوښتنه وکړه: مورې ته ولې دومره ځان ستړې کوې؟ مور په غصه او مينه ځواب ورکړ: ولې ته له چا څخه کم يې حسنه؟ حسن په خندا وويل: غلط فکر مه کوه مورې، زما مطلب دا دی چې ناوې دلته نږدې او ستا د سترګو وړاندې ده. مور مې په حيرانتيا ترې وپوښتل: څوک ده؟ ستا څه مطلب دی؟ حسن وويل: سعاد! د ام العبد لور، زموږ ګاونډۍ. مور مې په خندا وويل: ته په ريښتيا له هغې سره مينه کوې؟ حسن په شرميدلې لهجه وويل: مورې تاته معلومه ده چې ما هيڅکله هغې ته نه دي کتلي خو هغه انجلۍ ښکلې، عزتمنه او زموږ په شان ساده ده لکه خلک چې وايي: د خپل وطن له خاورو څخه ګِل (ختې) جوړ کړئ. مور مې په جديت سره ترې پوښتنه وکړه: آيا ته واقعي هغه غواړې؟ حسن وويل: هو! جدي يې غواړم.

مور مې تهاني راوغوښتله او دا خبره يې ورته وکړه، تهاني په حيرانتيا سره ترې وپوښتل: ايا ته په ريښتيا هغه غواړې؟ حسن ځواب ورکړ: هو! تهاني وويل: هغه په ريښتيا چې عزتمنه، ښکلې او د يوې عزتمنې کورنۍ انجلۍ ده، موږ لومړی

ولې د هغې په اړه فکر نه دی کړی؟ حسن ځواب ورکړ: همدا د دنیا حال دی. سره زر به دې په لاس کې وي او ته به یې لیرې ګورې. مور مې وویل زه به سهار د الله په فضل سره د هغې غوښتلو پسې ځم. سهار زما مور ام العبد ته صفا صفا وویل چې ستا د لور سعاد کوژدن له خپل زوی حسن سره کول غواړم. ام العبد تر ماسپښین پورې وخت وغوښت تر څو د خپلې لور او زامنو رایې واخلي. ماسپښین چې کله زما مور د ام العبد کور ته ولاړه نو د دوی د خوښی د نعرو په اوریدلو سره مورې ته ځواب معلوم شو او نږدې ګاونډی ښځې هم د مبارکۍ لپاره راغلې.

د واده لپاره په زور او شور سره چمتوالی پیل شو، د زوم او ناوې لپاره د کور د سامانونو او جامو اخیستلو په لړ کې تقریباً تر یوې میاشتې پورې به زما مور کله د ام العبد او کله د ابو محمد السعید کور ته او کله بازار ته تله او راتله تر څو جامې او زیورات واخلي. بالاخره ټولې تیاریانې مکمل شوې او د واده ورځ راورسیده. محمد. زمور د تره زوی ابراهیم او ماته ډیر مسؤلیتونه را له غاړې شول. مورږ یو څو څوکۍ په کرایه باندې کور ته راوړې او د دروازې مخې ته مو کیښودې. د بقلاوې (یو قسم خواږه) لپاره مو پتنوسونه راوړل، ډیره غوښه او دوه بوجۍ وریژې مو واخیستې او له همسایه ګانو څخه مو په ډیر شمېر کې پتنوسونه رواړل او په هر پتنوس مو د کورنی نوم ولیکه تر څو سره ګډوډ نشي. زما مور له دریو ګاونډیو میرمنو سره یو ځای د خوراک تیارې او ځارنې مسؤلیت په غاړه واخیست او مورږ د واده لپاره د لوژ (ستیج) چمتوالی پیل کړ. مورږ څو مېزونه په پور راوړل او په خپلو کې مو سره وتړل او له دیوال سره مو مضبوط کینښودل او په قالینو او پوزیو سره مو وپوښل. دوه د بانېس څوکۍ چې له ګاونډیانو څخه مو په پور راوړې وې په هغو مو جای نمازونه هوار کړل. مورږ د برق یو اوږد تار راپیدا کړ او له یو لیرې کور سره مو وصل کړ چې هغوی برق درلود ځکه برق فقط یو څو کورونو درلود چې په اقتصادي لحاظ ښه وو. مورږ د رنګینو ګروپونو یو تار

هم په کرایه راوړ او هغه مو د واده په لوژ باندې راځوړند کړ او دا ټول کاروونه تر ماسپښین پورې مکمل شول کله چې د میلمنو راتګ شروع شو.
زنانه په کور کې ناستې وې او نارینه بهر په څپر کې کیناستل، د ښځو د خوشې او سندرو غږونه هیڅ نه کراریدل او بیا موږ د خوراک پروګرام پیل کړ. د هر پتنوس په سر به د سرې غوښې ټکړې ایښې وې، زه، محمود او ابراهیم د صابون له ټکړو او د ختو نه جوړ شویو جیکونو سره ودریدو او په اوږو باندې مو لاس پاکونه اچولي وو، کومو میلمنو به چې ډوډۍ وخوړله هغوی به زموږ خواته راغلل، په موږ کې به یوه تن هغه ته د صابون ټکړه ورکړه او دوهم به یې لاسونو ته اوبه ور اچولې تر څو هغه لاسونه او خوله ومینځي، هغوی به موږ ته مبارکي راکوله او بیا به موږ لاس پاک ورکړ تر څو لاسونه وچ کړي او بیا به هغوی د بقلاوې له پتنوس نه خواږه وخوړل او رخصت به شول. د ډوډۍ له ختمیدو وروسته ټول خلک کورونو ته لاړل او د زوم او ناوې د کورنیو نږدې غړي پاتې شول. ښځو د خوښیو د نعرو(زغارید) او سندرو په ویلو سره د یو نوي کور په طرف رواني شوې، له دوی سره ډول هم وهل کیده او کله چې د ابو محمد کور ته نږدې شول نو د هغه وخت مشهوره سندره یې شروع کړه: «عمین لفتین یا بنات... عادار ابو محمود لفینا باللیة، طلبنا منه النسب... رحب و احترم یا لیلة..»
کله چې دوی دروازې ته ورنږدې شول نو د ننه څخه هم د خوښۍ نعرې شروع شوې. نارینه یوې کوټې ته لاړل چې هلته یو مولوي صاحب هم ناست ؤ چې هغه د نکاح مراسم خلاص کړل او نکاح ته یې د سند شکل ورکړ. له دې نه وروسته نارینه بهر راووتل او منتظر شول. ناوې تیاره شوه او بهر یې په داسې حال کې راوویستله چې له یوه مټ نه یې پلار او له بل مټ نه یې ورو نیولې وه او محمود ته یې وسپارله، نو د خوښۍ غږونه لوړ شول او قافله د کور په خوا راستنه شوه. ناوې کور ته رادننه کړلی شوه او ځینې ښځې ورسره پاتې شوې او ځینو به سندرې ویلې. بیا قافله دوباره روانه شوه او څو قدمه وړاندې د دوهمې ناوې کور

ته ورسیده او په هماغه طریقه او ورته کړنو سره د سعاد ورونو هغه له لاسونو نیولې وه او حسن ته یې وسپارله او د سندرو په بدرګه یې کور ته راورسوله.
دواړه ناویانې یوې کوټې ته بوتلل شوې تر څو دوی.د زفاف (د واده د مراسمو) تیاری وکړي. زما مور محمود او حسن ته وویل چې د زفاف لوژ ته وخیژي او په خپلو څوکیو باندې کیني او خپلې میرمنې ته منتظر شي تر څو هغه هم ورسره کیني او زفاف له معمول سره سم ترسره شي. د محمود لپاره څه خبره نه وه خو حسن په سختۍ سره انکار وکړ او ویې ویل: زه په داسې حال کې څنګه کینم چې مخې ته مې ښځې نڅا کوي، دا حرام کار دی. زما مور حیرانه شوه او حسن ته یې وړاندیز وکړ چې دا زمونږ د ژوند هغه د خوښۍ ورځ ده چې مونږ یې له ډیره وخته انتظار کړی دی، محمود هم حسن ته وړاندیز وکړ چې د واده خوښۍ خرابه نکړي خو حسن سخت انکار وکړ. خبرې اوږدې شوې خو اخر فاطمې یو متوسط حل وړاندې کړ چې محمود او حسن د نیم ساعت لپاره لوژ ته وخیژي او ښځې به د نڅا پر ځای فقط سندرې وایي، بیا به دواړه زومان له څوکیو راښکته کیږي او یوه څوکۍ به له دې ځایه لیرې کیږي او په یوه څوکۍ به کیني او ښځې بیا چې څه غواړي هغه به کولی شي. محمود له دې وړاندیز سره اتفاق وکړ او حسن هم بالاخره ومنله. دواړه لوژ ته وختل او په خپلو څوکیو کیناستل. بیا ناوې راغلې او له خپلو خاوندانو سره کیناستې او ښځو سندرې شروع کړې.
زما د مور مخ په دوامداره توګه د هغې اوښکو مینځلو ، فاطمې له ښي اړخه او تهانې له چپ اړخه د هغې د ارامولو کوښښ کاوه، ولې ژاړې، دا د خوښۍ ورځ ده چې تا یې له ډیرې مودې انتظار کاوه؟ زما مور اوښکې پاکې کړې او بیا په ژړا شوه او په کرار یې وویل: که ستاسو پلار نن موجود وای... د فاطمې او تهانې اوښکې هم روانې شوې او هغوی هم په کرار وویل: مورې ولې مو زاړه زخمونه راسپړې؟

دواړه زومان د خپلو سپینو جامو د بدلولو لپاره له څوکیو راښکته شول او یوه څوکۍ یې واخیستله او دوهمه د لوښ په مابین کې کېښودل شوه. محمود حسن ته په طنزیه لهجه وویل: شیخ صاحب! هره ورځ خو واده نه وي، ته خو په ریښتیا اخواني وختې، معلومه نه ده چې چا زما واده له تا سره یو ځای کړ. خدای دې تاته سزا درکړي. حسن په خندا وویل: څه څه! ښځې پرېږده چې خوشحالي وکړي او په دوی پسې د شا لخوا د ښځو د سندور غږونه لوړ شول او زما مور یې په زوره په دې مجلس کې د نڅا لپاره راښکله. بیا یې ام العبد او ام محمد هم مجبورې کړې او ټولو نڅا پیل کړه خو په دې نه پوهیدل چې د دې خوښۍ په مجلس کې د اوښکو مطلب څه دی؟ خو دا د کمپ حالات دي. هره خوښي پخواني زخمونه راسپړي او ټول یادونه تازه کوي.

دولسم څپرکی

زما د ترور خاوند د قید له پوره کولو نه وروسته له زندان نه خلاص شو او خپل تجارت یې دوباره شروع کړ او ورسره یې د کورنۍ د ځمکنیو فعالیتونو څارنه هم کوله، د هغه زوی عبدالرحیم اوس په ځمکه لوبې کولی شوای او لومړني الفاظ یې زده کړي وو.

زما د ترور خاوند به بیا په الخلیل کې هغو دوکانو ته ورتګ پیل کړ چې له زندان نه مخکې به ورتلو چې له هغوی سره یې قوي تجارتي اړیکې وې. هغه پخواني مجلسونه چې له بخارۍ نه به ګیرچاپیره ناست وو ؛دوباره شروع شول او د چایو غوړپونه به کیدل او له هغه نه به یې د زندان په هکله پوښتنې کولې چې له هغه سره څنګه چلند کیده، څه ډول تعذیب یې ورکاوه او څنګه تحقیق یې ترې کاوه؟ هغه به په عاجزي سره خبرې کولې. هغه د خپل خوف او د زندان اړوند د اضطراب د کمولو کوښښ کاوه او په دې خبره یې تاکید کاوه چې زندان په ریښتیا هم چې سخت دی خو ممکن او د زغملو وړ دی. زندان انسان مضبوطوي، روح ته یې طاقت ورکوي او انسان ته د خپل طاقت او عظمت

احساس ورکوي. ناستو کسانو به سرونه ښورول او يو بل ته به يې په حيرانتيا او ناخوښۍ سره کتل. شايد په دوی کې به ځينو (په زړونو کې) ويل: «دې کم عقل خپل ځان او کورنۍ په مصيبت اخته کړل او په ځان يې يو انقلاب راوست او وايي چې دا ممکن او د زغملو وړ دی، دا څنګه خبرې کوې.» د هغه ورور عبدالرحمن په الخليل کې په طارق بن زياد ثانوي ښوونځي کې په دريم. کال کې ؤ. هغه د خپل همت، ديانت، اخلاقو او له همزولو سره د دوستانه تعلقاتو له امله مشهور و. په دې ورځو کې په طارق بن زياد ثانوي مکتب کې د اسلامي تمايلاتو لرونکو ځوانانو يو ډله جوړه شوه. د دې مکتب ځيني استادان د اردن له پوهنتون نه فارغ شوي وو او هلته د زده کړو په وخت کې په اخوان المسلمين کې شامل شوي وو. کله چې دوی بيرته الخليل ته راستانه شول او په ښوونځيو کې يې درس شروع کړ نو په ښار کې يې د اسلامي فکر د خورولو کوښښ شروع کړ او د دې کار لپاره د ثانوي ښوونځي شاګردانو د دوی لپاره د حاصل خيزې ځمکې حيثيت درلود. په هغه وخت کې په ښار کې يو شرعي کالج هم پرانيستل شو، د ښار ښاروال د دې کالج د قيام څارنه کوله. په کالج کې د ځوانانو تجمع د استادانو او اسلامي لارښوونو له امله په خپله سياسي او فکري تمايلات پيدا کړل چې په ټولو کې ممتاز تمايل د اخوان المسليمن و.

په کالج کې يوې ډلې د اخوان المسلمين د فعاليتونو لپاره د مرکز په حيث کار شروع کړ او خپل فعاليتونه يې تر ثانوي ښوونځيو پورې وغځول او په همدې ډول د دوی کوښښونه د طارق بن زياد ښوونځي له استادانو سره يو ځای شول. کله چې د محصلينو يوې ډلې د اخوان المسلمين د نظرياتو ګردش شروع کړ نو په الخليل ښار کې دا نوم خلکو ته نااشنا نه ښکاريده خو د غزې په ترانګه او شمال لويديځه غاړه کې به د دې نوم ذکر د سپکاوی او کنځلو په شکل کې کيده. په الخليل کې د اخوان يو زوړ تاريخ و او د اخوان نظريات مالدارو او

محترمو خلکو له ځان سره ايښي وو نو له همدې امله د دوی نوم ظاهريدل او اعلان کيدل ډير سخت نه ؤ.
په طارق بن زياد ښوونځي کې د عبدالرحمن ملاقات د ښار او کليو له نورو ځوانانو سره وشو او هغوی د شرعياتو کالج د محصلينو او ځينو استادانو له طرفه د اخوان المسلمين د نظرياتو د راخپلولو لپاره يو چوکاټ جوړ کړ چې هلته به د اسلام او معاصرو اسلامي افکارو مطالعه کيږي. يوه ورځ له دوی څخه ځينې ملګري له عبدالرحمن سره د ملاقات لپاره د هغه کلي صوريف ته راغلل، دا د اخوان د تعارفي او تربيتي فعاليتونو يوه برخه وه. تقريباً د لسو محصلينو يوه ډله د غونډی په يو اړخ کې سره را ټول شول، لوبې او خبرې اترې يې کولې. د عبدالرحمن په غوښتنه زما ترور د غرمې د ډوډی چمتوالی نيولی ؤ. عبدالرحمن سهار وختي څلور چرګان حلال کړل او ترور د «مسخن» په تيارولو شروع وکړه. غرمه زما د ترور خاوند له دوکان نه راستون شو او کله چې عبدالرحمن په وخت ډوډی ور نه وړله نو هغه په خپله راغی هغوی ته يې سلام وکړ او عبدالرحمن ته يې ورغبږ کړ چې زه راغلی يم. عبدالرحمن له منتې سره ځواب ورکړ : تا ولې ځان په تکليف کړ، ما اوس ډوډی دروړله. عبدالفتاح ځواب ورکړ چې په دې کې هيڅ تکليف نشته او دا له ځوانانو سره د تعارف يوه موقع ده. له هغوی سره کيناست، د غرمې ډوډی يې وخوړه، خپل تعارف يې ورسره وکړ، د هغوی په خوښی او خبرو اترو کې شريک شو، د هغوی احساساتو او د ملي تړاو په هکله يې د پوهيدو کوښښ وکړ او د هغوی د فکرونو او چمتووالي د معلومولو لپاره يې له هغوی نه پوښتنه وکړه: ستاسو د ملي کار او موجود ظرفيت په هکله څه خيال دی؟ يو ځوان ځواب ورکړ: مشکل دادی چې زموږ ملت اوس هم د ملي کار او د مقاومت له اساسي عناصرو څخه بې برخې دی او د دې لپاره د چمتووالي او قربانيو سطحه اوس هم کمه ده. عبدالرحمن په حيرانتيا سره پوښتنه وکړه: ته په کوم اساس دا خبره کوې؟ ځوان ځواب ورکړ: لکه څنګه چې لوی

لوی مهم اسلامي مسايل لکه مسجد اقصی، اوله قبله او دريمه د حرم مقدس مسله ده چې د ډيرو قربانيو او مبارزې غوښتنه کوي خو د ملي کار سطحه له دې معيار نه ډيره کمه ده او د خلکو چمتووالی له دې سطحې نه يو ميليون ځله کم دی.

عبدالفتاح دوباره د بحث په توګه وويل: خو تا نه دي اوريدلي چې په غزه، شمال لويديځه غاړه، منځنی لويديځه غاړه، يروشلم، الخليل او کليو کې فدايي فعاليتونه روان دي؟ ځوان يې خبره غوڅه کړه او ورته يې وويل: هو ما اوريدلي دي خو دا هر څه له مطلوبې کچې نه ډير کم او معمولي دي، آيا ته نه وينې چې يهوديان څنګه په الخليل ښار کې ګرځي را ګرځي او له شاذ أو نادرو نه پرته هيڅوک اعتراض نشي پرې کولی؟ سيلانيان څنګه حرم ابراهيمي زيارت ته راځي اويهوديان هلته ازادانه ګرځي را ګرځي؟ دوی څنګه په الخليل کې کاروبارونه کوي او په ورکشاپونو کې د اوسپنې او لرګيو کارونه کوي؟ او زموږ خلک له دوئ سره داسې چلند کوي لکه دوی چې هيڅ اشغالګر او زموږ د ځمکو او مقدساتو غاصبين نه وي.

عبدالرحمن په مداخلت کولو سره وويل: يقيناً، د جنګ د مخته بيولو لپاره فقط ملي جذبه کفايت نکوي او پکار ده چې... عبدالفتاح د هغه خبره غوڅه کړه او ويې ويل: وروره زموږ دا ملت هر وخت خپله ځمکه ساتي او هيڅکله ماتې نه مني.

ځوان بيا وويل: زه تاسو ته هغه کيسه کوم چې له ما سره شوې ده، کله چې اسرائيلو الخليل اشغال کړ نو زه هلته وړوکی وم او ما يو يهودي وليده چې يوازې په سړک روان دی نو ماته غصه راغله او يو کاڼی مې راواخيست او يهودي مې پرې وويشت او بيا په تيښته د ونو شاته پټ شوم. يوه شيبه وروسته ما ګمان وکړ چې يهودي به تللی وي نو ما د خپل ګاونډي غږ واوريده: جماله، جماله! راځه هغه تللی دی. کله چې زه له ونو څخه راووتم نو هغه يهودي د کور شاته پټ

شوی ؤ، هغه زما طرفته راغی او خپله توپانچه یې زما په سر ونیوله او زما د ویرولو کوښښ یې وکړ تر څو زه بیا داسې حرکت ونکړم. زه پوه شوم کله چې ما په هغه باندې د کاڼي ګزار وکړ نو هغه د ګاونډیانو دروزاه ټکولې وه او هغوی ته یې اخطار ورکړی ؤ چې که ما ورته ونه سپاري نو د دوی کور به تباه کړي او ماشومان به یې زندان ته یوسي. نو بیا د دوی یو ماشوم زه یهودي ته وسپارلم.
عبدالفتاح وویل: دا به کیږي. دا به کیږي خو بیا هم دا خلک سم دي او زموږ ملت سم دی، زه وایم چې زموږ ملت سم دی حتی چې هغه خلک هم سم دي. هغوی ښه خلک دي خو غریبان دي او د خپلو ګټو د ساتلو له امله ویریدلي دي یعنی د هغوی د قربانیو ظرفیت محدود دی او د یو اوږدمهاله عمل ضرورت دی چې... عبدالفتاح خپله خبره غوڅه کړه او ویې ویل: وروره د هیڅ عمل ضرورت نشته، هر چا ته پکار دي چې خپل فریضه اداء کړي خو موږ ولې په دې کار کې خبرې کوو؟ ماته پکار دي چې ولاړ شم تر څو خپله ورځ تېره کړم. هغه د خپلو جامو په خنډلو سره پورته شو او ویې ویل: هر کله راشئ ورونو اسلام علیکم! او د خپلو جامو په څنډلو سره روان شو، او ځوانانو د ونو په مابین کې خنداګانې او ټوکې کولې.
زما ورو محمد او زما د تره زوی ابراهیم د حسن له دینداري نه ډیر متاثره شول او هغوی هم لمونځ شروع کړ او په کرار کرار د لمانځه پابند شول او له حسن سره به یو ځای جومات ته تلل خو زه د دوی په شان نه وم . کله به مې لمونځ کاوه او کله به مې نه کاوه او کله کله به له دوی سره جومات ته هم تللم. کله کله به له دوی سره د لمانځه نه وروسته په جوړیدونکو حلقو کې هم کیناستلم چې هلته به خامخا په یوه دیني مسئله بحث کیده ، د قرآن تفسیر او د حدیث تشریح به بیانیدله او یا به د کوم کتاب مطالعه کیدله او د هغه وضاحت به یې بیانولو او یا به د سیرت نبوي خبرې کیدلې. کله کله به د ماښام له لمانځه وروسته چې زه له دوی سره په حلقه کې کیناستم نو دوی به هغه دعاګانې ویلې چې دوی به

ماثورات بللي او په اجتماعي شکل به یې ویلې، ما د دوی په شان نشوای یادولې نو له دې امله به مې له دوی سره داسې شونډې خوځولې ګویا که ماته ټولې یادې دي.

محمود د محمد او ابراهیم له دینداری څخه داسې ناخوښه ؤ لکه څنګه چې له دې وړاندې د حسن له دینداری څخه ناخوښه ؤ، هغه به اکثره له دوی سره کیناست او هغوی به یې په جومات کې له کیناستلو او هلته د فعالیتونو له کولو منع کول او دوی به یې اګاه کول چې د دوی منتظمین ټول اخوانیان دي او شیخ احمد اخونجي دی او اخوان د عبدالناصر خلاف دي، د عربو د اتحاد خلاف دي . د فلسطین د ازادی غورځنګ نه مني او وایي چې د فلسطیني انقلاب شهیدان «فطالیس» دي او شهیدان نه دي او په مقاومت او مسلحه مبارزه کې برخه نه اخلي. خو هغوی دریو یا په دوی کې به چې کوم یوازې و هغه به حیران شو چې دا ته څه وایې؟ زه جومات ته ځم، هلته کینم، او څه چې ویل کیږي هغه اورم خو هلته داسې هیڅ نشته چې کوم ته وایې؟ نو محمود به په غصه او لوړ غږ کې ویل: زه هغوی پیژنم، دوی اوس ټولې خبرې تاسو ته نکوي، اوس تاسو ته د دین، اسلام، رسول او لمانځه خبرې کوي او بیا به تاسو ته په ګرمو موضوعاتو خبرې کوي، نو په دوی کې به یوه تن په غصه وویل: پریږده وروره دا خبرې. ایا موږ تاته ماشومان ښکارو؟ زه چې څو ځله جومات ته تللی یم او په دې حلقو کې کیناستلی یم نو هیڅچا د سیاست خبرې نه دي کړې. او نه د فلسطین د مقاومت، د اشغال، د فلسطین د قضیې د تاریخ، نه د ازادی د غورځنګ، نه د شهیدانو او نه د بل چا اړوند خبرې کوي بلکې هلته فقط په دیني موضوعاتو خبرې کیږي.

خو ایا په دې موضوعاتو باندې په هغو ناستو کې خبرې شوې دي په کومو کې چې زه شریک نه وم. نو زه نه پوهیږم خو زه هم د کمپ د نورو ځوانانو په څېر په هغه وخت کې د ابو عمار یاسر عرفات لپاره په ډیر احترام قایل وم چې هغه د

فلسطیني انقلاب علامه ګرځیدلې وه، ما هغه خپل رهبر او مشر ګڼلو. موږ به هر وخت په لاریونونو کې د هغه عکس پورته کاوه او دا شعار به مو ورکاوه: بالروح بالدم نفدیک یا ابو عمار! او موږ به دا شعار د زړه له کومې او په پوره ایمانداری او جدیت سره ورکاوه.

خو ما محسوس کړه چې زما وړور حسن زما او د کمپ د نورو ځوانانو په شان نه دی ځکه کله به چې د ابو عمار نوم یاد شو نو هغه به زموږ په شان د جوش او جذبې ښکارندویي نه کوله او داسې به یې ګڼله لکه موږ چې یو عام کس یادوو خو له هغه نه مې د ابو عمار یا د فلسطین د ازادۍ د غورځنګ خلاف خبرې هم نه دي اوریدلې.

کله به چې د شهیدانو موضوع راغله او دا خبره به وشوه چې فلانی شهید شو نو هغه به کله کله ویل: الله تعالی ښه پوهیږي چې څوک شهید دی او څوک نه دی، دا د نیتونو خبره ده. او د هغه صفا خبره هغه وخت ښکاره شوه کله چې د الجبهة الشیعیة د یوه تن د شهادت خبر راغی او هغه وویل: چاته معلومه ده چې هغه شهید دی؟ کیدای شي هغه اصلاً په خدای ایمان نه درلود او ملحد وي نو هغه څنګه شهید کیدای شي؟ محمود پرې غصه شو او په چیغه یې ورته وویل: ته څوک یې او ستا ټول مشائخ څوک دي چې دا فیصله وکړي چې فلانی شهید دی او فلانی شهید نه دی؟ تاسو په کورونو کې له خپلو میزمنو سره ناست یاست او په هغو خلکو فتواوې ورکوئ چې د وطن لپاره یې سرونه په لاسونو کې نیولي دي. حسن په غیر واضحو الفاظو یو څه وویل او په غصه کې پورته شو او لاړ. او کله کله به چې محمد او ابراهیم په داسې موقع حاضر وو نو هغوی به هم ووتل او مجلس به خراب شو. کله به چې عبدالحفیظ په داسې مجلس کې ګډون کړی ؤ نو بحث به ډیر ګرم ؤ، هغه به په دین او مشائخو باندې حمله شروع کړه او تر دې پورې به یې ویل چې اخوان المسلمین یوه پروژه ده ځکه هغوی له سعودي عربستان څخه معاش اخلي. له دې نه علاوه به ډیر فکري بحثونه کیدل.

حسن به په غصه کې په عبدالحفیظ باندې د ملحد او په الله تعالی د ایمان نه لرلو تورونه لګول او دا چې هغه د شوروي اتحاد ملاتړی دی چې هغوی په ۱۹۴۸! کې د اسرائیلو منځ ته راتلل لومړی په رسمیت وپیژندل.

د حسن ډیرې خبرې زما خوښې وې او زما د زړه تل ته به ښکته کیدلې خو زه د هغه په ځینو دریځونو نه پوهېدم او ما به د هغه کمزوري هغه وخت درک کوله کله به چې په ملي قضیه کې د اسلام پالو رول، په مسلح جنګ کې د هغوی رول او د وطن لپاره د ځان قربانوونکو شهیدانو خبره راغله او هغه د فلسطین د ازدی د غورځنګ (PLO) په اړه مبهم دریځ درلود.

یادونه: المنظمة التحریر الفلسطینیة (PLO) یو ملي غورځنګ دی چې د فلسطیني عوامو استازیتوب کوي، د دې غورځنګ اساس په ۱۹۶۴ کال کې کیښودل شو او مقصد یې د فلسطینیانو خپلواکي او د هغوی د حقوقو د لاسته راوړلو لپاره کوښښ کول دي.

... په دې قضیو کې د حسن، محمد او ابراهیم مجبوري څرګنده وه او دوی د نورو خلکو په خپل دریځ باندې د قائل کولو نه عاجز ول ځکه دوی خپله هم نه پوهیدل چې په دې قضیو کې زموږ دریځ څه دی؟ داسې معلومیده چې دوی له شیخ احمد نه په دې هکله پوښتنه کړې وه او هغه ورته ویلي وو چې په راتلونکو ورځو کې به د جومات په ناستو کې په دې اړه خبرې کوو.

څو ورځې بعد ماته محسوسه شوه چې دوی غواړي ما هم له ځان سره د ماښام لمانځه لپاره جومات ته بوزي ځکه عموماً به د دوی ناستې د ماښام او ماخوستن په مابین کې کیدلې نو زه له دوی سره لاړم. موږ په شیخ حامد پسې لمونځ وکړ چې دا وخت هغه ډیر سپین ږیری شوی و او غږ یې په مشکله اوریدل کیده. جومات له نارینه وو، ځوانانو او ماشومانو نه ډک شو چې دا بالکل د هغه وخت برعکس و کله به چې زه له خپل مرحوم نیکه سره راتلم. له لمانځه وروسته ډیری خلک لاړل او تقریباً د پنځوسو ځوانانو یوه لویه حلقه جوړه شوه. شیخ احمد

کیناست او د الله تعالی په ثنا او په نبي علیه السلام باندې د درود شریف په ویلو سره یې خبرې پیل کړې. بیا هغه په ځمکه کې د انسانانو د رول او د الله تعالی د عبادت په اړه خبرې شروع کړې او د ربعي بن عامر یو څرګند مثال یې ورکړ چې حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د استازي په توګه د قادسیې له جنګ نه وړاندې رستم ته ورلیږلی و چې هغه د فارسي فوځ قوماندان و. کله چې رستم له هغه نه پوښتنه وکړه چې تاسو د عربو له جزیرې نه زموږ سره ولې د جنګ لپاره راغلي یاست ؟ نو ربعي بن عامر ځواب ورکړ: موږ تاسو لره د بنده له بنده ګي څخه د الله د بنده ګي په طرف، د ادیانو له ظلم څخه د اسلام د عدل په طرف او د د نیا له تنګي څخه د دنیا او اخرت د پراخي په طرف د وباسلو لپاره راغلي یو.

شیخ احمد په تفصیل سره وضاحت وکړ چې زموږ د خلکو لپاره په اوسنیو حالاتو کې د دې پیغام درک کول ستونزمن دي په داسې حال کې چې زموږ ملت او ځمکه اشغال شوي دي خو دا یوازینی د ازادی او خلاصون لاره ده خو خلک پرې نه پوهیږي او شاید د دې خلاف هم شي لکه څنګه چې نبي علیه السلام د مکې خلکو او عربو ته د اسلام دعوت ورکاوه او هغوی ته یې د عزت او لوړوالي خبرې کولې خو هغوی نه پوهیدل او د هغه خلاف راپورته شول خو اخر هم ثابته شوه چې د عربو عزت په اسلام کې دی او همداسې وشول.

بیا هغه په اسلام کې د شهید په تعریف باندې وغږیده چې شهید هغه څوک دی چې د الله تعالی د کلمې د لوړوالي په خاطر وجنګیږي نو هغه د الله په لاره کې شهید دی او همدا د شهید شرعي تعریف دی او په خلکو کې چې د شهید کوم رواج دی هغه بل څه دی. هغه د اسلامي ټولني د څرنګوالي په اړه په ډیرو مفاهیمو خبرې وکړې، ګویا که هغه د ملاحظاتو په اړه نخبرې کولې. د فلسطین د ازادی غورځنګ (PLO) د فلسطین د ملت یوازینی نمائنده دی خو دا خبره یې په ښکاره ډول نه بلکې په اشارو کې وکړه.

شیخ حامد راغی او د ماخوستن اذان یې وکړ او موږ د لمانځه لپاره پورته شو. شیخ حامد د امامت لپاره احمد مخې ته کړ، هغه خلکو ته امامت وکړ او په لمانځه کې یې د سورة اسراء لومړني ایاتونه تلاوت کړل، هغه به په لمانځه کې ځینې الفاظ او کلمې بیا بیا تکرارولې گویا که هغه د لمانځه نه مخکینی درس تکمیلوي چې د هغه موضوع «عبداً لنا اولي بأس شدید» وه. ما درک کړه چې شیخ احمد په څرگند ډول د اشغال په خلاف د مبارزې په موضوع باندې له خبرو نه ډډه کوي او دې موضوع ته د اشارې کولو کوښښ کوي تر څو د اشغالگرو له طرفه د نیولو او د خپل پیغام د خورولو له خنډ څخه وساتل شي.

حسن، محمد او ابراهیم له جومات نه خوشحال راووتل او د راستنیدو پر مهال هغوی د شیخ له خبرو نه د رضایت او قناعت څرگندونه کوله او د هغه ستاینه یې وکړه خو زه نه پوهیدم چې د دوی د شیخ کومه خبره خوښه شوه؟ حال دا چې د شیخ خبرې ښکلې او اثر غورځونکې وې خو په دې خبرو کې د محمود او عبدالحفیظ له حسن سره په خبرو کې د شپیو سوالونو واضح ځوابونه موجود نه وو.

په کمپونو کې د ژوند کیفیت په ښکاره ډول د ښه کیدو خوا ته روان وو ځکه د اکثرو کورنیو یو یا دوه کسانو به په اسرائیلو کې کار کاوه او د پخوانیو وختونو یا د سعودي عربستان ، کویت او نورو هیوادونو په نسبت به یې ښه عاید ترلاسه کول، په هر کور کې به رادیو او په اکثرو کورونو کې به تلویزیون موجود و. اکثره کورنۍ د برق په سیستم کې داخلې شوې، زموږ په کور کې یوه ښه رادیو وه او موږ د برق او اوبو په سیستم کې ځانونه داخل کړل خو تراوسه پورې زموږ په کور کې تلویزیون، یخچال او د گازو انغرۍ نه ؤ خو له دې سره سره زموږ حالات د ډیرو کورنیو څخه ښه و چې هغوی تراوسه پورې په ستونزمن حالت کې ژوند تیراوه.

مهمه خبره دا وه چې له هجرت نه وروسته په دوو لسیزو کې د کمپ ابادي په حیرانوونکي ډول زیاته شوه او په کورونو کې د اوسیدونکو ظرفیت پاتې نشو ځکه ډیری خلک چې هغه وخت ماشومان ول او یا له هجرت نه وروسته پیدا شول؛ هغوی اوس ځوانان وو ، ودونه یې کړي وو او ماشومان یې هم پیدا شوي وو. په هر کور کې به یو یا زیات واده کړي ورونه وو او د کمپ وار له مخه ډک شوي کورونه د چرګانو د بکسونو په څېر ښکاریدل. هغه وخت د حکومت فوځي چارواکو لخوا د استوګنې د پلان په هکله خبرې شروع شوې وې چې تر مخه یې کوم خلک چې خپل کور پراخول غواړي هغوی کولی شي چې د استوګنې په پلان کې نوملیکنه وکړي او معمولي فیس ورکړي خو په دې شرط چې د کمپ کور به ړنګوي او همدارنګه هر واده کړي شخص ته به په نوي میشت ځایونو کې یوه کوټه ورکول کیږي.

دا معامله د کمپ د اوسیدونکو لپاره د سخت بحث سبب شوه او په هره تجمع، ملاقات او سفر کې به په دې معاملې خبرې کیدلې او خلک به د مخالف او ملاتړي په ګروپونو وویشل شول. ملاتړو به دا نظر وړاندې کاوه چې موږ باید له واقیعتونو سره موافقت وکړو ځکه موږ خو ټول عمر په کمپونو کې د چرګانو په شان ژوند نشو کولی، زموږ د زیاتیدونکي نسل له امله په کورونو کې ځای نشته او د دې ستونزې هیڅ حل هم نشته او نه موږ دومره وس لرو چې ځمکه واخلو او کور پرې جوړ کړو ځکه د دې لګښت زموږ له توان نه پورته دی. مخالفینو به دا ویره څرګندوله چې له کمپونو څخه ابادۍ ته د وتلو له امله به د مهاجرینو موضوع ختمه شي او د اشغال دا مقصد دی چې مهاجرین په محلونو کې اباد کړي او د هغوی موضوع ختمه شي. بحثونه به روان وو خو دا پروژې تر اوسه پورې یو خیال وو چې عملي شکل یې نه و پیدا کړی تر څو د یوه جانب رایه او یا د هغه برعکس ثابت شي.

د محمود او حسن له ودونو مخکې ماته ملومه نه وه چې د کاسمیتیکس (د سنګار توکي) په نوم کوم شی شته، زما مور به هم د کمپ د نورو میرمنو په څېر د سنګار توکي نه کارول او د خوښیو په وختونو کې به یې له مخ نه د ویښتانو د پاکولو او وریځو د برابرولو نه بغیر نور څه نه کول او له دې سره سره به دوی ښایسته ښکاریدې. او داسې به څوک وي چې هغه د سینګار سامان ولټوي په داسې حال کې چې خپلو زامنو ته ډوډۍ نشي پیدا کولی او ماشومان یې د غوښې خوند هم نه پیژني؟ او یا د هغو میوو نومونه او اقسام هم نه پیژني چې فقط د بیولوژي په کتابونو کې یې لیدلې دي.

کله به چې د کومې انجلۍ واده شو نو ښځو به هغه سینګاروله او یو څه د سینګار توکي به یې اسعمالول خو په دې نه پوهیدل چې د کاسمیتیکس په نوم یو څه شته. خو د محمود او حسن له ودونو وروسته او کله به چې زه د دوی کوټو ته ور دننه شوم نو په سینګار مېز باندې به مې څه بوتلې او قوطي ولیدل نو زه پوه شوم چې کاسمیتیکس دي خو داسې ښکاریده چې دا توکي یوازې د ودونو او خپلوانو د راتګ په مهال استعمالیږي او په دې وختونو کې به د کمپ په کوڅو کې یوه زنانه هم داسې نه ښکاریده چې سینګار کړې به روانه وه.

دا حقیقت و چې ډیرو میرمنو به سرونه هم نه پټول او ځینو به پټول خو د سینګار توکي مشهور نه وو تر دې پورې چې د خلکو د اقتصاد له ښه کیدو سره هم دا توکي رواج نشول. مور ته نه معلومیده چې په دې برخه کې به لوی بدلونونه راغلي وي خو په دې کې شک نه و چې ځینو میرمنو د دې استعمال شروع کړی و خو په محدود شمېر کې.

د کمپ انجونې به بغیر له سینګار او اساسي ارائش لکه د ویښتانو پاکوالی او وریځو برابرولو نه په خپل طبعي حالت کې وې خو له دې سره سره به هغوی د سپوږمۍ په شان ښایسته ښکاریدې او په اکثرو کې به حیاء اوج ته رسیدلې وه. که چا به کومه پوښتنه ترې وکړه نو سترګې به یې ځمکې ته ښکته شوې او که

کله به يې سترګې له کوم ځوان سره مخامخ شوې نو سمدستي به يې ښکته کتل او د هغوی انګي به سره شول چې له امله به يې ښايست نور هم زيات شو.
خليل چې د همسايه کورنی يو هلک و يوه ورځ د کمپ له يوې انجلی سره د سترګو لګيدلو نه پس ترې متاثره شو. هغه ته احساس وشو چې له هغې انجلی سره يې مينه پيدا شوې ده او دا هم ورته معلومه شوه چې انجلی هم له هغه سره مينه لري. هغه به هر وخت د هغې مکتب ته د تګ او راتګ په وخت کې انتظار کاوه خو هغه جرائت نشو کولی چې هغې ته نږدې ورشي او يا يو لفظ ورته ووايي. هغه به فقط د ليرې نه په ليدلو سره خوشحاله شو او کله به چې هغې نظر ښکته کړ نو دده به يقين راغی چې له ده سره هم مينه کوي او دا هيله يې پيدا شوه چې کله هغه خپلې زده کړې پوره کړي او يو کار پيدا کړي نو د هغې له کورنی څخه به يې وغواړي.
ځينو ځوانو هلکانو او انجونو به د خط په واسطه يو له بل سره د مينې اظهار کاوه او ځينو انجونو به د خطونو ځواب هم ورکاوه. د کمپ اکثرو ځوانانو او انجونو به د کمپ د سختو اصولو او مقرراتو لاندې ژوند کاوه او له دې معاملو څخه د ليرې اوسيدو کوښښ به يې کاوه. زموږ د مور د سختو لارښوونو او اعلی روزنې په مټ موږ له دې کارونو څخه ډير ليرې وو خو داسې ښکاريده چې ځينې ځوان هلکان او انجونې له دې حدودو څخه تېر شوي دي او دا معاملات ورته لوبې کول ښکاري.
يوه ورځ زه د سمندر له غاړې بيرته کور ته را روان وم نو ما وليدل چې زما د تره زوی ابراهيم له جومات نه بيرته کور ته روان دی او زموږ د ګاونډ يوه شوخه انجلی د کور له دروازې سره ناسته ده. کله چې هغې ابراهيم وليده چې له شرمه ښکته ګوري نو هغې له شوخي نه ورته ووېل: ای صاحبه! زما طرفته خو هم ګوره. لاندې ولې ګورې؟ د ابراهيم مخ له شرم نه سور شو او قدمونه يې ګړندي شول ګويا که هغه له اوږده قيد نه تښتي. دا خيره د ابراهيم لپاره ډيره شرمناکه وه

او ما هغه تهدید کړی و چې که چیرته له ما سره چالاکي وکړي نو زه به یې دا خبره د تره میرمن (زما مور) ته ورسوم.

د ۱۹۷۳ په جنګ کې له فتحې سره سره د فلسطینیانو لپاره کوم عملي بدلون رانغی خو زموږ په احساساتو کې دا یو ستراتیژیک بدلون و. دا سمه ده چې موږ اسرائیل له فلسطین څخه ختم نشو کړای، نه موږ خپلو کلیو او ښارونو ته ستانه شو چې زموږ خلکو ترې په ۱۹۴۸ کې هجرت کړی وو، نه په ۱۹۶۷ کې اشغال شوې لویدیځه غاړه، غزه، جولان او د سینائي سیمې ازادې شوې... خو له دې سره سره چې کوم څه عملاً شوي وو هغه دا وو چې مصري فوځ نهر سویز او د بار لیو له کرښې تېر شو او موږ د اسرائیلي فوځ له شکست نه مکمل مطمئن شولو، موږ هغه وخت یقین وکړ او له زړه مو دا ومنله چې اسرائیل او د هغوی د نه ماتیدونکي فوځ قصه د عربو د عظیم فوځ د ارادو په مخ کې ختمه شوه، هغه که د مصر محاذ وي او که د شام محاذ وي، زموږ سرونه له فخر نه اوچت وو.
خو زموږ دا احساسات هلته په تدریجي ډول بدل شول کله مو چې د مصر صدر سادات د اسرائیلو سره د امن د لوظنامې خبرې واوریدې، موږ هغه وخت ټکان وخوړ چې کله موږ واوریدل چې هغه د اسرائیلو پارلمان (کنسټ) ته د تللو لپاره تیار دی، زموږ حیرانتیا هغه وخت اوج ته ورسیده چې کله موږ د سادات د یروشلم سفرونه او په کنسټ کې د هغه د وینا خبرونه واوریدل. زموږ سره په کور کې تلویزیون نه و نو ځکه مو هغه صحنې ونه لیدلې خو په رادیو باندې د دې واقعې پوښښ زموږ لپاره کافي و، په دې پوهیدل ستونزمن و چې دا هر څه حقیقت دی او که یو خیال دی؟ دې ټکان شاید ټوله دنیا متاثره کړې وي ځکه د مختلفو نظامونو په مابین کې تضادات او اختلافات سخت او ژور وو.
د فلسطینیانو په حیثیت موږ په کامل ډول د سادات او کمپ ډیوډ د لوظنامو مخالف وو، او موږ به په ځانګړې توګه د هغو مخالفو اژانسونو خبرونه اوریدل چې له بغداد څخه به نشر کیدل. زموږ د کورنۍ لپاره لویه واقعه دا وه چې مصري

پوهنتونونو د فلسطیني محصلینو لپاره خپلې دروازې بندې کړې چې لامل یې د اسرائیلو او سادات د امن لوظنامې مخالفت کوونکي د فلسطین د ازدۍ په غورځنګ کې د ننه سخت اختلافات وو. د دې په نتیجه کې ځینو فلسطینیانو مشهور خبریال « السباعي» ووژه. له دې نه وروسته مصري حکومت له فلسطینیانو سره روابط محدود کړل چې په هغو کې د فلسطیني لیسو څخه د فارغ شویو محصلینو په مصري پوهنتونونو کې داخله نه ورکول هم شامل وو.

په همدې کال کې زما ورو محمد هم ثانوي زده کړې تکمیل کړې او هغه ته د مصر په پوهنتون کې داخله کول پکار ؤ او په دې وخت کې د هغه لپاره زموږ اقتصادي حالت هم ډېر مناسب و. له محمد سره څو لارې وې چې زده کړې چیرته وکړي خو بالاخره هغه پریکړه وکړه چې هغه د لویدیځې غاړې رام الله ښار ته نږدې د بئر زیت په پوهنتون کې داخله وکړي. هغه هلته لاړ او په پوهنتون کې یې د داخلې غوښتنلیک ورکړ او قبول هم شو او د ساینس په فاکولته کې داخل شو. هغه د نوي کال له درسونو سره په رام الله ښار کې د نورو محصلینو سره یو اپارتمان په کرایه ونیوه او هلته به اوسیده. محمد به هره میاشت یو ځل کور ته راتلو. یو څو ورځې به یې له موږ سره تیرې کړې او بیا به رام الله ته ولاړ.

په اشغال شویو سیمو او په ۱۹۴۸ کې په نیول شویو سیمو کې فدایي عملیات روان وو خو په دې عملیاتو کې ډېر کمبود راغی. ملي فعالیتونو اکثره سیاسي، انقلابي، او ټولنیز شکل غوره کړ. اسرائیلي چارواکو په لویدیځه غاړه کې د ښاروالیو د انتخاباتو اجازه ورکړه او په بیلابیلو سیمو کې سیاسي چوکاټونه رامنځته شول تر څو په انتخاباتو کې برخه واخلي.

په الخلیل کې د فتح غورځنګ نمائنده ګانو چې مشري یې فهد القواسمي کوله د اخوان المسلمین او نورو سره د شیخ الجعبري په خلاف اتحاد وکړ چې هغه په لویدیځه غاړه کې د اردن د واکمني او اسرائیلو د اشغال په دوران کې د ښاروالۍ صدر ؤ. کله چې شیخ الجعبري ولیدل چې د هغه د ګټلو امکانات کم دي نو

هغه له انتخاباتو څخه لاس په سر شو او انتخابات فتح/ اخواني اتحاد وګټل او د ښاروالی شورا يو فکري او سياسي شکل غوره کړ. د لوپديځې غاړې په نورو ښارونو کې هم ملي استازو او مشهورو ملي شخصيتونو لکه په نابلس کې بسام الشکعه انتخابات وګټل. په هغه وخت کې د لويديځې غاړې په مختلفو ښارونو کې بيلابيلې مسلکي اتحاديې جوړې شوې لکه د انجنيرانو ټولنه، د ډاکټرانو ټولنه او د وکيلانو ټولنه... او وخت په وخت به د مديرانو د ټاکلو لپاره په دوی کې انتخابات ترسره کيدل. په دې ټاکنو کې به د مارکسي يساري او فتح تر منځ مقابله کيدله. بيا له دې وروسته اسلامي تحريک رامنځته شو چې هغوی به اکثره د مارکسي يساري په خلاف له فتح سره اتحاد کاوه او په ځينو ځايونو کې به يې په خپله هم په ټاکنو کې برخه اخيستله. همداسې فعاليتونه په پوهنتونونو کې هم پيل شول لکه په نابلس کې د النجاح ملي پوهنتون، د رام الله سره نږدې د بئر زيت پوهنتون او الخليل پوهنتون چې په ښار کې يې د شرعي کالج نه پرمختګ کړی و.

هغه وخت د ۱۹۷۰ لسيزې په اخر کې چې کله د غزې د محصلينو پر مخ د مصر د پوهنتونونو دروازې وتړل شوې نو د غزې ښار خو مهمو شخيصتونو په شريکه د غزې په تړانګه کې د يو پوهنتون د جوړولو فيصله وکړه او د دې کار لپاره يې له اسرائيلي چارواکو سره رابطه وکړه خو هغوی دا اجازه ورنکړه، خو په دې خبره باندې اتفاق سخت کار نه و ځکه په غزه کې د الازهر ديني انستيټيوټ په ثانوي ښوونځي کې د ماښام په وخت يو پوهنتون خلاص شوی و چې هغه د دې انستيټيوټ تسلسل معلوميده او بيا په کرار کرار په خوريدو شو او په پوهنتون بدل شو. خو هغه پوهنتون اسرائيلو هيڅکله نه منلو بلکې هر وخت به محاصره او له ستونزو سره مخ و.

دغو شخصيتونو د پوهنتون د خلاصولو په موخه په بهر هيواد کې د فلسطين د ازادی له غورځنګ سره تماسونه ونيول او د فلسطين او بهرنيو هيوادونو د

مشهورو شیخصیتونو سره یې هم رابطې وکړې تر څو په غربي هیوادونو کې د پوهنتون لپاره مالي کومک ترلاسه کړي. او لکه څنګه چې د مصر او اسرائیلو په مابین کې د کمپ ډیوید لوظنامې عملي جامه اغوستې وه نو اسرائیلو په ۱۹۶۷ کال کې په اشغال شویو سیمو کې د خپل ښه انځور د ښودلو کوښښ کاوه او په کمپ ډیوید لوظنامې کې د شامل شوې خپلواکۍ د چمتوالي په خاطر یې تش په نوم «ښاري اداره» جوړه کړه چې د یوې مرحله وارې خپلواکۍ د قیام لپاره د فوځ له رهبري څخه د سیمو د اداره کولو مسؤلیت واخلي.

ښاري اداره د فوځي حاکمیت لپاره فقط یو توی نوم و او بدلونونه هیڅ نه ښکاریدل خو د یو څه کنټرول شوي سیاسي اظهار د فرصتونو له برابریدو سره دا محسوس کیدله لکه چې مخکې اشاره ورته شوې ده. په دې وخت کې اسلامپال متحرک شول او د ادارو او اتحادیو د خلاصولو غوښتنلیکونه یې ورکړل. د عثماني قانون سره سم دوی ته اجازه ورکړل شوه لکه اسلامي اتحادیه، د ځوانانو اتحادیه، اسلامي معاشره، خیریه ادارې، کلبونه او د طبي کلینیکونو په واسطه دوی خلکو ته د خدماتو وړاندې کول شروع کړل او په همدې توګه د اسلامپالو د فکر خوریدل پیل شول.

زما خور تهاني په دې وخت کې د معلماتو له انستیتیوټ نه فارغه شوه او څه وخت وروسته د پنا غوښتونکو په یو کمپ کې یې د ملل متحد په یو امدادي ښوونځي کې د ښوونکې په توګه دنده پیل کړه. څه وخت وروسته یې له یو نېک ځوان سره واده وکړ او په خپل ژوند کې ډیره مطمئنه او خوشحاله وه.

دیارلسم څپرکی

تعلیمي کال ختم شو او په الخلیل کې د طارق بن زیاد ښوونځي محصلین د اخر کال په ازموینو کې شریک شول. د پایلو اعلان وشو او د ثانوي زده کړو تکمیل کوونکو محصلینو د خپل راتلونکي د امکاناتو لټون شروع کړ، ځینو په الخلیل

کې د شرعیاتو لپاره اراده وکړه، ځینو د سعودي عربستان په پوهنتونونو کې د زده کړې ترلاسه کولو پلانونه جوړ کړل او ځینو د اردن پوهنتونونو ته مخه وکړه.
زما د ترور د خاوند ارمان و چې هغه د اردن په پوهنتون کې زده کړې وکړي خو هغه پوهیده چې وخت یې له لاسه وتلی دی او مصروفیات یې دومره ډیر شوي دي چې هغه د زده کړو لپاره وخت نشي پیدا کولی نو ځکه هغه د خپل ورور عبدالرحمن د زده کړو په مکمل کولو سره د خپل ارمان د پوره کولو اراده وکړه.
هغه له عبدالرحمن سره په جامعه اردنیه کې د زده کړو ترلاسه کولو په هکله خبرې وکړې او عبدالرحمن موافقه ورسره وکړه ځکه د هغه هم دا ارمان و په ځانګړې توګه په شرعیاتو کې د زده کړو کولو. دا خبره د هغه د ملګري جمال له خواهش سره هم ملګرې شوه چې له هغه سره یې د صوریف په کلي کې د غره په لمن کې ملاقات او خبرې اترې کړې وې. دواړو ته د جامعه اردنیه په شرعیاتو کې داخله ورکړل شوه. د تعلیمي کال له پیل نه وړاندې دواړه عمان ته روان شول او هلته په رسیدو سره دوی له نورو محصلینو سره یو ځای د المهاجرین په سیمه کې یو کور په کرایه ونیوه. المهاجرین یوه عامه ساحه وه چې هلته ځینې فلسطینیان هم اوسیدل. په پوهنتون کې د دوی لپاره یوه نوې دنیا راغله چې د عبدالرحمن لپاره له صوریف نه، د جمال لپاره د الخلیل نه او یا د دواړو لپاره د طارق بن زیاد ښوونځي نه مختلفه وه.
فکري ژوند، سیاسي اختلافات، ټولنیزه ازادي او د ژوند د فعالو او مؤثرو اشخاصو قابلیت او ظرفیت دا ټول د دوی له سابقه ژوند نه ډیر مختلف وو. د شرعیاتو په پوهنځي کې چې دوی زده کړې کولې، د انجونو زده کوونکو د حجاب سطحه بهتره وه خو په پوهنتون کې عمومي ژوند د الخلیل د ټولنې له ژوند نه ډیر ازاد و ، په ځانګړې توګه د صوریف په ځبر د لیرې پرتې سیمې په پرتله.

عبدالرحمن او جمال د خپل راتلونکي ژوند پریکړه وار له مخه کړې وه او په خپله تعلیمي دوره کې چې کله دوی په طارق بن زیاد ښوونځي کې زده کړې کولې ؛ دوی په اسلامي تحریک کې شامل شول او د اخوان المسلمین نظریات یې خپل کړل. دلته د عمان د پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې د اخوان المسلیمن یو څو مهمو مشرانو د استادانو په حیثیت کار کاوه چې په شرعیاتو کې یې د دوکتورا سندونه لرل. دلته جمال او د هغه ملګري له داسې خلکو سره ولیدل چې په دعوت او ټولینزو کارونو کې ماهر وو او د دوی له خیالونو څخه هم پورته وو، له همدې امله دوی د هغو محصلینو په فعالیتونو کې ډیر مشغول شول چې په هغوی کې سیاسي او فکري مبارزې شتون درلود.

د اردن په پوهنتون کې د محصلینو د اتحادیو د ختمولو فیصله شوې وه خو له دې سره سره د محصلینو فعالیتونه په جوش او جذبه کې روان وو. محصلینو د «جمعیات» په نوم ټاکنو کې برخه واخیستله او جمال د شرعیاتو پوهنځي د «جمعیت احیاء التراث» په ټاکنو کې برخه واخیستله او د اسلامي تحریک په نوماندانو کې شامل شو او کامیاب هم شو. دې ګوند د کلتوري، سیاسي او تعلیمي فعالیتونو په منظم کولو کې ونډه اخیستله لکه د تاریخي ځایونو د سفر او د حج او عمرې تنظیمول. یو کارمند د شیخ یوسف القرضاوي د «عالم و طاغیة» په نوم د تمثیل وړاندې کولو وړاندیز وکړ، ګوند دا خیال قبول کړ او د هغه د کامیابي لپاره یې ټول کوښښ وکړ، د یو تلویزیون رییس یې راوغوښت، تمرینونه او تکرارونه یې وکړل او کله یې چې تمثیل ننداریې ته وړاندې کړ نو ډیره زیاته کامیابي یې ترلاسه کړه او ډیرو استادانو د حیرانتیا او ستاینې اظهار وکړ. په دې وخت کې په افغانستان باندې د روسانو حملې د پوهنتون د محصلینو په فعالیتونو بد اثر وکړ، اسلامپالو محصلینو د افغان انقلاب او مجاهدینو په اړه خبرې شروع کړې او ځانونه یې د دې انقلاب یوه برخه وګڼل. په مسلمانو ځوانانو کې افغانستان ته د تګ او هلته له مجاهدینو او مسلمانانو سره د مرستو

خبرې شروع شوې. جمعيت احياء التراث د «عالم و طاغية» تمثيل له ګټې نه پنځه زره دينار افغان مجاهدينو ته عطيه کړل په داسې حال کې چې ټوله ګټه يې پنځلس زره ديناره وو.

د يهودي ميشت ځايونو تحريک په ټوله لويديځه غاړه کې پر مخ ولاړ، هر چيرته به د ځمکو غصب او د يهودي ميشت ځايونو قيام په نظر راتلل چې دا ځمکه يې خپل ملکيت بلله. دې کار ځايي خلک غصه کړل او د هغه وخت د ملي کميټيو مشران يې په لاريونونو، جلوسونو او د اشغال شويو سيمو په خلاف په رسنيزو کمپاينونو مجبور کړل.

دې واقعاتو زور واخيست او د کانو او اور لرونکو بوتلونو غورځولو فعاليتونه په زياتيدو شول، په ځانګړې توګه د لويديځې غاړې په ځينو کمپونو کې لکه د بيت الحم سره نږدې الدهشه کمپ او د يروشلم نه تر الخليل پورې په غځېدلې سړک باندې چې د ودانيو جوړونکو زورواکانو تګ راتګ پرې زيات وو. او په دې پېښو کې زياتوالی راغی. په دې دوران کې يهودي زورواکانو يو پټ افراطي ګروپ جوړ کړ او د قومي مشرانو د کميټې فعال خلک به يې ترور کول. د دوی سره به د ځايي ادارې د چاوديدونکو توکو ماهرينو مرسته کوله. دوی د ځينو شخصيتونو په هکله معلومات راټول کړل او د هغوی په موټرو يا ګيراجونو کې يې بمونه نصب کړل، اشغالګرو عسکرو پاتې نور بمونه پيدا کړل او هغه يې شنډ کړل. دې واقعاتو په اشغال شويو سيمو کې ګډوډي پيدا کړه او د هغې ورځې له سهار څخه د دې بمونو چاوديدل پيل شول چې له امله يې ځينې خلک ټپيان شول. فوځ د دې حالاتو په بهانه خپل فعاليتونه زيات کړل او د عامه فعاليتونو په کچه ډير شدت پيدا شو خو د دې برعکس د مسلح مقاومت په فعاليتونو کې د پام وړ کمولی راغی. د دې فعاليتونو له مرکزونو څخه يو د رام الله سره نږدې د بئر زيت پوهنتون هم و چې د دې واقعاتو په وخت کې د ملي فعاليتونو يو ښکاره مرکز و.

په داسې چاپېريال کې زما وروړ محمد رام الله ته ولاړ ځکه چې هغه د بئر زيت پوهنتون په ساينس کالج کې داخله کړې وه. دا يوه نوې نړۍ وه چې د کمپ له خوندي او بندې نړۍ او په عمومي ډول د غزې له نړۍ څخه يې په بشپړ ډول توپير درلود. په هغه وخت کې په بئر زيت پوهنتون کې يوه نجلۍ هم داسې نه وه چې سر يې پټ کړی وای، ټولو انجونو به ارايش کړی وو او له هلکانو سره يې په خبرو اترو، ټوکو ټکالو او د زيتون د ونو شاته ورکېدلو کې هېڅ شرم نه کاوه او دا يوه ډېره ازاده ټولنه وه ګويا که د لويديځ د ټولنې يوه برخه وي. د محمد لپاره په دې نوي ژوند کې ادغام کيدل خورا ستونزمن و ځکه چې هغه له دې وړاندې د غزې په کمپ يا الشاطئ کمپ کې داسې کومه بېلګه نه وه ليدلې او کومه روزنه چې هغه د ځان لپاره غوره کړې وه او هغه ديني اصول چې هغه خپل کړي وو؛ په دې ځای کې يې د هغه ژوند تقريباً ناشونی کړی و.

يو سړی چې د غزې په تړانګه کې د وسله وال مقاومت په پيښو کې لوی شوی وي او د فلسطين په صحنه کې د هر نوي بدلون په پام کې نيولو سره په ترسره کيدونکو لاريونو کې د نيواکګرو ځواکونو مقابله ورته ستونزمنه نه وي ځکه هغه چې څه ليدلي او تجربه کړي دي د دې پرتله دا پيښې کوچنۍ او ساده ښکاري. د بئر زيت ټول کورونه د زړو شاګردانو لخوا په کرايه نيول شوي وو نو ځکه د محمد لپاره هيڅ ځای نه و نو هغه او نورو ځوانانو په رام الله کې يو کور په کرايه ونيوه او په.دې توګه دوی هره ورځ له رام الله څخه بئر زيت ته سفر کاوه چې ډېر اوږد نه و او لګښت يې هم محدود و خو له دې امله هغه اړ شو چې ټوله ورځ د خپلې مطالعې له کوټې، استراحت او خوراک څخه ليرې تېره کړي او راتلونکو درسونو ته انتظار وکړي. په دې کور کې محمد ډېر متضاد او داسې شيزونه پيدا کړل چې نه يې خوښېدل. هغه د هغو شپږو ځوانانو له ډلې څخه يوازينی کس و چې د اسلامي لارښونو پابند و. په دوی کې د ځينو خيالات بيخي بدل وو، په دوی کې يو څرګند مارکسيست و او دا په هغه پوهنتون کې تر

لوړو لويه نظريه وه، دغه ځوان به په محمد او د هغه په عبادت او دين باندې له ملنډو وهلو نه ډډه نکوله چې له امله به يې ډيرې وختونه په کور کې د تاو تريخوالي،تعلق پرې کولو او نانديو پيښې رامنځته کيدې.

يو بل ځوان به له زده کړو سره هيڅ علاقه نه درلوده، ټول تمرکز به يې د نجونو په خبرو، د هغوی په ښکلا او د هغوی په اړيکو باندې وو، هغه به په دې ميدان کې د فتوحاتو کيسې کولې، ساعتونه ساعتونه به يې د مينې په ليکنو کې تېرول، په يو وخت کې به يې درې ځلورو انجونو ته خطونه ليکل او بيا به يې خطونه په لوړ اواز لوستل تر څو په کور کې يې هر څوک واوري. هغه د خپلو بې باکه خبرو هيڅ پروا نه کوله او د هغو کسانو پروا يې هم نکوله چې له ده به څخه به يې غوښتنه کوله چې له داسې خبرو نه ځان وساتي.

زموږ مالي وضعيت ډېر ښه و نو د مصارفو په برخه کې محمد ته کومه ستونزه نه وه خو هغه به هڅه کوله چې د کورنۍ له اوږو بار کم کړي، خو بيا هم هغه به اکثره د پوهنتون په رستورانت کې د غرمې ډوډۍ خوړله، په ځانګړې توګه په هغو ورځو کې چې ټوله ورځ به يې په پوهنتون کې د راتلونکو ليکچرونو په انتظار تيروله.

دا د هغو ورځو خبرې دي کله چې محمد د ماسپښين او ماذديګر او کله کله د ماښام په لمونځونو کې له ستونزو سره مخ و. په پوهنتون کې جومات نه و نو هغه مجبور و چې له پوهنتون نه بهر د زيتون له ونو سره نږدې لمونځ وکړي خو څه وخت وروسته هغه ته معلومه شوه چې په نږدې ښار ګوټي کې يو جومات شته اګر که هلته اکثره خلک عيسايان وو. له دې نه وروسته محمد په جومات کې لمونځ پيل کړ کله به چې هغه د درسونو په مابين کې وخت وموند. د حيرانتيا خبره دا وه چې هلته به د پوهنتون په لسګونو محصلين د لمانځه لپاره ورتلل او په اسلامي اصولو به يې عمل کاوه.

د دې متدينو ځوانانو ټولي له يو بل سره ډېره هماهنګي او مينه پيدا شوه په ځانګړې توګه په داسې يو چاپيريال کې چې د ديني خصوصيت سره په تضاد کې وي. کله به چې محمد له رام الله نه راستون شو نو کله کله به د ماخوستن د ښار په خاموشو کوڅو کې ګرځيده او د ماخوستن د اذان په اوريدو به جومات ته تللو او د ماخوستن لمونځ به يې کاوه. محمد د سيمې له ځينو اسلامي محصلينو سره ملاقات وکړ چې هغوی په پوهنتون کې د اسلامي ټولي اساس ايښی و، دوی به ټول يو ځای ګرځيدل،په نږدې جومات کې به يې لمونځ کاوه او د پوهنتون په کانټين (دوکان) کې به يې په يو مېز چای څښلو او د خپلو درسونو، د پوهنتون په کارونو او اسلامي فعاليتونو به يې خبرې اترې کولې. په بل مېز به د فتح ځوانان ناست وو چې د فتح ګروپ اساس يې ايښی و او په بل مېز به د جبهة العمل الطلابي شاګردان او شاګرداني ناستې وې چې د الجبهة الشيعية د محصلينو ګروپ وو. په هر مېز به د يو ګروپ محصلين ناست وو، هر ګروپ به د خپلو پروګرامونو پلانونه جوړول تر څو غير منظم محصلين له ځان سره شامل کړي او د خپل ګروپ د ملاتړ لپاره يې اماده کړي. هغوی به د هر پوهنتون د نارينه او ښځينه محصلينو ليستونه تيارول، د هغوی د فکري او سياسي تمايلاتو سره سم به يې د هغوی طبقه بندي کوله او داسې محصلين به يې خپل ګروپ ته دعوت کول چې تراوسه پورې په هېڅ تعليمي ادارې، ګروپ او غورځنګ کې نه وو. بيا به يې له دوی سره اړيکې نيولې او په خپل ګروپ کې به يې هغوی ته د دعوت لپاره خپله ستراتيژي ښودله. د بېرزيت پوهنتون په محصلينو کې زيات شمېر د ښځينه محصلينو وو او هر هغه د محصلينو تنظيم ته د دې طبقې ضرورت و چې غوښتل يې د محصلينو په مابين کې کار وکړي، که نه نو هېڅ کاميابي يې نشوای ترلاسه کولی. د الاتجاهات اليسارية لپاره په دې ميدان کې هيڅ ستونزه نه وه ځکه چې د هغه غورځنګ اکثره غړي ښځينه وې خو د يو اسلامي غورځنګ لپاره د ښځينه وو سره د کار کولو په مخ کې ډېر خنډونه وو.

د ځينو ښځينه محصلينو تمايلات اسلامي وو او د اسلامي بلاک ملاتړ يې کاوه خو هغوی فعالې نه وې او د اسلامي بلاک ټولو کارمندانو د محمد په شمول په دې خبره يقين درلود چې د انجونو سره د اړيکو جوړولو ضرورت دی تر څو هغوی هم په بلاک کې شاملې شي او يا د ملاتړ دعوت ورکړی شي. خو محمد چې د الشاطئ کمپ نه راغلی و او د سختو اصولو تربيت يې حاصل کړی و چې زما مور به بيا بيا ورته تکراراوه تر دې پورې چې موږ به هم ورته خبرې ورته کولې نو هغه د دې کار انجام ته د رسولو لپاره ډير کمزوری و. که له هغه نه به د درس يوې ښځينه محصلې د ليکچر، کتاب او يا مطالعې اړوند کومه پوښتنه وکړه نو د هغه مخ به سور شو، خولې به پرې راماتې شوې او ځمکې ته په کتو به يې لنډ ځوابونه ورکول لکه «هو» يا «نه» او يا د ځينو حروفو اضافه به يې ورسره کوله او سمدستي به روان شو.

ټولو خلکو د ټاکنو تياري شروع کړې وه، ټولو ګروپونو يا بلاکونو يو له بل سره خبرې کولې، يو ځای به بحثونه وو، بل ځای به مناظرې، د مسايلو تاريخ، حال او مستقبل او د هرې فرقې رول او د هغوی په اعتراضاتو او نظرياتو به بحثونه کېدل او د پوهنتون احاطه به له پوسټرو، بينرونو او شعارونو څخه ډکه وه او هر چا به د ښو پايلو د ترلاسه کولو کوښښ کاوه. د پايلو د شمېرلو نه وروسته الاتجاهات اليسارية تر ټولو زياتې رايې اخيستې وې خو د فتح او اتجاهات اليسارية په مابين کې نسبتاً کم فرق و. الاتجهات اليسارية د ډيرو رايو په اخيستلو سره د محصلينو سازمان جوړ کړ. اسلامي بلاک له توقع نه زياتې رايې ترلاسه کړې حال دا چې حجم يې تر ټولو کم وو.

محمد به معمولاً په هره مياشت کې يو ځل الشاطئ کمپ ته راتلو، د پنجشنبې په ماښام به راغی. د جمعې ورځ به يې زموږ سره تېره کړه او د هفتې په سهار به بيرته رام الله ته روان شو تر څو خپلې زده کړې او د محصلينو فعاليتونه جاري وساتي. جمال او عبدالرحمن د اردن په پوهنتون کې د شرعياتو د اخري کال

ازمويني خلاصې کړې وې او پايلو ته د انتظار نه بغير سمدستي لويديځې غاړې ته راستانه شوي وو. د جمال مور فکر کړی و چې د خپل زوی له فراغت نه وروسته به هغه ته يوه نېکه انجلۍ ګوري، له دې امله هغې فرصت نه ضايع کاوه او کله به يې هم چې هغه يوازې وليده نو د واده خبرې به يې ورسره کولې. جمال د لوړو زده کړو د حاصلولو لپاره د پوهنتون د تعليم د مکمل کولو خواهش درلود، هغه د خپلو زده کړو د جاري ساتلو په موخه پاکستان ته د تګ اراده کړې وه، هلته هغه نه يوازې خپلې زده کړې مکمل کولی شوای بلکې د افغانستان په مسئله کې يې هم معنوي ګډون کولی شوای، هغه که ډير معمولي ګډون هم وي ځکه هغه به په يوه نږدې سيمه کې وای.

د مور د فشار له امله هغه د واده تصور تر ډيره قبول کړی و، اخر په واده کې کوم خنډ دی؟ په داسې حال کې چې په دواړو شيانو کې هيڅ تضاد نشته. کله چې هغه د خپل سند د ترلاسه کولو لپاره پوهنتون ته لاړ نو په يوه کوټه کې ډير فارغين ناست ول، جمال ځان ته اجازت ورکړ چې ښي او چپ اړخ ته وګوري تر څو احتمالي راتلونکي ميرمن ولټوي. په يو کونج کې يوه انجلۍ ناسته وه چې د سپوږمۍ د ټکرې په شان وه، هغې په اسلامي لباس کې ځان پټ کړی و چې د هغې په عصمت او ښکلا کې يې نوره هم اضافه کړې وه او داسې ښکاريده ګويا که زړه خپل څښتن ته ويلي وي چې مقصد حاصل شو. يو وړکی ماشوم د هغې خوا ته په منډه راغی او هغې ښکل کړ او په غيږه کې يې ونيو. جمال سر وښوراوه او له ځان سره يې وويل: استغفرالله العظيم دا د هغې زوی دی نو دا خو واده کړې ښځه ده. هغه د خپلو مطلوبو معاملاتو د مکمل کيدو انتظار کاوه او په دې وخت کې يوه ميرمن ورته مخاطبه شوه: ايا ته جمال يې؟ هغه خپل نيم سر راپورته کړ او ځواب يې ورکړ: هو! څه خبره ده؟ هغه وپيژندله چې دا هماغه ميرمن ده چې يو څو شيبې مخکې يې ليدلې وه. هغې ورته وويل: زه ستا د

پوهنتون ملګرې انتصار يم او زما ماما حاجي حسن زما د کورنۍ له غړو سره خبره کړې ده چې هغه زما کوژدن له تا سره کول غواړي.
مور ستا په اړه ډير ښه اوريدلي دي او اوس زما د تره زوی له ما سره کوژدن کول غواړي چې هغه يو غير متدين انسان دی او زه يې نه خوښوم، هغه د شرم له امله چپ شوه. په دې وخت کې جمال خان ته اجازه ورکړله چې خپل نظر پورته کړي نو هغه خپلې مخې ته يوه باوقاره او حياناکه انجلۍ وليدله، هغه دوباره نظر ښکته کړ او په سور مخ سره يې وويل: په څه کې چې خير وي الله دې هغه وکړي. کله چې هغه کورنۍ او دوستانو ته راستون شو نو هغه ته په تاسف سره معلومه شوه چې له هغې سره د لويديځې غاړې هويت کارډ نشته چې د دې مطلب دادی چې که زه له هغې سره واده هم وکړم خو هغه په لويديځه غاړه کې نشي اوسيدلی او دا ژوند ډير سختوي. ډيرو خلکو له داسې انجونو سره ودونه وکړل چې اسرائيلي هويت کارډونه يې نه ول نو د هغوی ژوند د جهنم په څېر شو نو ځکه هغه د دې واده خيال پريښود.
کله چې هغه د پاکستان د سفر د اجازت نامې اخيستلو کوښښ وکړ نو د اردن امنيتي چارواکو هغه ته د اجازې ورکولو نه انکار وکړ ځکه هغه د يو مشهور اسلامي غورځنګ فعال کارمند و نو هغه مجبور شو چې الخليل ښار ته ستون شي او هلته دايمي کار او استوګنه غوره کړي. يوه ملګرې ورته د يوې انجلۍ په هکله وويل چې د اردن بوهنتون د تعليم او تربيې له څانګې فارغه ده، نو مور يې د هغې او د کورنۍ له غړو سره وکتل او هغه يې خوښه شوه. هغه په خوښۍ راستنه شوه او فيصله يې وکړه چې د انجلۍ د ليدلو لپاره به د هغوی کور ته ورځي. کله چې هغه کوټې ته د ننه شو نو د حياء له وجې د هغه سر ښکته شو او همداسې خوړند سر کيناست. هغه په کوټه کې په يوه څوکۍ کيناست او د خبرو اترو د پيل کولو کوښښ يې وکړ نو يوه بله انجلۍ او د هغې مور چې وار د مخه کوټې ته راغلې وې او جمال يې خپل راتلونکې زوم باله، هغې تعارف وکړ او

خبرې اترې شروع شوې چې پکې د حیاء او شرم د یخ ماتولو کوښښ وشو او د
الله تعالی په حکم سره دوی دواړه د ژوند ملګري جوړ شول.
ډیری محصلین چې شرعیات به یې ویلي وو په الخلیل کې په اسلامي خیریه
ټولنه کې به یې دنده کوله چې څو تعلیمي، پرمختیایي او ټولنیزې ادراې به یې پر
مخ بیولې.
جمال په جامعة رابطة الجامعیین ثانویة النموذجیة کې دنده غوره کړه چې هغه
په یوه نه یوه طریقه د فلسطین د ازادی له غورځنګ سره تړلې وه او د هغې تر
چتر لاندې زیات شمېر ادارو هم کار کاوه لکه پولي تخنیک انستیټیوټ او
څېړنیز مرکز. هلته جمال د دریم کال زده کوونکو ته د اسلامي کلتور تدریس
شروع کړ.
په دې ښوونځي کې کار کول او د مختلفو سیاسي او فکري سابقو لرونکو په
لوی شمېر کې تدریسي کارکوونکو په مابین کې کیدل؛ دې ځای ته یو سیاسي
شکل ورکړی و چې په ورځنیو موضوعاتو به بحث کیده او هر یوه به خپله رایه
وړاندې کوله او د نورو په رایو به یې خبرې کولې. جمال به اکثره د خپل فکري
ګروپ په استازولي سره دا پوښتنه څوابوله چې فلسطیني مقاومت ولې له اردن نه
وویستل شو؟ او ولې اخوان المسلمین په اردن کې د مقاومت ملاتړ ونکړ تر څو
د شاه حسین حکومت راوپرزوي؟ جمال به ځواب ورکړ چې دا خبره اسلامپالو
په پیل کې کړې وه چې دوی به هیڅکله د بد امني اله نه جوړیږي او سیمه به په
نا څرګند حالت کې نه اچوي او نه به په داسې کړنو لاس پورې کوي چې د
خلکو نظرونه د ځان په خلاف راوپاروي.
د غزې تړانګې د جبالیه کمپ په یوه کوڅه کې یو تنکي ځوان یو واسکټ
اغوستی و حال دا چې موسم هم ډیر سوړ نه و چې د چا شک پیدا شي، په سر
یې تور رومال اچولی و تر څو خپل هویت پټ وساتي، د خپل واسکټ په
جیبونو کې یې لاسونه اچولي وو تر څو د خپل یو دوست د انتظار کولو بهانه

وکړي. ناڅاپه يو فوځي جيپ نږدې ورته راځي او کله چې کوځې ته را رسيږي نو د خپل ملګري له طرفه يوه اشاره ورته کيږي چې د هدف ښارنه يې کوله، هغه له خپل جيب نه يو لاسي بم راوباسي او جيپ ته يې ور شړي او په منډه منډه له صحنې پنا کيږي خو هيڅ چاودنه نه کيږي. فوځيان خپل موټر دروي او هوايي ډزې پيلوي او ځوان تعقيبوي خو هغه په ځان خلاصولو کې کاميابيږي. داسې واقعات مخکښو مشرانو ته معلوم وو چې هغوی په مقاومتي ګروپونو خاصکر فتح کې شامل وو چې هغوی به يې مشري کوله او د يو لوی تشويش سبب شو.

په يو ملاقات کې زما د ورور محمود دوستانو د خپلو انديښنو ذکر وکړ نو محمود پوښتنه وکړه چې دا څه پيښيږي نو ايا دا د هغو خلکو په خوښه کيږي چې دغو ګروپونو ته وسلې ورکوي؟ ايا دا د فدايي عملياتو د ناکامولو يو شکل نه دی؟ ايا موږ ته دا حق شته چې د اسرائيلو د څارګرې ادارې شاباک لاسونه په دې کې ووينو چې هغوی قصداً زموږ ګروپونو ته دا خرابې وسلې راليږي؟ هلته د موجودو خلکو په دې رايه اتفاق وو چې د خبرې د تعقيب او تحقيق ضرورت دی تر څو د دې تر شا د واقعيتونو درک معلوم شي، په ځانګړې توګه بايد په زندان کې د قيدي ځوانانو سره رابطه وشي او معلومه شي چې له هغوی سره څه معلومات دي...

څوارلسم څپرکی

په دې وختونو کې په لبنان کې کورني جنګونه پيل شوي وو او نورو سيمو ته په پراخيدو وو. فلسطينيان هم د دې جنګ يوه برخه وو. د لبنان جنګ په اشغال شويو سيمو کې هم خپلې اغيزې وښودلې ځکه د هرې کورنۍ به په دې جنګ کې څه ناڅه برخه وه. فلسطينيان دوه ځلې وپاشل شول، لومړی ځل په ۱۹۴۸ کې د نکبه په مهال او دوهم ځل په ۱۹۶۷ کې د نکسه په مهال. د دې پايله دا شوه چې ډيرې کورنۍ وويشل شوې، د ځينو کورنيو غړي د لويديځې غاړې په کمپونو کې وو ، ځيني په لبنان کې. ځينې د غزې په تړانګه کې او ځينې د اردن

په کمپونو کې وو. له دې نه علاوه د هغو خلکو معلومات هم نه کیدل چې په دې کلونو کې د هجرت یا کاروبار لپاره راوتلي وو.

یادونه: نکبه عربي لفظ دی چې معنی یې تباهي یا آفت دی. دا اصطلاح په ۱۹۴۸ کې د فلسطین د عربو ابادي په لوی شمېر کې د شړلو او د بشري بحران د پېښې لپاره کارول کېږي چې د اسرائیلو د حکومت د جوړېدو پر مهال رامنځته شوه. د نکبه پر وخت تقریباً ۷۰۰۰۰۰ فلسطینیان له کورونو وشړل شول او د هغوې کلي او ښارګوټي تباه یا اشغال شول. دا ورځ هر کال په ۱۵ مئ باندې لمانځل کېږي چې د اسرائیلو د ازدۍ د اعلان نه یوه ورځ وروسته ده. د فلسطینیانو لپاره دا یوه یادګاري ورځ ده چې دوی پکې د خپلو ځمکو، کورونو او حقوقو د احیاء کولو اظهار کوي. نکبه د فلسطیني ملت د تاریخ او د هغوی د مبارزې یوه مهمه علامه ده.

نکسة: د ۱۹۶۷ د عربو ـ اسرائیلو جنګ ته اشاره کوي چې هغه ته «شپږ ورځنی جنګ» هم ویل کېږي. په دې جنګ کې اسرائیلو د اردن، مصر او شام پر ضد پرېکنده بریا ترلاسه کړې وه. په دې جنګ کې اسرائیلو په لویدیځه څنډه، د غزې په تړانګه، ختیځ یروشلم، جزیره نما سینا او ګولان هایټس باندې ولکه کړې وه.

... زموږ څوک نږدې خپلوان په لبنان کې نه و خو زموږ د ډېرو ګاونډیانو وروڼه، زامن او یا نور خپلوان هلته وو. دغو ګاونډیانو به خبروڼه اورېدل او نورو ته به یې ویل. د ځینو میرمنو زامن چې په انقلاب کې شامل شوي وو؛ هم لبنان ته تللي وو، دا میرمنې د خپلو زامنو په اړه فکرمندې وې او هر خبر به یې ډېر په غور اورېده تر څو د خپلو زامنو په اړه څه معلومات واوري. ستونزه دا وه چې په هغه وخت کې د تلیفون په واسطه اړیکه ممکنه نه وه او د لبنان د سفر لګښت لوړ او سخت و ځکه اسرائیلو له لبنان سره هیڅ سفارتي اړیکې نه درلودې او نه یې هم سرحدي لارې درلودې، له همدې امله به چې څوک لبنان ته تلل نو هغوی به د

اسرائیلو د څارګرې ادارې له ستونزو سره مخ کیدل. زموږ د یوې ګاونډۍ دوه زامن د لبنان په انقلاب کې شامل وو، دې میرمنې په دغو ورځو کې خپل حواس له لاسه ورکړي وو، هر وخت به خفه او رنګ به یې ژیړ و او ډوډۍ به یې نه خوړله چې له امله یې د هغې بدن کمزوری شو، په خوب او ویښه کې ډارونکو صحنو به د خپلو زامنو د ویرونکي برخلیک په اړه پریشانه کړه، د کوڅې میرمنو په هره ممکنه طریقه هغې ته د تسلي ورکولو هڅه وکړه تر څو له هغې سره د ژوند تیرولو یو څه توان پاتې شي او په عقل سره خپل شاوخوا حالات درک کړي او یو څه خوراک وکړي. د جنګ له دوام او اوږدیدو سره سره یوه ورځ سهار په کمپ کې د هغې د مړینې اعلان په داسې حال کې وشو چې د خپلو زامنو یې هیڅ خبر نه وو راغلی.

زما د تره زوی ابراهیم د لیسې نه تر فراغت وروسته له هغه سره دوه اختیارات وو، یا باید هغه د لویدځې غاړې په کوم پوهنتون مثلاً النجاح یا بئر زیت پوهنتون کې زده کړې وکړي او یا په اسلامي پوهنتون کې داخله وکړي چې د خپل لومړي کال سره تقریباً د شلو زده کوونکو سره یې په کار پیل کړی و. په هغه کال دا خبرې کیدلې چې شاید څو درجنه محصلینو ته داخله ورکړل شي او د عربي ژبې د کالج پرانسته هم کیږي، له دې نه علاوه د شرعیاتو او اصول الدین کالجونه هم موجود وو. د دې نوي پوهنتون د راتلونکي په هکله هیڅوک هم نه و خبر چې دا به پرمختګ کوي ځکه نه یې اپارتمان درلود بلکې محصلینو به له ماسپښین وروسته د الازهر الثانوي په اپارتمان کې سبقونه ویل، او نه یې هم درسي عمله درلوده بلکې د الازهر ښوونځي یو څو شیخانو به تدریس پکې کاوه، نه یې د بودیجې په اړه څه خبرې کولې او نه هم د پوهنتون اساسي ضروریات موجود وو.

ابراهیم زده کړې مکمل کړې او ازموینه یې ورکړه چې پایلو یې د هغه غیر معمولي وړتیا څرګنده کړه، هغه د ساینس په برخه کې ۹۱٪ نومرې ترلاسه کړې.

زما مور له محمود سره د ابراهیم د پوهنتون د زده کړو په اړه خبرې وکړې او وړاندیز یې وکړ چې هغه باید له محمد سره په بڼر زیت پوهنتون کې زده کړې وکړي. په همدې ماښام چې موږ په کور کې سره راټول وو؛ محمود ابراهیم راوغوښت او په خپله کوټه کې ورسره کیناست او هغه ته یې وویل چې په راتلونکو ورځو کې به رام الله ته ځي او په بڼر زیت پوهنتون کې به داخله کوي. ابراهیم د بڼر زیت په پوهنتون کې د داخلې لپاره زړه نازړه شو نو محمود په تشویش او شک سره ترې وپوښتل: نو بیا چیرته زده کړې کول غواړې؟ ابراهیم په بې باوره توګه ځواب ورکړ: شاید زه په اسلامي پوهنتون کې داخله وکړم. محمود په حیرانتیا سره وپوښتل: اسلامي پوهنتون؟ ایا ته په الازهر کې د پیل شوي پوهنتون خبره کوې؟ ابراهیم ځواب ورکړ: کیدای شي. زما مور کوټې ته رانوتله او خبرې یې اوریدلې او ابراهیم ته یې وویل: ایا ته په بڼر زیت کې د درسونو د لګښتونو په اړه زړه نازړه یې؟ زویه! ته او ستا د تره زامن د ورونو په څېر یاست، کوم شی چې د یوه لپاره کفایت کوي هغه به د دواړو لپاره کفایت کوي او زموږ روزي د الله تعالی په لاس کې ده، الحمدلله زموږ حالت اوس ښه دی...

زما مور د ابراهیم په زړه کې پټه خبره درک کړې وه خو ابراهیم یې د پټولو کوښښ کاوه او په اوښکو سترګو یې وویل: تاسو دې خدای زما لپاره روغ وساتي خو زه نه غواړم له غزې بیرون ولاړ شم. محمود له جیب نه یو څو اردني نوټونه راوباسل او ابراهیم ته یې ورکړل او ورته یې وویل: دا د لومړي سمستر فیس، داخلې فیس، د سفر لګښت او یو څه د خرڅ روپۍ دي، ولاړ شه او په بڼر زیت کې داخله وکړه. ابراهیم یې له اخیستلو نه انکار وکړ او د محمود لاسونه یې شاته دیکه کړل. زما مور ورته وویل: اوس یې واخله او په ارام سره فکر وکړه او چیرته دې چې خوښه وي داخله وکړه. ابراهیم په ځوړند سر روپۍ واخیستې او داسې ښکاریده چې هغه په اسلامي پوهنتون کې د داخلې پریکړه کړې ده ځکه

په هر حساب سره هغه د بثر زیت یا بل پوهنتون په مقابل کې په نیم لګښت تعلیم کولی شوای. هغه نه غوښتل په کورنۍ بوج واچوي او په غزه کې د اوسیدو له کبله به هغه کله کله په کار کولو سره یو څه روپۍ ګټلې چې د کورنۍ په لګښتونو کې یې کمی راوستلی شوای. نو هغه د الازهر ښوونځي د اپارتمان په خوا لاړ او هلته یې د اسلامي پوهنتون د عربي ژبې په پوهنځي کې داخله وکړه. کله چې هغه له دې خبر سره راستون شو نو لومړی یې ماته وویل او له جیب نه یې باقي روپۍ راوباسلې او ماته یې راکړې تر څو زه یې بیرته مور ته ورکړم څکه هغه ترې شرمیده خو ما یې له اخیستلو نه په انکار کولو سره ورته وویل: زما او ستا په منځ کې څه شی دي؟ او ما ولې د حکومت په مابین کې راکاږې. پخپله لاړ شه او خبره ورسره وکړه او بیا ما ورته وویل: راځه. هغه مې د اشپزخانې په خوا روان کړ چیرته چې زما مور ډوډۍ پخوله. ما ورته وویل: مورې ابراهیم ته مبارکي ورکړه څکه هغه د اسلامي پوهنتون د عربي ژبې په شعبه کې داخله ترلاسه کړه. زما مور د هغه په خوا وکتل خو ابراهیم وار له مخه ورته وویل: الله دې تاسو ته هم مبارک کړي. دا هغه روپۍ دي چې اضافه شوې دي. زما د مور په سترګو کې د احترام او قدرداني اوښکې راغلې. هغې روپۍ واخیستې او د پنځه دیناره په واپس ورکولو سره یې وویل: دا خرچ کړه او یا یې په بل شي کې استعمال کړه. تاته یې اوس ضرورت شته. هغه د انکار کولو کوښښ وکړ خو زما مور فشار پرې راوست چې هغه واخلي. د هغه مخ له شرم نه سور شو او ویې ویل: الله دې تاسو روغ لري. خدای دې خیر درکړي.

په هغه وخت کې اسلامي پوهنتون یو خوب و. او ځینې محصلین هلته په زده کړو کولو مجبور وو څکه له هغوی سره نور فرصتونه نه ول. د الازهر دیني اداري اپارتمان د غزې په الثلاثیني سړک پروت و . د سهار له درسونو وروسته به محصلین کورونو ته تلل. بیا به د اسلامي پوهنتون محصلین راتلل. تقریباً شلو محصلینو د اصول الدین د لومړي کال زده کړې مکمل کړلې. او په لسګونو نویو

محصلینو د شرعیاتو، عربي ژبې او اصول الدین په فاکولټو کې داخله کړې وه. هر ګروپ به یو ټولګي ته ننوتل او دوی ته به یو شیخ راتلو چې هغوی ته به یې د یو خاص مضمون تدریس کاوه، بیا به یو شیخ بهر لاړ او بل شیخ به راغی او په همدې توګه به یې څلور یا پنځه پرله پسې لیکچرونه ورکول لکه په ثانوي ښوونځي.

ابراهیم په داسې یو تعلیمي چاپیریال کې داخله وکړه چې هغه دا فرق محسوس نکړ چې ایا دا پوهنتون دی؟ ایا دا د هغو مصري پوهنتونونو په څېر دی چې ده یې له محمود نه کیسې اوریدلې وې، او یا یې له محمد نه د بئر زیت پوهنتون کیسې اوریدلې وې؟ خو هغه پوهیده چې زه حق نلرم چې په کورنۍ باندې حتی یوه روپۍ بوج واچوم او د هغه په ځان بساینې هغه په نورو لارو له تګ نه منع کاوه.

په دومره وخت کې ابراهیم کولی شوای چې هغه په بازار کې د سبزیجاتو په هټۍ کې دوباره کار شروع کړي ځکه د هغه د پوهنتون درسونه به ماسپښین شروع کیدل او سهار هغه په ښه طریقه کاروبار کولی شوای خو پوهیده چې که دا خبره محمود او یا موز ته وکړم نو یو قیامت به جوړ شي، نو له دې امله هغه په یوه نوې طریقه فکر وکړ تر څو بغیر د مور د ناراضه کیدو او بغیر د محمود د غصه کیدو کار وکړي او پیسې وګټي. د هغه یو ملګری چې د جوماټ له ځوانانو څخه و او ساختماني کارونه یې کول او د ۱۹۴۸ په اشغال شویو سیمو کې یې له کار نه انکار کړی و او فقط په غزه کې یې کار کاوه سره له دې چې په غزه کې مزدوري هم کمه وه. ابراهیم له هغه سره خبره وکړه چې کله هم کار پیدا شي نو زه به د همکار په صفت کار درسره کوم او د هغه دوست هم دا خبره ومنله.

ابراهیم دا خبره موږ ته په دې انداز وکړه چې هغه له خپل ملګري نه ساختماني کارونه زده کول غواړي، نه دا چې پیسې وګټي او په دې صورت کې د کورنۍ خلکو هیڅ اعتراض نه درلود.

کله به چې دوی کوم کار پيدا کړ نو په هغه ورځ به ابراهيم سهار وختي له کوره ووت، او د کار جامې به يې واغوستلې، که کار به نږدې و نو هغه به کور ته راستون شو او جامې به يې بدلې کړې او بيا به پوهنتون ته ولاړ او که کار به ليرې و نو له خپل ځان سره به يې جامې او کتابونه يوړل او ماسپښين به يې جامې بدلې کړې او پوهنتون ته به ولاړ او کله کله به يې د کار په جامو کې هم په درس کې ګډون کاوه. اکثره به هغه د جمعې په ورځ هم کار کاوه، د جمعې لمانځه ته به جومات ته لاړ او له هغه نه وروسته به يې دوباره کار شروع کړ. ابراهيم له دې خبرې نه مطمئن شو چې هغه د خپلو لګښتونو لپاره پخپله انتظام کولی شي. څه وخت وروسته هغه يو بايسيکل واخيست تر څو کور، کار او پوهنتون ته پرې اسانه تلی راتلی شي او مصارف هم وسپموي.

په اشغال شويو سيمو کې د ژوند کيفيت په څرګند ډول ښه شوی و، په بيلابيلو مسلکي ګوندونو کې سياسي او فکري ډلې ډيرې ممتازې وې. د انجنيريانو په اتحاديه کې درې مهم تمايلات ښکاره شوي وو، د فتح غورځنګ، تحريک الجبهة اليسارية او اسلامپاله ګوند. زما ورور محمود د انجينرانو په اتحاديه کې د فتح غورځنګ فعال کارمند و، هغه او د هغه ملګرو به د ډيرو انجينرانو د رايو اخيستلو کوښښ کاوه تر څو د اداري کميټې ټاکنې وګټي لکه چې نورو ګوندونو به هم دا ټاکنې کولې، همدا حال د ډاکټرانو د اتحاديې او د وکيلانو د ټولنې هم و. په دې اتحاديو کې به سختې سيالۍ رواني ې او هر ګوند به د خپلو کارمندانو ټيمونه جوړ کړي وو. هغوی به د خپلو ملګرونو کار ځايونو او کورونو ته ورتلل او هغوی ته به يې قناعت ورکاوه چې په انتخاباتو کې بل چاته رايه ورنکړي. کله کله به دوو طاقتونو د دريم طاقت په مقابل کې اتحاد سره وکړ تر څو له هغوی څخه اداره واخيستل شي، لکه څنګه چې د الجبهة اليسارية خلک له مخکې نه د اتحاديو له کارونو سره بلد او فعاليت يې منظم وو نو ځکه به فتح

غورځنګ څو څله د اسلامپالو سره اتحاد وکړ تر څو الجبهة اليسارية تر کنټرول لاندې راولي.
په هغه وخت کې په غزه کې تر ټولو غوره انځور د هلال احمر د انتخاباتو وو چې الجبهة اليسارية په هغه اتحاديې کې قوي وه چې له امله يې فتح او اسلامپال په اتحاد کولو مجبوره شول تر څو ټاکنې وګټي او مخالف لوري ته شکست ورکړي. دا حالت به تر جګړو پورې ورسيد چې په هغو کې به اسلامپالو د اسلامي پوهنتون په لوی شمير کې خلک راجمع کول او په وروستيو ورځو کې په داسې حالاتو کې د پام وړ زياتوالی راغی.
زما ورور محمود د انجينرانو د اتحاديې په ټاکنو کې برخه واخيستله چې هلته به د فتح خلکو زياتره د انجينرانو د ګټلو لپاره پلانونه جوړول. دوی به په دوو يا دريو اونيو کې يوه ناسته کوله چې هلته به يې د انجينرانو نومونه کتل، له دوی سره به يې د اړيکو د پايلو جاج اخيست او د مخالفو قوتونو د کار تشخيص به يې کاوه او د زيات پرمختګ لپاره به يې کار شروع کاوه. د انتخاباتو په ورځ به دوی د ځينو متذبذبو (شکمنو) انجينرانو د راوستلو لپاره خپل موټر ورليږه او همدا طرز العمل د ډاکټرانو او نورو مسلکي اتحاديو هم وو. دا څرګنده وه چې د اسلامپالو توجه په خاص ډول د پوهنتونونو په محصلينو او په عموم کې د ليسو په محصلينو متمرکزه وه. د لويديځې غاړې په اشغال شويو سيمو کې به په ټولو پوهنتونونو او ادارو کې کلتوري، ټولنيز او د لوبو فعاليتونه ترسره کيدل چې مقصد يې د ځوانانو راټولول، منظم کول او فکري او عقيدوي تربيت ورکول و.
شيخ احمد به په خپله په غزه کې د محصلينو د فعاليتونو څارنه کوله، هغه به د اسلامي پوهنتون څو تنه فعال محصلين راغوښتل تر څو د محصلينو له حالاتو خبر شي او په هغوی به يې په اونۍ کې د يو ځل راتلو تاکيد کاوه. هغه به له ځان سره نور نږدې ځوانان هم راوغوښتل او له هغوی سره يو ځای به يې په پوهنتون کې د اسلامي کارونو، د ټاکنو په چمتووالي، له عامو ځوانانو سره د کار کولو او

هغوی ته د رسیده ګي په طریقو به یې خبرې اترې کولې، تر څو هغوی د اسلامپالو په ملاتړ کې راپورته کړي او انتخابات وګټي. نو دوی به محصلینو ته په ثانوي ښوونځیو کې د کار کولو هدایات ورکول تر څو هغوی اسلامي یا نورو پوهنتونونو ته تلونکي محصلین تیار کړي او هغوی د اسلام د بیرغ لاندې د راتلو او د اسلام د بوج پورته کولو ته تیار شي.

ابراهیم په هغه وخت کې د پوهنتون یو فعال کارمند و او شیخ احمد به په هغه او یو څو نورو محصلینو زیات اعتماد کاوه، هغه د اسلامي ګوند یو له هغو نوماندانو څخه و چې د محصلینو د ټولنې په ټاکنو کې یې بریا ترلاسه کړې وه. هغه به سهار د پیسو ګټلو لپاره په کار کې مشغول و، ماسپښین به یې درسونه ویل او ماښام به په اسلامي فعالیتونو ګې مشغول و. ابراهیم به همیشه د ړنا په څېر حرکت او فعالیت کاوه، کله به چې شپه شوه او کور ته به راغی نو له ډوډۍ خوړلو وروسته به د کتاب مطالعې ته کیناست. هغه به اکثره له کتاب سره ویده شو نو زه به ورغلم او کتاب به مې د هغه له سینې لیرې کړ او هغه به مې په کمبله کې پټ کړ. د هغه له دې عمل سره زما په زړه کې د هغه لپاره قدر او احترام نور هم زیات شو. ما دثانوي زده کړو په دریم کال په خپلو سبقونو کې زیات همت کاوه او محمد هم په خپلو درسونو کې ښه پرمختګ کړی و چې د بئر زیت پوهنتون د ساینس په کالج کې یې زده کړې کولې.

په رام الله کې استوګنه مناسبه نه وه نو له دې امله هغه په بئر زیت کې د نوي کور لټون پیل کړ او په ډیره مشکله یې یو کور پیدا کړ. هغه د اسلامي ګوند د ځینو ځوانانو سره یو ځای اوسیده، دا مکان د یو شاندار کور شاته واقع و او درې کوټې یې درلودې، دې ودانۍ د رام الله له نورو ودانیو نه بلکل توپیر درلود. د محمد د کور ملګري ټول د اسلامي ګوند متدین ځوانان ول او دا کور د کال له اول نه د ګوند لپاره د یو مرکز حیثیت درلود چې د ګوند فعال کارمندان به ورته راتلل او دلته به یې ملاقاتونه کول او په پوهنتون کې به یې د محصلینو د کارونو

لپاره پلاتونه جوړول. محمد د اسلامي کارونو په سرته رسولو کې مهم رول درلود چې له امله به يې هغه د ښځينه محصلينو سره د ګوند د ملاتړ په اړه رابطې کولې، ځينو ښځينه محصلينو حجاب هم شروع کړی وو چې دا په بئر زيت پوهنتون کې يو مهم بدلون و. محمد به هغوی د ګروپ په شکل کې رابللې او هغوی به دوه يا درې تنه راتلې، هغه به د پوهنتون په لاره کې او يا د چای په دوکان کې له دوی سره د خبرو پر مهال سر ښکته نيولی و او هغوی به هم ښکته کتل، هغه به په پوهنتون کې د کارونو د ترتيب او د دوی د رول په اړه هدايات ورکول.
په پوهنتونونو کې د محصلينو فعاليتونه تر يوې جامعې پوې محدود پاتې نشول بلکې دا د ټولو محصلينو د اتحاديو د توجه مرکز وګرځيد، د محصلينو هم منصب ګروپ به د بل پوهنتون د هم منصبو محصلينو سره د اړيکو جوړولو کوښښ کاوه، مثلاً په بئر زيت کې د فتح غورځنګ د محصلينو ګروپ به په النجاح او نورو پوهنتونونو کې له خپلو همفکره محصلينو سره اړيکې نيولې او همدارنګه د اسلامي بلاک د محصلينو يو ټولی به اکثره د النجاح پوهنتون نه يو پلاوی بئر زيت يا نورو پوهنتونونو ته ليږه او له خپلو همفکرو سره به يې ملاقاتونه کول، تجربې او مشورې به يې سره تبادله کولې او مشترک فعاليتونه به يې منظم کول. اسلامي پوهنتون. د خپل کوچنيوالي ، ابتدائي مرحلې او د محصلينو د فعاليتونو له محدود شمېر سره سره په دې فعاليتونو کې خپل رول لوباوه او اکثر به محمد او ابراهيم د دې فعاليتونو په ترڅ کې سره ليدل.
اکثره به داسې کيدل چې د بئر زيت پوهنتون محصلين کارمندان به د نابلس په ښار کې النجاح ملي پوهنتون ته تلل چې هلته له بئر زيت پوهنتون نه د ازادی سطحه ټيټه وه خو د غزې د ښار له حالت نه لس چنده زياته وه چې هلته د غير معمولي حده پورې محافظه کاري (د پخوانيو اصولو منلو نظريه) موجوده وه، تردې پورې چې د اسلامي فعاليتونو له خوريدو نه مخکې هم موجوده وه. شايد

همدا علت به و چې په دې سيمه کې د اسلامي فعاليتونو خوريدل د نورو سيمو په نسبت زيات وو.

الخليل پوهنتون د نابلس او غزې په مابين کې و، دا له غزې نه کم او له النجاح پوهنتون نه زيات محفوظ و. د دې پوهنتون د محصلينو فعاليتونه د څرګندې څارنې يا د اشغالګرو له طرفه د خنډونو نه ازاد وو اګر که يو څه څارنه به يې کيدله خو په ښکاره به نه وه نو لهذا دې محصلينو به ازادانه تګ راتګ کاوه او خپل فعاليتونه به يې بغير له کوم محدوديت نه پر مخ بيول، په ځانګړې توګه به دا فعاليتونه د فکري اختلافاتو او داخلي مقابلو پورې د مختلفو نظرياتو په مابين کې محدود وو او د اسرائيلو په اشغالګر فوځ يې ښکاره اثر نه معلوميده.

د ځينو ملي مراسمو يا د خاصو پيښو په وخت به چې اشغالګرو ته معلومات وشول چې په پوهنتونونو کې ځينې پيښې کيدونکې دي نو محصلين به يې هلته له تګ نه منع کول ، سړکونه به يې بندول او محصلين به يې بيرته ستنول. او يا به يې په لوی شمېر فوځ سره پوهنتون محاصره کړ او محصلين به يې بهر نه پريښودل او د دوی شور ماشور او فعاليتونه به يې نږدې سيمو ته منتقل کړل. ځينې وختونه به د محصلينو او عسکرو په مابين کې جګړې هم کيدلې نو په دې وخت کې به محصلينو د کاڼو ګزارونه کول او ملي شعارونه به يې ورکول او عسکرو به اوښکې بهونکې ګاز استعمالاوه او هوايي ډزې به يې کولې. کله کله به يې د محصلينو په پښو هم ډزې کولې او له دې نه وروسته به کله کله چاپې او د محصلينو نيول کيدل هم پيل شول چې هغوی به د يو څه وخت لپاره په توقيف کې پاتې کيدل. ځينې به زيات وخت زنداني کيدل او بيا به ژوند د معمول په څېر شروع شو.

ما د کرمل په ليسه کې زده کړې کولې. هلته زما د تره زوی ابراهيم په مشري کې د اسلامي بلاک محصلينو د يروشلم او نورو سياحتي ځايونو د سفر پروګرام پيل کړ. هغوی د هغو خلکو نومونه ليکل چې غوښتل يې په دې سفر کې ولاړ شي

او فیس ورکړي. زما خوا ته یو فعال کارمند راغی او ماته یې په دې سفر کې د
شمولیت وړاندیز وکړ، ما زړه نازړه هغه ته وویل چې زه به په دې فکر وکړم او
وروسته به ځواب درکړم. زه چې کور ته راغلم نو له ابراهیم سره مې په دې هکله
مشوره وکړه، هغه راته وویل چې دا فرصت ضایع نکړې ځکه دا یوه موقع ده تر
څو موږ له غزې نه بهر لویدیځه څنډه، یروشلم او د ۱۹۴۸ اشغال شوې سیمې
ووینو او خپله ځمکه وپیژنو او هغه ماته دا هم وویل که د سفر د فیس په اړه
کومه خبره وي نو زه یې درته اداء کوم خو ما په خندا هغه ته وویل چې زما
اقتصادي حالت ښه دی، خو موضوع د فیس نه ده بلکې په داسې سفرونو کې د
اصولو موضوع مطرح ده. هغه زه مجبور کړم چې په دې سفر کې شریک شم نو
ما وعده وکړه او راتلونکې ورځ مې د سفر لپاره نوم لیکنه وکړه او په ښوونځي
کې مې د اسلامي بلاک مشر ته فیس ورکړ. د جمعې په سهار وختي موږ ووتلو،
د مکتب په دروازه کې راټول شو او هر چا له ځان سره د خوراک کڅوړه راوړې
وه. ماته معلومه وه چې ابراهیم به په دې سفر کې زموږ ملګری وي ځکه هغه د
دې سفر اصلي څارونکی و، په بس کې هغه د سفر دعا وویله او موږ پسې تکرار
کړه: **بسم الله مجرها ومرساها ان ربی لغفور رحیم، سبحان الذی سخر لنا هذا
وما کنا له مقرنین و انا الی ربنا لمنقلبون، اللهم انا نسئلك فی سفرنا هذا البر
والتقوی ومن العمل ما ترض.**
کله به هم چې موږ د کوم فلسطیني کلي یا ښارګوټي د اثارو په خوا کې تیریدو
چې په جنګ کې به تباه شوي وو او یا به یهودو د عربیت د نښو ختمولو په
خاطر تباه کړي وو نو ابراهیم یا له هغه سره بل ځوان به موږ ته د دې په هکله
وضاحت راکولو چې دا د عسقلان نښې دي، دا د جمیمیه کلي مرکز دی، دلته د
اشدود د جومات نښې دي، هغه یې د مکتب نښې دي او دا د هغو د کورونو
نښې دي... زموږ لومړی دمه په یو ښکلي غر باندې وشوه چې یوه خانقاه هم
پکې وه، موږ هلته له بس نه ښکته شو او ابراهیم موږ ته د دې ځای په هکله

وویل چې نن د «دیر الطرون» په نوم یادیږي، هغه وویل چې په دې ځای کې د ابو عبیده عامر بن الجراح په مشرۍ د مسلمانانو فوځ د فلسطین د فتح کولو لپاره د عمواس په نوم جنګ کړی و.

ابراهیم ښکته تېټ شو او د جنګ په هکله یې خبرې کولې چې په دې جنګ کې زیات صحابه کرام شهیدان شول، او یو موټی سور رنګ ته مائله خاوره یې راواخیستله او ویې ویل: دا خاوره ګواهي ورکوي چې په دې کې د نبي علیه السلام د ملګرو وینه ګډه شوې ده، د هغه په سترګو کې اوښکې راغلې او په حاضرینو باندې یوه ژوره چوپتیا خوره شوه، بغیر د کومې مرغۍ د اواز یا د ونو د پاڼو غورځیدلو له اواز نه. بیا هغه وویل: دا خاوره زموږ خاوره ده او دا ځمکه زموږ ځمکه ده او دا ځمکه د پیغمبر علیه السلام صحابه وو په خپلو وینو خړوبه کړې ده او دا بیا ځلې په وینو خړوبیدل غواړي تر څو ازاده شي. زه په دې خبره حیران شوم په ځانګړې توګه کله مې چې د ابراهیم له خولې واوریده ځکه په کور کې به هغه ګونګ او کوڼ و خو دلته د خپل خیال څومره ښه انځورګري کوي. او د ټولو هغو ځایونو په هکله به یې په تفصیل سره خبرې کولې چې موږ به ورسره تیریدو او زما په نظر کې به د هغه قدر او احترام نور هم زیاتیده.

بس بیا روان شو او فاصله به یې قطع کوله، د ابراهیم ملګري د غره په خو په اشارې کولو سره وویل چې دلته د دې غره په لمن کې دیریاسین کلی دی او هغه د دې کلي د قتل عام په اړه خبرې شروع کړې چې د دې واقعې شهرت تر لیرې لیرې سیمو ورسید او په فلسطینیانو باندې دا ظلم د یهودو یوه علامه وګرځیده.

یوه شیبه وروسته موږ القدس ته ورسیدو او بیا د مسجد اقصی د دیوالونو او لرغوني ښار په خوا روان شو. موږ د لرغوني قدس ښار په کوڅو کې پیاده داخل شو، دواړه طرفونو ته دوکانونه وو چې مختلف دودیز توکي یې خرڅول په ځانګړې توګه د لرګیو لاسي صنایع چې سیلانیانو به اخیستل. د لرغوني القدس په کوڅو به د سیلانیانو رش جوړ وو چې د دنیا له هر ځای نه به راتلل او د ښار

په هره ځنډه کې به اشغالګر عسکر لیدل کیدل چې ټوپکونه به یې نیولي وو او په هر حرکت به یې نظر ساته.

موږ د اقصی جومات یوې دروازې ته نږدې ورسیدو . په دې دروازې باندې څو تنه اشغالګر عسکر ولاړ ول چې هر زیارت کوونکی به یې تالاشي کاوه، د هغه هویت کارډ به یې کتلو او کله کله به یې د هغه شمېره هم لیکله. موږ د خپلو هویت کارډونو د شمېرو له لیکلو نه وروسته مسجد اقصی ته داخل شو او د یو شیخ په غږ مو د قران کریم تلاوت له لاوډسپیکر نه اوریده. قبة الصخرة له خپلو پړکیدونکو رنګونو سره په لوړه غونډۍ ښکاریده، موږ د کاڼو په زینه باندې هلته وختلو او د مسجد اقصی تر دروازې ورسیدو. زما په بدن کې د خشوع او خوف احساس پیدا شو کله مې چې په جومات کې لومړی قدم کیښود. خپلې څپلې مې راسره واخیستې او په جومات کې مو دوه رکعاته تحیة المسجد لمونځ وکړ او بیا د جمعې د خطیب په انتظار کې په جومات کې کیناستو. خطیب منبر ته پورته شو او یوه لنډه خطبه یې وویله چې په هغه کې څه خاص یا نوې خبره نه وه چې زموږ د غزې له خطبو څخه مختلفه وي. بیا موږ د جمعې لمونځ او سنت اداء کړل او خلک له جومات نه بهر وتل، موږ بیا راټول شو او د مسجد قبة الصخرة په طرف په زینو باندې ختلو. ابراهیم موږ ته د جومات او هغې ډبرې په هکله خبرې کولې چې نبي علیه السلام د معراج په شپه اسمان ته پرې ختلی و، هغه موږ ته وویل چې اسراء له مکې نه تر القدس پورې وه او معراج له القدس نه د اسمان په طرف تر سدرة المنتهی پورې و. بیا هغه وضاحت وکړ چې د القدس په ځمکه باندې یې ولې پړاو واچاوه؟ دا هم ممکنه وه چې نبي علیه السلام له مکې نه مستقیماً د اسمان طرفته تللی وای خو د الله تعالی حکمت دا خبره ضروري وګڼله چې هغه باید له القدس نه تېر شي تر څو خلکو ته واضحه شي چې القدس د دوی د عقیدې، دین او اسمان په لاره کې خاص اهمیت لري. ابراهیم به بیا بیا په دې خبره تاکید کاوه چې له دې ځای نه، له القدس نه نبي علیه

السلام د اسمان طرفته تللی دی. زما په بدن لړزه راغله او ومې نشوای کړلی چې له نږدې ولاړو خلکو نه يې پټه کړم او هغوی هم محسوس کړه.
موږ د غزې له کمپونو څخه تللي وو او لومړی ځل مو د القدس زيارت وکړ چې له دې وړاندې زموږ په اذهانو کې فقط يو نوم و چې يو څه اثر به يې درلود او نن موږ په هغه مقدس ځای کې ولاړ يو چې شاوخوا يې اشغالګر عسکر ولاړ دي، چاته به يې چې خوښه شوه د ننه تګ اجازه يې ورکوله او چاته به يې چې خوښه نشوه نو اجازه به يې نه ورکوله او مسلمانانو او عربو له لکونو فوځ او دولت سره دا مقدس ځای له دغو لعنتي خلکو او اشغالګرو څخه ازاد نشو کړلی.
په دې ځای کې موږ په دې خبره ښه پوه شولو چې د دې قضيې يو بل اړخ هم شته چې موږ تراوسه پورې نه پرې پوهيدو، دا فقط د ځمکې او له ځمکې څخه د ويستل شويو خلکو قضيه نه ده بلکې دا يو د عقيدې او دين جنګ دی او د يو تهذيب، تاريخ او وجود جنګ دی. ابراهيم او د هغه د سفر انتظام کوونکو دا خبره زموږ په دماغو کې ښه کينوله. د دې سوچونو په وخت کې د ابراهيم په غږ موږ ته اعلان وشو چې موږ بايد د بس طرفته لاړ شو تر څو د الخليل ښار په خوا حرکت وکړو چې هلته د حرم ابراهيمي شريف زيارت وکړو، کله چې د ابراهيم غږ بيا تکرار شو نو موږ له ځمکې سره چسپ شوي قدمونه اوچت کړل په درنو زړونو او درنو قدمونو سره د دروازې په خوا روان شو ځکه ددې مقام عظمت، تقدس او د دې ځای جذبات به تاته له دې ځای څخه په خوښۍ سره د تګ اجازه درنکړي او زړه به دې غواړي چې همدلته پاتې شې.
په توله لاره بس ته د تللو په مهال د ابراهيم خبرو زما په غوږونو کې ازانګې کولې چې هغه د صلاح الدين د منبر په هکله کړې وې چې د القدس ښار د ازادۍ نه مخکې يې تيار کړی و او د هغه مخې ته به ايښی و تر څو د هغه لپاره د تشويق او حوصلې ذريعه وګرځي او هغه له صليبيانو څخه القدس ازاد کړي خو

ځنګه يهودي لاسونو هغه منبر په ۱۹۶۸ کې وسوځاوه، ما له ځان څخه پوښتنه کوله چې آيا په هغه وخت کې کوم صلاح الدين نه و موجود؟
بس د الخليل په طرف روان شو چې په لاره کې د بيت جالا، بيت اللحم او بيا د الدهيشه له کمپ نه تېر شو، موږ کمپ له ډکو ډکو ودانيو او ساده جوړښت نه وپيژاند. ابراهيم وپيژانده چې دا الدهيشه کمپ دی، بيا هغه بل طرفته اشاره وکړه، هلته يوه خيمه په خالي ځمکه نصب شوې ده او په درجنو درجنو عسکر يې ساتنه کوي، هغه وويل: دا خيمه د حاخام موشي ليونګر ده چې د الخليل ښار يو له لويو تعميري زورواکانو څخه دی، هغه د الدهيشه کمپ مخې ته پرلت کړی و ځکه اشغالګرو عسکرو دوی الخليل ته د تللو پر مهال د کمپ د هلکانو له کاڼو څخه نه وو ساتلي چې په دوی به يې باران جوړ کړی و. له دې نه وروسته موږ د العروب له کمپ نه هم تېر شو او څه وخت وروسته الخليل ښار ته ورسيدو.
کله چې موږ د الخليل ښار منځ ته داخل شو نو موږ وليدل چې ښار د اشغالګرو ځواکونو د يوې قلعې شکل غوره کړی دی، دلته او هلته په سلګونو عسکرو او په درجنو نظامي موټرو په حساسو ځايونو کې حرکت کولو او په ډيری ځايونو او ودانيو يې اغزن سيمونه راتاو کړي وو.
د ۱۹۷۰ په وسط کې يهودي زورواکو د اشغالګرو د ساتنې او حمايت لاندې د ښار د پخوانی برخې په ډيرو ودانيو ولکه کړې وه، هغوی له هغه ځايونو خلک وباسلي وو او په خپله پکې اباد شوي وو او په لسګونو فوځيانو به يې ساتنه کوله. بيا به دوی د ودانيو تعمير، ترميم او د سيمټي عربي شکل په بدلولو لګيا شول او فوځ به يې ساتنه کوله.
بس موږ حرم ابراهيمي شريف ته ورسولو. هلته په لوی شمېر کې عسکر موجود وو او د راتلونکو عربيانو هويت کارډونه به يې کتل او هغوی به يې ايسارول په داسې حال کې چې يهودي او بهرني سيلانيان به په ارام او اسانی سره په زينو ختل. موږ په يوه اوږده لاره روان شو او زموږ د تګ د لارې په اوږدو کې د

لمانځه لپاره يو اوږد فرش هم غوړيدلی و. بيا موږ د انګړ په يو طرف کې داخل شو چې د جومات مرکزي برخې ته تللی و او په بل سر کې يې دوه نور د لمانځه ځايونه وو. موږ ډير قبرونه وليدل چې په هغو باندې د پخواني تاريخ نومونه ليکل شوي وو لکه: ابراهيم، اسحاق، ساره، يوسف عليهم السلام او دا ځايونه په شنو جامو سره پوښل شوي وو، موږ په جومات کې د ماښام لمونځ ادا کړ او د جومات په څنډو څنډو کې ګرځيدو او د خپل امت او عقيدې تاريخ مو کاته.

بيا موږ د دروازې سره له نږدې دوکاندارانو څخه ملبن، قمرالدين، مميز او انځر واخيستل او په بس کې بيرته د غزې په خوا روان شو.

ټولو د ماښام مسنون دعاوې ويل شروع کړل: **امسينا و امسی الملک لله والحمدلله و لا اله الا الله وحده لا شريک له، له الملک و له الحمد وهو علی کل شئ قدير. اللهم اني اسئلک خير هذه الليلة و اعوذبک من شر هذه الليلة و شر ما بعدها، اللهم اني اعوذبک من الکسل و سوء الکبر، اللهم اني اعوذبک من عذاب في النار و عذاب القبر.**

د اجتماعي دعاوو غږونو زما په غوږونو کې ازانګې کولې او هر يو په خپل ځای ناست و او کوم الفاظ چې موږ تکرارول د هغوی معناوې يو څه بدلې معلوميدې په ځانګړې توګه کله به چې د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم او زموږ د پلار حضرت ابراهيم عليه السلام ذکر کيده. له دې سفر وروسته، په دې مقدسو ځايونو باندې د دې الفاظو او معانيو اهميت يو څه بدل ښکاريده. له نن ورځ نه ما عزم وکړ چې لمونځ به هميشه کوم او کله به يې هم نه پريږدم. او ماته په جديت سره پکار وو چې د ثانوي زده کړو د ازموينو لپاره چمتوالی ونيسم ځکه ازموينو ته فقط دوه مياشتې او پنځلس ورځې پاتې وې او ماته پکار وه چې ښې نومرې ترلاسه کړم.

پنځلسم څپرکی

د لسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د فلسطین په صحنه کې ډېر بدلونونه راغلل او زموږ په اخلاقیاتو او رویو کې ډېر پرمختګ رامنځته شو. ما خپل ثانوي تعلیم مکمل کړ او د غزې په اسلامي پوهنتون کې مې د داخلې فیصله وکړه خو زما ورور محمود د دې فیصلې مخالفت وکړ او ویې ویل: دا نو پوهنتون دی؟ دا خو د یو ثانوي ښوونځي لایق هم نه دی، خو حسن زما د پریکړې په طرف و او ابراهیم هم راسره موافق و او زما مور هم زما خواهش ومنلو او محمود ته یې وویل چې په دې خبره کې چپ اوسه او پریکړه یې ماته وسپارله ځکه دا زما معامله وه، نو محمود له ناخوښۍ سره چپ شو.

ما په اسلامي پوهنتون کې داخله وکړه او د ساینس په فاکولته کې قبول شوم، ما د نوي تعلیمي کال په بې صبرۍ سره انتظار کاوه په ځانګړې توګه کله چې دا خبرونه ما واورېدل چې سږکال به په پوهنتون کې د پام وړ پرمختګ راشي، ځکه سږ کال به پنځه سوه نارینه او ښځینه محصلینو ته داخله ورکړل شي او یو د دوکتورا سند لرونکی به د پوهنتون رییس مقرر شي، او یو شمېر دوکتورا لرونکي به د تدریس لپاره هم راشي او د پوهنتون لپاره به یو ځانګړی اپارتمان هم جوړ شي.

ابراهیم د اوږې رخصتیو په ټوله موده کې له خپل ملګري سره په ساختماني کارونو کې د مشغولتیا عزم وکړ او یوه ښه مالي ګټه یې ترلاسه کړه، او خبره په دې ځای ونه درېدله بلکې هغه یو ډېر ښه تعمیراتي کارمند هم جوړ شو ځکه هغه له خپل ملګري نه مسلک زده کړ او دواړه شریکان جوړ شول او یو همکار کارمند یې هم له ځان سره ونیو او د درمیانه کچې د تعمیراتي کارونو قراردادونه یې هم ونیول او دا صفا ظاهره شوه چې د ابراهیم په ځان بسایني له هغه نه یو کامیاب انسان جوړ کړ.

زما د ورور محمود او حسن یو یو زوی پیدا شو او زما د خور فاطمې هم زوی پیدا شو او د حسن کار پرمختګ وکړ ځکه هغه د ځان لپاره د یو ورکشاپ خلاصولو فیصله کړې وه، هغه یو ځای په کرایه ونیوه او د ورکشاپ لپاره یې ضروري ماشینونه واخیستل او د پیسو کمبود ورسره نه و. محمد په خپل تعلیم (کیمیا) کې په بڼر زیت پوهنتون کې پرمختګ کاوه او هر سمستر یې په ممتاز شکل پوره کاوه او پوهنتون ترې فیس اخستل هم بند کړی و ځکه پوهنتون محصلینو ته په ممتاز فعالیت باندې سکالرشیپونه ورکول او هغه ته فقط د ورځني ژوند د لګښتونو ضرورت وو.

د تعلیمي کال په پیل سره مونږ د الازهر دیني ادارې په هماغه ودانۍ کې درسونه شروع کړل او د پوهنتون د پرمختګ په اړه اوریدل شوې خبرې اکثره ریښتیا ثابتې شوې ځکه په پوهنتون کې د داخلي کوونکو نارینه او ښځینه محصلینو شمېر درست و. د پوهنتون د رییس په توګه دوکتورا لرونکی هم حاضر شو او د تدریس لپاره یو شمېر دوکتورا لرونکي استادان هم راغلل. هغوی د دې ودانۍ د تکمیل چارې شروع کړې چې بنیاد یې پخوا کیښودل شوی و تر څو دا ودانۍ د پوهنتون لپاره ځانګړې شي، دا هر څه د دې خبرې طرفته اشاره وه چې پوهنتون په ریښتیا هم پوهنتون جوړیږي او ښو خبرونو به د دې تصدیق کاوه چې له امله یې مونږ محصلین د راتلونکې په اړه مطمئن شولو. خو له دې سره سره به مونږ د ماسپښین نه وروسته د انسټیټیوټ په ټولګیو کې درسونه ویل، هلکانو به د الازهر د محصلینو لپاره په خاص کړلی شویو ټولګیو کې او انجونو به د انجونو لپاره په خاص کړلی شویو ټولګیو کې درسونه ویل.

زمونږ لومړی کال تعارفي و چې په هغه کې به مونږ د هغو موادو مطالعه کوله چې زمونږ د ثانوي زده کړو سره به مساوي وو او د الازهر د ثانوي محصلینو سره به مو یو ځای زده کړې کولې. یعنی زیاتره مواد به نظریاتي (تیوریکي) وو چې زیاتره به یې دیني مواد وو چې ځینو مشائخو به مونږ ته تدریسول. او ورسره په څنګ

کې به یې ځینې اساسي علمي مواد هم راته تدریسول خو دا به کم وو. له همدې امله زموږ د مطالعې د جدیت او ستړیا احساس کم و. موږ د کال زیاتره وخت په لوبو او بېلابېلو نظریاتي اختلافاتو کې تېر کړ. دا ښکاره وه چې د اسلامي تحریک محصلین له عامو محصلینو څخه په شمېر کې زیات دي، زیات منظم دي او د خپلو نظرونو په وړاندې کولو او د محصلینو سره په اړیکو جوړولو کې ډېر کامیاب دي. د فتح محصلین کمزوري وو خو هغوی د خپلو ظرفیتونو د سطحې لوړلو کوښښونه کول، د الجبهة الیساریة محصلین ډېر کم ول او د هغوی غږ د یادونې وړ نه و، هغوی یو وړوکی ګروپ و چې تر خپل ځان پورې محدود و او تحریک یې هم ډېر محدود و.

د تعلیمي کال د شروع نه یوه میاشت وروسته د محصلینو په مابین کې تحریکونه پیل شول چې د نږدې راتلونکو ټاکنو لپاره یې چمتووالی نیوه او له دې سره د ښځینه محصلینو ټاکنې هم ترسره کیدلې. د بېلابېلو نظریاتي ګروپونو کارمندانو د محصلینو سره د اړیکو جوړولو، د خپلو نظریاتو د وړاندې کولو او د محصلینو په خپلو صفونو کې د شاملولو لپاره هلې ځلې شروع کړې. د کانتین د کوچني تالار میزونه به په بحث کوونکو، د خپلو نظرونو په وړاندې کوونکو او په نورو باندې په تنقید کوونکو باندې ډک وو. څو ورځې وروسته موږ ته معلومه شوه چې د اسلامي ګوند د کارمندانو په مابین کې څه ستونزه راغلې ده ځکه په دوی کې اکثرو له خپل سابقه مسؤل نه جلا کار کاوه چې لامل یې د هلال احمر د ټاکنو پر مهال واقعات او نښتې وې.

څو ورځې بعد موږ ته معلومه شوه چې هغه له دوی نه جلا شوی دی او په جلا لیست کې به ټاکنې ترسره کوي او ملي غورځنګ به د فتح او الجبهة الیساریة سره په ګډه په دریم لیست کې ټاکنې ترسره کوي. بحثونو او مباحثو زور واخیست. اعلامیې وویشل شوې او شعارونه په دیوالونو باندې سرېښ شول. د محصلینو ملي ګوند د ابو عمار انځور په دیوالونو د سرېښ کولو تعداد لوړ کړ.

هر ګوند به د خپلو یوولسو نوماندانو نومونه او شعارونه په لیست کې لیکل او د هغوی په ملاتړ کوونکو به یې ویشل. ابراهیم د اسلامي ګوند له مخکښو نوماندانو څخه و، سره له دې چې ما خپل ځان د اسلامي ګوند برخه یا طرفدار نه ګڼلو خو له ما سره خپل تره زوی او د هغه لیست ته د رایې ورکولو نه بغیر بله لاره نه وه ځکه زموږ د مشترکاتو ژوند او د هغه شخصي تعریف ماته له دې کار نه د انکار کولو اجازه نه راکوله او حال دا چې زما میلان د فتح غورځنګ په طرف د هغوی د سمبولیک حیثیت، فدایي فعالیتونو او مسلح مقاومت له امله و.
د رایو اچونو په ورځ زما او ډیری نورو خلکو لپاره دا لومړی ټاکنیزه تجربه وه.موږ په یو اوږد کتار کې ولاړ وو او هر یوه خپل هویت کارډ په لاس کې نیولی و او زموږ نوم به یې د رایو اچونو له لیست نه قطع کړ او بیا به موږ یو ځانګړې مېز ته ولاړو او د خپلې خوښې نوماند ته به مو رایه ورکړه، هغوی به کاغذ وپیچلو او په صندق کې به یې واچاوه. په دې صندوق به د پوهنتون کارکوونکو او د هر لیست یوه څارونکي څارنه کوله او ابراهیم د خپل ګوند په څارونکو کې شامل و. کله چې زه د رایې اچونې له تالار نه بیرون راووتم نو ما واوریدل چې د میدان په یوه څنډه کې څه ګډوډي روانه ده، زه هلته ولاړم نو ومې لیدل چې د فتح له کارمندانو سره خبرې اترې روانې دي ځکه د اسلامي ګوند کارمندانو د ابو عمار انځور څیرې کړی و او په هغه یې پښې ایښې وې. دې واقعې په ځینو خلکو منفي اثر وکړ او کیدای شي ځینو خلکو خپله رایه بیرته له اسلامي ګوند نه حذف کړې وي. کله چې د رایې اچونې بهیر ختم شو او رایه شمیرنه پیل شوه نو د ځینو ابتدائي پایلو خبرونه به راتلل، کله به وویل شول چې اسلامي ګوند بریالی دی او کله به وویل شول چې د پایلو هیڅ معلومات نه کیږي. ما په پوهنتون کې د ابراهیم او د ټاکنو د پایلو انتظار کاوه. تقریباً د شپې په یوولس بجې د محصلینو د چارو صدر پایلې اعلان کړې چې اسلامي ګوند پریکنده بریا ترلاسه کړې ده او ازاد ګوند ملي ګوند شاته پریښود.

د شپې چې کله زه او ابراهيم کور ته راغلو نو ابراهيم ډير خوشحال و او زموږ مور زموږ په انتظار کې ډيره پريشانه وه، کله چې موږ کور ته ورسيدو نو ماته راياد شول چې کله زه د رايو له تالار نه ووتلم نو څه شوي وو. ما له ابراهيم نه پوښتنه وکړه چې آيا په ريښتيا کوم کارمند د ابوعمار انځور څيرې کړی و او پښې يې پرې ايښې وې؟ هغه سخت انکار وکړ او ويې ويل چې هغوی سمدستي د دې خبرې ارزونه وکړه او ريښتيا ثابته نشوه، هغوی هڅه کوله چې د ټاکنو په اخرې مرحله کې د اسلامي ګوند ملاتړي د اسلامي ګوند له ملاتړ څخه وګرځوي. ما په ابراهيم باندې بغير له شک نه يقين وکړ ځکه ما هميشه هغه يو ديانت دار او ريښتونی شخص موندلی و خو آيا هغه خلک ريښتيني دي چې ابراهيم پوښتنه ترې کړې ده؟ په دې اړه زما يقين نه راتلو.

په لبنان کې د داخلي جنګونو له خوريدو سره سره چې د فلسطيني مقاومت يوه مهمه برخه هم پکې وه؛ خو فلسطيني مقاومت په لبنان کې قوي پاتې شو او د اسرائيلو لپاره تل د يوې دائمي انديښنې سبب شو په ځانګړې توګه کله به چې د مقاومت خلکو وخت پر وخت په شمالي فلسطين چې هلته د اسرائيلو ابادي لکه کريات شموني هم موجوده وه؛ د کاتيوشا راکټونو حملې کولې. اسرائيلي حکومت چې مشري يې مناحيم بيګن کوله او دفاع وزير يې شارون و په اروپا کې د يوه اسرائيلي وګړي د قتل له پيښې نه په استفادې کولو سره خپل فوځ د لبنان سرحد ته راټول کړ او په لبنان يې حمله وکړه. ځينو خلکو فکر کاوه چې دا حمله به تر يو څو کيلو ميترو پورې محدوده وي او د کاتيوشا راکټونو حملې به يې ودروي او شايد بيګن هم همدا فکر کړی وي خو شارون اسرائيلي فوځيان د لبنان داخلي شيمو ته ور تيل وهل تر دې پورې چې هغوی بيروت محاصره کړ.

يادونه: کاتيوشا راکټ يو قسم د فوځي راکټ سستم دی چې شوروي اتحاد د دوهم نړيوال جنګ پر مهال تيار کړی و. دا راکټ په يو چوکاټ باندې د ډيرو

نصب شوي راکټونو په یو وخت د فایر کولو لپاره کاریږي چې د دښمن په تاسیساتو باندې په یو وخت او په تیزي سره اوروونه بلولی شي.

... د فلسطیني مقاومت رهبري د خوف له امله چې اسرائیلي ځواکونه به په بیروت او شاخوا فلسطیني کمپونو حمله وکړي تر څو د فلسطین مقاومت ختم کړي او په دې جنګونو کې به په زرګونو فلسطیني وګړي ووژل شي، نو هغوی له لبنان څخه د مقاومت د ویستلو فیصله وکړه. د یو منځګړیتوب په توسط د انقلاب رهبري او ټول فلسطیني مسلح افراد له لبنان څخه ووتل او کمپونه او پناه غوښتونکي یې د لبنان حکومت او اسرائیلي فوځ په منځ کې بغیر له کوم حفاظتي پلان او لوژنامې پرېښودل چې له امله یې په صبرا او شتیلا کمپونو کې عام وژنه وشوه او په سلګونو فلسطیني مهاجرین، نارینه، زنانه او ماشومان شهیدان شول او په دې عام وژنه کې د انسانیت خلاف د بدترینو جرمونو ارتکاب وشو.

کله چې دا خبرونه د مطبوعاتو له لارې خواره شول نو په اشغال شویو سیمو کې حالات خراب شول، په دې وختونو کې حالات ډیر سنګین او سخت شول ځکه د کمپونو د هر کور یو فرد یا نږدې خپلوان به د لبنان په کمپونو کې اوسیدل. مهاجرین بیا بیا له غمونو او پریشانیو سره مخ کیدل چې په هغو کې داسې دردناک واقعات هم شامل دي چې مور به له خپلو زامنو څخه، زامن له خپلو پلرونو څخه او یا میرمنې له خپلو خاوندانو څخه ناخبره وې.

مور په پوهنتون کې په زور او شور سره لاریونونه کول، هر چا خپل منځي تراوونه او اختلافات یوې خواته کړل او له اشغالګرو سره لاس او ګریوان شول چې له پوهنتون سره نږدې د شارع الثلاثیني په لاره تیریدل. مور په هغوی باندې د کانو باران جوړ کړ او هغوی په مور ډزې او اوښکې بهونکي بمونه استعمالول، ډیری محصلین ټپیان شول او دارالشفاء روغتون ته منتقل شول.

د الخليل په ښار کې ورځ تر بلې ابادي زياتيده، د سيمې خلکو به هره اونۍ په يو نوي کور ولکه کوله او د هغو کورونو خلک به يې بهر ويستل او فوځ به د دوی حمايت او ساتنه کوله. د ښار خلک له دې حالاتو نه تنګ شول، په دې وخت کې د فتح غورځنګ يو درې کسيز فدايي ټيم د منظم کيدو په حال کې و او د الخليل ښار په منځ کې د غاصبينو او د هغوی ساتونکي فوځ په خلاف يې د پريکنده عملياتو پلانونه جوړول. د سختو امنيتي تدابيرو سره سره هغوی وسله لکه ټوپکونه، مرمۍ او لاسي بمونه ترلاسه کړل، هغوی د ښار د ټولو ساحو جاج واخيست تر څو له ټولو اسان او مؤثر هدف غوره کړي او دښمن ته زيات تاوان ورسوي، هغوی د بيلابيلو بهانو په جوړولو سره د ښار په پخوانيو برخو کې ګرځيدل او خپل مقصديې پټ ساتلی و.
هغوی په الدبوئيه اپارتمان کې په استعماري او فوځي غونډه باندې د بريد فيصله کړې وه. دوی په پټه او احتياط سره هديرې ته داخل شول چې د اپارتمان له پاسه ښکاريده، هغوی خپل ځايونه ونيول او د پريکړه کوونکې لمحې په انتظار شول او بيا يې د لاسي بمونو په غورځولو او ډزو کولو سره بريد پيل کړ، هر طرفته د چيغو اوازونه لوړ شول، فوځيانو په بريدګرو باندې د ځوابي ډزو همت له لاسه ورکړ او کافي وخت وروسته په لوی شمېر کې کومکي عسکر راغلل تر څو مړي او ټپيان له صحنې وباسي.
د مرګ ژوبلې د ارقامو په هکله بيلابيل راپورونه وو خو په دې کې شک نه و چې شمېر يې کم نه دی. په ښار کې ګرځبنديز ولګيد او په هر ځای کې تالاشي شروع شوه تر څو د بريدګرو په هکله معلومات ترلاسه شي، او ورسره په ځنګ کې په هر طرف کې منظمه او قصداً ويجاړي وشوه. ګرځبنديز تر څو ورځو پورې دوام وکړ او کله چې ختم شو نو اشغالګر فوځ په ښار کې نوي قوانين اعلان کړل،حرم ابراهيمي شريف چې دوی به هلته فقط د سيلانيانو په حيثيت

ورتلل، اوس هغوی یوه حصه د ځان لپاره ځانګړې کړه چې هلته به مذهبي غاصب یهودیان بغیر د جمعې له لمانځه تقریباً هر وخت موجود وو.
په یوسفیه تالار کې څوکۍ او ګلداني کیښودل شوې او په لسګونو عسکرو به د دې ځایونو او په دې کې موجود د متدینو یهودیانو او د هغوی د عبادت د شیانو ساتنه کوله، په دې وخت کې یې لارې بندې کړې، ودانی ضبط شوې، په خلکو فشار زیات شو او د اشغالګرو عسکرو ګزمې زیاتې شوې چې د خلکو هویت کارډونه به یې کتل، د هغوی سامانونه به یې تالاشي کول او په هره کوڅه کې به موجود وو چې له امله یې د خلکو ژوند په حقیقي عذاب بدل شو او داسې معلومیده چې د اشغالګرو او زورواکو د ظلم له امله د خلکو ژوند ورځ تر بلې ترېخیږي.
جمال به حرم ابراهیمي ته د لمانځه اداء کولو لپاره تلو او له ټولو محدودیتونو او سختیو سره هغه حرم ابراهمي ته تګ راتګ ته دوام ورکړ ځکه په دنیا کې هیڅ شی هم مور په خپلو جوماتونو کې له لمانځه څخه نشي راګرځولی. دوی ډیره هڅه کوي تر څو مور وویروي او له مسجد څخه مو وباسي خو تر څو پورې چې زموږ په رګونو کې وینه ګرځي مور به تر هغو پورې له خپل جومات نه لاس وانخلو. دې حالاتو ته په کتو له اولاد سره محبت کوونکو میندو او فکرمندو میرمنو به دا حقیقت قبول کړ او د حفاظت او سلامتیا دعاوې به یې کولې.
جمال چې له کوم پوهنتون سره په تړلي ښوونځي کې کار کاوه هلته به د فتح غورځنګ سره د تړاو لرونکو استادانو یه مابین کې همیشه بحثونه کیدل. استادانو به په فتح او اسلامپالو باندې تنقید کاوه حال دا چې دغو استادانو به د اشغالګرو په مقابل کې وسله نه راخیستله او فقط تماشه به یې کوله او په خندا خندا به یې بحثونه او مباحثې کولې چې زموږ ملت ته د حقیقي جنګ کولو لپاره چې هغه کله هم نه بندیږي: د دین او ایمان وسله پکار ده او خپل دین ته متوجه کیدل پکار دي ترڅو جنګ خپل حقیقي معنی او مطلوبې سطحې ته ورسیږي او کله

چې خلک دا زده کړي چې دوی په دنیا کې د همدې لپاره جهاد کوي. تکالیف زغمي او له مشکلاتو سره مخ کېږي تر څو د اخرت اجر او رضوان ترلاسه کړي نو دوی به په اسانې سره دا مشکلات وزغمي بلکې خپل زامن به هم د جهاد او قرباني لپاره اماده کړي. او په دې توګه به دوی نه د کوم نقصان ښکار شي او نه به په ملي فریضه کې د غفلت تور پرې ولګېږي.
زیات وخت تېر نشو چې زورواکو یو پټ ګروپ جوړ کړ چې په الخلیل ښار او نورو سیمو کې په عربو حملې وکړي. له دوی سره وسلې. مهمات او چاودېدونکې توکي موجود وو او د دې ګروپ ډېری کسانو د اسرائیلو فوځ په جنګي قطعاتو کې دندې کړې وې. دې شر خوښو ته د یهودیانو د لوی راهب (حاخام الاکبر) ملاتړ ترلاسه و. دوی ته به یې دیني جواز ورکاوه او د زیاتو عربو د وژلو او د هغوی د کورونو او عبادت ځایونو د تباه کولو فتواوې به یې ورکولې.
سهار چې کله د الخلیل پوهنتون نارینه او ښځینه محصلین د پوهنتون په انګړ کې راټول وو. یو سپین رنګه پیجو موټر ودرېد او درې مسلح کسان ترې راښکته شول او په محصلینو یې ډزې پیل کړې او په څو دقیقو کې موټر له هغه ځای نه پنا شو او په لسګونو محصلین یې په وینو کې لت پت پرېښودل چې ځینې پکې شهیدان شول. له ډېر وخت تېرېدو وروسته د اشغالګرو فوځ او د څارګرې ادارې خلک راغلل او د پېښې د تحقیقاتو تمثیل یې پیل کړ. هغوی له ځینو محصلینو او لاریانو څخه پوښتنې ګروېګنې شروع کړې او خلکو به له ځانونو سره ویل: دا خلک څه غواړي. آیا موږ دا ومنو چې دا پېښه د دوی پلان او سازش نه دی؟
د دې ګروپ زورواکو د القدس په زاړه ښار کې یوه ودانۍ په کرایه ونیوله او هلته یې عصري چاودېدونکي توکي جمع کول پیل کړل او د یو تقاعد شوي فوځي افسر په څارنه کې یې تربیت شروع کړ تر څو مسجد اقصی له خلکو سره والوزوي او د هغه ځای اسلامي اثار له منځه یوسي. دا خبره امنیتي ادارو ته

ورسیده او هغوی د دې معاملې جاج واخیست او دې پایلې ته ورسیدل چې اوس د مجسد اقصی د تباه کولو مناسب وخت نه دی نو هغوی د دې افراطي ګروپ دا فیصله رد کړه او هغوی یې په مؤقتي توګه زندان ته ولیږل سره له دې چې هغوی ډیر خلک وژلي وو او په خطرناکو دسیسو کې ملوث ول.
په هغه وخت کې یو مذهبي افراطي ګروپ چې «حرکة امناء الهیکل» نومیده؛ اعلان وکړ چې دوی د مسجد اقصی داخل ته په ننوتلو سره د خپل هیکل بنیاد کیښودل غواړي چې د مسجد اقصی په رنګولو سره به جوړیږي او دا چې هغه د دې کار لپاره طاقت هم استعمالولی شي. څه وخت وړاندې یوه افراطي په مسجد اقصی برید وکړ او د اسلامي اوقافو په ساتونکو او عبادت کوونکو یې ډزې وکړې چې له امله یې څو کسان شهیدان شول.
د دې ګروپ په مسجد اقصی باندې د برید د نیت خبر هر ځای خپور شو او له ماسپښین مخکې دا خبر اسلامي پوهنتون ته هم راورسیده. سمدستي د محصلینو شورا ځینې غړي چې ابراهیم هم پکې شتون درلود د پوهنتون په انګړ کې راټول شول او مسجد اقصی ته د وړپېښو خطراتو په هکله یې ناسته وکړه او اعلان یې وکړ چې له محصلینو سره به القدس ته ځي. ځینو محصلینو د والدینو له خبرولو پرته سفر تشوای کولی او ځینو خپلې بکسې او کتابونه خپلو ملګرو ته ورکړل تر څو یې د دوی کورونو ته ورسوي او والدینو ته یې ووايي چې دوی القدس ته روان دي، زه او ابراهیم هم له دوهمې کټګورۍ څخه وو.
زموږ بس د القدس په خوا روان شو اوله موږ سره د پوهنتون یو ښوونکی شیخ یونس هم و. زموږ زړونو غوښتل چې بس موږ په هوا مسجد اقصی ته ورسوي تر څو موږ خپل ځانونه د مسجد اقصی لپاره سپر کړو. په ټوله لاره شیخ موږ ته د بیت المقدس څمکې د فضیلت او په دې کې د جهاد د فضیلت په اړه خبرې کولې تر دې پورې چې زموږ احساسات له حد نه واوښتل.

کله چې موږ مسجد اقصی ته ورسیدو نو هلته مو په زیات شمېر کې نارینه، میرمنې او ماشومان ولیدل، یو لوی او غیر منظم تولی و. موږ تقریباً شپېته کسان وو او د جومات په یو کونج کې سره راټول شو او رهبري مو تکشیل کړه چې مشري یې ابراهیم کوله او شیخ یونس به موږ ته رهنمایي او هڅونه کوي. موږ ځانونه په څو ګروپونو وویشل او هر ګروپ ته د یوې دروازې د ساتنې مسؤلیت ورکړل شو چې د بریدګرو راتلل ترې ممکن وو او له موږ سره د خپلې دفاع لپاره فقط لاسونه، لرګي او کاڼي وو.

موږ په خپلو ځایونو ودریدو او موږ ته په تاکید سره وویل شول چې په هیڅ صورت هم خپل ځایونه خوشي نکړو ځکه که بریدګر له مختلفو ځایونو څخه حمله وکړي نو غیر منظم هجوم به لومړی د دروازې په خوا منډې وهي له کوم ځایه به چې د برید خبر راځي.

هر ګروپ په دوو برخو وویشل شو تر څو د لمانځه په وخت کې یو ګروپ لمونځ او بل ګروپ پیره وکړي، کله چې اول ګروپ لمونځ وکړي نو دوی به پیره کوي او دوهم ګروپ به لمونځ کوي. د شپې په راتګ سره چې کله انتظار اوږد شو نو فیصله وشوه چې اول ګروپ به د شپې په اوله حصه کې خوب کوي او دوهم ګروپ به د شپې په دوهمه حصه کې خوب کوي. د رهبري ټیم به هر ګروپ ته هدایات رسول تر څو د ټولو عمل متحد و اوسي. چا چې پیره کوله هغوی سختې یخنی ونیول، ځینو ځایي خلکو سمدستي د وړیو کمبلې راوړې او هر یوه ته یې یوه یوه کمبله ورکړه تر څو ځانونه پرې پټ کړي. موږ د جومات له ډبرینو ستنو او دیوالونو سره ناست وو او هره شیبه به مو هغو ته کتل او زموږ په زړونو کې د دې مقدس ځای د تاریخي مراحلو یادونو ګردش کاوه، موږ د الله تعالی شکر ادا کاوه چې موږ ته یې د مسجد اقصی د حفاظت شرف رانصیب کړ.

موږ د رسول الله صلي الله علیه وسلم د اسراء او معراج یاد را په زړه کړ، صلاح الدین ایوبي مو یاد کړ ، زموږ سترګې نمجنې شوې او د ځینو ملګرو د سلګیو غږونه مو واوریدل. نیمه شپه موږ له دوهم ګروپ سره بدل شو، موږ هغوی ته کمبلې او کاني ورکړل او موږ د مسجد اقصی انګړ ته لاړو او نیمه کمبله مو راته لاندې او نیمه مو راباندې له پاسه کړه او ویده شو. د سهار په اذان سره موږ پاڅیدو، اودسونه مو وکړل او له لمونځ کوونکو سره مو لمونځونه وکړل. د مسجد اقصی یو ساتونکي زموږ د تنظیم او چمتوالی جاج واخیست او د ابراهیم په غوږ ې بې پټ وویل چې دلته په سلګونو د اوسپنې پایپونه دي چې د ساختماني کارونو لپاره استعمالیږي، هغه له ځانو سره واخلئ او که ورته ضرورت شو نو استعمال یې کړئ.

کله چې لمر سترګه راوختله نو یو بل بس د پوهنتون له محصلینو نه ډک راغی او زموږ شمېر له سلو نفرو نه واوښت. له هر یو سره د اوسپنې یو پایپ و چې له لاسونو او کانو څخه څو ځلې بهتر و. ټول په خپلو ځایونو ودریدل او خلکو بیا د جومات په خوا راتګ شروع کړ. کله کله به اوازه شوه چې برید ګر د باب المغاربه له طرفه برید کوي نو ټول خلک به د هغې دروازې په خوا لاړل او د پوهنتون محصلین به په خپلو ځایونو ولاړ ول. موږ د ځوانانو یو لوی شمېر خلک ولیدل چې له عوامو نه زیات منظم وو او هغوی موږ ولیدو او پوه شول چې ابراهیم زموږ مشر دی. د هغوی ځینې خلک راغلل او له ابراهیم سره یې خپل تعارف وکړ. هغوی د ۱۹۴۸ د سیمو په خاصه توګه د ام الفحم مذهبي ځوانان ول، هغوی سمدستي له موږ سره شامل شول او زموږ د ټیم حصه وګرځیدل. د هغوی غیر معمولي ښه زړونه او د قربانۍ لپاره حیرانونکی چمتووالی و. په هغوی کې به یوه ډېر ژر کومه نغمه، سندره یا موال شروع کړ چې په هغو کې به یې په روح او وینې سره له اقصی نه د قربانیدلو ذکر کاوه. موږ

د خپلو سترګو اوښکې نشوای قابو کولی او زموږ د لاسونو ګرفت به د اوسپنې په پایپونو نور هم مضبوط شو.
هغه ورځ چې د الهیکل څارونکو ټاکلې وه بغیر له دې چې دوی مسجد ته نږدې راشي؛ تېره شوه او موږ یوه ورځ بله هم هلته تېره کړه تر څو اطمینان حاصل شي. کله چې موږ ته معلومه شوه چې خطره نشته او موږ د ماسپښین لمونځونه په مسجد اقصی کې اداء کړل نو موږ د جومات په انګړ کې یوه حلقه جوړه کړه او شیخ یونس موږ ته د دې جهادي سفر په اړه خبرې وکړې چې موږ د الله تعالی او اقصی په لاره کې راوتلي یو خو الله تعالی له موږ سره د دښمن مخامخ کېدل نه وو لیکلي او نه هم چاته شهادت نصیب شو. بیا هغه دعا وکړه چې الله تعالی دې زموږ اقصی د دوی له دسیسو وساتي او موږ ته دې د اقصی په سیمه کې د جهاد او شهادت اعزاز رانصیب کړي. هغه اوږدې اوږدې دعاګانې کولې او موږ به امین امین ویل ، د ټولو له سترګو اوښکې روانې وې او د فریاد غږونه یې لوړ شول او بیا بس موږ واپس غزې ته راستانه کړو او په ټوله لاره خاموشي خپره وه.
د مسجد اقصی دا سفر او زموږ له خپلو خلکو سره ملاقات چې هغوی ته به یې عرب الداخل ویل، چې هغوی موږ ته د خپلې برخې د یوه خواره شوي قوم یاد راتازه کړ. دا لومړی ځل و چې د عرب الداخل له خلکو سره مو مخامخ ولیدل، ما د دوی په اړه مخکې یو څه اوریدلي وو خو په دې ملاقات کې ما دوی له نږدې وپېژندل او ما درک کړه چې دوی سمدستي زما په زړه کې د هغوی د ښایسته ځانګړتیاوو، ښو زړونو او خوش مزاجي له امله ځای پیدا کړ.
تر ټولو مهمه خبره دا وه چې دوی په دې ټوله موده کې د اشغالګرو په وړاندې ثابت قدمي پاتې شول، سره له دې چې په دوی ډېر کوښښونه وشول چې د خپل عرب او اسلامي تشخص او فلسطین والي نه محروم شي خو دوی تر دې څو خله زیات ثابت قدم شول چې انسان یې تصور کولی نشي تر څو چې یو چا ذوی او د دوی عزم نه وي لیدلی.

زما وررور محمد د داخلي سيمې له ځينو ځوانانو سره ملاقات کړی و کله چې هغه د الخليل پوهنتون ته سفر کړی و لکه څنګه چې د بيلابيلو اتحاديو د کارمندانو معمول و، محمد له خپلو ملګرو سره د لويديځې غاړې او غزې ترانګې د نورو پوهنتونونو سفرونه هم کړي وو چې هغه به هلته له همفکره کارمندانو سره ملاقاتونه کول او د کارونو هماهنګي به يې کوله.

په دې سفرونو کې يو ځل چې هغه په الخليل پوهنتون کې و، يوه کارمند هغه د محصلينو وطاق ته د غرمې ډوډۍ لپاره دعوت کړ، هلته هغه يو څو ځوانان وليدل چې د محمد يې تود هرکلی وکړ او د ډوډۍ بندوبست يې وکړ. محمد پوه شو چې دا د داخلي سيمو (۴۸) ځوانان دي لکه ام الفحم او کفر قاسم وغيره سيمې. دا څرګنده وه چې دا ځوانان د ښو اخلاقو او لوړې ديني سطحې خاوندان دي، هغوی له دين او دغه قوم سره تړاو محسوس کړی و او د اشغال لاندې ژوند تيرولو هغوی له خپل دين او خپلې ملي قضيې سره نور هم مضبوط وتړل.

زما وررور محمد له لوی امتياز سره د ساينس له پوهنځي فارغ شو چې له امله يې هغه سمدستي د بئر زيت پوهنتون د کيميا په څانګه کې د معاون په توګه وټاکل شو. زما مور د هغه د فراغت او غزې ته د راستنيدو منتظره وه خو د هغه له ټاکل کيدو وروسته معلومه شوه چې هغه به په لويديځه غاړه کې ډير وخت تېروي. دا خبره زما د مور لپاره يوه ستونزه وه ځکه محمد په رام الله کې پرله پسې موجود نه نشو خو دا د يوې ستونزې حل هم و ځکه د هغه له راستنيدو سره به هغه ته د يو نوي وطاق ضرورت و او په کور کې د هغه لپاره ځای نه و. کله چې هغه په رام الله کې د خپلې استوګنې په هکله خبرې وکړې نو هغه ته وويل شول چې تقريباً تر يوه کال پورې به له خپلو ملګرو محصلينو سره په مشترک اپارتمان کې اوسيږي لکه څنګه چې د زده کړو پر مهال اوسيده.

په مسجد اقصی کې له پیرې نه وروسته یوه ورځ موږ په کور کې ناست وو چې ما د هغې واقعې یادونه وکړه، ما د خپلو غاښونو په مابین کې خبره وکړه او زه د شاته کیدو یا د خبرې د بندولو وړ پاتې نشوم. سمدستي ابراهیم ماته سخت وکتل او محمود په ابراهیم، محمد او حسن باندې تنقیدي حمله شروع کړه ځکه هغوی یې په مسلح مقاومت کې له برخې اخیستلو نه منع کړي وو او فقط یې د سیاسي او ټولنیز فعالیت اجازه درلوده او ورته ویې ویل چې په اوس وخت کې ته خپل قیادت د الزام په مقام کې ایږدې، ځکه هغه د ځوانانو لوی ظرفیتونه د مذهب په نوم په مقاومت کې له مصروف ساتلو نه منع کول.
محمد ځواب ورکړ: داسې ښکاري چې د زده کوونکو په کارونو کې مشغولتیا هغه په سیاسي بحث کې تجربه کار جوړ کړ، ستا د خبرو په اوریدو به څوک دا وګڼي چې ستاسو ټوپکونه به هیڅکله خاموش نشي او ستاسو فعالیتونه به یهودیان په څو ساعتونو کې تیښتې ته مجبور کړي؟ ته پوهیږې چې له څو کلونو راهیسې د مسلح مقاومت په نوم هیڅ شی هم نه و، او کوم څه چې کیږي هغه ډیر کمزوري دي چې په خپل ابتدائي حالت کې بیرته ختمیږي، ایا دا صحیح نه دي انجنیر صاحب؟
کله چې موږ راتلونکی ماښام جومات ته د لمانځه لپاره لاړو نو ځوانانو له معمول سره سم په جومات کې حلقه جوړه کړه او شیخ احمد خبرې کول غوښتل. محمد له هغه څخه په اجازې غوښتلو سره وویل: شیخ احمد صاحب ماته اجازه راکړئ یوه پوښتنه کوم او ځواب یې غواړم ځکه دا پوښتنه ډیری وختونه له موږ څخه کیږي، او هغه داده چې د اسلامپالو په قوم یعنی مقاومت کې څه رول دی؟
شیخ احمد په خندا، خپل شاوخوا او حاضرینو ته په کتلو سره وویل: موږ اوس د تربیت او چمتووالي په مرحله کې یو او بیا هغه د تربیت په اهمیت او د خلکو د راتلونکي په جوړولو باندې خبرې وکړې چې څوک لوی مقاصد ترلاسه کول غواړي او بیا خپلې لومړی موضوع ته ور وګرځید.

موږ به د تربيت او چمتووالي الفاظ بيا بيا تر مياشتو او کلونو پورې اوريدل، کله به چې زموږ په کور يا د عبدالحفيظ په کور کې د هغه په شتون کې بحث کيده، يا د پوهنتون په کوم بحث کې به چې اسلامپالو د مسلح مقاومت په اړه پوښتنه کوله نو ځواب ورکوونکي به ويل: موږ اوس د تربيت او چمتووالي په مرحله کې يو. او اکثر به دوی د دې ځواب لپاره د اسلامي دعوت د لومړي رهبر محمد صلي الله عليه وسلم مثال ورکاوه چې هغه هم د تورې له جهاد نه مخکې تر ډيرو کلونو پورې تربيتي او دعوتي کارونه کول.

يوه ورځ موږ ناوخته کور ته ورسيدو نو موږ ته معلومه شوه چې زموږ مور ډيره پريشانه ده او موږ ته معلومه شوه چې يوه پوليس ابراهيم ته يو جلب ورکړی دی چې هغه بې راتلونکې سهار د څارگرې ادارې دفتر ته غوښتلی دی او د ځنډ نه کولو اخطار يې هم ورکړی دی. ابراهيم خفه نشو او نه يې په مخ د خفگان يا خوف اثرات څرگند شول، هغه زما مور ته ډاډ ورکړ چې دا يوه معمولي خبره ده او داسې جلبونه په لسگونو ځوانانو ته روزانه راليږي چيرته چې له دوی نه يو څو پوښتنې کوي.

راتلونکې ورځ ابراهيم هماغه مصاحبې ته ولاړ چې هلته هغه او د هغه په څېر نور ځوانان تر ساعتونو پورې په يوه کوټه کې بند کړلی شول تر دې پورې چې ماذديگر شو او له هغه نه وروسته هغوی د سيمې د استخباراتو د افسر دفتر ته بوړل شول چې د هغه کُنيت(نوم) ابو وديع و. هغه له ابراهيم نه د کورنۍ، خپلوانو، استوگنې او زده کړو په هکله عام سوالونه شروع کړل، ابراهيم لنډ لنډ ځوابونه ورکړل او ابو وديع هغه په خبرو کې د مشغول ساتلو کوښښ کاوه خو ابراهيم د اختصار په پاليسي باندې عمل کاوه.

يوه شيبه له دغو سوالونو کولو نه وروسته هغه په پوهنتون کې د هغه او محصلينو د فعاليتونو په هکله پوښتنې شروع کړې خو هغه فقط د «هو» يا « ماته معلومات نشته» ځوابونه ترلاسه کړل. ابو وديع غصه شو او په چيغه يې وويل: ايا ته فکر

کوې چې موږ ستا د فعالیتونو او اړیکو په هکله معلومات نلرو؟ او یا دا چې ستا سر د کاني په خبر دی؟ ابراهیم چپ پاتې شو چې له امله یې د استخباراتي افسر غصه نوره هم زیاته شوه او هغه د ابراهیم په څپېړو وهلو او دیکه کولو مشغول شو. خو ابراهیم هیڅ حرکت ونکړ او مخ یې سور شو. ابو ودیع چیغه کړه: تربیت او چمتووالی! تربیت او چمتووالی د څه لپاره؟ ابراهیم ځواب ورکړ: ماته معلومات نشته چې ته د چا په باب خبرې کوې؟ ابو ودیع په خندا شو: ماته معلومه وه چې ته به همداسې وایې او زه له تا څخه نوره څه توقع نلرم خو یاد ساته چې موږ ته معلومات کېږي چې ته همدا الفاظ تکراروې او تا د پوهنتون د محصلینو. د پوښتنو په ځوابونو کې دا خبره سل ځله کړې ده خو ته پوه شه چې موږ ستا څارنه کوو او موږ ته د هرې هغې ساه په اړه معلومات شته چې ته یې تنفس کوې، او کله هم چې ته د یوه څه په اړه سوچ کوې نو موږ ته به معلومیږي. ډېر ژر به ته پوه شې چې موږ څنګه تا زندان ته اچوو. ابو ودیع ابراهیم ته د هغه د هویت کارډ په بیرته ورکولو سره وویل: ستا په سترګو کې چې کوم نفرت دی داسې دی لکه د یو قچر په سترګو کې چې وي. بیا دې چې کله زه راغواړم نو بیا کور ته تګ دې له زړه وباسه. ابراهیم خپل کارډ واخیست او له وطاق نه د وتلو په مهال یې یوه خندا وکړه چې د هغه لپاره یې کنټرولول ستونزمن و.

شپاړلسم څپرکی

زما د ترور فتحیې یوه لور پیدا شوه چې نوم یې «منی» پرې کیښود. دا ماشومه ډېره ښایسته، خوش مزاجه او هوښیاره وه خو هغې زما د ترور توجه له خپل زوی عبدالرحیم څخه وانه ړوله چې هغه اوس تګ او خبرې زده کړې وې. بیا هغوی عبدالرحیم د نوي تعلیمي کال په شروع کیدو سره ښوونځي ته تیار کړ. عبدالرحیم یو ښکلی غنمرنګ هلک و خو هغه ډېر تونده مزاجه وه، که چا به خفه کړ نو هغه به چپ و او تر هغه وخت پورې به چپ و تر څو به یې چې د

خپلې غصې اظهار نه و کړی او بیا به یې هغه څوک وهل چې چا خفه کړی و. هغه له خپل تره عبدالرحمن سره ډیر تړاو درلود.

عبدالرحمن د پوهنتون د زده کړو له تکمیل نه وروسته واده کړ او یوه لور یې پیدا شوه چې د هغې نوم یې «رقیه» کیښود. عبدالرحمن له خپل وراره عبدالرحیم سره ډیره مینه کوله او کله به یې چې هم وخت پیدا کړ نو هغه به یې له ځان سره بهر بیولو. د هغې مور به عبدالرحیم تیار کړ او له تره سره به یې ولیږه او هغه به یا د غره طرفته بیوه او یا به یې ماښام په کلي کې د قدم وهلو لپاره بیوه، او له نږدې دوکان څخه به یې د هغه د خوښې شیان ورته اخیستل. اکثر به یې هغه د ماښام لمانځه ته له ځان سره بوتلو . عبدالرحیم به له خپل تره سره په لمانځه ودرید او د هغه تمثیل به یې کاوه. که عبدالرحمن به په نفلو کې سجده اوږده کړه نو عبدالرحیم به سر راپورته کړ تر څو وګوري چې تره یې په کوم حالت کې دی او کله به یې چې هغه په سجده کې ولیده نو هغه به هم سجدې ته لاړ. بیا به هغه په جومات کې له تره سره کیناست او هلته به نور ځوانان هم راتلل چې چا به د فقهي مسئلې په اړه، چا به د تاریخي واقعې او چا به دسیرت النبي په هکله خبرې کولې. عبدالرحیم به پښې یو په بل تاو کړې او څوړند سر به کیناست او بیا به یې خبرو کوونکو ته کتل او سر به یې د خپلو لاسونو په مابین کې کیښوده. عبدالرحیم به اکثره خپل تره الخلیل ته له ځان سره بیولو او له هغه سره به نور ملګري هم تلل چې هغوی به په دیني، سیاسي او نورو موضوعاتو بحث کاوه. کله کله به هغوی په الخلیل کې یو جومات یا د کوم ملګري کور ته تلل.

په اشغال شویو سیمو کې سیاسي شعور څرګنده وده کړې وه په ځانګړې توګه د ځوانانو په مرکزونو، پوهنتونونو، کالجونو او لیسو کې. په سیاسي او فکري قوتونو کې مقابله په تدریج سره مخ په زیاتیدو وه څکه هر قوت هڅه کوله چې زیات فرصتونه لاس ته راوړي. مثلاً په پوهنتونونو کې هر ګوند کوښښ کاوه چې محصلین خپل طرفته مائل کړي تر څو د اتحادیې ټاکنې وګټي. په دې دوران

کې به همیشه کوچنی او محدودې نښتې رامنځته کیدلې چې هغه به ډیر ژر او په اسانی سره حل شوې خو د اسلامي ګوند په مختلفو ځایونو باندې مقابلو ته په کتو په ملي غورځنګ په خاصه توګه د فتح په غورځنګ کې سخت حساسیت پیدا شو. ملي غورځنګ چې له بیلابیلو ګروپونو سره یو ځای یې د فلسطین د ازادۍ د غورځنګ (پي ایل او) استازیتوب کاوه؛ ځان یې یوازینی قانوني نمائنده ګڼلو او دا خبره وه چې فلسطیني قوم پرې د لسیزو نه ولاړ دی او دا خبره عربي ټولنو، عربي هیوادونو حتی چې ملګرو ملتونو هم تسلیم کړې وه.

دا حالت تر لسیزو پورې روان وو، بیا یو دم اسلامي ګوند په اشغال شویو سیمو کې راپورته شو او په مختلفو ځایونو کې یې د پي ایل او له استازو سره مقابلې وکړې، په ډیرو ځایونو کې یې ټاکنې وګټلې او په ځینو کې یې ښه تناسب لاسته راوړ چې له امله یې سخت تشویش پیدا شو او دا تشویش دوو نورو اړخونو لا پسې زیات کړ: لومړی دا چې دې غورځنګ په مسلحه مبارزه کې هیڅ عملي مسؤلیت وانخیست او دوهم دا چې دوی د فلسطین د ازادۍ غورځنګ د فلسطیني خلکو د واحد استازي په توګه نه منلو، اګر که د هغوی مشرانو په ښکاره توګه د دې اقرار نه کاوه خو په واضحه توګه یې دا حقیقت نه تسلیماوه، که له دوی څخه به په دې هکله پوښتنه وشوه نو هغوی به سفارتي ځوابونه ورکول چې په هغو کې نه صفا «هو» وي او نه صفا «نه» وي.

د دې غورځنګ په طاقت کې په خاصه توګه په غزه او اسلامي پوهنتون کې اضافه وشوه چې هلته اسلامي ګوند د محصلینو په ټاکنو کې په لوړ شمېر سره په بریا ترلاسه کولو باندې تقریباً په ټولو محصلینو کنټرول پیدا کړ. او همدارنګه د استادانو په انتخاباتو کې هم د دوی نوماندانو وګټله او د ښځینه محصلینو په ټاکنو کې یې هم هغوی ته بریا ورکړه. د دې طاقت په زیاتیدو سره حالت تشویشناک شو چې له هغه نه وروسته زیات سنجیدلي کوښښونه شروع شول تر څو توازن بیرته راوګرځي او داسې ښکاریده چې له بهرنیو رهبریو څخه هدایات

راتلل چې ستونزې په ښه توګه حل شي. له دې نه وروسته ټولې حلقې په کارونو مشغولې شوې چې له امله يې په ځينو ځايونو کې سخت تشنج رامنځ ته شو او څو ځله دا نښتې له پوهنتونونو څخه بهر کوڅو او کمپونو ته ورسيدې چې د يوې ډلې خلکو به د دوهمې ډلې په خلکو حملې کولې او هغوی به يې په خواب کې په دوی حملې کولې، په دې قسم نښتو کې به فزيکي زيانونه هم اوښتل او د درملنې اړتيا به هم پيدا کيده.

په دې حالاتو کې به هر څوک له خپل غورځنګ او تنظيم سره ولاړ و، هر چا به د خپل غورځنګ خبره کوله او د هغوی د دريځ دفاع به يې کوله. دې خبرې سمدستي زموږ په کور هم اغېز وکړ، زما ورور محمود فتحاوي وو. زما وروڼه محمد او حسن او د تره زوی ابراهيم له اسلامي ګوند سره ول او زموږ ګاونډی او د حسن د ميرمنې ورور په الجبهة الشيعية کې و. کله به هم چې داسې نښتې رامنځ ته کيدلې نو دې خبرو به زموږ په کور او اړيکو باندې هم خپلې اغېزې شيندلې چې خبره به له بحث نه شروع او تر چيغو پورې به ورسيده « تا داسې وکړل، نه تا داسې وکړل، ته څوک يې چې داسې به وکړې او تاته خپل ځان اخر څه شی ښکاري؟» زما مور به د اصلاح او صلحې هڅه کوله او يا به يې اقلاً دې ته کتل چې خبره تر لاس اچولو پورې ونه رسيږي او زه به هم عموماً د مور په خوا ولاړ وم. د محمود ميرمن به له محمود سره او د حسن ميرمن به له حسن سره ولاړه وه او اخر بهٔ ټول خپلو کوټو ته لاړل. په داسې حال کې چې له يوه بل نه لاره جدا کړي او خپله غصه ظاهره کړي.

په پوهنتون کې د ابراهيم رول او په اسلامي ګوند کې د هغه د مخکښ مقام له امله د هغه عزت زيات و چې تر يوه حده د تقدس تر پولو هم رسيدلی و خو دا چې زه هم په پوهنتون کې وم او له هغه سره نږدې وم نو ما دا محسوسوله او ويريدم چې څوک په هغه حمله ونکړي نو له دې امله ما خپله ټوله هڅه کوله چې له هغه سره نږدې پاتې شم تر دې پورې چې زما درسي ساعتونو او د هغه

شتون به ماته اجازه راکړه. کله کله به هغه غائب شو او کله کله به د اسلامي گوند له کارمندانو سره ولاړ یا ناست و نو زه به نږدې نه ورتلم ځکه زه پوهیدم چې هغوی په خاصو معاملاتو خبرې کوي او یقیناً چې هغوی به نه غوښتل چې زه یې خبرې واورم.

داسې معلومیده چې د ابراهیم د رول په اړه د فتح د کارمندانو په توسط معلومات زما وړور محمود ته رسیدل چې هغه د هغوی لپاره د مشر حیثیت درلوده. ما به د محمود په مخ د ابراهیم لپاره غصه او ناخوښي لیدله او هغه به نږدې نه ورتلو او داسې خبره به یې نه ورته کوله چې له امله یې هغه خفه شي ځکه دا زما د مور لپاره سره کرښه وه، د ابراهیم خفه کول له قیامت سره مترادف و ځکه د هغې مور هغه پریښې و. کله کله به محمود د خپلو دماغو په قابو کولو سره د ابراهیم سره د خبرو هڅه کوله چې جنگ جوړ نشي نو زما مور به غصه پرې وباسله، محمود به ورسره خبرې وکړې چې دا کار په دې طریقه نه کیږي او کوم څه چې ته یې کوې دا غلط دي وغیره... چې د دې مطلب دا وو چې ابراهیم او د هغه گوند د د ترسره کیدونکو گډوډیو ذمه وار دي.

ابراهیم په مسکا وویل: یاره ته په ما باندې د ذمه واري د را اړولو هڅه کوې، موږ جنگ شروع نکړ نو تاسو زموږ وجود د یو ملي قوت او د یو سیاسي او ټولنیز غورځنگ په حیثیت منلو ته تیار نه یاست.

محمود ځواب ورکړ: تاسو د تاوتریخوالي طرفته میلان لرئ او د کوتکو، ځنځیرونو او تبرونو استعمال کوئ، تاسو د فلسطین د ازادۍ غورځنگ (پي ایل او) نه منئ او په مسلح جنگ کې خپله ذمه واري نه اخلئ او د ملي غورځنگ په استازو حملې کوئ په داسې حال کې چې اشغالگر تاسو ته گوري او خوشحالیږي.

ابراهیم خفه ښکاره شو او پوښتنه یې وکړه: ایا ته په موږ باندې د غداري تور لگوې چې موږ اشغالگرو روزلي یو؟ محمود د وضاحت کولو هڅه کوله «زه په

تاسو تور نه پورې کوم ابراهیمه. زه په تاسو تور نه پورې کوم» خو کیدای شي چې ستاسو د مشرانو شخصي ګټې پکې وي.

ابراهیم ځواب ورکړ: یاره موږ چیرته جنګ نه دی شروع کړی موږ هر ځل د خپلې دفاع لپاره کار کړی دی. اصل خبره داده چې تاسو زموږ وجود د حریف په حیثیت منلو ته تیار نه یاست ګویا که د فلسطین کارونه، اداري او تنظیمونه بوازې ستاسو په نوم ثبت وي، تاسو باید دا ومنئ چې دلته یو سیال قوت شته چې له تاسو څخه یې نظر او دریځ مختلف دی.

په دې وخت کې زما مور چې دا خبرې یې اوریدې او د ابراهیم پرمختګ یې لیده، د مداخلت په کولو سره یې وویل: دا خبرې بندې کړئ او د سړک ستونزې د کور په جنګونو مه بدلوئ.

یو ځل فوځي والي ابراهیم او د مختلفو تنظیمونو کارمندان خپل دفتر ته وروغوښتل، کله چې ابراهیم هلته ورسید نو ویې لیدل چې تقریباً لس کارمندان راغلي دي او والي دوی په نوبت نوبت خپل دفتر ته غواړي. کله یې چې ابراهیم وغوښت نو والي ورسره خبرې شروع کړې او هغه یې د حالاتو ذمه وار وګڼلو. ابراهیم په دې خبره اعتراض وکړ او وضاحت یې ورکړ چې د دوی له جنګونو سره هیڅ کار نشته. والي د خبرو په بدلولو سره وویل: تاسو چې په اشغال شویو سیمو کې اوسیږئ، ازادي غواړئ، او بیا په خپلو کې جنګونه کوئ، تاسو هیڅ د ژوند کولو حق نه لرئ، او تاسو داسې او داسې یاست...

ابراهیم په یو مشکل کې واقع شو چې که چیرته هغه ځواب ورنکړي نو دا خبرې به د یوې ځپیړې په شان وي او که ځواب ورکړي نو ګویا که ابراهیم د هغه تصدیق کوي یا د هغه یوه برخه ده، له یوې شیبې سوچ نه وروسته ابراهیم وویل: د هر څه له مخه زه دا واضح کول غواړم چې زما له هغو جنګونو سره هیڅ تعلق نشته، خو زه یقیني یم چې ته پوهیږې چې تول هغه خلک چې په اشغال شویو سیمو کې ژوند کوي یا له چا سره چې خپلواکي وي په هغوی کې اختلافات او

جګړې کيږي او دا له تاسو سره هم ډير ځل شوې دي... په پخواني او نوي دور کې. او په اخري ځل د هګانا اعمال د اتسل خلاف وو.
يادونه: هګانا او اتسل دواړو د شلمې پيړۍ په منځ کې په فلسطيني ځمکه د برطانيه د حکومت په خلاف او وروسته د عربو د حکومت په خلاف د يهودي دولت په رامنځ ته کولو کې برخه اخيستلې وه.
... والي حيران شو او خپله حيرانتيا يې پټه نکړای شوه او پوښتنه يې وکړه: تاته دا څنګه معلومه شوه؟ ابراهيم ځواب ورکړ: دا په کتابونو کې ليکلي دي. والي بيا د ابراهيم د ننګولو په هڅه کې وويل: زه په دې فخر کوم چې ستا په څېر خلک يهوديان د ځان لپاره د مثال او نمونې په توګه پيش کوي. ابراهيم ځواب ورکړ: زه دوی د مثال او نمونې په توګه نه پيش کوم بلکې تاريخ مې د يوې نمونې په توګه ذکر کړ. او زه بيا تاسو ته دا يقين درکوم چې زما له هغو معاملو سره هيڅ تړوا نشته چې نن صبا کيږي.
هره ورځ به زما په نظر کې د ابراهيم قدر او احترام زياتيده ځکه هغه يو يتيم و چې پلار يې د هغه په څلورکلنۍ کې شهيد شو بيا د هغې مور هغه په کمکي عمر کې له مورې سره پريښود، خو هغه د کم عمرۍ او ستونزمنو حالاتو سره سره په ځان بسيا او ريښتونی رهبر جوړ شو.
ما به هغه ليده چې د پوهنتون په انګړ کې به ګرځيده، له خلکو سره به يې خبرې کولې، هغوی ته به يې هدايات ورکول او کارونه به يې تنظيمول. هغه يو ښه مفکر او يو ښه مناظر هم و او له دې ټولو ورهاخوا هغه په خپل ژوند کې د يوې ناواده کړې پيغلې په څېر و. وينې به په چټکۍ سره د هغه د مخ په طرف منډه کړه او اننګي به يې سره شول ګوړيا که اوس انفجار کوي.
اشغالګرو فوځيانو د پوهنتون ټعميراتي کارونه بند کړل تر څو پوهنتون تنګ او محدود پاتې شي. د پوهنتون د محصلينو شمېر هم له يو نيم زرو اوښتی وو او د هغوی اکاډميک او اداري عمله هم دومره پراخه شوې وه چې د هيڅ محصل او

با ليدونكي په زړه كې به دا شک نه پاتې كيده چې دوى د خطر له مرحلې
تيريږي او پوهنتون د دولتي پوهنتون په څېر روان و.
دا معامله د اشغال په خلاف د يوې ننګونې په شكل بدله شوه، حتى چې
اشغالګرو په زده كړو كې هم له موږ سره جنګ كاوه. له همدې امله موږ دې
نتيجې ته ورسيدو چې د كجورو د پاڼو او خيمو څخه يو څپر جوړ كړو او هلته
زده كړې وكړو. ابراهيم به موږ ته ولاړ و او د كار څارنه به يې كوله او په
محصلينو كې به يې د اصرار او ننګونې روح پيدا كاوه. په موږ كې به چې هر يو
پوهنتون ته راغى نو فكر به يې كاوه چې دا ځاى لومړى زموږ د ملي فريضې
حصه ده او په دوهم قدم كې تعليمي مزكر دى. زموږ پوهنتون د «جامعة الخيم»
نوم خپل كړ او دا زموږ د فخر او عزت موضوع وه او اشغال د علم او تعليم او د
خلكو د ارادو په مخ كې تم نشو او هغوى د حقيقت له منلو پرته بله چاره نه
درلوده. يو دم پوهنتون ته بغير له وړاندې خبرتيا نه څو لوى ټركونه راداخل شول
او په لوى شمېر كې ساختماني مواد يې په پوهنتون كې ښكته كړل. ابراهيم د
محصل او كارمند څخه په قراردادي بدل شو، موږ په سلګونو محصلينو له هغه
سره مرسته وكړه او په ښبنتو سره مو د ټولګيو په جوړولو پيل وكړ.
په همدې توګه په اشغالګرو باندې حقيقت مسلط شو او په څو ورځو كې يو څو
ټولګي تيار شول او څه موده وروسته نور ټولګي تيار شول او بيا دريم قسط هم
تيار شو او دا څرګنده شوه چې موږ نور د كجورو پاڼو او خيمو ته ضرورت نلرو
او دې هر څه زما په زړه كې د ابراهيم محبت، بلند والى او عظمت لوړاوه.
ابراهيم په درسونو كې هم ډير ښه و او د محصلينو په فعاليتونو كې به يې هم
ونډه اخيستله او په خپلو ملګرو كې يې د مشر په حيثيت سره ممتاز مقام درلود.
له دې ټولو سره سره به هغه تعميراتي كارونه هم كول چې د هغه له لارې به يې
دومره پيسې پيدا كولې چې د ده لګښتونو ته كفايت وكړي. خبره په دې ځاى
ختمه نشوه بلكې يو ماښام چې موږ په كور كې ناست وو نو هغه زما مور ته

وویل: یوه خبره کول غواړم او دا نه غواړم چې ته له ما خفه شې. مور مې ورته وویل: ته خو پوهیږې چې زه له تا څخه نه خفه کیږم او په دې هم پوهیږم چې ته به ماته داسې خبره نکوې چې ما خفه کړي. هغه وویل: خو داسې معلومیږي چې دا لومړی ځل دی چې زه داسې یوه خبره کوم نو له همدې امله ښننه غواړم. مور مې په حیرانتیا او تعجب سره هغه ته وکتل او پوښتنه یې وکړه چې څه خبره ده ابراهیمه؟ هغه ځواب ورکړ او له جیب نه یې د پیسو د یو بنډل په راوباسلو سره وویل: زه د کور په لګښتونو کې خپله حصه اچول غواړم. زه اوس لوی شوی یم او ډیرې روپۍ ګټم نو څکه باید زه د کور په لښګتونو کې ځان شریک کړم. په همدومره اوریدلو باندې زما مور پرې چیغه کړه: په تا څه شوي دي. ایا ته لیونی شوی یې؟ ابراهیم په ارام سره وویل: مورې زه اوس... مور مې د هغه خبره قطع کړه: نه اوس ته لوی شوی یې او نه بله خبره ده. دا فضول خبرې پریږده.که له تا سره له ضرورت نه زیاتې روپۍ وي نو ماته یې راکړه چې زه یې ستا لپاره وساتم، صبا یا بله ورځ به یې تاته ضرورت وي او که ته له پوهنتون نه فارغ شې او واده وکړې هلته به یې هم تاته ضرورت پیښیږي او بیا مور په نرمي سره وویل: کله چې له تا سره یوه روپۍ هم زیاتیږي نو ماته یې راکوه زه به یې ستا لپاره ساتم چې تاته به یې ضرورت پیښیږي ابراهیمه! او داسې ښکاریده چې دا انکار هغه ته د منلو وړ نه و څکه ما به هغه لیده چې هر څو ورځې بعد به هغه کور ته راتلو او له ځان سره به یې د خوراکي توکو، میوو، سبزیجاتو او یا خوړو کڅوړې په کور کې د حصې په توګه راوړلې. زما مور به هغه ته د احترام په نظر کتلو سره وویل: اوهو. زه له تا سره څه وکړم ابراهیمه، الله دې تا خوشحال لري.

مسلح مقاومت تر ډیره حده کم شوی و او دا متل مشهور شوی و چې: «د هر یهودي په مرګ سره به داسې کیږي» چې په دې سره به یې د هغه شي نایابه کیدو او یا ختمیدو ته اشاره کوله. نه یوازې د دښمن مرګ ژوبله کمه شوه بلکې د مقاومت د فعالیتونو نښې هم کمې شوې. د فوځي ګزمې شمېر کم شو چې په

سرکونو به یې ګزمې کولې، ډیر کم ګرځبندیز به لګیده، د شپې ګرځبندیز ختم شوی و او خلکو ته په ډیرو سیمو کې د شپې په وخت د سمندر غاړې ته د تلو راتلو اجازه ورکړل شوې وه.

د یهودو بسونه به د هفتې په ورځ د تفریح او ارزانه شیانو د اخیستلو لپاره مختلفو سیمو مثلاً د غزې زړه ته راتلل چې له امله یې په دودیزه توګه منفي اثرات مرتب شول. کله به چې په لسګونو بسونو کې نیمه لوڅې انجونې او ښځې راغلې نو د سیمې استخباراتي افسرانو به په خپلو موټرو (سوبارو) کې په سړکونو ګزمې کولې، کله به یې د خلکو موټر درول. لارویان به یې ځانته راوبلل او د هغوی هویت کارډونه بې کتل او له هغوی نه به یې تحقیقات شروع کړل، له هغه سره به بې بغیر له ویرې او بغیر له کوم ساتونکي خبرې کولې. کله کله به که په یوه کوڅه کې څوک شکمن ورته ښکاره شو نو په هغه پسې به یې یوازې منډې وهلې. په ځای د دې چې په لوی شمېر کې فوځ په خیمو حمله هم نشوای کولی خو اوس حالات دې حد ته ورسیدل. تا به لیدل چې دوی به په یو ځوان چیغې وهلې چې هغه به یې په لاره کې ودرولی و، کله کله به یې هغه په لغتو او څپیړو هم واهه او بیا به هغه ته د هویت کارډ له ورکولو پرته موټر ته وخوت او ځوان ته به یې وویل تر څو دفتر ته راشي او که هغه به نه ورغی نو لوی مشکل به جوړ شو.

په اشغال شویو سیمو کې د مزدورانو حالات بغیر له کوم حد او بغیر له مقرراتو وو. هغو مزدورانو او کاریګرو له یهودي مالکانو سره د دوستی اړیکې جوړې کړې وې او دا اړیکې فقط تر کار کولو پورې محدودې پاتې نشوې بلکې تر تولنیزو اړیکو پورې خبره ورسیده. که یوه مزدور به د خپل واده لپاره د یوې اونۍ رخصتي وغوښتله نو مالک به یې د واده د نیتې پوښتنه ترې کوله او هغه ته به یې ویل چې هغه به له خپلې میرمنې او ډالیو سره مبارکي ته درځي. اکثر به لیدل کیدل چې یو اسرائیلي موټر چې ژېړ رنګ جواز پلیټ به یې درلود؛ کمپ

ته به داخل شو او موټروان به یې په عبراني یا ماته ګوډه عربي کې د فلاني زوم یا فلانی ناوې د کور پوښتنه کوله او خلکو به لاره ورته ښودله. بیا به هغه موټر له دروازې سره ودراوه او هغه او د هغه نیمه لوڅه میرمن به زموږ د کلتور سره سمې ډالۍ اخیستې وې او کور ته به د ننه شول، تر یو ساعت یا کم وخت پورې به هلته پاتې شول او بغیر له کوم مداخلت نه به بیرته لاړل.

د اشغالګرو استخباراتي کړیو په پلان شوې او منظمه توګه په کمپونو کې سرایت شروع کړی و او د هغوی په خلاف هیڅ مزاحمت یا اعتراض موجود نه و. د سیمې استخباراتي مسؤل به په سلګونو ځوانانو او نارینه وو ته جلبونه لیږل او هغوی به یې خپل دفتر ته ورغوښتل او په تحشیبه (هغه ځای چې خلک پرې انتظار کوي) باندې به تر ساعتونو پورې خلک ورته ناست وو، بیا به دوی یو یو ځان ته غوښتل. هغوی به یې وهل، تهدیدول، معاملې کولو ته یې اړ ایستل. ځینو ته به یې تسلي ورکوله او هر ممکن کوښښ به یې کاوه تر څو هغوی په څه طریقه له ځان سره وګماري. کله کله به د ځینو کمزور خلکو په نیولو کې بریالي شول. څوک چې بهر هیواد ته زده کړو ته، یا د خپلوانو کره او یا د کار لپاره تلل. یا به یې د تعمیراتو، ورکشاپونو او یا د دوکانونو خلاصولو اجازت نامه غوښتله او یا به یې نور څه غوښتل نو هغه مجبور و چې د استخباراتو دفتر ته لاړ شي چې هلته به معاملې کول شروع شول او د هغه د خدماتو په بدل کې به یې له هغه سرې نه د خپل معمولي کار غوښتنه کوله. کله به چې هغه د لومړنیو همکاریو په اړه اماده ګي وښودله نو هغوی به پوه شول چې هغه ته په ترقي ورکولو سره هغه د خیانت او غدارۍ تر پولو رسولی شي. خبره تر دې ځایه محدوده پاتې نشوه بلکې له دې حده هم واوښته. ځینې جاسوسان دومره مشهور او معروف شول چې تومانچې به یې له ملا تړلې او په کوڅو کې به ګرځیدل او کله به یې چې زړه وغوښتله نو د استخباراتو دفتر ته به ورتلل، په خلکو به یې غصه وباسله او په هغوی به یې حمله کوله. خبره تر دې ځایه ورسیده چې چاته به اجازت نامه او

لیسنس پکار شول او استخباراتي افسر به یې له ورکولو منکر شو نو یو مشهور جاسوس ته به هغه سړی ورغی او له هغه نه به یې مدد وغوښت او هغه به د کمیشن په اخیستلو سره کار ورته وکړ.

زموږ د یو ګاونډي زوی ترکیې ته د زده کړو لپاره تللی و. هغه د طب پوهنځي شپږ کال پوره کړې وو او د تجربوي زده کړو یو کال ورته پاتې و. هغه ته د سفر اجازه ورنکړی شوه او بیا بیا د استخباراتو دفتر ته ولاړ خو هر ځل هغوی د سفر له اجازې نه انکار کاوه تر دې پورې چې هغه ستړی شو. یو چا مشوره ورکړه چې کوم مشهور جاسوس ته ورشه او مرسته ترې وغواړه. هغه همداسې وکړل او جاسوس ترې د پنځه سوه اردني دینارو غوښتنه وکړه چې دا په هغه وخت کې ډیرې روپۍ وې، کله چې هغه بحث ورسره وکړ چې دا روپۍ خو بیخي زیاتې دي نو جاسوس د طنز په لهجه ځواب ورکړ: زه د یهودیانو جاسوس یم. که ته زما د قتل کولو همت لرې نو ماته پکار دي چې لومړی ستا وینې وزبیښم.

ځینو خلکو دفترونه خلاص کړل او له خلکو سره به یې د هغو جوازنامو او نورو معاملاتو په خلاصولو کې همکاري کوله چې د استخباراتو له اجازې پرته یې امکان نه درلود او له همدې لارې ځخه یې د کمیشن په اخیستلو سره پیسې وګټلې او په قیمتي موټرو کې به ګرځیدل. دا واضحه شوې وه چې د اشغالګرو استخبارات او د هغوی جاسوسان د نشه یي توکو، شرابو او پوډرو کاروبار ته وده ورکوي او هغوی درک کړې وه چې په دې سره د خلکو تباهي او د مقاومت د روح خاتمه کولی شي. د هغوی جاسوسانو دا کار د ژر مالداره کیدو لاره ګڼلې وه په داسې حال کې چې ساتنه به یې هم کیدله. جاسوسانو فحاشي او بدکارۍ ته لاره هواروله او په ځوانو هلکانو او نجونو کې به یې فاحش عکسونه، مجلې او ویډیوګانې ویشلې.

د مختلفو تنظیمونو فعالو کارمندانو به دا تیاره او مایوس کوونکې صحنې کتلې. نه یوازې دا چې دوی د دې حرکتونو په خلاف څه کولی نشوای بلکې

جاسوسانو به د دوی مستقله څانګه هم کوله. لکه څنګه چې زما ورور محمود او زما د تره زوی ابراهیم فعال کارمندان ول له دې امله یوه جاسوس زموږ د کور د مرکزي دروازې څارنه پیل کړې وه خو دوی ته معلومه نه وه چې زموږ کور یوه بله دروازه هم لري چې هغه مخکې زموږ د تره د کور دروازه وه. نو محمود او ابراهیم به په خاموشي سره له هغې دروازې نه بهر وتل او شکمن خلک به بې پیژندل چې تراوسه پورې په کورونو کې دي.

د کمپ ډیرو ځوانانو ته د ډیرو میرمنو کیسې معلومې وې چې هغه فلانی ښځه د جاسوسي په جال کې نښتې ده او هغوی ته کار کوي، هغوی به لومړی ځوانان په جنسي اړیکو کې ښکېل کړل، بیا به یې په فاحش او شرمناک حالت کې د دوی عکسونه واخیستل او بیا به استخباراتو دوی د دې عسکونو د افشاء کولو په تهدید سره کار ته مجبورول.

ځینې کیسې په ځانګړې توګه مشهورې شوې وې، لکه څنګه چې ځینې ارایشګاوې او د عکاسی سټوډیو ګانې موجودې وې چې د استخباراتو لپاره به یې کار کاوه، دا ځایونه به د اخلاقي فساد په توګه کاریدل چې وروسته ثابته شوه چې په امنیتي جالونو کې د خلکو د ښکیل کولو لپاره لومړني ګامونه وو. دا کیسې هغه وخت ښکاره شوې چې ځینو نجونو ځان وژنې وکړې او خپلو کورنیو ته یې په خطونو کې واضحه کړه چې دوی ته څنګه دوکه ورکړل شوې ده، کله به چې دوی فلانی ارایشګاه ته ولاړې نو هلته به د دوی په څښاک کې نشه کوونکي مواد ګډ شول او کله به چې دوی په هوش کې راغلې نو ورته معلومه به شوه چې په دوی باندې جنسي تیری شوی دی او د دوی فاحش عکسونه اخیستل شوي دي، دوی ته به د جاسوسي کولو اخطار ورکړل شو او که چا به انکار وکړ نو د هغوی عکسونه به نشر کیدل. له دې امله هغوی ځان وژنې ته ترجیح ورکړه.

دا کیسې ډیرې مشهورې شوې او له دې ځایونو سره سره د هغو ایجنټانو نومونه هم ټولو خلکو ته معلوم شول او هغوی ته معلومه شوه چې استخبارات په منظمه توګه د فساد خوررولو کار کوي تر څو خلک برباد کړي او د هغوی د راتلونکې ازادۍ یا مقاومت ټول امکانات ختم کړي. د هرې ورځې په تیریدو سره به د دوی طریقې سختې کیدلې، یو ځل د یو مشهور ایجنټ دفتر اعلان وکړ چې یو سیاحتي سفر په لاره اچول کیږي چې ځوانان هلکان به د اسرائیلو مشهورو سیاحتي سیمو لکه فشخه. بانیاس یا عین جدي ته بیول کیږي. کله چې سفر شروع کیږي نو د استخباراتي ایجنټانو سره څو مشهورې فاحشې ښځې هم روانیږي چې د ځوانانو د بدنامولو لپاره یې په فحش حالت کې عکسونه اخیستل.

د کمپ یو ځوان په دې سفر کې ګډون وکړ او هلته یې د فاحش حالت عکسونه واخیستل شول، د کمپ استخباراتي افسر هغه خپل دفتر ته وغوښت او له هغه نه یې وغوښتل چې له دوی سره کار وکړي، ځوان انکار وکړ نو افسر ورته د هغه عکسونه وښودل او د هغه د بدنامولو اخطار یې ورکړ خو له دې سره سره ځوان انکار وکړ، نو افسر ورته وویل: زه تاته یوه اونۍ وخت درکوم او بیا به دې راغواړم، که تا موافقه ونکړه نو ته به وګورې چې زه دې څنګه بدناموم. ځوان ویریدلی له دفتر نه ووت او هغه ته احساس وشو چې په یو جال کې ښکیل شو. که هغه له دوی سره د کار نه انکار وکړي نو په کمپ کې به بدنام شي او عزت به یې له خاورو سره خاورې شي او که له هغوی سره کار کوي نو له وطن او ملت سره به غداري وي. بالاخره هغه له یوه ملګري سره مشوره وکړه چې له دې جنجال نه څنګه ځان خلاص کړي؟ د هغه ملګری هم حیران شو ځکه هغه هم تراوسه پورې د داسې خبرو تجربه نه وه کړې، خو دواړه زما ورور محمود ته راغلل او ټوله خبره یې ورته بیان کړه.

محمود هغه ځوان ورتلو چې ولې داسې ځايونو ته ځي؟ هغه څنګه تر جاسوسانو پورې ورسيده؟ او بيا څنګه په دې جنجال کې ښکيل شو؟ خو اخر يې هغه ځوان پوه کړ چې د دې ستونزې حل شته. کله چې هغه خپل ملګري ته حال وويلو او له هغه سره يې دلته د راتلو اجازه وغوښتله نو د دې ستونزې حل پيدا شو ځکه استخبارات هسې د چا عکس نه نشروي بلکې لومړی هغه تهديدوي او د خلکو له دې څخه ويره هغوی له دوی سره په کار کولو مجبوروي. هغه ځوان ته وويل چې که چيرته بيا يې خپل دفتر ته وغوښتلې نو هغه ته صفا ووايه چې زه له بدنامي څخه ويره نلرم او نه له تا سره کوم مانع شته چې عکس مه نشروه بلکې ماته زما په زرګونو عکسونه راکړه چې زه يې په خپله په کمپ کې تقسيم کړم.
څو ورځې وروسته ځوان وغوښتل شو او هغه د محمود په لارښوونو عمل وکړ، ابو وديع له غصې نه ليونی شو او اخطارونه ورکول يې پيل کړل او بالاخره يې ځوان له دفتر نه بهر کړ او هغه ته يې وويل چې تاته نور وخت هم درکوم. که موافقه دې ونکړه نو ژوند به دې ډير په عذاب کړم. يو ماښام ابو وديع په کمپ کې موټر ګرځاوه او هغه ځوان يې د سامان د اخيستلو پر مهال وليده، کله چې ابو وديع د هغه د راغوښتلو لپاره موټر ودراوه، نو ځوان په يوه کوڅه کې منډه کړه او ابو وديع ورپسې له شا نه روان شو.
محمود او د هغه ملګرو به اکثره په خپلو مجلسونو کې د استخباراتي فعاليتونو او جاسوسانو په اړه خبرې کولې چې له هغوی سره بايد څنګه مقابله وشي، هغوی به په دې سوچونه کول خو هيڅ يې په تدبير نه پوهيدل او داسې ښکاريده چې حالات دومره خراب شوي دي چې قابو کول يې مشکل دي.
زموږ ستونزه دا وه چې زموږ د تره زوی حسن يو ځل بيا په کمپ کې ښکاره شو، د هغې يهودی معشوقې هغه له خپل اپارتمان څخه وباسلی و ځکه د هغې فابريکه له خپل پلار سره د افلاس ښکار شوه، نو حسن بې وسه بيرته کمپ ته

راستون شو، کله چې هغه کور ته راغی نو دا فیصله شوې وه چې د هغه له مور سره هیڅ مقام نشته او د هغه لپاره د راستنیدو هیڅ گنائش نشته. هغه له یهودو سره ډیر مشابهت پیدا کړی و او مور هیڅا هم دا نه خوښول چې هغه ته وگورو.
محمود دا فیصله کړې وه چې مور به هغه ته یوه بله موقع هم ورکړو او د هغه د اصلاح کولو کوښښ به وکړو. مور د هغه لپاره د میلمنو وطاق خالي کړ او مور هڅه کوله چې هغه د خپلې کورنۍ حرارت محسوس کړي، خو هغه ته هیڅ احساس ونشو. هره ورځ به هغه په کوم گاونډي یا د هغه په عزت باندې د حملې کولو هڅه کوله. گیلې به کور ته راتللې او محمود هغه ته د نصیحت کولو هڅه کوله خو دا هر څه بې فائدې ثابت شول تر دې پورې چې خبره له زغم نه واوښتله او مور ته معلومه شوه چې مور د یو ناممکن حالت درملنه کول غواړو.
له دې امله مور ټولو په اتفاق سره د هغه د کور نه د وباسلو پریکړه وکړه او په دې معامله کې تر ټولو سخت ابراهیم ؤ. کله چې حسن د یوه شرارت کولو نه وروسته کور ته راغی او په هماغه حالت کې ؤ چې ابراهیم په سختي او غصې ورسره خبرې شروع کړې او هغه ته یې وویل چې له مور سره ستا لپاره هیڅ ځای نشته او چې چیرته دې خوښه وي هلته لاړ شه. مور ټول په دې خبرو کې د شاملیدو لپاره د نه ورغلو او ښکاره مو ورته وویل چې نور لاړ شي. هغه خپل سامان په خاصه توگه خپل تلویزیون واخیست او په غیر واضحه ژباته عبراني او ماته گوډه عربي ژبه کې په کنځلو ویلو سره بهر لاړ.
څو ورځې وروسته مور ته معلومه شوه چې هغه د یوې مجهول الهویت ښځې سره اوسیږي چې هغه مشهوره بدنامه وه او بیا خبر راغی چې هغه د نشه یي توکو، چرسو او فاحشو انځورنو او رسالو په خورولو کې ملوث دی. دا څرگنده شوې وه چې هغه په یقیني توگه له استخباراتو سره کار کوي او مور ته دا خبره هغه وخت یقیني معلومه شوه چې د محمود څینو ملگرو وویل چې حسن په

منظمه توګه د ابو وديع دفتر ته ځي او بغير له کومې سختي او ځارنې هلته ازادانه تګ راتګ کوي.
په کمپ کې موږ هميشه ښه انځور او ښه شهرت درلود لکه څنګه يې چې هر فلسطيني وګړى غواړي. بلکې د محمود په فتح کې او د ابراهيم په اسلامي ګوند کې د مقام له امله موږ د ملي کار او ديني استقامت مرکز وګرځيدو. لکه څنګه به چې زما مور ويل: الحمدلله د کمپ ټول خلک ستا په ژوند او ادب باندې قسم خوري. خو حسن يو دم رانوځي او ټول انځور خرابوي. تر ټولو زيات متاثره کيدونکى زما ورور حسن و ځکه اکثرو خلکو د بد عنواني او اشتباه خبرې د حسن الصالح په هکله اوريدلې وې. نو کله به چې زما د ورور نوم حسن الصالح ياديده نو اوريدونکي به په حيرانتيا سره سترګې وغړولې. حسن مجبور و چې هر ځل کيسه له سره ووايي. نو کله کله به اوريدونکو يقين وکړ او کله کله به هغوى سرونه ښورول خو سترګو به يې د حال په ژبه ويل چې دوى په دې خبرو يقين نلري.
د حسن او حسن مسائل زموږ د ژوند مرکز ګرځيدلي وو سره له دې چې د کمپ او کوڅې ټولو خلکو موږ پيژندلو. موږ داسې محسوسوله چې موږ بايد د دې بد نامۍ له امله ټيټ سرونه وګرځو. دا لعنت به څنګه له موږ ليرې شي؟ موږ بايد يو څه وکړو خو زموږ بې وسي څرګنده وه. يوه ورځ ابراهيم زما خواته راغى او راته يې وويل: احمده له تا سره يوه خبره کول غواړم او زه غواړم چې ته وعده راسره وکړې چې هيچا ته به يې نه وايې. ما ورته وويل چې وعده ده. نو ابراهيم راته وويل: حسن بايد ووژنو!!!
د دې خبرې په اوريدلو سره زه هک پک شوم او بغير له څه ويلو مې هغه ته کتل. هغه بيا وويل: هو! موږ بايد هغه قتل کړو. يا موږ بايد هغه په ښکاره مړ کړو تر څو زموږ نه بدنامي ليرې شي او زه د ټول عمر زندان تيرولو ته هم تيار يم. او يا به په پټه هغه مړ کړو خو مهمه خبره داده چې هغه له دنيا نه ورک شي.

ما د ابراهیم تکلیف او د هغه څه احساس کولی شو چې د حسن له امله مور ورسره مخ یو خو زه د دومره حده پورې تللو ته نه وم تیار او حتی دا سوچ مې هم نه و کړی.

خو موږ باید یو حل راوباسلی وای، له دې امله ما ابراهیم ته وړاندیز وکړ چې موږ به حسن ته ورشو او د هغه پښې به ماتې کړو تر څو په هغه کور کې د ننه پاتې شي او خلک په تنګ نه کړي او ما هغه ته وویل چې له دې نه وړاندې نشم تللی او هغه هم راسره ومنله.

موږ زما ورور حسن ته دا خبره وکړه او هغه فوراً تیار شو او هغه د دریو اوسپنیزو پایپونو او دریو ماسکونو د چمتو کولو وعده وکړه. په ریښتیا هم موږ هغه ته کمیون ونیوه او کله چې هغه د نشې په حالت کې کور ته را روان و نو موږ پرې حمله وکړه، ابراهیم هغه سر ته وواهه او هغه وغورځیده، ما ابراهیم ته وویل چې د سر په ځای یې په پښو ګزارونه وکړي او موږ هغه په لاسونو او پښو بې دریغه وواهه، بیا موږ له هغه ځایه ولاړو او حسن پایپونه او ماسکونه پټ کړل.

راتلونکی سهار خبر خپور شو چې یو چا د حسن د وژلو هڅه کړې ده خو هغه مړ شوی نه دی خو سخت ټپي دی، پښې او یو لاس یې مات شوي دي او په سر کې یې هم زخمونه دي او روغتون ته وړل شوی دی. موږ په دې خبره کې خاص دلچسپي نه ښودله خو د خلکو سترګو به ویل: دا هر څه تاسو کړي دي. خدای دې ستاسو لاسونه روغ وساتي.

څو ورځې وروسته د پولیسو موټر زموږ کور ته راغی او موږ ټول د کور ځوانان یې یوړو، په موږ د حسن د قتل د هڅې تور ولګید او دوی له موږ تحقیقات پیل کړل. موږ انکار وکړ چې موږ څنګه خپل د تره زوی قتل کړو، هغه خو زموږ د غوښې او وینې برخه ده او وینه خو اوبه نشي کیدلی. موږ تقریباً دوه اونۍ په توقیف کې تیرې کړې او بیا یې موږ خوشي کړو ځکه زموږ په خلاف هیڅ هم ثابت نشول.

د دوو اونيو په تيريدلو سره لا هم حسن په پلستر کې پيچلی په روغتون کې پروت و، تقريباً دوه مياشتې بعد هغه له روغتون څخه رابهر شو خو په تګ کې يې ګوډوالی پاتې شو چې د شپې په تياره کې به هم معلوميده او هغه يو سپين رنګ پيجو (۵۰۴) موټر واخيست او په هغه کې به ګرځيده خو په کمپ کې يې مور، د نورو بدناميو په اړه څه وانه وريدل.

په کال ۱۹۸۵ کې د اسرائيلو او د قيادت العامة احمد جبريل غورځنګ په مابين کې د بنديانو د تبادلې معاهده وشوه چې په هغه کې ډير شمېر فلسطيني بنديان ازاد شول، په دوی کې زياترو له فتح او الجبهة الشيعية سره تړاو درلود او ځينې کسان پکې د اسلامي ګوند هم ول چې له دې وړاندې يې د قوات التحرير الشيعية سره تعلق درلود. د دوی ازادی په اشغال شويو سيمو کې د يو ملي جشن فضاء پيدا کړه، چې هر چيرته به ولاړې نو د جشن او مبارکيو محفلونه به دې ليدل.

بل طرفته د دې تجربه کارو خلکو ازادی د فلسطين په خلکو کې د ملي او امنيتي شعور ښکاره اضافه وکړه، د دوی تجربو او معلوماتو په مختلفو مسائلو سياسي بحثونه راوپارول خو د شکمنو کسانو څارنه نه يوازې چې روانه وه بلکې نوره هم سخته او زياته شوه.

زما ورور شيخ محمد د يوې مذهبي نجلۍ سره ملاقات وکړ او معلومه وه چې هغه د هغې طرفته مائل شوی دی، هغې نجلۍ به هم کله کله د شرم نه په ډکو کتلو سره د هغه د احساساتو ځواب ورکاوه، محمد د پنجشنبې په ورځ غزې ته راستون شو او د جمعې په ورځ له مور سره و، هغه زمونږ مور ته د هغې نجلۍ په اړه ووېل او له هغې نه يې اجازه وغوښته چې لومړی قدم پورته کړي، له يو څه فکر وروسته هغې اجازه ورکړه څکه هغې غوښتل چې لومړی په خپله دا نجلۍ وګوري، هغه پوهيدله چې محمد د ړندې پيشو په څېر دی او کيدای شي چې نجلۍ دومره ښايسته نه وي.

محمد بیرته ښار زیت ته ولاړ او له هغې نجلۍ نه یې وغوښتل چې د یونې خاص معاملې په هکله دوه دقیقې د خبرو اجازه ورکړي، هغه نږدې و له شرم نه انفجار وکړي. هغه پوښتنه وکړه چې ایا ستا له والدینو څخه ستا د کوژدن کولو غوښتنه کولی شي؟ د نجلۍ اننګي سره شول او په ښایست کې یې اضافه وشوه، هغې د سر په ښوورولو سره مثبت ځواب ورکړ او د خپلو والدینو ادرس یې ورکړ.
راتلونکې جمعه محمد د خپلې کورنۍ له پلاوي سره د نجلۍ کور ته لاړ، له هغه سره زموږ مور، محمود، حسن، ترور، زموږ خویندې فاطمه او تهاني هم ولاړل.
زموږ مور د نجلۍ نه متاثره شوه او وروسته یې په ټوکو کې ورته وویل: الله شیخ محمده! ما خو ته ړنده پیشو ګڼلې خو تا کمال وکړ، د نجلۍ والدینو هم خپله رضاء څرګنده کړه او د کوژدن اعلان یې وکړ او د نکاح او واده نیټه یې یو نیم کال د نجلۍ د زده کړو تر تکمیل پورې د غځولو پریکړه وکړه چې د محمد او موږ ټولو لپاره مناسبه پریکړه وه.

اوولسم څپرکی

جمال او د هغه ځو نور ملګري په خپلو موټرو کې د صوریف په طرف روان شول تر څو د خپل ملګري عبدالرحمن سره ملاقات وکړي، کله چې دوی دروازه وټکوله نو عبدالرحیم په منډه منډه دروازې ته راغی او د خپل تره او خپلو ملګرو ته یې کتل چې په دوی کې اکثرو هغه پیژانده ځکه هغه به له وړوکوالي نه له خپل تره سره د دوی ملاقات ته ورتلو، هغه په خندا خندا دوی ته هر کلی پیل کړ: پخیر راشې، پخیر راشئ! او د ننه طرفته یې په مخ اړولو سره چیغې وهلې تره! ځوانان هلکان له تا سره ملاقات ته راغلي دي او بیا یې د دوی طرفته راوکتل او ورته یې وویل: راځئ، راځئ! او هغوی یې د مهمان خانې طرفته رهنمایي کول. په دې دوران کې عبدالرحمن په بیړه راغی او دوی ته یې هرکلی ووایه، دوی ټول کیناستل او خبرې یې کولې او عبدالرحیم هم خپل ځان یو له دوی څخه ګڼلو او حال دا چې د عمر توپیر یې له پنځه ویشتو کلونو هم زیات دی.

میرمنو د غرمې ډوډۍ تیاره کړه او د مهمان خانې تر دروازې پورې یې راوړله او عبدالرحمن او عبدالرحیم د ننه یوړله، له ډوډۍ خوړلو وروسته دوی د کلي اطرافو ته د چکر لپاره ووتل او عبدالرحیم هم ورسره دی. ځمکه هواره او حاصل خیزه وه خو ښه فصلونه یې نه درلودل او تر لیرو سیمو پورې ژیړ شوي تارونه پراته ول. عبدالرحمن دغو تارونو ته په کتلو سره وویل: دا د حد بندي کرښې دي چې په لویدیځ کې یې فلسطیني سیمې دي چې په ۱۹۴۸ او ۱۹٦۷ کلونو کې اشغال شوې دي او د دې تار په لویدیځ کې زموږ د کلي د ځمکې یوه برخه ده چې زموږ د کورنۍ څلویښت دونمه (د مساحت مقیاس دی لکه جریب) ځمکه جوړیږي چې په ۱۹۴۸ کې ضبط شوې ده او دا حصه زموږ د ځمکې څو دونمات پوره کوي خو موږ یې د سرحدي سیمې سره د نږدې والي له امله نشو کرلی دا خبرې په یاد لره عبدالرحیمه! عبدالرحیم سر وښوراوه او وې ویل: څنګه به یې هیروم تره! څنګه به یې هیروم، جمال به هم ویل: څنګه به یې هیروم، څنګه به یې هیروم او انسان د خپل زړه او اعضاوو نه بغیر څنګه ژوند کولی شي؟ هغوی په موټرو کې له سپریدلو وروسته الخلیل ته روان شول او عبدالرحیم له خپل تره سره کیناست. په لاره کې په لسګونو د ژیړ رنګ لیسنس نښان لرونکي موټر راښکاره شول چې د اسرائیلي کیدو معنی یې درلوده. موټرې په دواړو طرفونو کې تللې راتللې، جمال له غصې نه د ګرمو ساه ګانو په اخیستلو سره وویل: دغو زورواکو ته بیا څه ورپیښه ده؟ دوی خو ځمکه تېره کړه (وې خوړله) خو بیا هم نه مطمئن کیږي او نه په کوم حد باندې دریږي.

ټول موټر ښار ته داخلیږي، د ماښام د اذان وخت نږدې دی او د مسجد حرم الابراهیمي شریف مؤذن اذان کوي. موټروان د حرم په طرف موټر غړوي. موټر د رش له امله په مشکله مخې ته ځي. هلته په سلګونو زورواکي د اشغالګرو په ګارنه کې تر جومات پورې ځي او په دې حالت کې هغوی جومات ته داخلیږي. په لسګونو اشغالګر ټوپک په لاسونو تیار ولاړ دي. یهودي زورواکو

کوچنی رنګینې خولې په سرو کړې دي، اوږدې غیر منظمې ږیرې لري،کږښې ژونکي کمیسونه یې اغوستي دي چې د هغوی تارونه د دوی تر ګونډو پورې ځوړند دي. دوی د جومات په خوا منډې وهي، د هغه ځای خلک ډیکه کوي او هغوی په هر بند شوي ځای کې ودروي. ځوانان جومات ته داخلیږي، د جومات له ورروستي برخې نه قالینې پورته کړی شوې وې او دا ځایونه بند کړلی شوي وو، د اوسپنې د ستنو په مابین کې په غټو رسیو سره د لمانځه لپاره ځای مختص شوی و او فقط د جومات څلورمه حصه د لمانځه لپاره پاتې وه. د جومات د دریو ربعو نه پرته بهر ځای او دوه تالارونه ټول له یهودو ډک شوي وو. جمال په غیر واضح غږ وویل: نن د هفتې ورځ ده، په هره څنډه کې یو یهودي کتاب په څنګ کې اخیستی او په تېزي سره یې لولي او خپل بدن مخته او شاته خوځوي.

مؤذن د لمونځ لپاره اقامت شروع کړ، جمال د امامت لپاره ور وړاندې شو، لمونځ کوونکو صفونه برابر کړل، هغه تکبیر وکړ او سورة فاتحه یې وویله، د لمونځ کوونکو غږ د دعا د ځواب په وخت کې لوړ شو «ولا الضالین... آمین!!» بیا هغه په لوړ او ښکلي غږ کې قرائت شروع کړ: سبحان الذي اسری بعبده لیلاً... تر دې پورې چې دې آیت ته ورسید: وجعلناهم للکافرین حصیراً... الله اکبر، هغه رکوع ته ښکته شو او لمونځ کوونکي هم ښکته شول او له دوی نه شاته یهودیان خپل بدنونه خوځوي او تورات لولي.

زه له خپل اخري درسي ساعت نه ووتلم چې تقریباً ماښام به ختمیده، لمر ډوبیدو ته نږدې و، چې ومې کتل زما د تره زوی ابراهیم په نږدې تالار کې دی، ما هغه ته سلام وکړ او هغه ځواب راکړ. موږ یو ځای بهر ووتلو او هر یوه خپل کتابونه اخیستي وو او زموږ شاواخوا ډیر محصلین خپلو کورونو ته روان ول. د پوهنتون له دروازې سره یو بس ولاړ و چې د جنوبي سیمو محصلین یې خپلو کورونو ته رسول. موږ پیاده کور ته روان وو او له موږ نه لیرې یو فوځي جیپ

ولاړ و چې له پوهنتون نه راتلونکي محصلين يې کتل. ابراهيم د هغوی طرفته په کتلو سره وويل: چا دا يقين کاوه چې په غزه کې به داسې پوهنتون جوړيږي لکه اوس چې موجود دی؟ احمده! ايا ستا په ياد دي چې کله تا په اسلامي پوهنتون کې د داخلې فيصله کړې وه نو ستا د مور څه خواب و؟ ما سر وښوراوه. د سړک په بل طرف يو موټر ودريده چې په هغه کې د ابراهيم د اسلامي بلاک څو تنه ملګري وو. هغوی ابراهيم د ځان طرفته وغوښت. هغوی په څو الفاظو کې خبرې وکړې او ماته بيرته راغی . خپل کتابونه يې راکړل او راته يې وويل: دا له ځان سره يوسه. زه له ملګرو سره ځم او حکومت (مور) ته اطمينان ورکړه.

ما په خندا سره ترې کتابونه واخيستل او په تګ تګ کې مې د ابراهيم او زما د مور د تعلقاتو په اړه سوچونه کول. د هغوی په خيالونو کې ډوب وم چې په دې وخت کې مې د يو موټر هارن واوريده او نږدې وه چې زه يې وهلی وای. زه په منډه د سړک بل خوا لاړم او زما کتابونه په ځمکه ولويدل. ما کتابونه د برق د پايې لاندې راټول کړل. زما کتابونه د ابراهيم له کتابونو سره ګډ شول او ما يې د جلا کولو هڅه وکړه.

زه د يو کاغذ طرفته متوجه شوم. چې کله ما هغه د ابراهيم په کتابونو کې کيښوده نو زما نظر د هغه په عنوان ولګيده چې ليکي يې وو « د حسن الصالح د حرکاتو او اعمالو راپور» ما په خپل تجسس کنټرول پيدا نکړ او د هغه خط په لوستلو مې شروع وکړه چې له ابراهيم سره و او په هغه باندې دستخط هم شوی و « ستا ورور (۲۳)» نو زه پوه شوم چې د ابراهيم او د هغه د ملګرو معامله فقط د محصلينو تر فعاليتونو او د جومات د لمونځونو پورې محدوده نه ده.

په دې شپه ابراهيم ډير ناوخته راغی. ما د هغه په اړه زما مور ته ډاډ ورکړ خو مور مې وويل: زما زړه وايي چې ابراهيم په خطرناکه لاره تللی دی او زه د هغه په برخليک ويريږم. ما ورته وويل: مورې ابراهيم هوښيار او بالغ دی. ته د هغه په اړه فکر مکوه. په هغه به څه وشي؟ مور مې وويل: زما زړه همدا وايي. ما ورته

وویل: ته د زړه مه منه، دا د شیطان له طرفه وسوسې دي چې تا خفه کوي. مور وویل: د یوې مور زړه هیڅکله نه غلطیږي احمده! ما چې د هغې په طرف وکتل نو په سترګو کې یې اوښکې وې، ګویا که هغې زما حیرانتیا درک کړې وي. هغې وویل: هغه زما ستا په شان زوی دی، ایا هغه ما له ماشومتوب څخه نه دی لوی کړی؟ زما مور د ماخوستن له لمانځه وروسته تقریباً درې ساعته په جای نماز ناسته وه، د هغې په مخ پریشاني څرګنده وه چې هغې نشوای پټولی. تر دې پورې چې دروازه وټکیدله، ابراهیم را دننه شو نو زما مور د هغه په طرف په منډه کولو سره پرې چیغه وکړه: ته چیرته وې؟ ولې دې دومره ناوخته کړ؟ ابراهیم ځواب ورکړ: حکومت ته لیکلی ځواب په کار دی که زباني ځواب؟ مور مې بیا په زوره ورته وویل څکه چې ابراهیم د هغې غصه کمه نشوای کړای: زه له تا پوښتنه کوم چې ته چیرته وې؟ او ولې دې ناوخته کړ؟ ابراهیم د حالاتو جدیت ته په کتو سره ځواب ورکړ: زما د یوه ملګري څه ستونزه وه موږ یې د حل کیدو لپاره ورغلي وو نو په موږ ناوخته شو څکه موږ د هغه پلار راضي کولو. مور مې وویل: ایا دا کار د ورځې نشوای کیدلی؟ آینده کې بیا داسې ناوخته نکړې، پوه شوې؟ ابراهیم په ټوکو کې ځواب ورکړ: سمع و طاعت جلالتماب بادشاه! مور مې د هغه لپاره د ډوډۍ تیارولو لپاره لاړه خو ابراهیم هغه منع کړه چې زه به په خپله ډوډۍ راته تیاروم.

ما دا هر څه لیدل او زما د ننه یو آتش فشان چاودیدنکی و، زه باید ابراهیم ته ووایم چې ما هغه خط لوستلی دی او د دې خبرې وضاحت باید ورکړم، چپ پاتې کیدل سم کار نه دی، خو کیدای شي هغه خفه شي او لاړ شي. هیڅ خبره نه ده خو زه باید هغه ته ووایم. مور مې خپل وطاق ته د خوب لپاره لاړه او ابراهیم د ډوډۍ له تیارولو وروسته ماته راغی څکه موږ دواړه په یو وطاق کې ویده کیدو. هغه ډوډۍ ته کیناست او ما څوکۍ راښکله او له ده سره نږدې کیناستلم او خپله خوله مې دده غوږ ته ورنږدې کړه او ورته مې وویل: ما وبښه،

ستا دوسیه زما له لاسونو ولویده او کله چې ما خواره واره کاغذونه راټولول نو ما د حسن په اړه لیکل شوی راپور ولوست، ابراهیم ډوډۍ پرېښودله او نږدې وه چې د هغه په ستوني کې خښه شوې نوړۍ هغه ووژني، هغه وویل: څه وایې؟ ما ورته وویل: خفه کېږه مه، زه احمد یم او ته ما پېژنې. ستا راز به محفوظ وي خو ما د کاغذ له کتلو وروسته خپل تجسس کنټرول نکړلی شو.

د ابراهیم پرېشاني څرګنده وه او هغه په سمه توګه کار نشوای کولی او دا د ابراهیم تر ټولو سخته صحنه وه چې ما لیدلې وه. ما بیا وویل: په دې پوه شه چې هیچا هیڅ هم نه لیدلي او نه یې لوستلي دي، ابراهیم هیڅ ځواب رانکړ. ژر یې ډوډۍ خلاصه کړه او موږ ویده شو.

راتلونکې ورځ ما هغه ولیده چې پوهنتون ته د تګ په وخت هغه زما انتظار کوي او موږ دواړه روان شو. په لاره کې ابراهیم وویل: ګوره احمده زه پوهېږم چې ته چاته هیڅ نه وایې خو په دې پوه شه چې د حسن معاملې زه پرېشانه کړی یم. ما ځینې ملګري د هغه په څارنه مقرر کړي دي تر څو معلومه شي چې هغه څه کوي. ما هغه ته په ژور نظر وکتل او ورته مې وویل: ابراهیمه دا خبرې بل چاته کوه، د راپور کار د عامو هلکانو او یا ملګرو نه دی. بلکې دا د هغه چا کار دی چې هغوی پوهېږي چې څه باید وکړو. معلومات د عامو خلکو لاس ته نشي راتلی بلکې دا د ماهرینو معلومات دي خو زما لپاره مهمه داده چې زه پوه شم چې ته به له حسن سره څه کوې؟ ابراهیم ژوره ساه واخیستله او ویې ویل: زه قسم خورم چې زه به هغه وژنم او خلک به یې له شر نه خلاصوم. زه به له ټولو مخکې هغه وژنم خو د هر کار لپاره یو وخت وي او په وخت باندې هر څه ښه کېږي.

ابراهیم به له خپل ضرورت نه زیاتې پیسې له مور سره جمع کولې چې هغه به له ساختماني کارونو څخه ګټلې. یوه ورځ چې هغه له پوهنتون نه راغی نو له مور نه یې د هغو جمع شویو روپیو له جملې یو نیم زر دینار وغوښتل ځکه هغه غوښتل

چې يو موټر واخلي تر څو هغه يې د تګ راتګ او د کار د وسائلو د راوړلو لپاره وکاروي او د کار او درس په مهال وخت وسپموي. زه پوهېدم چې هغه د خپل ورور حسن معامله په ژور پلان سره ختمول غواړي، مور روپۍ ورکړې او ورته بې وويل چې تقريباً يو نيم زر روپۍ باقي پاتې دي. ابراهيم يو پيجو براوېټ (۴۰۴) موټر واخيست چې په هغه وخت کې يو مشهور موټر و او په سيمه کې زيات خپور شوی هم و خو دا ټول موټر ډير زاړه وو او تقريباً پنځلس کاله پخواني وو خو د کمپ د کيفيت مطابق دا يو لوکس شی و.

محمد د خپلې کرايې له وطاق نه چې له نورو محصلينو سره يکې اوسيده؛ د بئر زيت پوهنتون په طرف روان شو او پوهنتون ته په داخليدو سره پوه شو چې حالات نور مال نه دي ځکه ښځينه او نارينه محصلينو له اشغالګرو سره د نښتو لپاره ځانونه چمتو کول، هغو په بيلابيلو کونجونو کې کاڼي جمع کول، ماسکونه يې اچول، او موانع يې کېښودل. بيا دوی ټول د يو لوی لاريون په شکل کې ووتل او د غصب او تعمير په خلاف او د فلسطين په حق کې يې شعارونه ورکول. ډير وخت تېر نشو چې د اشغالګرو عسکرو موټرې راغلې او نښته پيل شوه؛ فوځيان د خپلو موټرو شاته پټ شول او محصلين وروسته شول او د ډبرينو ديوالونو شاته پټ شول. په فوځيانو د کاڼو باران شروع شو او هغوی په محصلينو مرمۍ او اوښکې بهونکې ګاز استعمالاوه. د محصلينو ټول ګوندونه په دې واقعاتو کې شامل وو، او کله به چې ټول محصلين يو ځای وو نو نښتو به ډير شدت موند ځکه د محصلينو جذبې او حوصلې به لوړې وې. نښته تر ساعتونو پورې روانه وه چې په دې دوران کې عسکر څو ځله په شا شول او خپل ټپي ملګري به يې راښکل چې د هغوی له سرونو يا مخونو څخه به وينې روانې وې ځکه هغوی به په کاڼو سره ټپيان شوي ول. فوځيانو نه يوازې د لاريون کوونکو د خورولو يا ټپي کولو لپاره ډزې کولې بلکې په ښکاره يې د هغوی د قتل کولو لپاره مخامخ ډزې شروع کړې او په څو دقيقو کې دوه محصلين «جواد ابو

سليمه» او «صائب ذهب» شهيدان شول. له معمول سره سم د محصلينو جنون راوپاريده او د عسکرو تعقيب يې شروع کړ او هغوی د پوهنتون او محصلينو نه ليرې د ښار په څنډه کې پناه واخيستله. جسدونه او ټپيان د رام الله روغتون ته يوړل شول او په دې وخت کې شپه وه . په سهار کيدو سره د بئر زيت د شهيدانو خبرونه په ټول وطن کې خواره شول. نو په هره سيمه کې لاريونونه پيل شول او د عام اعتصاب اعلان وشو. د لاريون کوونکو او فوځ تر منځ په هر ځای کې حتی په اسلامي پوهنتون کې هم نښتې پيل شوې. محصلينو په لوی شمېر کې لاريونونه وکړل او په خپلو کانو سره يې د اشغالګرو د ګزمې موټرې هدف وګرځولې، دا واقعات په خوريدلو سره له کمپونو څخه د ښارونو هرې حصې ته وغځيدل په ځانګړې توګه الشجاعيه کوځې ته چې هلته شهيد صائب ذهب اوسيده او جنوبي سيمې خان يونس ته هم وغځيدل چې هلته شهيد جواد ابو سليمه اوسيده.

دا پيښې په راتلونکو ورځو کې هم روانې وې ، کله چې د اشغالګرو په موټرو کانې ووريدل چې هغوی له پوهنتون سره تيريدل نو د اشغالګرو لوی شمېر عسکرو پوهنتون محاصره کړ. موږ ته دا معلومه شوه چې هغوی موږ ته نن درس راکوي تر څو موږ ښه او خاموش هلکان جوړ شو. په سلګونو عسکرو پوهنتون محاصره کړ او بيا بيا يې د راننوتلو هڅه کوله خو هر ځل به په دوی باندې د کانو باران کيده او هغوی به شاتګ وکړ. وخت تېر شو او ماښام رانږدې شو او موږ ته معلومه شوه چې شپه مو په پوهنتون کې شوه.

خو د ځينو مشرانو موټر راغلل او هغوی ته پوهنتون ته د داخليدو اجازه ورکړل شوه، هغوی د محصلينو د فعالانو او پوهنتون له منتظمينو سره مذاکرات وکړل او هغوی وويل چې فوځي مشر ته په دې خبره اعتراض نشته چې محصلين د خاصو ګروپونو په شکل کې بهر ووځي، په هرو پنځو دقيقو کې لس محصلين بايد ووزي تر څو تجمع جوړه نشي او لاريون په ښار کې خپور نشي او هغوی دا

وادار هم ورکړ چې فوځیان به محصلینو ته تاوان نه رسوي. ټولو په دې خبره اتفاق وکړ او موږ د لسو لسو کسانو په ګروپونو کې بهر وتل پیل کړل او فوځیانو موږ د سړک یو طرفته یوړلو. کله به چې یو ګروپ بهر شو نو دوهم ګروپ به یې پیروي کوله. زه هم په یو ګروپ کې بهر ووتلم او کله چې موږ د سړک د بدلون نقطې ته ورسیدو نو فوځیانو موږ ته یو طرفته د غړیدلو اشاره وکړه او هلته په سلګونو عسکر کوټک په لاس ولاړ ول او د هغوی موټرو سړک داسې بند کړی و چې هغه یې د یو زندان په شکل جوړ کړی و. هلته یې موږ په وهلو ټکولو مجبور کړو تر څو په ګونډو کینو، خپلو لاسونه په سرونو کیږدو او دیوال ته مخ کړي کینو. زموږ هویت کارډونه یې واخیستل او تحقیق یې شروع کړ او داسې معلومیده چې له دوی سره د فعالو کارمندانو لیستونه شته چې دوی به یې په وهلو ډبولو سره نږدې میدان ته بیول. زه د هیڅ یو ګوند فعال کارمند نه وم نو ځکه ماته خپل هویت کارډ راکړل شو او په بیره له هغه ځایه ووتلم.

ابراهیم تقریباً له سلو محصلینو سره درې ورځې په توقیف کې وساتل شو. هغوی بې ډیر سخت ووهل او له داسې ذلت او سپکاوي سره مخ شول چې تصور یې نه کیده. فوځي مسؤل فکر وکړ چې دوی ته موښه سبق ورکړ او دوی ته مو د «بنو هلکانو» روزنه ورکړه. څو ورځې وروسته چې زه پوهنتون ته داخل شوم نو په لومړي نظر کې ماته معلومه شوه چې نن جنګ کیدونکی دی، د فعالو کارمندانو یو ګروپ چې مشري یې ابراهیم کوله د جنګ چمتووالی نیوه. کله چې د محصلینو ټولی یو ځای شو نو د پولیسو او فوځیانو په هغو موټرو د کاڼو باران شروع شو چې د پوهنتون له څنګ سره تیریدل. په نیم ساعت کې پوهنتون محاصره شو او له فوځي بسونو څخه د سلګونو فوځیانو راتګ پیل شو. موږ ته معلومه شوه چې دا ځل به له تېر ځل نه زیات وهل خورو خو د هرې پیښې حال جلا وي، اوس د مقابلې وخت دی نو باید مقابله وشي. اکثرو محصلینو د هغو کامرو او دوربینونو څخه د پټیدو لپاره خپل مخونه پټ کړل چې په یو لوړ

اپارتمان کې نصب شوي وو. کانې په هغو عسکرو وريدل چې د خپلو موټرو او پلاستيکي ډالونو تر شا پټ ول او په خواب کې هغوی مرمۍ او اوښکې بهونکی ګاز استعمالاوه. دا څرګنده وه چې دا ځل محصلين د خپلو مخکينيو وهلو انتقام اخلي. فوځيانو يو موټر راوست چې ګرمې اوبه به يې شيندلې. دا موټر د پوهنتون د دروازې طرفته راوړاندې شو او فوځيان يې تر شا روان وو. موټر د پوهنتون دروازه له بيخه وياسله او د کاڼو په باران سره هم موټر تم نشو او موږ ته نږدې راغی خو عسکر ورسره مخته رانغلل او هغوی شاتګ وکړ. حالت داسې شو چې کله به موږ په هغوی حمله کوله او کله به هغوی په موږ حمله کوله تر دې پورې چې ماذديګر شو. يو دم د يو فوځي ټانګ اواز راغی چې ځمکه يې ښوروله او د پوهنتون د وروستۍ (شا) دروازې په ماتولو سره پوهنتون ته را داخل شو. يوه محصل په لاوډسپيکر کې په چيغه وويل: يوه ټانګ د پوهنتون د وروستۍ دروازې له لارې پوهنتون ته داخل شوی دی نو تقريباً له شپيتو نه زيات محصلين په يو ځای د ټانګ په خوا روان شول، د دې پر ځای چې ترې وتښتي هغوی د ټانګ په طرف ورغلل. دا صحنه د ليونتوب نه کمه نه وه، د ټانګ او زموږ تر منځ له سلو مترو زياته فاصله وه خو په ټانګ کې موجودو عسکرو فکر کاوه چې دا ټولی به زموږ خرمنې وباسي.

ټانګ په بيرته غړيدلو سره له پوهنتون نه بهر طرفته روان شو، د محصلينو ټولی د ماتې شوې دروازې په خوا روان شو، هغوی د کاڼو، د کانګريټو له ټکړو، بيلزونو او د ونو د تنو په شمول له هر څه نه استفاده کوله تر څو لاره ورته بنده کړي او بيا د دوی اکثريت بيرته راغلل خو ځينې محصلين ديوال ته پورته شول او د فوځيانو حرکات يې ليدل. وخت تيريده او ماښام رانږدې شو، معتبرو خلکو د منځګړيتوب کوښښ وکړ خو هغه رد شول او هغوی ته سختې خبرې وشوې. موږ په انتظار کې دا سوچ کاوه چې اوس به څه کيږي؟ ابراهيم په خپل مخ د مسکا پټولو هڅه کوله خو ناکام شو، يوه شيبه خاموشي شوه او بيا د غزې

ښار له لسګونو جوماتونو څخه د لاوډسپيکرو په واسطه په يو وخت اواز وشو:
حي على الجهاد... اشغالګرو ستاسو زامن او لونې په پوهنتون کې محاصره کړي
دي د هغوی د ساتلو لپاره بهر راووزئ، الله اکبر...الله اکبر...
يو دم د ښار د ټولو کوڅو خلک راووتل او هجوم په لويو لويو لاريونونو بدل
شو او له هر طرفه خلک د پوهنتون په طرف را مات شول او د غزې ټول ښار
راووت او د الله اکبر او مرګ په اشغال شعارونه يې ورکول. نو په داسې حالت
کې بدامنې خپره شوه او سمدستي د پوهنتون محاصره کوونکو فوځيانو ته حکم
وشو چې پوهنتون پرېږدي او په ښار کې د امنيت د تامينولو لپاره خواره شي.
فوځيانو سمت بدل کړ او خواره شول، د دوی مخې ته د غصې نه ډکو خلکو
لښکر وو او د دوی تر شا له غصې نه ډک په زرګونو محصلين ول چې عزت يې
احساس کاوه. ابراهيم په خپل موټر کې د پوهنتون له دروازې رابهر شو او زما په
ليدلو ودريد، ماته يې وويل چې هغه کور ته نه ځي بلکې د ښار د حالاتو ليدلو
لپاره ښار ته ځي. د ښار ټول نارينه، زنانه، سپين ږيري او ماشومان سړکونو ته
راوتلي وو، هر ځای سوځيدلي ټايرونو وو، موانعو لارې بندې کړې وې او
سربداله عسکر شاواخوا ګرځيدل او هغوی پوهيدل چې څه کيږي. د ابراهيم په
مخ مسکاء خوره وه او هغه يې د پټولو هڅه نه کوله. ما ورته وويل چې واقعاً
تاسو کار ته ښه ترتيب ورکړی و، هغه په خندا راته وويل: الحمدلله خلک ټول
روغ دي. الحمدلله خلک ټول روغ دي. موږ وليدل چې د زرګونو ښاريانو او
محصلينو هجوم د الحاکم سرای په خوا روان دی او هغه په کانو ولي او فوځيان
د خپلو سرونو په ساتلو کې ناکام دي او ناتاره ډزې کوي.
د محمود خو تنه ملګري کور ته راغلل او داسې ښکاريده چې هغوی پريشان
دي. هغوی کيناستل او ما هغوی ته چای راوړ چې د محمود ميرمنې تيار کړی و.
ما هغوی ته چای واچاوه او هغوی خبرې جارې ساتلې . هغوی د فتح د يوه
خوان په اړه خبرې کولې چې په نږدې ورځو کې نيول شوی و او د يو خاص

نظامي ګروپ مسؤل هم و او هغه په تحقیق کې هر څه منلي وو، محمود ترې وپوښتل چې څنګه یې هر څه ومنل؟ ما خو اوریدلي و چې هغه یو مضبوط او ضدي ځوان دی؟ له هغوی نه یو تن ځواب ورکړ چې هغه مضبوط او ضدي دی خو فوځیانو «العصافیر» ته وړی دی نو هلته یې اقرار کړی دی. ما له ځانه وپوښتل: العصافیر څه شی دی؟ نو ځواب راکړلی شو چې دا د جاسوسانو یو لوی ګروپ دی او د تحقیق په مهال د استخباراتو سره مرسته کوي، هغوی د زندان په څېر وطاقونو ته اچوي، که استخبارات یو څوک په خپل جرم نشي اقرار کولی نو دا جاسوسان هغوی ته ورلیږي، جاسوس دا ظاهروي چې هغه یو عام بندي دی او هڅه کوي چې له بندي څخه معلومات ترلاسه کړي.

جاسوس به دا دلیل ویلو چې هغه خپل ځان فوځي افسرانو ته سپارلی دی تر څو خپل ګروپ له نیول کیدو وژغوري او یا له نورو وجو څخه، او کله کله به چې جاسوس ولیدل چې بندي د خپل عزت د ساتلو هڅه کوي چې هغه جاسوس نه دی نو جاسوس به پرې تورونه لګول (چې ته.خو به جاسوس نه یې) او ځینې وختونه به بندي د خپلې بې ګناهي لپاره ځینې راوزنه ښکاره کړل تر څو هغه نه وښايي چې زه جاسوس نه یم، او جاسوسانو به نور هم داسې چالونه او دوکې کارولې.

په اسلامي پوهنتون کې د نارینه او ښځینه محصلینو په مابین کې مکمل پرده وه، هر تولي په مخصوصو شعبو کې زده کړې کولې او د دوی په مابین کې اختلاط نه وو خو کله به چې محصلین پوهنتون ته راتلل یا ترې تلل نوهغوی به په سړکونو. کوڅو او د بسونو په تم ځایونو کې سره لیدل، اکثرو خلکو به د لارې اداب او مقررات رعایت کول بلکې په دې کې به یې مبالغه هم کوله خو ځینو محصلین به له پوهنتون څخه د وتلو نه وروسته بغیر له مقرراتو ازادانه ګرځیدل لکه په تولنیزو عادتونو کې چې وي. د پوهنتون ټولو ښځینه محصلینو به حجاب اغوسته څکه دا د پوهنتون قانون و او بغیر له حجابه یې چاته د داخلیدلو اجازه نه

ورکوله. د زیاتو ښځینه محصلینو او د سیمې د خلکو د طبیعت له امله به په جدیت سره حجاب عملي کیده خو ځینو ښځینه محصلینو به پوهنتون ته له داخلیدو سره حجاب اغوسته او بهر په وتلو سره به یې لرې کاوه یا به یې د سر ټیکري دومره شاته کړ چې د ویښتانو یوه برخه به یې ښکاریده.

د نږدې کمپ یوه محصله چې په پوهنتون کې یې زده کړې کولې، څو ځلې ما هغه پوهنتون ته د تګ یا راتګ په مهال لیدله، زه په دې خبره کې مبالغه نه کوم کله چې وایم چې هغه د سپوږمی په څېر ښایسته وه. ما به کله کله هغې ته کتل کله به چې هغې ځمکې ته کتل او بغیر له دریدو به د خپل مقصود په طرف روانه وه. زما زړه به بیا بیا ماته ویل چې کیدای شي زما له هغې سره مینه وي. ما همت نه درلود چې هغې ته د شرم او ویرې له امله سلام وکړم. یوه ورځ تصادفي زما او هغې سترګې سره وجنګیدې نو زما په بدن کې یو عجیبه احساس پیدا شو او زما زړه د مینې له احساساتو نه ډک شو، د یو لنډ نظر نه وروسته هغې سمدستي خپلې سترګې ښکته واچولې، ما غوښتل چې له هغې سره پوهنتون ته د تګ یا راتګ په مهال وګورم خیر که هغې ته ونه ګورم خو د هغې په سړک باندې وجود ماته سکون راکوي. ما فکر کاوه چې ایا زه د هغې په مینه کې ګیر شوی یم؟ او ایا دا واقعاً هغه مینه ده چې خلک یې یادوي؟ یوه ورځ بیا زموږ سترګې له لیرې سره وجنګیدې او زما د زړه ټکان زیات شول، په دریم ځل چې موږ سره ولیدل نو زه مسکی شوم او د هغې مخ له شرم نه سور شو، خپل قدمونه یې ګړندي کړل او لیرې ولاړه.

وروسته ما له هغې نه د زیاتې هیلې درلودلو نه بغیر د هغې پوهنتون ته د تګ انتظار کاوه تر څو هغه له لیرې ووینم تر دې پورې چې د لیدلو خواهش مې هم نه درلود. زما لپاره همدومره کافي وه چې ما مینه وکړه او همدومره کافي وه چې هغه په دې باندې ښه پوهه شوه. هغه هر ځل په دې پوهیدله چې کله به یې زما کوښښ محسوس کړ چې زه هره ورځ یا دوه ورځې بعد د هغې د لیدلو هڅه

کوم او ماته د هغې ساتنه پکار ده، په دې وخت کې زيات خواهش نه دی پکار، له دې نه وړاندې چې زه له پوهنتون نه فارغ شم او د واده لپاره د هغې کور ته لاړ شم، لکه څنګه چې ماته له ماشومتوبه راښودل شوي وو.
زما د تره د زوی حسن معاملې ابراهيم ډير پريشانه کړی و او هغه څو ځله دا خبره ماته کړې وه. زه هغه له ځان سره د حسن د حرکاتو معلومولو لپاره بوتلم تر څو د هغه په اړه د راپور د ريښتيني کيدو تصديق وشي. موږ د ډيرو معلوماتو تصديق وکړ. موږ وليدل چې هغه په خاصو وختونو کې د «ابو وديع» ملاقات ته ورځي، خپل موټر به يې د هغه د دفتر سره نږدې ودراوه، بيا به له موټر نه راښکته شو او ودانۍ ته به داخل شو، له هغه سره يو خاص کارډ و چې په دروازه کې موجودو عسکر ته به يې ور وښوده، هغه به د ننه ولاړ او له يوه ساعت يا زيات وخت نه وروسته به بهر راووت، موږ هغه څو داسې دوکانونو ته د تګ په مهال وليده چې مالکان يې مشهور جاسوسان ول او د هغوی بوی تر ډيرو سيمو خپور شوی و.
موږ هغه د سړک په سر د ښځو په تنګولو او د هر قسم بد سلوکي په مهال هم وليده، موږ وليدل چې ځينې فاحشې ښځې به له ده سره په موټر کې کيناستې او ليرې سيمو ته به ورسره لاړې. کله کله به هغه يوه فاحشه له ځان سره کړه او يو ځوان به يې هم موټر ته راپورته کړ او د صحرا په خوا به لاړل چې دا ترې معلوميده چې هغه د دې ځوان د ښکيل کولو هڅه کوي. معاملات بيخي څرګند شول او د هيڅ شک يا تاويل ګنجائش پکې پاتې نشو.
زموږ مور موږ ته د شپې تر ناوخته پورې د بهر پاتې کيدو اجازه نه راکوله او په موږ کې به چې چا د شپې ناوخته د بهر تګ غوښته وکړه نو هغه به نوره هم سخته شوه. موږ ته به دا معلوميده چې هغه ويده يا مصروفه ده خو موږ به چې دروازې ته نږدې شو نو هغې به راچيغه کړه: احمده چيرته ځې؟ ابراهيمه چيرته

خي؟ بیا په موږ کې به هیڅوک داسې نه وو چې د هغې له سوالونو او تحقیقاتو خلاص شوي وای.

ابراهیم پوهیده چې د حسن پر خلاف د یو څه کولو په هڅه کې به موږ زما مشکلات زیات کړي، له همدې امله هغه له ما سره پلان جوړ کړ چې موږ به وختي کور ته راځو، مطالعه او محنت به کوو. بیا به ژر ویده کیږو او نیمه شپه به زه له هغه سره مرسته کوم تر څو هغه له کوره ووزي او زه یې د بیا راتلو انتظار وکړم. هغه به په اونۍ کې یو یا دوه ځله بهر تلو او له بیرته راستنیدو سره به یې زما شکریه ادا کوله او بیا به ویده شو. ما هیڅکله له هغه نه پوښتنه ونکړه چې څه وشول او چیرته تللی وې؟

یوه ورځ چې ابراهیم بیرته راستون شو نو د هغه رنګ بدل شوی و او واضح معلومیده چې هغه له یو ستونزمن حالت سره مخ شوی دی. هغه خپلې جامې بدلې کړې او بغیر له څه ویلو بسترې ته ولاړ او له دې شپې نه وروسته هغه بیا زه له ځان سره د کوم کار لپاره نه بیولم.

یوه اونۍ وروسته هغه ماته وویل: احمده اوس په دې پروګرام باندې د پاتې کیدو وخت نه دی بلکې څه چې غواړو په ارام سره یې باید ترسره کړو. ماته دا خبره ډیره عجیبه ښکاره شوه خو ما د دې تر شا د علتونو پوښتنه ونکړه. څو ورځې بعد چې زه ناوخته کور ته راتلم او په یوه فرعي لاره باندې تاو شوم نو ما ولیدل چې د استخباراتي افسر ابو ودیع موټر د سړک په غاړه ولاړ دی. د هغه په لاس کې یو څه وو چې هغه پرې د دیوال طرفته اشاره کوله. زه یوې بلې کوڅې ته وغړیدم تر څو له هغه سره مخ نشم او په کومه ستونزه کې مې ښکیل نکړي او د هغه د تللو انتظار مې کاوه. زه چې کله وروسته بیا په هغه لاره لاړم نو ما ولیدل چې هغه په دیوال باندې یو څه نښانونه جوړ کړي دي او څو شمېرې یې لیکلې دي. زه چې کله کور ته ورسیدم او خپل وطاق ته ننوتلم نو ما ابراهیم ولیده چې د خپل پوهنتون د کتابونو په مطالعه بوخت دی. ما د دې پیښې په اړه ورته وویل نو هغه

د تګ چمتووالی ونیو او بیا یې لاسي ساعت ته وکتل او ماته یې وویل: که ناوخته نه وای نو زه تلم او هغه مې لیدل خو که په دې وخت زه بهر لاړ شم نو حکومت به مې ونیسي، زه تر سهاره انتظار کوم.

د سهار له اذان سره موږ جومات ته روان شو، دیوال ته له رسیدو مخکې هغه ماته وویل چې له دیوال سره به نه ودریږې او نه به هم د دیوال طرفته اشاره کوې بلکې په خبرو کې ماته هغه د لیکلو ځای وښایه. ما د هغه په لارښوونو عمل وکړ او هغه ځای مو ښه معلوم کړ، له هغه ځای نه د تیریدولو په وخت هغه زما په غوږ کې وویل: داسې ډیر نښانونه په بیلابیلو ځایونو باندې جوړ شوي دي چې ما مخکې هم لیدلي دي، ما فکر کاوه چې دا نښانونه ښاروالی جوړ کړي دي لکه د فاصله اوبو او برق لپاره چې نښانونه کیږي خو دا نښانونه د استخباراتو لپاره جوړیږي، یعنی دا د پټو او خطرناکو جاسوسانو د ملاقاتونو نښانونه دي او که دا عام جاسوس وای نو د دومره محنت او رازداري ضرورت یې نه و. موږ د سهار لمونځ ادا کړ او د راستنیدو پر مهال مو بیا هغه نښانونه ولیدل، ابراهیم له ځان سره یو څه وویل «نن دا وخت او دا ځای» ما پوښتنه وکړه: څه وایې؟ هغه ځواب راکړ: هیڅ نه...

په هماغه ورځ زه هغه له ځان سره په موټر کې یوړم او راته یې وویل: کتابچه او قلم راواخله او د ځینو شیانو د لیکلو لپاره اماده اوسه، موږ په موټر کې کیناستو او د کمپ په کوڅو کې ګرځیدو، کله به هم چې موږ له کوم دیوال سره تیریدو نو هغه به سرعت کم کړ او ماته به یې ویل: ښي طرفته دیوال ته وګوره دا نښان د تیرې شپې د نښان په څبر دی دا ولیکه، موږ ډیر نښانونه ولیکل او د ماښام لمونځ مو په یو جومات کې اداء کړ او بیا کور ته راغلو.

وطاق ته له تلو وروسته هغه له ما نه کتابچه واخیستله، په مېز یې کیښوده او د شمېرو پرتله یې پیل کړه او ماته یې پټ وویل: ایا ته دا مماثلت نه ګورې؟ دا شماره د نن د نیټې ده ځکه تولې شمېرې له (۱) څخه نیولې د (۳) تر منځ دي.

ايا داسې نه ده؟ ما ځواب ورکړ: همداسې ده. بيا هغه د دوهمې شمېرې پرتله پيل کړه او ويې ويل: داسې ښکاري چې دا ساعتونه دي، آيا ته نه ګورې چې دا له (۱) څخه نيولې تر (۲۴) پورې دي او د ساعتونو له شمېر سره سم دي؟ ايا همداسې نه ده؟ ما ورته وويل: همداسې ده. بيايې وويل: دا شمېرې د دقيقو لپاره دي، آيا ته نه ګورې چې دا د لويو شمېرو په پرتله کوچنۍ دي چې هغه د ساعتونو لپاره وې، او دا شمېرې يا (۱۵) دي، يا (۳۰) دي او يا (۴۵) دي، ما ورته وويل: سل فيصده همداسې ده.

هغه په خندا شو او خپل لاس يې زما د لاس سره د پنجه کولو لپاره پورته کړ او په ارام سره يې زما په لاس کيښود او بيا يې يې وويل: دا د استخباراتو له خپلو ايجنټانو سره شفرونه دي احمده! اوس موږ دا حل کړل خو اوس مهمه خبره داده چې موږ له دې نه استفاده وکړو.

ما ته موقع په لاس راغله چې د يوې موضوع په هکله ځان پوه کړم چې ما له ډېره وخته پرې غور کاوه ما ورته وويل:هو! اوس مهمه خبره داده چې موږ له دې استفاده وکړو او اوس خپل کمپيوټر پرې وچلوه! ابراهيم ماته په توند نظر وکتل او په غصه يې راته وويل: ته د چا په باره کې خبرې کوې؟ ما ورته وويل: د هغو خلکو په باره کې چې تاته يې د حسن راپور تيار کړی و، هغه په ناراضتيا راته وکتل او بيا يې وويل: ايا موږ په دې اتفاق نه و کړی چې دا خبره به هيروو؟ ما ورته وويل: نه! موږ يې د هيرولو په اړه اتفاق نه وو کړی بلکې په دې مو اتفاق کړی وو چې زه به بل چاته د هغه په اړه څه نه وايم او زه اوس له تا سره خبرې کوم له بل چا سره نه. هغه په غصه وويل: ښه نو ته څه غواړې؟ زه هم حيران شوم ځکه زه نه پوهيدم چې زه څه غواړم. ما ځواب ورکړ: ماته معلومه نه ده، دا خبرې اوس پرېږده، موږ ويده شو او ابراهيم په ښه طريقه هغه ټول کاغذونه وځېړل.

اتلسم څپرکی

زه په ژور خوب ویده وم چې په کور کې د نارینه وو شور رابیدار کړم. ما خپلې سترګې وموښلې او خپل ساعت ته مې وکتل چې څه کم درې نیمې بجې دي. ما د خپلې مور غږ واوریده چې په لوړ اواز یې ویل: تاسو څه غواړئ؟ زه او ابراهیم له خپلو بسترو څخه هم نه وو پاڅیدلي چې د وطاق دروازه په زوره خلاصه شوه او څو ټوپکو زموږ په طرف نښه نیولې وه. د ابو ودیع غږ راغی: حرکت ونکړئ او په خپل ځای پاتې شئ! بیا هغه له نورو عسکرو سره یو ځای راننوت او ابراهیم ته یې په اشارې کولو سره وویل: ایا ته ابراهیم یې؟ هغه ځواب ورکړ: هو زه ابراهیم یم. څه غواړې؟ ابو ودیع وخندل او زیاته یې کړه: ولې دې دومره بیړه ده؟ لږ صبر وکړه ابراهیمه! بیا یې ماته وکتل او ویې ویل: ته احمد یې؟ ما ځواب ورکړ: هو. هغه وویل: پورته شئ او بهر راووزئ! موږ یې یوه دیوال ته ودرولو. عسکرو ته یې د تالاشي اخیستلو حکم وکړ نو هغوی وطاق په سمه توګه تالاشي کړ. هغه په خپله هم زموږ تالاشي واخیستله خو هېڅ شي یې پیدا نکړل. عسکرو ټول وطاق لټ په لټ واړاوه خو هغوی هغه څه پیدا نکړل چې د کوم شي په لټون کې راغلي وو. هغوی د ابراهیم کاغذونه او بکسه لټ په لټ اړوله او چې کوم کاغذ به ورته شکمن ښکاره شو هغه به یې یو صندوق ته واچاوه چې یوه فوځي راوړی وو او بیا یې هغه په موټر کې ولیږدول.

زما مور ورته چیغې وهلې: تاسو څه غواړئ. کور مو راته تباه کړ الله دې تاسو ته هدایت وکړي. په لسګونو عسکرو د کور هره څنډه چاڼ کوله. تقریباً له دوه ساعته تالاشي وروسته هغوی زما او ابراهیم لاسونه شاته راوتړل او په سترګو یې راته پټی کېښودې او موږ یې له کوره بهر وویستلو. زما مور چیغې ورته وهلې: دوی چیرته وړئ؟ الله مو تباه کړه.

زه یې جیپ ته د الوګانو د بوجی په څېر ور وویشتلم. بیا ما د بلې بوجی په شان لمس محسوس کړ چې په ما یې راوویشتله .زه پوه شوم چې دا ابراهیم دی. زه له

ویرې او اضطراب نه لړزیدم، داسې ښکاریده چې ابراهیم زما لړزیدل محسوس کړل، هغه په کرار وویل: حوصله ساته، ولې لړزیږې؟ هیڅ هم نشته، د یو څو ورځو خبره ده او موږ به بیرته کور ته راستانه کیږو.

په دې خبرې سره هغه د سر په ورروستی برخه یوه مضبوطه څپېړه ووهل شو او یوه فوځي په ماته ګوډه عربي ژبه کې ورته ویل: غلی کینه خره!

کاروان مخته روان روان و او بیا ودرید، موږ ته معلومه شوه چې سرای ته راورسیدو، موږ یې په دیکه کولو او وهلو لاندې راوغورځولو؛ بیا یې موږ په تنګو لارو او تالارونو کې راښکلو، بیا یې موږ په تنګه او اوږده زینه باندې وخیژولو. یو سړی چې عربي یې ښه زده وه موږ ته یې د ودریدلو او حرکت نه کولو وویل، هغه موږ له دیوال سره ودرولو. له ما سره د چا د خبرو کولو نه بغیر زیات وخت تېر شو او موږ فقط د دروازو د بندیدو او خلاصیدو غږونه اوریدل او په داسې ژبه مې خبرې اوریدلې چې زه پرې نه پوهیدم، کیدای شي عبراني ژبه وه. له ډیر وخت وروسته د هغه غږ والا سړي ماته وویل چې راځه! او زه یې یوه وطاق ته دیکه کړم او زما له سترګو یې پټی خلاصه کړه. ما خپل ځان په یو واړه وطاق کې وموند چې هلته د یوه مېز تر شا یو ځوان ناست و چې په ښاري لباس کې و او ماته یې په خندا وویل: مهرباني وکړه کینه او مخامخ څوکی ته یې اشاره وکړه، زه په څوکۍ کیناستم او لاسونه مې لا هم تر شا تړلي وو. هغه وپوښتل: حسن چیرته دی؟ ما په حیرانتیا ځواب ورکړ: په کور کې دی. هغه پوښتنه وکړه: په کوم کور کې؟ ما وویل: زموږ په کور کې. هغه په حیرانتیا وویل: حسن ستاسو په کور کې دی؟ ما ورته وویل: هو!

هغه په مېز باندې اینښودل شویو کاغذونو ته وکتل او بیا یې پوښتنه وکړه: ستاسو په کور کې کوم یو حسن دی؟ ما ورته وویل: زما ورور حسن. هغه وویل: اوهو! زه له تا څخه ستا د تره زوی حسن په اړه پوښتنه کوم، هغه چیرته دی؟ ما وویل: ماته معلومات نشته. هغه وویل: څنګه معلومات درته نشته؟ ما وویل: هغه له څو

کلونو راهیسې له مور سره نه اوسیږي نو ماته معلومات نشته چې هغه چیرته ځي او چیرته اوسیږي. هغه پوښتنه وکړه: هغه دې په اخري ځل کله لیدلی و؟ ما وویل: نه راته یادیږي. هغه وویل: بیا هم تقریباً؟ ما وویل: څو کلونه تېر شوي دي. هغه پوښتنه وکړه: په کور کې کله اخري ځل د هغه نوم ذکر شوی و؟ ما وویل: نه راته یادیږي؟ هغه وویل: بیا هم تقریباً؟ ما وویل: ډیر وخت تېر شوی او مور هغه هېر کړی دی. هغه وویل: ولې؟ ما ځواب ورکړ: هغه مور له ډیرو ګاونډیو سره په جنجال اخته کړي وو نو ځکه مو هغه له کوره بهر کړ او مور بې اوس پروا نلرو. هغه پوښتنه وکړه: ایا تا اوریدلي دي چې هغه یو کال مخکې ووهل شو او دوه میاشتې هغه په روغتون کې بستر و؟ ما ورته وویل: اوریدلي مې وو. هغه بیا پوښتنه وکړه: هغه چا وهلی و؟ ما ورته وویل: ماته نه دي معلوم: بیا هغه وویل: ستا رایه څه ده؟ ما ځواب ورکړ: ماته معلومات نشته خو کیدای شي د کومې نجلۍ کورنۍ چې ده به تعقیبوله او یا یې له چا سره جنګ کړی وي هغوی وهلی وي. هغه وویل: له کوم قسم خلکو سره به یې جګړه کړې وي؟ ما وویل: ماته معلومات نشته خو دا فکر مې هغه وخت کړی و او مور د هغه پروا نلرو. هغه وویل: یعنې تاته اوس معلومه نه ده چې هغه چیرته دی؟ ما ورته وویل: هو! ماته معلومات نشته او نه زه پوهیدل غواړم چې هغه چیرته دی. بیا یې هغه سړي ته غږ وکړ چې زه یې د ننه راوستلی وم او هغه ته یې وویل چې دا له وطاق نه وباسه. هغه زما په سر باندې یوه ډبله کڅوړ واچوله او زه یې له وطاق نه بهر یو دیوال ته ودرولم. بیا ما واوریدل چې هغوی ابراهیم د ننه بیایي او بیا مې د دروازې په زوره د بندیدو غږ واوریده. تقریباً یو ساعت وروسته ما د مفتش غږ واوریده چې هغه سړی یې راغوښته: ابو جمیل! هغه ورغی او ما واوریدل چې هغه ابراهیم بهر راوباسي او له دیوال سره یې ودروي. نو ما و انګېرله چې له ابراهیم نه یې هم هماغه پوښتنې کړې دي. بیا ما له ځان څخه پوښتنې کولې چې حسن چیرته دی. ایا هغه ورک دی؟ یا له دوی نه تښتیدلی دی... زه په همدې

حالت کې ولاړ وم چې يو چا په څپېړه يا په سوک ووهلم چې له امله يې زما سترګيا نوره هم زياته شوه.

زما پښې چې کله زما د بوج له پورته کولو عاجزې شوې نو زه کيناستم، فوځي راغی، چيغې يې وهلې او له ما څخه يې په لغتو وهلو مطالبه کوله چې زه ودرېږم خو زه سترګيا او بې وسي دې حد ته رسولی وم چې ما د وهلو او لغتو پروا نه لرله، هغه زه په وهلو وهلو ودريدلو ته مجبورولم خو زه په خپله خوښه پورته نشوم، کله به چې هغه زه له متو ونيولم او ويه يې درولم نو زه به بيا کيناستم، هغه به بيا ووهلم او بيا به يې وردولم او زه به بيا کيناستم. بالاخره تفتيشي افسر راغی او هغه ته يې حکم وکړ چې ما په ځمکه ناست پرېږدي، حقيقت دا و چې ما د کيناستلو لپاره درنه بيعه پرې کړه او له دې نه وروسته زه بې حده ارام شوم.

په تحقيقي دور کې زما لومړی ځل و، کله چې په لسګونو افسران يو ځای راننوتل نو زه پوه شوم چې ورځې مې همدلته دي او دا د دوی د کار نوې ورځ ده. يوه شيبه وروسته يې زه بلې کوټې ته يوړم او کله يې چې زما له سر نه کځوړه لرې کړه نو زما مخې ته تقريباً شپږ تفتيشي افسران ولاړ وو. ما لا تراوسه پورې خپل شاواخوا حالات نه وو کتلي چې په دې وخت کې په دوی کې يوه زما پښه مخې طرفته ووهله او دوهم کس زه په سينه کې شا طرفته ديکه کړم چې له امله يې زه په ځمکه نسکور پريوتم او د زولنو اوسپنه زما په نس کې ننوتله، هغوی په ما له پاسه وختل، يو زما په سينه کيناست او زه يې په مرۍ کې ونيولم، دوهم زما په ګيډه ودريده او په خپلو پښو سره يې پرې زور کاوه، دريم زما د پښو په مابين کې ودريد. دوی ټول خاموش شول او زما په سينه باندې ناست شخص له ما پوښتنه وکړه: حسن چيرته دی؟ ما ورته وويل: ما ته نه دی معلوم. نو دوی بيا شروع شول او بيا ودريدل او هغه پوښتنه يې تکرار کړه او ما بيا ورته وويل چې ماته نه دی معلوم نو دوی بيا شروع شول او بيا ودريدل او هماغه پوښتنه يې تکرار کړه او ما بيا هم هماغه ځواب ورکړ. بيا يې له ما وپوښتل: ابراهيم اقرار

کړی دی. ووایه چې حسن چیرته دی؟ ما ورته وویل: ما ته نه دی معلوم. همداسې یې څو ځله وکړل تر دې پورې چې د دوی یقین راغی چې ماته نه دی معلوم. بیا یې زه پریښودم او بهر عسکر ته یې وویل چې ما بوزي. هغه زه له دیوال سره کینولم. هغوی زما د راښکلو او وهلو کوښښ وکړ خو ما تېره شپه خپله فیصله کړې وه. ما د ابراهیم چیغې اوریدلې. شاید دوی به هماغه طریقې کارولې. ابراهیم به له هرې خبرې نه انکار کاوه او دوی ته یې بد رد ویل چې له امله یې د دوی فشار نور هم زیات شو. بالاخره هغه یې هم رابهر کړ او له دیوال سره یې ودراوه. څو ورځې وروسته یې زه په یو موټر کې کینولم. زما سترګې تړلې او په لاسونو او پښو کې مې زولنې وې. موټر تقریباً یو ساعت مزل وکړ او بیا ودریده او هغوی زه لاندې راوغورځولم. زه هغوی راښکلم او په هره زینه او دروازه کې به مې تیندکونه خوړل. د یو څه وخت لپاره یې زه یو دیوال ته ودرولی وم. بیا یې لږ راوښکلم. د اوسپنې د دروازې غږ مې واوریده او زه یې د تورو دیوالونو لرونکې یو کوټې ته واچولم او زما له سر نه یې کڅوړه لرې کړه. زه په کوټه کې ناست وم چې دروازه خلاصه شوه او یو بل ځوان یې کوټې ته رادیکه کړ. کله یې چې د هغه له سر نه کڅوړه لرې کړه نو هغه له ما سره کیناست. یوه شیبه وروسته هغه ماته خپل نوم او ادرس وښود او دا یې هم راته وویل چې له دوو میاشتو راهیسې په تفتیش کې یم. د غرمې او ماښام ډوډۍ راوړل شوه او موږ ډوډۍ وخوړه. بیا موږ شور واوریده، دروازه خلاصه شوه او پنځه نور ځوانان یې کوټې ته راواچول چې هغوی نصواري رنګ د زندان جامې اغوستې وې او هغوی په کوټکونو سره وهل کیدل او دوی خپله دفاع کوله. ځوانان کیناستل او د خپلو سختو سزاګانو په اړه یې خبرې پیل کړې چې دوی له لسو کلونو څخه په زندان کې دي ځکه چې دوی یو جاسوس نیولی و او هغه یې په بلبل (د وېښتانو خریلو پاکي) سره وژلی و چې بیا وروسته پولیس راغلل او دوی ته یې سزا ورکړه. بیا هغوی له ما څخه زما د نوم او جرم پوښتنه وکړه. زما

سره ناست څوان دوی ته د خپل نوم او جرم په اړه خبرې پیل کړې خو هغوی ورته ویل چې غږ دې مه لوړوه او داد یې ورکاوه چې دا خبرې به بهر تر مقاومت پورې رسوي تر څو هغوی احتیاط وکړي. بیا دوی زما څوا ته راوګرځېدل او له ما څخه یې د تفصیلاتو پوښتنې شروع کړې. ماته د محمود د ملګرو خبرې ذهن ته راغلې او زما یقین راغی چې دا د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره یو جال دی او حال دا چې له ما سره د پټولو لپاره هیڅ شی هم نه و.

ما هغوی ته مختصر ځوابونه ورکړل او هغوی په دې د پوهیدلو هڅه کوله چې له ما سره د پټولو لپاره یو څه شته. څه وخت بعد دروازه بیا خلاصه شوه او ساتونکي زه بهر وغوښتلم، زما په سر یې کڅوړه واچوله او زه یې یوې بلې کوټې ته بوتلم. زما یقین شو چې دوی اوس زما په اړه راپور ورکوي. یوه شیبه وروسته پولیس زه بیا د تفتیش خونې ته بوتلم چې هلته یو تفتیشي افسر ماته وویل چې هغوی یقین وکړ چې ستا سره د پټولو لپاره څه نشته خو تا به درې میاشتې د اداري توقیف لپاره زندان ته استوو او ستا تفتیش ختم شو. ساتونکي زه د جامو ځای ته بوتلم او ماته یې هلته هغه ټول شیان راکړل چې بندیانو ته یې ورکوي او بیا یې زه یو بلاک ته یوړم چې هلته نور بندیان هم ول.

بندیانو زما ټود هرکلی وکړ او خپل تعارف یې راته وکړ. هغوی ماته یو وطاق راوښود، زما بسترې او سامان ته یې ترتیب ورکړ، ماته یې چای پوخ کړ او زما لپاره یې د غسل ترتیب برابر کړ. ما ارام وکړ، ډوډې مې وخوړله او ماښام ټول یو ځای کیناستلو. په اخره کې د وطاق مشر ماته ووېل چې د خپل جرم په هکله له هیچا سره خبرې ونکړم، صبا به اداري او امنیتي مسؤلین راځي او هغوی به دې په هر څه پوه کړي خو له بل چا سره خبرې کول سخت منع دي.

راتلونکي ورځ دوه افسران راغلل، موږ ټول د وطاق په یو کونج کې کیناستو. هغوی له ما سره خپل تعارف وکړ او ویې ویل چې هغوی زما ورور محمود، زما ورور حسن او زموږ ګاونډی عبدالحفیظ پیژني او نور معلومات یې راکړل چې له

امله يې زه پوره ډاډمن شوم. بيا دوی له ما څخه زما د جرم او د نيول کيدو لامل وپوښت او ما په تفصيل سره خبره ورته وکړه چې زه يې ولې نيولی يم او دوی له ما څخه زما د تره زوی حسن په اړه پوښتنې کولې، حال دا چې ماته نه ده معلومه چې هغه چيرته دی او دوی ولې دا پوښتنې کوي؟ حسن له مور سره نه اوسيږي او مور ځو کاله پخوا هغه له خپل کور نه شړلی دی او مور ته د هغه په اړه هيڅ معلومات نشته.
دوی بيا بيا هماغه پوښتنې تکرار کړې ، بيا يې زما شکريه ادا کړه او ولاړل. څو ورځې بعد د زندان مسؤل راغی او زما نوم يې واخيست، هغوی زه د جامو ځای ته بوتلم او له ما څخه يې ټول هغه سامان واخيست چې دوی راکړی و او ماته يې خپل سامان او زما جامې راکړې او راته يې وويل چې مور تا خوشې کوو. هغوی زه د زندان دروازې ته يوړم او بهر يې خوشې کړم. ما تازه هوا تنفس کړه او يقين مې نه راتلو چې هغوی دې زه خوشې کړی يم. ما تراوسه پورې سوچ کاوه چې د حسن په اړه څه خبره شته او دا پوښتنې او تحقيقات د څه لپاره کيږي؟ خو ماته هيڅ ځواب په لاس رانغی. کله چې زه کور ته ورسيدم نو کور ته وار له مخه خبر رسيدلی و، زما مور ماته راغله، د خوښۍ نعرې او د ګاونډيانو مبارکيانې پيل شوې او زما په سلامتيا يې د الله تعالی شکر اداء کاوه. مور مې پوښتنه وکړه چې ابراهيم چيرته دی؟ ما ورته وويل چې ماته نه دی معلوم، هغه په لومړيو ورځو کې د تحقيق په مهال له ما سره و خو له هغه وروسته بيا پرې خبر نه يم. ما د کور غړو ته خپله کيسه بيان کړه. يوه اونۍ وروسته ماذديګر مور په کور کې ناست و چې دروازه په زوره زوره وټکيدله او د زيري ورکونکي غږ راغی چې ابراهيم راغی، هغه خوشې شوی دی، مور ټول له خوښۍ د هغه د راوړلو لپاره بهر ووتلو او له هر طرفه د خوښۍ او مبارکۍ نعرې راتلې.
هغه له ما پوښتنه وکړه چې له ما سره څه شوي دي؟ ما هغه ته ټوله کيسه وکړه او هغه هم د تحقيق خپله کيسه وکړه، تقريباً څه چې له ما سره شوي وو هغه له ده

سره هم شوي وو. د شپې چې کله موږ په خپل وطاق کې يوازې شو نو ما پوښتنه ترې وکړه چې دا ټول څه وشول او دا څه خبره وه؟ هغه وويل: ماته معلومات نشته خو داسې ښکاري چې حسن له دوی تښتيدلی دی او يا ورک دی!! ما پوښتنه وکړه: ايا تاته معلومه شوه چې کوم خلک له موږ سره په توقيف کې وو هغوی جاسوسان ول او دا هر څه زموږ د ښکېل کولو لپاره وو؟ هغه په خندا وويل: دا ښکېل کول نه وو احمده! ما په حيرانتيا پوښتنه وکړه: هغه څنګه. زه پوه نشوم؟ هغه ځواب راکړ: هغوی پوهيدل چې موږ د جالونو او جاسوسانو په هکله خبرې اوريدلې دي نو ځکه هغوی موږ په يو واضح جال کې ښکېل کولو تر څو موږ هغه وپيژنو او ځانونه ترې وساتو او بيا يې موږ دوهمې برخې ته يوړو او هلته يې زموږ ښکېل کول غوښتل او دا اصلي جال و. ما پوښتنه وکړه: ستا مطلب دادی چې لومړی حصه او په هغه کې موجود ټول جاسوسان دي خو دوهمه....
هغه زما خبرې قطع کړې او زياته يې کړه: هو! هو! ما د الله شکر اداء کړ چې له ما سره کوم معلومات نه ول ځکه نو هغوی ته مې ويل ځکه ما په هغوی شک ونکړ.

هغه ماته وويل چې کله زه له دوی سره وم او هغوی له ما پوښتنې وکړې نو ما له هر څه نه انکار وکړ، خو دوی ته داسې ښکاريده زه په هغوی شک کوم، نو هغوی اخطار راکړ او راته يې وويل چې موږ په تا شک لرو چې ته جاسوس يې. هغوی په وطاق کې اعلان وکړ او بيړنی حالت يې اعلان کړ او له ما سره يې داسې چلند شروع کړ چې زه يو جاسوس يم. خو زه پوه شوم چې دوی له ما څخه د عکس العمل توقع لري تر څو زه د ځان خلاصولو په اړه څه ووايم او دا ثابته کړم چې زه جاسوس نه يم تر څو دوی هم خپل ريښتونی حالت راته بيان کړي. هغوی زما مخې ته ځينې کاغذونه کيښودل چې د غورځنګ د مشرانو لخوا په سور خط سره امضاء شوي وو او نور شيان يې هم کيښودل تر څو زه ريښتيا ووايم او له دوی نه څه شی پټ نکړم خو ما ورته وويل چې زه هر څه

ريښتيا وايم او هيڅ شی هم نه پتوم خو که ما څه ويلي وای نو په کلونو کلونو به له زندانه نه وم راوتلی.
ما د هغه طرفته په غور سره وکتل او پوښتنه مې ترې وکړه: خو تا ماته د حسن په اړه هيڅ ونه ويل؟ هغه په بې پروايي سره ځواب راکړ: دا خبرې هېرې کړه. مهمه داده چې هغه به نور موږ نه پريشانه کوي، نه به زموږ عزت ته تاوان رسوي او نه به بل څوک پريشانه کوي. نو زه پوه شوم چې هغه د خپل قسم حق اداء کړی دی او ما په زړه کې شکر اداء کړ چې زه مخکې په دې راز کې شريک نه وم او يا د ابراهيم په کوم راز کې شريک نه وم کنه نو ما به هم هغو فدايانو ته هر څه ويلي وو او ابراهيم به مې په مصيبت کې اچولی و.
د زندان نه د راوتلو وروسته چې کله ماته فرصت پيدا شو نو زه ژر ووتلم او د «انتصار» د ليدلو انتظار مې کاوه تر څو هغه ما ووينې او که زما د نيول کيدو نه خبره وي نو په دې به هم خبره شي چې زه روغ يم. ما هغه د کوڅې په يو کونج کې وليده چې کله يې په ما نظر ولګيد نو سمدستي يې سترګې ښکته کړې او د هغې په شونډو ځينې الفاظ وو چې ماته داسې ښکاره شوه چې هغې «الحمدلله» ويل او يا کيدای شي ما ځان ته دوکه ورکړې وي. خو که چيرته داسې وي نو هغه به پوه شوې وي چې زه په زندان کې وم او هغې زما د سلامتيا په خاطر د الله شکر اداء کړی وي. زما د خوښي هيڅ انتها نه وه او زه په بيړه سره مخته روان شوم تر څو هغه ما ووينې او زما د روغتيا تصديق وکړي.
يو ماښام چې ابراهيم راخوشې شوی و، زه له هغه سره په وطاق کې ناست وم او موږ د پوهنتون کتابونه لوستل. زموږ مور وطاق ته راغله او موږ ته يې سلام وکړ، د هغې په لاس کې يو پتنوس و چې په هغه کې درې د شيشې ګيلاسونه او يو چاينک و، هغې مېز د ابراهيم د بسترې خواته کش کړ او د بسترې په کناره کيناسته. ابراهيم له هغې سره نږدې کيناست. هغې چای واچاوه او موږ ته يې ګيلاسونه راکړل او له خپل ګيلاس نه يې اوږد غوړپ وکړ او بيا يې ابراهيم ته

وويل: ګوره د محمود، حسن، فاطمې او تهاني ځومره ښکلي زامن دي، زوی د دنيا قيمتي شی دی او تر ځو پورې چې ستا خپل زوی نه وي نو ته د دې په مطلب نه پوهيږې، ځومره ښکلې خبره ده چې يو ځوک مور يا پلار جوړ شي او دا د دنيا تر ټولو ښايسته احساسات دي.

ما فکر وکړ چې هغه د بلې موضوع په طرف اشاره کوي له دې امله ما د ابراهيم په طرف په پټ نظر سره وکتل او هغه چالاک زما نظر محسوس کړ او نرمه مسکا يې وکړه ګويا که هغه وايي: زه پوهيږم چې ستا مور څه ويل غواړي. زما مور په دې فکر چې ابراهيم لکه چې اوږده مقدمه ړدي؛ ابراهيم ته يې وويل: اې ابراهيمه! زه تاته واده کول غواړم او تا خوشحال ليدل غواړم. ابراهيم له اوږدې خندا سره وويل: دا کوم عيب نه دی اې زما برکتي د تره ميرمنې. الله دې زموږ او ستاسو حفاظت وکړي، خو فکر مکوه زه هيڅ تاواني يا خطرناک کار نکوم خو اوس زه ووړکی يم. له پوهنتون نه د فراغت وروسته به ان شاء الله بهتره وي.

زما مور په غصه او تونده لهجه ورته وويل: زه ستا واده کول غواړم، يعنی زه ستا واده کول غواړم او ولې يې ستا له فراغت نه وروسته کړم؟ زما سره تقريباً دوه زره دينار دي چې ستا د واده لپاره کافي دي.

ابراهيم وويل: اې د تره ښځې... خو زما مور يې خبره غوڅه کړه: بس ته چپ شه! معامله ختم ده او ستا واده به کيږي يعنی کيږي به، اوس مهمه داده چې ته له چا سره واده کوې؟ ماته ووايه، نور کارونه زما دي او په دې معامله کې نور بحث مکوه.

ابراهيم وويل: ماته ښکاري چې دا وخت د دې خبرو لپاره مناسب نه دی، اوس دا ډير تلوار دی.

مور مې پوښتنه ترې وکړه: آيا ته کومه خاصه نجلۍ غواړې؟

ابراهيم په حيرانتيا سره وويل: نه! ما تر اوسه پورې په دې هکله سوچ هم نه دی کړی.

مور د چای د پتنوس پورته کړ، ما موقع وګڼله چې د هغه نظر او رایه په دې حساس وخت کې واخلم، ما ورته وویل: ایا ته په رېښتیا واده کول نه غواړې؟
ابراهیم وویل: دا خبره تر هغه وخته پورې زما په ذهن کې نه وه تر څو چې ستا مور وطاق ته نه وه راغلې او ما له دې وړاندې په دې هکله هیڅ سوچ هم نه دی کړی.
ما پوښتنه وکړه: نو اوس به څه کوې؟
ابراهیم وویل: ماته داسې ښکاري چې دا وخت اوس د دې خبرو لپاره مناسب نه دی، اوس ډېر تلوار دی.
ما وپوښتل: ایا ته کومه خاص نجلۍ غواړې؟
ابراهیم په حیرانتیا سره ویل: نه! ما تراوسه پورې په دې اړه فکر هم نه دی کړی.
ما ورته وویل: ایا ستا په رېښتیا کومه نجلۍ نه ده خوښه شوې؟
ابراهیم په حیرانتیا سره وویل: خوښه؟ ته څنګه خبرې کوې؟
ما ورته وویل: یعنی ته وایې چې تا هیڅکله مینه نه ده کړې؟
ابراهیم وویل: چا ویلي دي چې ما مینه کړې ده چې زه یې د خبرې نفي وکړم؟
ما پوښتنه وکړه: تا یوه ورځ هم مینه نه ده کړې؟
ابراهیم وویل: ایا ته په رېښتیا سره اوریدل غواړې؟
ما ورته وویل: هو!
ابراهیم وویل: دا یوه سخته او اوږده موضوع ده، تقریباً پنځه کاله مخکې ما یوه نجلۍ ولیده او ما محسوس کړه چې زه له هغې سره مینه کوم، ما د هغې د تګ راتګ څارنه پیل کړه او ماته معلومه شوه چې زه هغه او هغه ما خوښوي او خبره له دې نه مخکې نه ولاړه. خو کله چې ما لمونځ پیل کړ او د جومات سره لازم شوم نو ماته معلومه شوه چې داسې اړیکې ساتل ممنوع دي تر څو پورې چې یو څوک د واده جدي اراده ونلري. نو زه د هغې په لاره کې د ودریدو او هغې ته له کتلو نه منع شوم خو زما زړه لا هم له هغې سره لګیدلی و او ما فکر نه کاوه

چې په دې کې دې ديني حرج وي. خو د حسن راستنيدو او کوم مصيبتونه چې
هغه جوړ کړل او په ژوند کې په سياسي فعاليتونو کې زما ګډون او دا احساس
چې زه د دې هيواد او د هغه د مقدساتو د ملي مسائلو برخه ګرځيدلی يم، نو ما
ژر فکر وکړ او فيصله مې وکړه چې ماته پکار دي چې د مينې په هکله سوچ هم
بند کړم او داسې ښکاري احمده چې زه بايد له هغه احساس نه هم محروم شم،
له احساس نه هم. هغه د زړه له کومې خبرې کولې ګويا که يو چاته له درد نه
وروسته يو نوی ژوند پيدا شوی وي. ما پوښتنه ترې وکړه: ايا ته ډيره مبالغه
نکوې؟ زما د معلوماتو مطابق انقلابي سړی عاشق او اديب وي. هغه په خندا
وويل: دا سمه ده احمده خو زموږ په هيواد کې نه، په فلسطيني ملت کې داسې نه
ده. دا د ويتنام، چين او کيوبا په خلکو کې شته خو زموږ په نصيب کې فقط يوه
مينه ځايږي، چې هغه د دې ځمکې مينه ده، د هغې د مقدساتو، د خاورې، د
هوا او د دې ځمکې له نارنجو سره مينه ده او داسې ښکاري چې دا ځمکه هر يو
د دې مخالف ته د خپلو عاشقانو په زړونو کې له ځای ورکولو نه انکار کوي.
ما په خندا ورته وويل: ريښتيا دې وويل، په تا کې درې واړه شيان موجود دي،
انقلابي، عاشق او شاعر، ستا دا خبرې د شاعري يو انځور دی چې ستا د غيرت
منډې معشوقې په هکله دی خو زه فکر نه کوم چې دا کارونه دې له يوې ښايسته
انجلۍ سره د مينې خلاف وي ځکه له هغې سره مينه هم د هيواد د مينې يوه
برخه ده. هغه په آه سره وويل: احمده ايا ته ريښتيا اوريدل غواړې؟ ما ورته
وويل: هو فقط ريښتيا. هغه وويل: لکه څنګه چې د دې هيواد متل دی: «ولاد
الحرام لم يترکوا لاولاد الحلال شئ» احمده! اشغال زموږ هر څه چټل کړل. زموږ
ځمکه، زموږ سکون، زموږ سمندر. زموږ کوڅې او زموږ روحونه يې هم چټل
کړل. څومره کيسې به تا اوريدلې وي چې په دې هيواد کې له سخت محبت نه
بيل شوې دي خو ايا اشغال دا عاشقان د خاشاک په توګه پرې ونه سوځول؟
احمده! کله چې دا صفا اړيکې د غدارانو لاس ته ولويږي نو دا په عاشقانو

باندې د فشار له پاره استعمالیږي تر څو هغه له خپلې معشوقې (القدس) سره خیانت وکړي، ایا بیا زموږ په ژوند کې د مینې او عشق لپاره ځای پاتې کیږي؟ ما ورته وویل: زما یقین دی چې ته مبالغه کوې او ته خپل مذهبي خیالات او د شریعت احکام د اشغالګرو او خاینانو د حرکاتو سره په ګډولو باندې یو دروند او تېز مرکب جوړوې. هغه په خندا وویل: چا ویلي دي چې مذهبي تصورات د ژوند له حقیقتونو او تعاملاتو څخه جلا کیدلی شي؟ احمده! ما اوس د دې اړیکو د قطع کولو پریکړه کړې ده. ما له زړه او روح څخه له یوې نجلۍ سره مینه کړې ده او زما اړیکې له هغې سره روا او پاکې وې تر دې پورې چې یو لفظ مې هم نه دی ورته ویلی، ما د زړه له کومې له هغې سره مینه کوله او کله چې دې شدت او ګرندیو خیالونو په ما باندې فشار راوړ نو ما له خپل ځان نه وپوښتل: ایا زه په ریښتیا له هغې سره مینه کوم؟ او ما خپل ځان ته په پوره یقین او داډ سره ځواب ورکړ. بیا مې خپل ځان ته وویل: که چیرته ستا مینه ریښتوني وي نو زموږ د فلسطیني ژوند په محدودیتونو کې ته باید د مینې قرباني ورکړې او هر هغه شی پریږدې چې د فساد او بدې دروازې خلاصولی شي چې د معشوقې انځور او د هغوی عزت ته تاوان رسولی شي او تر دې پورې چې هغه هوا هم باید بنده شي چې د معشوقې مخ یې لمس کړی وي او یا یې د هغې زلفې ښورولې وي. موږ د نورو خلکو په څېر نه یو احمده.. ښه شپه! یې وویل او په خپله بستره کې څملاست، ما ځواب ورکړ: ښه شپه، او په خپله بستره کې څملاستم او د هغه په خبرو مې سوچونه پیل کړل چې ایا هغه په ریښتیا مبالغه وکړه او ایا ریښتیا موږ د نورو خلکو په څېر نه یو؟ زموږ کیسه د ایرلینډیانو، سرو هندیانو یا پاکستانیانو په شان نه ده بلکې دا یوه فلسطیني کیسه ده چې په هغه کې د اقصی معامله نغښتې ده.

یادونه: سره هندیان یوه پخوانۍ او پریښودل شوې اصطلاح ده چې د اروپایي استعمار په مهال د شمالي امریکا ځایي خلکو ته کاریدله او دا اصطلاح نن صبا

غير مناسب او له سپکاوي ډکه بلل کيږي. د دې پر ځای د «ځايي امريکايانو» او يا د «ځايي خلکو» په شان الفاظ کارول کيږي چې د دې ملتونو لپاره زيات احترام پکې پروت دی.

... راتلونکې ورځ چې زه له جومات نه کور ته روان وم نو زما نظر په ديوال باندې په نويو نښانونو پريوت چې هو بهو هماغه شان وو چې د پوليسو مشر ليکلي وو چې موږ يې شفر معلوم کړی وو. زه کور ته راستون شوم او د ابراهيم رانګ ته مې انتظار کاوه او هغه مې له دې واقعې نه خبر کړ، هغه سمدستي بهر ووت تر څو په تفصيل ځان پوه کړي او بيا واپس راغی. زموږ د پخوانيو تحليلونو سره سم په دې شفر کې د تاکل شوي ملاقات موده يوه اونۍ وروسته وه، ما له ابراهيم نه وپوښتل: ستا څه رايه ده؟ هغه وويل: دا د يو نامعلوم ايجنټ اشاره ده چې هغه خطرناک دی ځکه هغه نامعلوم دی، موږ ته پکار دي چې هغه وپيژنو. ما پوښتنه وکړه: هغه څنګه؟ هغه وويل: ماته يې پريږده، اوس له موږ سره يوه اونۍ وخت شته، په شفر کې د ملاقات وخت د شپې اته بجې ښودل شوی دی.

د تاکل شوې ورځ په سهار ابراهيم ماته وويل: نن اماده اوسه موږ به د ايجنټ د پيژندلو هڅه کوو، د ماښام شپږ بجې به زه او ته په جومات کې ملاقات کوو. زه په تاکل شوي وخت په جومات کې هغه ته منتظر شوم. هغه راغی ، زه يې له ځان سره په موټر کې کېنولم او بيا يې د غزې له ښار نه بهر د شمال په خوا يوړم. بيا په يوه فرعي لاره د يو کلي په طرف وغړېده او د سړک په څنډه کې يې يو وړوکي اغزي لرونکي بوټي ته په اشارې کولو سره وويل: ايا دا بوټی وينې؟ ما ورته وويل: هو! هغه وويل: يو ساعت وروسته به تياره شي او څوک چې له دې بوټي شاته کېني نو هيڅوک يې نه ويني او بيا هغه په سړک باندې تيريدونکی هر شخص ليدلی شي، په ځانګړې توګه د برق د پايې لاندې. ما ورته وويل: سمه ده. بيا هغه وويل: کله چې تياره شي نو زه تا دلته پريږدم، په پټه لاړ شه او د

چاپیرال جاج واخله، که چیرته حالات مناسب وي نو د بوټي شاته کینه. زه به تا وینم، که ته نشوې پټیدلی (یعنې ښکاریدې) نو زه به دې بیرته یوسم. که ته په سمه توګه دلته پټ شي نو سړک په ښه توګه ګوره او هغه کوه چې پوه شې چې دلته څوک راځي او څه کیږي، هلته کینه تر څو چې زه نه یم راغلی. ما پوښتنه وکړه: ته څنګه یقیني یې چې د چا لپاره په شفر کې اشاره شوې ده هغه به دلته راځي نه بل ځای؟ هغه په خندا وویل: ایا ته په ما اعتماد نلرې؟ دا کارونه ماته پریږده احمده! په ټاکلي وخت زه هغه راوړلم او له موټر نه یې ښکته کړم. ما د چاپیریال جاج واخیست نو حالات مناسب وو ځکه هلته هیڅوک نه وو نو زه د بوټي شاته پټ شوم. د ساعت ستنې له حرکت کولو نه انکار کاوه، یوه دقیقه د پیړۍ په څېر شوه، اته بجې نږدې شوې، یوه دقیقه، دوه دقیقې، درې دقیقې... نور هیڅ شی هم نه وو.

ما فکر کاوه چې موړ ځان ته دوکه ورکوو او ځانونه هوښیار ګڼو او دا کار دومره اسان نه دی، کیدای شي ما په ابراهیم زیات اعتماد کړی وي، زه له دې سوچونو څخه د یو د موټر د ودریدو غږ راویاسلم چې لږ لیرې په سړک ودریده، یو سړی تر رابهر شو او موټر په خپله لاره روان شو، ما یقین وکړ چې دا یوه عمومي ټیکسي ده.

دا شخص زما په خوا په یوه فرعي لاره باندې را روان شو، ما هغه په غور سره ولیده او زما د زړه ټکانونه په زیاتیدو شول. ما خپلې سترګې ومږولې تر څو ښه متوجه شم او هغه په سمه توګه وپیژنم، کله چې هغه د رڼا لاندې د لس متره فاصلې ته ورسیده نو ما هغه ولیده. ما نږدې چیغې کړې وای، داسې ښکاریده چې روح زما له بدن څخه وزي او ما خپلې ساه ګانې بندې کړې ځکه چې دا شخص «فائز» ؤ چې د ابراهیم یو نږدې ملګری او فعال ؤ. ما په زړه کې سوچ وکړ چې کیدای شي هغه هم د ابراهیم په حکم د څارنې په موخه راغلی وي، مخکې له دې چې زه دا سوچ بدل کړم یو تېز رفتاره موټر راغی. له فرعي سړک

سره ودريد، وروستى دروازه يې خلاصه شوه، فائز پکې کيناست او موټر روان شو. زما سل فيصده يقين شو چې دا د سيمې د څارګرۍ ادارې د مشر ابو وديع موټر ؤ او تقريباً ۹۰ فيصده يقين مې راغى چې ابو وديع هم په موټر کې ؤ.
زه سوچونو سره ګډوډ کړم، ايا زه خوب وينم؟ ايا دا حقيقت دی؟ ايا کوم د جاسوسي فلم ګورم؟ ابراهيم ته څه ووايم؟ ايا هغه ته ريښتيا ووايم؟ ايا هغه ته ووايم چې هيڅ هم نه وو؟ زه فکرونو او سوچونو وړی وم چې په دې وخت کې د ابراهيم موټر راغی، کله چې هغه رانږدې شو نو ما د ځای جاج واخيست نو هغه خالي و. زه د ونې له شا څخه راووتم، له هغه سره کيناستم او هغه موټر له لارې نه څنګ ته کړ او له ما نه يې پوښتنه وکړه چې ايا دلته څه وشول؟ ايا تا څوک وليدل؟ ايا استخباراتي افسر راغلی و؟ او ما هيڅ ځواب نشوای ورکولی.
هغه پوه شو چې زه په غير معمولي حالت کې يم نو هغه بيا پوښتنه وکړه: په تا څه شوي دي؟ ما ورته وويل: ته به يقين ونکړې چې څه شوي دي. هغه په تلوار پوښتنه وکړه: څه شوي دي؟ ما ورته وويل: هغه شخص راغی او بيا وروسته ابو وديع راغی او هغه يې په موټر کې له ځان سره يوړو. هغه په چيغه کولو سره وويل: ريښتيا؟ هغه شخص څوک و؟ ما ورته وويل: همدا ستونزه ده. هغه وويل: کومه ستونزه. کوم شخص؟ ما ورته وويل: فائز. هغه وويل: کوم فائز؟ ما ورته وويل: ستا ملګری فائز. هغه په چيغه کولو سره وويل: دا څه وايې؟ بل څوک به وي؟ ما ورته وويل: هو! بالکل هغه و ما په خپلو سترګو سل فيصده وليده او په دې کې هيڅ شک نشته. هغه وويل: ايا ابو وديع راغی او هغه يې له ځان سره يوړو؟ ما وويل: هو! ابو وديع په خپل موټر کې راغی. له هغه سره ودريده. دروازه يې ورته خلاصه کړله. هغه پکې کيناست او موټر د کلي په طرف لاړ. ابراهيم د سړک څنډې ته موټر تاو کړ، د هغه رفتار يې کم کړ تر دې پورې چې هغه موټر ودراوه. لاسي بريک يې راکش کړ، موټر يې ګل کړ او خپل سر يې په سټيرينګ باندې کيښود او ويې ويل: يا الله دا څه کيږي؟ زما يقين نه راځي، دا د

منلو وړ نه ده، دا نا ممکنه ده. دا نشي کيدلی، او دا خبرې يې تکرارولې. ما ورته ووېل: ولې ناممکنه ده؟ دا ريښتيا دي چې هغه نه پوهيږي... هغه زما د خبرې په غوڅولو سره ووېل: يا الله، داسې ښکاري چې ما خپل دماغ وبايلل. څه چې کور ته څو. زه د هغه پر ځای د موټروان په څوکۍ کې کيناستم او د کور په خوا روان شو. کله چې موږ کور ته نږدې شو نو هغه راته ووېل چې د شيخ احمد کور ته څو او له رسيدو مخکې هغه ماته ووېل چې دلته ودريږه او د شيخ له کور نه ليرې انتظار کوه تر څو چې زه نه يم راغلی. تقريباً نيم ساعت وروسته هغه راستون شو، هغه له ما سره کيناست او موږ د کور په خوا روان شو او موږ هيڅ خبرې سره ونکړې. زموږ خور مريم موږ ته د ډوډۍ تياره کړه خو هغه په مشکله يو څو ګولې وخوړې، موږ چای وڅښلو او هر يوه خپل کتاب راواخيست. کتاب ته مو کتل خو حروف مو نه پکې ليدل.
يو ساعت وروسته هغه زما خواته وکتل او راته يې ووېل: احمده! زه پوهيږم چې تاته د يادونې اړتيا نشته خو زه يې درته يادوم، دا موضوع بنده ده او هيچاته به يې نه وايې. ما ووېل: بيشکه. هغه ووېل: موږ تراوسه پورې په يقين سره نشو ويلی چې دا ټول محض د تصادفاتو مجموعه نه ده، موږ بايد د شيانو تحقيقات وکړو تر څوسل فيصده يقين ته ورسيږو. ما ورته ووېل: همداسې ده، خو څنګه؟ هغه ووېل: ګورو به، ګورو به، ښه شپه، او هغه په ځان باندې کمبله راښکله او بيا يې په اړخ بدلولو سره ووېل: که ته له هغه سره ووينې نو هغه بايد ستا په چلند کې د بدلون احساس ونکړي. ما ورته ووېل: همداسې به کيږي موږ کمبلې په سرونو راښکلې او سرونه مو په بالښتونو کيښودل. ما ته معلوم نه وو چې موږ څو ځلې به خپلو بسترونو اړخونه بدلول ګويا که زموږ بسترې له سکروټو ډکې وي.
کله چې موږ د سهاد لمانځه ته پورته شو نو هغه زما په غوږ کې په کرار سره د مسکا په کولو ووېل: ايا زموږ په شان خلکو لپاره چې داسې ژوند تيروي او داسې حالات ويني؛ مينه کول روا دي احمده؟ نو هلته ما پريکړه وکړه چې زه د

خپلې مینې کیسه ختموم او ما درک کړه چې زموږ کیسه یوه ترخه فلسطیني کیسه ده چې په هغې کې له یوې مینې څخه زیاتې نه څایږي.

نولسم څپرکی

ما له ابراهیم سره یو عبراني ورځپاڼه ولیده چې له امله یې زه پوه شوم چې د ابراهیم عبراني ژبه هم زده ده، ابراهیم وویل چې یو څه یې عبراني ژبه زده ده خو پوره قدرت نه پرې لري، د ده په لاس کې ورځپاڼه «یدیعوت احرونوت» نومیده. ما پوښتنه ترې وکړه چې دا څنګه ورځپاڼه ده او په دې کې څه دي؟ هغه وویل چې دا عبراني یدیعوت احرونوت ورځپاڼه ده او په دې کې یوه مقاله د غزې په اړه ده، هغه ورځپاڼه زما مخې ته کېښوده او د مقالې ژباړه یې هم راته وکړه.

دا یوه اوږده مقاله وه چې د غزې اوسنی حالت یې تشریح کاوه، لنډیز یې دا ؤ چې له غزې نه یو ختمین ځای جوړ شوی چې هلته جاسوسان او منابع د اسرائیلو د څارګرې ادارې «شاباک» سره کار کوي. په مقاله کې ویل شوي وو چې غزه لومړی د اسرائیلو لپاره یوه لویه ستونزه وه خو بیرته به هیڅکه خپل زوړ حالت ته راستنه نشي، په دې مقاله کې ډیری معلومات پټو سرچینو او د شاباک کارمندانو ته منسوب شوي وو.

ما دا هر څه له ډیر تشویش سره ولوستل، ابراهیم زما په پریشاني پوه شو او په مسکا یې وویل: ایا دا ریښتیا څورونکی خبر نه دی؟ ما وویل: بالکل څورونکی دی. هغه راته وویل: دا ټولې فضول خبرې دي، ایا تا ونه لیدل چې کله دوی پوهنتون محاصره کړ نو موږ څنګه له جوماتونو څخه خلک په حرکت راوستل؟ ما ورته وویل چې دا سمه ده خو... هغه زما د خبرې په غوڅولو سره وویل: بې شکه چې دوی مقاومت ته سخت زیان رسولی دی او په لوی شمېر کې زموږ د خلکو په مابین کې مدغم شوي دي خو دا څمکه مبارکه څمکه ده، الله په دې څمکه او د دې په خلکو کې برکت ایښی دی، کله چې وخت راشي نو دا دیو

به دوباره راپورته شي او دوی به پوه شي چې د دوی برخلیک څنګه دی. ما ورته وویل: زه یو ځل بیا ګورم چې ته ډیر رومانتیک او خیالي شوې یې. او زه فکر نکوم چې ستا نظریه دې په صحیح معلوماتو او احصائیې باندې بناء وي بلکې دا فقط خوبونه او خواهشات دي. هغه د پوره باوري کیدو په خندا سره زیاته کړه: ته به یې وګورې احمده، ته به یې وګورې!

درې شل کلن ځوانان د رفح کمپ په یو کور کې سره راټول شول چې د مصر له سرحد سره نږدې پروت دی. دوی په زړو جامو کې یو له بل سر پټ پټ غږیدل. عبدالحمید وویل: موږ باید یو څه وکړو او بغیر له څه کولو همداسې انتظار نشو کولی. خلیل پوښتنه وکړه: نو موږ څه کولی شو؟ فرید ځواب ورکړ: موږ پخوانۍ وسلې برابرولی شو او له هغو څخه کار پیل کولی شو. خلیل سمدستي وویل: نه! موږ له بازار نه اخیستل شوې وسلې نشو کارولی ځکه تاسو پوهیږئ چې په هغو کې زیاتره خرابې یا شکمنې دي او یا د سمدستي نیول کیدو سبب ګرځي ځکه کوم خلک چې د دې وسلو تجارت کوي هغوی په اصل کې جاسوسان دي تر څو هغه خلک ونیسي چې د اشغال پر ضد حتی سوچ هم کوي.

عبدالحمید تنګ شو او پوښتنه یې وکړه: نو تاسو به څه کوئ؟ موږ باید یو څه پیل وکړو. خلیل په مسکا سره وویل: له ما سره یو ښه سوچ دی او موږ باید هغه وازمایو؛ د هفتې په ورځ یوولس بجې د غزې ښار په میدان فلسطین کې ډیر بسونه ودریږي چې له هغوی نه په سلګونو یهودي نارینه او زنانه ښکته کیږي. هغوی د ښار په مارکیټونو کې د ګروپونو په شکل ګرځي، خندا ګانې کوي، شیان اخلي او خوراک او څښاک کوي. د عمر المختار کوڅې له میدان فلسطین نه واخله تر شجاعیه سیمې پورې چې هلته تجارتي فعالیتونه اوج ته رسیدلي دي؛ دوی د ډیر رش په شکل کې ګرځي. دوی په عبراني ژبه او کله کله ماته ګوډه عربي ژبه خبرې کوي چې له امله یې دوی او دوکانداران ټول خاندي.

د عمر المختار کوڅې له ختمیدو سره د ساحة الشجاعیه له طرفه خلیل په بې پروایي سره روان دی، هغه په لاس کې «القدس» ورځپاڼه نغښتل شوې نیولې ده لکه څنګه چې د کمپ د اکثرو ځوانانو معمول دی، هغه د دوکانونو کړکیو ته ګوري او مخته روان دی ، هغه سمدستي یو یهودي ته ورنږدې کیږي، د یو متر په فاصله سره هغه ورځپاڼه غورځوي او په لاس کې یې د اشپز خانې یو تېره چاقو نیولی دی، د هغه لاس له چاقو سره د برق په شان ګړندی د یهودي د غاړې په طرف ځي او مخ په وړاندې ورځي. د یهودي غاړه غوڅیږي او وینې ترې بهیږي، خلیل د څنګ یوې کوڅې ته غړیږي او خلک شورماشو جوړوي خو خلیل په هغه وخت کې یو موټر ته خیژي چې عبدالحمید یې چلوي. موټر کرار کرار د ښار په رش کې مدغم کیږي. په پنځلسو دقیقو کې د ننه اشغالګر فوځ، پولیس او استخبارات د پیښې ځای ته ځانونه رسوي، هغوی سیمه محاصره کوي، جسد منتقل کوي. ځای معاینه کوي او له دوکاندارانو او لارویانو څخه تحقیقات کوي.

څو ورځې بعد په نږدې سیمه کې د همدې نوعیت یوه بله پیښه رامنځته کیږي. خلیل یو بل اشغالګر په چاقو سره له برق نه په ګړندي ګزار سره حمله کوي او بیا د ښار په کوڅو کې غائب کیږي. اشغالګر فوځونه او استخبارات د هغه د نیولو هڅه کوي خو د خلکو نیول او تحقیقات هیڅ فائده نه ورکوي.

یو ماښام زه په خپل وطاق کې د کتابونو په لوستلو مصروف وم چې دروازه وټکیدله، زه ور پاڅیدم چې وګورم چې څوک دي. ما چې دروازه خلاصه کړه نو فائز ولاړ و او سلام یې وکړ. زه د ځواب ورکولو وړ نه وم. زما په مرۍ کې الفاظ ونښتل خو بیا مې ذهن ته راغلل چې ابراهیم ما ته څه ویلي وو نو ما د سلام ځواب ورکړ.

هغه پوښتنه وکړه: ایا ابراهیم شته؟ ما ورته وویل : اوس خو نشته خو هغه هر وخت راتلی شي. هغه وویل: نه، زه به لږ وروسته راشم. که هغه راشي نو ورته

وروایه چې زه بیا راځم او هغه دې زما انتظار وکړي. هغه لاړ او زه بیرته خپلو لوستلو ته راستون شوم. تقریباً نیم ساعت وروسته بیا دروازه وټکیدله او ابراهیم تراوسه پورې نه و راغلی. په دروازه کې فائز ولاړ و. ما ورته وویل: ابراهیم تراوسه پورې نه دی راغلی". تاسو د ننه راشئ. ما په خپل ذهن کې د خبرو اترو پلان جوړ کړی و او د کورنی غړو ته مې وویل چې تاسو لاړه خوشې کړئ. هغه له ما سره زما وطاق ته لاړ چې هلته هغه د ابرهیم د بسترې خواته کیناست او ما د وخت تیریدو په پار په یوه موضوع باندې د خبرو کولو هڅه پیل کړه تر څو زما پریشاني کمه شي. ما له هغه نه د هغه د درسونو او د ازموینو د اماده ګي په اړه پوښتنه وکړه چې نږدې راتلونکي وو. هغه ځواب راکړ چې هر څه سم دي او اماده ګي په ښه طریقه روانه ده، درسونه په اصل کې اسان دي او سخت نه دي. هغه سمدستي پوښتنه وکړه: ایا ستا په فکر به ابراهیم ډیر ناوخته شي؟ ما ورته وویل: نه! زما په فکر ناوخته به نکړي. هغه وویل: ما ډیر وخت تیزول نه غوښتل. ایا د هغه عادت دی چې د شپې ناوخته راځي؟ ما ورته وویل: نه! خو کله کله ناوخته کیږي. هغه پوښتنه وکړه: ستا په فکر هغه به اوس چیرته وي، کیدای شي زه همالته ورسره وګورم؟ ما ځواب ورکړ: ماته نه ده معلومه. هغه پوښتنه وکړه: ایا هغه له خپل ورور حسن سره د لیدو لپاره ځي؟ زما د زړه درزا زیاته شوه او ځواب مې ورکړ: نه، مور د حسن ملاقات ته نه ورځو او له هغه نه هیڅ خبر نه یو. هغه مور له څو کلونو راهیسې د هغه د بدو کارونو له امله له کوره شړلی دی.

فائز وویل: خو حسن د هغه ورور دی او د وینې اړیکې هیڅکله نه ماتیږي. یقیناً چې هغه به د خپل ورور په اړه فکر کوي. ما ورته وویل: نه نه. ما له هغه وخت راهیسې له ابراهیم څخه د هغه نوم هم نه دی اوریدلی او مور هغه هېر کړی دی. که تا یې نوم نه وای اخیستی نو مور هغه نه یاداوه. ما پوښتنه ترې وکړه چې ولې د حسن په اړه پوښتنه کوې؟ د یوې شیبې لپاره هغه پریشانه ښکاره شو او بیا یې وویل: ما فکر کاوه چې ابراهیم به هلته وي نو زه به هلته ورغلی وای. بیا هغه

پوښتنه وکړه: خو هغه اوس چیرته اوسیږي؟ ما ځواب ورکړ: ماته نه دی معلوم او موږ له ډېره وخته هغه نه دی لیدلی. هغه رخصت واخیست او زه ورسره له کوره ووتم او بیرته خپل وطاق ته راغلم. ما خپلو درسونو ته دوباره توجه ونشوای کړای او په دې سوچونو کې ډوب شوم چې ایا هغه د څارګرۍ اداري له خوا د حسن د معلوماتو اخیستلو لپاره را استول شوی ؤ؟ او که داسې نه وي نو د هغه په اړه بې ولې دومره پوښتنې وکړې؟ یوه شیبه وروسته ابراهیم بیرته راغی نو ما ورته خبره تېره کړه، هغه وخندل او ویې ویل: ډیر ښه، ډیر ښه. اوس موږ هغه لیدلی شو خو هغه موږ نشي لیدلی، هغه خپل کار ته پریږده او موږ به د دې خبرې تصدیق کوو چې ایا هغه په ریښتیا له دوی سره کار کوي او که نه؟ ما ورته وویل: هغه څنګه. هغه ځواب راکړ: اوس هغه یو څوک څاري او د هغه د ټولو حرکاتو او سکناتو حساب کوي.ما ورته وویل: ایا ته فکر نکوې چې له کله راهیسې ما له تا سره راپور کتلی دی نو هلته زما یقین راغلی چې له تا سره داسې امنیتي آله شته چې په دې کارونو کې بې کاروې؟ هغه په غصه زما طرفته وکتل او زیاته بې کړه: احمده! دې خبرو ته څه اړتیا وه؟ ته انګور غواړې او که له څوکیدار سره جنګ؟ ما په خندا ورته وویل: مهمه خبره داده چې ما د دې معاملې له پرمختګونو څخه باخبر ساته ځکه زه له پیل نه د دې کار یوه مهمه برخه یم. هغه وویل: دا ستا حق دی.

زما مور ډوډۍ راوړه او موږ ته یې سلام وکړ. موږ ځواب ورکړ، هغې ډوډۍ په مېز کیښوده او د ابراهیم د بسترې څنګ ته په کیناستلو سره یې وویل: ډوډۍ وخورئ، کله چې موږ له مېز سره نږدې کیناستلو نو مور پوښتنه وکړه: د زوم په اړه څه خبر دی؟ ابراهیم د هغې طرفته په کتلو سره وویل: ښه دی خو د هغه زوم هیڅ اړتیا نشته. مور مې په غصه ځواب ورکړ: ولې؟ پوه شه چې ما ستا لپاره د سپوږمۍ په څېر د نجلۍ لټون پیل کړی دی. ابراهیم ورته وویل: ایا موږ په دې فیصله نه وه کړې چې زما تر فراغت پورې به دا معاملې وروسته کوو؟ مور مې

وویل: هو! خو زه ستا لپاره لټون کوم او کله چې هم ماته مناسبه نوی پیدا شوه نو موږ به یې ستا لپاره وغواړو اګر که له فراغت نه مخکې هم وي. هغه ورته وویل: ای د تره ښځې!... ما مداخله وکړه تر څو هغه له مشکل حالت نه راوباسم. زما په فکر هغه کومه خاصه نجلی غواړي او هغه خوښوي. مور په طنزیه شکل زما خواته وکتل او ویې ویل: ته غلی کینه. تاته چا د خبرو ویلي دي؟ او ستا د سړیو په کار کې څه دي؟ ابراهیم خاصه نجلی غواړي او هغه خوښوي. واه واه. غلی کینه. بیا هغې د ابرهیم په طرف په کتلو سره وویل: زه یې ستا لپاره ګورم او ډیر ژر به دې د هغې ملاقات ته بوزم. ابراهیم وویل: ای د تره ښځې... خو هغې په مداخلې کولو سره وویل: ته هم غلی کینه او له وطاق نه ووتله.

په الخلیل ښار کې د ماښام له لمانځه وروسته شیخ احمد د ځینو ځوانانو په مابین کې ولاړ ؤ او هغوی ته یې د دیني امورو تعلیم ورکاوه، هغوی یې پرهېزګاري او له دنیا څخه بې رغبته کیدو ته هڅول. په همدې وخت عبدالرحمن هم په یو جومات کې ناست ؤ او ځوانانو ته یې همدا خبرې کولې. له منبر سره نږدې ناست شیخ خپل لاسي ساعت ته وکتل او د اذان چمتووالی یې پیل کړ. د ماخوستن د لمانځه غږونه د الخلیل له جوماتونو پورته شول «الله اکبر، الله اکبر...» د لمانځه نه وروسته عبدالرحمن خپل وراره عبدالرحیم ته په لاس اشاره وکړه چې څه چې د جومات دروازې ته لاړ شو او دواړه بهر ووتل. عبدالرحمن وویل: څه! موږ ته ناوخته کول نه دي پکار ځکه نن له موږ سره موټر نشته چې کلي ته مو ورسوي، دوی د ډبرینو کورونو لرونکې کوڅه کې روان شول، په یوه کوڅه کې د چیغو غږونه پورته شول: الله اکبر، ای خلکو! دا زموږ کور دی، یو بل غږ په ماته ګوډه عربي کې ځواب ورکاوه: دا ستا نه بلکې زما کور دی. له دې ځایه لاړ شه. عبدالرحمن او عبدالرحیم د کوڅې په طرف وکتل نو هلته په لسګونو عسکر ولاړ وو چې وسلې یې په لاس او د ځینو ځایي زنانه وو او نارینه وو ساتنه یې کوله. دوی د کوڅې اوسیدونکي وباسل او د هغوی د کور سامانونه یې بهر

غورځول، کله به هم چې د کوټې اوسیدونکي د خپل کور خواته د تللو هڅه کوله نو فوځیانو به هغه ته توپک په نښه کړ او د وطن اوسیدونکو به هغوی ته دیکې ورکولې. هغوی به یې راښکل او چیغې به یې پرې وهلې.

عبدالرحیم ودرید. کله یې چې د کوټې په خوا قدم واخیست نو د هغه تره هغه له لاسه ونیوه او په زور سره یې راښکلو : چیرته ځې؟ او له هغو توپکو سره ته څه کولی شې؟ عبدالرحیم په خفګان سره د هغه په خوا وکتل او ورته یې وویل: ایا موږ به همداسې پرې تیرېږو او هیڅ به هم نکوو؟ د هغه تره ورته وویل: زویه! دا مسئله په احساساتو او سمدستي عکس العمل سره نه حل کیږي. دا لومړی او اخري کور نه دی چې اشغالګر پرې ولکه کوي او دا لومړی او اخري کورنی نه ده چې له خپل کور نه ویستل کیږي. ته یې وینې چې سترګې یې لیدلی شي خو په لاسونو کې توان نشته او دا مسئله له بنیاد نه حل کول غواړي. عبدالرحیم په بې صبرۍ سره وویل: څنګه؟ او کله؟ عبدالرحمن ځواب ورکړ: صبر کوه زویه! د هر یو شي خپل مقرر وخت دی او د الله تعالی په حکم سره به کیږي.

راتلونکې سهار د کلي د ماشومانو غړونه پورته شول. عبدالرحیم په منډه د دروازې خواته لاړ تر څو وګوري چې څه روان دي. د هغې ترور ورته غږ وکړ چې چیرته ځې؟ عبدالرحیم ځواب ورنکړ او له ماشومانو سره د لویدیځ په طرف په منډه شو. د لویدیځ له خوا څخه د بلډوزرو او موټرو غړونه راتلل چې ځمکه یې نړوروله.

ماشومانو دغو الاتو ته کتل چې ځمکه یې هواروله. ونې یې له بیخونو ویاسلې او د ړنګو دیرو نه جوړ کورونه یې نړول. دیرو ماشومانو به چیغې وهلې: دا زموږ ځمکه ده چې دوی یې ړنګوي او په منډه بیرته کلي ته راغلل. دوی چیغې وهلې: یهودیان زموږ ځمکې هواروي، یهودیان زموږ ونې وباسي. د دوی له غړونو سره د کورونو دروازې خلاصې شوې او خلکو به یو له بله پوښتنې کولې چې څه شوي دي؟ او لویدیځ طرفته روان شول.

يوه سړي د خلکو ټولي ته په چيغو سره ويل: الله اکبر، الله اکبر ای خلکو څه وشول؟ کله چې هغه بلډوزر وليده چې دده ونې يې له بيخه وباسلې نو هغه په ځمکه بې هوښه راولويده او خلک يې د مرستې لپاره راټول شول. يوه سړي چيغه کړه: اوبه راوړئ! کله چې ځينې خلک د هغه په مرسته کې مشغول شول نو يو څو کسان د بلډوزرو په خوا روان شول. د دوی مخې ته يو څو فوځيان راغلل او د دوی په مابين کې د ګونګيانو په څېر خبرې پيل شوې.

نارينه وو ويل: دا زموږ ځمکه ده نو تاسو يې ولې هواروئ؟ فوځيانو هغوی ته د شاته تللو حکم کاوه او هغوی ته يې ټوپکونه په نښه کړي وو. نارينه وو بيا اعتراض وکړ نو فوځيانو هغوی شاته ديکه کړل چې له امله يې يو سپين ږيری وغورځيد. يوه سړي يې مرسته کوله او بل سړي له فوځيانو سره نښته پيل کړه. شورماشور او چيغې پيل شوې. بيا فوځيانو په لښتو او ډنډو وهل پيل کړل. څوک به چې په ځمکه وغورځيده هغه به يې په لغتو واهه. په دې سره سړيو چيغې او د الله اکبر نعرې وهلې. بيا عسکرو د اوښکو بهونکي ګاز مرمی ويشتل پيل کړل. خلک خواره واره شول، ماشومانو کاڼي ويشتل او فوځيانو په لاريون کوونکو هوايي ډزې پيل کړې. ځمکه يې هواره کړله. د زيتون ونې يې قطع کړې او د بلډوزور لاندې ذره ذره شوې. عبدالرحيم فوځيان په کاڼو ويشتل. ډزې او د ګاز استعمال روان ؤ او د بلډوزرو کار د لمر تر ډوبيدو پورې روان ؤ. بلډوزر او د هغوی په ساتنه مامور عسکر شاته لاړل او اکثره خلک کورونو ته لاړل، بغير له ځينو سپين ږيرو سړيو او سپين سرو ميرمنو څخه چې پخپلو ځمکو پراته وو. هغه يې ښکلوله. په خپلو سرونو يې خاورې شيندلې او د ژړا غږونه يې نه دريدل.

ابراهيم وويل: نن به موږ ان شاء الله د فائز معامله په قطعي او يقيني توګه حل کوو. ما ورته وويل: څنګه؟ هغه ځواب راکړ: ته بايد فقط خپل رول اداء کړې، د هغه شپږ ساعته خارل دي. دا د موټر کلياني دي. ډير احتياط کوه چې څوک ستا

په څارنه پوه نشي کنه نو ټول پلان به ناکام شي. ما د کيليانو په اخيستلو سره فکر مه کوه، هغه ولاړ او په تګ کې يې راته وويل: سر له اوس نه څارنه شروع کړه. ما سمدستي په خپلو سترګو سره د هغه لټون پيل کړ. هغه ما د محصلينو په هجوم کې ومونډ او زما لپاره د حيرانتيا خبره دا وه چې ابراهيم له هغه سره روان و، له هغه سره يې خبرې کولې او بيا د پوهنتون کانټين ته ولاړل، ما په هغوی باندې خپل نظر ښخ کړ، دوی هلته تقريباً نيم ساعت کيناستل. بيا ابراهيم رخصت واخيست او لاړ. فائز پريشانه ښکاريده او بيا هغه ولاړ شو او له کانټين نه بهر ووت، يو څه وخت په پوهنتون کې ګرځيده او بيا بهر ولاړ. زه ژر موټر ته وختلم او په هغه پسې له شا روان شوم تر څو هغه پوه نشي چې زه يې څارنه کوم. هغه په دريم سړک د لمر خاته په طرف روان و او دوکانونو ته يې په غور سره کتل، بيا يو دوکان ته ورغی، زه له موټر نه ښکته شوم او د دوکان مخې ته ولاړم تر څو وګورم چې هغه د ننه څه کوي، ما هغه وليده چې د دوکان له څښتن سره خبرې کوي او له هغه نه يې د تليفون د استعمال اجازه غوښتله چې ده ته يې اجازه ورکړله، هغه تلفيون پورته کړ او يو مختصر زنګ يې وکړ . بيا يې د دوکان له څښتن نه مننه وکړه او بهر راووت.

ما له ليرې څخه د هغه انتظار کاوه، هغه يو تېريدونکي موټر ته لاس ورکړ چې هغه ودريد او فائز پکې کيناست. ما په هغه پسې له شا نه موټر روان کړ تر دې پورې چې هغه فلسطين څلور لارې ته ورسيده. هغه له موټر نه ښکته شو او يوه شيبه په څلورلارې کې تاويده، بيا د يو پارکنګ په طرف روان شو. له موټروان سره يې خبرې وکړې او په موټر کې کيناست چې له څلورلارې څخه بهر د شمال په خوا ولاړ. کله چې موټر هغه فرعي سړک ته ورسيد چې ما هغه له ابو وديع سره په موټر کې د کيناستلو په مهال ليدلی و نو ما د موټر سرعت کم کړ او د دوی موټر ودريد. هغه له موټر نه ښکته شو، ما موټر د شمال په طرف روان کړ.

بیا راوګرځیدم او دوباره په همدې لاره راغلم. کله چې زه له دې فرعي لارې نه تیریدم نو ومې لیده چې هغه اوس هم د لویدیځ په خوا روان دی.

د دې لیدنو په مهال ما ولیدل چې ابو ودیع په خپل موټر کې راغی. هغه د موټر سرعت کم کړ او په یوې غړیدلې لاره باندې وغړیده، زه هم ژر په هماغه پسې وغړیدم او کله چې زه هلته ورسیدم نو ابو ودیع خپل موټر درولی ؤ او هغه یې دروازه خلاصوله. بیا فائز له ده سره کیناست او موټر روان شو. زه نه پوهیدم چې اوس څه وکړم؟ ایا زه خپلې څارنې ته دوام ورکړم او که زما کار پای ته ورسیده؟ بالاخره ما موټر په فرعي سړک روان کړ او له لیرې نه مې کتل چې د ابو ودیع موټر یو کلي ته داخل شو، زه شاته عمومي سړک ته بیرته وګرځیدم او د غړیدونکې لارې نه پنځوس متره لیرې منتظر شوم. تقریباً د څلویښت دقیقو انتظار نه وروسته د ابو ودیع موټر په تېز رفتار کې د غزې په خوا واپس را روان ؤ، ما موټر روان کړ او په فرعي سړک مې ولیده چې فائز د غړیدونکې سړک په طرف بیرته را روان دی، زه ژر بیرته خپل مخکیني ځای ته راستون شوم. فائز غړیدونکې لارې ته راورسیده او موټرو ته یې د ودریدو اشاره کوله. یو موټر ودرید او هغه ور پورته شو. زه له شا پسې روان شوم او هغه په میدان فلسطین کې ترې ښکته شو او بیا یو بل موټر ته پورته شو او بیرته د کمپ په خوا روان شو او کور ته لاړ. ما فکر وکړ چې زما کار نور خلاص دی او زه باید ابراهیم ته خبر ورکړم. زه په بیړه کور ته لاړم چې هغه ولټوم خو هغه په کور کې نه ؤ. زه ژر پوهنتون ته لاړم او هلته مې وموند او ټوله کیسه مې ورته وکړه. هغه دومره وخندل چې نږدې و غورځیدلی وای، او بیا یې وویل: هغه جال تېر کړی دی او اوس زموږ یقین شو چې هغه خاین دی خو موږ ته پکار دي چې خپل چل ته دوام ورکړو. ما پوښتنه وکړه: کوم جال؟ کوم چل؟ هغه وویل: څو ورځې مخکې چې ما هغه لیده نو په هر ځای کې به یې له ما څخه د حسن پوښتنه کوله نو زه پوه شوم چې دا د هغه کار دی چې د حسن په اړه معلومات راټول کړي. نو نن ما

ورنه وويل چې زه اته بجې له حسن سره ملاقات ته ځم چې ما له ډيرو کلونو څخه نه دی ليدلی او هغه ماته د يو شخص په واسطه پيغام راليږلی دی چې ماته معلومه نه وه چې هغه به ما د يو مهم کار لپاره غواړي. او زه پوهيږم چې دا معلومات به فائز حتماً هغه چاته ليږلي وي چې حسن ورته مهم دی، نو هغه جال تېر کړی دی او موږ ته اوس پکار دي چې معامله مکمل کړو.

زه به يوې ليرې سيمې ته ځم ګويا که زه د حسن د راتلو انتظار کوم، د يوې اوږدې مودې لپاره به انتظار کوم او دا به څرګندوم چې زه پريشانه يم. په بې صبرۍ سره به انتظار کوم او هره شيبه به د بې صبره شخص په څېر خپل ساعت ته ګورم او بيا به کورته بيرته راستون شم. ما په حيرانتيا سره پوښتنه وکړه: نو د دې به څه ګټه وي؟ هغه وويل: احمده! هغوی موږ ونيولو، له موږ نه يې تحقيقات وکړل او موږ يې په جال کې ښکېل کولو تر څو هغوی ته معلومه شي چې يا خو موږ حسن وژلی دی او يا يې موږ ته د ځای معلومات شته، او دوی په دې باندې هم کفايت ونکړ بلکې زموږ مابين ته يې هغه خاين هم راوليږه تر څو هغه له موږ سره د حسن په اړه لټون وکړي او هغه به موږ تر هغه وخته پورې پرينږدي تر څو پورې چې دوی ته يقيني معلومه نشي چې موږ په دې معامله کې ناخبره يو او موږ ته معلومات نشته چې حسن چيرته دی او په دې طريقه به هغه زموږ له تعقيب نه لاس واخلي. او په دې طريقې سره موږ په يوه غشي دوه ښکاره وکړل، د هغه د خيانت تصديق مو وکړ. او بل دا چې هغه مو استعمال کړ چې دوی ته داسې معلومات ورسوي چې موږ د دوی له شر نه وساتي.

ما په حيرانتيا سره ورته وويل: والله ته خو سمه بلا يې! هغه په مسکا وويل: دا د الله تعالی فضل دی. ما ورته وويل: ايا اوس ماته کوم بل خدمت شته؟ هغه خپل ساعت ته وکتل او بيا يې وويل: اوس لا ډير وخت شته تر څو تا کور ته ورسوم او بيا په خپل وخت لاړ شم. هغه زه کور ته ورسولم او په لاره کې يې راته وويل: د اسلامي جهاد سره تړاو لرونکي څو ځوانان نيول شوي دي چې په نږدې ورځو

کې يې په غزه کې د چاقوګانو په واسطه وژنو کې لاس درلود. الله اکبر! هر تخنيک ډير تر ډيره يوه مياشت کار کوي او بيا نيول کيږي. دا څه غم شو؟ هغه وويل: تر څو پورې چې زموږ په ملت کې داسې خاينان موجود وي او تر څو پورې چې موږ د غورځنګ او سياسي قوت په حيث دا مسائل په اساسي توګه حل نکړو نو تر هغو پورې به حالات همداسې روان وي بلکې له دې نه به هم بدتر کيږي. موږ کور ته ورسيدو نو ما ورته وويل: ډير مه ناوخته کوه. او که تر لسو بجو پورې رانغلې نو زه به فکر کوم چې څه بده پيښه شوې ده. او هغه په خپل وخت د خپل ټاکلي ځای په لور روان شو.

زما د ورور محمد کوژدنې د خپل اخري سمستر د ازموينو او د پوهنتون د درسونو د ختمولو چمتووالی نيولی وو. له دې امله به محمد د دوی کور ته بيا بيا تللو تر څو وګوري چې هغه خو په درسونو کې مرستې ته اړتيا نلري. د ماذديګر له لمانځه وروسته هغه د دوی کور ته ورغی، دروازه يې وټکوله. نو د هغې يو ورور دروازې ته راغی او هغه يې کور ته د ننه کړ. د هغې والدينو يې هر کلی وکړ او بيا هغه هم له خپلو کتابونو سره راغله او په نږدې څوکۍ کيناسته. د هغې مور د چای پخولو لپاره لاړه او پلار يې ناست ؤ. هغې به د درسونو په اړه پوښتنې کولې او محمد به ځوابونه ورکول.. تر دې پورې چې د ماښام اذان وشو. دوی ټولو لمونځ وکړ او محمد بيا د ځينې وضاحتونو لپاره کيناست. تقريباً نيم ساعت وروسته محمد ورته وويل: زه بايد کور ته لاړ شم. هغې ځواب ورکړ: ايا اوس د تګ وخت دی؟ محمد وويل: تاسو پوهيږئ چې حالات ښه نه دي او ښار د شيطانانو د ښار په شان ګرځيدلی دی، هيڅوک تګ او راتګ نکوي، زه بايد له ماخوستن مخکې کور ته لاړ شم تر څو په کومه ستونزه کې ښکېل نشم. هغه که د فوځيانو لخوا وي، يا د زورواکو او نورو بدکارانو له خوا وي. هغې محمد په لاسي ساعت وواهه ګويا که هغه ورته وايي چې دومره تلوار ولې کوې؟ د هغې پلار وويل: تا بالکل سمه خبره وکړه. محمد خدای پاماني واخيستله. السلام

عليكم !او پلار يې تر دروازې ورسره ولاړ: وعليكم السلام و رحمة الله وبركاته، په مخه دې ښه شه.

محمد د دوی له كور نه راووت نو تياره خوره شوې وه او هغه د خپل كور په طرف روان ؤ، هغه په يوه ويريونكې لاره روان شو چې بغير له بې كوره پيشوګانو او سپيو څخه بل ژوندی سری مخلوق هلته نه وو، د دې وخت په ابتدائي وختونو كې هلته ټول دوكانونه بند شوي وو او خلك د ستونزو او سر درديو څخه د خلاصون په موخه په خپلو كورونو كې ناست وو، محمد د كور په خوا ګړندي ګامونه اخيستل تر څو بغير له كومې ستونزې ژر كور ته ورسيږي.

ابراهيم تقريباً لس بجې كور ته راستون شو، وطاق ته له راتلو وروسته ما پوښتنه ترې وكړه: څنګه شو كار؟ هغه وويل: فائز په جال كې ښكېل شو او داسې ښكاري چې مور سل فيصده بريالي شو. ما پوښتنه وكړه: څه وشول؟ هغه وويل: زه لاړم او انتظار مې پيل كړ. پريشاني او خفګان مې څرګند كړ او ما وليدل چې په ما او هغه ځای باندې سخته څارنه پيل شوې ده تر دې پورې چې زما سره نږدې ولاړ موټرونه هم بند شول چې په هغو كې ځانګړي ځواكونه ول چې كه څه پېښه كيدله نو هغوی به سمدستي حمله كوي، كله چې هيڅ ونشول نو زه بيرته راستون شوم او چا زما په لاره كې خنډ جوړ نكړ، دوی ته به يقيناً معلومه شوې وي چې مور ته د حسن په اړه هيڅ معلومات نشته.

زما مور وطاق ته راننوتله او مور ته يې وويل: ايا تاسو ډوډی نه خورئ؟ د ډوډی پتنوس يې په مېز كيښود او سلام يې وكړ. مور وعليكم السلام وويل او هغه د ابراهيم د بسترې تر څنګ كيناسته او مور د ډوډی لپاره رامخكې شولو. هغې وويل: والله ابراهيمه ما ستا لپاره يوه داسې ناوې ليدلې ده چې د سپوږمۍ په شان ښايسته ده او صبا به زه تا د هغې د ليدلو لپاره بيايم. ابراهيم له ډوډی نه لاس پورته كړ او زياته يې كړه: څه وايې؟ هغې وويل: څنګه چې تا واوريدل، صبا د ماذديګر له لمانځه وروسته سمدستي د ابو حسين كور ته څو تر څو تاته د هغه

لور «سلوه» وښايم چې د سپوږمۍ په شان ښايسته ده او په اخلاقو او دين داري کې داسې بهترينه ده لکه څنګه يې چې ته غواړې. هغه وويل: اى زما د تره ښځې... ما خو تاته مخکې ويلي وو ... هغې يې خبره غوڅه کړه: بس کړه دا خبرې اى زما د تره ښځې، نورې خبرې نشته؟ دا معامله نوره ختمه ده او ته پوهيږې چې د محمد کوژدنه به په دوو اونيو کې خپلې زده کړې تکميل کړي او موږ به ستا او د هغه واده په يو ځاى کوو لکه څنګه چې موږ د محمود او حسن واده يو ځاى کړى وو. دا به ډېر تېز، اسانه او کم مصرفه وي. ابراهيم وويل: اى د تره ښځې ما خو تاته مخکې ويلي وو چې زه د خپلو زده کړو له خلاصولو مخکې واده نکوم. هغې وويل: ستا د زده کړو خلاصولو ته يو کال پاتې دى او زه ستا انتظار نشم کولى، ته به واده کوې، تاته د ناوې د خوښولو حق شته خو واده کول يا نه کول ستا اختيار نه دى او صبا ماذديګر ته تګ دى چې هېر دې نشي. هغه له مجبورۍ نه غلى شو او زما مور د ډوډۍ د پتنوس سره ووتله، هغه يوه شيبه بغير له څه ويلو په خپله بستره ناست ؤ او بيا يې ناڅاپه وويل: اى د تره ښځې، اى د تره ښځې! هغه له خپلې کوټې راووتله او ويې وويل: څه وشول ابراهيمه؟ هغه ورته وويل: ته راشه زه تاته څه ويل غواړم، هغه راغله او له ده سره نږدې کيناستله او ويې ويل: څه ويل غواړې؟ ابراهيم وويل: زه صبا ماذديګر نه راځم، موږ د ابو حسين کور ته نه ځو او زه د هغه له لور سلوه سره واده نکوم. هغې په حيرانتيا او تعجب سره د هغه په طرف کتل ځکه دا هغه ابراهيم نه ؤ چې خبرې يې کولې، او بيا يې په غصه ورته وويل: څه وايې؟ هغه وويل: د دې هيڅ ضرورت نشته اى د تره ښځې! هغې ورته وويل: د دې څه مطلب شو؟ ايا ته زما خبره ماتول غواړې؟ او زما خبره نه اورې؟ او اوس واده کول نه غواړې؟ ابراهيم وويل: نه، نه زه واده کوم. اى د تره ښځې، څنګه چې ستا خوښه وي او کله چې ستا خوښه وي.

ما په چیغه کولو سره ورته وویل: ما درته ویلي وو کنه چې هغه له یوې خاص نجلۍ سره مینه کوي او په هغې باندې یې پام دی، زما مور د تذلیل په نظر کولو سره ماته وویل: ما درته ویلي وو چې غلی کینه او مداخله مکوه، بیا ابراهیم وویل: ای زما د تره ښځې! دده په خبرو کې یو څه صداقت شته خو خبره داسې نه ده لکه څنګه چې هغه وایي. زما مور په تنګ شوه او ویې ویل: زه خو نوره په هیڅ نه پوهیږم، ایا ته ماته ویلی شې چې ته څه غواړې؟ هغه په ټیټ سر وویل: زه له مریم سره واده کول غواړم! ما ورته وویل: کوم مریم؟ هغه وویل: زما د تره لور مریم. زما مور وویل: مریم؟ هغه وویل: هو ، مریم، او ایا ماته به له هغې نه بهترینه څوک پیدا شي؟ ایا تاسو له هغې سره زما په واده راضي نه یاست؟ زما د مور په سترګو کې اوښکې راغلی او ابراهیم ته یې وویل: ایا مریم ته به له تا څخه بل څوک ښه پیدا شي؟ ماته اجازه راکړه چې د مریم، محمود او حسن رایه معلومه کړم. هغه بهر روانه شوه نو ما ورته وویل: زما به څه کیږي؟ ایا تاسو زما رایه نه غواړئ؟ هغې راته وویل: نه، په دې معامله کې مور ستا رایې ته اړتیا نلرو ځکه ستا ملګری ستا د روح په څېر دی او ستا رایه معلومه ده. ما وخندل او ابراهیم ته مې وویل: مبارک شه! ابراهیم په سر ښکته کولو سره وویل: الله دې تاسو ته هم مبارک کړي احمده، خو د نورو رایې ته به هم وګورو.

زما مور بیرون ووتله او بیا ابراهیم زما طرفته په کتلو سره وویل: والله زه خو نه پوهیږم چې څه وکړم. زه په یوه دره کې یم او ستا مور په بله دره کې، زه هغه نشم خفه کولی، زه ویریږم چې مریم له ځان سره ښکېل نکړم، بیا زه زندان ته لاړ شم او یا... هغه غلی شو نو ما ورته وویل: وروسته وایه، یا څه؟ ایا ته له وژل کیدو ویریږې؟ هغه په بیړه وویل: نه، نه، خو هیڅوک نه پوهیږي چې په تقدیر کې یې څه ورته لیکلي دي.

زما مور یوه شیبه وروسته راغله، محمود او حسن له هغې سره وو، هغې په راتلو سره وویل: مبارک شه ابراهیمه مبارک شه، که نیمه شپه نه وای نو له زغاریدو (د

عربو رواجي د خوشحالۍ غبرونه) سره به ستا او د مريم لپاره زما خوښي دوه چنده شوي وای خو صبا به ان شاء الله ستا د کوژدې مراسم لمانځو. بيا هغې مريم ته غږ کړ: مريم ! راشه، کله چې مريم نه راغله نو زما مور پسې ورغله او هغه يې په راښکلو سره راوستله، مريم له شرم نه د خپل مخ پټولو هڅه کوله تر دې پورې چې هغه کوټې ته راننوتله، زما مور ورته وويل: د خپل نامزاد، خپل تره زوی سره کينه! هغه کيناستله او د شرم له امله د هغې او ابراهيم مخونه سره شول، او هيڅ يې يو بل ته نشوای کتلی. ابراهيم په همت کولو سره زما له مور نه پوښتنه وکړه: ايا مريم راضي ده او که تاسو مجبوره کړه؟ زما مور ځواب ورکړ: مجبوره کړې مې ده، ولې يې مجبوره کړم؟ ايا هغه له تا ځخه ښه بل څوک پيدا کولی شي؟ والله د تره ښځې زه ستا له ښيګڼو نه شرميږم. زما مور ځواب ورکړ: زموږ ښيګڼې! تا خو خپل ژوند په خپله جوړ کړی دی، الله دې برکت درته پکې واچوي. له يوې شيبې خاموشي نه وروسته هغه وويل: د تره ښځې! ايا مريم راضي ده؟ زما مور ځواب ورکړ: بالکل، بالکل راضي ده، ابراهيم وويل: زه يې له هغې نه اوريدل غواړم. زما مور وويل: ووايه مريم چې ته راضي يې! مريم سر وښوراوه، هو زه... بيا هغه بهر ووتله او زموږ خندا پسې له شا شوه. ابراهيم يوه شيبه کيناست او د کوژدن او واده د ترتيب په هکله يې خبرې کولې او بيا يې د خوب لپاره اجازه وغوښتله ځکه سهار وختي يې څه کارونه درلودل. کله چې دوی بهر ووتل نو ما په خندا سره ورته وويل: نن خوشحاله شه، نن ستا ورځ ده، له سهاره راهيسې برياليتوبونه ترلاسه کوې او هر برياليتوب له مخکيني څخه لوی وي. هغه په خندا وويل: خدای دې وکړي چې له نظره نه شي، ښه شپه! ما هم ځواب ورکړ: ښه شپه!

د غزې په زندان کې په هغه بلاک کې چې مخکې محمود پکې اوسيده، د هغوی له وطاق سره په نږدې وطاق کې کله چې د بنديانو ساتونکي بريښنا بنده کړه او د خوب لپاره ولاړ، نو يو قيدي د خپلې بسترې تر څنګ له دروازې سره

نږدې يوه د شيشې ټکړه راوويستله چې د هغې يوه څنډه يې له دروازې بهر ايښې وه تر څو د ساتونکي په حرکاتو نظر وساتي، کله چې ساتونکی رانږدې شو نو هغه درې ځله په خپلې ګوتې سره ځمکه ووهله، ټول بنديان په خپلو بسترو باندې د ويدو خلکو په شان پراته ول او ائينه يې ليرې کړې وه. ساتونکی د وطاق دروازې ته راورسيده او په لاس کې د موجود لاسي څراغ رڼا يې په وطاق کې واچوله او د حالاتو جاج يې واخيست او کله يې چې ټول بنديان ويده وليدل نو د بل وطاق په خوا روان شو او د خپلې ګزمې په مکمل کولو سره بيرته د بلاک کونج ته راستون شو او په څوکۍ کيناست. هغه بندي بيا ائينه راوباسله، وېې ليدله او پټ يې وويل: ځئ! او په لاس سره يې اشاره وکړه، درې بنديان پورته شول او غسل خانې ته ولاړل، په هغوی کې ذ يوه په لاس کې د اوسپنې اره وه چې د هغې په يوه څنډه رخت تاو شوی و تر څو په ښه طريقه يې ونيولی شي، هغه د خپل ملګري په ګيډه ودريده او د اوسپنې د سيخ په اره کولو يې پيل وکړ، په فرش باندې پروت هلک درې ځله ځمکه ووهله نو دوی په بيړه خپلو بسترو ته راستانه شول، ساتونکي ګزمه وکړله او بيا په خپلې څوکۍ کيناست او دوی بيا په خپلو کارونو مشغول شول.

د سهار له اذان نه مخکې کار مکمل شوی و، د ازادۍ کړکۍ خلاصه شوې وه. په ساتونکي باندې خوب غلبه کړې وه چې په خپله څوکۍ باندې ديوال ته تکيه شوی ناست ؤ، زموږ شپږو ځوانانو يو بل ته غاړې ورکولې او يو په بل پسې له کړکۍ وتل. هغوی په خپلو بسترو کې څه شيان ايښي وو او داسې ښکاريدې لکه څوک چې ويده وي، کله چې اخري بندي هم له کړکۍ څخه بيرون شو نو د اذان غږ لوړ شو «الله اکبر الله اکبر» هغوی له کړکۍ نه په وتلو سره له ديوال نه ټوپونه ووهل او بيرون ووتل.

سهار شپږ بجې ساتونکی د بريښنا د لګولو لپاره راغی او په لاوډسپيکر باندې د بنديانو د شمېرلو د چمتووالي اعلان وشو. شمېرونکی راغی. وطاق يې خلاص

کړ او شمېرنه يې پيل کړ، دلته خلک کم دي، نور چيرته دي؟ موجودو خلکو په خندا سره ځواب ورکړ، هغه د غسل خانې طرفته په منډه ولاړ او بيا په خولو کې لوند راووت او په مخابره کې يې خبرې شروع کړې. په زندان کې د بيړني حالت زنګ ووهل شو. له دوه نيمو ساعتونو ډير وخت تېر شوی و چې ځوانان وتلي وو. دا د دوی لپاره کافي وخت وو چې د فلسطين اخري څنډې ته رسيدلي وای بلکې د غزې په کومه کوڅه او يا په اطرافو کې يو محفوظ ځای ته خو به خامخا رسيدلي وي. په ډير شمېر کې د زندان عسکر راغلل، د وطاقونو تالاشي يې پيل کړه او هر شی يې لټ په لټ واړول. په زرګونو شمېر کې فوځيان ووتل، موانع يې کيښودل، خلک يې درول او د هر تلونکي او راتلونکي شخص تالاشي يې پيل کړه ، د سرګردانی او مايوسی يو واضح حالت و.

د ماذديګر تر اذان پورې ټول چمتووالی پوره شوی و، زما مور د ابو حسين کور ته پيغام وليږه چې مور د کوژدې لپاره نه درځو ځکه هلک فقط د خپلې تره لور سره واده کول غواړي. زمور ترور ته يې خبر وليږه، اکثرو ګاونډيانو ته يې هم خبرونه وليږل او زه يې د بقلاوې اخيستلو او نورو کارونو لپاره واستولم. د ماذديګر له اذان وروسته په کور کې د خوښی نعرې او سندرې پيل شوې، بقلاوه وويشل شوه. په همدې توګه د ابراهيم کوژده له مريم سره د ټولو خلکو په مخ کې وشوه او په دې توګه مريم هم د ټولو په مخ کې له شرميدلو نه وساتل شوه.

شلم څپرکی

د غزې ښار په وحدت کوڅه باندې د فهمي کتابتون سره په څلور لارې باندې موټرو او خلکو زيات رش وي، دا ځای د غزې د زرګونو اوسيدونکو او د سلګونو نظامي او ملکي افسرانو او د استخباراتي کارمندانو لپاره يو مرکزي محور دی.

سرايا اپارتمان د غزې ټرانګې د اشغالګرو مرکز دی. سړک له موټرو څخه ډک دی او لکه څنګه چې هيڅ ترافيکي اشارې شتون نلري چې رش تنظيم کړي نو

ټول موټر ودرېږي او موټر په سانتي متر، سانتي متر باندې روان وي. یو نظامي موټر چې د غزې ترانګې یو پولیس افسر یې چلوي، کرار کرار پر مخ روان دی او هغه خپل لاس د موټر په دروازه ایښی دی او له موټر څخه په عبراني ژبه د یوې عجیبه موسیقي غږ راځي.

په دې رش کې «محمد» ور مخې ته کېږي چې څه موده وړاندې د غزې له زندانه په تښتیدونکو کې یو تن و، هغه موټر ته ورسید، خپله تومانچه یې راوباسله او د هماغه پولیس افسر سر او زړه ته یې نیسي او څو ډزونه پرې کوي او بیا د خلکو په مابین کې غائب کېږي، یو موټر د هغه انتظار کوي او هغه له ځان سره لیرې سیمې ته وړي.

په لوی شمېر کې فوځ سیمه محاصره کوي او خلک توقیفونو ته وړي، دوکانونه بندوي او د خلکو وهل ټکول پیل کوي، د استخباراتي ادارې افسران د تحقیقاتو او د تورنو کسانو د نیولو لپاره سیمې ته راورسیدل خو دا معلومات بې ګټې ثابت شول. څو ورځې وروسته یو فوځي جیپ د ښار په یو مرکزي سړک باندې له معمول سره سم ګزمه کوي، کرار کرار روان دی، د سړک سره نږدې په یوه هدیره کې یو ځوان چې څو ورځې وړاندې له زندانه تښتیدلی و. راښکاره شو او هغه د بدوي قبیلې یوه کیلي موټر ته ور وغورځوله چې له امله یې په موټر کې چاودنه وشوه او هغه له سیمې وتښتیده په داسې حال کې چې د ټپي شویو فوځیانو چیغې او شور اوریدل کیده.

څو ورځې وروسته په یو نظامي موټر د اتوماتیک وسلې په مټ ډزې کېږي او بریدګر بغیر له کومې ستونزې پښې سپکوي. دا خبرونه په اشغال شویو سیمو کې خپاره شول او د هر کور، کوځې او مجلس د سر ټکي وګرځیدل. ټول خلک د دې حملو د ظرفیت او د بریدګرو له جرائت نه متاثره وو او په اشغالګرو کې په خورې شوې ګډوډۍ باندې خوشحاله وو. دا زموږ په کور کې د څو ناستو یوه موضوع وه.

څو ورځې وروسته دا خبرونه په ټوله سیمه کې خواره شول. اشغالګر او د هغوی استخبارات د دوو ځوانانو په نیولو کې بریالي شول چې د غزې له زندان نه تښتېدلي وو او دا فکر کیده چې په وروستیو پیښو کې یې لاس درلود. هغوی یې د برج کمپ په شمال کې په یو فرعي سړک باندې په زرګونو مرمیو سره وویشتل. دا خبرونه پوهنتون ته ورسیدل چې له امله یې موږ زده کړې وځنډولې او یو لاریون مو وکړ چې له فوځیانو سره پکې نښته وشوه او دا لاریونونه ټولې سیمې ته وغځېدل.
د (٦/١٠/١٩٨٧) نیټې نه څو ورځې وروسته د ماښام له اذان بعد د دې ځوانانو یو ګروپ او د هغوی ځینو همکارانو په خپلو موټرو کې د غزې په شجاعیه کوڅه کې ګزمه کوله چې یو څو ښاري موټرو پرې حمله وکړه ، بیا لوی فوځي ځواکونه هم ورته راورسیدل او له ځوانانو سره یې نښته پیل کړه چې په دې نښته کې د استخباراتو یو افسر ووژل شو چې د عملیاتو او کمین څارنه یې کوله. ټول ځوانان شهیدان شول او په کوڅه کې ګرځبندیز نافذ شو.
ابراهیم زما خوا ته راغی او ماته یې وویل چې هغه په عثمان جومات کې د جمعې د لمانځه لپاره ډیر خلک راټولوي او له هغه ځایه به د شهیدانو په یاد او عزت کې یو لوی لاریون وباسو. هغه زه وهڅولم چې ورسره لاړ شم. په لوی شمېر کې ځوانان په جومات کې راټول شول. هلته یې د جمعې لمونځ ادا کړ، خطبه او لمونځ له معمول سره سم وشول او کله چې لمونځ ختم شو او لمونځ کوونکي له جومات نه په وتلو شول نو ځینې فعال کارمندان له ابراهیم سره راټول شول او شعارونه یې پیل کړل: بالروح بالدم نفدیک یا فلسطین... بالروح بالدم نفدیک یا شهید!!! خلک د دوی شاوخوا راټول شول او د شجاعیه په سړک باندې یو لوی لاریون خپور شو، د شهیدانو د کورنیو د غړو لپاره نصب شویو خیمو ته ورسیده ، هلته تم شو او شعارونه یې لوړ کړل.

څو دقيقې وروسته په لوی شمېر کې فوځ هلته راورسيده او له هغوی سره نښته
پيل شوه چې کاني او خالي بوتلونه پکې ويشتل کېدل او تر ماښام پورې دا
سلسله روانه وه. دا لومړی ځل و چې په دې سيمه کې د مسلح مقاومت په ملاتړ
ملي لاريون کېږي. تر دې پورې چې کله موږ ماښام کور ته ستانه شو او ټول
راجمع شو نو زما ورور محمود وويل: تاسو ټول ليوني ياست، داسې لاريونونه
څنګه کوئ چې د مسلح مقاومت واضح ملاتړ پکې پروت وي.

د محمد نامزادۍ خپلې زده کړې او ازموينې خلاصې کړې وې او محمد د واده
د تياري لپاره له غزې نه بيرته راغلی و. هغه په رام الله کې يو کور په کرايه ونيوه
او ټول د اړتيا وړ توکي يې ورته واخيستل. زما مور يو پوره او رنګين واده کول
غوښتل خو محمد او ابراهيم يو ساده او د کوچني کور سره سم واده کول
غوښتل. اختلافاتو زور واخيست، محمد په رام الله کې واده کول غوښتل تر څو د
کورنۍ غړي او نږدې خپلوان په دوو يا دريو موټرو کې رام الله ته لاړ شي او
مراسم هلته ترسره شي. ابراهيم غوښتل چې مراسم بايد ساده وي او په کور کې د
خپلوانو او ګاونډيانو سره وي تر څو زما مور، ورونه، خويندې او ګاونډيان هم
خوشحاله شي. د محمود او حسن لپاره دا معامله ډېره مهمه نه وه بلکې د هغوی
لپاره مهمه دا وه چې دوی ټول په يوه خبره متفق شي. بالاخره په دې خبره اتفاق
وشو چې زموږ له کورنۍ څخه به يو وړوکی ګروپ رام الله ته ځي او هلته به د
محمد او د هغې د ناوې نکاح کېږي او بيا به ناوې او د هغې د کورنۍ کوم
خلک چې غواړي؛ غزې ته راځي چې هلته به د ابراهيم او مريم نکاح کېږي. د
زنانه وو له طرفه به د واده مراسم هغسې ترسره کېږي چې څنګه يې دوی غواړي
او بله ورځ به محمد او د هغه ناوې بيرته رام الله ته ځي. ټول کارونه له پلان سره
سم بغير له کومې ستونزې ترسره شول. له دې نه وړاندې زه او ابراهيم بايد له
خپل ګډ وطاق نه منتقل شو چې هلته يې هغه او د هغه ناوې ته ترتيب جوړ کړی
و او زه مجبور شوم چې په مؤقتي ډول د ميلمنو په خونه کې و اوسيږم. له واده نه

وروسته زه له خپلې مور سره په کوټه کې اوسیدم. دا واضحه شوه چې دا کور د دریو ځوانو کورنیو او زما د مور لپاره کفایت نکوي. انجینر محمود په کور باندې له پاسه د دویم منزل د جوړولو وړاندیز وکړ او مور ته یې وویل چې د انجینرۍ په لحاظ دا کار له لږ کوښښ او انتظار سره شونی دی. ابراهیم د هغه له پشنهاد سره اتفاق وکړ او ټولو فیصله وکړه چې له واده نه دوه میاشتې وروسته به په دې پلان کار شروع کوو.

د همدې کال د اتم دسمبر په ماښام کله چې په یو بس کې ځینې فلسطیني مزدوران له خپلو کارونو واپس راتلل او بس د حاجز سیمې ته نږدې رسیدلی و نو د سړک په بل طرف یو غټ موټر چې یو یهودي چلاوه او په تېزي سره د شمال په خوا روان و، کله چې هغه بس ته رانږدې شو نو ناڅاپه یې د بس په خوا تاو کړ او هغه یې ریز مریز کړ. په دې پیښه کې زیات مزدوران مړه شول او ځینې ټپیان شول، مړه شوي مزدوران د هغوی کورونو ته او ټپیان روغتون ته انتقال شول. دا خبر په غزه کې په تېزي سره خپور شو چې دا د مزدورانو د وژلو لپاره یو قصدي عمل و، په زرګونو خلک سړکونو ته راووتل او د دې پیښې په هکله یې خبرې پیل کړې او معلومات یې ترلاسه کول.

یو ځوان په پټه د شیخ احمد کور ته ورغی تر څو هغه له دې پیښې خبر کړي او په ساده طریقه پوښتنه وکړي چې څه باید وکړو. شیخ د مړو د جنازو له لویو لاریونونو او فوځ سره د نښتو تر څنګ د وړلو مشوره ورکړه، هغه ځوان د چمتووالي لپاره راووت. کله چې جنازې له جبالیه مقام څخه راووتې نو د هغوی تر شا یو لوی ټولی روان شو چې د تکبیر نعرې او تسبیحات یې ویل. اشغالګر فوځ راغی او سخته نښته پیل شوه چې تر نیمې شپې پورې روانه وه. کله چې ابراهیم کور ته راستون شو نو هغه زما په غوږ کې وویل چې راتلونکې ورځ به پوهنتون د لاریونونو مرکز وي او مور خپل چمتووالی پوره کړی دی. سهار د اسرائیلو راډیو اعلان وکړ چې د غزې فوځي مسؤل د اسلامي پوهنتون د دریو

ورځو لپاره د ټولو پریکړه کړې ده، ابراهیم په خپل موټر کې له مختلفو سیمو څخه لیدنه وکړه او کارمندان یې خبر کړل چې پلان بدل شوی دی او لاریونونه به د پوهنتون پر ځای ټولو سیمو ته منتقل کوو، هر ګروپ باید د خپلې سیمې حالات تېز کړي.

د غرمې په مهال د غزې ټوله سیمه له شمال څخه تر جنوب پورې د اشغالګر فوځ په خلاف د اور په شان خوټیدله، په هره سیمه کې په زرګونو خلکو لاریونونه پیل کړل او له فوځ سره سختې نښتې وشوې، په هره سیمه کې په لسګونو خلک ټپیان شول چې نږدې روغتونونو او کلینکونو ته یوړل شول. له هر نوي ټپي سره به د خلکو جذبه او غصه نوره هم زیاتیده. د جبالیه په کمپ کې د دې پیښې لومړی قرباني حاتم السیس شهید شو، د راتلونکې پنجشنبې په سهار پېښو زور واخیست، په لسګونو مخ پټو ځوانانو سړکونه بند کړل، موانع یې کېښودل او د هغو مزدورانو لاره یې بنده کړه چې د ۱۹۴۸ اشغال شویو سیمو ته د کار لپاره تلل، اشغالګر فوځ د لارو د خلاصون هڅه کوله خو هر ځل به چې یو ځای سړک خلاص شو نو بل ځای به بند شو. مخ پټو ځوانانو له اشغالګرو سره په کاڼو او خالي بوتلونو سره جګړه کوله. ماسپښین مهال په ټوله سیمه کې لوی لاریونونه راووتل چې په هغو کې د فلسطین بیرغونه پورته شوي وو، د فلسطین او شهداوو په هکله یې شعارونه ورکول او د نویو تعمیراتو په ضد یې غږ پورته کاوه.

یو سپین ږیري سړی په بیړه خپل کور ته ننوت او د خپل زوی کوټې ته ورغی چې د سهار تر لسو بجو پورې ویده و، پلار یې ورته وویل: ته تراوسه پورې ویده یې؟ ځوان په حیرانتیا سره خپل پلار ته ګوري او د سترګو موښلو په مهال سوچ کوي چې زما پلار ما په لاریون او جګړو کې د شرکت لپاره پاڅوي؟ هغه پلار چې څو ورځې وړاندې به د اشغالګرو په خلاف د هر فعالیت په اوریدلو سره لړزیده او زموږ د کور دروازه به یې بنده کړه؟ په دې دنیا کې اخر څه وشول

چې دومره لوی بدلون راغی؟ د نږدې جومات له لاوډسپیکر نه غږ راځي: قسماً بالله الجبار، لتعودي یا دار، باسم الدین،علی فلسطین، لیفر الغدار،مشینا الدرب،خضنا الصعب،تخطینا الحدود،مهما الشوک،الصبر المر، لتعودي یا دار...
په هر څلور لارې او د هرې لارې په څنډه باندې به په سلګونو مخ پټي ځوانان ولاړ وو، موانع به یې کېښودل، ټایرونه به یې سوځول او له اشغالګر فوځ سره به یې جګړې کولې، د اوښکې بهونکي ګاز له امله د دوی له سترګو اوښکې روانې وې او پوزې یې پرله پسې بهیدلې، هغوی به سمدستي د غورځول شوې ګازي مرمۍ پوچک راواخیست او د اشغالګرو په خوا به یې وشړلو تر څو هغوی هم د ګاز خوند وڅکي، په لسګونو خلکو به یو ټپي پورته کاوه، د مرمیو غږ د جګړې په خبر وو او لاریون کوونکو به چیغې وهلې، چا به له بل سړي نه مرسته غوښتله او د جومات لاوډسپیکر به دوی ته مورال ورکاوه. ابراهیم له خپل موټر سره بهر روان شو، ما ورته غږ وکړ: چیرته ځې، ټول سړکونه له موانعو نه ډک دي؟ پیاده لاړ شه! هغه په مسکا وویل: فکر مکوه احمده، فکر مکوه! ما هغه څارلو تر څو وګورم چې هغه څه کوي، کله چې هغه لومړی مانع ته ورسیده نو لاریون کوونکو سمدستي لاره ورته خوشې کړله، سوځیدلی ټایر یې د اوسپنې په اوږدو سیخونو سره لیرې کړ چې د همدې لپاره دوی چمتو کړی وو، هغه پرله پسې له موانعو تیریده ګویا که هغه د دې جنګ لومړی درجه مشر وي، کیدای شي هماغه به و.
د دې ورځې په ماذیګر مور تقریباً دیرش ځوانان راټول شو، یوه شل نفري فوځي ګزمه راغله او مور سمدستي د کوڅو په کونجونو کې پټ شو او کله چې ګزمه د سړک مابین ته راورسیده نو کاڼي د باران په څېر په دوی وریدل، هغوی خپل هوش او حواس وبایلل او هر طرفته یې ډزې پیل کړې، د ډزو په اوریدلو سره په سلګونو نارینه او زنانه بهر راووتل او ټولو په اشغالګرو د کاڼو باران جوړ کړ، هغوی لیونتوب اخیستي وو او هر طرفته یې ډزې کولې، ټپیان غورځیدل او د

کانو باران شروع و. یو فوځي په خپل ځای پروت له حرکت نه لویدلی و، د هغه په اوږه باندې یوه درنه مخابره وه، هغه د مرستې غږونه کول، هغه د نورو ډزو کولو هڅه کوله خو خپلې پښې یې له کنټرول وتلې وې او په ځمکه لویدلو سره یې په عبراني ژبه خپلې مور ته غږونه پیل کړل «ایما» یعنی زما مورې، ای مورې! په لسګونو جیپونه د دوی مرستې ته را روان وو چې د لارې په اوږدو کې په هره کوڅه کې به د کانو له باران سره مخ کیدل. دوی په ډیره مشکله راورسیدل او د کانو په منځ کې یې خپل فوځیان لټول. په لسګونو نه بلکې په سلګونو ټپیان الشفاء روغتون ته یوړل شول، ځینو په ایمبولانسونو کې او زیاتره په ښاري موټرو کې چې په لاره به تېز تیریدل، دروازې به یې خلاصې وې او په لسګونو خلک به له ټپي سره تر روغتونه روان وو. په زرګونو په وینو لړلي خلک د روغتون په دروازه کې راټول وو. له لاسونو به یې وینې روانې وې او طبي کارمندانو به دوی شاته دیکه کول او چیغې به یې وهلې چې دومره ټپیان زموږ له صلاحیت او د روغتون له ظرفیت نه زیات دي، د روغتون په دروازه د خلکو سمندر په حرکت کې راځي کله چې یو موټر ټپي راوړي، هارن وهي او الارام غږوي. دا ازدحام په یو غږ کې د فلسطین د شهیدانو په حق کې او د اشغال، اشغالګرو، د هغوی د مشرانو او کارمندانو په خلاف شعارونه ورکوي، دوی هیڅ نه ویریدل او نه دریدل. په لوی شمېر کې فوځیان روغتون ته راځي او په لاریون کوونکو باندې یې دریغه د اوښکو ګاز او مرمی فایر کوي، په فوځیانو باندې په زرګونو کاڼي وریږي، ډزې زیاتیږي او ازدحام بیرته د روغتون داخل ته ګرځي، په یو غږ کې نعرې پورته کیږي: الله اکبر، الله اکبر، خیبر خیبر یا یهود، جیش محمد سوف یعود. الله اکبر بسم الله اکبر. فوځیان په دوی پسې د روغتون دروازې ته منډې وهي. دوی ټول بیا مخې ته ورځي او په لاسونو کې یې کاڼي نیولي دي، د دې ازدحام له مخې نه فوځیان شاتګ کوي. یو فوځي په ځمکه غورځي او خلک یې په لغتو وهي، د هغه وسله او نظامي الات اخلي او هغه په یو زیر لباس جامه

کې تیښته کوي، یو عقل مند ورته وایي چې د دوی وسله له ځان سره ساتل په زرګونو خلک وژلی شي نو وسله یې وغورځوئ او خلک یې وسله یو طرفته غورځوي.
د خلکو روحیه اسمان ځکه ګرځي کله چې هغویویني چې اسرائیلي عسکر د کانو مخ ته نشي تم کیدلی. او د نښتو، شهیدانو، ټپیانو او زړورتیا کیسې په هر کور کې خپریږي، په ځوانانو او ماشومانو کې د قربانۍ او وفادارۍ روح پیدا کیږي.
ماښام ما او ابراهیم د شیخ احمد په کور کې ملاقات وکړ، هلته شیخ د بیان متن ولیکلو چې راتلونکې جمعې ته به په جوماتونو کې وویشل شي، ابراهیم هغه وخت د چاپ کولو عمل پیل کړ کله چې اصلي نسخه چمتو شوه، بیا یې د یو خفیه چاپ ماشین په واسطه چې د زړو سامانونو په ګودام کې ایښی و؛ په زرګونو نسخې چاپ کړې، د هر ګروپ لپاره یې جلا جلا بنډلې کېښودې او بیا ابراهیم د خپل موټر په ډاله کې واچولې او په عمومي سړک روان شو، د هغه تر مخه یو بل موټر روان شو تر ځو هغه په کوم ناڅاپي چیک پاینټ کې ښکېل نشي. مخکیني موټر په وروسته شیشه باندې خاص اشارې نصب کړې وې تر څو وروستی موټر هغه وکتلی شي او په کوم چیک پاینټ باندې د ودریدلو یا کرار کیدلو نه مخکې هغه خبردار و اوسي او په مخکیني موټر کې هیڅ ممنوع شوی نه نو ځکه هغه په اساني سره له چیک پاینټ نه تیریدلی شوای. دواړو موټرو د بیان نسخې وویشلې چې هلته به ابراهیم د هرې سیمې په جومات کې یو بنډل نسخې کېښودلې او بیا به د بل منزل په طرف روان شو. یوه شیبه وروسته به یو ځوان راغی او هغه به دا نسخې په یو پټ ځای کې کېښودې تر څو راتلونکې جمعه یې د خلکو مخې ته راوړي.
(۱۲/۱۱) د جمعې په ورځ کله چې لمونځ کوونکي له لمانځه وروسته له جوماتونه وتل نو هغوی په ځمکه ډیر کاغذونه ولیدل چې په هر کاغذ به یو کاڼي ایښی

هر يوه سړي به کاغذ راپورته کړ او کور ته د تګ په مهال به يې په لوستلو پيل وکړ. دا بيانونه د «حرکة المقاومة الاسلامية» په نوم سره امضاء شوي وو او په دې بيانونو کې يې خلک مقاومت او مبارزې ته هڅولي وو. دې اقدام خلک را يو ځاى کړل، تظاهراتو ته يې وهڅول. د خلکو ازدحام جوړ شو. د شعارونو غږونه لوړ شول او خلک د اسرائيلي اشغال په خلاف راپورته شول.

په زرګونو خلک د هرې سيمې په ښارونو او کمپونو کې راووتل. په دې ورځ زه هم په يو لاريون کې شامل شو چې له يو جومات نه پيل شو او ورسره له کمپونو څخه پيل شوي لاريونونه عمومي سړک ته ورسيدل. کله چې موږ فوځيانو ته نږدې ورسيدو نو هغوى ډزې پيل کړې. د خلکو مورال نور هم لوړ شو چې له امله يې فوځيان شاتګ ته اړ شول، تر دې پورې چې موږ سرايا ته نږدې شو. هلته ډزې ډيرې زياتې شوې. يو هليکوپټر په لاريون کوونکو له پاسه اوښکې بهونکې ګاز استعمال کړ. په دې ورځ داسې ښکاريده چې د غزې ډيره سيمه او د هغې کمپ ازاد شوي دي. فقط د سرايا په ودانۍ کې او له هغې نه ګير چاپيره عسکر موجود وو او دا حالات په ټوله سيمه کې وو.

د بلاطة په نوم کمپ چې د نابلس ښار سره نږدې پروت دى هلته تر مياشتو پورې د سرحدي ځواکونو ظلم او ستم روان ؤ. هغوى د سيمې د ميرمنو او انجونو تنګول پيل کړي وو. په دې دوران کې په غزه کې پيښيدونکو واقعاتو په دې اور باندې نور تيل هم وپاشل او خلک د جمعې په ورځ د لاريون لپاره سړکونو ته راووتل چې له اسرائيلي فوځ سره په سختو نښتو بدل شو او همداسې حالت د بيت اللحم سره په نږدې الدهيشه کمپ کې هم تر سترګو شول.

په دې دوران کې بشر زيت پوهنتون د فوځ په حکم سره بند شو چې له دې موقع نه په استفادې سره محمد او د هغه کور ودانه زموږ کور ته غزې ته راغلل او څو ورځې له موږ سره پاتې شول. د عامو اعتصابونو په مهال ډيرو خلکو ته د يو بل د ملاقات زمينه مساعده شوه. په دې وخت کې فاطمه هم له خپل زوى او لور سره

زموږ کور ته راغلل او موږ ټول یو ځای شو، زموږ کور له نارینه وو، زنانه وو او ماشومانو ښخه ډک شو. ما راياد کړل چې کله موږ ماشومان وو نو موږ ټول په یوه کوچنۍ خونه کې اوسیدو او نن زموږ وړوکی خاندان د فوځ هومره شوی دی. ما دا خبره په ټوکو کې وکړه نو زما مور راته وویل: په نبي علیه السلام درود ووایه او موږ ټولو وویل: اللهم صل علی سیدنا محمد.

د غرمې د ډوډۍ په مهال چې د یوې میلمستیا په څېر وه، یو اوږد سیاسي بحث پیل شو چې ایا دا اوس چې څه کیږي دا ګټه لري او که تاوان؟ مختلفې رایې وړاندې شوې، ځوک یې په مخالفت کې وو او ځوک یې ملاتړي وو. ځوک ویریدل او ځوک یې له پایلو ښخه مطمئن ول. زما د ورور محمود دا فکر وچې دا هر څه به ژر ختم شي کله چې د خلکو غصه سړه شي نو دا کار به ګټه ونلري. ابراهیم په دې خبره یقیني و چې دا لړۍ به ژر ختمه شي. ماښام د اسرائیلو په تلویزیون د وزیر اعظم اسحاق شامیر اعلامیه خپره شوه چې هغه پکې وویل چې فلسطیني خلک په تاوتریخوالي سره هیڅ هم نشي ترلاسه کولی او دا هر څه بې ګټې دي او موږ به یې په سختۍ سره مقابله کوو.

محمود ابراهیم ته وویل: تا ولیدل چې زما خبره ریښتیا ثابته شوه؟ ابراهیم په خندا وویل: ورور سړي په لومړي ځل ومنله، ایا تا ونه لیدل چې هغه موږ ته د فلسطیني خلکو خطاب وکړ؟ ایا تا تراوسه پورې د شامیر یا بل لوړپوړي چارواکي له خولې اوریدلي چې موږ ته یې فلسطیني خلک ویلي وي؟ تر پرونه پورې شامیر موږ یا د غزې خلکو ته د سامریه او یهودا اوسیدونکي ویل خو نن موږ ته فلسطیني خلک وايي. محمود د ډوډۍ په خوړلو کې د مشغول کیدو بهانه وکړه تر ځو خبرې رواني ونه ساتل شي او یا خپله ماته ځرګنده نکړي.

د شپې نارینه وو د شیخ احمد په مشرۍ کې یوه ناسته وکړه او د لاریون د روان ساتلو پریکړه یې وکړه، شیخ احمد د خپلې رایې په بیانولو سره وویل چې دا یو عظیم ملت دی او د هر قیمتي ځېز لپاره قرباني ورکولو ته اماده دی، هغوی

مخکې هم ثابته کړې ده او بیا به یې هم ثابتوي چې دوی له توقع زیات اماده دي بلکې څو چنده زیات اماده دي، هغه هیله څرګنده کړه چې دا انتقاضه (پاڅون) به په یو مستقل حالت بدل شي تر څو دا د فلسطیني خلکو د روزانه ژوند یو محور وګرځي، زموږ د ژوند هر اړخ له دې محور سره مطابقت ولري، هغه که د زده کړو وي، که د صحت وي او که د ژوند د نورو معاملاتو وي تر دې پورې چې موږ خپل اهداف ترلاسه کړو، یعنی د اشغال خاتمه او د ځمکو ازادي مو متحققه شي. هغه زیاته کړه:د الله تعالی په برکت سره د دې مرحلې لپاره په کلونو کوښښ او تربیت شوی دی او نن یې موږ اغاز کړی دی، موږ ته توقف او شاتګ نه دی پکار بلکې موږ به مخ پر وړاندې ځو او د خپل کار ظرفیت به لوړوو، او قدم په قدم به د خپلو اهدافو په خوا روانیږو، زموږ ملت به دا ثابتوي چې هغوی د دې هدف وړ دي او د الله په فضل سره به کامیابیږي.

حسن او حسین دواړو ورونو د کوځې په جومات کې د ماخوستن لمونځ ادا کړ. د بیرته ستنیدو پر مهال حسین خپل ورور حسن ته وویل: د صبا پیښې به هم د نن په څېر وي، په یقیني توګه به مقابلې کیږي، ټپیان به غورځیږي او هغوی به به راځي او خلک به خواره واره کوي. حسن د دې خبرې په تائید سره وویل: که همداسې وي نو موږ باید سر له اوسه اماده ګي ولرو. حسین په حیرانتیا پوښتنه وکړه: څنګه؟" حسن وویل: زما سره راځه. هغوی کور ته لاړل او یوه لویه پلاستیکي بوشکه یې واخیسته، نږدې د تیلو پمپ ته ولاړل او څومره روپۍ چې ورسره وې په هغو یې پیټرول واخیستل. بیا دوی بیرته د کوځې یو خالي ځای ته لاړل چې هلته دوی زیات خالي بوتلونه راټول کړل او هغه یې له پیټرولو نه ډک کړل. دوی تقریباً څلویښت بوتلونه ډک کړل. بیا یې د رخت ټکړې خیرې کړې او هغه یې د بوتلونو په سرونو کې کېښودې تر څو پیټرولو ته ورسیږي او بیا یې بوتلونه صندقونو ته واچول. یو صندق حسن واخیست او بل حسین واخیست او

دوی د دارالشفاء روغتون په خوا روان شول، هلته دوی صندوقونه د زيتون د یوې ونې شاته پټ کړل او بيرته کور ته ستانه شول. سهار مهال په ښار کې لاريونونه پيل شول او تېپيان الشفاء روغتون ته يوړل شول، د خلکو ازدحام د روغتون په خوا زيات شو او په دوکانونو کې شعارونه پيل شول: خيبر خيبر يا يهود جيش محمد سوف يعود.

ماسپښين مهال په نوی شمېر کې اشغالګرو عسکرو د روغتون محاصره پيل کړه او په لاريون کوونکو يې ډزې پيل کړې. حسين په روغتون کې موجود و او د اشغالګرو عسکرو د راتګ انتظار يې کاوه، کله چې فوځيان راښکته شول هغه د نه د بوتلو په تيارولو شروع وکړه او د روغتون له ديوال سره يې يو تش بيلر کيښود، يو بوتل يې پورته کړ او په ديوال پورته شو، هغه بوتل ته اور ورکړ او د يو فوځي جيپ په طرف يې وشړلو چې په هغه باندې وار له مخه کاڼي وريدل، بوتل مات شو او په جيپ باندې اور بل شو، فوځيانو چيغې وهلې او شاتګ يې وکړ، هغوی په هغه ځای ډزونه کول چې بوتل ترې شړل شوی و، حسين بيلر شاته کړ او ځنګه چې فوځ په کانو او د بوتل په ځای مصروف وو نو حسين دوهم بوتل ته اور ورکړ او د هغوی په خوا يې وشړلو، په همدې توګه له مخ او شا نه د بوتلو ګزارونه پيل شول او په زيات شمېر کې لاريون کوونکو کاڼي ورول. نښتې تر لمر ډوبيدو پورې روانې وې، حسين په دې ورځ په يوازې ځان څلوېښت بوتلونه وشړل او د هغه ورور حسن يې مرسته کوله.

د شپې يوه هلک د خپل پلار ځټک او يو څو ميخونه راواخيستل او د لرګي په ورو ټکړو کې يې ميخونه ټک وهل، هغه د لرګي ټکړې په داسې طريقه په سړک نصب کړې چې د ميخونو څوکې پورته طرفته شوې تر څو په سړک د تيريدونکو فوځي موټرو ټايرونو ته تاوان ورسوي، دوی دواړه ليرې کيناستل تر څو د خپل کار پايله ووينې. کله چې فوځي جيپونه په تېزي سره د لاريون کوونکو په تعقيب پسې راووتل او دې ځای ته راورسيدل نو د څلورو موټرو

ټايرونه پنچر شول او هغوی ودریدل چې له امله یې د نورو موټرو لاره هم بنده شوه. هلکان له خوښۍ په جامو کې نه ځایدل او دا شعارونه یې ویل: خیبر خیبر یا یهود جیش محمد سوف یعود. هغوی دا فکر ونکړ چې میخونه له هغه ځایه بیرته لیرې کړي. ابراهیم په ماښام کې په همدې خام سړک باندې په موټر کې روان و چې ناڅاپه د هغه د موټر یو ټایر پنچر شو. هغه راښکته شو چې علت معلوم کړي. هغه جیک راښکته کړ او د ټایر په جوړولو یې پیل وکړ. د هغه سترګې له غصې نه سرې شوې خو چې کله یې ټایر پورته کړ او په لرګي کې نصب شوی میخ یې ولیده نو هغه په خندا وویل: شعیب جبار، شعیب جبار. هغه ټایر بدل کړ او د حسن د ورکشاپ په خوا روان شو. هغه له حسن نه وغوښتل چې د قوي اوسپنیزو سیمونو په زرګونو ټکړې اماده کړي. حسن هره ټکړه د څو سانتي مترو په اندازه قطع کړه. بیا یې په منځ کې په یوه زاویه باندې تاو کړل او هره ټکړه یې د برقي ویلډینګ په واسطه یو له بل سره ونښلوله او په همدې توګه هره ټکړه د مرغۍ د پښې په څېر شوه چې په ځمکه یې ایښې وي. حسن په څو ساعتونو کې په لوی شمېر کې دا ټکړې اماده کړې. ابراهیم یې راوغوښت چې له ځان سره یې یوسي. بیا ابراهیم دا ټکړې په مختلفو سیمو کې په فعالو کارمندانو کې تقسیم کړلې تر څو یې دوی هغه وخت د اشغالګرو د موټر مخې ته وغورځوي چې کله هغوی د مخ پټو ځوانانو په تعقیب پسې روان وي.

راتلونکې ورځ به هر چیرته لیدل کیدل چې د فوځیانو موټرې د تګ راتګ په وخت هر ځای پنچر کیږي او موټر به یوې خوا ته کاږه روان وو. فوځیانو به ځانونه په جال کې ښکېل ګڼل. دوی نه مخ ته او نه شاته تللی شوای او نه په دې حالت کې پاتې کیدلی شوای. هغوی به مرسته غوښتله او نور فوځیان به راغلل چې هغوی به له لاریون کوونکو او موانعو سره مخ شول او یا به یې برخلیک داسې شو لکه چاته چې دوی راغي او هغوی ورسره مخ شوي دي. دا یوه خوندوره او له خندا ډکه ورځ وه. کله به چې تا د دوی موټر په داسې حالت کې

لیدل او داسي ښکاریده چې د دوی اکثره د ربړي ټایرونو والا موټر بې کاره شوي دي او کوم چې خوندي پاتې وو هغو هم کار پریښی وو.
هغوی د اوسپنې ځنځیر لرونکی ټانګ میدان ته راوست چې له امله یې د خلکو مورال لوړ شو کله چې هغوی ولیدل چې دښمن سربداله دی.موږ د دې کار په مهال یوه خطرناکه لوبه کوله چې د یوې کیلي په مابین کې به مو مېخ ټک واهه او هغه به مو په دیوال سره په زوره ووهله، په دې سره به په سوروي کې موجود سلفر چې د اورلګیت له لرګیو څخه به ویستل شوي و، انفجار وکړ او یوه زوروره چاودنه به وشوه، دا لوبه د کمپ په ماشومانو کې ډیره مشهوره وه چې له امله یې اکثرو والدینو خپل ماشومان له دې لوبې څخه منع کول ځکه دا خطرناکه او اندیښمنونکې وه. د دې لوبې لنډیز دا ؤ چې یوه اندازه سلفر په یو تنګ ځای کې اچول چاودنه رامنځته کوي او د دې استعمال د پاکوونکې وسلې په توګه په اشغال شویو سیمو کې کیده . چا چې په لومړي ځل د لاسي بم د جوړولو فکر هم اختراع کړی و.
د جبالیه په کمپ کې درې ځوانانو چې یو یکې نلدوان و، له سلفرو نه د لاسي بم په جوړولو کې مشغول وو، دوی په وار له مخه تیار شوي یو سوروي کې لچک لرونکې پټۍ داخلوي او په همدې ترتیب په لسګونو نور هم په ډیر احتیاط سره اماده کوي ځکه معمولي غلطي او یا زیات موږل هم یوه سپرغۍ پیدا کولی شي چې له امله یې بم د دوی په لاسونو کې چاودلی شي. بیا دوی دا تیار شوي بمونه تقسیم کړل تر څو د راتلونکې ورځې لاریونونو ته اماده وي.
سهار مهال له معمول سره سم غونډې، لاریونونه. کاڼي ویشتل، مرمۍ وریدل او د اوښکې بهوونکې ګاز د لوګیو صحنې ښکاریدې. ځینې ځوانان دیوالونو، بوټو یا د سړک څنډو ته پټ شوي دي. د ګزمې د یو موټر د تیریدو پر مهال یو ځوان بارود رسی ته اور ورکوي او د موټر په طرف یې ور شړي چې له امله یې چاودنه رامنځته کیږي او کله ناکله به یې څه فوځیان هم ټپیان کړل. د لاریونونو په

لومړیو ورځو کې یو ماښام زما ورور محمود ته څینې ملګري راغلي وو چې
څینې ما پکې پیژندل او څینې مې نه پیژندل، دوی ټول په میلمستون کې ناست
وو او له حالاتو داسې ښکاریده چې دا د یو غورځنګ مجلس دی. هغوی څو
ساعته بحثونه وکړل، په دوی کې دوه رایې وې، یوه رایه د مکمل ګډون په حق
کې وه او بله یې په مخالفت کې وه. بالاخره هغوی اتفاق وکړ چې د یو متحده
ملي چوکاټ لاندې به ګډون کړو او د فلسطین د ازادی غورځنګ استازي به له
ملي ګوندونو سره یو ځای کار کوي. څو ورځې وروسته نور میلمانه راغلل چې
هغوی د بیلابیلو ملي ګوندونو یوه مجموعه وه او څینې ما هم پکې پیژندل.
هغوی ډیر وخت ناست وو، بحثونه روان وو او د اشغالګرو په خلاف یې د
بغاوت د نور تېزولو په هکله خبرې کولې. اوس ټولو ته معلومه وه چې دوه
اعلامیې به صادریږي، یوه د متحده رهبري له طرفه او دوهمه د اسلامي مقاومتي
غورځنګ (حماس) له طرفه. او دواړه به د سختی کولو او د بغاوت د تسلسل
روحیه ورکوي خو په دوی کې به هر یو مختلف پروګرام پر مخ وړي. بالفرض د
یکشنبې په ورځ به دوی عمومي اعتصاب ته خلک دعوت کوي. د دوهمې
دوشنبې او لومړی چهار شنبې په ورځ به دوی د اعتصام دعوت ورکوي او په
دوهمه پنجشنبه به دوی له ټیپانو سره د غمرازی په پار د ټولنیزې روژې لپاره
دعوت ورکوي، د هر ګوند کارمندانو به هر ځای خپلې اعلامیې ویشلې تر څو
زیاتو سیمو ته ورسیږي او د فعالیت په ورځ به کارمندانو نقابونه اچولي وو او په
سړکونو به ګرځیدل تر څو په ټولو خلکو یې لازمه کړي او کمزوري، عاجزي او
د ملت بې احساسي څرګنده نشي. دې عمل څو ځله اختلافات او منازعات هم
پیدا کړل خو په اخر کې به له جګړو او نښتو څخه منع شول او کومې ستونزې به
چې مخې ته راغلې هغه به سمدستي حل شوې.
ګډه رهبري په دې یقین وه چې دوی د فلسطیني خلکو صحیح استازي دي نو له
همدې امله دوی ته د نښتو د رفتار او د پیښو د تنظیم کولو حق حاصل دی خو

حماس دا ګڼله چې هغوی (حماس) یو لوی او فعال ګروپ دی چې په غورځنګ کې یې استازي نشته خو د دې مطلب دا نه دی چې دوی د خپلو فعالیتونو د مخته بیولو او په خپله خوښه د رفتار کولو حق نلري خو په اخر کې به د خلکو او ښاریانو اماده ګي پریکړه کوي. ډیر ځله به زما د ورونو محمود، حسن، محمد او یا زما د تره زوی ابراهیم په مابین کې سخت بحثونه کیدل ځکه دا معلومه وه چې محمود په ګډه رهبري کې دی او حسن، محمد او ابراهیم په بل ګروپ کې دي او په دې وخت کې به د جواز په هکله سخت بحثونه کیدل چې د کوم ګروپ عمل جائز دی او د کوم ګروپ عمل د بل ګروپ د وجود او اغیزو د له منځه وړلو لپاره دی او هر ګروپ به دا ثبوت ورکاوه چې هغوی د اختیاراتو حقدار دي او هغوی دي چې د انتقاضه (پاڅون) پلان یې جوړ کړ یا یې هغه پیل کړ او د پاڅون فعالیتونو او رول ته یې پرمختګ ورکړ. هره اونی به د پاڅون او بغاوت نویو سیمو ته خپریده چې مخکې به هلته نه ؤ او هره اونی به د نویو طبقو خلک پکې شاملیدل تر دې پورې چې دا کارونه د فلسطین د ورځني ژوند برخه وګرځیدل، باقي کارونه او د ورځني ژوند فعالیتونه هم له دې کارونو سره په ځنګ کې کیدل تر څو د بغاوت د روان ساتلو سره سره د ژوند او معاشرې اړتیاوې هم پوره شي.

ماشومان به هر سهار ښوونځي ته تلل، زده کړې به یې کولې او ماښام به سړکونو د نښتو، لاریونونو او جګړو صحنې ښکارولې، تجارانو به سهار خرید و فروخت کاوه او له ماسپښین وروسته به عمومي اعتصاب و او دا به د ژوند په نورو چارو باندې هم تطبیق کیده. په څو میاشتو کې په الخلیل ښار کې چې له نورو سیمو څخه وروسته پاتې ؤ؛ یوه غونډه وشوه چې د ښار د اسلامي ګوند څو مشران په کې شامل وو او په موجودو خلکو کې عبدالرحمن او جمال هم ګډون کړی وو، بحث اوږد شو. ځینې خلک د ګډون او ځینې د مخالفت پلویان وو. بالاخره په یوه سوله یزې حل لارې باندې اتفاق وشو چې د هغه لاندې به په تدریجي توګه

محدود شمېر کارمندان له ګډونوالو سره په فعالیتونو کې برخه اخلي او بیا به یې د پایلو جاج اخیستل کیږي. په محدود شمېر کې له ګډون سره فعالیتونه پیل شول نو په خلکو کې په لوی انداز سره قبولیت او ګډون څرګند شو او له دې نه وروسته د یوې بیړنی کمیټې د جوړولو پریکړه وشوه چې مشري یې جمال ته وسپارل شوه تر څو فعالیتونه نور هم تېز کړي او د هغوی مستقل مزاجي تامین کړي. په لږ وخت کې په فعالیتونو کې تېزوالی راغی او نورو قوتونو هم میدان ته راودانګل. د خلکو ډیرو طبقو اوس هم په دې بغاوت کې د ګډون پریکړه نه وه کړې مثلاً هغه مزدوران چې په اشغال شویو سیمو (۴۸) کې یې کار کاوه، د دوی ګټې، زامنو ته روزي پیدا کول او د امن او سکون ژوند په دې خبره پورې تړلی و چې دوی خپل کارونه روان وساتي، دې طبقې ته هم د نورو طبقو په شان له بغاوت سره هماهنګه کیدل ضروري و ځکه د دوی له یهودي مالکانو سره وعدې او مسؤلیتونه وو.

د انتقاضې د فعالیتونو په زیاتیدو سره او د دې پرله پسې پریشانیو له امله د اسرائیلو د دفاع وزیر اسحاق رابین «د هډوکو ماتولو» پالیسي اعلان کړه، د دې پالیسي له مخې چې کله د خلکو له ټولي څخه یو څوک په ګزمه باندې د کاڼي برید وکړي نو ټول ټولي ته به سخته سزا ورکول کیږي تر څو دا ټولی پوه شي چې په خپل مابین کې داسې شخص له دې حرکت نه منع کړي. په خپله د مزدورانو له ټولي څخه یوه تن د ګزمې په یو موټر د کاڼي برید وکړ چې له امله یې فوځیان ودریدل او په دې ټولي یې برید وکړ او هغوی یې په لغتو او سوکانو ووهل. ناڅاپه د مزدوارنو ټولي شور جوړ کړ او ټولو په ګډه یو شان حرکت وکړ. دوی کاڼو ته ټیټ شول او په فوځیانو یې د کاڼو برید وکړ او په همدې توګه هغه طبقه چې متذبذبه وه هغوی هم په انتقاضه کې شامل شول او خپلو ماشومانو ته د روزي پیدا کولو تر څنګ یې په دې ملي مبارزه کې ګډون وکړ.

يوويشتم څپرکی

په کور کې د زيات ازدحام له امله زموږ کورنی د دوهم منزل د جوړولو پريکړه وکړه، دا مسؤليت اکثره د ابراهيم او علي وو او ما فقط له حسن سره مرسته کوله او محمود به هدايات ورکول، د انجينرانو څارنه به يې کوله او موږ ته به يې ضروري سامان الات راوړل. موږ په کرار کرار د کار کولو پريکړه وکړه تر څو د کور ژوند خراب نشي ځکه له موږ سره د اوسيدو لپاره بل ځای موجود نه و. محمود د کيندلو ځايونه وټاکل او موږ له ديوالونو سره نږدې او د هغو د بنيادونو لاندې تقريباً د څلور مترو په اندازه يو ځای ژور کړ، موږ به چې کله يو ځای وکينده نو ابراهيم به د اوسپنو د سيخونو يوه پنجره تياره کړې وه، کله به چې کنده مکمل شوه نو هغه به دا پنجره پکې کېښوده او موږ به له مخکې نه سيمنټ اماده کړي وو چې موږ به په دې کنده کې اچول. په همدې توګه به په کنده کې د شګې په ځای سيمنټ اچول کېدل او د دوهم منزل له بنيادونو څخه به يو جوړ شو. راتلونکې ورځ ابراهيم د سيمنټو د ستنو د ديوالونو لپاره د اوسپنې سيخونه اماده کړل او ورسره يې د لرګي چوکاټ (د ديوال د مضبوطولو لپاره) هم اماده کړ او هغه به يې له ديوال بهر په ديوال باندې تکيه کړی و. بيا به موږ سيمنټ پکې واچول چې د څلورو مترو لوړوالي په اندازه وو، راتلونکې ورځ موږ لرګي راوباسل او په دوهمه کنده کيندلو او بيا مو په ستنو پيل وکړ او په همدې توګه موږ ټولې څلورويشت ستنې تکميل کړې.

بيا محمود له خپلو قراردادي ملګرو څخه په زيات شمېر کې لرګي او مرسته کوونکي پايپونه په قرض راوړل تر څو د نيم کور چت جوړ شي. ابراهيم د پخواني چت د ليرې کولو نه وروسته د نيم چت لپاره د لرګيو چوکاټ تيار کړ، بيا يې د حسن په مرسته د چت لپاره د اوسپنې سيخونه اماده کړل او محمود به يې څارنه کوله او زه د دوی دواړو ماتحت مزدور وم. محمود له يوه قراردادي نه

د ګډولو اله (ميکسر) په قرض راوړله او بيا يې سيمنټ، شګه او باجري راوړل او زموږ ملګري او ګاونډيان د مرستې لپاره راغلل.

د يوې جمعې د ماسپښين له اذان نه وړاندې موږ کار تکميل کړ او د لمانځه د تياري لپاره لاړو او په دې مو اتفاق وکړ چې ټول به د دوډۍ خوړلو لپاره بيرته راځو. د کورنۍ خلک تر دوو اونيو پورې په لوېديځه برخه کې په غير معمولي حالت کې اوسېدل تر دې پورې چې په ختيځه برخه کې سيمنټ وچ شول او موږ لرګي ترې وويستل. بيا ابراهيم پخواني ديوالونه تر چت پورې مکمل کړل او چت يې پلستر کړ. کله به هم چې کومه خونه اماده شوه نو مالک به يې ورته راستون شو تر دې پورې چې ټوله کورنۍ ختيځې برخې ته منتقل شوه او موږ د لوېديځې برخې د کار په تکميل پيل وکړ. د دريو اونيو په اوږدو کې دا کار مکمل شو او ځينې کارونه يې پاتې شول چې د فرش پورته کولو مربوط وو. دا کار هغه وخت پيل شو چې کله په دوهم منزل باندې د ستنو پورته کولو او په بيروني ديوالونو باندې د تعمير کارونه پيل شول، دا معلومه وه چې موږ بايد د دوهم منزل د کړکيو سطحه لوړه وساتو تر څو د همسايه ګانو په کورونو مو نظر ونه لګيږي.

د انتقاضې فعاليتونه په تېزۍ سره روان وو او په جوش او خروش کې يې اضافه روانه وه، موږ د کور په کارونو کې له مصروفتيا سره سره په دې فعاليتونو کې ونډه اخيستله. ما به وخت په وخت په فوځي نښتو او مقاومتونو کې برخه اخيستله. محمود او ابراهيم دواړو په خپلو غورځنګونو کې د رهبرۍ په سطحه رول لوباوه په ځانګړې توګه په اداري کارونو، هداياتو، طرزالعملونو او د ستونزو په حل کې. داسې محسوسيده چې اسرائيلي مشرانو فکر کړی وي چې فقط ظلم او وحشت د انتقاضه په بندولو کې کفايت نکوي چې اوس په يو مستقل او نه درېدونکی تمايل بدل شوی دی. نو هغوی په نقب کې د يو لوی زندان د جوړولو پريکړه وکړه چې په زرګونو بنديان پکې ساتل کيدای شي او هغه يې مستقيماً د فوځ

اداري ته وسپارلو. فوځ د نقب پراخه سیمه په اغزن تارونو او د پیرې په برجونو ایساره کړله او په لوی شمبر کې یې د هغه چا د نیولو لړۍ پیل کړه چې د بغاوت روحیه ژوندۍ کوي . د هغه په روان ساتلو کې رول لوبوي او یا شکمن کارمند وي. د نیول کیدونکو کسانو په لومړۍ جوپه کې زما ورور محمود او زما د تره زوی ابراهیم هم شامل ول، په لوی شمبر کې فوځ د شپې زموږ په کور چاپه واچوله او هغوی یې زموږ د مور، د هغوی د میرمنو او ماشومانو په شور او چیغو کې له کوره وباسل او هغوی یې بغیر له کومې قضیې او د سیمې د مسؤل له فیصلې شړ میاشتې اداري زندان ته واچول.

د بندیانو لومړۍ جوپه یې د نقب زندان ته ورسوله چې تراوسه پورې فقط د یوې پراخې ځمکې ټکړه وه چې په اغزن تارونو سره یې رانیولې وه او د پیرې په ټاوررونو سره یې ساتلې وه. بندیان یې په ډیره بې عزتي، وهلو ټکولو، د لاسونو په سر د نیولو، په سرونو ښکته کولو او کنځلو سره په ځمکه کینول، بیا ځینو ګروپونو ته د پورته کیدلو او د لویو فوځي خیمو د نصب کولو امر وشو. هر شخص ته څلور کمبلې ورکړل شوې او په خیمو وویشل شوې، په هره خیمه کې تقریباً شل بندیان وو، د شپې او ورځې به بغیر له وقفې په سلګونو کسان زندان ته راوړل کیدل او د هر نوي ګروپ هرکلی به په بې عزتي او تذلیل سره کیده.

سر شمیرنه به په ورځ کې څلور ځلې کیده، یو عسکر به په مایکروفون کې د سر شمیرنې اعلان وکړ او ټول به له خیمو راووتل او د بلاک مخې ته په پراخ میدان کې به د ورکړل شویو شمبرو سره سم کیناستل. د شمېرنې پیل به افسر د شمېرې په ویلو سره کاوه او بندي به خپل نوم ښودلو او یا به افسر د لومړۍ شمېرې واله ته د ځواب ورکولو ویل او بیا.به دوهم بندي خپله شمېره ښودله او په همدې توګه سلسله روانه وه او که په شمېرو کې به کوم خلل راغی نو له سره به یې پیل کوله ان تر دې چې کله به تر یو ساعت، دوو ساعتونو یا درېو ساعتونو پورې هم وغځیده او ټول به په ځمکه ناست ول . ټوپکې به د اغزن تار نه شاته دوی ته په

ننبه شوې وې ، پیره دارانو به له تارونو څخه دوی ته د ماشیندارو خولې اړولې وې او د ټولو شاوخوا به په درجنو عسکر کوتک په لاس ولاړ وو. د پنځو یا اووه کسانو خوراک به یوه تن ته هم کفایت نه کاوه او جامې به خیرنې او کمې وې او اکثره به جامې لویې وې نو بندیانو به د خپلې ملا سره زیاته شوې جامه وتړله. اوبه ډیرې کمې ترلاسه کیدلې، غسل به په اونۍ کې یو ځل و او په پنځو دقیقو کې بې کول لازمي وو. بیت الخلاء د لرګیو د وړو ووړو تختو یو کتار وو چې د بوې اوړدې کندې له پاسه نصب شوی و ځکه هلته د ابو هیڅ ترتیب موجود نه و، نه د کورنۍ سره ملاقات کیده، نه پیغام لیږل کیده او نه به د سره صلیب استازي‌ي راتلل چې عملي مرسته وکړي بغیر له دې چې د انسانیت خلاف راپورونه به یې لیکل او لوړپوړو چارواکو ته به یې استول.

بندیانو په څو اونیو کې د خپلو صفونو د منظم کول هڅې پیل کړې تر څو د خپل ژوند حالت ښه کړي او د زندان په ظالم مشر خپل احترام ومني. ناڅاپه د تنظیم د استازولۍ مسئله راپورته کیږي ځکه د فلسطین د ازادۍ په تنظیم کې موجود غورځنګونه فتح، الجبهة الشیعیة او دیموکراتیکه جبهه او داسې نورو په دې خبره اتفاق کړی وو چې اسلامي تنظیمونه یعنی حماس او د جهاد موجودیت به نه منل کیږي او کوم کسان چې زندان ته راوړل کیږي هغوی به د فلسطین د ازدۍ غورځنګ د یوه ګوند لاندې ژوند تیروي او ازادانه ژوند به نشي کولی. د فلسطین د ازادۍ د غورځنګ د غړو شمېر زیات وو او دا څرګنده وه چې دا معامله د زور له لارې عملي کیږي او که څوک انکار کوي هغه به له زور او سختي سره مخ کیږي. اسلامپال بندیان د خپل کم شمېر له امله په مؤقتي توګه مجبور وو چې دا حقیقت ومني او په خاموشي سره وخت تېر کړي او ابراهیم هم د دې لوظنامې لاندې ژوند تیرولو ته مجبور شو. هغه به د محمود په طرف په ناخوښۍ سره کتل، محمود به په خندا د لاس په پورته کولو سره اشاره وکړه ګویا که هغه وايي: څه څه باید وشي؟ ته بله لاره نلرې او ته باید دا حقیقت ومنې او

زما د مستقيمې رهبرۍ لاندې بايد ژوند وکړې. ابراهيم به سر وخوځاوه ګوياکه
هغه وايي: صبر صبر! د هر کار خپل وخت وي.
د زندان له اداري سره به هر وخت سختې نښتې کيدلې ځکه د زندان په سختو
حالاتو باندې هيڅوک چپ نشو پاتې کيدلی او سمدستي د يو عکس العمل
اړتيا وه خو د تظاهراتو يا اعتراض هر شکل به سمدستي په سخت جبر او ډله يزو
سزاګانو سره ځوابيده، بنديان به يې تر ساعتونو پورې په ځمکه کينولي وو، بيا به
د زندان قوماندان په نظامي يونيفورم کې راغی، خپل لاس به يې په ملا ايښی و او
په ماته ګوډه عربي کې به يې اخطارونه ورکول او بنديان به يې ويرول.
محمد په رام الله کې اوسيده، په ما او حسن باندې د ټولې کورنۍ بوج پورته کول
لازم شول په ځانګړې توګه زما د مور، د محمود د ميرمنې او د هغه د ماشومانو او
زما د خور مريم چې د ابراهيم کور ودانه وه. د کور تعميراتي کارونه په ټپه
ودريدل او د کور چاپيريال د مور، د محمود د ميرمنې او د مريم د زړا له امله
خفه خفه و، کله به هم چې ډوډۍ تياره شوه نو مور به مې په زړا شوه او ورسره
به نورو زنانه وو هم په زړا پيل وکړ. ماشومانو به هم ژړل، ما او حسن به د حالاتو
د کنټرول کولو او د هغوی د خوشحاله کولو هڅه کوله، د صبر توصيه به مو ورته
کوله چې دا وخت به ژر تېر شي. کله به هم چې ماشومانو څه شی غوښتل نو له
مور نه به يې پوښتنه کوله چې «پلار مو کله راځي» نو مور به مې په زړا شوه او بيا
به ما او حسن د هغې د خوشحالولو هڅه کوله.
يوه ورځ ناڅاپه حسن هم ونيول شو او زه له يو داسې بشري تباهي سره مخ شوم
چې د زغم صلاحيت يې له ما سره نه ؤ. د حسن ميرمن او د هغه ماشومان هم د
افسوس ښکار شول او زه مجبور شوم چې دوی ته ډاډګيرنه ورکړم. کله کله به زه
بريالی شوم او کله ناکله به مې اعصاب له کنټروله ووتل او په چيغو به مې ورته
وويل چې دا ژړا او فرياد بې ځايه دی او ايا شپږ مياشتې زندان هم څه سخت
دی؟ شايد په دوی باندې زما چيغې ډيرې مؤثرې وې ځکه په دې سره به ژړا او

فریاد بند شو او یا به خپلو خونو ته ولاړل او هلته به یې ژړل. څو دوه میاشتې وروسته په کور کې د ډله یزې ژړا حالت کم شو او داسې ښکاریده چې دوی له حالاتو سره مطابقت پیدا کړی دی.

کله چې حسن نقب ته ورسیده نو له هغه سره د غزې او لویدیځې غاړې په سلګونو کسان هم زندان ته یوړل شول چې هغوی د بیلابیلو قوتونو او تمایلاتو فعال کارمندان ول. او دا هم واضحه شوې وه چې د اسلامپالو په شمېر کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی دی او هغوی د یادونې وړ قوت ګرځیدلي دي. څو ورځې وروسته له هغوی څخه یو څو تنه چې مشري یې ابراهیم او حسن کوله؛ راټول شول او پریکړه وشوه چې د دوی موجودیت باید تسلیم شي او له دوی سره د افرادو په توګه چلند وشي. هغوی محمود او د نورو قوتونو مشرانو ته ورغلل او هغوی ته یې وویل چې دوی باید د یو ازاد قوت په توګه وپیژندل شي او دوی ته خیمې ورکړل شي تر څو دوی هم د نورو تنظیمونو په څېر و اوسیږي او خپل ژوند تېر کړي.

ځواب د انکار او د زور د استعمال د اخطار سره ؤ او معلومه شوه چې معاملات د ښښتې په طرف ځي ، دغو ځوانانو د خپلې خوښې شیان په ځمکه نانڅول مثلاً په دوی کې له یوه امام سره ډله یز لمونځ کول، د یوه خطیب خطبه ویل او ټولنیزې ناستې دایرول. کله چې د نویو بندیانو شمېر زیات شو چې په هغوی کې ځینې ځوانان هم موجود ول چې هغوی د حقیقت له منلو انکار کاوه نو لفظي شخړې پیل شوې چې بیا تر سوک څپیړې او لاس اچولو پورې ورسیدې او بالاخره کانو او د خیمو په پایپونو وهلو ته خبره ورسیده. ډیر بندیان ټپیان شول او اشغالګر فوځ به یې ننداره کوله او مداخله به یې نه کوله تر دې پورې چې ښښته پای ته ورسیده او بیا دوی د ټپیانو د پورته کولو او درملنې ته د وړلو لپاره راغلل او مطبوعاتو ته یې په دې شکل خبره ورسوله چې فلسطیني بندیان په خپلو کې جګړې کوي او جلاد د هغوی درملنه کوي او د هغوی ټپونه ګنډي.

ستونزه حل نشوه او هر جانب په خپل دریځ ولاړ و، په داخلي سطحه د فلسطین د ازادی غورځنګ او اسلامپالو په مابین کې او بل طرفته په مجموي توګه د بندیانو او زندان اداري په مابین کې شخړې رامنځته شوې چې هغوی به له بندیانو سره ناوړه چلند کاوه. د دواړو خواوو پوهانو غږونه پورته کړل چې دا حالت د زغملو وړ نه دی او دوام یې تاواني دی او پکار ده چې داسې حل لاره ورته ولټول شي چې تاوتریخوالی پای ته ورسوي. ناسته دایره شوه، مذاکرات وشول او د اسلامپالو غوښتنې ومنل شوې او هغوی د یو ازاد قوت په توګه وپیژندل شول چې هغوی ته د نورو قوتونو په شان حق حاصل دی او هغوی نه جلا خیمې ورکړل شوې.

له زندانه بهر لاریونونه او تظاهرات روان وو او په ځو میاشتو کې د فلسطین ټولو اشغال شویو سیمو ته وغځیدل، داسې کمپ، کوڅه او کلی پاتې نشول چې هلته به لاریونونه نه کیدل او هرې طبقې د خپلو وړتیاوو او حالاتو سره سم فعالیت کاوه. د لویو لاریونونو پر ځای به په په کوڅو، محلو او کلیو کې محدود شمېر خلکو ټایرونه سوځول. موانع به یې کیښودل او له هرې ګزمې سره که موټر به و او که پیاده به وو؛ په هر څلور لاري کې نښتې رامنځته کیدلې.

د اوښکو بهوونکو بمونو غورځول. مخامخ په خلکو ډزې کول، د ربړي او پلاستیکي مرمیو استعمال، د خلکو نیول او د هډوکو د ماتولو لړۍ د اشغالګر فوځ لخوا دوام وکړ او ورسره د لاریون کوونکو فعالیتونه هم روان وو. په لاریون کوونکو کې د ځوانو هلکانو او انجونو اضافه هم روانه وه. په هره کوڅه کې به چې هلکان سره راټول شول او د خبرو کولو فرصت به پیدا شو نو هر یوه به بل ته خپل سر ورښوده چې د کوټکو او لښتو وهلو زخمونه او داغونه به پکې جوړ شوي وو. دوی به د خبرو د بدلولو هڅه کوله او یا به یې د ګزمې د موټر په راتلو سره هلته ورمنډه کړه تر څو بیا د خپلو همزولو په څېر د زړورتیا او نارینتوب مډال ترلاسه کړي.

د اشغالګر فوځ لپاره د فعالو کارمندانو او د پښتو د هڅوونکو پېژندل ډېر ضروري ؤ، له همدې امله به دوی خپل جاسوسان داسې استعمالول چې د لاريونونو او ننښتو سره نږدې پاتې شي او د جوماتونو له دروازو سره نږدې ودرېږي، په دوی کې ځينې د خپل بد کردار له امله پخوا مشهور شوي وو او خلکو شک پرې کاوه، ځينو خلکو خو په دومره ښکاره او واضح انداز سره کار کاوه چې ځوانانو به هغه وليده نو وروسته به شول او بيا به يې مخونه پټ کړل او ميدان ته به راغلل تر څو يې هغه ونه پېژني او د هغه نوم استخباراتو ته ورنکړي چې وروسته يې بيا هغوی ونيسي.

يو ځل چې د يو شهيد جنازه پورته شوه او جومات ته يوړل شوه تر څو د هغه د تدفين مراسم ادا شي نو د کمپ نارينه، ښځينه او ماشومان په ډېر شمېر کې راټول شول، په دې وخت کې يو شکمن کس راغی او د سړک په بل طرف ودريد چې له امله يې په خلکو کې اضطراب پيدا شو او کارمندان وروسته شول او د نقابونو له اچولو وروسته بيا راغلل. د خلکو ازدحام زيات شو او په دې وخت کې يو مخ پټي ځوان چيغه کړه: موږ د دې خاينانو لپاره ولې غلي يو چې موږ ګوريني او بيا زموږ معلومات استخباراتي ادارو ته استوي؟ بيا فوځ راځي او موږ نيسي او موږ په نقابونو اچولو مجبوروي، هغه بايد وويرول شي او په چيغه وکولو سره يې په شکمن شخص باندې د حملې حکم وکړ نو خلکو بغير له ځنډه په شکمن شخص حمله وکړه او د هغه په وهلو ټکولو يې پيل وکړ، يوه هوښيار شخص د بيلتون په کولو سره وويل: ايا تاسو هغه وژنئ؟ نور بس کړئ، او هغه يې په راښکلو راښکلو په داسې حال کې له صحنې وويست چې ټول بدن يې پړسيدلی ؤ.

د شکمنو کسانو د وهلو او هغوی ته د سزا ورکولو ميلان بيخي زيات شو ځکه ډيرو داسې کسانو به د لاريون کوونکو او مخ پټو کسانو په ډير احمقانه او څرګند ډول سره څارنه کوله. او اکثره به داسې کيدل چې يو شکمن شخص به د

مخ پټو کسانو یو ګروپ تعقیباوه تر څو چې کله هغوی نقابونه وغورځوي نو هغه به یې وپیژني، له همدې امله به لاریون کوونکو یا مخ پټو کسانو هغه سم وواهه او ډیری وختونه به یې هغه مرګ ته نږدې کړ.
په دوی کې یوه مشهور جاسوس په دارالشفاء روغتون کې د څارونکي په توګه فعالیت کاوه، روغتون دولتي ؤ یعنی د روغتیا ادارې ما تحت ؤ. اسرائیلو هغه کوله چې خپل جاسوسان په داسې حساسو ځایونو کې وګماري. د دې سړي سیرت ډیر بدنام او مشهور ؤ او جاسوسي کول یې هر چا ته معلوم ؤ ځکه هغه څو ځله په تلیفون باندې فوځیان د ځینې ټپیانو د نیول کیدو لپاره راغوښتي ول (دا ټول له انتقاضې نه مخکې شوي وو)
بیا هغوی ځینې قطعات رامخې ته کړل چې د عامو فلسطینیانو په جامه کې به ګرځیدل، کله به پیاده او کله به په ځایي لیسنس لرونکو موټرو کې ګرځیدل. یا به یې په سړکونو له خلکو څخه موټر اخیستل. دې خلکو به وسلې پټې ګرځولې او کله به چې کوم لاریون یا نقاب پوش ته ورنږدې شول نو وسله به یې راوباسله او هغه به یې ونیوه او که څوک به د هغه مرستې ته راتلل نو په هغوی به یې ډزې کولې. د فوځیانو لوی کومک به له دوی سره نږدې مثلاً په بل سړک اوسیده او ژر به دوی ته مرسته رسیدله تر څو دوی د خلکو له هجوم او کاڼو له باران نه وساتي، د دې خاص قطعې افراد به کله کله لاریون کوونکو یا مخ پټو کسانو ته نږدې ورتلل او هغوی به یې ټپیان کول یا وژل او ډزې به یې پرې کولې.
فوځیانو د خلکو په نیولو، ټپي کولو، وژلو او لوټ کولو سره خپل اهداف ترلاسه کړل او په خلکو کې یې د مخ پټو کسانو په اړه د ویرې لړی پیدا کړه خو یو څه وخت وروسته خلک ورسره عادت شول او د هغوی د پیژندلو نوې طریقې یې معلومې کړې. څو ځلې به د دې قطعې افراد د خلکو په هجوم یا د مخ پټو ځوانانو په لوی شمېر کې ایسار شول او هغوی ته به یې داسې سبق ورکړ لکه دوی به چې عامو خلکو ته ورکاوه. کله کله به یو څه ستونزې هم راغلې چې کله

په خلکو د انتقاضي په څېنې مخ پټو کسانو شک وکړ او په هغوی به يې د حملې هڅه وکړه نو هغوی به مجبور شول چې خپله هويت ښکاره کړي تر څو سزا ورنکړل شي.

په خلکو کې دا خبرونه هم خپاره شول چې څېنې جاسوسان له هغو فوځيانو سره بو خای ګرځي چې په ځوانانو حملې کوي څکه ډېر څله لاريون کوونکو په فوځ د حملې په وخت د څېنې خلکو نقابونه وغورځول او هغوی يې وپېژندل نو له دې امله په خلکو کې د جاسوسانو په خلاف کرکه او نفرت زيات شو او که کوم يو به يې ونيوه نو هغه ته به يې د مخکې نيول شويو خلکو نه زياته سزا ورکوله.

په نقب زندان کې د بنديانو شمېر زرګونو ته ورسيده او زندان په مختلفو برخو وويشل شو چې په ځانګړو کوډونو (شمېرو) سره به پېژندل کېده. د ادارې پاليسي په ظلم او وحشت بناء وه او په هره معامله کې به د زور زياتي او وهلو ټکولو نه کار اخيستل کېده، مربوطه شعبه به يې له اوښکې بهونکي ګاز نه ډکه کړله او يا به د زندان قوماندان راغی او اخطارونه به يې ورکول. يوه ورځ د بنديانو د شمېرنې په مهال د کيناستلو وخت زيات شو، کله چې شمېرنه پيل شوه نو افسران يکې څو ځله غلط شول او هر ځل به چې دوی غلط شول نو له سره به يې شمېرنه پيل کړه تر دې پورې چې ناست بنديان ستړي شول. افسر پوښتنه وکړه: دا خبرې چا وکړې؟ هيڅ ځواب ورنکړل شول، له دې امله شاوخوا حالات خراب شول او په لوی شمېر کې فوځ راغی، د زندان قوماندان راغی، اخطارونه يې ورکړل، سپکاوی يې وکړ او خلکو ته يې د ډار او بزدلي پيغور ورکړ او ورته يې وويل چې په تاسو کې هيڅ نارينه نشته، او بيا يې پوښتنه وکړه چې خبرې چا وکړې؟ يو ځوان پورته شو او ورته يې وويل: ما خبرې وکړې او ته بايد پوه شې چې موږ ټول نارينه يو او ستا ډارن فوځيانو له وسلو سره لړزيږي، قوماندان خپله وسله پورته کړه او هغه يې د سترګو په مابين کې په تندي وويشت او شهيد شو.

د مرمی غبرګ او د «اسعد» غورځېدل په زندان کې د بغاوت د پیل کېدو نښه وه. په زندان کې موجود بندیان خواره شول او څه چې لاس ته ورتلل هغه یې د زندان په ساتونکو ور شړل او هغوی ډزې پیل کړې. په ټاورونو کې موجودو عسکرو هم د خپلو ماشیندارو خولې په بندیانو را واړولې او ډزې یې پیل کړې. زندان له اوښکې بهونکي ګاز نه ډک شو او بندیانو د خیمو ویستل پیل کړل او د زندان نه په چاپیر شوي اغزن تار یې حمله وکړه. د هغه د خوځولو او له بیخه د وباسلو هڅه یې وکړه. څرګنده شوه چې حالات له کنټروله وتلي دي نو له دې امله له نږدې فوځي کمپ نه په لوی شمېر کې فوځي قطعات راوغوښتل شول چې هغوی په ټانګونو سره زندان محاصره کړ او له دې ویرې څخه یې درنې وسلې نصب کړې چې بندیان د اغزن تار په وباسلو سره له زندانه تېښته ونکړي. دا معلومه شوه چې زور زیاتی د ستونزې حل نه دی، دلته د فوځ لویو مشرانو د بندیانو له مشرانو سره د مذاکراتو هڅه پیل کړه تر څو حالات نورمال شي. مذاکرات پیل شول خو تاوتریخوالی روان ؤ تر دې پورې چې د قوماندان په معزول کولو او له بندیانو سره د چلند په سمولو اتفاق وشو، د شمېرنې طریقه په احترام سره، د ډوډۍ کیفیت په ښه کولو. له دوکانه د سامان په اخیستلو. له تالاشیو څخه د افسرانو په ساتلو. په زندان کې د ازادانه تګ راتګ او د غونډو په جوړولو اتفاق وشو. په دې سره حالات نرم او محکم شول. د څو ورځو په تیریدو سره په زندان کې حالات په تدریجي توګه بهتر شول، زندان په یوه اکاډمي بدل شو چې هلته د انتقاضې د کلتور او فنونو تعلیم ورکول کیده، په یوه خیمه کې به د فلسطین د مسئلې تاریخ لوستل کیده، په بله خیمه کې به امنیتي علوم او د تحقیق طریقې زده کیدلې. په بله خیمه کې به د جهاد او شهادت د فقهې تعلیم ورکول کیده... یو ځای به د بې سوادۍ د ختمولو کورس او بل ځای به د عربي د خوش خطي د اصولو کورس شروع ؤ. یو ځوان به زندان ته بې

سواده راغی او له یو کال قید وروسته به په لیکلو او لوستلو پوه شوی له زندانه بهر شو او د مختلفو شعبو تربیت به یې ترلاسه کړی ؤ.
د ملګرو یو ګروپ به په جومات کې راټول شو او له خلاصون وروسته عمل لپاره به یې عهد وکړ او د انتقاضې د دوامداره ساتلو او هغې ته د پرمختګ ورکولو وعدې به یې کولې. لکه څنګه چې په زندان کې د بیلابیلو ملي او اسلامي قوتونو د کارمندانو لویه غونډه جوړه شوې وه نو له دې امله اشغالګرو استخباراتو په دې غونډه باندې توجه زیاته کړه او په لسګونو جاسوسان یې دې غونډې ته داخل کړل چې هغوی به یې په یوه بهانه ونیول او زندان ته به یې راوړل او هغوی ته به یې ویل چې د کارمندانو په هکله معلومات راټول کړئ. د هغوی ارادې، خبرې او فعالیتونه معلوم کړئ او هغوی ته ځانونه نږدې کړئ تر څو چې کله هغوی له زندانه بهر شي نو تاسو به هم په فعالیتونو کې ورسره شامل شئ څو جاسوسان به ډیر ژر معلوم شول او د هغوی دسیسې به یې شنډې کړې.
په دوی کې ډیر شخصیتونه د مختلفو قوتونو کارمندانو پیژندل څو ځینې یې مشهور نه وو. د تجربې کولو لپاره بندیانو پریکړه وکړه چې په زندان کې به دوی یو امنیتي فعالیت په کار اچوي چې له مخې به یې دوی څارنه کوي، مواد به تیاروي او تحقیق به کوي، حالات تر دې ځایه ورسیدل چې له ځینو شکمنو او جاسوسانو څخه تحقیقات وشول او په ډیرو ځایونو کې د فزیکي فشار او سزا بې دریغه استعمال وشو چې په پایله کې یې په غیر قصدي توګه ځینې کسان مړه هم شول او یا ځینې تفتیشي افرادو ته بدني تاوان ورسیده څو له دې منفي اړخونو سره سره دې عمل انتقاضې ته د تاوان رسولو پټ پلانونه او د استخباراتو پروګرامونه رسوا کړل او کله کله به د ځینې کارمندانو د بدني صفایي پلانونه هم معلوم شول.
تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د نقب زندان چې په زرګونو بندیان پکې ول؛ په یوه رینښتوني اکاډمي بدل شو. دلته به خوانان راوړل شول او هغوی به زده کړې

او تجربې ترلاسه کړې، د جاسوسانو د تعقيبولو دا لړۍ عامو سړکونو ته هم وغځيده اوهلته مختلفو ګروپونو د مشهورو جاسوسانو تعقيب پيل کړ، هغوی به يې ونيول او يا به يې اختطاف کړل او بيا به يې باغونو يا ليرې پرتو سيمو ته وړل او هلته به يې تحقيقات ترې کول. کله کله به يې تعذيب کړل او ځينې وختونه به يې له حده زياته سزا ورکړله. بعضې ګروپونو دا جاسوسان وژل او بيا به يې د هغوی جسدونه په کثافات دانيو او يا عامه ځايونو کې غورځول تر څو په خلکو کې خوف او رعب پيدا شي. کله کله به يې دا جاسوسان عامه ځايونو ته راوړل چې هلته به زيات خلک راټول وو، هغوی به يې د برق له پايو سره وتړل او بيا به يې وهل، يا به يې لاس او پښه ترې غوڅول او يا به يې په ډزو سره وژل.
دا لړۍ تېزه شوه او د ځينې ګروپونو په مابين کې د مقابلې ميدان وګرځيده چې له امله يې د زور زياتي ځينې ناوړه پېښې رامنځته شوې، يقيناً په ځينو حالاتو کې له حده تيرى او بې انصافي وشوه خو دا حقيقت څرګند شو چې د اشغالګر فوځ سره د مرستې او همکارى لړۍ کمزورې شوه او په واضحه توګه کمه شوه. داسې د ويرې حالات پيدا شول چې ډيرى جاسوسان ورک شول، د اشغالګرو فوځيانو خوا ته وتښتيدل او يا يې هيواد پرېښود. په جاسوسانو د فشار د زياتيدو او هغوی له خپلې کورنۍ سره د تښتيدو له امله د اشغالګر فوځ څارګرې ادارې په غزه کې د «الدهينية» په نوم او په لويديځه غاړه کې د «مخمه» په نوم يو مرکز جوړ کړ. په اکثرو حالاتو کې به چې کله دا جاسوسان وهل کيدل يا به قتل کيدل نو اشغالګرو به د دوى د ساتلو لپاره مداخله نه کوله ځکه د دوى په مداخلت کولو سره دوى مجبور وو چې د خلکو غونډو او ازدحام ته داخل شي چې هغه به د دوی لپاره ډير خطرناک ثابت شو ځکه په دوی باندې به کاڼي، اور لرونکي بوتلونه او لاسي بمونه غورځول کيدل چې هر وخت به له ځوانانو سره موجود ول او دا جاسوسان خو په اصل کې د دښمن د خدمت لپاره ګمارل شوي وو، نه د دې لپاره چې فوځيان د دوی وجې له خطر سره مخ شي.

کله کله به د لويو جاسوسانو د ساتلو لپاره چې دا به ډير کم پيښيدل؛ له يو هليکوپتر سره به يې فوځيان راښکته کړل تر څو هغه جاسوس له خپلې کورنۍ سره يو ځای له کوره وباسي مخکې له دې چې خلک پرې حمله وکړي خو دا ميلان کم شو او د جاسوسانو ويره او د هغوی په راپورونو کې کمی راغی، د دوی د څارنې او حرکاتو واضحې صحنې بالکل ختمې شوې. هره ورځ به يوې کورنۍ په کمپ کې د خپل ازاد شوي ځوان د راخلاصيدو خوښي لمانځله چې هغه به خپله سزا پوره کړې وه او له زندانه به راوتلی ؤ، بله کورنۍ به د شپې د خپل ځوان په نيولو ژړيدله، د نيول کيدو او خوشي کيدو ورځنی معمول جوړ شوی و. محمود او ابراهيم ازاد شول او مورږ يې په خلاصون خوښي وکړه، خپلوانو او ګاونډيانو مورږ ته مبارکي راکړه او هر يو خپل کار، زده کړو او د خپل غورځنګ فعاليتونو ته له ډير احتياط او بيدارۍ سره راستانه شول او مورږ د دوهم پوړ د تعمير مکمل کولو لپاره دوباره کار پيل کړ.

د ابراهيم د خوشي کيدو نه وروسته به «فائز» زمورږ کور ته زيات راتلو او له ابراهيم سره به اکثره وخت د هغه د سيورۍ په شان موجود ؤ، دا معلومه وه چې مورږ له هغه نه ښه استفاده وکړه، په هغه مو د ساختمان درانه کارونه کول، هغه به د خپل همت په ظاهرولو سره کار کاوه او مورږ به ارام کاوه. ابراهيم هغه ته يو څو خبرې وکړې چې « د لاريون کوونکو غورځنګونو د سخت دريځو فعاليتونو څخه لرې اوسه» تر څو دا خبره استخباراتي ادارې ته ورسوي او هغوی زما د بيا نيولو قصد ونکړي، او زمورږ لپاره دا سخته نه وه چې ابراهيم د فائز له سيورۍ نه په منطقي او معقول شکل ووزي په داسې حال کې چې ابراهيم د يو حساس او مهم هدف په لورې تګ کاوه او مورږ نه غوښتل چې فائز پرې خبر شي.

ما له ابراهيم سره څو ځلې د فائز په هکله خبرې وکړې او دا چې څنګه بايد د هغه د جاسوسي د تصديق نه وروسته له پامه وغورځول شي؟ هغه به هر وخت ماته ډاډ راکاوه چې هر کار په خپل وخت ښه کيږي او هغه نه غوښتل چې فائز

ته داسې تاوان ورسیږي چې د هغه تور استخبارات په موږ پورې کړي. ابراهیم په دې اړه ښه صلاحیت درلود چې هر شی له خپل وخت سره سم ښکاره کړي او خپل داخلي احساسات پټ وساتي تر دې پورې چې زما خور مریم چې دده میرمن وه شاذ او نادر به دده په غیر معمولي حرکاتو پوهیده چې کله به ابراهیم د لاریون په فعالیتونو کې مشغول کیده په داسې حال کې چې هغه د خپل غورځنګ د رهبري سطحې غړی ؤ او لوی مسؤلیت یې درلود. زما مور به دا هر څه بغیر له کومې نښې نښانې په زړه کې محسوسول، هغې به کله کله ابراهیم ته ویل: نور بس کړه خپل ځان، خپله میرمن او ستا راتلونکې ماشوم چې د مریم په ګیډه دی؛ مه ضایع کوه! هغه به وخندل، ټوکې به یې وکړې او ډاډ به یې ورکړ چې هغه به داسې څه نکوي چې د خفګان لامل شي او دا چې هغه د کمپ تر ټولو امن خوښوونکی ځوان دی او بیا به زندان ته نه ځي.

زما مور به غلې شوه ځکه هغې به د ابراهیم د دلائلو ځواب نشو ورکولی او د خپلو اندیښنو په هکله یې هیڅ ثبوت نه درلود او ابراهیم به د خبرې د بدلولو او د موضوع په بلې خوا د بیولو لوی مهارت درلود. څنګه به چې زما مور خبرې پیل کړې نو د مریم رنګ به ژېړ شو خو یوه شیبه وروسته به یې په مخ مسکا وه، په زوره زوره به یې خندل او ویره به یې کمه شوې وه.

زما مور د محمود له طرفه مطمئنه وه چې هغه به په سختو معاملاتو کې ځان نه ښکېل کوي ځکه هغه یو هوښیار او تجربه کار انسان ؤ. شاید هغه په ځینې کارونو کې برخه واخلي خو کاني په لاس کې نه اخلي او زما مور هغه ډېر ښه پیژانده نو ځکه یې د هغه په اړه دومره فکر نه کاوه. د حسن په اړه د هغې فکر له محمود نه زیات ؤ خو دومره هم نه ؤ چې د خپلې لور د خاوند ابراهیم څخه زیات وي او د علي په هکله خو یې بیخي اندیښنه نه وه ځکه هغه پوهیدله چې زما د انتقاضې په فعالیتونو کې ونډه ډیره محدوده ده په ځانګړې توګه چې زما له هیڅ فکرې او سیاسي خوځښت سره تړاو نشته او زما ورور محمد خو په طبیعت

کې ډېر خاموش او په خپل پوهنتون بشر زیت کې د ماسټري لپاره په اماده ګۍ مشغول ؤ.

د هغې د اندیښې علامې به د هر یوه کور ته د راستنیدو، د هغه بهر ته د تلو او د بیرته راتلو په وختونو کې د څارنې په وخت کې ښکاره کیدلې، په ځانګړې توګه کله به چې یو څوک ناوخته کور ته راغی. هغې به اکثره د محمود یا حسن او په ځانګړې توګه د ابراهیم د وطاق تالاشي اخیستله او د دریو واړو میرمنې به یې هم له ځان سره کولې، د درازونو او الماریو تالاشي به یې اخیستله، هغې به یوې میرمنې ته ویل چې هر کاغذ ولولي تر څو وګوري چې په دې کې خو به کوم ممنوع شی نه وي چې د چا له لاس څخه به لویدلی وي او که اشغالګر فوځ یا استخبارات د تالاشي لپاره راشي نو غم به جوړ شي. له ابراهیم سره به یې هیڅ شی هم نه پیدا کول ځکه هغه ډېر محتاط ؤ او هر شی به یې په ښه طریقه پاکولو خو له محمود سره به یې کله ناکله ځینې کاغذونه لکه د ګډې کمیټې مسوده پیدا کول.

کله به چې محمود کور ته راغی نو هغه به یې سم برابر کړ او په هغه به یوه فوځي محکمه دایره شوه. یو ځل ما ولیده چې هغه د ابراهیم د موټر مکمل او جامع تالاشي اخلي داسې لکه چې هغې کوم شی ترلاسه کړی وي او هغه وخت یې د ابراهیم په موټر چاپه ووهله کله چې هغه ډوډۍ خوړله، د هغه میرمن یې له وطاق نه وویستله او دروازه یې بنده کړه. کله کله به د ابرهیم غږ لوړ شو او هغه به د عامو خبرو په څېر خبرې کولې او کله به یې چې د هغه شي په اړه خبرې کولې چې دده په موټر کې به نیول شوی ؤ نو هغه به ارام غږیده او دا معلومه وه چې هغه د خپل عادت سره سم د تورکو د تخنیک نه استفاده کوي خو دا ځل به نه بریالی کیده ځکه دا ځل به زموږ مور د هغه لویه غلطي نیولې وه.

د ابراهیم تحقیق او محکمه به په بنده کوټه کې تر نیم ساعت یا زیات وخت پورې روانه وه او کله به چې د وطاق دروازه خلاصه شوه او هغه به بهر راووت نو

ما به د هغه د حالاتو د ليدلو هڅه کوله، هغه به داسې ښکاريده لکه لس تحقيق کوونکو چې په يو وخت حمله پرې کړې وي چې د غزې په مرکزي زندان کې به دا تر ټولو سخته مرحله وه. ما طنزيه مسکا وکړه او هغه په غصه کې خواب راکړ گويا که هغه وايي چې زه به ذ دې ټولو زور ستا د مور په ځای ستا له څرمنې وباسم.
ما به هڅه کوله چې له مور او مريم څخه معلومه کړم چې له ابراهيم نه بې څه شي ونيول خو مريم به په حقيقت کې نه پوهيده ځکه که هغه به پوه شوه نو له ما څخه يې نشوای پټولی خو ابراهيم او زما مور به په ډيرې رازدارې او چالاکې سره زما خواته راتلل او کله به هم چې ما ددې موضوع د راسپړلو هڅه کوله نو زه به يې سپکولم. څو کاله وروسته ماته معلومه شوه چې مريم د هغه د موټر د څوکۍ لاندې د ۹ ايم ايم تومانچې يو کارتوس موندلی ؤ چې له دې څخه دا معلوميده چې له هغه سره پټه وسله شته، دا خبره خطرناکه او لوی مصيبت ؤ خو له دې نه هم خطرناکه خبره دا وه چې هغه د دې کارتوس غورځيدل له پامه غورځولي ؤ او هلته يې بغير له راوياسلو پريښې ؤ.
ډير وخت تېر شو او د انتقاضې پيښې په دوامداره توگه رواني وې تر دې پورې چې په ټول هيواد کې خپرې شوې، او دا پيښې دومره مشهورې شوې چې د دې نوم «انتقاضه» په ژبو کې داخل شو او کله به هم چې د اسرائيلو راديو او تلويزيون خبرونه نشرول نو بيا بيا به يې د «انتقاضه» نوم ذکر کاوه او همدا حالت د خارجي رسنيو هم ؤ.
يو ځل ابراهيم له فائز سره زما په موجوديت کې ناست ؤ، ابراهيم هغه ته د قناعت ورکولو هڅه کوله چې زموږ کور ته تگ راتگ کم کړي او له ابراهيم سره اړيکې محدودې کړي ځکه هغه ويره څرگندوله چې کوم جاسوس د دوی په هکله استخباراتو ته خبر ورنکړي او هغوی ته شک پيدا نشي چې دوی دواړه څه خاص پروگرام لري چې له امله به يې دواړه ونيول شي. فائز د ابراهيم د

اندیښنو د رفع کولو هڅه کوله خو ابراهیم هغه په داسې خبرو سره قانع کړ چې په ریښتیا هم د هغه تګ راتګ کم شو خو په کامله توګه بند نشو.
یوه ورځ چې راتلونکې شپه د معراج او اسراء د یاد شپه وه، د حماس اعلامیې وار له مخه خلکو ته د دې شپې د لمانځلو او لاریونونو دعوت ورکړی و تر څو د مسجد اقصی د اسراء او د اسمان د معراج یاد راتازه شي. له سهار څخه ځوانانو موانع کیښودل، ټایرونه یې وسوځول او په هغو کې یې لړ لړ چاودیدونکې توکې واچول تر څو د چاودنو غږونه پیدا کړي او اعتصاب جدي شکل غوره کړي او اشغالګر فوځیان وهڅوي تر څو هغوی راشي او د چاودنو لټون وکړي او په نتیجه کې یې نښته رامنځته شي. په څینو کوڅو کې څینې مخ پټي ځوانان په دې کار کې بریالي شول، کله چې فوځیان راغلل نو خلکو په هغوی د کانو او اور لرونکو بوتلونو ګزارونه پیل کړل چې له امله یې فوځیانو ډزې پیل کړې او خلکو لاسي بمونه استعمال کړل چې په دې سره د فوځیانو په مابین کې ډیره ګډوډي رامنځته شوه، فوځیانو په لاریون کوونکو ډزې پیل کړې چې هغوی د ټایرونو او دیوالونو شاته په پټیدلو کې ډیر ماهر وو. په دې ورځ ډیر خلک ټپیان شول او د «فائز» په نوم ځوان ووژل شو. په هغه وخت له هغه سره «ابراهیم» هم موجود ؤ. فائز په مرمۍ ولګید او ځای پر ځای مړ شو. څینې ځوانان د هغه خواته راغلل او کله یې چې ولیده چې هغه مړ شوی دی نو یوه وویل چې هغه شهید شوی دی. ابراهیم هغوی ته وویل چې د هغه جسد لیرې یوسئ تر څو روغتون ته منتقل نشي څکه هغه ته معلومه وه چې اشغالګر فوځ طبي معائنې کتلی شي. په کمپ کې شور جوړ شو او خلک په غصه بهر راووتل. فائز دفن کړلی شو او خلکو هغه په شعارونو سره رخصت کړ. ما ته په دې خبره کې هیڅ شک نه ؤ چې هغه د اشغالګرو په مرمۍ لګیدلی دی خو ما جرائت نشو کولی چې په دې اړه له ابراهیم سره خبرې وکړم چې هغه په یقیني توګه ماته په دې هکله د خبرو اجازه نه راکوله خو سترګو هغه څه ویل چې ژبې نشوای ویلای.

فوځي چارواکو د فلسطين پوهنتون د ټولو احکام صادر کړل تر څو د محصلينو لوی شمېر راټوليدل بند شي ځکه دا راټوليدل د نښتو او بغاوت سبب کيدلی شوای، دا معلومه شوه چې حالات به تر ډيره وخته پورې همداسې وي خو بيا هم علمي سفر ته دوام ورکول اړين ؤ، يو معقول حل ولټول شو او دا پريکړه وشوه چې ټولګي به جوماتونو او ملکي ادارو ته منتقل کيږي مثلاً اسلامي پوهنتون يو دفتر مقرر کړ او له هغه نه به اعلان کيده چې د کوم مضمون ټولګی به په کوم جومات کې وي لکه په مسجد عباس او مسجد فلسطين کې، وخت او ورځې به ټاکل کيدلې، محصلين به په جوماتونو کې وو او هلته به پروفيسر ورتلو. دا علمي سفر له ستونزو سره مل ؤ خو ټولو خلکو له نويو حالاتو سره مطابقت پيدا کړ.

زه او ابراهيم به هم ټولګيو او ازموينو ته تللو. ابراهيم په خپل اخري کال کې ؤ خو ماته يو کال نور هم پاتې ؤ. له ټولو بنديزونو، موانعو او ګرځبنديزونو سره سره تعليمي سفر دوام وکړ او ابراهيم په بيولوژي کې د ليسانس سند واخيست او د ملل متحد په مرستندويه مؤسسه کې يې د دندې غوښتنليک ورکړ او د قبليدو منتظر شو.

زما مور خپله پوره هڅه وکړه چې هغه په سعودي عربستان يا بل خليجي هيواد کې د دندې لپاره خپل اسناد جمع کړي خو هغې فقط کانه غوږونه پيدا کړل چې يو له ختې او بل له اوړو څخه ډک وو، هغه په خپل ذهن کې پريکړه کړې وه چې وطن به نه پرېږدي په خاصه توګه په داسې مهمه او خطرناکه مرحله کې. زما د مور زړه ويل چې دا ځوان بايد هيواد پرېږدي ځکه دلته اوسيدل په درانه قيمت تماميږي او هغې به د دې خبرې اظهار هم کاوه، هغې به هغه وخت د خبرو انداز بدل کړ چې کله به يې وليدل چې ابراهيم دلته په پاتې کيدو ټينګار کوي، هغې به زاري پيل کړې چې اقلاً د دوو يا دريو کلونو لپاره بهر هيواد ته لاړ

شه خو هغې قطعي پريکړه واوريده چې: زه د يوې شيبې لپاره هم هيواد نه پريږدم!

محمد له ټولو ستونزو سره سره په بشړ زيت کې دندې ته دوام ورکړ، هغه د بشړ زيت پوهنتون د ساينس کالج د کيميا په شعبه کې کار کولو چې هلته به هغه محصلينو ته کيمياوي تجربې ښودلې او د هغوی رهنمايي به يې کوله. په هغوی کې يو محصل غلی، خاموش طبع ، خوش اخلاقه او محنتي ؤ چې د خپلو تجربو د کاميابولو هڅه يې کوله او هغه د محمد ځانګړې توجه ترلاسه کړه او د هغه همت او مبارزه يې خوښه شوه. هغه محصل خپل کار په بريالیتوب سره ترسره کړ، نو له محمد سره ودريد چې له هغه نه واقفيت ترلاسه کړي، محمد وليده چې هغه يو مذهبي ځوان دی، د هغه د کار او همت ستاينه يې وکړه او له هغه نه يې د استوګنې او ليلیې د ګډون په هکله پوښتنه وکړه، محمد هغه ته د خپل کور د راتګ بلنه ورکړه او ورته يې وويل چې د کيميا په مضمون کې د هر مشکل د مرستې لپاره اماده دی.

دوه ويشتم څپرکی

زما مور په ابراهيم فشار زيات کړ چې هغه اردن ته لاړ شي او هلته د سعودي عربستان يا بل خليجي هيواد په سفارت کې خپل اسناد جمع کړي څکه زيات امکان شته چې هلته دنده ترلاسه کړي او له خپلې ميرمنې سره يو ځای هلته د کار لپاره لاړ شي او له دې غمونو او پريشانيو نه ليرې لاړ شي چې د غزې په هره کوڅه کې يې کمين نيولی، خو هغه په مسکا سره ځواب ورکړ چې دا ناممکنه ده څکه هغه فيصله کړې وه چې غزه به په هيڅ صورت نه پريږدي اګر که په وچه ډوډۍ ګزاره ولې نه وي، او هغه به د ملل متحد د مرستندويه مؤسسې د ځواب په انتظار وي چې ابراهيم د دندې غوښتنليک ورکړی ؤ.

څه وخت وروسته ځواب منفي راغی څکه په هغه شعبه کې د نوم ليکونکو شمېر له خالي بستونو څخه زيات وو نو څکه د ابراهيم نوبت رانغی. زما مور يو ځل بيا

موقع پیدا کړه چې په هغه باندې بهر هیواد ته د تګ فشار واچوي خو ابراهیم یادونه وکړه چې هغه د ساختماني چارو هنر لري او هغه په دې طریقه ډیرې روپۍ ګټلی شي او د دندې هیڅ اړتیا نشته. اوس یې چې زده کړې مکمل کړې دي نو خپل کاروبار نور هم پراخولی شي او پرمختګ ورکولی شي چې له امله به یې دده عواید د پام وړ زیات شي.

د مریم لومړی لور پیدا شوه چې ابراهیم پرې «اسراء» نوم کیښود. کله چې ما پوښتنه وکړه چې د دې نوم څه مطلب دای؟ نو هغه وویل: کله هم چې زه هغې ته ګورم نو ماته به د خپلې خاورې، اسراء، معراج او د مسجد اقصی په هکله خپل مسؤلیت رایادیږي او لکه څنګه چې خلک د اولاد له ویرې جهاد ته شا کوي نو د دې پر ځای چې زما له جهاد نه د شاتګ سبب شي ؛ د هغې نوم اسراء کیښودلو سره به دا ماته زما مسؤلیت رایادوي. هغه ماته د هغو ښایسته شیبو یادونه راتازه کړل چې موږ په مسجد اقصی کې تېرې کړې وې کله چې یهودیانو اخطار ورکړی ؤ چې هغه به ورانوي او د ابراهیم سترګې له اوښکو ډکې شوې.

په دې وخت کې موږ د کور دوهم منزل مکمل کړ، هلته مو نوې کوټې جوړې کړې او زوړ چت مو په ایسبیسټ سره پټ کړ چې هغه د لومړي منزل چت ؤ. ما د ابراهیم له محبت نه د ډک زړګي منظره وکړه، کله چې موږ د دوهم منزل چت برابر کاوه او موږ یې ناوه د لویدیځ په طرف برابره کړه، کله چې موږ د ایسبیسټ اچول پیل کړ نو ابراهیم ناڅاپه کار بند کړ او ویې ویل چې موږ باید داسې کار ونکړو. ما پوښتنه وکړه: هغه څنګه؟ ابراهیم وویل: د بام ناوه د لویدیځ په خوا برابرول سم کار نه دی.

ما پوښتنه وکړه: اخر ولې؟ هغه وویل: دا ځکه چې زموږ د بامونو اوبه د ګاونډیانو په بامونو غورځي. ما ورته وویل: نو په دې کې څه خبره ده. دا خو پخوا هم په همدې طرف بهیدلې؟ هغه په مسکا وویل: نه احمده! حالات اوس بدل شوي دي. مخکې زموږ بام د ګاونډیانو له بام څخه درې نیم متره لوړ ؤ. اوس چې کله

تېز باران وي نو له دومره لوړ ځای څخه د ګاونډیانو په بامونو د اوبو غورځېدلو غږونه به خفه کوونکي وي او هغوی به له دې سره ژوند ونکړي. زه پوه شوم چې دا سمه خبره کوي. ما پوښتنه وکړه: نو اوس به څه طریقه کوو؟ هغه وویل: موږ به دوباره کار کوو او د بام ناوه به د ختیځ په طرف برابروو تر څو اوبه په سړک نوبې شي. ابراهیم د دیوال د پورتنی برخې په ړنګولو پیل وکړ چې دا ناوه بې ختموله او بیا موږ په مخالف سمت د هغه د بیا تعمیرولو کار پیل کړ. بیا موږ چت واچاوه او له پاسه مو درانه کاني پرې کېښودل چې هوا بې یونسي. په کم وخت کې موږ د کور کار تکمیل کړ او کور په څلورو تعمیرونو ووېشل شو. په هر تعمیر کې یو څه خپلواکي وه. زه له خپلې مور سره په کوټه کې اوسیدم په دې بنیاد چې که کله محمد له رام الله څخه راشي نو له موږ سره به اوسیږي. محمود، حسن او ابراهیم هر یو په جلا تعمیر کې اوسیدل نو له دې امله د دوی میرمنې په ازادی کې اوسیدلی شوای او ټوله ورځ په سر د ټیکري اچولو او د وېښتانو د پټولو اړتیا نه پیښېدله او نه به هم د خپلو لیوررونو په وړاندې شرمنده کیدلې.

زموږ د کور د جوړولو پر مهال ما له ابراهیم نه د ساختمان ډیر مهارتونه زده کړل. هغه مشوره راکړه چې زه ورسره په کار کې شریک شم څکه زه په څو میاشتو کې یو ماهر معمار جوړیدلی شوای، هغه به ماته کار ښایي او موږ به یو ځای په شراکت سره کار کولی شو په ځانګړې توګه کله چې د وظیفې پیدا کولو فرصتونه کم وي. د هغه رایه زما خوښه شوه او زما سره د بایللو لپاره هیڅ شی هم نه ؤ له همدې امله کوم پلانونه به چې د هغه مسؤلیت ؤ ما به ورسره په تکمیل کې مرسته کوله، د هغه کار پراخې ومونده، له موږ سره به څو مزدورانو کار کاوه. خاص خبره دا وه چې هغوی به له موږ څخه د یو ځانګړې برخې کار وغوښت او موږ ته به بې ویل چې موږ یو نږدې ځای ته څو او بیرته ژر راځو. هغوی به کار پرېښود او په موټر کې به روان شول. کله به ژر او کله به ناوخته راغلل او بیا به بې

خپل کار شروع کړ. ما به په زړه کې سوچونه کول چې دوی چیرته ځي او خپل کار پرېږدي؟ کله به چې ما پوښتنه ترې وکړه نو هغوی به ویل: احمده د کار په لټون پسې ځو ځکه کوم کار چې زموږ په لاسونو کې دی د هغه له تکمیل نه وړاندې باید موږ یو بل کار ولټوو چې هغه زموږ انتظار کوي. ما به د هغوی سترګو ته وکتل او یقین به مې راغی چې هغوی په کوم بل کار کې مصروف دي او د یو داسې کار په لټون کې دي چې له ساختمان سره یې هیڅ اړیکه نشته.
په اشغال شویو سیمو کې د ۱۹۴۸ سره نږدې په صرفند نومې ځای کې د اسرائیلي فوځیانو یو لوی کمپ ؤ، په سلګونو فوځیان سهار وختي هلته راځي او ماښام بیرته خپلو کورونو ته ستنیږي، هغوی د موټرو لپاره انتظار ولاړ وي چې خپلو کورونو ته یې ورسوي او په سړک باندې راتلونکو موټرو ته اشاره کوي چې هغوی ودریږي او په دې سوړ ماښام کې هغوی تر کوره یوسي. ځینې فوځیان د سړک په څنډو روانیږي او کله چې کوم موټر راځي نو په دوی کې ځینې موټر هغوی د خپلو کورونو نه لیرې ښکته کوي ځکه موټر فقط تر همدې ځایه راځي او بیا د دوی لارې سره جدا کیږي نو هغوی مجبور وو چې له دې ځای نه د بل موټر انتظار وکړي. په سړک باندې یو نوی سپین رنګه سپارو موټر روان ؤ چې ژیړ (اسرائیلي) نمبر پلیټ یې درلود، یو ځوان یې چلوي چې له شکل نه اروپایي نژاد معلومیږي، سپین رنګ، سره ویښتان، شنې سترګې یې درلودې او ورسره یو بل ځوان هم ناست دی چې هغه عراقي نژاد ښکاري.۹۰ وروسته څوکۍ یو بل ځوان ناست دی چې یمني نژاد معلومیږي. د موټر په راډیو کې د عبراني ژبې سندره غږیږي، یو فوځي موټر ته لاس ورکوي، موټر دریږي او فوځي وروستۍ دروازه خلاصوي او په څوکۍ له کیناستلو سره په عبراني ژبه یو څه وایي، موټروان ځواب ورکوي «هیڅ خبره نشته» او موټر بیا روانیږي، له یوې مسافې مزل کولو نه وروسته له موټروان سره ناست ځوان یوه چاړه راوباسي او فوځي ته وایي چې هیڅ حرکت ونکړې، او وروسته ناست ځوان ته په عربي

سره وايي چې د هغه توپک واخله. هغه ځوان ترې توپک واخیست. فوځي په لږزیدا او ژړا سره خپلې مور ته غږونه کول او په متيازو بهيدلو سره يې پتلون هم لوند کړ. محمد په هغه باندې په چيغه کولو سره وويل: تاسو په غزه او لويديځه غاړه کې زموږ په وژلو پسې راځئ. تاسو لومړی زموږ خاوره غصب کړه، هلته چې تاسو وسلې راوباسئ او په ماشومانو دزې کوئ نو هلته خپل ځانونه نارينه بولئ او دلته خپلې مور ته چيغې وهې او په جامو دې متيازې بهيږي... بيا يې هغه په زړه کې يوه مرمۍ وويشت، موټر يو طرفته ودريد، درې واړه ځوانان له موټر نه راښکته شول، له موټر نه يې د کيندلو الات راوباسل، يوه کنده يې وويستله او هغه يې پکې دفن کړ. د هغه وسله او اسناد يې واخيستل، په هغوی کې يو تن د هغه د اسنادو په کتلو سره وايي: اوهو! دا فوځي خو د اسرائيلو د خاص ځواکونو له پرسونل څخه دی چې هغوی ډير پيچلي کماندويي عمليات کوي، او له هغه سره يو مډال هم شته. څو ورځې وروسته همدې گروپ يو بل فوځي اختطاف کړ او له غزې ترانگې څخه په راستنيدو سره يې له هغه نه يو توپک هم واخيست. په بله سيمه کې د فوځي له دفن کولو وروسته چې کله هغوی له غزې ترانگې څخه د جلا کيدونکې سيمې څخه تيريدل نو يوه ساتونکي دوی وليدل او د سيمې ساتونکي فوځ ته يې خبر ورکړ چې له دې وروسته دوی تعقيب شول، ځينې غړي يې ونيول شول او ځينې يې مصر ته داخل شول. تحقيقات وشول او د نيولو لړۍ شروع شوه. لکه څنگه چې دواړه فوځيان او د هغوی وسله نادرکه وه او په نيول شويو کې يوه ته هم د هغوی معلومات نه وو نو له دې امله په ټوله غزه کې گرځبنديز ولگيد او په پراخه کچه نيول پيل شول. د حماس په صفونو کې به چې کوم فرد شکمن ښکاره شو هغه به ونيول شو او دا معلومه وه چې د نيولو په دې لړۍ کې زما ورور حسن او زما د تره زوی ابراهيم هم شامل وو. په څيړنو کې په دوی هيڅ هم ثابت نشول نو دوی يې درې مياشتني انتظامي توقيف ته واچول او هغوی يې د نقب صحرايي توقيف ته نقل کړل.

څو ورځې وروسته محمود هم د دريو مياشتو انتظامي توقيف ته واچول شو. هلته په نقب کې د هغه ملاقات له حسن او ابراهيم سره وشو چې د هغوی سرونه له اسمان سره لګيدل او قدمونه يې په ځمکه مضبوط لګيدلي وو. هغوی به د محمود په طرف کتل چې هغه به اکثر دا پوښتنه کوله چې ستاسو په وسله واله مبارزه کې څه رول دی؟ کله چې هغوی ته د خبرو کولو موقع په لاس ورغله نو ابراهيم محمود ته وويل چې اوس زموږ په وسله واله مبارزه کې رول پيل کيږي. دا پيل دی او څه چې وروسته کيږي هغه به خپله خبرې کوي. محمود به غلي غلي ويل «ژر .. ژر..» حسن ځواب ورکړ: مهمه دا نه ده چې کله، بلکې مهمه دا ده چې دا پيل دی او دا مهمه ده چې وروسته به څه کيږي. اوس ستا نوبت دی چې ته ووايې په فرض ادا کولو کې ستا څه رول دی؟ محمود په خندا ورته وويل: تاسو تراوسه پورې هيڅ نه دي کړي او له ما څخه زما د رول په اړه پوښتنه کوئ؟ زما رول خو له تېرو ديرشو کلونو څخه معلوم دی. موږ خو د وسله والې مبارزې بيرغ وړونکي يو، موږ هغه څوک يو چې انقلاب مو پيل کړ. او موږ هغه خلک يو چې په زرګونو فدايي بريدونه مو ترسره کړل. ابراهيم يې د خبرې په غوڅولو سره وويل: موږ د نن ورځې نسل يو او مهمه خبره داده چې نن به څوک بيرغ پورته کوي او د هغه قيمت به څوک ادا کوي؟ محمود ځواب ورکړ: سمه ده، سمه ده موږ به وګورو... خو په هر تقدير هرکله راشئ. اوس تاسو د مقاومت په خندق کې خپل ځای په پوره عزت او احترام سره واخلئ.

ځينو ځوانانو د دوی خبرې اترې ودرولې او د دوی خواته په راتګ سره يې سلام وکړ او هغوی د سلام ځواب ورکړ، محمود د رخصت کيدو لپاره اجازه وغوښتله او ځوانان د خپل تعارف لپاره پورته شول: زه ابراهيم يم له الشاطئ کمپ څخه. زه ستاسو ورور ياسر يم د خانيونس له کمپ څخه، زه ستاسو ورور عماد يم د جباليه له کمپ څخه، زه محمود يم له البريج کمپ څخه او زه عزالدين يم له شجاعيه څخه. هغوی کيناستل او د خپلو ورونو د زړورتيا د

کارنامو په هکله یې خبرې پیل کړې چې څنګه دغو بریدونو اشغالګر په مشکلاتو کې راګیر کړل، فوځیان په خپلو دریشیو کې او له وسلو سره اختطاف کیږي او ورکیږي، او د دولت امنیتي ادارې له ټولو فعالیتونو. ظلم او وحشت سره د دې ستونزې په حل کولو کې ناکامې پاتې شوې. بیا هغوی د الله تعالی شکر ادا کړ چې د وسله والې مبارزې په مټ د جنګ لپاره رسمي دروازه خلاصه شوه او ان شاء الله زموږ راتلونکی سهار به له بریالیتوبونو ډک او روښانه وي. درې میاشتې په سرعت سره تېرې شوې او حسن او ابراهیم کور ته راغلل او څو ورځې وروسته محمود هم راغی. له معمول سره سم په دې خوښی کې د ګاونډیانو او کورنی د غړو له طرفه مبارکی او جشن ولمانځل شو . په همدې ورځو کې عراقي ځواکونو په کویټ حمله وکړه او امریکایي او لویدیځ هیوادونه د عراق په خلاف د جنګ لپاره راټول شول. د انتقاضه فعالیتونه تر ډیره حده کم شول او ټول خلک منتظر شول چې په راتلونکو ورځو کې به څه کیږي. اکثره فلسطینیان په دې هیله وو چې صدام حسین به نیم اسرائیل ختم کړي. سره له دې چې د لویدیځوالو د درنو وسلو د استعمال له امله زموږ د عراق په خلکو ډیر زړه بد شو. موږ په بې صبري سره د دې جنګ د پیل کیدو انتظار کاوه تر څو په خپلو سترګو وګورو چې څنګه دا ظالم او جابر دولت په توغندیو سره تباه کیږي او د اسرائیلو دولت او خلکو له دې جنګ څخه ویرې زموږ دا بې صبري نوره هم زیاته کړله په ځانګړې توګه کله به چې د کیمیاوي وسلو خبرې کیدلې څکه دا دعوی کیدله چې عراق کیمیاوي وسلې لري.

ټولو خلکو په بې صبري سره خبرونه اوریدل. کله چې اعلان وشو چې په عراق باندې حمله وشوه. نو ټولو خلکو به د اسمان په طرف کتل تر څو له عراق څخه راتلونکي کیمیاوي توغندي وګوري چې څنګه به دا ظالم دولت لوټې لوټې کوي. کله چې په لومړي ځل په اسرائیلو کې د خطر زنګ ووهل شو او خلکو د ګازي ماسکونو اچول او په پناه ځایونو کې پټیدل پیل کړل نو په مختلفو سیمو

کې خلکو شعارونه پیل کړل: «بالروح بالدم نفدیک یا صدام... یا صدام یا حبیب اضرب اضرب تل ابیب» چا چې تل ابیب په نښه کړ هغه د دې مظلوم اولس محبوب جوړ شو چې له لسیزو څخه يې مصیبتونه او تکالیف ګالل.
معلن د بېړني حالت د ختمولو اعلان وکړ او ورسره يې دا هم وویل چې په اکثرو سیمو کې خلک ماسکونه لیرې کولی شي او له پناه ځایونو راوتلی شي او توغندي په یوه خاصه سیمه کې غورځي چې د هغو ارزیابي کېږي چې ایا هغه کیمیاوي مواد لري او که نه؟ په موږ کې یوه ویرونکې چوپتیا خپره شوه چې موږ په دې توره شپه کې د پایلو انتظار کاوه، یوه شیبه وروسته اعلان وشو چې دا عام چاودیدونکي مواد دي او هیڅ کیمیاوي وسله نشته او د سیمې خلکو ته بې وویل چې ماسکونه وغورځوي. موږ داسې محسوس کوله لکه د واورې اوبه چې راباندې تویې شوې وي او چوپتیا خپره شوه چې هغه محمود ماته کړه او ويې ویل: کیدای شي دا یوه دوکه وي تر څو اسرائیل ډاډه شي او ماسکونه وانه چوي او بیا وروسته قوي حمله وکړي. موږ ځواب ورکړ: ان شاء الله، ان شاء الله.
حسن په ډیر ډاډ سره وویل: وه خلکو له صدام سره کیمیاوي وسلې نشته. که ورسره وای نو په اسرائیلو به يې برید کړی وای او که برید هم پرې وکړي بیا هم اسرائیل نشي ختمولی. محمود په غصه ځواب ورکړ: دا منفي سوچونه له کومه ځایه راځي؟ حسن په ډاډ سره ځواب ورکړ: دا ځکه چې څوک اسرائیل ختمولی شي په هغه کې ځانګړي صفات ضروري دي چې هغه اوس نشته. محمود په غصه وویل: ورور زه نه پوهیږم چې دا سوچونه او فکرونه تاته له کومه راځي. ابراهیم په مداخله کولو سره وویل: په هر تقدیر ان شاء الله چې له هغه سره به کیمیاوي وسلې وي او هغه به په اسرائیلو حمله کوي. اوس هم وخت شته او اوس به څه ویل له وخت وړاندې وي. د جنګ په جریان کې او په اسرائیلو باندې د توغندیو د غورځیدلو په وخت کې د خلکو خوښي اوج ته رسیدلې وه. دا سمه ده چې اسرائیل به د ځمکې له مخ څخه ورک نشي خو په لومړي ځل د

اسرائيلو په داخلي سيمو حمله وشوه او ټول په پناه ځايونو کې د مورچکانو په څېر ننوتلي دي او يا يې ماسکونه اچولي دي چې نږدې ده هغوی ووژني او ځينې خلک خو د خطر زنګ په اوريدلو سره مړه شول. دا ټول زموږ لپاره ډېر څه وو، خلک به بهر راووتل او فقط د يهودي دولت په طرف د توغنديو په تګ به يې نعرې وهلې، خوښي به يې کولې او سندرې به يې زمزمه کولې او حال دا چې نتيجه يې تقريباً ټولو خلکو ته معلومه وه. بيا چې کله جنګ انجام ته ورسيده نو لويه نااميدي پيدا شوه. د جنګ له پايلو څخه د پيدا شوې نااميدي او مايوسي له امله خلک نور هم په غصه شول او کيدای شي د هغه ويرې انځور چې يهودي دولت يې ولړزاوه ؛خلکو د دښمن په کمزوري کيدو نور هم يقين زيات کړی وي. د جنګ له ختميدو سره د انتقاضې په پيښو او فعاليتونو کې زياتوالی راغی او دا واضحه شوه چې په سيمه کې د فعالو قوتونو په حلقو کې د اشغالګرو په خلاف د وسلې کارولو ميلان زيات شوی دی، په ځانګړې توګه د انتقاضې له پيل وروسته تراوسه پورې د شهيدانو او ټپيانو په شمېر کې هم د پام وړ زياتوالی راغلی وو خو سيمې په مکمل ډول له وسلو نه پاکې شوې وې ځکه په غزه او لويديځه غاړه کې د دوو لسيزو اشغال راهيسې اشغالګرو ځواکونو په پلان شوې طريقې سره دا سيمې له وسلو او چاوديدونکو توکو نه پاکې کړې وې او هر هغه دروازه يې بنده کړې وه چې دا وسلې به ترې راوړل کيدلې او په دې کار کې ککړو خلکو ته به يې درنه سزا ورکوله. خلک تر دې پورې نه پوهيدل چې که چيرته دوی وسله ترلاسه هم کړي نو هغه به څنګه استعمالوي؟ له همدې امله کارمندانو، د چاقو، خنجر، تبر او تورو سره سره د کوتکو او لښتو استعمال هم پيل کړ، تومانچه او پخوانی کارلوستاف ټوپک به ډېر کم تر سترګو کيدل.

زما مور د محمود، حسن او ابراهيم د ممنوعه شيانو د تالاشي د څېړنو پروسه ونه خنډوله چې هغوی به يې په پټولو کې ناکام کيدل او يا به ترې غورځيدل. يوه ورځ چې کله هغې د ابراهيم د کوټې تالاشي اخيستله نو هغې دروازه راښکله او

هیڅ یې پیدا نکړل، خو د دروازې د پورې کولو په وخت یې په ذهن کې راوګرځېدل چې دراوزه تړوله بهر راوباسي، کله یې چې تړوله دروازه رابهر کړله نو په هغه کې د ننه یې د کارتن یو وړوکی قوطی پیدا کړ. هغې قوطی خلاص کړ او یوه تومانچه یې پکې پیدا کړه، هغه نږدې وه چې بې هوشه شي خو خپل ځان یې کنټرول کړ او خپلې ارادې یې قوي کړلې او تومانچه یې پټه کړله تر څو مریم یې ونه ویني. ابراهیم په کور کې نه ؤ موجود نو ځکه یې د هغه له میرمنې نه تحقیق پیل کړ چې د هغې خاوند چیرته شیان پټوي؟ چیرته. چیرته او څنګه څنګه... مریم هیڅ نه پوهیده او زما د مور په چلند حیرانه وه. کله چې ابراهیم کور ته راغی نو هغه ته یې په دې هکله هیڅ ونه ویل او له عادت سره سم چلند یې ورسره کاوه. ماښام مور د مریم چیغې واورېدې او مور نه پوهیدو چې څه روان دي خو کله چې زما مور دا چیغې واورېدې نو په منډه دوهم منزل ته پورته شوه او چې کله ورغله نو هغوی یې یو له بل سره په جګړه ولیدل. مریم په چیغو وهلو سره ورته وویل: زه نه پوهیږم چې دلته څه روان دي، سهار مور تحقیقات رانه کوي او ماته معلومات نشته او ماښام خاوند راڅخه څیړنې پیل کړې او ماته معلومات نشته او زه داسې ناخبره یم لکه د ناوې په واده کې چې یو کوڼ انسان وي.

ابراهیم وویل: ایا زه پوښتنه کولی شم چې زما په کوټه کې څه شوي دي؟ مریم په ژړا شوه. د هغې ژړا هغه پیټی ؤ چې د ابراهیم له زړه نه وغورځیده ځکه هغه د مور د توجه لویه حصه د مریم په خوشحالی کې نغښتلې وه. ابراهیم پوه شو چې د هغه خفیه سامان مور اخیستی دی. هغه غلی شو او د مور خبرو ته منتظر شو. مور د هغه طرفته په کتلو سره وویل: ما تاته نه وو ویلي چې ته باید له هیواده بهر لاړ شې؟ زما زړه به همیشه دا ویل چې ته خپل ځان. خپله میرمن او خپله لور د جهنم په خوا بیایې. ابراهیم په خندا وویل: مورې! داسې ښکاري چې زه اوس هغه څه ووایم چې ما یې تر کلونو پورې د نه ویلو هڅه کوله. واوره! او مریم ته

بې هم واوره! لکه څنګه زه په دروازه کې ولاړ وم نو ماته يې هم وويل چې ته بې هم واوره احمده! ما خپله لاره غوره کړې ده. دا د نن ورځې خبره نه ده بلکې د کلونو پخوانۍ خبره ده؛ ما په هغه ورځ خپله لاره غوره کړه کله چې ما واوريدل چې زما ورور حسن له يوې يهودي ميرمنې سره واده کړی او په تل ابيب کې اوسيږي. ما خپله لاره د جهاد او مقاومت لاره غوره کړه او په دې لاره روان وم او روان به يم او ما له دې لارې څخه هيڅ شی هم نشي ايسارولی. له همدې امله ما د نورو پوهنتونونو په ځای په اسلامي پوهنتون کې د زده کړو پريکړه وکړه. په هغه ورځ محمود له ما څخه خفه هم شو. او ما په سعودي عربستان او کويټ کې د دندې پر ځای په غزه کې د ساختماني کارونو کولو پريکړه وکړه او زما مور له ما څخه خفه شوې وه. ما خپله لاره غوره کړې ده او زه به له دې لارې څخه په شا نشم. الله شاهد دی چې زه له تاسو ټولو سره مينه لرم او زه د دنيا له ټولو شيانو څخه زياته مينه له تاسو سره لرم خو که تاسو ما له دې لارې څخه وګرځوئ نو زه به له تاسو ټولو سره تر دې پورې چې د مريم او اسراء سره هم مينه قطع کړم او تاسو ټول به پريږدم تر څو زه په خپله لاره لاړ شم او خپل فرض ادا کړم. د هغه په سترګو کې اوښکې ډنډ وې او له کوچنۍ بسترې څخه د اسراء د ژړا غږ راتلو. د مريم او زما د مور له سترګو نه اوښکې روانې وې. ما خپل ځان کنټرول نشو کړلی او په رخسار مې ترمې اوښکې روانې شوې. زما مور د خپلو اوښکو د بندولو په کوښښ سره وويل: ته ازاد يې ابراهيمه او ته چې څه غواړې هغه وکړه. تا به هيڅوک نه منع کوي. الله دې ستا حفاظت وکړي. الله دې ستا ساتنه وکړي. بيا مور د هغه لاس ونيوه او له هغه سره په زينو ښکته روانه شوه او هغه ته يې خپله تومانچه په يوه جامه کې پيچلې ورکړه.

د الخليل ښار په يو کور کې بيړنۍ غونډه روانه وه چې مشري يې جمال کوله او ښي لاس ته يې عبدالرحمن ناست ؤ او دوی هلته په ښار او شاوخوا سيمو کې د انتفاضې د پراخولو پلانونه جوړول. دوی په دوو سمتونو کې په کار کولو سلا

شول: لومړی د انتقاضې د فعالیتونو ځانګې فعالول او دوهم د مسلحو ګروپونو تشکیل او د هغوی لپاره د وسلو راغونډولو اغاز کول.
یو موجود شخص له دریو ځوانانو سره ویني تر څو هغوی ته د وسله والې مبارزې د تشکیل اعلان وکړي او هغوی ته ووایي چې د وسلو لټون. د پناه ځایونو د چمتو کولو اماده ګي او د دې میدان لپاره د چمتو شویو خلکو نومونه ورکړي. په دې وخت کې په لسګونو کارمندان په مختلفو سمتونو کې حرکت کوي، افرادو او ملاتړو ته د طرزالعملونو په ویشلو ، په دیوالونو د شعارونو په لیکلو. په سړکونو د موانعو د کیښودلو، د اشغالګرو فوځیانو او د هغوی د خاښې اوسیدونکو په تګ راتګ کې د خنډونو پیدا کولو او هغوی د کاڼو د باران لپاره مناسبو ځایونو ته د راوستلو هڅې یې پیل کړې تر څو ځوانان یې په اسانی سره ایسار کړي او ځانونه هم وساتي.
عبدالرحیم چې د ځوانۍ په اوائلو کې ؤ له خپلو ملګرو سره د صوریف ښارګوټي په جومات کې ویني. هغه د صبا لپاره په ښارګوټي کې کیدونکو فعالیتونو ته ترتیب ورکوي، د سهار له رڼا خپریدو مخکې هغه د ښارګوټي په کورونو او دوکانونو کې طرزالعملونه ویشي، په دیوالونو شعارونه لیکي. بیا موانع ږدي او ټایرونه سوځوي ځکه نن د اعتصاب ورځ ده لکه څنګه چې د مقاومت په اعلامیه کې هم ویل شوي دي. هغه دا هر څه کوي په داسې حال کې چې مخ یې پټ دی. یوه ورځ یو ملګری شاته منډې پسې وهي تر څو هغه ورشي او وګوري چې څه روان دي؟ عبدالرحیم پوښته ترې وکړه چې څه شوي دي؟ هغه ورته وویل: راشه ته وګوره! هغه ولیدل چې کوم شعارونه لیکل شوي هغه رنګ شوي دي. د حماس نوم رنګ شوی دی او لاندې ترې لیکل شوي « له جاسوسانو ځانونه وساتئ. حماس د اشغالګرو جاسوسان دي» عبدالرحیم وویل: دا کارونه څوک کوي؟ هغه ورته وویل: راځه. او هغوی ولیدل چې د الجبهة الیساریة درې ځوانان دا کار کوي. هغوی له دې ویرې چې د دوی راز افشا نشي

د لاس اچولو جګړه یې وکړه او بیا مخ پر وړاندې بل ځای د شعارونو لیکلو ته روان شول او له ځانونو سره یې لښتې او تبرګي هم یوړل او هلته یې بیا هغه ځوانان ولیدل. هر یو یې څو څپېړې ووهل او درې واړه وتښتیدل. دوی تعقیب کړل او د هغوی کوڅې ته پسې ورسیدل او کوڅه یې محاصره کړه. یو څو تنه سپین ږیري راغلل او په دې شرط یې صلحه وکړه چې د دوی زامن به بیا داسې کار نکوي.

د صوریف له کلي څخه به هره ورځ دوه بسونه وتل چې هغه به د تنظیف. باغواني. ترمیم او نورو کارونو لپاره د القدس ښاروالۍ له مزدورانو ډک وو. دا بسونه اسرائیلي وو نو ځکه ځوانانو هدف وګرځول. سهار وختي یې ورته کمین ونیوه او په را رسیدو سره د ډبرو باران پرې جوړ شو چې له امله یې د بسونو شیشې ماتې شوې او د مزدورانو له وړلو پرته بیرته ستانه شول.

څو ورځې پرله پسې دا کارونه وشول او د القدس ښاروالۍ سره له دې مزدورانو بغیر بله چاره نه وه نو فوځي جیپونه د دوی د ساتنې لپاره راغلل. یو جیپ به یې شاته او بل به یې مخې ته روان وو. د ځوانانو لپاره په فوځي جیپونو د برید کولو موقع هم پیدا شوه او په همدې توګه به د سهار له شپږو بجو مقابله پیل شوه او کله کله به تر ساعتونو پورې روانه وه. بالاخره داسې ښکاریده چې د بسونو اسرائیلي کمپنۍ چې دوه بسونه یې وسوځیدل: د خپل کار له دوام نه انکار وکړ. بیا له یوې عربي کمپنۍ څخه دوه بسونه په کرایه واخیستل شول او بیا هم د ډبرو باران دوام وکړ نو له دې امله دوی مجبور شول چې د ځان لپاره فوځي بندوبست وکړي ځکه د ښاروالۍ مزدورانو ته اړتیا وه او مقابلې روانې وې. کله چې عبدالرحیم او د هغه ملګري له دې کار څخه مطمئن نشول نو هغوی به بیت شیمش ته غځیدلې لویې لارې ته ووتل او هلته به یې اسرائیلي موټر په ډبرو ویشتل. د هغوی د موټرو ښیښې به یې ماتولې او په سړک به یې د موټرو تګ راتګ له خنډ سره مخ کاوه. اشغالګر عسکر به راغلل نو په هغوی به یې هم

دبرې ویشتلې او بیا به غرونو ته وتښتیدل چې بالکل د خپلو کورونو په خبر پکې
بلد وو او هلته به یې لوبې او ساعت تیرى کاوه.
مقابلې زیاتیدلې او فعالیتونو شدت پیدا کړ. د شهیدانو شمېر په زیاتیدو شو او د
ټپیانو شمېر له تصور زیات ؤ. اشغالګر له خپلو ارادو څخه نه اوښتل او دنیا
خاموشه وه. د یو لاریون په مهال چې په اقصی جومات کې وشو؛ اشغالګرو په
لاریون کوونکو باندې د درنو ماشیندارو سره حمله وکړه او د هیلي کوپټرو په
مرسته یې په لسګونو خلک شهیدان او په سلګونو ټپیان کړل او د عکس العمل
له ویرې یې په سیمه کې ګرځبندیز نافذ کړ. د ګرځبندیز پر مهال د یو ځوان
هلک په زړه کې د انتقام عزم راپاریږي، هغه خپله چاړه تېره کوي او د ګرځبندیز
ختمیدو ته انتظار باسي. د ګرځبندیز ختیمدو په لومړۍ ورځ هغه خپله چاړه د
خوراکي توکو په سامان کې پټوي او بس ته خیژي او داسې څرګندوي چې هغه
د کار لپاره یروشلم ته ځي. هغه د خپل کار له ځایه لیرې ښکته کیږي تر څو
مناسب هدف ولټوي. د هغه ګامونه هغه د یوې کلیسا په طرف رهي کوي چې
هلته ځینې یهودیان عبادت کوي. د هغه په ذهن لومړۍ دا فکر راځي چې د
اقصی جومات بدله دلته ډېره مناسبه ده خو هغه په دې سوچ سره بېرته ستنیږي
چې هغه په عبادت ځای کې د عبادت کوونکو خلکو وژونکی نه دی.
هغه مخ په وړاندې ځي او یو سړیویني. خپله چاړه راوباسي او په هغه ګزار
کوي او هغه ځای په ځای وژني. بیا مخ په وړاندې ځي او یوه ښځینه فوځي
ویني چې په فوځي یونیفورم کې وه په هغې هم څو ګزارونه کوي او هغه هم
وژني. خلک هغه ته متوجه کیږي او شور جوړوي. د ځانګړو ځواکونو یو
عسکر د هغه مخې ته راځي. د هغه مخ ته تومانچه نیسي او هغه ته د چړې د
غورځولو حکم کوي خو هغه د عسکر په خوا ورځي. د عسکر لاسونه ریږدي او
په دواړو لاسونو توپک نیسي، په لړزیدلو لاسونو ډزې کوي چې د عامر په پښو
کې درې درې مرمۍ لګیږي او وینه ترې بهیږي خو هغه مخ په وړاندې ځي. د

عسکر دریشي او ټوپک هم د هغه د قدمونو د کنټرول نه عاجز دي او عسکر غورځي، د عامر لپاره دوه یا درې قدمه پاتې دي، هغه په ځمکه خپلو ښنګو شویو پښو ته زور ورکوي او د مخته تګ هڅه کوي خو هغه ناکامیږي. عسکر لړزیږي او کله چې د عامر یقین راځي چې هغه حرکت نشي کولی نو هغه خپل وزن مخته طرفته اچوي او په عسکر یو ګزار. دوه ګزارونه او درې ګزارونه کوي. فوځي وژل کیږي او عامر په لوړ سر نیول کیږي.

دوه شل کلن ځوانان په مسجد المخیم کې ابراهیم لټوي. هغوی د جومات په یو کونج کې له هغه سره خبرې اترې کوي او بیا سهار وختي له هغه نه رخصت اخلي، ابراهیم په خپل موټر کې د هغوی انتظار کوي تر څو هغوی کار ته د تلونکو بسونو تم ځای ته ورسوي، هغه هر یوه ته د خوراک یوه کڅوړه ورکوي او هغوی ته نصیحت کوي چې په احتیاط سره اوسیږئ. ځوانان په یو بل موټر کې کیني چې هغه د ۱۹۴۸ اشغال شویو ځمکو ته د نه کار کوونکي مزدوران لیږدوي، تر دې پورې چې هغوی یافا مقام ته رسیږي او د ورکشاپ په دروازه باندې مالک او نورو مزدورانو ته انتظار کوي. یو سړی راځي او دروازه خلاصوي، دوی دواړه په هغه پسې له شا ځي. خپل چاقوګان راوباسي او په هغه ګزارونه کوي، کله چې نور مزدوران راځي نو هغوی هم وژني، کله چې مالک راځي نو هغه هم وژني هغوی له ځایه د وتلو پریکړه کوي خو له دې وړاندې په هغوی کې یو تن په دیوال باندې په سپرې سره دا جمله لیکي «د حماس د کلیزې او زموږ د زړورو شهیدانو د ارواحو په نوم» او بیا له هغه ځایه ځي.

یو بل ځوان له خپل تره سره اړیکه نیسي چې هغه د یهودیانو موټر غلا کوي او بیا یې پرزه پرزه خرڅوي. هغه د سهار له لمانځه وروسته له خپل تره څخه یو لوی او درونډ موټر اخلي او د تل ابیب په سیمه کې د تل باشومیر روغتون مخې ته یې بیایي، هلته د بس په یو تم ځای کې زیات فوځیان ودریږي. هغه د موټر

رفتار تېزوي او د همدې تم ځای په خوا يې غړوي چې له امله يې درې فوځيان وژل کيږي او په لسګونو نور ټپيان کيږي، او دا پېښې بيا بيا تکراريږي.

يوه ځوان د بس په تم ځای کې په ناستو خلکو د چاقو په واسطه بريد وکړ او څلور تنه يې ووژل. بل ځوان له پوهنتون څخه په راوتونکو محصلينو د ټېر ګزارونه وکړل چې له امله يې يو شخص مړ او څو تنه ټپيان شول... په لسګونو داسې پېښو سياسيون او اسرائيلي چارواکي «د چاقو جنګ» په هکله په خبرو کولو مجبور کړل او د هغوی په ټولنه کې ويره خپره شوه. په دوی کې ځينې افراد د دښمن سيمو ته د جنګ په وړلو کې بريالي شول او د هغوی خلک يې ووژل. نه يوازې دا چې د شهيدانو په شمېر کې زياتوالی راغی بلکې د دنيا والو د ضمير د راويښولو انتظار يې کاوه چې هغوی په خپلو مرداريو کې ډوب وو. د وسلو د ترلاسه کولو هڅې ختم نشوې او دا د ډيرو خلکو لپاره يو جنون وګرځيده.

يو ځوان ابراهيم ته خبر ورکړ چې د دوی په سيمه کې يو جاسوس دی چې له هغه سره وسله هم شته او هغه يې روزانه له ځان سره وړي او راوړي. هغوی وړانديز وکړ چې هغه بايد په سپينې وسلې سره ووژل شي او وسله يې واخيستل شي. هغوی وضاحت ورکړ چې هغه په کمين کې وژل کيدلی شي او دوی دا کار کولی شي او ځوانان اماده دي. ابراهيم دوی ته د انتظار کولو وويل تر څو د دوی لپاره يوه تومانچه اماده کړي ځکه دوهم ګروپ يوه تومانچه د يو لړ عملياتو لپاره وړې وه. اووه ځوانان په سپينو وسلو سمبال او په پټو مخونو د هغه جاسوس د تګ راتګ په لاره کې کمين ونيوه. د هغه د موټر په لاره کې يې يو موټر ودراوه. کله چې هغه ودريد نو څو کسانو پرې د چاقو په واسطه حمله وکړه. هغه يې ټيي کړ خو هغه ژر په يو لاس سره «عوزي ټوپک» رااخلي او په ځوانانو ډزې کوي او په دوهم لاس سره د ليونيانو په څېر موټر چلوي. موټر بيرته غړوي او له بريدګرو څخه ليرې تښتي. يو ځوان شهيد کيږي او «عماد» چې له ابراهيم سره يې په نقب زندان کې ملاقات شوی و: ابراهيم ته راځي او ټوله کيسه

ورته کوي. د ابراهيم په سترګو کې اوښکې راځي او قسم کوي چې تر هغه وخت پورې به ويده نشي چې دوی ته يوه وسله راپيدا نکړي. هغه په خپل موټر کې کيني او رفح ته روانيږي، هلته له يو ځوان سره ويني او له هغه نه د يو بل شخص په اړه پوښتنه کوي، هغه دريم شخص هغه ته د انتظار کولو وايي او يو ساعت وروسته په يوه بوجۍ کې د پيچل شوي ځيز سره راځي. هغه په موټر کې ږدي او کله چې بوجۍ پرانيزي نو په هغه کې يو کلاشنکوف ټوپک پيدا کوي. هغه يې ښکلوي او بيرته راستنيږي چيرته چې عماد د هغه انتظار کوي. هغه بوجۍ ورکوي او ورته وايي: اوس تاسو په محفوظه طريقه سره کار کولی شئ. عماد وسله اخلي او خپلو ملګرو ته ور ګرځي او ټوپک يوې ليرې سيمې ته وړي تر څو هغه وګوري او د هغه استعمال زده کړي ځکه دا لومړی ځل دی چې هغوی ټوپک په لاس کې نيسي. هغوی هڅه کوي او بيا هڅه کوي خو هيڅ ګټه نکوي. عماد بيرته د ابراهيم خواته راځي او ګيله کوي چې ټوپک خراب دی. ابراهيم ټوپک يو داسې ځوان ته وړي چې هغه په وسلو کې تجربه لري. ځوان ټوپک يو او دوه ځله ګوري او هغه پرانيزي او بيا ابراهيم ته وايي: دا سمه ده چې ټوپک خراب دی ځکه د هغه ستن ماته ده او دې ته د نوې ستنې ضرورت دی. ابراهيم پوښتنه کوي: موږ ستن له کومه ځايه راوړو؟ ځوان ځواب ورکوي: تاسو د خراطۍ او برادې يو ورکشاپ ته اړتيا لرئ تر څو نوې ستن درته جوړه کړي. ابراهيم د هغه شکريه ادا کوي او روانيږي ځکه د دې ستونزې حل اسان دی. د حسن يو ورکشاپ دی چې هغه دا کار کولی شي. هغه د حسن ورکشاپ ته ورځي، ټوپک پټوي او د هغه مطلوبه برخه له ځان سره وړي او له ډير کوښښ نه وروسته يوه متبادله ستن تياروي. هغه د ازمايښت لپاره وړي او دا ثابتيږي چې دا ټوپک لا هم په مکمل ډول مناسب نه دی، اوس ډير ناوخته شوی ؤ او دوباره ورکشاپ ته تګ شک پيدا کولی شي او د ستونزو لامل کيږي نو ځکه به راتلونکې ورځې ته انتظار کوي.

راتلونکې ورخ بیا کوښښ کیږي. ازمویل کیږي او ترمیم ته اړتیا پیښیږي او په همدې توګه له ورکشاپ نه د ازمایښت ځای ته ځو ځله تګ او راتګ کیږي تر دې پورې چې توپک د استعمال وړ ګرځي. خو یوه نوې ستونزه پیدا کیږي هغه دا چې شته مرمۍ د تربیت او یا عملیاتو لپاره کفایت نکوي او دا یوازینی توپک دی چې په مختلفو ګروپونو کې په مختلفو سیمو کې ګرځي راګرځي. د ابراهیم سره موجودې یوازینۍ تومانچې سره دوه ځوانان روانیږي. یو پیجو (۴۰۴) موټر چلوي چې په دې سیمه کې عام دي او دوهم کس له هغه سره کیني. هغوی د غزې په منځنۍ سیمه کې د لویدیځ په خوا دیر البلح ته نږدې ځي چې هلته د کفاردا روم په نوم یو کلی دی. د یو لوی زورواکی موټر ويني چې د کلي د زرعي سیمو څخه لیدنه کوي. هغه یوې اشارې ته ودریږي او ځوانان نږدې ورځي. تقریباً په دیرش سانتي متره فاصلې باندې د هغه ملګری په هغه سرې باندې ډز کوي. هغه په سر لګیږي او ځای پر ځای مړ کیږي او موټر بیا روانیږي. بل طرفته په لسګونو فوځي جیپونه سیمه محاصره کوي خو هغوی ته دا احساس نه کیږي چې تورن کسان څو شیبې وړاندې د دوی له مابین څخه وتلي دي.

ابراهیم او د هغه ملګري هر وخت د یو داسې خبر انتظار باسي چې معلومه شي چې له چا سره وسله شته یا ورسره وه. اګر که ډیره پخوانۍ هم وي. هغوی ته خبر رسیږي چې له یو سپین ږیري سره یو کارلوګستاف توپک دی او هغه د اسرائیلي اشغال له ورځو څخه پټ کړی دی. هغوی سپین ږیري ته ورځي. هغه ته منت او زاری کوي. د هغه لاسونه او تندی ښکلوي او هغه ته د هر څو روپیو د ورکولو وړاندیز کوي خو هغه سرې انکار کوي چې له ما سره هیڅ شی هم نشته.

دوی له هغه نه بیرته روانیږي خو هغه یې بیا راغواړي. له دوی سره یوې نږدې باغچې ته ځي. د یوې ونې لاندې څمکه کیندي او د سیمنټو یو پایپ راوباسي چې له خاورو څخه ډک شوی دی. هغه پایپ له خاورو نه خالي کوي او یو شی

ترې راوباسي چې په پلاستيک کې پیچلی دی، هغه پلاستيک خيرې کوي او لاندې ترې د رخت يوه بوجی ده، هغه بوجی پورته کوي او لاندې ترې د رخت بوه ټوټه ده، هغه رخت پورته کوي او لاندې یو ټوپک دی چې يوه اوږده د رخت ټوټه يې پرې پیچلې ده او د زنګ کيدو نه د ساتلو لپاره يې غوړ کړی دی، سره له دې چې دوی ټول هر څه صفا کړل خو بيا هم معلوميده چې زنګ خپل اثرات پيل کړي وو خو اوس هم په ښه حالت کې دی... بالکل په بهترين حالت کې دی. ابراهيم چې ډير تنګ شوی ؤ سپين ږيري ته وايي: ته د دې په بدل کې څه غواړې بابا. ته څومره روپۍ غواړي؟ د سپين ږيري په سترګو کې اوښکې راځي او وايي: د دې قيمت ډير زيات دی. ابراهيم پوښتنه کوي: څومره قيمت يې دی؟ سپين ږيری وايي: چې دا د خدای په نوم د اشغال پر ضد استعمال شي. ځکه د دې د پټولو او استخباراتو ته د نه ورکولو قيمت ما خو مياشتې په تحقيق کې او يو کال په زندان کې تېر کړی دی. ابراهيم د هغه سر ښکلوي او ورته وايي چې د الله تعالی په حکم سره به همداسې کيږي. له هغه نه د دعا غوښتنه کوي او روانيږي. سپين ږيری د اسمان خوا ته ګوري. دعا کوي: يا الله د دوی مرسته وکړې او ګزارونه يې رسا وګرځوې.

د بارودو او چاوديدونکو توکو د لټون يوه نوې لړی پيل کيږي. له يو شخص څخه بل شخص ته چې هغه يې دريم شخص ته رسوي. بيا څلورم او پنځم ته. له شپږم شخص سره يو څو مرمۍ پيدا کيږي چې له لسو نه زياتې نه دي. له بل سره پنځه مرمۍ پيدا کيږي او په همدې توګه د نيم شاجور د ډکولو لپاره مرمۍ راټوليږي.

او بيا د وسلې د استعمال د ماهر د لټولو يوه بله لړی پيل کيږي. دا لړی په يو ځوان باندې ختميږي چې په نږدې ورځو کې په خارج هيواد کې له زده کړو نه راستون شوی دی او هلته يې يو تربيتي نظامي کورس هم کړی دی. هغه ځوانانو ته د تربيت ورکولو او په دې کې د ونډې اخيستلو لپاره خپل رضايت څرګند کړ.

له ابراهیم سره هغه راتلونکې ورځ په عمر مختار کوڅه کې د نامعلوم عسکر د
څلي سره ملاقات وکړ. ابراهیم یې له هغه ځای نه یو باغچې ته راوړي چې هلته
څلور ځوانان د تربیت لپاره منتظر ناست دي. هغه د دزو کولو مختلف هیڅتونه او
مربوطه خبرې ور زده کوي.

عماد کارلوگستاف ټوپک نیولی دی. هغه په خپلو لاسونو کې اړوي او له
خوښۍ نه په جامو کې نه ځاییږي. یو ځوان ورځي چې د لیمو په ونه باندې نښه
نصب کړي. عماد ټوپک ته مرمۍ ورتیروي. خو ډیرې مرمۍ د هغه له لاس سره
د نږدې خلکو په څنګ کې تیریږي چې د مرګ ژوبلې سبب جوړیدلی شوای.
له دې پیښې سره په چاپیریال کې انتشار او ګډوډي پیدا کیږي خو څه وخت
وروسته حالت نورمال کیږي او ځوانان له زیات احتیاط سره خپل تربیت ته دوام
ورکوي. هر یوه ته فقط د یوې مرمۍ د استعمال اجازه وه ځکه مرمۍ کمې وې
او ډیرې مرمۍ ضایع شوې وې. خو هیڅ خبره نشته، عملي تربیت به په میدان
کې کیږي. اوس به یو ګروپ له چاقو ګانو سره ځي او له یوه تن سره به د بیړنیو
حالاتو لپاره ټوپک وي چې په هغه سره به په عملیاتو کې یو لوی بدلون راځي.
څو ځوانان په ناخون ګیر سره د اورلګیت سرونه قطع کوي او په یو قوطي کې
یې جمع کوي او یو بل ځوان یو نوی د اوسپنې قوطی تیاروي او هغه په ټکړو او
کوچنیو برخو بدلوي چې د چاودنې په وخت کې په اسانۍ سره خواره شي. هغه
دا قوطي د اورلګیت له سرونو څخه ډکوي او په هغه کې د تنګستن تار اچوي
چې هغه یې له یوه برقي څراغ څخه ویستلی ؤ او د هغه شیشه یې په احتیاط سره
ماته کړې وه. د هغه تار دواړه سرونه یې راویاسل او د یو بل تار په واسطه یې سره
وتړل.

یادونه: د تنګستن تار په عمومي ډول په څراغونو او نورو برقي الاتو کې
استعمالیږي. تنګستن یو تار دی چې د مضبوط کیدو او په زیات حرارت کې د
نه ویلو کیدو له امله مشهور دی. دا تار په څراغ کې د دنه استعمالیږي ځکه دا په

زيات حرارت کې هم نه ويلي کيږي او د رڼا پيدا کولو لپاره زيات ګرم کيږي. کله چې په څراغ کې برق تيريږي نو تنګستن تار ګرميږي او سپينه رڼا پيدا کوي. دا عمل «فلامنټ» بلل کيږي او دا د څراغ د روښانه کيدلو اساسي اصول دي.

... نورو ځوانانو ټايرونه سوځول او د چاوديدونکو توکو له ځای نه يې ځو متره ليرې موانع کيښودلي و[و. کله چې د ګزمې موټر راورسيدل نو په هغوی د ډبرو باران جوړ شو او له موټرو نه په دوی ډزې پيل شوې او لاريون کوونکي شاته شول. کله چې موټر د چاوديدونکو توکو ځای ته ورسيدل نو عماد تارونه له بيټرۍ سره وصل کړل. يوه زوروره چاودنه وشوه. له موټر نه لوګي پورته شول او د فوځيانو چيغې پورته شوې. ځوانان له سيمې ووتل او په لوی ښهر کې کومک او ايمبولانسونه د ټپيانو د ليږدولو لپاره راغلل چې هغوی د فرياد چيغې وهلې.

درويشتم څپرکی

د ابراهيم او مريم د لور اسراء دنيا ته د سترګو غړولو له اوائلو نه وروسته ما وليدل چې زما مور له هغې سره ځانګړې مينه کوي او خاصه پاملرنه يې کوي چې د محمود او حسن د اولاد په نسبت څو ځله زياته وه. زه نه پوهيدوم چې د دې خاص محبت علت څه دی؟ شايد دا د ابراهيم لپاره يو ځانګړې عاطفيت وي چې هغه زموږ مور په خپله غيږ کې روزلی دی تر څو زموږ په څنګ يې پرورش وشي. همدارنګه په دې وجه به يې هم د هغه له لور سره مينه وي چې هغه يې د لور .لور ده او د نورو لمسيانو په نسبت يې زياته مينه ترلاسه کړې وي. ګويا که اسراء د دوو محبتونو حقداره ګرځيدلې وي؛ يو د خپل زوی (ابراهيم) د مينې له امله او دوهم د خپلې لور د اولاد کيدو له امله. که ريښتيا ووايم نو که څيرته ما د ابراهيم لپاره خاص مينه او احترام نه درلودلی او دا يقين مې نه درلودلی چې هغه د دې مينې حقدار دی نو ما به له هغه سره زموږ د مور په دومره مينه حرص او حسد کړی وای حال دا چې هغه يې زما په څنګ خپل زوی نه ؤ. هغه به يې په ماشومتوب کې اکثره وخت په غيږ کې واخيست. له هغه سره به يې لوبې کولې

او هغه (للو، للو.) سندرې به يې ورته ويلې چې مېندې يې د خپلو بچيانو د ويده کولو لپاره وايي تر څو هغه ويده شي او يا ژړا بنده کړي. هغې به ډيری وخت دا سندرې ورته ويلې:
هاتي منديلي يا واقفة على الباب... هاتي منديلي، لا رجع عابلادي يا واقفة على الباب...لا رجع عابلادي و اشوف حبابي يا واقف على الباب.. و اشوف حبابي.
هغې به په دې وزن او طرز سره په بديهي توګه دا سندره زمزمه کوله خو له ابراهيم سره له واقعې نه وروسته هغې په خپله سندره کې د «منديلي» په ځای «بارودي» ويل پيل کړل او هميشه به يې داسې زمزمه کوله:
هاتي البارودي يا واقفة على الباب... هاتي البارودي، احرر بلادي يا واقفة على الباب... احرر بلادي يا عز احبابي يا واقفة على الباب... يا عز احبابي.
ماته زما د مور سندرو ډېر خوند راکاوه او دا مې محسوسوله چې هغه د دې سندرو په واسطه خپل او زموږ اميدونه او خوبونه بيانوي. ما به اکثره دوهم منزل ته د ختلو لپاره يوه بهانه جوړه کړه او اسراء به مې زموږ مور ته راوړله تر څو هغه ورته سندرې ووايي او زه يې واورم او الفاظ يې زما روح لمس کړي، ما به په کوم کار کې ځان مشغول څرګند کړ او يا به مې کتاب لوست.
ابراهيم د عماد په شمول له يو څو ځوانانو سره ناست ؤ او هغوی د شجاعيه په ختيځ کې د ميوو او سبزيو د بسته بندي کولو په يوه فابريکه باندې د بريد کولو پلانونه جوړول، هلته په لسګونو عربو مزدورانو د اسرائيلي مالکانو ما تحت کار کاوه چې هغوی ځانونه په امن او سکون کې ګڼل.
ځوانان په سپين رنګه پيجو (۵۰۴) موټر کې روان شول، په هغوی کې له يوه سره کارلوستاف ټوپک ؤ چې د هغه په شاجور کې يو څو مرمۍ وې او له دوو سره کماندويي چړې وې او څلورم نفر موټر چلاوه چې دوی يې د شجاعيه په طرف بيول. دشجاعيه نه په تيريدو سره دوی د يوې فابريکې دروازې ته ورسيدل، د نه يو لوی ځای چې ؤ چې له مزدورانو او سامان ډکه ډک ؤ. موټر د چاپې وهلو

په څېر ناڅاپه ودرید، دریو کسانو ترې توپونه واچول، یوه تن توپک پورته کړ او عربو مزدورانو ته یې وویل چې په خپلو ځایونو ودریږي او هېڅ مداخله ونکړي او هغوی ته یې چیغې وهلې چې د هغه خبره ومني. نورو کسانو په یهودیانو له چړو سره حمله وکړه، هغوی چیغې وهلې او د رحم کولو غوښتنه یې کوله. عملیات په دریو دقیقو کې پای ته ورسیدل، هغوی خپل موټر ته وختل او په تېزۍ سره روان شول. یوه شیبه وروسته په لوی شمېر کې فوځیان راورسیدل، د سیمې تالاشي یې پیل کړه او د موجودو خلکو نه یې تحقیقات پیل کړل. یو څو ساعته وروسته یوه اعلامیه خپره شوه او په هغه کې ویل شوي وو چې دا برید د اسرائیلو د نوي لوی درستیز «یهود باراک» د ټاکلو په خوښۍ کې یوه ډالۍ وه.

څو ورځې وروسته ابراهیم ته نوي معلومات حاصل شول چې یو یهودي د شمالي غزې په زراعتي ځمکه کې د سبزي اخیستلو لپاره راځي. د دې خبر له تصدیق نه وروسته هماغه گروپ د هغه د هدف گرځولو په موخه د مکمل وسلو کارلوستاف توپک او تومانچې سره روانیږي او د هغه د راتگ انتظار کوي. هغه په سړک ودریږي او د کروندگرو انتظار کوي تر څو له هغوی نه ارزانه سبزي واخلي، یوه ځوان د هغه خوا ته ورځي او هغه ته د کوهین په نوم غږ کوي او هغه په کمزورې عربي کې ځواب ورکوي: «هو» نو هغه په سر باندې درې مرمۍ ولي او کار یې خلاصوي. ځوانان موټر ته خیژي او له هغه ځایه روانیږي. له یو څه مزل وروسته په لاره کې د دوی په مخالف سمت په لسگونو فوځي موټر په تېز رفتار کې د پېښې ځای ته ځان رسوي. په همدې شکل نورې پېښې رامنځته کیږي او خبرونه یې د هیواد ټېي برخو ته رسیږي، او د خلکو هجوم کتائب عزالدین (د عز الدین په نوم قطعې) ته سلامونه کوي.

اسرائیلي مشران په لیونتوب اخته کیږي او غونډه کوي څکه دوی د درنو ځاني تلفاتو سره مخ شول او دې کار هغوی لیوني کړي وو. هر یو په خپل ماتحت باندې چیغې وهي چې د دې خلکو نیول یا وژل ضروري دي او دا پروسه باید

بنده شي. د سیمې د نوعیت او د جنګ دُ نوعیت له امله دا ټول مسؤلیت استخباراتو ته راجع کیده او هغوی باید په خلکو کې د دې ځوانانو لټون داسې وکړي لکه څوک چې یوه ستن د بوسو په ډیری کې لټوي. هغوی خپل جاسوسان په حرکت راولي او هغوی ته هدایت کوي چې هغوی ته د رسیده ګۍ لپاره یوه لاره ولټوي.

په لسګونو د فوځیانو نه ډک موټر په تېزي سره د غزې ښار صبرا کوځې ته رسیږي. یو کور محاصره کوي. د سیمې خلک راوباسي او د لاوډسپیکر په واسطه په کور کې موجودو خلکو ته د بهر راوتلو اعلانونه کوي او یو هلیکوپټر له پاسه پروازنه پرې کوي. په کور کې د نه درې ځوانان چې فوځ ته مطلوب دي؛ په یو وطاق کې غلي ناست دي او په باقي کور کې یوه فلسطیني کورنۍ خپل ورځنی ژوند تیروي. د کور څښتن په منډه هغوی ته ورځي او ورته وايي: څه کول پکار دي؟ یو ځوان ځواب ورکوي: تاسو له کور نه بهر لاړ شئ او دا کار موږ ته پریږدئ. سړی ورته وايي: موږ څنګه بهر لاړ شو او تاسو دلته پریږدو؟ درې واړه ځوانانو وخندل او یوه ورته وویل: زموږ په هکله فکر مکوه. هر یوه په لاس کې یو بم نیولی ؤ چې دوی د پایو له اوسپنې څخه جوړ کړي وو. او د اورلګیت له سرونو څخه یې ډک کړي وو او د یوه تن په لاس کې تومانچه هم وه: تاسو بهر لاړ شئ تر څو زنانه وو او ماشومانو ته تاوان ونه رسیږي، دا کار موږ ته پریږدئ او هغوی سړی په دیکه کولو بهر کړ. سړی بهر لاړ او خپل ماشومان او زنانه یې له کوره بهر کړل او د هغه په ژبه دا دعا جاري وه: اللهم لا حول ولا قوة الا بالله، و جعلنا من بین ایدیهم سداً و من خلفهم سداً فاغشینهم فهم لا یبصرون. کله چې هغوی له کوره ووتل نو فوځیانو ونیول. هغوی ته یې ټوپک په نښه کړل، لویان یې د تحقیق لپاره نږدې راوبلل او ماشومان یې بل ځای ودرول. په کور د ننه ځوانانو خپل ځایونه ونیول. یوه تومانچه نیولې وه او نورو دوو کسانو په لاسونو کې د اورلګیت بمونه او

سیګریټ لیتر نیولي وو او د حملې انتظار یې کاوه. بهر په لسګونو مسلحو فوځیانو په کور باندې د برید چمتووالی نیوه. هغوی په زور دروازه خلاصه کړه او لومړی فوځي د ننه داخل شو. یوه ځوان خپل بم ته اور ورکړ او دروازې ته یې وشاړه چې هغه په زور سره وچاودیده. د فوځیانو د چیغو غږونه پورته شول او ځوک چې له ټپي کیدو خلاص شول هغوی شاته شول او د ټپیانو چیغې پورته شوې، بیا دوی دوباره حمله وکړه او د سختو ډزو په شور کې یې ټپیان بهر وویستل او له سختو ډزو سره بیا کور ته داخل شول، بیا ډزې ودریدې او فقط د یوې مرمۍ غږ راغی چې هغه د تومانچې مرمۍ وه چې یو فوځي پرې ووژل شو او له دې سره د لسګونو فوځیانو ټوپکو ډزې پیل کړې، د دوهم بم د چاودنې غږ واوریدل شو، چیغې جوړې شوې او بیا د ډزو غږونه پورته شول. څه وخت وروسته فوځیان بهر راووتل، خپل ټپیان یې پورته کړل، بیا یې شهیدان راوباسل او د کور ښښتن یې ونیوه.

له دې نه وروسته سپین رنګه پیجو (۵۰۴) موټر په تېزۍ سره د اسرائیلي پولیسو د مرکز دروازې ته ورځي، یو بم ور غورځوي، په کارلوستاف ټوپک او تومانچې سره ډزې پرې کوي. ساتونکي چیغې وهي او بیا په موټر باندې د شا لخوا ډزې کوي.

اشغالګرو فوځیانو او استخباراتو د مجاهدینو د نیولو فعالیتونه تېز کړل او د قتل او لوټ کولو په یوه بله لړۍ کې یې کامیابي ترلاسه کړه. په دې کې هیڅ شک نه ؤ چې په دومره لویه سطحه فعالیتونه له استخباراتو سره تړاو لري او د هغه زیات بوج په جاسوسانو باندې ؤ. د ټولو هغو خلکو نیول پیل شول چې د ترور په پیښو کې یې لاس درلود. یا شکمن وو او یا یې د مجاهدینو مرسته کوله. اشغالګرو به یوه کوڅه محاصره کړه تر څو په یو کور چاپه واچوي چې هلته به مجاهدین پټ شوي وو. یا به د دوی یوې قطعې په باغونو او کوڅو کې کمین نیولی وو تر څو

یو مجاهد ووینې او شهید یې کړي. دا معلومه شوه چې د وسلو له کمبود او د اشغالګرو د تعقیب له امله حالات په هغه طریقه مخې ته نشي تللی.
په یوه ملاقات کې چې ابراهیم او ځینې مجاهدین پکې شامل وو؛ یو وړاندیز وشو چې څوک هم تللی شي نو هغه دې مصر ته ولاړ شي ځکه په هیواد کې اوسیدل له ځان وژنې سره مساوي دي. ابراهیم او زیاترو موجودو کسانو له دې وړاندیز سره مخالفت څرګند کړ چې هغوی دې اشغال شوې خاوره پرېږدي. له زیات فشار نه وروسته ابراهیم وړاندیز وکړ چې زیاتره خلک باید لویدیځې غاړې ته لاړ شي، هلته دوی خپلو فعالیتونو ته دوام ورکولی شي، ارام کولی شي او بیرته غزې ته راتللی شي، هلته اسلحه هم لټولی شي او کیدای شي چې هلته د غزې په نسبت زیاته وسله پیدا شي. د ځینو خلکو مصر ته د تګ په ټینګار سره دوی وویل چې که څوک هلته د تللو خواهش لري او لارې اسانه وي نو هغوی تللی شي. د ځینو مجاهدینو لپاره جعلي هویت کارډونه چمتو شول چې هغوی به له غزې څخه لویدیځې غاړې ته د تګ په مهال کارول، اته مشهور او اشغالګرو ته مطلوب افراد د رام الله سیمې ته ولاړل، هلته د پوهنتونونو او کالجونو محصلینو له هغوی سره مرسته وکړه. هغوی خپل ځانونه د پوهنتون محصلین څرګندول او یو اپارتمان یې په کرایه ونیوه تر څو د هغوی هلته اوسیدل د چا شک پیدا نکړي. ځینو خلکو مصر ته د تګ او له سرحد نه د تیریدلو هڅه کوله چې هلته به دوی د ۱۹۴۸ اشغال شویو سیمو ته قاچاک کیدل او هلته به یو کوچي هغوی ته رهبري کوله او د ختیځ طرفته د نقب صحرا ته به یې بیول چې هلته د مصر په سرحد باندې سخت امنیت نیول شوی دی او هلته به دوی مصر ته قاچاق کیدل. ځینې خلک مصر ته په داخلیدو بریالي شول چې هلته د مصر امنیتي ځواکونو هغوی ونیول او زندان ته یې یوړل او څه وخت وروسته یې په دې شرط پریښودل چې هغوی به له مصر نه وزي، او هغوی سوډان ته لاړل.

کوم خلک چې لویدیځې غاړې ته ورسیدل هغوی د محصلینو په مرسته له مجاهدینو سره د تماسونو هڅه پیل کړه، عماد، بشار او محمد د الخلیل پوهنتون له ځینو مشهورو محصلینو سره ملاقات وکړ چې هغوی به د جمال، عبدالرحمن، یوسف، یعقوب او عابد په درسي حلقو کې کیناستل. دې خلکو په جنوب لویدیځه غاړه کې د وسلوال مقاومت چمتووالی نیوه، عماد په لومړي ملاقات کې پوښتنه وکړه: ایا دلته وسله شته؟ ځوانانو په خندا سره ځواب ورکړ: د وسلو ستونزه نشته، عماد په زور ورکولو سره وویل: نو موږ ته یې سمدستي راکړئ کنه! یوه ځوان په خندا ورته وویل: صبر، صبر ستاسو د غزې د خلکو وینه ډیره ګرمه ده.

د کمپ ځوانان به په رام الله یا الخلیل کې د سړکونو په غاړه حیران ګرځیدل چې دلته د ډېرو ښایسته کورونه د محلونو په څېر دي، یوه وویل: الله اکبر، د دې کور په زینت کې لګیدلي ډېرې زموږ کمپ ته د شپږو میاشتو ډوډۍ ورکولی شي. یعقوب په خندا وایي: د دې ځای خلک په ډیر ښه حالت کې دي او اقتصادي حالت یې ډیر ښه دی.

یو تور (۱۹۹۲ ماډل) مرسیډیز موټر تیریږي، عماد د هغه طرفته ګوري خو موټروان یې نه ویني ځکه هغه یو وړوکی هلک دی چې د سټیرینګ شاته ناست دی، عماد پوښتنه کوي: د دې هلک پلار څنګه هغه ته د یوازې موټر چلولو اجازه ورکوي؟ یعقوب په خندا ورته وایي: دا د هغه د پلار نه دی بلکې د دې هلک خپل موټر دی. عماد وایي: الله اکبر، د دې موټر په قیمت باندې موږ لس کلاشینکوفونه اخیستلی شو او دنیا په بل مخ اړولی شو. یعقوب ورته وایي: دلته په لسګونو میلیونران خلک شته چې هغوی ته د خپل دولت حساب هم نه دی معلوم. عماد وایي: کاش چې په هغوی کې موږ له ځینو خلکو نه روپۍ اخیستلې وای او وسله مو پرې اخیستې وای. یعقوب خاندي: ستا فکر هر وخت د وسلو په اخیستلو کې وي. عماد ځواب ورکوي: تاته معلومات نشته چې زموږ

له ورونو سره څه وشول. کله چې اشغالګرو په هغوی حمله وکړه نو له هغوی سره وسله نه وه تر څو ځانونه وساتي، په الله قسم که له هغوی سره یو ټوپک هم موجود وای نو هغوی به له شهادت وړاندې په لسګونو اشغالګر وژلي وای.

د حرم ابراهیمي شریف په دروزاه څو ورځې وروسته دوه اشغالګر فوځیان ودریږي چې د هغه ځای او د راتلونکو زورواکو ساتنه وکړي. د عماد او یعقوب هر یوه سره اتوماتیک ټوپکونه دي، هغوی په دواړو فوځیانو ډزې کوي او هغوی وژني، بیا غلي وروسته کیږي او پنا کیږي. فوځي کومک راځي او په ښار کې تر څو ورځو پورې ګرځبندیز لګیږي.

څو ورځې وروسته ځینې ځوانان په خپل موټر کې سپریږي چې په هغوی کې عماد هم شامل دی او له دوی سره څو دانې ټوپکونه هم دي چې دوی له ځینو وسله فروشانو څخه اخیستي وو او هغوی بیا له یهودي فوځیانو څخه اخیستي وو. هغوی د کوم زورواکي یا کوم فوځي د موټر په لټون کې له ښار نه په بهر سړک ولاړ دي تر څو په هغه ډزې وکړي. ناڅاپه یو فوځي جیپ د دوی په مخالف طرف راځي، د جیپ موټروان موټر بیرته ګرځوي او ښار ته داخلیږي. هغوی یې تعقیبوي او په تېزي سره په جیب پسې شاته ځي . کله چې له جیپ سره برابریږي نو د دریو ټوپکو په ډزو سره په جیپ کې ناست ټول فوځیان وژني.

په یوه بله پیښه کې د یو فوځي افسر موټرویني، په هغه ډزې کوي چې له امله یې موټر چپه کیږي او پکې موجود فوځي یا مړ کیږي او یا ټپي کیږي.

له څو کلونو ژور خوب وروسته د الخلیل په ښار کې یو اور راپورته کیږي او د فوځیانو لپاره اغزی ګرځي. په ښار کې د شپنیو نیولو لړۍ پیل کیږي او ځوانان زندانونو او اداري توقیفونو ته اچول کیږي. عماد او د هغه یو څو نور ملګري چې د اشغالګرو فوځیانو لپاره نامعلوم دي؛ بیرته غزې ته راستنیږي او له هغوی سره یو اتوماتیک ټوپک او څو مرمۍ دي، بیا یو بل ځوان الخلیل ته ځي او له

هغه ځایه له یو بل ټوپک سره راځي. اوس په غزه کې ریښتونی جنګ شروع کېدلی شي، ابراهیم ځوانان د اسرائیلي اهدافو د څارنې لپاره استوي او هغه ته خبر رسیږي چې یو فوځي جیپ د الشجاعیه په ختیځ کې په عمومي سړک ګزمه کوي چې په هغه سړک باندې په زرګونو مزدوران د اسرائیلو داخل ته د کار لپاره ځي، د ګزمې دا جیپ د سهار له اذان مخکې په دې لاره باندې ځي، په جیپ کې درې فوځیان وي چې یو یې موټروان . دوهم د ماشیندارې شاته ناست وي او دریم د یو قوي لاسي څراغ شاته ناست وي او د مزدورانو او موټروانانو په سترګو رڼا اچوي او د لارې او څنډو تالاشي اخلي. په دې جیپ پسې له شا یو سپین رنګه پیجو (۴۰۴) موټر روانیږي چې په هغه کې درې ځوانان ناست دي. یو موټروان او بل عماد او جمیل دي، د دواړو په لاسونو کې اتوماتیک ټوپکونه دي، کله چې پیجو موټر له جیپ سره برابریږي نو دواړه د ټوپکو په ډزو سره درې واړه فوځیان وژني او د هغوی جیپ د سړک له څنډې سره لګیږي. مجاهدین په اسانۍ او ارام سره بیرته ستنیږي ځکه هغوی وار له مخه د بیرته تګ لاره جوړه کړې ده. فوځیان راځي، سیمه محاصره کوي. خلک نیول کیږي. تحقیقات کیږي او راتلونکې ورځ د دښمن مطبوعات د یوې داسې بې مثاله زړورتیا په هکله خبرې کوي او د هغو فوځیانو په هکله لیکنې کوي چې په غزه کې د روزنیرو اسکلیټونو په څېر ناست دي.

څو ورځې وروسته مجاهدین د یو نوي هدف په لورې ووتل او په یوه اسرائیلي بس چې د رفح له مصري سرحد څخه به یې واپس مزدوران راوړل؛ ډزې وکړې. څو ورځې وروسته یې په یو بل فوځي جیپ ډزې وکړې. ګرځبندیز اعلان شو. خلک ونیول شول او څیړنې پیل شوې خو هیڅ ګټه یې ونکړه او د ګرځبندیز ختمیدو په لومړۍ ورځ مجاهدینو یو هدف په نظر کې واخیست او په هغه یې ډزې وکړې. اسرائیلي تحلیلګرو به ویل چې غزه د اسرائیلو په سر کې یو تور سوروی ګرځیدلی دی او ځینو سیاسیونو په جرائت کولو سره ویل چې له غزې

څخه باید اسرائیل بلا شرط او قیده ووځي، هلته ځایونه خالي کړي او له غزې نه ګیر چاپیره دیوال تاو کړي او غزه باید په خپل حال پرېږدي.
مجاهدین په خپل موټر کې د غزې په عمر مختار سړک روان وو. او داسې ښکاریده چې د سرحدي ځواکونو دوه موټر دوی تعقیبوي. عماد موټروان ته وویل چې له سړک نه وغړیږي او د وحدت کوڅې په خوا روان شي. د سرحدي ځواکونو موټر جلا جلا شول، یو وروسته پاتې شو او بل د موټر سره شاوخوا روان ؤ او دا معلومه شوه چې دا یو پلان شوی تعقیب دی. موټروان وارخطا شو او د موټر ټایرونه له پیاده رو سره وجنګېدل، د سرحدي ځواکونو موټر څو متره لیرې ودرید، دوه عسکر ګوته په ماشه راښکته شول او په موټر کې ناستو خلکو ته یې وویل چې لاسونه پورته کړي او بهر راووځي. عماد په مخکې څوکۍ ناست ؤ، هغه سمدستي ټوپک راواخیست او د موټر له وروستۍ شیشې نه یې په عسکرو او جیپ ډزې پیل کړې او ورسره دوو نورو کسانو هم ډزې پیل کړې، د ډزو له ودریدو وروسته موټروان بیا موټر روان کړ او مجاهدین په یقیني توګه له مرګه خلاص شول.
درې تنه مجاهدین د شپې په تروږمۍ کې له ټوپکو سره په نرم او سوړ ریګ باندې په ارام تګ سره د خان یونس په شمال کې پروت مستوطنت (عنمي طال) ته نږدې ورسیدل، او له سهار نه وړاندې یې په ریګ کې کیندل پیل کړل، د اغزن تارونو لاندې په کښېدلو سره په شنو زراعتي ځمکو کې پټ شول. څو دقیقې وروسته یو فوځي جیپ د مستوطنت د څارنې لپاره راښکاره شو چې له پاسه پرې د برق یو څراغ نصب شوی ؤ. څنګه چې جیپ دوی ته راورسیده نو دوی پرې مرمۍ ویشتل پیل کړل، موټر څو متره وروسته ودریده، او بیا ځوانانو د هغوی وسله غنیمت کړه او له دې ځایه ووتل او هغوی ته په منتظر موټر کې سپاره شول. د اشغال شوي یروشلم د شاوخوا سیمو څلور ځوانان سره ویني او د یو ځانګړي عمل لپاره پلان جوړوي. هغوی خپلو موټرو ته خیژي او له ځان سره

سپینې وسلې او رسی وړي او له سهار مخکې اشغال شوي ښار «لد» ته روانیږي.
د سرحدي ځواکونو یو عسکر له خپل کوز ځخه د خپل فوځي کمپ په خوا د سړک په غاړه روان دی. موټروان موټر تېزوي او په لړ غړولو سره عسکر د موټر په مخې حصه باندې وهي او هغه په ځمکه غورځي، نور کسان له موټر نه ښکته کیږي او هغه عسکر موټر ته راپورته کوي او پټوي یې، موټر ګل کوي او د خپل مقصد په طرف روانیږي. هغوی د سره صلیب په بین المللي دفتر کې یو پیغام پریږدي چې د اسرائیلي حکومت لپاره یو مطبوعاتي اعلامیه ګرځي چې په هغه اعلامیه کې هغوی د شیخ احمد یاسین او نورو بندیانو د خلاصون لپاره څلورویشت ساعته مهلت ورکوي او د هغه په بدل کې به هغوی نیول شوی عسکر «تسیم طولیدانو» د اروپایي ډیپلوماتانو په ضمانت سره ازادوي.
د اسرائیلو د صدر اسحاق رابین، د فوځ او استخباراتو د مشرانو لیونتوب سر ته خیژي ، هغوی په زرګونو عسکر د تالاشي او د تلونکو او راتلونکو کسانو د پلټلو لپاره ګمارې. څلورویشت ساعته د اسرائیلو حکومت بغیر له څه لاسته راوړنو تیریږي، نو ځوانان هغه عسکر وژني او د هغه جسد په نږدې دره کې غورځوي تر څو رابین پوه شي چې که دوی اخطار ورکوي نو هغه ته عملي جامه هم وراغوستلی شي. د اسرائیلو حکومت یوه غونډه رابلي چې په هغه کې لوړپوړي فوځي او امنیتي کسان شتون لري تر څو په موجود خطرناک امنیتي حالت باندې خبرې اترې وکړي ځکه فدایي حملې زیاتیږي او د هغوی ځاني تاوانونه ورځ تر بلې دوه چنده کیږي، هغوی خبرې کوي، مشورې کوي او وړاندیزونه کوي.
د شپې په تیاره کې د لویدیځې غاړې او غزې تړانګې په هر ښار، کلي او کوڅه کې په زرګونو افسران او د استخباراتو کارمندان او په لسګونو زره فوځیان . په سلګونو موټرو او بسونو سره په پراخه کچه د نیولو لړۍ پیل کوي چې له مخې یې د اسلامي غورځنګ حماس او جهاد اسلامي ټول کارمندان نیول کیږي.
څلور سوه پنځلس کسان په تړلو سترګو او ولچک شویو لاسونو سره بسونو ته

خیژول کیږي او بسونه هغوی د شمال په طرف په پرله پسې مزل کولو سره د لبنان سرحد ته رسوي، هلته به هغوی د لبناني فوځ ترکونو ته ورپورته کوي او دوباره به د جنوبي لبنان داخلي سیمو ته وړل کیږي، تر دې پورې چې دوی صفري نقطې ته رسیږي، هغوی په سرحد باندې ښکته کوي او مخته د تګ حکم ورته کیږي او که سرغړونه وشي نو په ډزو سره به ووژل شي، ټول خلک د سړک په بله غاړه ودریږي او پریکړه کوي چې له دې ځایه به خپلو کورونو ته له ستنیدو بغیر بل چیرته نه ځي ځکه هغوی پوه شول چې دا د ټولنیزې جلا وطنۍ یوه لړۍ ده. هغوی هلته د یخ، باران او لوږې سره کیني ، د مطبوعاتو او سیاست جنګ پیلوي تر څو په اسرائیلو فشار راوړي چې هغوی بیرته خپل هیواد ته ولیږدوي. د وخت په تیریدو سره د لبنان خلک، تنظیمونه او مدني فعالان د دوی د ملاتړ او د ارتیاوو پوره کولو لپاره راغونډیږي تر څو دوی بیرته وطن ته ستانه شي.

زما ورور حسن هم په دې خلکو کې شامل ؤ، هغوی د ابراهیم د جلا وطنۍ څخه هم کوله خو هغه په کور کې موجود نه ؤ نو ځکه هغه خلاص شو. څو ورځې وروسته په مرج الزهور لبنان کې د جلا وطنه کړلی شویو خلکو په اړه د فلسطین په هر کور او هر مجلس کې خبرې پیل شوې، سمدستي د مجاهدینو نویو ګروپونو د فدایي بریدونو تابیا ونیوله تر څو د اسرائیلو حکومت ته د هغوی د پلانونو د ناکامۍ ثبوت ورکړي او دا چې مجاهدین اوس هم د هیواد په کوڅو کې ګرځي راګرځي.

عماد او د هغه ملګري د ختیځ سړک په خوا ووتل چې په هغه باندې اسرائیلي موټر تګ راتګ کوي، هغوی په خپل ټوپکو سره په یو اسرائیلي افسر ډزې وکړې چې هغه په خپل موټر کې سفر کاوه او موټر یې د سړک په غاړه پریښود، وروسته یو اسرائیلي بس چې یو څو متره لیرې ودریده؛ هغوی ورته د یو ټوپک خالي شاجور پریښود چې په هغه کې یې د رابین لپاره یو خط لیکلی ؤ چې په

هغه کې يې د نورو فدايي بريدونو اخطار ورکړی وو او دا يې څرګنده کړې وه چې ستاسو د پاليسيو له امله به مقاومت نور هم زياتيږي.

په شمال لويديځه غاړه کې ځينې ځوانان چې اشغالګر فوځ يې د نيولو هڅه کوله خو هغوی په تيښته او غرونو کې په پټيدلو بريالي شوي وو؛ هغوی هم بيرته راستانه شول او د وسلې لټون يې پيل کړ، له ډير تکليف او همت نه وروسته يې يو څه وسله ترلاسه کړه او په يوه غرنۍ او سخته لاره کې يې کمين ونيوه چې هلته موټر په کم رفتار تګ کولو باندې مجبور وو، د برقين کلي ته نږدې يو فوځي موټر راغی، هغوی پرې ډزې وکړې،موټر له غره سره وجنګېده او په کې موجود فوځيان مړه شول او مجاهدين روغ رمټ بيرته ستانه شول.

په نابلس کې د نظارت يوه پوسته چې د يو لوړ اپارتمان په سر په غصب سره جوړه شوې وه، د دې پوستې څارنه تر ډير وخت پورې وشوه او دا معلومه شوه چې عسکر په کوم وخت کې بدليږي. درې ځوانان راځي او درې هغه عسکر چې په پوسته کې دي هغوی به راښکته کيږي او درې نور عسکر به پورته خيژي. درې ځوانان په اپارتمان کې له وسلو او چړو سره پټ شوي دي او د عسکرو د بدليدو انتظار کوي، د ګزمې موټر راغی او پخواني عسکر راښکته شول او موټر نه وختل. نوي عسکر په زينو باندې پورته ختل نو مجاهدينو پرې حمله وکړه او هغوی يې ووژل او وسله يې غنيمت کړه.

هغه خاص ګروپ چې ګوندا طوليدانو يې اختطاف کړی ؤ؛ له يروشلم څخه په خپل موټر کې د عوزي ټوپک او يوې تومانچې سره ووتل او له نيمې شپې وروسته د الخضيرة سره نږدې اشغال شوې سيمې ته داخل شول، د يو تن اسرائيلي پوليس موټر چې د څارنې لپاره د سړک په غاړه ولاړ ؤ. مجاهدين موټر ته ورنږدې شول او هلته ودريدل او په پوليس يې ډزې وکړې او د هغه په وژلو سره يې د هغه تومانچه غنيمت کړه او مجاهدين په ارام سره خپلو کورونو ته ستانه شول.

د مجاهدینو لاسته یو څه وسله راغله خو ډیره محدوده او له مطلوب مقدار نه ډیره کمه وه، مجاهدین د وسلې ترلاسه کولو لپاره د دنیا بل کونج ته هم د تلو لپاره اماده وو او په هر قیمت یې اخیستلو ته تیار وو. عماد ته معلومات وشول چې له یوه سړي سره کلاشنکوف ټوپک دی، هغه یو څوک د دې ټوپک د اخیستلو لپاره ور استوي، هغه سړي عماد پیژانده چې په فلسطین کې د جهاد او مقاومت یو نښان ګرځیدلی ؤ. هغه سمدستي د ټوپک په خرڅولو رضاء څرګنده کړه، بیرته په راستنیدو سره هغه شخص عماد ته وویل چې کلاشنکوف په هغه قیمت خرڅوي په کوم چې هغه اخیستی دی. بغیر له دې چې یوه پیسه هم زیاته واخلي او قیمت یې پنځه زره اردني دینار دی. دا روپۍ باید سمدستي ورکړل شي، ابراهیم خپلې میرمنې مریم ته ورغی او د هغې زیورات ترې پور اخلي او خپلې ټولې سپمول شوې روپۍ راجمع کوي، نور ملګري هم روپۍ راټولوي او هغه شخص ته یې ورکوي چې د ټوپک اخیستلو لپاره تللی دی، هغه له ټوپک سره بیرته راځي او مجاهدین داسې له یو بل سره غاړې وزي لکه ټوپک چې د دوی معشوقه وي. څو ورځې وروسته عماد له یو سړي سره ملاقات کوي چې هغه له فدایي عملیاتو تازه راستون شوی دی او کله چې فوځیان هغه او د هغه ملګري تعقیبوي نو عماد هغوی ته په خپل کور کې پناه ورکوي. د خبرو اترو په مهال هغه سړی کلاشنکوف پیژني او عماد ته وايي چې دا ټوپک هغه خرڅ کړی دی. د خبرو پر مهال عماد ته معلومیږي چې یا خو هغه کس چې د ټوپک په اخیستلو کې واسطه شوی ؤ د مجاهدینو یو نیم زر دینار غلا کړي دي او یا د ټوپک خرڅوونکي درواغ ویلي دي، هغه سمدستي خپل یو همکار د اخیستل شوي ټوپک واسطه شخص د راوستلو لپاره ولیږه، هغه واسطه شوی شخص یو وطاق ته راوغوښت او په لاس کې د چړې په خوځولو سره یې ترې پوښتنه وکړه: تا د ټوپک اخیستلو لپاره څومره روپۍ ورکړې؟ واسطه شخص په ځواب ورکولو کې زړه نازړه شو، عماد په زور سره ترې پوښتنه وکړه: څومره روپۍ دې ورکړې؟

واسطه شخص خواب ورنکړ نو عماد په چړې سره وواهه نو هغه وویل: درې زره پنځه سوه دینار! عماد پوښتنه ترې وکړه: نورې روپۍ دې څه کړلې؟ هغه ورته وویل: ما هغو روپیو ته اړتیا درلوده نو ځکه ما واخیستلې. حقیقت څرګند شو. د توپک خرڅونکي په څلور زره توپک اخیستی ؤ او کله چې هغه ته معلومه شوه چې توپک مجاهدین او په ځانګړې توګه عماد.اخلي نو هغه پنځه سوه تاوان قبول کړ او د جهاد او مجاهدینو سره د مینې له امله یې په درې زره پنځه سوه دیناره خرڅ کړ. او بیا واسطه شوي شخص د یو ساعت کار په بدل کې یو نیم زر دینار غلا کړل چې هغه د ماشومانو د شیدو قیمت ؤ چې والدینو له خپلو خولو څخه وسپمول او د جهاد لپاره یې ورکړل. هغه شخص څو چړې ووهل شو او په سختو الفاظو سره تهدید شو او دوه اونۍ وخت ورکړل شو چې روپۍ بیرته راوړي کنه نو څرمن به یې وویستل شي.
د مجاهدینو په هکله د تحقیق او د هغوی د تعقیبولو له امله مجاهدین مجبور شول چې وخت په وخت خپل د پټیدلو ځایونه بدل کړي. له همدې امله د خیني همکارانو به همدا وظیفه وه چې دغو مهاجرو مجاهدینو ته داسې کورونه ولټوي چې یوه شپه. یوه اونۍ یا یوه میاشت پکې تیرولی شي. د مجاهدینو یو همکار یو داسې ورور وموند چې دوی ته د پناه ورکولو لپاره اماده ؤ. دوی د هغه کور ته نقل شول چې د هغه د دریو ورونو له کور سره نږدې ؤ. هغه سړي د کورنۍ غړو ته په ډیر ټینګار سره وویل چې هیڅوک باید دلته د مجاهدینو په شتون پوه نشي ځکه دوی ته خطر پیښیدلی شي. له همدې کور څخه مجاهدین د عملیاتو لپاره ووتل او په یوه ګزمه یې د کمین په ترڅ کې حمله وکړه او بیا په خاموشي او چل ول سره بیرته همدې کور ته راغلل. د دوی له راتګ نه یو ساعت وروسته د دې کورنۍ مشر د خپل زوی کور ته راغی او په کور کې یې د نورو خلکو د شتون احساس وکړ. د مشر زوی د هغه په فکر پوه شو او سمدستي یې ورته وویل چې دا یو څو تنه میلمانه دي چې د یوې شیبې لپاره راغلي

دي، مشر کيناست او څو شيبې وروسته د هغه په شونډو مسکا راغله. هغه د خپلو بريتونو په تاوولو سره وويل: په ارام اوسئ ځوانانو! ستاسو حقيقت له ما څخه نشي پټيدلی، ځوانان وارخطار شول او بغير له څه ويلو يې يو بل ته کتل. مشر د هغوی د فکر د کمولو په پار ورته وويل: ستاسو له جامو څخه د بارودو بوی راځي، تاسو يو يا دوه ساعته وړاندې ډزې وکړې. ځوانان حک حيران شول او هر يو په خپل ځای غلی ناست ؤ او نه پوهيدل چې څه ووايي. مشر ورته وويل: شرميږئ مه! په الله قسم تاسو ټول ماته د دنيا له هر شي نه خوښ خلک یاست. بيا يې د عماد په طرف په کتلو سره وويل: ته به حتماً عماد يې؟ هغه زړور انسان چې د هغه په هکله ويل کيږي چې اووه ساه ګانې لري او دښمنان ترې لړزيږي. عماد د شرم له وجې په خولو کې ډوب شو او ويې ويل: هو! حاجي صيب زه عماد يم خو... مشر وويل: ټولو خلکو ستا د زړورتيا په هکله خبرې اوريدلې دي، الله دې ستا حفاظت وکړي، ارام اوسئ ځوانانو، ارام اوسئ! ځوانانو داسې محسوس کړه چې هر څه واضح شول او د مشر خبرو هغوی ته ډاډ ورکړ. عماد پوښتنه وکړه: خو حاجي صاحب ته څنګه زموږ په اړه پوه شوې؟ مشر په مسکا کولو سره وويل: چا چې د جهاد خوند څکلی وي او د جنګ په ميدان کې يې د بارودو خوشبويي بوی کړې وي هغه يې هڅکله نشي هيرولی، زموږ د هيواد له ضايع کيدو مخکې الله تعالی زه په دې شرف نازولی وم او ما ستاسو له جامو څخه د بارودو خوشبويي محسوس کړه. پکار وه چې تاسو سمدستي خپلې جامې بدلې کړې وای او د محمد ميرمنې ته مو د مينځلو لپاره ورکړې وای او د بيا لپاره همداسې کوئ. عماد په مسکا سره ترې وپوښتل: خو ته څنګه پوه شوې چې زه عماد يم؟ مشر ځواب ورکړ: ما ستا په هکله له ماشومانو څخه او په خبرونو کې اوريدلي دي او په خپل فکر کې مې د هغه مجاهد تصور جوړ کړی دی، کله چې مې تاسو وليدئ او د بارودو خوشبويي مې حس کړه نو ما ستا

سترګې وپېژندې، سترګې هیڅکله دروغ نه وایي عماد زویه! سترګې هیڅکله دروغ نه وایي.
په دې وخت کې محمد رانغوځي او وایي : داسې ویل کیږي چې د اشغالګرو فوځ کوځې ته رانږدې کیږي، مجاهدین په بیړه پورته کیږي او ورته وایي: زموږ وسله راوړئ تر څو موږ له دې ځایه ووځو! مشر ورته وایي: چیرته؟ چیرته؟ عماد ورته وایي: د دې لپاره چې ماشومانو او کور ته تاوان ونه رسیږي. د مشر رنګ نور شو او په چیغه یې ورته وویل: ایا ماشومان او کور ستاسو نه ډیر قیمتي دی؟ په الله قسم! تاسو به دې له ځایه نه وځئ، که ثابته شوه چې هغوی دلته راځي نو تاسو هر یو زما د څلورو زامنو کورونو ته وخیژئ او له هغو نه مورچې جوړ کړئ او موږ به هم درسره یو، د وسلې غورځولو څو سوچ هم مکوئ، په هغوی خپلې ټولې مرمۍ استعمال کړئ او بیا چې څنګه د الله تعالی خوښه وي هغسې به کیږي. عماد وویل: خو حاجي صاحب... مشر پرې غږ کړ: بس کړه عماده! په الله قسم چې تر څو زه ژوند یم تاسو به له دې کور څخه نه وځئ، موږ ته تراوسه پورې معلومه نه ده چې ایا هغوی په ریښتیا دلته راځي او که هسې ګزمه ده. کینئ کینئ! تر څو چې معلومات وشي. او بیا هغه په خپله د حالاتو د جاج لپاره بهر لاړ، مجاهدینو د مقابلې لپاره اماده ګي نیوله او حاجي صاحب په بیرته راستنیدو سره وویل: هغوی ولاړل او دا یوه د معمول ګزمه وه او له تاسو سره هیڅ تړاو نلري، کینئ کینئ او ماته د خپلو فعالیتونو په هکله ووایاست، راشه عماده له ما سره کینه!

محمد ولیدل چې د هغه د کیمیا زده کوونکی په خپلو کتابونو کې څه خاص شی لټوي، هغه نږدې ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه: څه شی لټوې؟ ځوان پریشانه شو او ځواب یې ورکړ: هیڅ هم نه، محمد په مسکا ورته وویل: داسې مه وایه چې هیڅ هم نه، بلکې داسې ووایه چې ته زما مرسته نه غواړې، ته داسې یو څه لټوې چې ته یې پریشانه کړی یې. ځوان د هغه طرفته په کتلو سره وویل:

حقیقت خو دادی چې ته ریښتیا وایې، زه یو څه خاص شی لټوم خو هیڅ خبره نشته زه یې په خپله لټوم. محمد په مسکا سره ورته وویل: ماته یې پریږده، ته یوه ځانګړې معادله لټوې چې د کتاب په ۱۳۱ صفحه باندې ده. ځوان حیران شو او د کتاب د پاڼو په اړولو یې پیل وکړ: ته څنګه پوه شوې چې زه څه شی لټوم؟ محمد ځواب ورکړ: صفحه خلاصه کړه او وګوره چې ایا ما صحیح وویل که نه؟ ځوان پاڼې اړولې او مطلوبه صفحه یې خلاصه کړه، د هغه حیرانتیا نوره هم زیاته شوه او خپل تاثرات یې پټ نشوای کړلی او پوښتنه یې وکړه: تاته څنګه معلومه شوه ستا دې په الله قسم وي؟ محمد ځواب ورکړ: یو همتي ځوان چې کله د یوې خاص مسئلې په لټون کې وي او کله چې زه پوښتنه ترې وکړم نو پریشانه شي او هغه یې د پټولو هڅه کوي، نو که تا چیرته یو عام شی لټولی نو بغیر له پریشانۍ به دې ځواب راکولی، خو سترګې دروغ نه وایي یحیی! سترګې دروغ نه وایي، ستا سترګې ستا د زړه خبرې کوي، ستا د ظاهر سکون او چوپتیا ته په کتلو سره شاید ځینې خلک دا سوچ وکړي چې پیشو ستا ډوډۍ خوري، خو ستا د ننه یوه طوفاني غصه ده! یحیی په مسکا سره ځواب ورکړ: یقین وکړه زه داسې نه یم... محمد په خندا ورته وویل: سمه ده ما یقین وکړ، ما یقین وکړ.

څلورویشتم څپرکی

زه له پوهنتون نه فارغ شوم او د ساینس فاکولتې څخه مې په جیولوژي کې د لیسانس سند واخیست، ما په مؤسسه کې د دندې لپاره نوملیکنه وکړه او د ځواب په انتظار یې شوم. په دې وخت کې ما خپل ساختماني کارونو ته دوام ورکړ او ابراهیم به هم مکمل راسره شریک ؤ، ابراهیم به کم وخت کار کاوه خو په کم وخت کې به یې ډیر کار کاوه چې زما له ډیر کار سره به مساوي ؤ. زه د هغه له دې کم ګډون څخه هم مکمل مطمئن وم، نه یوازې له دې امله چې هغه زما د تره زوی، د ماشومتوب ملګری او د خور خاوند دی بلکې له دې امله چې د مجاهدینو په ترتیب، پلان جوړونه او ملاتړ کې ملي رول لوبوي. له دې نه علاوه

هغه په خپل کار کې ډیر مخلص ؤ. کله به چې هغه کار ته راغی نو په یو ساعت کې به یې دومره کار کاوه چې ما به په څو ساعتونو کې نشوای کولی. په ځانګړې توګه به هغه فني او سخت کارونه وکړل چې وروسته به یې زموږ لپاره کول اسانه شول. زما لپاره دنده ډیره مهمه نه وه ځکه ساختماني کارونه ښه وو او زما لپاره یې عواید هم ډیر ښه وو خو یوازینی مشکل یې دا درلود چې بدني محنت او ستړیا یې زیاته وه او دا کارونه به هغه چا کول چې د پوهنتون سند به یې نشوای اخیستلی خو لکه څنګه چې ما په جیولوژي کې د لیسانس سند اخیستی ؤ نو ځکه زما لپاره دا کارونه اسانه وو.

زما ورور حسن د مرج الزهور د جلا وطنی نه یو کال وروسته کور ته راغی. د جلا وطنه خلکو په دوو ګروپونو ویشلو باندې اتفاق شوی ؤ. یو ګروپ به یو کال بعد هیواد ته راستنیږي او دوهم ګروپ به دوه کاله وروسته راستنیږي. حسن په لومړي ګروپ کې ؤ. موږ د هغه هر کلی وکړ او ډله ډله خلک مبارکي ته راتلل چې اکثره یې دده د جومات ملګري وو. هر یوه به څو ځله له سینې سره جوخت کړ او د هغه بچیانو ورسره ګیر چاپیره لوبې کولې. هغوی د خپل پلار په راستنیدو ډیر خوشحاله وو. د حسن خوښي او له خپلو ماشومانوسره نږدې کیدو یې خوښي نوره هم زیاته کړله په ځانګړې توګه کله به چې دده یو ملګري له کوم ماشوم سره لوبې پیل کړې. د حسن له راستنیدو څو ورځې وروسته د غزې ښار په شارع النصر کې د مجاهدینو د یو ګروپ او اشغالګر فوځ په مابین کې جګړه وشوه. د دې پیښې مهمه خبره دا وه چې په دې جنګ کې یو مجاهد شهید شو او هغه مجاهد د ابراهیم ملګری یاسر ؤ چې له ابراهیم سره یې ساختماني کارونه هم پیل کړي وو. زه نه پوهیږم چې خپل احساسات. د ابراهیم احساسات او زموږ د ټول کمپ د خلکو احساسات څنګه بیان کړم. دا د خوښی. غم. رضا. غصې او نیک بختي څخه مرکب احساسات وو.

مور د یو داسې شخص د فتحې خوښي لمانځله چې هغه خپله لاره غوره کړه. خپل فرض یې ادا کړل او خپل هغه اعلی او قیمتي څیز یې وګاټه چې زموږ په شان خلکو به یې ارمان کاوه خو مور د یو داسې چا په جدایي غمګین وو چې د هغه جدایي یوه خلا رامنځته کړه چې د هغې ډکول اسانه نه ؤ. د هغه د شهادت په اوریدو سره د ابراهیم په رخسار تېزې اوښکې راماتې شوې. هغه ژر اوښکې پاکې کړې او د خپلو احساساتو د پټولو په هڅې سره یې وویل: الحمدلله چې هغه د شهادت په انعام ونازول شو. په الله قسم هغه ددې انعام وړ ؤ. الله تعالی نه سوال کوم چې هغه په شهداوو او صالحینو کې قبول کړي. بیا مور ژر د هغه د کورنۍ سره د ودریدو لپاره او د دې فرض د پوره کولو لپاره ووتلو. مور یو لوی څپر جوړ کړ. څوکۍ مو راوړې او د هغه له کورنۍ او ګاونډیانو سره کیناستو تر څو د تعزیت کوونکو ښه راغلاست وکړو. ما د هغه مور او میرمن په یو عجیبه حالت کې ولیدل. هغوی له ژړا نه مغلوب وو. زما مور له دوی سره وه. هغې دوی ته د تسلي ورکولو هڅه کوله. په هغوی کې یوې وویل: الحمدلله هغه خپل ارمان ته ورسیده. او مور ته به یې ویل چې ژړا ونکړو. په شهیدانو څوک نه ژاړي او په هغوی ماتم نه کیږي بلکې هغوی له زغاریدو (د خوښۍ په سندرو) سره رخصت کیږي او کورنۍ ته یې د شهادت مبارکي ورکول کیږي او بیا د کورنۍ خلکو د زغاریدو غږونه پورته شول. زه د خپلو اوښکو په تم کولو کې ناکام شوم او په دې حالت باندې حیران وم. زموږ خلک په شهیدانو باندې له ژړلو سره عادت وو خو اوس شهیدان له زغاریدو سره رخصت کیږي او د حیرانتیا خبره دا وه چې هغوی تعزیت کوونکو خلکو ته بقلاوه (یو قسم حلوا) ویشله چې له امله به یې تعزیت ته راتلونکي خلک هم حیران شول چې اوس دوی د تعزیت الفاظ وکاروي او که د مبارکي؟ کله چې مور د تعزیت په خیمه کې وو نو یوه لویه قافله راغله چې په هغه کې د اشغالګرو فوځیانو موټر او ضد مرمۍ موټر ود، هغوی سیمه محاصره کړه او ځینې موټر خیمې ته داخل شول چې له امله یې

خیمه وغورځیدله او یو ځو ځوکۍ ماتې شوې. له دې نه وروسته د خلکو او اشغالګر فوځ تر منځ سختې نښتې وشوې، د دوی له تګ وروسته موږ بیا خیمه ودروله او تعزیت ته د راتلونکو خلکو لړۍ بغیر له وقفې روانه وه.

په دې ورځ د شهید ځوان یو ښکلی انځور په خلکو کې ویشل کیده او خلکو د ترلاسه کولو لپاره مقابله کوله. زیاتره انځورونه د کمپ په کوڅو کې په دیوالونو سریښ شول، په کومه کوڅه کې به چې روان وې نو دا انځورونه به تر سترګو کیدل. ډیرو خلکو ورته چوکاټونه جوړ کړل او په مهمان خانو کې یې راځوړند کړل. خو ابراهیم یې انځور ونه لګاوه. کله چې ما ترې پوښتنه وکړه چې ولې دې د خپل تږدې ملګري انځور نه دی لګولی نو هغه وویل: دا انځور زما د روح په ژورو کې لګیدلی دی احمده! او د هغه میرمن حامله وه نو هغه وویل: که الله تعالی زوی راکړ نو زه به ان شاء الله یاسر نوم پرې ږدم.

یحیی د اونۍ په اخر کې بېرته زیت پریښود او خپل کور ته راستون شو. له خپلو والدینو سره له ملاقات وروسته هغه د ماذدیګر لمانځه ته جومات ته ولاړ. هلته بې له یو ملګري سره ولیدل او له هغه سره د ځینو هغو مجاهدینو سره د ملاقات لپاره بهر ولاړ چې په کلي کې اوسیدل. هغوی ټول د یو کور په زیرزمیني کې ناست ول او یحیی هغوی ته وویل چې له ځېرنو وروسته هغه یوه طریقه زده کړې ده چې په مرسته یې هغه یو قسم چاودیدونکي توکي جوړولی شي. په دې خبر سره هغوی ټولو د حیرانیتا او ستاینې چیغې جوړې کړې او ځینو خو بیخي یقین نه شو کولی. یحیی زیاته کړه چې کوم اساسي شیان په دې کې کاریږي هغه په اسانۍ سره پیدا کیږي مثلاً یو قسم کیمیاوي سَرَه او ایسیټون پکار دي. سمدستي ځینې ځوانان د ضروري شیانو د راوړلو لپاره ووتل. یحیی او دوه نور ملګري د موادو په چمتو کولو پیل وکړ. هغوی مواد په ارام ارام سره ګډول چې له هغوی نه د یو قوي بوی لرونکي لوګي پورته کیدل. یوه تن وویل چې باید بهر ولاړ شو خو یحیی په خپل کار کې مشغول شو. د موادو له چمتو کولو وروسته

یې د اوسپنې یو سلنډر ترې ډک کړ او دریو واړو هغه د غرونو په مابین کې یو شاړ ځای ته یوړو. هلته دوی د برق د یو څراغ شیشه ماته کړه او د موادو په مابین کې یې کیښود او یو تار یې ترې بهر راوویست، هغوی څو متره لیرې کیناستل. خپل سرونه یې ښکته کړل او په غوږونو کې یې ګوتې ورکړې، یحیی د تار دواړه سرونه په بیټری کیښودل خو هیڅ هم ونشول. نه لویه چاودنه او نه کوچنۍ. د هغه ملګرو یو بل ته او بیا یحیی ته وکتل ګویا که هغوی وایي: چاودنه ولې ونشوه چې د هغه په هکله دې زموږ سرونه راوخوږول. یو ملګری ورپورته شو او سلنډر ته یې د لغتو ورکولو هڅه کوله خو یحیی پرې چیغه وکړه چې دا کار خطرناک دی او بغیر له سوچ نه هیڅ اقدام مکوه. یحیی له بیټری څخه تارونه جلا کړل، یوه اوږده څانګه یې راواخیستله. د هغې پاڼې یې لیرې کړې او په ځکیدلو ځکیدلو په ارام سره ورنږدې شو. د هغه په تندې خولې راماتې وې او په څانګې سره یې څو ځله سلنډر وخوځاوه، هغه په ملاستې سره څو ځله بغیر له سر پورته کولو داسې وکړل او په دې ډاډه شو چې په سلنډر کې شته مواد چاودنه نکوي. بیا کیناست او ورسره ملګري هم کیناستل تر څو ستونزه معلومه کړئ. هغوی ولیدل چې د چاودیدنکو توکو تار (ټینګسټن) شلیدلی دی. یحیی په خندا سره وویل: ما خو درته ویلي وو کنه... نو ستونزه یوازې یوه تخنیکي خرابي ده. د هغه یو ملګری ښار ته لاړ او دا ځل یې دوه لوی څراغونه مات کړل او تارونه یې په داسې طریقه ولګول که چیرته یو ناکام هم شي نو دوهم به کار کوي. هغوی تارونه ولګول او لیرې د یوې ډبرې شاته کیناستل، یحیی په خندا سره وویل: اوس غوږونه بند کړئ او کله چې هغوی غوږونه بند کړل نو یحیی دواړه تارونه د بیټری په سرونو کیښودل. یوه زوروره چاودنه وشوه او د ډبرو ټکړې یوې خوا بلې خوا وغورځیدلې. دوی له دې وړاندې چې اشغالګر فوځیان راشي له هغه ځایه وتښتیدل، د هغه ملګرو هغه ښکل کړ او هغه یې په غیږ کې

ونیوه، زهدي وویل: اوس به موږ ډېر ماینونه جوړ کړو او د هغوی د ګزمې موټرو ته به یې ږدو تر څو هغوی یې هم په خوند پوه کړو.

یادونه: ایسیټون (Acetone) یو کیمیاوي مرکب دی چې کیمیاوي فارموله یې CH_3COCH_3 ده، دا یو شفاف، بې رنګه او اور اخیستونکی مایع دی چې تېز بوی لري او په صنعتونو کې د بیلابیلو مقاصدو لپاره کارول کیږي.

... یحیی په خندا ورته وویل: نه، نه موږ به د ګزمې موټر ته ماینونه نه ږدو، زهدي په حیرانتیا ورته وکتل او پوښتنه یې وکړه: نو بیا به یې ته چیرته ږدې؟ چې موږ یې په خپلو عملیاتو کې ونه کاروو نو بیا مو دومره خواري ولې وکړه؟ یحیی بیا وخندل او زیاته یې کړه: دا اشغالګر فوځ چې له کلونو راپدیخوا د پیل شوي انتقاضې په مهال موږ وژني، زموږ سپین ږیري، زنانه، ماشومان او حتی چې زموږ تي خواره ماشومان یې معاف نکړل نو اشغالګر باید د دې کړنو درنه بیعه پرې کړي، اوس باید دوی پوه شي چې موږ دوی په داخلي سیمو کې هم وژلی شو، موږ باید د دوی د مخ او ګېډې څخه لاندې په کمزورو ځایونو ګزارونه وکړو، نه دا چې د دوی په قوي او ضد مرمی اطرافو. زهدي پوښتنه وکړه: ایا ستا مطلب دادی چې موږ داخلي عملیات وکړو؟ یحیی وویل: هو! خاص انتخاب شوي عملیات، قوي عملیات، چې د اشغالګر فوځ سره د مرګ ژوبلې سویه برابره کړو، چې دوی له کلونو راهیسې په موږ ظلمونه کول او له موږ سره فقط جګړې او ډبرې وې.

یحیی د موادو په اماده کولو مصروف شو او زهدي د هدف په لټون پسې ووت، هغه له یو ځوان سره ولیدل چې د یو نایټ کلب په هکله یې معلومات درلودل چې هلته د جمعې په ماښام په سلګونو اسرائیل راټولیږي او زیاتره یې د هغو قطعاتو فوځیان دي چې په مختلفو سیمو کې له دندو څخه راستانه شوي دي. بم تیار شو او په یو موټر کې کېښودل شو او ځوانان یې هدف ته د رسولو لپاره ورسره روان شول، کله چې هغوی هدف ته نږدې ورسیدل نو هلته یوه ترافیکي

پيښه شوې وه او پوليس له معمول نه زيات راوتلي وو. موټروان وارخطا شو او دا سوچ يې وکړ چې دوی هدف ګرځېدلي دي. بيا پوليس راښکاره شول او په سړک د دوی تعقيب پيل شو. عبدالرؤف وويل: کاش چې بم اماده وای او بيا موړ دلته وای، د هغه ملګري وويل: مهمه داده چې موړ ټول خلاص شو يالږ تر لږه په موړ کې يو تن خلاص شي او بيا يې وويل: له غړيدلو وروسته زه د موټر رفتار کموم ، ته دروازه خلاصه کړه او ځان ښکته وغورځوه او داسې ځرګندوه چې ته د سړک په غاړه روان يې. عبدالرؤف وويل: او ته به څنګه کوې؟ ملګري يې ورته وويل: مهمه داده چې ته خلاص شې، زه به هڅه کوم چې په موړ کې لږ تر لږه يو تن خلاص شي.
زندانونه او توقيفي مراکز له بنديانو ډک شول او اشغالګر مجبور شول چې نور زندانونه جوړ کړي، په دې کې يو زندان د «الظاهرية» په نوم ؤ چې په اغزن تارونو، ټاورونو. او درنو ماشيندارو سره پوښل شوی ؤ او خيمې يې له بنديانو ډکې وې چې هغوی د ازادی په هيله شپې ورځې تيرولې تر څو له ازاديدو وروسته بيا د انتقاضې او مقاومت په فعاليتونو کې دخيل شي. له دوی نه لږ ليرې يو ځوان په پټه د اغزن تار سره نږدې له جيب نه تار غوځونکی پلاس راوباسي او هغه د يوه متر په اندازه له اوږدې، نری مګر مضبوطې رسی سره تړي. هغه د رسی يو سر نيسي او په بل سر پورې يې پلاس ځوړند دی، هغه دا رسی د مچنوزغې (فلنډی) په څېر په زور سره څرخوي او د زندان په طرف د رسی سر پريږدي او پلاس د زندان د مخې په برخه کې غورځيږي.
په يوه خيمه کې د نه دوه سترګې په پوره احتياط او عزم سره بهر طرفته ګوري. د کار د تکميل اشارې ته منتظر دي. په ژوره تياره کې يوه نرمه رڼا دوه خلې ېرک کوي، د بيدارو سترګو څښتن په خپله خوله لاس ږدي او په پټه «الحمدلله» وايي. د سهار له راختلو مخکې جهاد په خپله بستره ناست دی، هغه ټوله شپه خوب نه دی کړی حال دا چې هغه د خوب ځرګندونه کوله خو سترګې يې له

هغه میدان څخه لیرې نشوې. کله چې د بندیانو شمېرنه سرته ورسیده او بندیان میدان ته د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره لاړل او خپل مخونه یې ومینځل نو هغه له ټولو وړاندې هلته ورسیده، د هغه سترګو د میدان تالاشي اخیستله. بیا هغه ښکته شو او یو پلاس یې راواخیست او په خپلو جامو کې یې پټ کړ او په میدان کې له خلکو سره شامل شو. د ماښام له تیاره خپریدو سره سم جهاد له یوې خفیه نقطې څخه چې نږدې ټاور ته سمه نه ښکاریده؛ د اغزن تار په طرف په څکیدلو روان شو، هغه له خپل کمربند څخه پلاس راوویست او اغزن تار یې څو ځایه څیرې کړ، په اغزن تار کې یې یو خالي ځای جوړ کړ او بهر ووت او په خاموشي سره د هغه شاته څلور کسان هم راووتل، یو څو شیبو دوی له ازادی نه لیرې ساتلي وو، هغوی په څکیدلو د زندان له دیوالونو لیرې ولاړل او سړک ته په رسیدو سره یې له یو بل سره غیږې ولګولې او د ازادی په طرف یې منډې پیل کړې. د سهار له راختلو وړاندې له دوی څخه درې ځوانان د الخلیل ښار څنډې ته ورسیدل او د خپل یو شناخته لټون یې پیل کړ چې دوی د پټیدلو ځای ته ورسوي او یو څه خوراک، څښاک او کمبلې ورکړي او بیا د خپلو هغو ملګرو لټون پیل کړي چې د اشغالګرو ځواکونو د نیول کیدو له ویرې پټ شوي دي. ماښام مهال هغه ځوانان د خپلو ملګرو پناه ځای ته راورسیدل او په لاسونو کې بې ټوپکونه وو، له خپلو ملګرو سره یې تود روغبر وکړ او ټوپکونه یې بیخي زیات په غیږو کې ونیول او د صبا ورځې اماده ګي یې ونیوله. له استخباراتو سره د مرستې کوونکو د وژلو لړی روانه وه، هر څه وخت وروسته به د یو چا جسد له وژلو وروسته چیرته غورځیدلی ؤ او یا به چیرته راځوړند شوی ؤ، یا به کوم کس په دُرو وهل کیده، هغه به په کوم میدان کې راځوړند کیده، یا به په دُرو وهل کیده او یا به وژل کیده.

د با سواده خلکو له طرفه دا غږونه پورته شو ل چې په دې کارونو باید بیا کتنه وشي، د دې جاج واخیستل شي او باید بند شي خو د مقاومت په میدان کې

کارکوونکو مجاهدینو به ویل چې دا کار سم دی او دې کار ته اړتیا ده ځکه له اشغالګرو سره د مرستې کوونکو وژل ضروري یا فائده مند دي ځکه د مقاومت کامیابي او د هغه دوام تر ډیره له غدارانو څخه د تولنې په پاکولو پورې تړلی دی او یا په ډیره سمه اصطلاح سره د مقاومت کامیابي او د هغه دوام تر ډیره د اشغالګرو د داخلي سترګو په راوباسلو پورې تړلی دی.

په دې موضوع باندې په مختلفو مجلسونو کې لوی جنجالونه پیدا شول، ملاتړ کوونکې ډلې به پورته دوه علتونه ذکر کول او د مخالفینو رایه دا وه چې په دې کار کې زیاته مبالغه کیږي او دا زموږ له داخلي طرفه د خپل ځان د خوړلو عمل دی چې باید بند شي. کله چې د بغاوت د بندولو د غوښتنو غږونه پورته شول نو په دې دواړو غږونو کې فرق کول اسانه نه وو او دا غږونه یو شان ښکاریدل او داسې معلومیده چې ځینې خلک په یو وخت د بغاوت او قتل کولو د میلان د بندیدلو ملاتړ کوي چې له اشغال سره د مرستې لپاره د بهانې په شکل به ترسره کیدل.

دا بحثونه به اکثره زما د ورور محمود د ملګرو سره زموږ په مهمان خانه کې راپورته کیدل. که ریښتیا ووایم نو په دې میلان کې څرګنده مبالغه وه او تر ټولو مهمه خبره دا وه چې په داسې قتلونو کې هیڅ ملي او تنظیمي حواله موجوده نه وه چې په دې اړه پریکړه وکړي او فیصلې به اکثره د جذباتي ځوانانو په لاس کې وې چې په هغوی باندې له پاسه د کوم مسؤل څارنه موجوده نه وه او په دې موضوع کې قضائي، قانوني او حقوقي څارنه بالکل غائبه وه. په داسې مسائلو کې پوه او دانا خلکو لکه محمود خبرې کولې خو دا څرګنده وه چې داسې خبرو ته عملي جامه وراغوستل ناشوني دي چې لامل یې د مقاومت ذاتي علتونه، د هغوی ډلې او اختلافات او د اشغالګرو له لوري مسلط شوي حالات دي. په داسې حالاتو کې د خلکو د نیولو، وژلو، د پوهانو د نیولو او جلا وطن کولو له امله په دې کې هیڅ شک نه ؤ چې دا میلان له اصولو پرته روان ساتل

بوه. لويه غلطي وه او دا هم څرګنده وه چې مسؤلينو، باسواده خلکو او قانون پوهانو د دې مسئلې د حل کولو هڅه ونکړه تر څو دا ميلان له کمو وژنو او د يو ويرونکي او نفرت خورونکي انځور وړاندې کولو نه بغير روان وسائل شي.

د عماد نوم د هر چا په ژبه ؤ او هغه د مقاومت يو نښان ګرځيدلی ؤ. تر دې پورې چې هغه د اسرائيلي مطبوعاتو هم د سر ټکی وګرځيده او اسرائيلي وزير اعظم رابين په خپلو فوځيانو او امنيتي ادارو فشار واچاوه چې د هغه سر ورته راوړي. خو د دې برعکس اشغالګر فوځ د خپل ځان د ساتنې لپاره نوي اقدامات پيل کړل. اعلان وشو چې هيڅ يو عربي موټروان نشي کولی چې له اسرائيلي موټر نه مخکې شي او يا ورته نږدې شي او لږ تر لږه پنځوس متره فاصله بايد مراعت کړي، که عربي موټر اسرائيلي موټر ته نږدې ورشي او يا ترې د مخته کيدو هڅه وکړي نو په هغه به ډزې کيږي او هيڅ اسرائيلي موټر اجازه نلري چې له فوځي ساتونکي پرته د غزې په ترانګه کې حرکت وکړي. د هر فوځي موټر يوازې تګ بند شو او لږ تر لږه د دوو فوځي موټرو سره به ګرځي. له دې نه علاوه په ښاريانو نور بنديزونه ولګيدل، خلک نيول کيدل، چاپې وهل کيدلې او د معمولي شک په اساس په خلکو ډزې کيدل پيل شول.

معلومات ترلاسه شول چې په دوو فوځي موټرو مشتمله ګزمه د جباليه کمپ له هديرې سره د شپې په لومړی حصه کې حرکت کوي. عماد او د هغه ملګرو د عملياتو پلان ورته جوړ کړ او د کمپ په کوڅو کې يې جيپونو ته کمين ونيوه. يو ملګری په يوه کوڅه کې او دوه نور ملګري په دوهمه کوڅه کې کيناستل او د دواړو کوڅو لارې هغه سړک ته وتلې وې چې ګزمه پرې راتله. هغوی لومړی جيپ پريښود چې تېر شي، کله چې دوهم جيپ دوهمې کوڅې ته ورسيده نو لومړي تن په لومړي جيپ د شا لخوا ډزې پيل کړې او دوو نورو ملګرو په دوهم جيپ مخامخ ډزې پيل کړې، هغوی په سړک څملاستل او له دريو مترو څخه يې په جيپ ډزې کولې. فوځيان له ډزو کولو عاجز شول او د دوهم جيپ درې

فوځیان ووژل شول او موټر له سړک نه وغورځیده او د لومړي جیپ فوځیان ټپیان شول. درې ځوانان د تنګو کوڅو په واسطه یو موټر ته ورسیدل چې په بل طرف کې یې دوی ته انتظار کاوه او له کمپ نه ووتل. نور فوځي قطعات راورسیدل، ګرځبندیز ولګید، له معمول سره سم د نیولو او څیړنو سره سره هیڅ هم ترلاسه نشول. رابین د دې خبر په اوریدو سره د واشنګټن د سفر په لنډولو مجبور شو او بیرته راغی. مجاهدین د غزې شارع النصر طرفته ووتل چې هلته ابراهیم د دوی انتظار کاوه، هغه د ابراهیم په موټر کې کیناستل، په عملیاتو کې کاریدونکی موټر پټ کړلی شو او د غزې ښار په ختیځ کې الشجاعیه طرفته د یو نوی کور په خوا روان شول، ابراهیم موټر ودراوه او د کور دروازه یې وټکوله. یو ځوان هلک دروازې خلاصولو ته راغی، کله چې هغه ابراهیم ولیده نو پوښتنه یې وکړه: ایا دوی له تا سره راغلي دي؟ ابراهیم ځواب ورکړ: هو! هلک کور ته ننوته کړه او یوه دقیقه وروسته راغی او دوی ته یې وویل: مهرباني وکړئ تشریف راوړئ، هر کله راشئ! د هغه مخ د وخت په تیریدو سره سور کیده، بیا هغه په منډه بیرته راغی او دوباره یې ښه راغلاست وویل، معلومه خبره وه چې هغه د خپلو احساساتو له امله نه پوهیده چې څه ووایي. ابراهیم خپلو ملګر ته کتل او ټولو خندل.

هلک له دوی سره په فرش کیناست او ابراهیم ته یې وویل: زه نضال یم، تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایم. ابراهیم ځواب ورکړ: زادکم الله شرفاً، زه ابراهیم یم، دا احمد دی، دا خالد دی او دا عماد دی. هلک بیا په جوش کې راغی او ویې وویل: ته عماد یې؟ هرکله راشې! زما مور اوس تاسو ته ډوډۍ تیاروي، تاسو په ارام سره کینئ. بیا هغه بهر په منډه لاړ تر څو وګوري چې د ډوډۍ څه حال دی، یوه شیبه وروسته هغه بیا په منډه راغی او له دروازې نه یې غږ راوکړ: زما مور او پلار غواړي چې دلته راشي او له تاسو سره ملاقات وکړي. مجاهدینو ابراهیم ته وکتل څکه هغه ځایي خلک پیژندل او فیصله دده په لاس کې وه. ابراهیم سر

وخوځاوه. نضال په منډه لاړ او یوه شیبه وروسته له خپلو والدینو سره راغی. د هغه پلار لوړ او غټ سړی ؤ چې په مخ باندې یې د نرمي نښې وې. هغه سلام وکړ او مجاهدینو ته یې لاس ورکړ. د نضال مور په دروازه کې په وقار او عزت ولاړه وه.سپین لباس یې په تن ؤ .سر یې پټ کړی ؤ. هغې په لاس سره سترې مشې ونکړه خو له شونډو یې زیات د هرکلي الفاظ ووتل. نضال د هغوی تعارف وکړ او له فخر نه په جامو کې نه ځایده. والدینو د میلمنو تود هرکلی وکړ. د نضال مور وروسته شوه او ویې ویل: زه ځم چې ډوډی تیاره کړم، تاسو په ارام کېنئ. داسې وګڼئ لکه په خپل کور کې چې یاست. د خوراک او څښاک کوم شي ته مو چې زړه کیږي هغه غواړئ. الله دې ستاسو حفاظت وکړي. هغه بهر ولاړه او نضال له ځواناتو سره په خبرو بوخت شو.

یوه شیبه وروسته د نضال مور د ډوډی له پتنوس سره راغله چې په هغه کې د وریژو له پاسه د کوترو غوښه ایښې وه. نضال سمدستي پتنوس واخیست او د ځواناتو مخې ته یې کېښود او ویې ویل: مهرباني وکړئ، مهرباني وکړئ. د نضال مور بهر ته په تلو کې وویل: صحت او عافیت مو په نصیب شه. ټولو خوراک پیل کړ. ډوډی نه یوازې دا چې خوندوره وه بلکې له هغې مینې ځخه ډکه وه چې د دې متوسطې فلسطینې کورنی په زړونو کې وه لکه څنګه چې نورې کورنی د مقاومت د خلکو لپاره په زړو کې مینه ساتي. کله چې هم کوم ځوان د ډوډی د بندولو هڅه کوي نو نضال د یوې زیاتې ګولې د ورکولو سره په نور خوراک کولو ټینګار کوي. ټولو ډوډی ختمه کړه او د لاسونو مینځلو لپاره پورته شول. نضال پتنوس واخیست او بهر لاړ تر څو هغه د خپلې مور، ورونو او خویندو مخې ته کیږدي چې هغوی په بله کوټه کې ډوډی خوړله.

د تحقیق په مرکز مکسوبیه کې د بندیانو په توقیف خونو کې شورماشور جوړ دی. عسکر بندیان د تحقیقاتو خونو ته وړي او بیا یې بیرته راوړي. تحقیق کوونکي پوښتنې کوي، وهل ټکول کوي، سپکاوی کوي او اخطارونه ورکوي تر

څو د کوم مقاومتي، د انتقاضي کارمند يا وسلې په هکله معلومات ترلاسه کړي.
په يو وطاق کې د تحقيق يو افسر يو ځوان ته وړانديز کوي چې که هغه له دوی
سره کار کوي نو سمدستي به له زندان نه خوشی شي او په محکمه کې به يې سزا
ختمه کړلی شي کنه نو د ده د ورونو د شاهدي له امله هغه لس کاله قيد کيدلی
شي، افسر کله هغه ويروي او کله لالچ ورکوي. د ځوان مخ سور کيږي او
سوروالی يې زياتيږي. يو بل ځوان چې په ژوند کې محدوده تجربه لري، له هغه
څخه د اسرائيلو د جاسوس جوړولو هڅه کيږي. ځوان انکار کوي او استخباراتي
افسران په هغه فشار اچوي او بالاخره ځوان د هغوی خبره مني نو افسر لاس
ورکوي او ورته وايي چې اوس موږ ملګري يو. افسر بهر ځي او د خوږو او ميوو
نه ډک لوښی راوړي، هغه د ځوان مخې ته ږدي او هغه ته د خوراک کولو
دعوت ورکوي، يو دريم شخص په داسې حال کې د هغه انځور اخلي چې افسر
له هغه سره ټوکې ټکالې کوي، بيا هغه ته وايي چې څو ورځې وروسته به تا
محکمې ته وړاندې کوي او قاضي به دې خوشی کوي تر څو هر څه منطقي
ښکاره شي او څوک شک ونکړي.
افسر هغه ته د اړتيا د وخت شمېره ورکوي او په يروشلم کې د يو کور ادرس
ورکوي چې بايد د راتلونکې مياشتې په لومړی نيټه سهار لس بجې هلته راشي،
فقط دروازه به ټکوي او له هغه سره به هلته ملاقات کوي تر څو د معلوماتو د
راټولولو او اړيکو نيولو په لارو چارو ورسره خبرې وکړي. ماهير خوشې کيږي او
هغه خپل کور ته چې بيت لحم ته نږدې په عائده کمپ کې دی؛ ستنيږي. هلته د
هغه د کورنی غړي، خپلوان، کليوال او ملګري د هغه پوښتنې ته راځي. کله چې
د دعا سلام او مبارکی لړی خلاصه شي نو ماهير له خپل شيخ او د جومات له
مربي سره ويني او هغه ته ټوله خبره کوي او په دې خبره ټينګار کوي چې دا هر
څه يې د دې لپاره کړي چې هغه احمق افسر او د هغه استخباراتو ته سبق ورکړي
او هغه افسر ووژني. شيخ د سر په خوځولو سره د هغه خبره مني، بيا ماهير د

خپل تره زوی ناصر او محمود خواته ورځي او هغوی ته هم ټوله خبره کوي. له هغوی نه مرسته غواړي، هغوی له ده څخه د ځای او وخت په هکله ټول تفصیلات اخلي او درې واړه د دې کار د سرته رسولو عزم کوي.

په ټاکلې ورځ درې واړه راوزي، د ماهیر په لاس کې عام څټک دی او د باقي دوو کسانو په لاسونو کې د اشپز خانې چاقوګان دي چې هغوی په خپلو جامو کې پټ کړي وو، هغوی یروشلم ته رسیږي. اپارتمان ته داخلیږي او د کور دروازې ته رسیږي، ماهیر د دروازې مخې ته او ناصر او محمود ښي او چپ اړخ ته ودریږي، ماهیر د کور زنګ وهي، استخباراتي افسر په خندا سره دروازه خلاصوي او ورته وایي، د ننه راځه، د ننه راځه او دروازه درسره بنده کړه! ماهیر د خپلو جامو له-شا څخه څټک راوباسي او هغه سر ته د شا لخوا وهي، هغه په ځمکه غورځي او درې واړه پرې حمله کوي او په چاقوګانو سره یې وهي، او هغوی له هغه ځایه داسې روانیږي لکه دوی چې هیڅ هم نه وي کړي، ماهیر له خپل کور څخه لیرې ځي ځکه هغه پوهیږي چې فوځیان به یې په نیولو پسې راځي، ماښام کمپ محاصره کیږي، د خلکو نیول پیل کیږي او د استخباراتي افسر د وژل کیدو خبرونه راځي.

د ځینې استخباراتي افسرانو په مشري فوځ په رافات کلي حمله وکړه او د ابو یحی کور یې محاصره کړ او چیغې یې وهلې: یحیی چیرته دی؟ یحیی په دې مهال په کور کې موجود نه ؤ ځکه هغه د هغه موټر له پیښې نه خبر شوی ؤ چې دده په لاس تیار شوی بم پکې ایښی ؤ نو له همدې امله هغه خپل کور ته تګ بند کړی ؤ او کله ناکله به پټ خپل کور ته راتلو او سمدستي به بیرته تلو، هغه له ځینو ملګرو سره پټ اوسیده. فوځیانو د کور تالاشي واخیستله. د هغه ټول کتابونه او کاغذات یې ضبط کړل او د هغه پلار یې د تحقیق لپاره ونیوه.

له څو ورځو تحقیق نه وروسته یې هغه خوشی کړ، یحیی نابلس ته تللی ؤ او هلته له ځینو ملګرو سره پټ شوی ؤ تر څو دا طوفان تېر شي، بیا هغه له ډیرو

ځوانانو سره اړیکې ونیولې او هغوی یې په فدایي ګروپونو کې داخل کړل تر ځو د شمال لویدیځې غاړې په ښارونو او ښارګوټو کې هم کار پیل کړي. په نابلس کې لومړی ګروپ، په عنبتا کې دوهم، په طوباس کې دریم او په جنین کې څلورم ګروپ جوړ شول. لکه څنګه چې یحیی اشغالګر فوځ ته مطلوب ؤ نو هغه د هر ګروپ له مسؤل سره جلا جلا ملاقات وکړ او هغوی ته یې وویل چې له ده سره د رابطې لپاره به یو خاص ځای کاروئ چې هلته به د یو غیر مشهور او غیر مطلوب ځوان په واسطه د خطونو لیږلو له لارې حال سره نیسو.

د جنوب لویدیځې غاړې العروب کمپ چې د بیت لحم او الخلیل په مابین کې پروت دی؛ یو ځوان د یو بل ځوان «محمد» کور ته راځي او هغه ته د خلاصون مبارکي ورکوي چې د النقب په زندان کې بندي ؤ. مبارکي ورکوونکي خلک خلاصیږي او په کمپ کې د خلکو تګ راتګ کمیږي نو محمد خپل واسکټ اغوندي او مخ په سور رومال سره پټوي او له کور څخه وزي تر څو یې په لاره کې څوک ونه پیژني. هغه یو کور ته رسیږي. دروازه په نرم او منظم شکل ټکوي. دروازه خلاصیږي او «خالد» چې شل کلن ځوان دی او تازه ویره یې راغلې ده: بهر راوزي. خالد پوښتنه کوي: ایا موټر راویاسم؟ محمد ځواب ورکوي: هو. ژر کوه له موږ سره زیات وخت نشته. خالد موټر راویاسي. محمد ورسره کیني او دواړه د جنوب په طرف د الخلیل خواته روانیږي. دوی د الخلیل له مرکز نه تیریږي او د لویدیځ په خوا د بیت عوا طرفته حرکت کوي. خالد موټر دروي. او پیاده د یو کور دروازې ته ورځي او دروازه ټکوي. د دروازې خلاصونکی یو ځوان دی چې له خالد سره یو څو خبرې کوي. د ځوان له خبرو وروسته له کور نه یو سړی راوزي او خالد ته لاس ورکوي. خالد له هغه سره یو څو خبرې کوي او بیا له خالد سره په موټر کې کیني او روانیږي. هغه خالد ته لاره ښایي، بیا هغه یو نږدې کور ته په اشارې کولو سره وایي: دلته ودریږه او له موټر نه په ښکته کیدو سره وایي: دلته لږ انتظار وکړئ. زه یې ګورم. هغه د کور په

خوا خپل او د شاوخوا جاج اخیستلو نه وروسته د کور دروازه ټکوي. دروازه
خلاصونکی له ده سره خبرې کوي، هغه بیا موټر ته راځي او خالد او محمود ته
وایي چې له موټر نه راښکته شي او له ده سره کور ته لاړ شي. دوی ټول په کور
کې یوې کوټې ته ننوځي چې هلته پنځه ځوانان ناست دي. په دوی کې دوه هغه
ځوانان دي چې څه موده وړاندې له مجدو زندان څخه تښتیدلي وو. څنګه چې
هغوی محمد ویني نو ورته پورته کیږي او له هغه سره په غیږ ستړې مشي کوي.
ټول کیني او یو ځوان پوښتنه کوي: ته کله خوشی شوې؟ خالد ځواب ورکوي:
«ننن» او بیا ټول خاندي. یو بل ځوان وایي: هغه هم د محمد په شان تر صبا انتظار
نشي کولی. محمد په خندا سره وایي: صبر څنګه کولی شم؟ په خدای قسم که د
خلکو د مینې او د هغوی د ملاقات لحاظ نه وای نو د پلار او ورونو سره له
ملاقات وروسته سمدستي دلته راتلم. ځوانان په خندا ورته وایي: په ارام ، په ارام
ابو رشدي! محمد وایي: مهمه خبره داده چې الحمدلله ما تاسو ژر وموندلئ. څه
نوې تازه دي؟ له موږ سره څومره مجاهدین دي؟ د مهماتو په هکله څه خبرې
دي؟ د پناه ورکوونکو څه اماده ګي ده؟ ایا کوم اهداف مو پیدا کړي دي چې په
ننه یې کړو؟ څه؟ څنګه؟ کله.. او ځوانان په خندا سره د محمد د پوښتنو
ختمیدو ته انتظار باسي. یو ځوان په خندا سره وایي: زموږ حالت ښه دی زموږ
مشره، زموږ حالت ښه دی، موږ فقط ستا راتګ ته انتظار کاوه او بیا د نویو
حالاتو په اړه له هغه سره خبرې پیل کوي.

ماته د مهاجرینو په متوسط ښوونځي کې دنده پیدا شوه او ما هلته کار پیل کړ.
سمدستي زما مور له ما سره د واده په هکله خبرې پیل کړې. زما په یاد کې ناڅاپه
هغه انجلی راغله چې ما ورسره مینه کوله او ما د پوهنتون په لاره لیدله او ما
ورسره هلته اړیکه پرې کړې وه له کله راهیسې مې چې د ابراهیم څخه د «تنها
یوې مینې» په اړه خبرې اوریدلې وې. ما په خپل زړه کې سوچ وکړ: ایا هغه به
اوس هم موجوده وي؟ ایا هغه به نه وي واده شوې؟ چا به نه وي غوښتلې؟ زه

باید دا وګورم. که هغه اوس هم هماغسې وي نو زما ارمان پوره کیدای شي او ما په زړه کې دعا وکړه چې یا الله هغه زما په نصیب کړې.

موږ د خپلې شپې پیل د خپلې مور په کوټه کې کاوه. څوک به چې ماښام په کور کې موجود وو هغوی به د مور کوټې ته راتلل. هر څوک به له خپلې میرمنې سره راتلل چې هغې به حتماً سر پټ کړی ؤ بغیر له مریم چې هغه به د خپل خاوند په کور کې وه. وروسته او خویندې به هم له خپلو ماشومانو سره راتلل. کله کله به موږ ټول یو ځای وو او کله به فقط ځینې راغلل. موږ به خبرې کولې، خبرونه به مو لیدل او د هغو په هکله به مو خبرې اترې کولې. کله کله به مو د خربوې زړې خوړل. چا به میوه یا خواږه راوړل او چا به چای یا سحلب راوړ. موږ به ماښام یو ځای وو. خبرې به مو کولې. کله کله به مو بحثونه کول. کله به مو د نظر اختلاف راتلو او کله کله به په یوه مسئله متفق شولو. بیا د وخت په تیریدو سره هر یو خپل تعمیر ته نقل شول او اکثره به دوی خپل ماشومان په داسې حال کې په غیږو کې وړل چې هغوی به په خوب کې ډوب وو.

په لوی شمیر کې فوځ او استخبارات په الخلیل کې د نیولو شویو کسانو د کورونو خالي کولو ته راغلل. هغوی د ام جلیل په کور ننوتل او د هغې د کورنۍ غړي یې بهر وباسل او سامانونه یې بهر وغورځول. استخباراتي افسر ام جمیل په زور سره دیکه کوله او هغې په خپل کور کې د پاتې کیدو هڅه کوله. بالاخره هغه په ځمکه وغورځیده او خپل لاسونه یې پورته کړل: خدای دې وکړي چې دا ستا د ژوند اخري ورځ وي او ان شاء الله د مجاهدینو ځوانان به تا وژني.

څو ورځې وروسته یو استخباراتي افسر په تېز رفتار سره په خپل نوي موټر کې روان دی او تر شا یې د مجاهدینو یو تېز رفتاره موټر روان دی او څو تنه مجاهدین له اماده ټوپکونو سره ناست دي تر څو دده په سر قیامت جوړ کړي؛ څنګه چې موټر ورنږدې کیږي نو د دریو ماشینداور مرمۍ ترې فیر کیږي چې له

املا يې موټر هم له منځه ځي او په موټر کې موجود خلک هم د اور خوراک ګرځي.

څو ورځې وروسته مجاهدينو د يو بل موټر انتظار کاوه چې د يو يهودي پيشوا موټر ؤ، کله چې موټر مجاهدينو ته رانږدې شو نو مجاهدينو پرې ډزې پيل کړې چې له املا يې موټر يوې کندې ته وغورځيده، يهودي پيشوا مړ شو. يو ملګري يې ټپي شو او مجاهدين سمدستي غائب شول.

په الخليل او د هغه په شاوخوا سيمو کې د مجاهدينو فعاليتونه روان وو، او کله به هم چې دوی ته د اشغالګر فوځ يا د يهودي سيمې د خلکو کوم هدف برابر شو نو سمدستي به د ډبرو شاته ورته کيناستل او يا به يې په تېز رفتار موټر کې په هغوی حمله کوله، هغوی په څو فوځي جيپونو، د يهودو په ځايي موټرو او بسونو حملې وکړې چې له دې سيمې څخه به يروشلم ته تلل.

هره ورځ به د ډزو پيښې رامنځته کيدلې او ډيرې ورځې به نه تيريدې چې په اشغالګر فوځ به دلته يا هلته بريد وشو. په جنوبي سيمو کې به له بريد وروسته فوځ هلته لاړ، سيمه به يې محاصره کړه، خلک به يې ونيول او ګرځبنديز به نافذ شو. بيا به په شمال کې بريد وشو او فوځ به هلته ولاړ او بيا به په ختيځ يا لويديځ کې بريد وشو، په لسګونو بريدونه به ترسره کيدل او په لسګونو فوځيان به وژل کيدل. مجاهدين په دوو ګروپونو وويشل شول، يو ګروپ په جنوب الخليل او د هغه اطرافو کې او دوهم ګروپ په شمال الخليل او د هغه په اطرافو کې او هر ګروپ به د بل ګروپ کارونو ته دوام ورکاوه.

د جنوبي لبنان په مرج الزهور کمپ کې جمال په خپله بستره پروت ؤ، يوه پښه يې په بله اړولې وه او له خوښۍ نه به يې پښې خوځولې کله به چې هغه خبرونه اوريدل او په ارام سره به يې دادمنه خندا کوله. هغه خپل ملګري عبدالرحمن ته وويل: ايا تاته هغه کيسه ياد ده چې ما د صوريف په غره کې درته کړې وه، کله چې ته زموږ کور ته راغلی وې او ستا مشر ورور هم راغی، موږ ته يې ډوډۍ

راوړه او له موږ سره يې خبرې کولې؟ عبدالرحمن ځواب ورکړ: هغه ورځ ماته
ياد ده خو ستا کيسه مې نه ده په ياد. هغه څنګه کيسه وه؟ جمال په خندا ورته
وويل: هغه کيسه چې ما تاسو ته وويل چې زه کله ماشوم وم او يهوديانو په
۱۹۷٦ کې الخليل اشغال کړ او په ښار کې به په اسانۍ سره ګرځيدل او هيچا
مزاحمت نه کاوه، ما يوه ډبره راواخيستله، يو يهودي مې پرې وويشت او د منو
ونو شاته وتښتيدم او يوه شيبه وروسته ما د خپل ګاونډي هلک غږ واوريده چې
زه يې رابللم او ماته يې ويل چې يهودي له هغه ځايه تللی دی، او کله چې زه
راووتم نو ما وليدل.... عبدالرحمن يې د خبرو په غوږڅولو سره وويل: زما په ياد
شول، کله چې ته رابهر شوې نو يهودي تاته ټوپک په نښه کړی او تاته يې
اخطارونه درکول... نو جمال ځواب ورکړ: هو باالکل همداسې وه. عبدالرحمن
ورته وويل: خو تاته دا خبره نن څنګه درياده شوه؟ جمال ځواب ورکړ: ماته د
اوسنيو حالاتو له وجې را په زړه شوه چې نن صبا په الخليل کې روان دي، هر
وخت فدايي بريدونه کيږي په داسې حال کې چې مجاهدين هم شهيدان کيږي.
سيمه هم محاصره کيږي، ګرځبنديز هم لګيږي او خلکو ته ډله يزې سزاګانې هم
ورکول کيږي.
اوسنی الخليل هغه پنځه ويشت کاله پخوانی الخليل نه دی، هغه الخليل چې به
امن کې يې ژوند غوښت، روزي پيدا کول او روپۍ ګټل يې غوښتل او هڅه به
يې کوله چې موږ له اشغالګرو او زورواکو سره مقابله ونکړو، په داسې حال کې
چې هغوی به موږ هيڅکله په ارام نه پريښودو، خو نن الخليل د جهاد، مقاومت
او شهادت ځای دی... هغه په يو سوړ اسويلي سره وايي: ته وګوره جماله چې
څنګه د صبر او ترمښت اور شيان پاخه کړل او بدلون يې راوستلو. عبدالرحمن به
مسکا سره ځواب ورکړ: بالکل همداسې ده او الحمدلله چې زموږ هڅې ضايع
نشوې او ته يې وينې چې څنګه يې نوی نسل جنګيالی او مرګ ته اماده جوړ
کړ. جمال په خندا ورته وايي: او بيا نور څه عبدالرحمانه؟ او تا نور څه وليدل؟ دا

خو پیل دی او د الله تعالی په فضل سره به له دې نه هم زیات لوی کارونه وینو.
قسم دی زه وینم چې په راتونکو ورځو کې به زموږ خاوره د اشغالګرو لپاره اور
وګرځي او زه وینم چې دوی به په هغه ورځ لعنت وایي په کومه ورځ چې دوی
زموږ په خمکه قدمونه کیښودل او زموږ مقدسات یې اشغال کړل.

پنځه ویشتم څپرکی

یو مابنام چې موږ ټول د مور په کوټه کې ناست وو. خبرې اترې مو کولې:
ابراهیم وویل چې هغه به له خپلې میرمنې او ماشومانو سره د یوې اونۍ لپاره د
محمد سره د ملاقات او د چاپېریال بدلولو لپاره رام الله ته لاړ شي. د محمود او
حسن میرمنو په یو ځای وویل چې دا ښه سوچ دی او محمود او حسن علي
پاتې شول. مور د ابراهیم د مخ ښنو نښانو ته په غوره سره کتل ګویا که هغه د
ابراهیم له خبرو څخه د یو څه زیاتو پوهېدو کوښښ کوي. ابراهیم چې کله د
مور په سوچ پوه شو نو زیاته یې کړه: ستا څنګه خوښه ده د تره ښځې! او ایا ته به
د یو څو ورځو لپاره زموږ سره ولاړه شې؟ د رام الله او لویدیځې غاړه سیل به
وکړې او بیا به بیرته راشې؟ مور چې کله د هغه دعوت واورید. نو مطمئنه شوه او
زیاته یې کړه: زه اوس بوډۍ شوې یم او د سفر کولو وړتیا نلرم. که ستاسو خوښه
وي تاسو ټول لاړ شئ. مریم وویل: مورې راسره ولاړه شه. په دې کې هیڅ ستړیا
نشته. موټر دې له دې ځایه هلته د کور تر دروازې پورې رسوي. او بیا یې د
ابراهیم طرفته په کتلو سره وویل: ایا موږ به په خپل موټر کې ځو ابراهیمه. ایا
همداسې نه ده؟ ابراهیم وویل: چې کله ستاسو خوښه وي. که صبا وي. بله ورځ
وي او یا اونۍ ورسته وي. مور وویل: ماته تر صبا پورې وخت راکړئ تر څو زه
فکر وکړم او صبا به تاسو ته ځواب درکړم. راتلونکې ورځ موږ ښینه وغوښته او د
هغوی د سفر لپاره یې دعا وکړه او ابراهیم د خپلو ماشومانو او میرمنې سره رام الله
ته روان شو. په لاره کې ابراهیم مریم او اسراء ته د هغو سیمو په هکله معلومات
ورکول چې دوی ترې تیریدل. په لاره کې یو ځای هغه موټر ودراوه او ښکته

شو، یاسر یې په غېږ کې واخیست او له هغه سره یې خبرې پیل کړې چې دا زموږ خاوره ده، زموږ ځایونه دي، د الفالوجه ځمکه چې له دې ځایه زموږ پلار، تره او نیکه هجرت کړی دی. یوه شیبه هلته ودرېدل او بیا موټر ته پورته شول او روان شول تر دې پورې چې رام الله ته ورسیدل چې هلته محمد او د هغه مېرمنې د هغوی تود هر کلی وکړ. لومړی شپه په ټوکو ټکالو تېره شوه او بیا ټول د خوب لپاره لاړل. سهار ابراهیم محمد ته وویل چې تا پوهنتون ته په موټر کې وړم. محمد هغه منع کړ خو ابراهیم ټینګار وکړ چې حتماً دې پوهنتون ته رسوم او ستا د اوسیدو ځای به هم وګورم.

ابراهیم په پوهنتون کې موټر ګل کړ او پیاده روان شو، د محصلینو مخونو ته یې په غور سره کتل، یو ځوان یې ولیده او دا یې محسوس کړه چې هغه به سمه لاره ورته وښایي، له هغه یې پوښتنه وکړه نو هغه یو مخصوص ځای ته اشاره وکړه. ابراهیم هلته روان شو او د چای یو دوکان ته ورغی، هلته ځینې ځوانان ناست وو چې ځینو یې بېرې هم درلودې. هغه سلام وکړ او د خپل مطلوب ځای په هکله یې پوښتنه وکړه نو یو ځوانان تر هغه ځایه د تلو لپاره ورسره پورته شو. ابراهیم د هغه پسې وروسته روان ؤ او هغه یې یو بل ځوان ته ورساوه. داسې ښکارېده چې ابراهیم هغه له وړاندې پېژانده. ابراهیم د ځوان څخه مننه وکړه او یوازې مخې ته روان شو. ځوان «صلاح» د هغه دروند هرکلی وکړ، دواړو خبرې وکړې او بیا په دې وعده سره رخصت شول چې هغه به یوه شیبه وروسته د ابراهیم د موټر خواته راځي. ابراهیم په خپل موټر کې د هغه لپاره منتظر کیناست، لږ وروسته صلاح بیرته راغی او له هغه سره یو بل ځوان هم موجود ؤ. هغوی موټر ته وختل، صلاح له ابراهیم سره کیناست او بل ځوان شاته کیناست. موټر په کم رفتار سره روان شو څکه خبرې اترې په موټر کې مقصود وې، نه دا چې کوم خاص ځای ته تلل. تقریباً له نیم ساعت مجلس وروسته ابراهیم نوي ځوان «مؤمن» ته د روپیو یو بنډل ورکړ، مؤمن روپۍ په خپل جېب کې پټې کېښودې او بیا ابراهیم موټر د

پوهنتون په طرف وغړاوه او هلته يې دواړه ځوانان ښکته کړل او بيرته رام الله ته راغی، هلته يې د محمد له پوهنتون نه تر راتګ پورې موټر چلاوه او بيا کور ته راغلل.

مؤمن خپله تعليمي ورځ پای ته ورسوله او خپل کور ته په موټر کې روان شو چې د يروشلم سره نږدې په بيت حنينا کې واقع ؤ، ماښام د لمانځه لپاره جومات ته ولاړ چې هلته يې له يوه ملګري سره ملاقات وکړ، دوی يو طرفته شول او جدي خبرې يې پيل کړې، بيا مؤمن د يو بل ملګري کور ته ولاړ، دروازه يې وټکوله، هغه راووت او دواړه په خاموشي سره په سړک روان شول، مؤمن هغه ته په توجه او جديت سره خبرې کولې او د هغه ملګري هم په توجه سره خبرې اوريدلې او سر يې خوځاوه. راتلونکې ورځ مؤمن پوهنتون ته راغی، هلته يې له صلاح سره ملاقات وکړ او ورته يې وويل چې هغه اماده دی ځکه اوس ګروپ د کار لپاره اماده شو، هغه د خپلو دواړو ملګرو د چمتووالي تصديق وکړ. صلاح رام الله ته ولاړ او هلته يې له ابراهيم سره وليدل او هغه ته يې د معاملې په اړه خبر ورکړ. ابراهيم له هغه سره په موټر کې کيناست او بئر زيت ته روان شول تر څو هلته له مؤمن سره وګوري، ابراهيم مؤمن ته يو وړوکی قوطی ورکوي، د هغه لاس مضبوط نيسي او د کاميابي دعا ورته کوي. ماښام مؤمن او د هغه ملګري په يو موټر کې بهر وزي چې د يوې اسرائيلي کمپنۍ دی او په عبراني ژبه ليکل پرې شوې دي، هغوی د يروشلم د عمومي لارو جاج اخلي، لومړی ورځ هغوی د شمال طرفته ځي او دوهمه ورځ د جنوب طرفته او هغوی د اشغالګر فوځ او پوليسو د امنيتي تدابيرو، موټرو او د پياده خلکو د حرکت او د سړک تر څنګ د پرازې ولاړو فوځيانو جاج اخلي، کله چې هم دوی د سړک په دواړو طرفونو کې يو شی ويني نو خپل ملګري ورته متوجه کوي.

څو ورځې بعد دوی په يو موټر کې بهر وزي، مؤمن په شاته څوکۍ کې ناست دی او د هغه دواړه ملګري يو موټروان او بل ورسره په مخته څوکۍ ناست دی.

موټر له بيت حنينا څخه د جنوب په لور حرکت کوي. کله چې دوی د عربو له سيمې بهر کيږي نو له خپلو جېبونو څخه کوچنۍ خولۍ راوباسي چې يهودي مذهبي خلک يې په سر کوي، هغوی خولۍ په خپلو سرونو ږدي او د سړک په غاړه د يو مناسب هدف لټون کوي. يو فوځي له خپل ټوپک سره ولاړ ګی او موټرو ته د ودريدو اشاره کوي چې هغه خپل موټر ته پورته کړي. مؤمن د سټريا له امله خپل سر په څوکۍ ږدي او ويده کيږي.

موټر ودريږي او فوځي د مخې څوکۍ ته سر ورښکته کوي او له موټروان نه په عبراني ژبه کې پوښتنه کوي «ټيسوبټ سمی» حسن په عبراني ژبه ځواب ورکوي «تعليه» بيا هغه وروستی دروازه خلاصوي او په موټر کې کيني. څو دقيقې وروسته موټر روان دی او په راديو کې په عبراني ژبه سندرې غږيږي. مؤمن خپل ټوپک د فوځي تندي ته نيسي او خپل لاس په هغه باندې ږدي تر څو وسلې نه لاس رسی ونلري، عبدالکريم هغه ته چاقو نيسي او دواړه ورته د حرکت نه کولو اخطار ورکوي تر څو د هغه سلامتيا او حفاظت يقيني شي، خو هغه بهر ته د وتلو او د ټوپک د راوباسلو هڅه کوي نو مؤمن پرې يو څو ډزې کوي او عبدالکريم پرې د چاقو ګزارونه کوي، دوی د هغه اتوماتيک ټوپک (M۱٦) غنيمت کوي او د هغه په ملا باندې يو کاغذ لګوي چې په هغه ليکلي دي: کتيبه د هغه اختطاف او وژلو مسؤليت قبول کړ او هغه د سړک په غاړه اچوي.

عبدالرحيم له محمد ابو رشدي سره ملاقات وکړ چې هغه د جنوب لويديځ اردن، الخليل، بيت لحم او د هغه د اطرافو د کتيبه له طرفه مسؤل دی. عبدالرحيم خپل کلي صوريف ته لاړ، هغه محسوس کړه چې دنيا د هغه لپاره تنګه شوې ده. هغه د اونی تيږيدو ته منتظر شو تر څو په عملي توګه د مجاهدينو په صفونو کې د داخل کيدو ارمان پوره کړي. راتلونکې ورځ په کلي کې له اشغالګرو فوځيانو سره نښتې کيږي چې هغوی د يو ځوان د نيولو لپاره راغلي وو، د کلي خلکو په ډبرو سره مقاومت پيل کړ چې له امله يې يو څو فوځيان ټپيان شول،

کله چې د هغې شپې تیارې خورې شوې نو اشغالګر فوځ او استخباراتو په کلي کې په لوی شمېر خلک ونیول، د فوځیانو لوی قوت زما د ترور په کور چاپه واچوله او عبدالرحیم یې ونیوه، د کور یې ټوله تالاشي واخیستله خو هیڅ یې پیدا نکړله، بغیر له یو څو کاغذونو او اعلامیو چې د هغو توجیه اسانه وه چې په سړک مو پیدا کړي دي لکه څنګه چې ډېرو خلکو همدا بهانې کولې.

زما ترور فتحیه د خپل ځیګر د ټکړې او د سترګو تور عبدالرحیم په نیول کیدو نږدې وه چې لیونۍ شي او کله یې چې هغه له کوره بهر روان کړ نو د هغې مزاحمت بې ګټې ؤ خو د هغې لپاره لږ د ډاډ خبره دا وه چې عبدالرحیم اوس یو سړی دی او د هغه لپاره د ویرې هیڅ خبره نشته، کله یې چې هغه ونیوه نو هغه بالکل د یو نارینه په شان ثابت قدمه ؤ، د هغې په غوږونو کې به د عبدالرحیم هغو خبرو انګازې کولې او هغې ته به یې ډاډ ورکاوه چې کله یې په دروازه وباسلو او هغه ورته ویل: «یا أماه لا تخافي عليَّ فقد اصبحت رجلاً» (ای زما مورې زما په هکله ویره مه کوه زه اوس یو سړی یم)، مور به یې.د هغه لپاره له الله تعالی څخه د حفاظت او بیرته د ژر راستنیدو دعاوې کولې.

عبدالرحیم نقب زندان ته یوړل شو چې هلته ورته د شپږو میاشتو اداري قید سزا ورکړل شوه، په دې وخت کې هغه هلته له ډیرو ځوانانو. علماوو او داعیانو سره ملاقات وکړ او هلته د موجودو کلتوري او روزنیزو فعالیتونو څخه یې مکمل ګټه پورته کړه.

ابو رشدي او د هغه ملګرو په سیمه کې په اشغالګرو فوځیانو او د هغوی په زورواکو خپل بریدونه ګړندي کړل، یوه نیمه به داسې ورځ تیریده چې د دوی په ګزمه یا د زورواکو په موټرو به برید نه کیده، دوی به کله د موټر په واسطه حمله کوله، کله به د غرو په لمنو، یا د درو په ژورو کې پټ شول او په دښمن به یې بریدونه کول، دلته یو مړ، هلته یو ټپي او په دې توګه یې اشغالګرو ته تاوان رساوه.

د ځينو مجاهدينو له نيول کيدو وروسته او د دښمن د فوځ او استخباراتو د سخت کوښښ په وجه ابو رشدي او د هغه ځيني ملګري اشغالګرو ته معلوم شول. فوځيانو او په ځانګړې توګه د استخباراتو افسرانو څو ځله د ابو رشدي په کور حمله وکړه تر څو هغه ونيسي خو دوی به هر ځل ناکام شول. ځکه کله چې د هغه ملګري ونيول شول نو ابو رشدي د کورنۍ له غړو سره خدای پاماني وکړه او هغوی ته يې وويل چې هغه کيدای شي تر ډيرې مودې پورې کور ته رانشي او هغه په نږدې غرونو او اطرافي کليو کې پټه استوګنه پيل کړه، چې هلته به يې د ملګرو يا داسې مخلصو خلکو په کورونو کې پناه اخيستله چې هغوی به مقاومت کوونکو ته په پناه ورکولو او مرسته کولو کې ښېړه کوله.

يو ماښام چې موږ د مور په کوټه کې ناست وو، چای مو نوش کاوه او ورسره مو د خربوزې زړي خوړل، په بيلابيلو موضوعاتو خبرې روانې وې، کله چې د خبرونو اوريدلو وخت شو نو محمود تلويزيون چالان کړ ، په خبرونو کې راغلل چې د فلسطين د ازادۍ غورځنګ د استازو او اسرائيلو په مابين کې د يو اروپايي دولت په پايتخت کې له اوږدې مودې مذاکرات روان دي او دواړه جانبين يوې هوکړې ته نږدې شوي دي.

«فائزې» حسن ته غږ کړ او هغه په ټوکو کې په مذاکراتو کوونکو انتقاد پيل کړ، په داسې حال کې چې هغه د دې رقم واقعاتو غندنه کوي ځکه د حسن په نظر له يهودو سره هر قسم خبرې اترې ناروا دي، د مذاکراتو مطلب د اسرائيلو په رسميت پيژندل او د فلسطين په خاوره د هغوی وجود منل دي او دا حق هيڅ فلسطيني وګړی نلري. محمود د حسن په دې دريځ ناخوښه شو او حيران شو چې په دې معامله کې دين ولې دخيل کوي؟ دا يوه سياسي معامله ده او له دين سره هيڅ تړاو نلري. سياسيون د معاملاتو اړخونه سنجوي او مناسب ګامونه اخلي، هغه پوښتنه کوي چې د حسن او د اسلامي ډلې له انتقاضې نه مراد څه دی؟ او په دې کې د کيدونکو فعاليتونو، شهيدانو او قربانيو مقصد څه دی؟ ايا دا

تولې هڅې بې معنا دي؟ ایا بل هیڅ مقصد نلري، فقط مړه کیدل دي؟ هغه پایله راوباسي چې انتقاضه باید واضح او معقول سیاسي هدف ولري او تورپک غیر سیاسي شی دی، یوه ځان وژنه او بې معنی کوښښ دی. ابراهیم پوښتنه کوي: نو ستا په نزد واضح او معقول اهداف څه دي؟ محمود ځواب ورکوي چې د بین المللي قوانینو د پریکړو عملي کول پکار دي چې د ۱۹٦۹ کال په اشغال شویو سیمو کې د فلسطیني دولت د جوړیدو وضاحت ورکوي. حسن په چیغه کولو سره وایي: یعنی موږ باید د فلسطین تاریخي خاوره ٪ ۷۵ د اسرائیلو حق وبولو؟ چې په بدل کې یې اسرائیل له غزې ترانګې او لویدیځې غاړې نه ووزي او هلته فلسطیني دولت جوړ شي؟ محمود ځواب ورکوي: هو! ولې ته له دې زیات څه غواړې؟ حسن په زور سره وایي: هو! زه له دې زیات غواړم ځکه اسرائیل یو غاصب دولت دی چې زموږ په ځمکه جوړ شوی دی او هغه باید ختم شي. محمود په خندا سره وایي: څوک وایي چې اسرائیل باید ختم نشي؟ وروره موږ په اوس وخت کې لوړې نعرې نه وهو، موږ اوس د سیاسي جریان د حقیقتونو او حالاتو په اړه غږیږو... واقعیت دادی چې دنیا زموږ قضیه په منصفانه توګه د حل کولو لپاره جدي نه ده او عرب په برخلیک ټاکونکي اقدام کولو کې ناکام دي او زموږ فلسطینیانو سره هغه صلاحیت نشته... حسن په غصې سره د هغه خبرې غوڅې کړې: چا ویل چې له موږ سره صلاحیت نشته، ایا ته نه ګورې چې موږ په دوو کلونو کې د هغوی په سلګونو فوځیان ووژل؟ محمود په خندا د هغه خبره غوڅه کړه: نو د دې څه مقصد شو؟ هغوی هم زموږ څو چنده زیات خلک ووژل. حسن وویل: مهمه خبره داده چې هغوی د خپل دریځ بدلولو ته اماده شوي دي، ایا تا په نږدې ورځو کې د هغوی د سیاسیونو خبرې وانه وریدلې چې د غزې د پریښودلو وړاندیز یې کړی ؤ؟ محمود ځواب ورکړ: اوریدلې مې دي او هغوی به وځي او موږ به هلته فلسطیني دولت جوړوو. ابراهیم په مداخلت کولو سره وویل: محموده! ستونزه د فلسطیني دولت په

جوړولو کې نه ده. هیڅ داسې فلسطیني نشته چې هغه د فلسطیني دولت جوړیدل نه غواړي خو ستونزه په هغه قیمت کې ده چې موږ یې باید د فلسطیني دولت د جوړولو لپاره ادا کړو. محمود په طنزیه مسکا سره وویل: یعنی ای فلسفي! ته فکر کوې چې د اسرائیلو د رسمیت پیژندلو نه بغیر د دولت جوړول ممکن دي؟ ابراهیم وویل: هو! محمود وویل: څنګه او څوک به... ابراهیم یې خبره غوڅه کړه: معلومه خبره ده چې مقاومت او نظامي فعالیتونه چې اشغالګرو ته ځاني تاوان رسوي او ملي انتقاضه چې دوی ته سیاسي او مطبوعاتي تاوان رسوي؛ دوی به له غزې او لویدیځې غاړې نه په ویستلو مجبور کړي او موږ به په هر هغه ځای کې خپل دولت جوړولی شو چې دښمن یې خالي کوي. محمود بیا په طنزیه خندا سره وویل: نو فرق یې څه دی ای فلسفي؟ مریم په لوړ غږ سره وویل: ته ولې له هغه سره په دې لهجه خبرې کوې؟ د محمود له ځواب نه وړاندې ابراهیم په اشارې سره مریم ته د غلې کیدو وویل او زیاته یې کړه: مریم! له محمود څخه مه خفه کیږه، هغه پریږده چې څنګه یې خوښه وي هغه وکړي، هغه زموږ د ټولو «پلار» دی.

محمود له شرم نه نظر واړاوه او بیا یې وویل: مهمه خبره داده چې د اسرائیلو له لویدیځې غاړې او غزې له هرې برخې څخه د لوظنامې او بغیر لوظنامې له مخې په وتلو کې څه فرق دی؟ ابراهیم ځواب ورکړ: فرق یې دادی چې که چیرته دوی د لوظنامې له مخې وځي نو دا به د فلسطین د خلکو په دې خبره اقرار وي چې د دوی زموږ په نورو ځمکو هم حق شته او که دوی بغیر له لوظنامې د مقاومت د فشار له مخې ووځي نو د دې مطلب دا دی چې موږ د هیڅ شي پابندي ونکړه او زموږ لپاره دروزاه خلاصه ده چې موږ سمدستي یا څه وخت وروسته چې کله موږ مناسب وګڼله مقاومت ته دوام ورکولی شو.

دلته محمود د هغه د خبرو په غوځولو سره وویل: تاسو فکر کوئ چې حالات باید همداسې روان وي. دا سیاسي ناپوهي ده. تاسو سیاست او زموږ د مسئلې

ګير چاپېره حقيقتونه نه درک کوئ او نه هم زموږ شخصي يا موضوعي حالات پېژنئ! حسن په غصه ووېل: ته هر وخت همداسې کوې محموده! حمله وکړې او لوی لوی اصطلاحات کاروې چې له وخت سره مناسب نه وي، زموږ شخصي، موضوعي، تمثيلي او فلاني حالات... محمود په خندا سره ووېل: زه خو همېشه دا وايم چې تاسو سياسي ناپوهان ياست او شيانو ته ساده نظر کوئ. حسن په چيغه کولو ورته ووېل: ناپوهه مه وايه او بغير له حملې په احترام سره خبرې کوه. په دې وخت کې زما مور په مداخلت کولو سره ووېل: د نن شپې لپاره همدمره بس دی، خپلو کارونو ته لاړ شئ، ماته خوب راځي او تاسو په خپلو سياسي خبرو سره زموږ سرونه راخلاص کړل.

يحيی د شمال لوېديځې غاړې په قراوة بني حسان کلي کې د يو ملګري په کور کې پټ شوی دی او هلته له اوسېدو سره سره يو څو بمونه تياروي او د هغه ځينې همکاران يې تر هغو ګروپونو رسوي چې يحيی ورسره د کار کولو معاهده کړې وه. دا ګروپونه يې د ګزمې او زورواکو موټرو ته ږدي چې له امله يې محدود برياليتوبونه ترلاسه کيږي خو دې کار په يقيني توګه د جنګ په الاتو کې يو نوی عنصر شامل کړ. اشغالګر د يحيی په لټون کې کله کله د هغه په کور چاپه اچوي خو ناکام شي، هغوی د کور ټول سامان لټ په لټ اړوي او د هغه له والدينو نه تحقيقات کوي خو هغوی ته د خپل زوی په اړه هېڅ معلومات نشته.

په عامو حالاتو کې د کور د کوڅې په يو کونج کې يو هلک په شکمن هيئت سره ولاړ وي چې تر ډېره د کور څارنه کوي او په شاوخوا شيانو کې د مشغول کېدو بهانه جوړوي. يحيی کور ته د شا لخوا راځي، د کړکۍ له لارې کور ته داخلېږي او د خپلو والدينو سرونه او لاسونه ښکلوي، له خپلو ماشومانو سره مينه کوي، له خپلې مېرمنې سره ملاقات کوي، غسل کوي او جامې بدلوي او بيا د خپل کار او پټېدلو ځای ته ستنيږي.

په غزه کې له ابراهیم، عماد او دوو نورو مجاهدینو سره د ابو نضال په کور کې ملاقات کوي، هغوی په یوه کوټه کې یوازې ناست دي، ابو نضال ورته چای راوړ او د دوی د شخصي خبرو له امله له کوټې نه بهر ووت. ابراهیم یو راپور وړاندې کوي چې په هغه کې ښودل کیږي چې د سهار له شپږو څخه تر اووه بجو په مابین کې په دوو موټرو مشتمله گزمه هره ورځ په شارع النصر باندې د الشاطئ کمپ سره نږدې حرکت کوي، او د دوی په مخ کې په پوزي باندې یوه نقشه ږدي چې په هغه کې عمومي او فرعي سړکونه ښکاري او په قلم سره په اشارې کولو سره وایي: دا فرعي سړک اشغالگرو په باطون بیلرونو سره بند کړی دی، دا فرعي سړک داسې دی چې موټر پټ پرې تیریدلی شي او دا فرعي سړک خام دی چې د موټرو لپاره مناسب نه دی، په عمومي شکل د گزمې موټر له شمال څخه راځي او جنوب ته ځي خو کله کله په مخالف طرف هم حرکت کوي. عماد د ابراهیم له لاس نه قلم واخیست او ویې ویل: هلته باید یو کس (د تراصد لپاره) موجود وي چې د گزمې د راتگ او د هغوی د طرف په هکله اشاره راکړي، موږ به په دوو برخو وویشل شو: یوه حصه به دلته شي (او په قلم سره یې د لویدیځ په طرف یو فرعي سړک ته اشاره وکړه) او دوهمه حصه به دلته شي (د لومړي فرعي سړک په جنوب کې یې یو بل فرعي سړک ته اشاره وکړه) اشاره کوونکی شخص به د دواړو فرعي سړکونو په مابین کې په عمومي سړک حرکت کوي او د گزمې د راتگ او د هغې د سمت په هکله به سمدستي دواړو گروپونو ته معلومات ورکوي په ځانگړې توگه دوهم گروپ ته چې هغوی به د گزمې راتگ له ځای نه لیرې وي او دا شخص به سمدستي په هغه گروپ کې شاملیږي. لومړی گروپ به گزمه پریږدي چې د دوی له مخې تېره شي، لومړی موټر به پریږدي او د دوهم موټر په تیریدو سره به د شا لخوا برید پرې کوي او په دې وخت کې به لومړی موټر لومړي گروپ ته ور رسیدلی وي چې هغوی به

برید پرې کوي او په همدې توګه به دواړه موټر له منځه یوړل شي او د یو بل
مرسته به نشي کولی ځکه هر موټر به زموږ په برید کې ښکېل شوی وي.
ن به موږ د ځای جاج اخلو او د وتلو لارې به ګورو او صبا به ان شاء الله عملیاتو
ته روانیږو. او ټول ان شاء الله. ان شاء الله وایي. ابراهیم خبرو ته دوامَ ورکوي:
عماده! صبا باید زه هم له تاسو سره لاړ شم، زه نور فقط په استخباراتي کارونو
صبر نشم کولی او زه باید له تاسو سره په ځینو عملیاتو کې برخه واخلم. یو
موجود شخص ځواب ورکوي: خو... عماد د هغه خبره غوځوي او ابراهیم ته
وایي: هیڅ خبره نشته صبا سهار پنځه نیمې بجې له موږ سره ووینه. صبا سهار په
ټاکلي وخت دوو کسانو په لومړي فرعي سړک او دوو نورو په دوهم فرعي
سړک کمین نیولی دی او یو ځوان په عام سړک روان دی او دا څرګندوي چې
هغه د خپل کار د موټر لپاره انتظار کوي، د هر فرعي سړک په اخر کې یو موټر
ولاړ دی چې موټروان یې ستیرینګ ته ناست دی او انجن د روانیدو په انتظار
چالان دی. اشاره کوونکي ځوان اشاره وکړه چې ګزمه د شمال له طرفه را روانه
ده او هغه په دوهم ګروپ کې شامل شو او پنځه ماشینداري اماده شوې. لومړی
فوځي جیپ د لومړي فرعي سړک له مخې تېر شو او کله چې دوهم جیپ
راورسیده نو دوه مجاهدین په منډه د فرعي سړک سر ته راوختل او ډزې یې پیل
کړې چې د موټر شاته پټ شوي ول، په دې وخت کې درې کسان د دوهم
فرعي سړک څخه د عمومي سړک په خوا رامخې ته شول چې هلته یې په لومړي
موټر د خپلو ټوپکو خولې ور واړولې. په پنځو کې هر یو د خپل ټوپک شاجور
یو ځل بدل کړ او له دوهم شاجور څخه یې هم یو څو ډزې وکړې او دواړه
موټر له دیوال سره وجنګېدل ، کله چې فوځیان په خپلو وینو کې لت پت شول
نو مجاهدین د خپلو موټرو په طرف راستانه شول او خپل ځای ته روان شول. په
لوی شمېر کې فوځي کومک د پېښې ځای ته راورسیده او فوځي افسرانو، د
پلټنو کارمندانو او طبي کارمندانو د حالاتو جاج اخیستلو. بل طرفته د یوې ورځې

ونې لاندې. له سړک سره نږدې په یو باغ کې یو ځوان دوه بمونه یوې ګزمې ته وغورځول چې له امله یې څو تنه ټپیان شول. د سیاسي، فوځي او امنیتي ادارو د مشرانو لیونتوب اوج ته رسیدلی ؤ. یوه مشر په خپل لاس سره میز وواهه او خپلو لاندې کسانو ته یې وویل چې هغه د عماد سر غواړي. او ژر تر ژره یې غواړي. انتظار نشي کولی او کارونو ته متوجه کیدل پکار دي. کاري ساعتونه دوه چنده کول پکار دي، د کارمندانو شمېر زیاتول غواړي او ډیر تر ډیره د جاسوسانو متحرک کول ضروري دي تر څو د عماد سر غوځ کړلی شي.

له معمول سره سم ابراهیم یو کور ته له خپلو مزدورانو سره د ساختماني کار لپاره ځي او داسې څرګندوي چې په دې عملیاتو کې یې هېڅ ونډه نه درلوده او ماښام د کار له خلاصیدو وروسته بیرته کور ته ځي. هغه غسل کوي او جامې بدلوي، ډوډۍ خوري او له خپلې لور او زوی سره لوبې کوي. د ماښام لمانځه ته جومات ته ځي او بیا موټر ته خیژي او یوه شیبه وروسته کور ته راځي. هغه د مور کوټې (د ملي کانفرانس خونې) ته راځي او هلته د نن سهار د فدایي عملیاتو په اړه خبرې کیږي او داسې ویل کیږي چې عماد د دې عملیاتو مشري کوله او د بریدګرو د زړورتیا ستاینه کیږي. ابراهیم داسې غلی کیني ګویا که له دې معاملې سره هیڅ اړیکه نلري. کله چې محمود په تلویزیون باندې خبرونه راوستل نو د دې عملیاتو خبر ته یې ډیر پوښښ ورکړ، د ځینې اسرائیلي مشرانو خبرې راغلې، ځینو اخطارونه ورکول او ځینو له غزې څخه د وتلو او هغه په خپل غم کې د پریښودلو په اړه خبرې کولې. بل خبر دا راغی چې د فلسطینیانو او اسرائیلو په مابین کې خبرې تائید شوې دي ځکه مطلقو سرچینو چې خپل نوم ښودل یې نه غوښتل: ویلي وو چې د دواړو جانبینو تر منځ لوظنامه تقریباً اماده ده او خبرې اترې د ناروې حکومت په پایتخت کې شوې دي او ډیر ژر به په یوې لنډمهاله لوظنامه باندې لاسلیک وشي. ابراهیم وویل: ایا تاسو ډیر تلوار نه کوئ او زیات امیدوار یاست؟ لومړی خو موږ ته لوظنامه وښایاست تر څو موږ یې وګورو او

خپله رایه ورکړو. محمود ځواب ورکړ: ستا دریځ له پیل نه معلوم دی، ته د سم او ناسم په اړه د هر شي مخالفت کوې دا ستا له پیل نه دریځ دی، ته په هر شي نیوکه کوې او هر شی رد کوې او زه له تا څخه د هر شي او هرې خبرې په اړه همدا توقع لرم ځکه ته فقط مخالفت پیژنې.

کله چې په خبرونو کې وویل شول چې ډېر ژر به د اوسلو په لوظنامه باندې لاسلیک وشي. لکه څنګه چې غزه مخکې د اریحا په نوم سره یادیدله نو فلسطیني خلک په دې هکله په دوو ډلو وویشل شول، ځیني یې په مخالفت کې او ځیني یې په ملاتړ کې. په کمپ کې دوه لاریونونه وشول. یو لاریون د محمود او د هغه د ملګرو په مشرۍ کې وشو چې د دې لوظنامې ملاتړ یې کاوه او دوهم لاریون د حسن او د هغه د ملګرو په مشرۍ کې وشو چې د دې لوظنامې مخالفت یې کاوه، دواړه غټ لاریونونه وو، ملاتړ کوونکو شعارونه ورکول : «غزه اریحا... القدس» او مخالفت کوونکو به شعارونه ورکول: غزه، اریحا، رسوایي ، له دې څخه بد بویي راځي!

دواړه لاریونونه په مخالفو لارو روان وو، لومړی لاریون د فوځ له څنګ څخه د تیریدو په مهال په هغوی د زیتون د څانګو ګزارونه پیل کړل او فوځیانو له دې ویرې دوی ته ټوپکونه نیولي وو چې کوم مخالف په لاریون کې داخل شوی نه وي چې دوی ته لاسي بم راونه غورځوي او یا ډزې پرې ونکړي. کله چې دوهم لاریون تیریده نو په فوځیانو یې د ډبرو ګزارونه وکړل او دا شعارونه یې ورکول « ځان او وینه به له تا ځاروو ای فلسطینه!... قدس زموږ دی، نه د ظالمانو... په جنګ کې د دوی تباهي ده»

فوځیانو اوښکې بهونکی ګاز او پلاستیکي مرمۍ استعمال کړې، کله چې دواړه لاریونونه سره یو ځای شول نو په یو لاریون کې محمود او په بل کې حسن خلکو په اوږو کینولي وو او هر یو خپل شعارونه ویل، یو په مخالفت کې او بل په ملاتړ کې شعارونه ورکول. د یوه ساعت لپاره د دوی سترګې سره وجنګیدې

او شور جوړ شو. غږونه لوړ شول او د ځینو لاریون کوونکو په مابین کې لړلړ نښتې هم رامنځته شوې. د مشرانو انځورونه په تلویزیون نشریدل چې په اوسلو کې یې په لوظنامه لاسلیکونه کول.

په غزه کې د الزیتون په سیمه کې د مسجد مصعب بن عمیر په چت باندې یو اتلس کلن ځوان ناست ؤ او لارې ته یې کتل. له جومات سره نږدې په یو ویجاړ کور کې عماد او ابراهیم پټ ناست وو او د هلک د کوچنۍ اشارې انتظار یې کاوه. د عماد په لاس کې یو وړوکی M١٦ ټوپک ؤ او د ابراهیم په لاس کې یو کلاشنکوف ؤ او له دواړو سره زیاتې مرمۍ وې. له لیرې څخه یو فوځي جیپ راښکاره شو چې په هغه کې درې فوځیان وو. هلک لومړی شپیلک وواهه نو عماد او ابراهیم اماده شول، بیا یې دوهم شپیلک وواهه او څنګه چې جیپ ویجاړ کور ته راورسیده نو هغوی لږ مخې ته پریښود او بیا یې د اتوماتیک وسلو په مټ ډزې پرې پیل کړې.

درې واړه فوځیان په ځمکه وغورځیدل اوجیپ مخې ته روان ؤ تر دې پورې چې له یوې دروازې سره وجنګیده، عماد او ابراهیم د جیپ پسې شاته منډې وهې، ټوپکو ته شاجورې وریدلوي او ډزې کوي. کله چې جیپ ودریږي نو ابراهیم او عماد جیپ ته په ور رسیدو سره یو فوځي ځمکې ته راکاږي، عماد د هغه په سر پښه ږدي او هغه سر ته په اخري مرمۍ سره ولي او ابراهیم د دې صحنې درې انځورونه اخلي، عماد او ابراهیم درې نوي ټوپکونه غنیمت کړل، خپل موټر ورته راغی او هغوی د صحنې له ځایه ووتل.

په همدې وخت کې د الخلیل او بیت لحم په مابین کې په عمومي سړک څلور مجاهدین د ابو رشدي په مشرۍ کې د لارې تر څنګ د ډبرو شاته پټ ناست وو او د هر یو په لاس کې اتوماتیک ټوپک ؤ او د یو اسرائیلي موټر د تیریدو انتظار یې کاوه. د فوځیانو یو بس راغی او کله چې دوی ته مخامخ شو نو ټولو پرې

دزې پیل کړې، بس مخته د سړک په غاړه ودرید او په همدې وخت کې د مجاهدینو موټر راغی او هغوی پکې په یوه غره یزه لاره لاړل.
موټر یوه اوږده مسافه مزل کړی ؤ او په یوه ګولایي کې یو فوځي پوسته وه، څلور اسرائیلي فوځیان د سړک په غاړه ولاړ وو او موټر ته یې د ودریدو اشاره کوله، خالد چې موټروان ؤ؛ پوښتنه یې وکړه: څه وکړم؟ ابو رشدي په لوړ غږ کې ځواب ورکړ: داسې څرګنده کړه چې ته ودریږې او کله چې ورنږدې شوې نو په تېزي سره حرکت وکړه او هر یو خپل طرفته په فوځیانو ډزې پیل کړئ، په پنځه متره فاصله کې هغه پوښتنه وکړه: تاسو اماده یاست؟ ټولو ځواب ورکړ: د الله په حکم سره ټول اماده یو. موټر رفتار کم کړ، د فلسطین بیرغ پرې رپیږي او ورسره د زیتون یوه څانګه هم وه تر څو دوی ته دوکه ورکړي، خالد چې کله د فوځیانو په خوا وکتل نو مسکا یې وکړه او فوځیانو هم په مسکا ځواب ورکړ، په دې وخت کې ابو رشدي په زوره وویل: اوس!... له څلورو ټوپکو څخه د اور په شان مرمۍ وریدلې، فوځیان په ځمکه وغورځیدل او یوه هم ډزې ونشوې کړلی. خالد موټر په تېزي سره وتښتاوه. له یوه ټوپک څخه دده د سر له پاسه مرمۍ تیرې شوې، کله چې موټر سل متره لیرې ولاړ نو ابو رشدي په چیغه سره وویل: بیرته وګرځېږه او د هغوی د مرګ تصدیق وکړه، هلته څلور ټوپک دي چې هغه راواخلو. موټر په تېز رفتار کې روان وو او خالد یک دم سټیرینګ راتاو کړ نو موټر خپل توازن له لاسه ورکړ او یوې ژورې ته وغورځیده، یوې اوسپنې د ابو رشدي پښې ته زور ورکړ او نور ملګري یې ټپیان شول.
د اشغالګر فوځ د هجوم او کومک غږونه لوړل شول او د یو هلیکوپټر د پورته کیدو غږ هم راغی. مجاهدین د حادثې څخه په هوش کې راغلل او له موټر څخه د وتلو هڅه یې پیل کړه او بیا یې په ډیره مشکله د خپل مشر او ورور د ویستلو هڅه وکړه او په مشکله یې هغه رابهر کړ او د دوو ملګرو په مرسته روان شو. د هلیکوپټر غږ لوړ شو او صفا معلومیده چې په سیمه کې د لویې تالاشي

عملیات کیدونکي دي. ابو رشدي له خپلو ملګرو څخه ودرید او ورته یې وویل: څومره مرمۍ چې دي هغه ماته راکړئ او تاسو په بله لاره لاړ شئ. او د غره طرفته یې په اشاره کولو سره وویل: زه به د دې غره شاته کینم او له دوی سره تر ډیر وخت پورې مقابله کولی شم او تاسو په بله لاره لاړ شئ. خو هغوی په یوه غږ ځواب ورکړ: موږ تا څنګه یوازې پریږدو!؟ داسې نشي کیدلی، یا به موږ ټول خلاصیږو او یا به ټول شهیدان کیږو. ابو رشدي په خندا ورته وایي: تاسو ته ډیر کارونه پاتې دي، ځئ او مرمۍ راکړئ او له دې ځایه وځئ، دا زما امر دی او تاسو یې مخالفت نشئ کولی. ځئ، ځئ! هغوی ده ته مرمۍ ورکوي او ټول په ژړا ژړا رخصت کیږي.

خالد وویل: موږ ټول به په مختلفو لارو ځو، که یو ونیول شي نو بل به خلاص شي. په لوی شمېر کې فوځ راغی او سیمه یې محاصره کړه، ابو رشدي د ډبرو شاته پټ شو او په هغوی یې ډزې پیل کړې او د مختلفو ډبرو له شا څخه به یې ډزې کولې تر څو فوځیانو ته وښایي چې له دې ځایه یو شخص نه بلکې ډېر خلک ډزې کوي او په همدې توګه ابو رشدي اشغالګر تر یو نیم ساعت پورې مصروف وساتل، تر دې پورې چې هلیکوپټرو د هغه ځای معلوم کړ او په څو میزائیلو سره یې هغه شهید کړ، د هغه سپیڅلی روح د خپل خالق ملاقات ته ولاړ، د هغه جنت په خوا لاړ چې پراخوالی یې د اسمانونو او ځمکې سره برابر دی.

خالد د یو نږدې کلي څنډې ته ورسید او له یو ځایي شخص سره یې ولیدل او هغه په خپل کور کې پنا ورکړه، د هغه په ټپونو یې پټۍ کیښودې او په ډیرې مینې سره یې د خوراک او څښاک بندوبست ورته وکړ. عبدالرحمن د یهودې سیمې یو کلي ته ورسیده چې هلته ساختماني سامان پروت ؤ، هغه په ځمکه څملاست او د سیمینټو ګډونکی لګن یې په ځان واړاوه او د هغه یوه څنډه یې ډبرې ته تکیه کړه تر څو ساه واخیستلی شي او د حالاتو جاج واخلي. محمد د

زيتون يوې پخوانۍ ونې ته وخوت او د هغه په يو غته څانگه څملاست. له ابو رشدي سره د اشغالگرو جگړه روانه وه. له بمبار نه وروسته چې کله دوی د غره تالاشي واخيستله نوهيڅوک يې پيدا نکړل. هغوی په نورو سمتونو کې دوباره تالاشي پيل کړه، فوځيان د هغې ونې لاندې ولاړ وو چې محمد يې په څانگه پروت ؤ خو هغوی ونه ليده او الله تعالی يې په سترگو پردې واچولې. هغوی د يهودي کلي د لارو په خوا نه کتل ځکه هيڅوک داسې نشي فرض کولی چې هلته دې کوم مجاهد پټ شي.

په راتلونکو ورځو کې زموږ په کور کې د خفگان حالات وو. محمود او حسن دواړه په کور کې له يو بل سره له ليدلو ځانونه ساتل. هغوی له څو ورځو راهيسې د مور کوټې ته رانغلل. کله به چې يو بل ته مخامخ شول نو مخونه به يې گرځول، که په يو بل به يې سلام اچولو نو په غير واضح الفاظو به يې يو څه ويل او دوهم به هم په مبهم انداز کې ځواب ورکاوه. زه او ابراهيم به له مور سره کيناستلو او د خبرونو او حالاتو څخه به مو ځانونه خبرول. زه به د فدايي خبرونو په اوريدلو حيران او احساساتي کيدم خو د ابراهيم مخ به د ډيرې په څېر جامد ؤ او په هغو به‌يې هيڅ تبصره نه کوله خو د اوسلو په لوظنامه کوونکو يې بغير له ښکنځول نيوکه کوله.

زما د ورور محمود يو ملگری هغه وخت له بهر هيواد نه راغلی ؤ کله چې د فلسطيني اداري فوځونه د غزې خاورې ته داخليدل، موږ ته دوه خبرونه راغلل: يو خبر دا چې زموږ له پلار څخه دوه ورونه ماجد او خالد هم له راتلونکي فوځ سره راځي. دا اخري غږ دی چې موږ يې اورو چې زموږ دوه ورونه چې موږ يې نه پيژنو ماجد او خالد هم له فوځيانو سره راځي. يعنی دوی لوی دي؟ هو! دوی شل کلن دي. محمود په چيغه کولو پوښتنه وکړه: او زما پلار. د هغه په هکله څه خبر دی؟ ميلمه ځواب ورکړ: داسې ښکاري چې ستا پلار په اردن کې له پيښو شويو نښتو وروسته وفات شوی دی. زما مور د دې خبر په اوريدو سره په څمکه

بې هوشه وغورځیده او مور د کولونیا بوتل د هغې له پوزې سره په نږدې تویولو سره د هغې په هوش کې د راتلو هڅه کوله، مور داسې وو لکه چا چې په سرونو په څټک وهلي یو.

شپږویشتم څپرکی

زما د پلار په اردن کې د مړینې او زما د دوو ورونو خبر چې د هغوی په هکله مور مخکې هېڅ نه وو اوریدلي: زموږ په کور کې ډېر وخت او توجه ترلاسه کړه. دا څرګنده شوه چې کله په ۱۹٦۷ کې غزه او لویدیځه غاړه اشغال شول نو زما پلار له هغه ځایه مصر ته ولاړ او بیا له مصر نه اردن ته لاړ او هلته مقیم شو. هلته یې په بقاء کمپ کې له یوې فلسطینۍ میرمنې سره واده وکړ او دوه غبرګلوني زامن خالد او ماجد یې پیدا شول، څه وخت وروسته زما پلار هلته په نښتو کې شهید شو او خالد او ماجد له خپلې مور سره په اردن کې رالوی شول. د هغوی مور هم څه وخت وړاندې وفات شوه نو دوی دواړه له فلسطیني ځواکونو سره غزه او اریحا ته داخل شول چې هغوی ته یې د لوظنامې له مخې اجازه ورکړې وه. له اشغال راهیسې مور د پلار په هکله هېڅ خبر نه ؤ اوریدلی او مور دا وګڼله چې هغه شهید شوی دی. بیا ناڅاپه مور ته معلومات کیږي چې زموږ دوه ځوانان ورونه نور هم شته او هغوی به غزې ته راځي چې د دې مطلب دادی چې هغه به په یوه نه په یوه طریقه زموږ په کورنۍ کې شامل کیږي. زما مور تر ډیرو ورځو پورې ذهني مریضه وه او داسې ښکاریده چې هغه له یو اعصابي رنځ څخه کړیږي. مور خپله ټوله هڅه وکړه چې هغې ته ډاډګیرنه ورکړو او د هغې درد کم کړو. له کله نه چې زما پلار تقریباً درې لسیزې ورک ؤ نو زما مور هیله درلوده چې هغه به نیوه ورځ ژوندی زموږ کور ته راځي خو کله چې هغې ته معلومه شوه چې بل واده یې کړی دی او تر څلورو کلونو پورې یې له مور سره هیڅ اړیکه ونه نیوله او بیا یې د وفات خبر هم راغی نو دا هر څه زغمل د هغې لپاره ستونزمن وو. مور هغه قانع کوله چې له جنګ وروسته ابتدائي

کلونه ستونزمن وو او هغه يقيناً له موږ سره د اړيکې نيولو جوګه نه ؤ. خو په هر تقدير الله تعالی دې هغه وبخښي. هغه چې هر څه کړي دي حساب يې له الله تعالی سره شته. او موږ الحمدلله ځوانان يو او موږ به هغې ته د هيڅ کمي احساس نه ورکوو. موږ به هغې ته د نورو خلکو د مصيبتونو او غمونو خبرې کولې او هغه به مو د هغې له حالاتو سره مقايسه کول او په دې خبره به مو ټينګار کاوه چې موږ په بهترين حالت کې يو. تر دې پورې چې د هغې حالت يو څه ښه شو. خو دا څرګنده شوه چې هغه له يو قوي ټکان څخه تيرېږي او اوس هغه د پخوا په شان متحرکه او قوي نه وه.

بوه بله موضوع چې زموږ د کور او د فلسطيني خلکو د توجه حصه ګرځيدلې وه؛ دا وه چې په نږدې ورځو کې د غزې په الزيتون کوځه کې درې تنه وژل شوي فوځيان «دروز» وو. ډيری دروز ځوانان د اسرائيلو په سرحدي ځواکونو. پوليسو او د زندان په عسکرو کې داخل شوي وو او خپلې وظيفې به يې په ښه طريقه ترسره کولې لکه د يهودي فوځيانو له طرفه د لاريون کوونکو يا مجاهدينو په خلاف يې له تاوتريخوالي او بلند چلند څخه ډک اعمال سرته رسول او ځينو بې له اخلاقي حدودو څخه په تيري کولو د ميرمنو او انجونو په تنګولو هم لاس پورې کړ او د هغوی په عزتونو يې د تېري کولو هڅې کولې چې له امله يې د دوی په ضد په خلکو کې د ناراضتيا او غصې احساسات پيدا شول.

يادونه: دروز يوه مذهبي فرقه ده چې د اسلام د شيعه اسماعيلي څانګې څخه پيدا شوې ده. د دروزي عقيدې لارويان خپلو ځانونو ته «دروز» وايي. دا فرقه په ځانګړې توګه په لبنان، شام او اسرائيلو کې پيدا کيږي. په دروزي عقيده کې مذهبي، فلسفي او روحاني عناصر شامل دي، او منونکي يې خپل عقائد پټ ساتي. دروز يو مخصوص ګروپ دی چې په خپل کلتوري شناخت کې قوي دي او د هغوی په لارښوونو کې په عقل، روحانيت او بشري مساويتوب ټينګار کيږي.

... خو له دې تولو سره سره مجاهدینو هیڅکله دوی ته په ځانګړې توګه د هدف ګرځولو اراده نه درلوده ځکه د دوی په هکله همیشه دا باور وو چې دوی زموږ د عربي فلسطینیانو یوه برخه ده اګر که دوی ډېر څه کړي وي. کله چې«عملیة الزیتون» واقع شول نو هلته هم دا معلومه نه وه چې دوی دروز دي بلکې هدف دا وو چې د اشغالګر فوځ د ګزمې داسې یو موټر په نښه شي چې فوځیان په خپلو دریشیو کې، له ټوپکو سره، د دندې په مهال موجود وي او همداسې وشول.
کله چې دا حقیقت ښکاره شو چې هغوی دروز دي نو د ابراهیم په سترګو کې به د درد او افسوس معنی ښکاریده او یقیناً چې هغه به په زړه کې ویل چې کاشکې مړه شوي یهودیان وای!! کله به چې موږ په تلویزیون کې ولیدل چې د هغوی میندې، میرمنې او خویندې په هغوی ژاړي نو ابراهیم به له زړه څخه یو سوی اسویلی وکړ. له دې سره سره د دروز قوم ډیرو پوهانو په دې خبره ټینګار وکړ چې دروز ځوانان باید له اشغالګر فوځ سره له کار کولو او په لویدیځه غاړه او غزه کې د خپلو خلکو په ضد له عملیاتو ډډه وکړي، د همدې مقصد لپاره ځینې ګروپونه هم جوړ شول. په دې معاملې باندې د خبرو په دوران کې د یو بل اړخ یادونه هم وشوه هغه دا چې ډیرو کوچیانو هم په اشغالګر فوځ کې دندې ترسره کولې، دوی په فوځ کې د پل معلومونکو او پلټونکو په توګه کار کاوه او مهم کارونه به یې ورته کول او په فلسطین او جنوبي لبنان کې کې به یې د مقاومت کوونکو په خلاف خطرناک اهداف سرته رسول. د کوچیانو مسئله د دروزو په نسبت زیاته حساسه وه او مقاومت کوونکو ته یې ډیرې ستونزې پیدا کولې ځکه د دوی په بریدونو کې د یهودو پر ځای کوچیان وژل کیدل.
په دې مسائلو د خبرو اترو په مهال زموږ په مابین کې مختلف نظرونه تبادله کیدل خو اخر به ټولو دا حقیقت قبلولو چې هر څوک د اسرائیلي فوځ یونیفورم اغوندي، وسله اخلي او له هغوی سره دنده کوي نو مقاومت کوونکو ته یې

هدف گرځول هيڅ باک نلري. ستونزه نوره هم سختېدله ځکه د ۱۹۴۸ په اشغال شويو سيمو کې د کوچيانو په ټولنو کې هم تضاد زيات ؤ. د جوماتونو امامانو د دې وژل شويو د جنازې لمونځ له کولو، د هغوی د دفن کولو او يا ورته له دعا کولو انکار کاوه، ډيرو کورنيو د خپلو زامنو په تابوتونو د اسرائيلو بيرغ يا حکومتي فوځي جنازې له اذا کولو انکار کاوه. خو له دې ټولو حالاتو سره سره، ابراهيم د خپل معمول جملې تکرارولې: وگورئ چې يهوديان څنگه زموږ د خلکو د يوې برخې په گمارلو بريالي کيږي چې اوس د دوی ساتنه کوي.

بو ځل بيا د اسرائيلي مشرانو دماغ د عماد د جرائت او زړورتيا له امله ناارامه شول او دوی يې له امله له سخت شرم سره مخ شول، هغه به دوی ته داسې ورښودله لکه اسرائيل چې له غزې څخه د مقاومت په زور تښتي، نه دا چې د يوې حکومتي لوظنامې له مخې وځي. د جنوبي سيمې قوماندان د فوځ او استخباراتو افسران راټول کړل او په زوره يې د مېز په وهلو سره ورېل: ماته د عماد سر په کار دی، ټوله توجه همدې کار ته وکړئ! ټول په خپلو کارونو کې مشغول شول. د عماد په زرگونو انځورونه جوړ شول، د ږيرې او بغير له ږيرې،د نقاب او بغير له نقاب، د اوږدو ويښتانو او لنډو ويښتانو، د عينکو او بغير له عينکو... په فوځيانو کې دا انځورونه تقسيم شول چې په سيمه کې په سلگونو پوستو ولگېدل، تالاشۍ پيل شوې، کور په کور گرځېدل پيل شول چې استخباراتو به يې مشري کوله. بل طرفته د استخباراتو کارمندانو له خپلو جاسوسانو سره اړيکې ټينگې کړې، ځينې به يې خپلو دفترونو ته رابلل او له ځينو سره به يې د ويجاړو سړکونو په غاړه ليدل، هغوی ته به يې د عماد مختلف انځورونه ښودل او دوی ته به يې ويل چې له هغه سره په شکمنو فعاليتونو کې د شريکو کسانو څارنه کوئ او سمدستي موږ ته راپور راکوئ.

ډيری کارمندان يې په مستقله څارنه وگمارل، موږ وليدل چې دوه کسان فقط د هغه د کور دروازه څاري او د ډيرو هغو ځايونو څارنه پيل شوه چې عماد هلته

راتللای شوای. یوه جاسوس په الشجاعیه کې د ابو نضال د کور څارنه کوله. کیدای شي د هغوی په دې کور شک ؤ، یا د کور کوم ماشوم خپل ملګري ته د عماد د راتګ په هکله خبرې کړې وي. یو ماښام عماد په خاموشي سره د ابو نضال کور ته راغی، کورنۍ له معمول سره سم د هغه تود هرکلی وکړ. ام نضال سمدستي د هغه لپاره ډوډۍ تیاره کړه ځکه د هغه روژه وه. د ماښام اذان وشو او عماد ختمین جام له خپلو شونډو سره ولګاوه تر څو یو څو څاڅکي اوبه وڅکي: اللهم لک صمت و علی رزقک... په دې وخت کې د نضال غږ راغی چې په منډه کې یې ویل: په لوی شمېر کې فوځ سیمه محاصره کړې ده، عماد د اوبو لوښی بغیر له څکلو کېښود او ویې ویل: د الله حکم هیڅوک نشي رد کولی. دا یوه د معمول خبره کیدای شي خو زه یې ګورم او تاسو خفه کیږئ مه، هغه پورته وخوت تر څو حالات وګوري، فوځیان له کور څلور طرفه تاو شوي وو او په سلګونو ټوپکو د هغه طرفته خولې اړولې وې او له هغوی شاته هم په سلګونو نور فوځیان موجود وو. په لوړ اواز کې عماد ته وویل شول چې ځان دوی ته وسپاري ځکه د هغه شناخت شوی دی او مقابله هېڅ ګټه نه ورته کوي، عماد ځواب ورکړ:

أي يوميَّ من الموت أفر	يوم لا يقدرُ أو يوم قدِر
يومَ ما قُدّرَ لا أرهبُـهُ	و اذا قدّر لا يُنجي الحذر

ژباړه: زه د مرګ له کومې ورځې ځخه تیښته وکړم؟ له هغې ورځې چې مقدره ده او که له هغې ورځې چې مقدره نه ده؟ کومه ورځ چې مقدره نه ده زه له هغې ویره نلرم، او کومه ورځ چې مقدره ده نو د خلاصون هڅې بې فائدې دي.

بیا هغه خپله تومانچه راوویستله او د جنګ لپاره اماده شو، او په بام باندې غلی غلی دوی ته نږدې راغی، کله یې چې یو فوځي ولیده چې کور ته نږدې راغی نو په هغه یې د تومانچې ډز وکړ او هغه په تندي ولګید او له دې نه وروسته سلګونو ټوپکو دده په خوا مرمۍ وویشتې، او بیا یوه ژوره چوپتیا خپره شوه، ټولو

فکر وکړ چې عماد له دنیا رخصت شو. فوځیان بیا رامخته شول او عماد له بام څخه د تکبیر په نعرو سره په دوی باندې ډزې پیل کړې: الله اکبر، الله اکبر، یو ځل بیا دده په خوا مرمۍ ووریدلې او د هغه پاک بدن په وینو رنګ شو، د اسمان دروازې خلاصې شوې تر څو د شلمې پېړۍ د نویمې لسیزې د یو لوی فلسطیني مجاهد د روح هرکلی وکړي. فوځیانو له لیرې څخه هغه ته کتل او د نږدې ورتلو همت یې نه درلود، له لاوډسپیکر نه غږ وشو: ابو نضال! له کور څخه راووځه! هغه له کور نه راووت، هغه ته حکم وشو چې لاسونه پورته کړي خو هغه داسې ونکړل، هغه ته حکم وشو چې عماد ته ورشي چې په ځمکه پروت ؤ او د هغه حالت وګوري، ابو نضال نږدې ورغی او د هغه پاک بدن یې وکاته چې په مرمیو غلبیل شوی ؤ، د هغه وینې په ځمکه بهیدلې او د زیتون ونې لاندې غورځیدلې چې هغې د خپلو ځانګو په واسطه د هغې وینې د ښکلولو هڅه کوله تر څو هغه د تورې شپې له هواګانو او د دښمن له ظلم نه وساتي. دا خبر د ځنګله د اور په شان په هیواد کې خپور شو او خلک کوڅو، سړکونو او میدانونو ته راووتل او شعارنه یې ورکول «په روح او په وینو به تا ګټو ای فلسطینه! په روح او په وینو به تا ګټو ای شهیده! په روح او په وینو به تا ګټو ای عماده!»

د ټول هیواد میدانونو د یوې لوېې نښتې صحنې وړاندې کولې چې خلکو پکې د اشغالګر فوځ په خلاف سخت مزاحمت وکړ او د مجاهد عماد حسین عقل روح ته یې الوداع وویل. مونږ په کور کې له دې پیښې نه خبر شو، لکه ځنګه چې هر کور ته د شپې ناوخته دا خبر ورسید او زمونږ د ټولو په سترګو کې اوښکې وې، بغیر له ابراهیم چې د هغه سترګې جم شوې خو څهره یې بدله شوه او هغه ولاړ شو. زما خور مریم د خپلې کوټې په دروازه کې ولاړه وه او په سترګو کې یې اوښکې وې، یاسر یې په غېږ کې نیولی ؤ او اسراء په څنګ کې ورسره ولاړه وه، مریم خپل خاوند ته کتل او هغه په چیغه ورته وویل: مریم زما وسله راوړه! د هغه الفاظ د برق په څېر وو ځکه دا لومړی ځل ؤ چې ابراهیم خپل

حقیقت په دومره واضح شکل څرګند کړ. مریم خپل زوی یاسر ماته راکړ او په تېزي سره په زینو وختله او بیرته راغله. په لاسونو کې یې کلاشنکوف او د مرمیو ډک شاجورونه وو، هغه یې ابراهیم ته ورکړل او په رومال سره یې د خپلو اوښکو د پاکولو تر څنګ مسکا کوله.

ابراهیم ټوپک واخیست، بیا وربشکته شو او د اسراء او یاسر سرونه یې ښکل کړل او د مریم له رخسار څخه د یوې بلې اوښکې په پاکولو سره له کوره ووت. زموږ زړونو دعاوې کولې چې خدای دې هغه روغ وساتي او قدمونه یې مضبوط کړې، په دې وخت کې زما یاد ته راغلل چې زموږ مور به د اسراء د غلي کولو په وخت دا سندرې کولې: په دروازه ولاړه یم زما رومال راوړئ... زما وسله راوړئ. په دروازه ولاړه یم، زما وسله راوړئ... بیا زما په یاد شول چې کله زه ماشوم وم نو هغې به د مریم د غلې کولو په وخت هم همدا سندرې کولې نو هلته ماته احساس پیدا شو چې هغه الفاظ څومره اهمیت لري چې موږ یې د خپلو میندو له شیدو سره څښو او موږ ولیدل چې هغه الفاظ زموږ د وینو په څاڅکو کې راپورته کیږي. ماته دا هر څه ذهن ته راغلل. کله چې ما مریم ته وکتل. هغه مریم چې موږ به له تودې هوا څخه هم ساتله: هغه نن خپلې اوښکې پاکوي او د خپلو خوبونو شهزاده، خپل خاوند او د خپلو بچیانو پلار ته الوداع وایي، هغه ته وسله ورکوي او خپلې اوښکې پاکوي. بغیر له مخته او وروسته کیدو او بغیر له خوف نه. بیا ماته احساس وشو چې موږ یو عظیم ملت یو چې نه ماتیږو او نه شانه ګرځو. یا هغه عجیبه روح چې زموږ په بدن کې ګرځي: موږ داسې قرباني او فداکارۍ ته اماده کوي. زما د مور غږ زما په غوږونو کې انګازې کوي: په دروزاه ولاړه یم. زما وسله راوړئ.... زما وسله راوړئ!! هیڅکله نه. ای د زړه روحه. هیڅکله نه. ارام به ونکړم. د خپلې وسلې په راوړلو او د دښمن په وژلو. او له اور څخه به خپله بریا ترلاسه کوم... زما وسله راوړئ. زما وسله راوړئ. په دروازه ولاړه یم... زما وسله راوړئ..!

په غزه کې د اشغالګرو فوځیانو او استخباراتو د لوړ پوړو چارواکو موټرو اوس د ښار له مرکز څخه د ختیځ په طرف د تلونکې لارې په ځای چې د ښار د مرکز او ختیځې برخې ګنجان څخه تیریږي؛ د لویدیځ په طرف د شارع النصر او السودانیه د څلور لاري په طرف له سمندري لارې څخه تګ راتګ پیل کړ. ابراهیم معلومات ترلاسه کړل چې د اشغالګر فوځ د یو قوماندان موټر په خاص وخت کې د شپې په لومړۍ برخه کې په دې لاره تیریږي. هغه د عماد د سمدستي او ګړندي انتقام لپاره د هغه د هدف ګرځولو فیصله وکړه.

د شمالي نصر سړک په ختمیدو چې هلته یو سړک د ختیځ په طرف جبالیه ته او بل د لویدیځ په طرف د سمندر ساحل ته د السودانیه مقام ته تللی دی. هلته اشغالګرو فوځیانو سیمینټي موانع ایښي دي چې تیریدونکي موټر په ودریدلو مجبوروي تر څو هغوی د فوځیانو د ګزمې موټرو ته لاره خوشې کړي. هغوی د سړک د څلور لاري شاوخوا باغونه، دیوالونه او اغزن تارونه هم ویجاړ کړي وو. د ګرځبندیز نظام به د شپې په شروع کیدو سره نافذ شو، د فوځیان موټر به یا د جنوب له خوا راتلل او څلور لاري ته په رارسیدو سره به یې رفتار کم کړ او د لویدیځ خواته به وګرځېدل. او یا به د لویدیځ له طرفه راتلل او څلور لاري ته په رارسیدو به یې رفتار کم کړ او د جنوب په خوا د نصر سړک په طرف به وګرځېدل چې دا لاره به د ښار زړه ته تللې وه.

د ونو او نارنجو شاته شپاړس پړکیدونکې سترګې ښکاري. د هرې ونې شاته د یو مجاهد دوه سترګې دي. په تیاره کې، په یوه صف کې د اتو کلاشنکوفونو د میلونو شاته پړکیږي. هغوی په خمکه پروت کړی دی. ګوتې په ماشه د مطلوب هدف د راتلو انتظار کوي. له لویدیځ طرف نه یو فوځي موټر را روان دی. خپل رفتار کموي او د جنوب خوا ته ګرځېږي. په ونو باندې د تالاشي څراغ اچوي چې هلته مجاهدین پټ شوي دي چې له امله یې هغه ځای د ورځې په شان روښانه کیږي. د مجاهدینو د زړه درزا زیاتیږي او له لیرې څخه اوریدل کیږي. دا هدف

نه دی! که فوځیانو د کوم مجاهد د سترګو یا د کوم ټوپک د میل پرګېدل ولیدل نو هغوی به په ونو ډزې وکړي او تر ټولو مهمه دا چې عملیات به ناکام شي. خو الله تعالی د دوی حفاظت وکړ. د ګزمې موټر وغرېده او ځای یې پرېښود او څو دقیقې وروسته په تېز رفتار کې د موټرو غږ راځي.

لومړی جیپ یو نوی فوځي جیپ دی چې لوی فوځي قوماندانان یې کاروي او شاته یې بل عام جیپ د ساتنې په موخه ورسره دی. دواړه موټر خپل رفتار کموي او د ابراهیم غږ راځي: الله اکبر، بسم الله، الله اکبر او ناڅاپه اته ټوپکې د اور په شان مرمۍ غورځوي، اته مجاهدین د خپلو ټوپکونو شاجورۍ بدلوي او په منډه منډه د موټرو خواته ورځي، لومړیَ جیپ د سیمینټو له موانعو سره ودرېږي او دوهم جیپ له لومړي جیپ سره د جنګیدو له امله ودرېږي. دوی فقط دومره عکس العمل ښکاره کوي چې له دوهم جیپ څخه یو فوځي وروستۍ دروازه خلاصوي او له خپل ټوپک سره سر بهر راوباسي خو د یو ډز په کولو هم نه بریالی کېږي. مجاهدین په دوو ګروپونو ویشل کېږي. لومړی ګروپ د شمال په خوا په یوه سړک منډې وهي چې هلته یو موټر د هغوی انتظار کوي او د جبالیه په خوا حرکت کوي، د سړک په یوه ګولایي کې او لسګونه متره لیرې د ګزمې یو جیپ درېږي او فوځیان یې موانع کېښودل پیلوي او مخته تلونکي موټر ته د ودریدو اشاره کوي. ابراهیم موټروان ته چیغې وهي چې داسې څرګندوه چې ته ودرېږې او کله چې ورنږدې شې نو په پوره رفتار سره وځه! او تاسو په ګزمه ډزې کوئ. کله چې موټر ګزمې ته ورنږدې کېږي نو مجاهدین له شیشو څخه چې د مرمیو له امله ماتې شوې دي؛ ټوپکونه راوباسي او د مرمیو په باران سره د ګزمې فوځیان هدف ګرځوي چې د هغوی د ویریدلو او چیغو غږونه پورته کېږي او په ځمکه غورځي، ځینې فوځیان وژل کېږي او ځینې ټپیان کېږي او موټر په ټول سرعت سره روان دی، یو فوځي چې د جیپ شاته پټ ؤ؛ د موټر له تیریدو وروسته د مجاهدینو په موټر ډزې کوي چې له امله یې د موټر

وروستی شیشه ماته شوه او ټولو سرونه ټيټ کړل. یوه مرمۍ د ابراهیم له سر سره نږدې تېره شوه او د هغه ویښتان وسوځېدل. موټروان یو فرعي سړک ته د غړيدلو په وخت ولیدل چې سړک د کانګریټو په بیلرونو سره بند شوی دی. هغه وارخطا شوه او شاته د ستنیدلو کوښښ یې پیل کړ خو ابراهیم په چیغه کولو ورته وویل چې ودریږه او ښکته کوز شه تر څو موږ موانع لیرې کړو او پیاده لاړ شو. هغوی ښکته شول او په بیلرونو تر ختلو وروسته بل طرفته د یوه ښایسته کور دروازې ته ورسېدل، هلته یو نوی موټر ودرېده او یو زوړ سړی او د هغه میرمن ترې راښکته شول، مجاهدین ورغلل او د موټر کیلي یې ترې وغوښته او دا ژمنه یې ورسره وکړه چې بیرته به یې ورته راولي. سپین ږیری سړی د څلورو وسله والو په مخ کې لړزیږي. موټروان د هغه له لاس نه کیلي واخیستله او موټر ته یې حرکت ورکړ او سپین ږیری سړی په ځمکه وغورځېده. یوه شیبه وروسته یو مجاهد وویل چې دا سموسنائټ بکس ډېر دروند دی او کله یې چې خلاص کړ نو هغه د ډالرو له بنډلو څخه ډک ؤ چې شمېر یې تقریباً یو میلیون ډالر وو. ابراهیم په خندا وویل: اوس موږ بیرته نشو تللی ځکه اشغالګر فوځ به یقیناً هلته تللی وي او سپین ږیری سړی باید تر سهاره انتظار وکړي. څنګه چې د سهار سترګې لومړی ځرک ښکاره شو نو یو ځوان د سپین ږیري سړي کور ته راغی، د دروازې زنګ یې وواهه او سپین ږیری بهر راووت، مجاهد هغه ته سلام وکړ او د موټر د کیلي په ورکولو سره یې ورته وویل: مجاهدین ستا ډیره شکریه ادا کوي او د بد اخلاقي ښنه غواړي خو موږ مجبور وو، بکس هغه شان واخله څنګه چې موږ اخیستی ؤ او په دې کې موجود شیان وشمېره. سپین ږیری سړی حیران شو او په غیر واضح انداز یې وویل: د اسمانونو د رب شکر دی، ته څوک یې؟ الله دې ستا حفاظت وکړي او ستا مرسته دې وکړي، تاسو یقینې د دې وړ یاست چې الله تعالی فتحه درکړي، انتظار وکړه زویه، انتظار وکړه، خو مجاهد د څه اوریدو نه پرته له هغه ځایه روان شو.

سهار یوه اعلامیه خپره شوه چې په هغه کې د شهید شوي اتل د وینو د انتقامي عملیاتو یادونه وشوه. او د رادیو په خبرونو کې اعلان وشو چې د اشغالګرو فوځیانو زیات عسکر وژل شوي دي چې په هغوی کې د غزې د خانګړو ځواکونو قوماندان ډګروال مشیر فیتز هم شامل دی. خلکو نعرې پیل کړې: «تحیة للکتائب... کتائب عزالدین...»

د جهاد اسلامي درې کارمندان چې د لویدیځې غاړې له عنزه کلي سره د اشغالګرو فوځیانو او د هغوی د زورواکو په تیریدونکې لاره کې یې یو ماین نصب کاوه. دوی په ترورډمی کې پټیږي، د هغوی هدف یو (G.M.C) موټر دی چې په دې لاره تیریږي، عصام برقي تارونه د بیټرۍ له قطب سره لګوي چې له امله یې یوه زورروره چاودنه کیږي او د تیلو ټانکر اور اخلي. په دې چاودنه کې درې اشغالګر وژل کیږي او مجاهدین له صحنې څخه وځي. څو ورځې وروسته په ځیږنو سره بریدګر پیژندل کیږي او د هغوی له جملې دوه نیول کیږي او عصام خلاصیږي او خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. څه وخت وروسته اشغالګر د عصام د پټیدو ځای معلوموي او په لوی شمېر کې فوځ هلته رسیږي. هغوی ځای محاصره کوي او عصام ته د وسلې غورځولو حکم کوي خو هیڅ ځواب نه ورته راځي. هغوی په هغه ځای برید کوي او عصام په دوی متقابلې ډزې کوي چې له امله یې ځینې فوځیان مړه او ژوبل کیږي. فوځیان شاته ځي او خپل مړه او ژوبل عسکر راکاږي. بیا ځای بمباروي او دوباره حمله کوي او عصام په دوی ډزې کوي چې له امله یې دوی بیا وروسته کیږي او د هغه ځای د مکمل ویجاړولو عملیات پیلوي او د عصام پاک روح د جنت په اعلی مقام نازول کیږي.

درې تنه مجاهدین له اسرائیلي مسافرو نه ډک بس ته ورخیژي او خپلې وسلې او بمونه راوباسي او اعلان کوي چې بس اختطاف شوی دی. د دوی هدف د اشغالګرو له زندان څخه د فلسطینیانو د راخلاصولو لپاره د خبرو اترو کول دي.

له نامعلوم طرف څخه يوه مرمۍ راځي چې له امله يې يو مجاهد ټپي کيږي او هغه د بس په فرش باندې غورځي، په بس کې ګډوډي شروع کيږي او د برق له يوې پايې سره ټکر کيږي. باقي دوه مجاهدين ډزې کوي، ځينې خلک وژني او ځينې ټپيان کوي. او بيا له بس نه ښکته کيږي او په لاره يو تيريدونکی موټر ودروي او هغه ته ور ختيږي او موټروان ته د جنوب په طرف د حرکت کولو حکم کوي. له القدس نه بيت جالا او بيت لحم ته په تلونکي سړک اشغالګر فوځيان موټر په ميزائيلو سره هدف ګرځوي او پکې ناست ټول کسان وژل کيږي.

ابراهيم د سفر چمتووالی نيسي او رام الله ته رسيږي چې هلته له ځينو مجاهدينو ورونو سره ويني، هغه سمدستي له دوو نورو ملګرو سره په يو موټر کې روانيږي او رام الله ته نږدې د عوفر فوځي کمپ سيمې ته رسيږي. هغوی د زورواکو يو موټر ويني، په هغه ډزې کوي او مسافرين يې وژني او بيا له صحنې ورکيږي. اشغالګر فوځي راځي او د سيمې په محاصره کولو سره تالاشي پيل کوي خو هيڅ په لاس نه ورځي. څو ورځې بعد دوی بيا د القدس ـ رام الله سړک ته وځي او يو نوی هدف لټوي. دوی د يو زورواکي موټر ويني چې يو ټاير يې خراب شوی دی او درې مسافر يې د ټاير په بدلولو مشغول دي. دوی د موټر له څنګ نه په تيريدو په هغوی ډزې کوي او ټول وژني او په بيړه له سيمې څخه وځي. هلته ګرځبنديز نافذيږي، د اشغالګرو او استخباراتو ليونتوب اوج ته رسيږي او په سيمه کې په لوی شمېر نيول پيل کوي. کيدای شي کوم درک معلوم شي چې دوی بريدګرو ته ورسوي. عبدالمنعم په نيول شويو کې يو تن ؤ. هغه يو شل کلن ځوان ؤ چې د انتقاضه په فعاليتونو کې فعال ؤ. په نږدې ورځو کې هغه له ابراهيم او د هغه له مجاهدو ملګرو سره ملاقات کړی ؤ چې هغوی ده ته د وسلې زده کړه ورښودلې وه په دې هيله چې هغه به په راتلونکې کې جهادي فعاليتونه پيل کوي. د هغه ځينې ملګري چې مخکې نيول شوي وو؛ هغوی د جاسوسانو په

لومو کې ښکېل شول او د تحقيق په مهال يې اقرار وکړ. د هغوی په ضد په فعاليتونو او عملياتو کې د دوی رول څرګند شو چې له امله يې دوی ته لږ ترلږه لس کاله قيد ورکول کيدای شي. په عبدالمنعم باندې تحقيق سخت شو. د هغه د ملګرو د اقرار له امله له ده څخه پوښتنې وشوې خو هغه هيڅ هم ونه منل. هغه «عصافير» ته يوړل شو خو هغه دوکه نشو. هغه له خپلو ملګرو سره يو ځای کړلی شو او د جاسوسي الات ورته نصب شول خو هېڅ ګټه يې ونکړه. هغه له ټولو سره احتياط پيل کړ. کله به هم چې د هغه ملګرو ورسره خبرې کول غوښتل نو هغه به چيغې وهلې او انکار به يې کاوه چې هغه هيڅوک نه پيژني.
تحقيق سخت ترين شو خو هيڅ فائده يې ونکړه. يو محقق هغه ته راغی او د خوشي کولو په عوض کې يې ورسره معامله کول پيل کړل او دا يې څرګندوله چې عبدالمنعم اقرار نکوي ځکه هغه نه غواړي چې په زندان کې پاتې شي خو د هغه ملګرو په هغه اقرار کړی دی او که هغه وغواړي او که ونه غواړي نو هغه به پنځلس کاله قيد تيروي. محقق هغه ته د معاملې کولو وړانديز کوي چې که چيرته هغه له دوی سره مرسته کول غواړي نو هغه به خوشی کړلی شي او بيا يې د فکر کولو لپاره وخت ورکړ. عبدالمنعم په توقيف کې يوازې ناست دی او فکر کوي: الله اکبر. د وسلې د راخيستلو او وسلوال جهاد د پيل کولو وخت راغلی دی. د فرض ادا کولو او زړه ته د سکون ورکولو وخت راغلی دی خو له دې وړاندې چې زه يو څه وکړم دا نيول کيدل په نه اټکل کيدونکې شکل پيښ شول. يا الله دا زما سره څه کيږي؟ ايا زه له دوی سره په مرسته کولو راضي شم تر څو له قيد نه خلاص شم؟ او بيا ژر په خپله غوره کړې لاره لاړ شم؟ هغه بيا بيا فکر وکړ او بالاخره يې پريکړه وکړه. کله چې محقق بيا هغه ته د پوښتنې لپاره راغی نو هغه د خپلې رضا اعلان وکړ. او بيا محقق د ملګرې جوړيدلو په کوښښ سره هغه پوه کړ چې هغه به فوځي محکمې ته وړاندې کوي او هغه به يې د خلاصولو حکم کوي تر څو په ده باندې څوک شک ونکړي او هغه خپل کار وکړي. څو ورځې وروسته د زندان دروازه خلاصه شوه او عبدالمنعم بهر ودريده.

هغه تازه هوا په ژوره توګه تنفس کړه او په الله یې قسم وکړ چې هغه به هیڅکله ماتې ونه مني او هیڅکله به معامله ونکړي. هغه د یو کور په طرف ولاړ او د کور څښتن ته یې وویل چې هغه ژر تر ژره له یوه مجاهد سره لیدل غواړي. څو ساعته وروسته یو سړی راغی او هغه ته یې وویل چې باید په یوه خاصه کوڅه کې په ټاکلي وخت انتظار وکړي. هغه هلته انتظار پیل کړ او هلته یو موټر راغی چې په هغه کې ابراهیم او عبدالرحمن ناست وو. موټر روان شو او عبدالمنعم هغوی ته ټول حال بیان کړ چې د هغه ملاقات د چهارشنبې په ورځ د ماښام پنځه بجې د بیتونیا په یوه خاص کوڅه کې له یو استخباراتي افسر سره کیږي. عبدالمنعم به له هغه نه د هغو کارونو تفصیل معلوم کړي چې هغوی یې کول غواړي او مشوره یې ورکړه چې هغه ته باید هلته کمین ونیول شي او په هغه او د هغه په ملګرو برید وشي.

په ټاکل شوي وخت عبدالمنعم د یو غیر محفوظ باغ شاته د یو کور نه ګیر چاپیره ګرځیده چیرته چې ابراهیم او عبدالرحمن له خپلو کاشنکوفونو سره د استخباراتو د موټر انتظار کاوه، له دې نه بغیر په شاته سړک باندې د یو موټر موټروان په سمدستي توګه د دوی د وپاسلو لپاره ولاړ ؤ. یو مرسیډیز موټر د عربي نمبر پلیټ سره د سړک له پیل څخه راښکاره شو. عبدالمنعم خپل حرکت ګړندی کړ تر څو موټر ته ورسیږي. پلان داسې جوړ شوی ؤ چې کله موټر ودریږي او عبدالمنعم موټر ته ورسیږي نو هغه به ځمکې ته ښکته کیږي او له دواړو خواوو څخه به ډزې کیږي. خو هغه داسې ونکړل او موټر ته ور ورسیده او له ملا څخه یې تومانچه راوباسله او استخباراتي افسر یې په سر وویشت او د هغه ملګري ته یې تومانچه ونیوله خو موټروان موټر په تېز رفتار سره روان کړ او بیا ابراهیم او عبدالرحمن په موټر ډزې پیل کړې او درې واړه له هغه ځایه ووتل. عبدالمنعم په یو نږدې کلي کې پټ شو او ابراهیم او عبدالرحمن الخلیل او شاخوا سیمو ته مخه وکړه. د استخباراتي مسؤلینو غصه اسمان ته وختله څکه هغوی سخت ګزار وخوړ. هغوی د عبدالمنعم او د هغه د ملګرو د نیولو یا وژلو هر ممکن کوښښ وکړ. د عبدالمنعم نوم د هغوی لپاره مشهور او خاص ؤ.

هغوی د عبدالمنعم انځور په خپلو فوځي پوستو او جاسوسانو کې تقسیم کړ او د هغه لټون یې پیل کړ. یوه جاسوس هغه په یو نږدې ښارګوټي کې وپیژانده او سمدستي یې استخباراتو ته خبر ورکړ. یو درمیانه ټرک چې له سبزیجاتو ځخه ډک ؤ او یو عربي لباسه سړي چلاوه چې په سر یې سور رومال هم اچولی ؤ او ورسره په همدې لباس یو بل تن هم ؤ. ټرک په یو ځای ودرېده او عبدالمنعم او د هغه ملګری ترې ښکته شول. ټرک بیا ناڅاپه ودرېده او د سبزیجاتو د صندقونو له شا ځخه لس د قطعه خاص ځواکونه له خپلو وسلو سره رابهر شول او عبدالمنعم او د هغه ملګري ته یې وویل چې وسله وغورځوي او لاسونه پورته کړي. خو هغوی خپلو وسلو ته لاس کړ او په دوی یې ډزې پیل کړې چې په مقابل کې یې عسکرو هم ډزې پیل کړې او دوی یې شهیدان کړل. د هغوی روحونه جنت الفردوس ته پورته شول چې هلته د قادر مطلق بادشاه سره دي. په دې وخت کې ابراهیم په الخلیل کې له مجاهدینو سره ؤ چې هلته دوی د نورو فدایي عملیاتو لپاره چمتووالی نیولو. کله چې هغوی دا خبر واورېده نو خپل موټر ته وختل او په یو سړک روان شول چې د القدس په طرف تلو. چیرته چې مفرق ثله خارصینا ته نږدې د کریات اربع خوا ته ځي؛ چې هلته د زورواکو او اشغالګرو فوځیانو تګ راتګ زیات وي.

په سړک باندې یو زورواکی خپل موټر ودراوه، هغه او د هغه ماشومان له موټر نه راښکته شول. هغوی یروشلم ته د تلونکي موټر انتظار کاوه تر څو د هغوی یو زوی په یروشلم کې خپلې مذهبي مدرسې ته لاړ شي. د مجاهدینو موټر هلته تیرېده او په زورواکو یې ډزې پیل کړې چې له امله یې هغوی په وینو کې ولمبېدل. زورواکي او نور خلک ووژل شول او دوه نور ټپیان شول. مجاهدین له هغه ځایه یو نږدې کلي ته لاړل تر څو د تالاشیانو تر ختمیدو پورې هلته پټ شي.

اشغالګر فوځ سمدستي هلته ورسېده، سیمه یې محاصره کړه او ګرځبندیز یې نافذ کړ. الخلیل په هغه وخت کې په ارام نشو. ځنګه چې ګرځبندیز ختم شو او مجاهدینو د حرکت کولو اجازه ترلاسه کړه نو دوی د نویو هدفونو ځارنه پیل کړه

او په هغو يې بريدونه وکړل. هره اونۍ يا دوه اونۍ وروسته به دوی فوځيان يا زورواکي وژل يا ټپيان کول.

اووه ويشتم څپرکی

د روژې مبارکه مياشت وليدل شوه او له دې سره د پاکيزګي او عبادت ارواح خواره شول. په ځانګړې توګه د سهار د لمانځه په وخت جومات ته د راتلونکو خلکو شمېر زيات شو. خلک له پيشمني کولو وروسته جومات ته ځي. په لوی شمېر کې لمونځ کوونکي په حرم ابراهيمي کې راټولېږي او د لمانځه لپاره صفونه برابروي. مؤذن اذان کوي او بيا خلک د سهار سنت ادا کوي. مؤذن يو څه وخت انتظار کوي او بيا امام ودرېږي. مؤذن اقامت کوي او خلک صفونه سيده کوي او د خدای حضور ته درېږي، امام او مقتديان تکبير تحريمه وايي. امام سورة الفاتحه تلاوت کوي «غير المغضوب عليهم ولا الضالين» او ټول جومات «آمين» وايي او بيا مکمل خاموشي خپرېږي. او بيا امام د سورة الاسراء لومړني آياتونه تلاوت کوي : و قضينا الى بني اسرائيل لتفسدن في الارض مرتين و لتعلن علواً کبيراً» بيا امام رکوع کوي. بيا له رکوع څخه پورته کېږي او سجدې ته ځي. کله چې ټول لمونځ کوونکو د خدای حضور سجدې ته ځي نو يو د اوږده قد او خوږې ورې ږيرې څښتن زورواکی د جومات دروازې ته راځي. خپل ټوپک پورته کوي او په سجدو د پرتو لمونځ کوونکو په سرونو او ګيډو مرمۍ اوروي. هغه د ټوپک شاجور يو ځل. دوه ځله او درې ځله بدلوي او د مرميو غږ پورته کېږي او په لسګونو لمونځ کوونکي د خدای د حضور د سجدې په حالت کې خپل روحونه اعلی مقام ته رسوي او په لسګونو نور ټپيان کېږي. ځينې ځوانان د بريد له صحنې وځي او د اوسپنې اور وژونکی پايپ را اخلي. په دوی کې يو ځوان د قاتل طرفته منډې وهي او هغه په سر وهي چې له امله يې د هغه کوپړۍ ماتېږي او سر يې ريزه ريزه کېږي. د تکبير غږونه پوته کېږي او د شهيدانو او ټپيان بهر ته د ويستلو عمل پيل کېږي. ټول هيواد د حرم ابراهيمي په شهيدانو باندې ماتم اعلانوي او خلک د دې بې رحمه قتل عام په خلاف د

لاریون لپاره راوځي خو د اشغالګر فوځ مرمۍ په هر سړک او هره کوڅه کې له دوی سره مخ کیږي.

د اشغالګر فوځ دا هېر شوي وو چې د دوی حکومت څو اونۍ وړاندې له فلسطیني جهت سره یوه لوظنامه کړې وه چې دوی به د غزې او اریحا له سیمو وځي چې دا د امن د لوظنامې ابتداء وه خو د اشغالګرو فوځیانو مرمیو د لسګونو خلکو ژوند واخیست، په سلګونو یې ټپیان کړل او په فلسطین باندې داسې ماتم خپور شو چې له زخمونو او دردونو ډک ؤ. په همدې وخت کې د یعبد القسام کلي په یو کور کې او د قباطیه ښار په یو کور کې درې ځوانان په قرانکریم لاسونه ږدي او تعهد کوي چې دوی به تر هغه پورې په ارام نه کیني تر څو پورې چې د مسجد ابراهیمي د شهیدانو بدل وانخلي. څو ورځې وروسته یو خاص موټر د اسرائیلو د داخلي سیمې په عکو ښار کې له یو مسافر وړونکي بس سره نږدې کیږي او ورسره ټکر کیږي او له هغه وروسته یوه زورروره چاودنه کیږي چې له امله یې بس تباه کیږي، پنځه مسافر مړه کیږي او په لسګونو نور ټپیان کیږي او ځای ته سخت تاوان رسوي.

څو ورځې وروسته یو بل ځوان چې له ملا څخه یې د چاودیدونکو توکو پټۍ تړلې ده: په الخضیره ښار کې د بسونو یو تم ځای ته رسیږي او هلته ځان الوزوي چې له امله یې ډیر کسان مړه او ټپیان کیږي او ځای ته سخت تاوان رسوي. اعلامیې خپریږي چې دا په ابراهیمي جومات کې د قتل عام ځواب ؤ او نور ځوابي بریدونه به هم ترسره کیږي.

په الخلیل ښار کې ځینې مجاهدین یو موټر په نښه کوي او ډزې پرې کوي او بیا د الخلیل ښار په یو لوی اپارتمان کې پټیږي. د مجاهدینو د سختو او پرله پسې بریدونو له امله د اشغالګرو فوځیان او استخبارات د تیارسۍ په حالت کې دریږي. یو جاسوس مجاهدین ویني چې اپارتمان ته داخلیږي. په څو شیبو کې د فوځ په سلګونو عسکر او لوړ پوړي امنیتي افسران اپارتمان محاصره کوي او په زرګونو فوځیان په ښار کې خواره کیږي. د فوځ لاوډسپیکر له مجاهدینو څخه د بهر ته راوتلو او وسلې غورځولو غوښتنه کوي خو هیڅ ځواب نه ورته راځي.

فوځ د اپارتمان له اوسيدونكو غواړي چې اپارتمان خالي كړي او بهر ته د راوتونكو كسانو د هويت جاج اخيستل كيږي او ځينې يې نيول كيږي، دوباره له مجاهدينو د وسلې غورځولو غوښتنه كيږي خو هيڅ ځواب نه ورته راځي. پياده فوځيان د اپارتمان د تالاشي لپاره وړاندې كيږي او په هغوى سختې ډزې كيږي چې له امله يې ځينې فوځيان ټپيان كيږي او چيغې وهي. په ځواب كې يې د اپارتمان په طرف په سلګونو ټوپكونه ډزې كوې او بيا خاموشي خپريږي. فوځيانو يوه شيبه انتظار وكړ او بيا يوه بله ډله د اپارتمان په طرف وړاندې شوه نو دوباره په هغوى هم ډزې وشوې او بيا چيغې او نعرې پورته شوې او هغوى بيا د اور د شغلو په څېر ځواب وركړ. بيا خاموشي خپره شوه. اشغالګر فوځ خپل يو بلډوزر راوغوښت چې په هغه يې د اپارتمان ويجاړول پيل كړل. څنګه چې بلډوزر د ديوالونو وړانول پيل كړل؛ ناڅاپه يو مجاهد د برق په شان راڅرګند شو چې هغه خپل ټوپک د بلډوزر د موټروان طرف ته ونيوه او د هغه په سر يې ډزې وكړې، بلډوزر ودريد او له دې نه وړاندې چې فوځي مشران په دې پوه شي چې ايا هغه ځمكې ننباسه؛ يو ځل بيا په اپارتمان باندې د سپكو وسلو او راكټونو سره بريد وشو. محاصره او نښتې تر دريو ورځو او شپو پورې روانې وې. كله به چې هم د فوځ قطعات اپارتمان ته نږدې شول نو په هغوى به ډزې پيل شوې او بالاخره هغوى اپارتمان په مكمل ډول ويجاړ كړ او هيڅ كانې د بل كانې له پاسه پاتې نشو. بيا بلډوزرو د مجاهدينو د جسدونو لټون پيل كړ تر څو د هغوى د مرګ تصديق وشي. ابراهيم واپس غزې ته راستون شو. څو ورځې مخكې چې د سيمې رسمي انتقال پيل شو چې هلته د اسرائيلي فوځ وجود كم شو او غزه تقريباً خالي شوې وه. د دې كار هركلى په كور كې له خوښيو او اوښكو سره وشو.

د ابراهيم له راستنيدو وروسته مريم هغه مريم نه وه پاتې چې هغه پريښې وه. ګويا كه هغې خپل نرمښت. احساسات او مينه د ابراهيم تر راستنيدو پورې پټ ساتلي وو او هغې د ابراهيم په راتګ سره په چيغو چيغو وژړل. د هغې پښو هغه سنبال نه كړاى شوه او هغې په ديوال د تكيه كولو هڅه وكړه. بيا هغه په ځمكه

کیناستله. زما مور تنهایي پریښوده او ابراهیم ته د ښه راغلاست په پار په منډه راووتله، هغه یې ښکل کړ او خپل ځان ته یې رانږدې کړ او ابراهیم د هغې لاسونه ښکلول.

له دې شپې نه وروسته مور یو ځل بیا د مور په کوټه کې ناسته پیل کړه او هلته راټولیدل یو معمول وګرځېد. په دې شپه مور د خپلو ورونو خالد او ماجد په هکله خبرې وکړې چې چیرته او څنګه د هغوی هرکلی وکړو؟ مور په دې اړه د مور په مخ کې نشو غږیدلی خو دا لومړی ځل ؤ چې مور په دې ډول راټول شوي وو، مور زړه نازړه خبرې کولې او هیڅ هم خپله خبره پوره نشوای کولی. مور په خندا وویل: داسې ښکاري چې تاسو فکر کوئ چې زه هغوی دلته نه غواړم، زما هیڅ اعتراض نشته، هغوی زما لپاره ستاسو په شان دي او دا کور هم پراخه دی. زمور د مور په دې خبرو سره زمور له زړونو هغه بوج سپک شو چې یوازې الله ته معلوم ؤ ځکه مور ویریدو چې هغه به د دې کار مخالفت وکړي چې د هغې د بنې زامن چې یو ناڅاپه راغلي دي؛ د هغې په کور او د هغې د زامنو په مابین کې و اوسیږي. مور په مؤقتي توګه د هغوی لپاره زما د وطاق د خالي کولو فیصله وکړه او زه له خپلې مور سره د هغې په کوټه کې اوسیدم تر څو مور په بهترینه طریقه معاملات سم کړو. مور د فلسطیني ځواکونو د راتلو، د هغوی د صلاحیتونو او له مخالف قوتونو سره د هغوی د تعامل په هکله هم نظرونه تبادله کړل.

په یقیني توګه د محمود دا رایه وه چې دا حکومت د فلسطین د ازادی د غورځنګ (P.L.O) پایله ده چې د فلسطیني خلکو یوازینی استازی دی، او د دې مطلب دادی چې یو واحد حکومت پکار دی چې په ټولو یې اطاعت لازم دی او د هغه پریکړې، پالیسي او لوظنامې په ټولو لازمې دي. په دې وخت کې حسن په احساساتو سره بحث پیل کړ چې د اوسلو لوظنامه د فلسطیني خلکو د زیاترو شعبو او قوتونو له طرفه رد شوې ده او دا د ملي اصولو خلاف ده او په هیڅ یې اطاعت لازم نه دی، مقاومت یوه جلا معامله ده، هیڅ د اپوزیسیون له ډلو سره په دې هکله مشوره نه ده کړې او نه فلسطینیانو په هیواد کې د ننه یا بهر

انتخابات یا ریفرنډم کړی دی، او محموده څنګه له هغو شعبو او قوتونو څخه د
دې لوظنامې د احترام او ژمنتیا غوښتنه کیدای شي چې هغوی دا لوظنامه د
حقوقو او اصولو نقض بولي.
محمود ځواب ورکوي چې د اوسلو لوظنامه یوه مرحله واره لوظنامه ده او د
غزې او اریحا ابتداء ده او په دې لوظنامې باندې بین المللي شاهدان موجود دي
او دا زموږ د فلسطینیانو لپاره ښه نه ده چې موږ په دنیا کې د احترام او همدردي
د راخپلولو تر څنګ دا څرګنده کړو چې خپله د لوظنامو احترام او پابندي نه
کوو. حسن ځواب ورکړ چې څوک په لوظنامه لاسلیک کوي هغه یې احترام او
پابندي کولی شي خو چا چې لاسلیک نه دی کړی او نظر یې نه دی اخیستل
شوی هغه د هیڅ شي په مراعتولو نشي مجبور کیدلی. محمود په خندا ورته وایي
چې وخت به تا د حکومت او د هغه د لوظنامو په منلو مجبور کړي. حسن اعلان
کوي چې هیڅوک موږ په دې نشي مجبورولی. محمود په خندا ورته وایي: که
ځینې خلک د موسی خبره نه مني نو د فرعون په کوتک سره به یې ومني. کله
چې په زړګونو جنګیالي له بهر نه راشي او د ننه په زرګونو ورته وسپاري نو موږ
به هلته وګورو چې څوک د پریکړو خلاف عمل کوي. حسن په چیغه کولو ورته
وایي: که له بهر نه څوک راځي نو د مقاومت د ټکولو او د اسرائیلو په خلاف د
عملیاتو د بندولو لپاره به راځي.
محمود په خندا وایي: ستاسو چې څنګه خوښه وي شیانو ته هغه نومونه ورکوئ
خو موږ یې علیا ملي مصالح او یو تاریخي فرصت بولو چې فلسطینیان د لسیزو
اشغال نه وروسته سیاسي وجود پیدا کوي. دا فرصت او دا علیا ملي ګټې باید
موږ وساتو او پلي یې کړو. او که ځینې احساساتي خلک چې له خپلې پوزې نه
وړاندې هیڅ شی نهویني؛ له دې موقع نه غلطه فائده پورته کړي او دا ګټې په
خطر کې واچوي نو له موږ سره به اخلاقي جواز او مادي صلاحیت موجود وي
چې هغوی ایسار کړو. حسن وویل: افسوس..افسوس دا اسرائیل د انتقاضې په
مهال له کلونو وحدت وروسته یو ځل بیا زموږ د فلسطینیانو د صفونو په ماتولو
کې بریالي شول. محمود په چیغه کولو سره وویل: تاسو زموږ د خلکو صفونه

ماتول غواړئ نو ولې رهبري ته په دې پلان کې موقع نه ورکوئ؟ حسن ځواب ورکوي: کومه موقع؟ او د څه شي موقع؟ دا چې يهوديان د مقاومت له فشار نه وساتل شي چې هره ورځ له دوی څخه د خپلو فوځيانو او زورواکو د ساه خراج واخلي او په داخلي توګه وويشل شي... محمود د هغه د خبرو په غوځولو سره ووېل: نو دا مقاومت به تر کومه روان وي؟ ابراهيم له اعتماد او سکون سره ځواب ورکوي: تر څو پورې چې اشغالګر په خپله. بغير له شرط او بغير زموږ له طرفه د کومې ذمه واري نه له دې ځايه ووځي محموده! او بغير له دې چې موږ د خپل هيواد په خاوره باندې د دوی د وجود د منلو په لوظنامو کې شريک شو. محمود په زور سره وايي: دا هر څه مؤقتي دي او کله چې د طاقت تله بدله شي نو موږ به دا پابندي نه کوو.. ابراهيم په ډاډ سره ووېل: خو د لوظنامو څه ضرورت دی؟ ته هم پوهيږې ، زه هم پوهيږم او هر ليدونکی پوهيږي چې که اسرائيلو ته د لوظنامې لپاره کوم جهت پيدا نشي چې هغوی د غزې ترانګې او لويديځې غاړې چارې سمبال کړي او مقاومت دوام پيدا کړي او دلته پاتې کيدل ورته په درنه بيعه تمام شي نو هغوی به په خپله وتښتي. نو بيا ولې له دوی سره لوظنامه وشي؟ او ولې هغوی ته د وتلو لاره ورکړل شي؟ او تر ټولو مهمه دا ده چې دا پابندی يې ولې لازمې کړې دي. امنيتي همکاري. ګډې ګزمې او اړيکې؟ دا ټول د څه لپاره دي په داسې حال کې چې موږ خپل قوانين نافذ کولی شو؟ هغوی د مقاومت له ګزارونو په تېښته دي او موږ به له ټولو ترا‌ونو، تشکيلونو. نومونو او ستونزو نه خلاص يو. محمود ورته وايي: ايا دا به کفايت ونکړي چې دا لوظنامه په زرګونو مقاومتي عسکرو او د هغوی کورنيو ته د بيرته راتګ اجازه ورکړي؟ ابراهيم ځواب ورکوي: دا يوه ښه خبره ده او ته پوهيږې چې هر فلسطيني د هر مهاجر په راستنيدو خوشحاله کيږي او موږ هر يو هغوی د سترګو تور بولو او هغوی ته په هيواد کې د ننه د ژوند برابرولو لپاره د خپلې خولې مړی ورکوو خو دا هر څه د هغه د درواند قيمت په بدل کې نشي کيدلی چې موږ دوی ته د لوظنامې لاندې يوه عزتمنه لاره ورکړو په داسې حال کې چې دوی ته د مقاومت له ګزار څخه د ذلت نه ډکه تېښته پکار ده. او دا لوظنامې چې

بین المللی شاهدان پرې موجود دي؛ یهودي دولت ته زموږ د خاورې یوه لویه برخه حق ورکوي. محمود وایي: خو دا هر څه فقط پیل دی او یو وخت وروسته به په دائمي حل لاره باندې مذاکرات کیږي او ته پوهیږې چې نن کومې نظامي د کمزورۍ په حالت کې لاسلیک کیږي هغه په راتلونکې کې موږ نشي نړلی کله چې د طاقت تله بدله شي.

په دې وخت کې مریم پورته کیږي او وایي: الحمدلله چې موږ یو ځل بیا له تا سره یو ځای یو چې ستا سیاسي بحثونه واورو. زه به لاړه شم چې تاته چای راوړم. حسن وایي: یاره زه خو په دې خبره نه پوهیږم چې تاسو د مذاکراتو په خبره ولې دومره ټینګار کوئ. تر دې پورې چې تاسو د دائمي حل د مذاکراتو په اړه خبرې کوئ. چې د دې مطلب دادی چې تاسو به فقط له یهودو سره مذاکرت کوئ او دا مذاکرات به د ۲۴۲ قرارداد په پلي کولو سره کیږي. نو د دې مطلب دادی چې یهودو د ۵ جون ۱۹٦۷ نه مخکې د خپل دولت حدود ځانته محفوظ کړي دي او هغوی به د قرارداد د پلي کیدلو لپاره مذاکرت کوي او د دې مطلب به دا وي چې دوی د فلسطین تاریخي خاوره ۷۵ فیصده ساتلې ده او له موږ سره د غزې په تړانګه او لویدیځه غاړه کې جګړه کوي.

محمود په مداخلت کولو سره وویل:، نه دا سمه نه ده. دا هر څه په ۲۴۲ قرارداد کې لیکل شوي دي او د دې ضامن هم شته او دا هر څه مؤقتي دي تر څو پورې چې توازن نه وي بدل شوی. ابراهیم په مداخلت کولو سره وویل: صحیح دې وویل الله دې تا خوشحاله کړي. انتفاضه او مقاومت به اسرائیل بغیر له کوم امنیتي تړون نه تیښتې ته مجبور کړي او زموږ مقابله به له اسرائیلو سره زموږ داخلي مسئله وګرځي. محمود وویل: دا هر څه اوس کار نکوي او اوس ټولو ته پکار دي چې د یو واحد حکومت اطاعت وکړي تر څو موږ وګورو چې پایله بې څه شی کیږي.

ابراهیم په خندا وایي: لکه څنګه چې د ملت د قسمت او قضیې راتلونکی یو تجربوي میدان دی. موقع ورکړئ او پایله یې وګورئ... کارونه داسې په مخ نه ځي. موږ به په دې قسم رفتار سره د شهیدانو له قربانیو او وینو سره لوبې کړي

وي او يهوديان به هلته موږ ته يو څه راکوي کله چې زموږ پيزار د دوی په څټونو باندې وي او د مقاومت ټوپکونه دوی مات کړي.
محمود په چيغه کولو سره وايي: دا څه سره وايې؟ که په دې رقم حسابونه سره کوو نو اسرائيل موږ په څو دقيقو کې تباه کولی شي.
ابراهيم په خندا ورته وايي: که داسې وي نو ولې يې تراوسه موږ نه يو تباه کړي؟ د معادلې اجزاء فقط فوځي او مادي قوت نه دی محموده. اسرائيل پوهيږي چې زموږ تر شا يو عرب او اسلامي ملت دی. دا سمه ده چې هغوی خواره واره دي خو که چيرته دوی موږ له زيات طاقت سره وځپي نو د کائناتو توازن به په بله واوړي. اسرائيل زموږ د تباه کولو وړتيا نلري ځکه دوی پوهيږي چې دوی ډيرو معادلو ته ژمن دي او په هغوی کې د يوې ماتول هم د دوی د خپلې تباهي سبب کيدای شي.
د فوځونو راتګ شروع شوی وو چې له بيرون هيوادونو څخه يې د فلسطيني انقلاب او مقاومت خلک د غزې ترانګې ته داخلول په ځانګړې توګه د مصر له سرحدي لارې څخه. د ټولو خوښيو د دوی سياسي او فکري اختلافات هېر کړل او د ډيرو فلسطينيانو په کورو کې زغاريد (د خوښۍ نعرې) پيل شول. له کلونو وروسته د والدينو او بچيانو راستنيدو د جلا وطنۍ او هيوادونو تر منځ د سفر په مشکلاتو پټۍ کيښودې. موږ هم د خپلو ګاونډيانو په خوښيو کې شريک شو کله چې د هغوی زوی بيرته راستون شو او موږ د خالد او ماجد د راتګ انتظار کاوه چې هغوی په اخري خلکو کې راتلل. موږ د هغوی د هرکلي لپاره کور تيار کړ. زما مور زما د وطاق سامان نقل کړ او د هغوی لپاره يې دوه بسترې او اړين سامان تيار کړ او بيا موږ د هغوی د هرکلي لپاره د مصر سرحد صفري نقطې ته په ټاکلي وخت ورسيدو. موږ نه پوهيدو چې موږ د چا انتظار کوو ځکه له موږ سره د هغوی انځور هم نه وو خو موږ هغوی د بس له کړکۍ څخه وپيژندل ځکه هغوی غبرګلوني وو او له موږ سره يې مشابهت درلود.
کله چې ما دوی وليدل نو هغوی ته مې چيغه کړه: «خالد ماجد» موږ لاس ورته وخوځاوه. ما خپل ورور او ابراهيم راوغوښتل. دغه دي! او زه د بس طرفته په

منډه روان شوم. زه په هغوی پسې ونښتم او زما تر شا محمود، حسن او ابراهیم وو. موږ ټول له دوی سره د ملاقات لپاره بې تابه وو. د هغوی په سترګو کې اوښکې وې ځکه له کلونو جلا وطنۍ او جدايي نه وروسته د هغوی کورنۍ هغوی ته په مینه او محبت ښه راغلاست وایي. زما د زړه درزا شیبه په شیبه زیاتیدله او ما داسې احساس کاوه چې زه بې هوشه کیږم. موږ ټولو خپل تعارف وکړ. زه احمد یم. زه محمود یم. زه حسن یم. زه محمد یم. زه ستا د تره زوی ابراهیم یم. او کله چې بس په تېزۍ سره روان شو نو ابراهیم په لوړ غږ ورته وویل: موږ به له تاسو وړاندې سرایا ته رسیږو او ستاسو د هرکلي لپاره به ان شاء الله هلته یو. او موږ ژر موټر ته وختلو تر څو له بس نه مخکې شو. څوک به هم چې خپل اپارتمان ته داخل شول نو هغه به له کمبلې او خوراکي توکو سره بهر راوتلو. او ابراهیم ته یې وویل چې دوی سرایا ته یوسه تر څو دوی نوي راتلونکي مقاومتیان وپیژني. کیدای شي دوی په سرایا کې تم شي یا چې د چا دلته خپل کور نه وي هغوی بیرته خپلو کورونو ته ستانه شي. ابراهیم هم خپل اپارتمان ته داخل شو او له سامان سره رابهر شو او محمود هم له سامان سره راووت. دوی ټولو خپل سامانونه د ابراهیم موټر ته راوړل چې هغه به اوس سرایا ته روانیږي. هلته په سرایا کې په سلګونو بلکې په زرګونو کسان راټول وو چې هغوی بسترې، کمبلې، د خوراک او څښاک شیان راوړي وو او مقاومت کوونکو ته یې ورکول چې هغوی د خپلو خلکو په سخاوت حیران وو او له سترګو نه یې اوښکې بهېدلې.

فلسطیني دولت په غزه کې خپل کارونه سمبالول او خپل معاملات یې په تدریجي توګه مرتب کول. اسرائیلو هم له خپلو زندانونو څخه د کلونو نیول شوي څیني فلسطیني بندیان خوشي کړل خو دا شمېر له توقع نه بیخي کم وو. له دې نه علاوه اسرائیلي چارواکو د بندیانو په دوو ګروپونو د ویشلو خبرې هم پیل کړې. مثلاً دا خلک د اوسلو لوظنامې د ملاتړي تنظیم خلک دي او دا د مخالف تنظیم خلک دي او له مخالفینو څخه به یو هم نه خوشې کیږي. او دا هغه خلک دي چې لاسونه یې په وینو ککړ دي او دا نور هغه خلک دي چې لاسونه یې په

وینو نه دي کړ او کوم خلک چې د چا په وینه ځویولو کې لاس لري هغوی به نه خوشي کیږي.
دا تقسیم د ټولو فلسطینیانو په ژبه وو ځکه هېڅ فلسطیني کورنۍ داسې نه وه چې د هغوی به په اسرائیلي زندانونو کې څوک بندي نه ؤ. ټولو هیله درلوده چې د لوظنامې د لاسلیک په وخت کې به د دوی زوی خوشی شي خو د خوشي کیدونکو بندیانو شمېر محدود وو.
ابراهیم له «صلاح» سره چې د بټر زیت په پوهنتون کې یې زده کړې کولې: د دې مسئلې د یوې برخې د حل کولو په پلان موافقې ته رسیږي. صلاح د لویدیځې غاړې په نابلس کې د پټو شویو مجاهدینو ملاقات ته.ورځي چې په لومړي سر کې یې یحیی دی او هغه دوه مجاهدین هم دي چې څو میاشتې وړاندې په یروشلم کې له نښتو وروسته خلاص شوي وو. په هغوی کې یو تن «حسین» دی چې د دې پلان د عملي کولو وړ بلل کیږي او خپل دوه شناخته ملګري له یروشلم څخه راغواړي تر څو د هغوی له کارونو ګټه پورته کړي. هغوی دواړه څو ساعته وروسته راځي. په هغوی کې یو تن «زکي» دی. هغه ډاډ ورکړ چې داسې ځایونه لري چې د خلکو له سترګو لیرې دي او د اختطاف شویو فوځیانو او له هغوی سره د اوسیدونکو ځوانانو د ساتلو لپاره مناسب دي او دا ډاډ یې هم ورکړ چې د خبرونو او خوراک او څښاک د راوړلو لپاره هم هغه کور ته راتلای شي. مجاهدینو دا اطمینان ورکړ چې د هغه لپاره موټر پیدا کول اسان دي تر څو د اختطاف عملیات پکې ترسره شي. او د زکي ښودل شوي ځای ته د تلو راتلو لپاره یو بل موټر هم اماده کولی شي. زکي او مجاهد د هفتې په ماښام باندې هغه ځای ته د تلو لپاره روان شول. زکي یو ټرک چلوي او دوی ته راځي چې هلته عبدالکریم. حسن او صلاح د هغوی له وسلو سره یروشلم ته روانوي. د بټرنبالا په ارامه او پر سکونه دره کې دوی ښکته کوي او د هغوی له اړتیاوو پوره کولو وروسته له دوی نه جلا کیږي. په دې هیله چې راتلونکې ورځ به دوی بیرته له ځان سره وړي.

په ریښتیا هم د هفتې په ماښام مجاهد راغی چې یو ټرک یې چلاوه. هغه درې مجاهدین صلاح، حسن او عبدالکریم له وسلو او یو څه سامان سره روان کړل او هغوی یې یروشلم ته نږدې بئر نبالا نومې کلي ته یوړل. دا یو پرسکون او امن کلی ؤ چې هلته یې په یو ځانته ځای کې دوی ښکته کړل، هغوی ته یې اړین سامان ورکړ او د راتلونکې ورځ د ملاقات په وعده ترې ولاړ، د یکشنبې په ماسپښین هغه په خپل موټر کې بیرته راغی او هغوی یې له وسلې سره د یروشلم په خوا روان کړل. په لاره کې د دوی موټر ته یو فوځي اشاره وکړه تر څو هغه خپل د اوسیدو ځای ته ورسوي. موټر ودرېد او فوځي پوښتنه وکړه چې ایا دوی د هغه سیمې په طرف ځي؟ هغوی په عبراني ژبه ځواب ورکړ او هغه ته یې د راختلو دعوت ورکړ. څنګه چې موټر څو متره حرکت وکړ نو مجاهدینو په هغه باندې څو تومانچې راوویستلې او هغه ته یې د چپ کیناستلو حکم وکړ تر څو د هغه ژوند وژغورل شي. د مجاهدینو مقصد د هغه وژل نه ؤ بلکې د بندیانو د تبادلې لپاره د هغه ژوندي نیول ؤ. له همدې امله یې فوځي ته وویل چې کم عقل حرکت ونکړي چې هغه به یې د مرګ سبب شي. موټر خپل مسیر بدل کړ په داسې حال کې چې د فوځي لاسونه او پښې تړل شوي وو او مخ یې پټ شوی ؤ او هغه بئرنبالا ته یوړل شو. موټر د یو کور دالان ته داخل شو او فوځي د کور په دوهم منزل کې یو وطاق ته یوړل شو چې هلته کړکۍ په غټو پردو سره پټې شوې وې. د هغه ویډیو ثبت کړلی شوه چې په هغه کې یو مجاهد د فوځي شاته ولاړ دی او د اسرائیلو له حکومت نه غواړي چې د دوی غوښتنې دې ومنل شي. یو مجاهد ثبت شوې ویډیو، فوځي ټوپک او د هغه هویت کارډ غزې ته یوړل او په یو ټاکل شوي ځای کې یې کیښودل چې ابراهیم له هغه ځایه واخیستل او د یو مخ پټي مجاهد ویډیو یې ثبت کړله چې په هغه کې مجاهد د فوځي ټوپک او هویت کارډ ښکاره کوي او د اسرائیلو په زندانونو کې د پنځه سوه قیدیانو د خلاصون غوښتنه کوي چې په هغوی کې شیخ احمد یاسین هم شامل دی.

ويډيو يو خبريال ته رسول کيږي او هغه يې په خبري اژانسونو کې تقسيموي او
په يوه ساعت کې تلويزيونونو او خبر ورکونو اژانسونو هغه نشر کړه. راتلونکې
ورځ يوه بله ويډيو نشر شوه چې په هغه کې د فوځي انځور دی او اسرائيلي
حکومت ته د جمعې تر ماښام پورې وخت ورکوي چې غوښتنې يې ومني کنه
نو فوځي به ووژل شي. امنيتي ادارو او فوځيانو د تالاشيو او چاپو سره سره
استخباراتي فعاليتونه زيات کړل، لکه څنګه چې ويډيو له غزې څخه نشر شوې
وه نو اسرائيلي حکومت د فلسطين له حکومت نه غوښتنه وکړه چې خپلې
وعدې او لوظنامې پوره کړي، فوځي دوی ته وسپاري او اختطاف کوونکو ته
سزا ورکړي. د فلسطين خکومت امنيتي ادارو د ضروري څيړنو او تالاشي نه
وروسته اسرائيلي حکومت ته په پوره ډاډ سره وويل چې فوځي د دوی په
کنټرول کې نشته.

د پنج شنبې په شپه په لوی شمېر کې فوځيانو په بيت حنينا کې د مجاهد په کور
چاپه واچوله او هغه يې ونيوه او هغه يې رام الله ته نږدې يو فوځي کمپ ته نقل
کړ چې هلته هغه له سخت تحقيق سره مخ شو، د تحقيق د سختوالي اندازه له
دې څايه معلوميږي چې د هغه وخت د شاباک مشر له قضائي ارګانونو غوښته
وکړه چې هغوی ته اجازه ورکړي چې په بندي باندې هر ډول فزيکي، نفسياتي
او اعصابي شکنجې وکاروي تر څو هغه په اقرار مجبور شي. په مجاهد باندې د
جهنم په څېر عذاب پيل شو، هغوی فقط د يوې پوښتنې ځواب غوښته چې
«فوځي چيرته دی» دې سوال د انکار او نورو خبرو ګنجائش نه درلود. له سهار
وروسته او د ډيرو ساعتونو د کوښښ نه بعد هغوی په مجاهد باندې د فوځي د
ځای په هکله اقرار وکړ. د جمعې په ماښام د لمر له ډوبيدو وروسته او په مسجد
اقصی کې له لمونځ کولو وروسته «زکي» په موټر کې روان شو او د يو څو
مقدسي کنافو (يو قسم خواږه) د اخيستلو لپاره ودرېده، هغه يې واخيستلې او په
خپل موټر کې د بئرنبالا په طرف روان شو، کله چې کور ته داخل شو نو له هغه
سره د کنافه قوطی ؤ، مجاهدينو ترې يو څه خوراک وکړ او بندي فوځي ته يې
هم خوراک ورکړ. زکي له دوی نه د اړتياوو په هکله پوښتنه وکړه څو هغوی د

انکار ځواب ورکړ. نو زکي له دوی سره خدای پاماني وکړه او روان شو. کله چې هغه روان شو نو په هغه پسې شاته د قطعه خاص موټر هم روان شو. کله چې هغه د رام پوستې ته د تالاشي لپاره ودرېده نو د قطعه خاص عسکرو په هغه حمله وکړه. هغه يې له موټر نه راښکته کړ او د موټر د هر شي تالاشي يې واخيستله. له اتو بجو نه څو دقيقې وړاندې د خاصو ځواکونو قطعات د کور په خوا روان شول. هغوی په دوو برخو وويشل شول. لومړی ګروپ به د اشپزخانې له برنډې څخه کور ته داخليږي او دوهم ګروپ به چاودنې کوي. په دې وخت کې په لسګونو عسکرو له دواړو طرفونو څخه کور ته د داخليدو اماده ګي نيوله. د چاودنو او عسکرو د داخليدو غږونه لوړ شول چې کور ته د اشپزخانې له لارې داخليدل، هغوی له هغې کوټې سره نږدې وو چيرته چې بندي ساتل کيده او مجاهدين هم ورسره وو. د دوی په داخليدو سره د مجاهدينو له ټوپکو سختې ډزې پيل شوې او په دوهم ګروپ چې له زميني لارې کور ته داخل شوی ؤ: هم ډزې پيل شوې. د داخلي ټولي قوماندان سمدستي ووژل شو او ديارلس عسکر ټپيان شول او بندي فوځي هم ووژل شو او د سخت بمبارد او جنګ په پايله کې دري مجاهدين هم شهيدان شول.
څو ورځې وروسته يحيی يو ځان وژونکی واسکټ اماده کړ چې صالح د خپلې ملا څخه تاؤ کړ او له خپل ملګري عاصم سره د تل ابيب د زړه په طرف روان شو. هغوی تل ابيب ته تلونکي بس ته وختل او د تل ابيب له مرکزي تم ځای نه په بس نمبر (۵) کې مرکزي تل ابيب روان شول. کله چې هغه د ډيزنګوف کوڅې مابين ته ورسيده نو صالح له خپل واسکټ سره لګيدلی بټن ووهه چې له امله يې چاودنه وشوه. بس وسوځيد او د اوسپنو په ټکرو بدل شو. په دې چاودنه کې له شلو زيات کسان ووژل شول او په لسګونو نور ټپيان شول او په سيمه کې لويه تباهي رامنځته شوه. خبري اژانسونو له پيښې يوه شيبه وروسته د پيښې د ځای انځورونه او په ژوندۍ بڼه صحنې نشر کړلې. د وحشت ځپلو سترګو، په سلګونو د ويريدلو او د خلکو د دماغي شکنجې صحنې يې ښکاره کړې. په اشغالګرو کې چا په خوب کې هم دا ورځ نه ليدله چې دوی به د تل ابيب په زړه

کې دومره لويه مرګ ژوبله او تباهي ويني، هغوی فکر کاوه چې دوی زموږ په ښارونو، کليو او کمپونو کې د وحشت په خورولو بريالي شول خو د جادوګر جادو سرچپه شو او څوک چې اغزي کري هغه به اغزي ريبي.

د «ديزنګوف» له عملياتو وروسته د ترسره شويو څېړنو او نيونو له امله د يحيی نوم يو ځل بيا عامې صحنې ته راښکاره شو او د هغه نوم د اسرائيلي ښاريانو لپاره هم د ويرې نښان وګرځېده لکه څنګه چې د سياسي، نظامي او امنيتي مشرانو لپاره هغه يو لوی تشويش او د ويرې نښان ؤ. د يحيی د والدينو په کور چاپې زياتې شوې او د هغه د کلي او د يحيی سره د تعلق لرونکو خلکو څارنه زياته شوه، دا څرګنده شوه چې په لويديځه غاړه کې د هغه استوګنه سخته او تقريباً ناشونې ده چيرته چې اوس هم اسرائيلي اشغال روان دی له همدې امله يحيی د يوې مودې لپاره غزې ته د تلو فيصله وکړه تر څو هلته په يو پټ ځای کې د خلکو له سترګو پټ شي او څه موده وروسته به بيرته ستون شي. ما به هغه له ابراهيم سره ليده کله به چې هغه له تياره کيدو وروسته راغی تر څو هغه څوک ونه پيژني. يوه ورځ زه د يو ضرورت له مخې د ابراهيم تعمير ته ولاړم، دروازه مې وټکوله او داخل شوم نو هلته يو غلی، شرميدونکی او کمې خبرې کوونکی ځوان ناست ؤ، د هغه له خبرو سمدستي زه پوه شوم چې هغه د غزې نه، بلکې د لويديځې غاړې دی، موږ په غزه کې «ق» يا د «ج» په شان او يا د «ء» په شان ادا کوو خو د لويديځې غاړې اکثره خلک يې د «ک» په شان ادا کوي، د هغه په لومړيو خبرو کې د «ق» حرف د تلفظ له امله هغه ما وپيژانده چې هغه د لويديځې غاړې دی، ما له هغه څخه د نوم يا ادرس په پوښتلو سره هغه يا ابراهيم خجالت نکړ خو په هغه ورځ زه پوه شوم چې هغه د لويديځې غاړې دی او بيا مې څو ځله له ابراهيم سره په تګ راتګ وليده او ډير ځله مې هلته د شپو په تيرولو هم وليده. څه موده وروسته د هغه ميرمن او زوی هم راغلل او يوه موده له ابراهيم سره اوسيدل، بيا د يوې مودې لپاره لاړل او بيرته راغلل. ابراهيم به د دې خبرې وضاحت کاوه چې دا د هغه د لويديځې غاړې يو ملګری دی چې دلته په

غزه کې کار کوي او د سفر، وخت او روپيو د سپمولو په خاطر کله کله له هغه سره پاتې کيږي تر څو د ځان لپاره نوی د استوګنې ځای برابر کړي.
يوه امنيتي کارمند ابراهيم خپل دفتر ته وغوښت تر څو په ځينو کارونو ورسره خبرې اترې وکړي چې د فلسطيني حکومت په وجود کې په غزه کې د طرزالعمل او چلند سره يې تړاو درلوده. هغه شخص بيا بيا دا ويل چې اوس حالات له پخوا څخه بدل دي، اوس يوه فلسطيني اداره ده چې اختيارات لري او هغوی د بين المللی شاهدانو او څارونکو په لوظنامو لاسليکونه کړي دي او دا له پامه غورځول ناروا دي، بيا هغه د دې خبرې تائيد وکړ چې هغه پوهيږي چې ابراهيم يو کارمند دی او د اوسلو لوظنامې مخالف دی او د دې په هکله سخت نظريات لري او دوی د هغه په هکله ټول معلومات لري او هغه د امنيتي ادارو له څارنې لاندې دی، هغوی نه غواړي چې ابراهيم داسې يو کار يا حرکت وکړي چې اداره وشرموي او دا ښکاره کړي چې هغوی لوظنامې نقض کوي.
ابراهيم ځواب ورکړ چې هغه د اوسلو لوظنامې او له هغې څخه د پيدا کيدونکو ټولو شيانو د مخالفت کولو حقيقت نشي پټولی او هغه يې يوه سياسي ناکامي بولي، هغه د دې خبرې قائل دی چې د اوسلو په لوظنامې د لاسليک په پايله کې يو ستراتيژيک خطر پيدا شوی دی او د دې خطر علت دادی چې موږ اسرائيل په رسميت وپيژندل، په داسې حال کې چې موږ بايد پخوا د دې قيمت ادا کړی وای، بغير له دې چې موږ يو څه ترلاسه کړي وای، فقط زموږ له طرفه د مقاومت جريان اړين ؤ چې له امله يې اشغالگر زموږ له خاورې نه بغير له کوم تړون تښتيدلی شوای.
هغه شخص د خبرې په غوڅولو سره وويل: موږ دلته سياسي بحث نه کوو چې ايا په لوظنامه لاسليک کول سم ؤ که غلط ؤ. دا زما مسؤليت نه دی بلکې زما مسؤليت دادی چې تا پوه کړم چې کله دا څرګنده شي چې هر وخت زه د هغو سيمو د امنيت په ټينګښت کې ناکام شم چې زما مسؤليت دی نو ته بايد هلته له قانوني حيثيت نه بهر نشې او اداره خجالت نکړې.

ابراهيم په خندا ځواب ورکړ: د يو داسې شي په بدل کې چې اسرائيل به يې هسې هم د مقاومت د فشار له امله په خپله ادا کوي؛ له موږ څخه دا غوښتنه کيږي چې موږ په دوو ګروپونو وويشل شو، يو ګروپ مقاومت جاري غوښتل غواړي او دوهم ګروپ لوظنامو او لاسليک شويو تعهدنامو ته په ژمنتيا سره د مقاومت بنديدل غواړي... هغه شخص په غصه وويل: اوس دلته دوه ګروپونه نشته، دلته اوس يوه اداره ده چې مسؤله او قانوني ده او دلته ښاريان دي چې د ادارې د پريکړو اطاعت کوي ځکه په دې کې د فلسطين د خلکو عليا ګټې دي او ټولو ته پکار دي چې... ابراهيم يې د خبرو په غوځولو سره وويل: په ارام سره، ولې غصه يې؟ موږ خو خبرې اترې او بحث کوو، هغه په خندا ورته وويل: هو، هو! خو ته پوهيږې چې موږ د خپلو ملي اهدافو د ترلاسه کولو په لاره کې يو، د يو ازاد دولت د جوړولو لپاره چې د هغه پايتخت يروشلم شريف وي او موږ بايد د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره محتاط و اوسو او داسې حرکات بايد ونشي چې د دې هدف په ترلاسه کولو کې خنډ جوړيږي.

ابراهيم په خندا ورته وويل: زه هيله لرم چې زموږ ټول اميدونه چې ما ذکر کړل او نور ټول ارمانونه پوره شي خو زه داډه يم چې دا فقط د خبرو اترو له لارې نشي پوره کيدلی او دا فقط د ټوپک د شپيلۍ په واسطه پوره کيدلی شي ځکه زموږ دښمن د بارودو او اور له ژبې علاوه په بل څه نه پوهيږي، وخت به تاته ثابته کړي چې په دې لاره تګ غلط ؤ او زيات وخت به وانخلي تر څو چې دا کارونه وشي، موږ به له مذاکراتو وروسته اخري حل لارې ته راځو... هغه شخص د خبرو په قطع کولو سره وويل: بيا به الله تعالی هغه څه وکړي چې اوس ته پرې نه پوهيږې خو اوس زه هيله لرم چې ستا دلته د راتللو په مقصد به ته پوه شوې يې او زه له تا نه غوښتنه کوم چې ته په وعدو وفا وکړې او له خپلو ملګرو سره موږ د دې لوظنامو په ماتولو سره خجالت نکړې چې په هغو باندې ادارې لاسليکونه کړي دي او موږ ستا په نيولو او زندان ته په اچولو مجبور نکړې. ابراهيم په خندا سره پورته شو او له ځان سره يې ويل: الله به خير وکړي، الله به خير وکړي.

د جهاد اسلامي يو ځوان چې د اشغالګرو فوځيانو يونيفورم يې پر تن دی، بارودي واسکټ يې اغوستی او په مضبوطو ګامونو د هغه کانټين په طرف روان دی چې هلته په لسګونو فوځيان راټوليږي، دا د بيت ليد د ځلور لاري صحنه ده، هغه د فوځيانو مابين ته رسيږي او د واسکټ برقي بټن وهي، زورروره چاودنه کيږي چې له امله يې په لسګونو فوځيان مړه او ژوبل کيږي، چيغې او فريادونه اوريدل کيږي، څو دقيقې وروسته هلته فوځي، طبي او امنيتي کسان را رسيږي، په دې وخت کې د جهاد اسلامي يو بل مجاهد چې په همدې ډول يې د اشغالګرو فوځيانو يونيفورم په تن کړی دی له بارودي بکس سره هلته رسيږي او داسې ښکاره کوي ګويا که هغه هم د طبي يا فوځي کارمندانو څخه يو دی، هغه ازدحام ته ننوځي او خپل بکس ته چاودنه ورکوي ، يوه بله زورروره چاودنه کيږي، نور خلک وژل کيږي او په لسګونو ټپيان کيږي، ليرې ولاړ طبي، فوځي او امنيتي کارکوونکي يو بل ته په ويريدلو سترګو سره ګوري، په دې حمله کې پنځه ويشت فوځيان وژل کيږي او ډير زيات ټپيان کيږي.

اته ويشتم څپرکی

کله چې زما مور له تنهايي څخه راووتله او په خپل وطاق کې يې استوګنه پيل کړه نو هغې يو ځل بيا زما د واده کيسه پيل کړه، زه له دې معاملې غافل شوی وم خو د هغې په ټينګار او بيا بيا ويلو ما هغې ته اجازه ورکړه چې هغه زما لپاره يوه انجلۍ ولټوي چې د هغې خوښه وي، او ريښتيا هم هغې به هر څو ورځې وروسته له ما څخه پوښتنه کوله چې د فلاني د لور په هکله دې څه رايه ده؟ خو ما هغه انجونې نه پيژندلې، بيا به هغې په خپله ځواب راکړ چې د فلاني لور لږ وړوکې ده او د فلاني د لور رنګ يو څه تور دی، بيا به هغه روازنه بهر وتله او لټون به يې کاوه، بالاخره هغې يوه انجلۍ خوښه کړه او ماته يې د هغې په هکله وويل، زه له هغې سره د هغې د مور او پلار کور ته لاړم، هغه انجلۍ زما خوښه شوه او په لنډ وخت کې مو ور کوژده او نکاح وکړه.
ابراهيم ماته د هغه په تعمير کې د اوسيدو وړانديز وکړ، له دې نه وروسته به يحيی زموږ کور ته ډير کم راتلو، کله چې ما له ابراهيم نه د هغه په اړه پوښتنه وکړه نو

هغه راته وويل چې هغه يو کور په کرايه نيولی دی او اوس له ابراهيم سره اوسيدو ته اړتيا نلري خو هغه به د يو څو ساعتونو لپاره د ميلمه په توګه راتلو.
په دې وخت کې د نابلس يو ځوان اسلامي پوهنتون ته راغی چې هلته يې له ابراهيم او يحيی سره وليدل، يحيی هغه ته د بم او نورو شيانو د تيارولو طريقې ور وښودلې چې هغه په اوس وخت کې د ام العبد په نوم سره مشهور ؤ، او دا چې څنګه بمي واسکټ او بمونه جوړيږي. عبدالواحد دا هر څه په سمه توګه زده کړل او بيرته نابلس ته ولاړ چې هلته يې يو اپارټمان په کرايه ونيوه، ضروري مواد او الات يې واخيستل او د خپل يو ورور په مرسته يې مواد تيار کړل، او بيا يې د يو داسې ځوان لټون پيل کړ چې شهادت ته اماده وي او هغه دا بم د ۱۹۴۸ اشغال شوي فلسطين يوې يهودي ميشتې سيمې ته يوسي.
په ۲۱ جولائي ۱۹۹۵ ماسپښين مهال يو فلسطيني ځوان په يو اسرائيلي بس کې کيناست چې په رامات کې ؤ، يوه شيبه وروسته هغه خپل ځان په انفجار کولو سره والوزاوه چې له امله يې پنځه تنه مړه او درې ديرش ټپيان شول، په دې وخت کې عبدالواحد د يو بل واسکټي بم په تيارولو کې مصروف ؤ، عمليات کوونکی هم اماده ؤ او د هغه رهبر هم اماده ؤ . څو ورځې وروسته کله چې عبدالواحد له يوه عام تليفون نه زنګ کاوه نو هغه د اسرائيلو د فوځ خاص قطعې ونيوه او هغه يې د تحقيق مرکز ته يوړو. سمدستي له هغه سره د هر شي په اړه تحقيق کيږي چې د عملياتو په هکله ؤ او د هرې اماده ګي په هکله يې ترې پوښتنې پيل کړې. تحقيقات به شپه او ورځ روان وو او شکنجې به ورکول کيدلې خو هغه به په دې هيله له هر څه انکار کاوه تر څو وخت تېر شي او دوهم فدايي عمليات له وخت سره سم ترسره شي. هغه محققينو ته د هغو عملياتو په هکله اقرار وکړ چې هغه ترسره کړي وو، نو هغوی ووتل او په دې خوښۍ کې خپلو افسرانو ته ور روان شول چې دوی لويه کاميابي ترلاسه کړه چې دوی د فدايي عملياتو له پلان کوونکي عبدالواحد نه اقرار واخيست. دوی د يوې شيبې لپاره غائب شول او بيا دوهمه زوروره چاودنه وشوه چې يو ځوان د القدس په رمات اشکول کې يو بس ته پورته شو او ځان ته يې انفجار ورکړ چې له امله يې

ښځه ته ووژل شول او درې سوه ټپیان شول په داسې حال کې چې تحقیق کوونکو په دې خبره فخر کاوه چې موږ له عبدالواحد نه اقرار اخیستی دی، د هغوی په پټې باندې مخابراتي الاتو زنګ وکړ او بریښنایي پیغام دوی ته وویل چې نوي فدایي عملیات ترسره شول. هغوی عبدالواحد ته ورغلل او په هغه یې د وهلو شروع وکړه، هغه په زړه کې خندل او دوی چیغې ورته وهلې چې تا موږ ته دوکه راکړله، ستا په دې کې لاس دی، هغه مسکا کوله او سر یې خوځاوه.

په اسرائیلي دولت کې د کیدونکو عملیاتو په اساس د اسرائیلو مشر د ډانګ او پړانګ تر منځ ایسار شو، یو طرفته هغه عملیات وو چې د دوی په ژورو ځایونو یې حملې کولې او د دوی امنیت یې له ګواښ سره مخ کړی ؤ. بل طرفته د ښي لاس ډیر کمزوري عناصر وو چې دې ته اماده نه وو چې نورې سیمې د فلسطین ادارې ته وسپاري، خو هغه په دې خبره ډاډه ؤ چې د دې عملیاتو حل یوازې دادی چې له فلسطیني ځایونو باید تیښته غوره کړو او هغه ځایونه فلسطینیانو ته پریښودل شي چې له دې امله به د دوی عملیات بند شي. له دې سره د اسرائیلو مشرانو په ښکاره اعلان وکړ چې دوی به د امن پروسې ته دوام ورکوي، ګویا که هېڅ هم نه دي شوي. هغوی د افراطیانو او د ښي لاس د ګوندونو او تنظیمونو غصه نوره هم راوپاروله چې په پایله کې یې په یروشلم او تل ابیب کې د حکومت په ضد فلسطیني ادارې ته د نورو سیمو د ورکولو په خلاف لاریونونه وشول. ډیری یهودي راهبان او مذهبي مشرانو هم فلسطین ته د ملکیتونو د سپارلو سره مخالفت څرګند کړ. اهره ورځ نښتې زیاتیدلې او حکومت او امنیتي ادارو دا یقین درلود چې دا د ډېرې غونډوسکی باید نورو ته وسپارل شي تر څو هغوی ورسره مخ شي او موږ ترې خلاص شو.

موږ د خپلې مور په کوټه کې ناست وو، هغې تلویزیون کتلو او مهم پرمختګونه یې لیدل. ابراهیم د خبرونو په کتلو خندل، محمود غصه شو او له هغه نه یې پوښتنه وکړه: ته ولې خاندې؟ ایا زه یې علت پوښتلی شم؟ ابراهیم ورته وویل: زه وینم چې موږ خپل دښمن څنګه په مشکلاتو کې ښکېل کړ. محمود پوښتنه وکړه: کوم مشکل؟ موږ خو په خپله په مشکلاتو کې یو!! ابراهیم په خندا ورته

وویل: موږ په مشکلاتو کې یو؟ په تا څه وشول سړیه؟ ایا ته نه وینې چې اسرائیل څنګه په سرکوبو وویشل شول او په دوی کې څنګه غصه او اختلافات دي چې د یو بل د وژلو لپاره یې ملا تړلې ده؟ او د هغوی مشر له بریدونو سره څنګه چیغې وهي چې هغه د امن پروسې ته دوام ورکوي؟ ایا ته پوهیږې که په هغو سیمو کې دا عملیات نه وای شوي چې اوس هم د دوی د ځواکونو په کنټرول کې دي او هغوی یې په بندولو کې ناکام دي، خو په هغو سیمو کې امن دی چې دوی تړې وتلي دي او هلته هیڅ برید نه کیږي، ایا ته پوهیږې چې دا سیمې به دوی پریږدي؟

محمود وویل: هو، دا لوظنامه شوې ده. حسن په خندا وویل: ورو ره ته غلط پوه شوې یې، ته هغه خلک نه پیژنې، هغوی کله زموږ حقوق راکړي دي؟ کله یې زموږ حقوق په ځان منلي دي؟ او کله دوی لوظنامو ته ژمنتیا کړې ده؟ ګویا که تا هغه ایت نه دی اوریدلی: او لکما عاهدوا عهداً نبذه فریق منهم (کله چې هم په دوی کې چا عهد کړی دی نو په دوی کې یوې ډلې هغه مات کړی دی)

محمود په چیغه وویل: تاسو هر څه په خپل نوم کوئ، تاسو د هرې کامیابي سبب یاست، ایا تاسو همدا شودل غواړئ؟ ابراهیم په مسکا ورته وویل: محموده موږ حقیقت بیانوو، انتقاضې دوی مجبور کړل چې هغوی موږ او زموږ حقوق ومني. له انتقاضې نه څو ورځې وړاندې زموږ نوم « د سیمو اوسیدونکي » وو، بیا دوه میاشتې وروسته زموږ نوم « د سیمو فلسطینیان » شو او بیا زموږ نوم «فلسطینیان» شو. بیا دوی د فلسطین د ازدۍ له غورځنګ سره خبرو کولو ته مجبوره شول چې هغوی به تروریست او تخریب کار غورځنګ باله او اوس دوی له غزې نه وتلي دي او زه وینم چې د دوی مشر به د مقاومت له بریدونو لاندې اعلان کوي چې دوی له لویدیځې غاړې هم وځي.

محمود یې خبره غوڅه کړه: خو ایا ته نه پوهیږې چې په دې سره ټول هر څه ګډوډ کیدای شي او د امن ټوله پروسه ورسره تباه کیږي؟ حسن په خندا وویل: کاش چې هغه تباه شي او جهنم ته لاړه شي، محمود وویل: تاسو همدا غواړئ، تاسو د فلسطین د خلکو د راتلونکي او علیا ګټو سره لوبې کوئ، له لویدیځې

غاړې څخه د اسرائیلو د وتلو وخت نږدې دی او د فلسطیني دولت اعلان کېدونکی دی خو تاسو داسې عملیات کوئ چې له امله به یې دا هر څه تباه شي.

ابراهیم په خندا وویل: واوره محموده! موږ مخکې هم په دې معامله خبرې کړې دي، زموږ دا عقیده ده چې د اوسلو لوظنامه یو ستراتیژیک مقصد دی او دا یوه زینه ده چې له هغې اشغالګر لاندې راغورځیدلی شي، که تاسو دا زینه نه وای جوړه کړې نو هغوی په خپله هم له غزې او لویدیځې غاړې نه تښتیدل، بغیر له کوم اعتراف نه... محمود یې خبره غوڅه کړه: تا ویلي وو چې دا فقط یو حکمت دی او دا به په هغه مرحله کې موږ ته ګټه رسوي تر څو چې د طاقت توازن او اصول نه وي بدل شوي... ابراهیم یې خبره غوڅه کړه: موږ په دې معامله کې ستا سره اختلاف لرو او دا غلطه ګڼو، خو اوس موږ د اوسلو په صحت یا غلطۍ باندې بحث نه کوو، موږ اوس د هغو سیمو د پرله پسې بریدونو له نقطې نه خبرې کوو چې هلته اوس هم اشغالګر کنټرول لري او هغه سیمې نسبتاً ارامې دي له کومو څخه چې دوی وتلي دي او هغه یې اداري ته سپارلې دي، دا د دوی د وتلو د ښه کولو لپاره تر ټولو ښه طریقه ده. محمود وویل: نو ته داسې وایې چې د هر سانتي متر خاورې د ازادی کریډیټ ستاسو او ستاسو د مقاومت کوونکو دی او د فلسطیني مذاکراتو کوونکو حکمت او تجربه هېڅ نه ده؟ حسن وویل: د مذاکراتو کوونکو او د هغوی د حکمت اړتیا څه وه؟ هغوی خو له غزې او لویدیځې غاړې نه تښتیدلي خلک وو، ایا تا خبرونه وانه وریدل، او که ته په بله دنیا کې یې!! په دې وخت کې خالد او ماجد یو ځای ناست وو او د دوی سترګې په غړیدونکو باندې ښخې وې او هغوی به د خبرې کوونکو خولو ته په حیرانتیا سره کتل چې څوک به خبرې پیل کوي. د دې په لیدلو سره مریم وویل: خالد او ماجد په تاسو څه شوي دي؟ دواړو یو ځای وویل: هو، څنګه؟ مریم وویل: تاسو دواړه ولې حیران یاست؟ او ستاسو سترګې په غړیدونکو ښخې دي؟ خالد وویل: حقیقت دادی چې موږ په لومړي ځل په دومره ارام سره سیاسي

بحث اورو، په الله قسم تاسو په اشغال شويو سيمو کې د سياسي شعور او له حالاتو نه د اګاهي په معامله کې ډير ښه ياست.
يو افراطي يهودي چې فوځي سابقه يې شانداره وه .، خپل ټوپک يې له مرميو ډک کړی او فلسطينيانو ته د سيمو د ورکولو له امله د اسرائيلو وزير اعظم اسحاق رابين ته د غداري د سزا ورکولو په خاطر د هغه په ښارنه پيل وکړ. رابين د يو لوی جشن له ځايه وځي چې هغه د امن په پروسه کې د خلکو د ملاتړ ښرګندولو لپاره جوړ کړی ؤ، د هغه شاوخوا د ساتونکو سره سره افراطي ايګال امير د هغوی له مابين نه راوزي او په رابين باندې ډزې کوي او هغه وژني.
موږ د مور له کوټې نه خپلو کوټو ته د تګ اماده ګي نيوله چې ناڅاپه د تلويزيون پروګرامونه قطع شول او تازه خبر راغی چې په رابين باندې ډزې شوې دي او هغه روغتون ته وړل شوی دی، موږ کيناستو او د خبر د تازه جزئياتو لپاره مو په جوش سره انتظاره کاوه او څه وخت وروسته د هغه د مړينې اعلان وشو، په موږ کې هېڅوک هم د رابين په مرګ خفه نشول، هغه له هغو ظالمو قصابانو څخه ؤ چې زموږ په خلکو يې ظلمونه کول،هيڅا د هغه نږدې تاريخ نشوای هيرولی چې هغه د انتقاضې په مهال د فلسطيني خلکو په ضد د هډوکو ماتولو د پاليسي اعلان وکړ او هيڅا په ۱۹٦۷ کې د يروشلم په اشغال کې د هغه رول نشوای هيرولی.
محمود د راتلونکي امن پروسې په اړه انديښمن ؤ ځکه رابين د خپل قوي شخصيت او د اسرائيلو د خدمت او د هغوی د بقاء لپاره د امن پروسې د مخته بيولو لپاره تر ټولو وړ کس ؤ، د رابين وژل کيدو د اسرائيلو د خلکو د رايو پاڼلې سرچپه کړلې، له قتل وړاندې د ښي لاسو په چپ لاسو باندې کاميابي ښرګنده وه او په راتلونکو ټاکنو کې د ښي لاسو د بريا توقع کيده او له قتل نه وروسته لکه څنګه چې قاتل د ښي لاسو له مخالفينو څخه ؤ چې هغوی د رابين د پاليسيو مخالفت کاوه؛ د اسرائيلو د خلکو رايې سرچپه شوې او د چپ لاسو په حق کې زياتې شوې، په همدې توګه رايې شميرونکو د شمعون پيرس چې د رابين ځای ناستی ؤ او د هغه د ګوند د بريا اميد زيات کړ.

يحيى په يو کور کې پټ ؤ چې د بيت لاهيا د استوګنې په پروژه کې ؤ. استخباراتو دا کور معلوم کړ او د خپل يو جاسوس په مټ يې يو موبايل د دې کور څښتن ته ورساوه، دا موبايل د يحيى په استعمال کې هم راغى چې هغه به په لويديځه غاړه کې له خپل کور سره اړيکه پرې نيوله، موبايل خراب شو او څښتن يې د ترميم لپاره واستاوه او بيا يې يحيى ته ورکړ چې هغه پرې له خپل پلار سره خبرې وکولى شي. د جمعې په ورځ ۵ جنوري ۱۹۹۶ چې کله هغه د لومړي ځل لپاره خبرې پيل کړې نو موبايل د هغه له غوږ سره چاودنه وکړه او د هغه سر له تنې جلا شو او په همدې توګه د اسرائيلو استخباراتو په جنګ کې يوه لويه کاميابي ترلاسه کړه. د کور مالک سمدستي مجاهدينو ته خبر ورکړ او هغوى هم ژر ورغلل، په هغوى کې ابراهيم هم شامل وو تر څو وګوري چې څه شوي دي او د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوې. په څو ساعتونو کې دا خبر په ټول هيواد کې خپور شو. چا چې يحيى د زړه له کومې غوښته،يحيى د فلسطين د خلکو په زړونو کې اوسيده او په عربي او اسلامي نړۍ کې هم محبوب ؤ، هغه د اسرائيلو په زړونو کې د خوف او ويرې په خورولو کې د مبارزې يو نوى مثال وړاندې کړ. دا خبر د ځنګله د اور په شان خپور شو، خلک سړکونو ته راووتل، هغوى باور نه کاوه چې څه يې پوښتنې او د تصديق کولو هڅې يې پيل کړې. راټلونکې اوريدلي دي ځکه يحيى يو اتل ګرځيدلى ؤ او خلکو نعرې وهلې. ورځ ټوله غزه د يحيى د رخصت کولو لپاره راوتلې وه، غزه د يو بې قابو سمندر په شان خوځيده، شهيد ته يې الوداع ويله، د شهداوو لپاره يې د ځان او مال د قربانولو شعارونه ورکول او د انتقام غږونه پورته کيدل «انتقام انتقام يا کتائب القسام!»

عبدالرحيم چې زما د تره لور فاطمې زوى دى؛ د جومات له څينو ملګرو سره د يو مقاومتي ګروپ د جوړولو فيصله وکړه تر څو د اشغال په خلاف جنګ پيل کړي، دا فيصله دوى د شهيد ابو رشدي له شهادت نه وروسته وکړه چې عبدالرحيم يې زيات متاثره کړى ؤ او د هغه د انتقام لپاره يې يو څه کول غوښتل. هغوى خپلې موټرې د بيت لحم او الخليل په مابين کې په سړک باندې ګرځولې

چې هلته به اکثره د فوځيانو او زورواکو موټرو تګ راتګ کاوه. له بيت امر سره
نږدې هغوی يو سپين رنګه موټر وليده چې فوځي نمبر پليټ پرې لګيدلی ؤ.
عبدالرحيم خپل موټر په هغه پسې شاته روان کړ او کله چې ورنږدې شو نو
عبدالرحيم په خپل کلاشنکوف سره په هغه ډزې شروع کړې او بل ملګري يې
په تومانچه ډزې پيل کړې، موټر له سړک نه واوښت او له غاړې سره ټکر شو او
پکې سپاره يو فوځي ډاکټر او يو فوځي مړه شول او عبدالرحيم ته احساس وشو
چې هغوی د شهيد د وينو يو څه حساب پوره کړ.
له خان يونس سره نږدې په السطر الغربي کلي کې څلورو مجاهدينو چې ابراهيم
هم پکې شامل ؤ؛ د يو لوی بريد پلان جوړاوه، د شپې مجاهدينو خپلې بکسې
شاته واچولې او د دوو اوږدو زينو سره د هغه ديوال طرفته روان شول چې د غزې
او ۱۹۴۸ د سيمې په مابين کې ؤ. په تياره کې هغوی ديوال ته نږدې ورسيدل او
اطمينان يې ترلاسه کړ چې فوځي کمين نشته، بيا مجاهدينو يوه زينه ديوال ته
ودروله او په هغه باندې يو مجاهد پورته شو او دوهمه زينه يې د ديوال بل اړخ
ته اړوله، کله چې دوی زينه د ديوال دوهم اړخ ته بدلوله نو له ليرې څخه د يو
فوځي موټر روښنايي ښکاره شوه، هغوی سمدستي زينې پټې کړلې او د شګو د
ډيريو شاته پټ شول، د موټر له تيريدو وروسته دوی بيا زينې نصب کړلې او
درې تنه مجاهدين له درنو بکسونو سره د ديوال بل اړخ ته واوښتل. نورو
مجاهدينو زينې ليرې کړې او له هغه ځايه داسې روان شول لکه هيڅ چې نه وي
شوي، درې مجاهدينو بکسونه شاته واچول او د لويديځ په خوا روان شول او د
۱۹۴۸ اشغال شويو سيمو ته داخل شول او له سرحدي تړانګې څخه ليرې روان
وو. يو موټر هغوی ته منتظر وو چې دوی يې اشدود ښار ته نږدې يو لوی باغ ته
ورسول، هلته هغوی ځمکه وکيندله او بکسونه يې خښ کړل او بيرته غزې ته
روان شول. دريم شخص يو لوی څادر په ځان واچاوه او د ونو په مابين کې
ودريده، د نارنجو ګڼو ونو هغه د خپلو ښاخونو او پاڼو په مابين کې پټ کړ، د
محبت او شفقت له وجې يې هغه د دښمنانو له سترګو وساته، هغه په دوهمه قافله
کې د فدايي بريدګرو د راتګ انتظار کاوه. ډير وخت تېر شو او هيڅوک رانغلل،

تاکل شوی وخت تېر شو، يوه ورځ بله هم تېره شوه او بيا بله ورځ هم تېره شوه. داسې ښکاريده چې څه ستونزه پېښه شوې ده. حسان له اجتهاد نه د کار اخيستلو پريکړه وکړه، هغه رام الله ته ولاړ او هلته يې له ځينو شناخته خلکو سره اړيکې ونيولې چې هغوی د شهادت لپاره د چمتو ځوانانو لټه کوله. هغه دوه ځوانان پيدا کړل چې د دې کار لپاره بې تابه وو، بيا هغه ابو ديش ته ولاړ تر څو د بکسونو د راخيستلو لپاره د مرسته کوونکو لټون وکړي او فدايان تر خپلو اهدافو پورې ورسوي، هغه دوه کسان پيدا کړل چې له هغوی سره دوه موټر هم وو. هغه له يو سره روان شو او د اشدود له نږدې باغ نه يې درې بکسې راوړلې او بيا رام الله او ورپسې ابو ديش ته ورسيده. سهار وختي له ابو ديش نه دوه موټر روان شول. په هر موټر کې يو فدايي ناست ؤ. چې واسکټونه يې تړلي وو. روژې يې نيولې وې او قسم يې کړی وو چې هغوی به په ځمکه کې د خوراک يا څښاک هيڅ شی هم نه څکي بلکې د هغوی روژه ماتی به ان شاء الله د جنت په نعمتونو کې له رسول الله صلي الله عليه وسلم سره وي. يو موټر د لويديځ يروشلم په طرف روان شو چېرته چې هغه په مضبوطو ګامونو سره ۸م نمبر بس ته ور روان شو چې له مسافرو څخه ډک وو، هغه په بس کې کيناست او کله چې هغه څو متره سفر وکړ نو هغه د واسکټ برقي بټن وواهه. زوروره چاودنه وشوه. بس د اوسپنو په سوځېدلو ټکړو بدل شول او جسدونه او اندامونه خواره واره پراته وو چې په ترڅ کې يې په لسګونو خلک ووژل شول. ايمبولانسونه، د چاوديدنکو توکو متخصصين، پوليس او امنيتي ارګانونه د پېښې ځای ته راورسيدل. کله چې دوی په کارونو کې مشغول وو نو د يوې بلې چاودنې خبر راغی چې د عسقلان د اشغال شوي ښار په داخلي دروازه باندې ترسره شو چېرته چې د فوځيانو انتظار ګاه وه او هلته هم ډېر کسان ووژل شول. د ماښام د اذان غږ پورته شو، حسان ژر بلې کوټې ته ولاړ تر څو رائد د روژه ماتي لپاره پورته کړي ځکه هغه روژه نيولې وه. رائد په بستره کيناست. د.حسان طرفته يې کتل چې هغه ورته ويل: د ماښام اذان وشو، پورته شه او روژه ماتی وکړه. رائد په مسکا ورته وويل: زه په دې ځمکه باندې ستاسو د خوراک هيڅ شی هم نه څکم.

ما خوب ولیده چې زه په هغه بس کې سپور یم چې له اشغالګرو څخه ډک دی او زه فدایي حمله کوم او په بس کې ټول خلک وژنم، بیا زه وینم چې د نور په یوه ستنه کې د اسمان په طرف خېژم، حسان بیا ورته وویل: ډوډۍ تیاره ده، راځه ډوډۍ وخوره، رائد په غصه ورته وویل: ما درته وویل کنه چې زه د دې دنیا هېڅ شی هم نه په خوله کوم، بیا هغه پورته شو، اودس یې وکړ او د ماښام لمونځ یې وکړ. د سهار په لومړنیو ساعتونو کې رائد یو ځان وژونکی واسکټ تر ملا وتړلو او د کریم په موټر کې روان شو چې هغه تېره اونۍ د هغه بل فدایي ورور هم د یروشلم مرکز ته رسولی ؤ، هماغه ځای ته ورسېده، له موټر نه ښکته شو او په مضبوطو قدمونو ۱۸م نمبر بس ته وخوت او د بس د څو متره مزل کولو نه وروسته یې ځان ته انفجار ورکړ چې په بس کې موجود ټول ۲۳ کسان یې ووژل او په سړک موجود په لسګونو خلک ټپيان شول. د رائد روح د خپل رب طرفته پورته شو او چې هغه یې غوښتنه کوله هغه ارمان یې پوره شو. څو ورځې وروسته د اسلامي جهاد د غورځنګ یو مجاهد د تل ابیب د دیزنګوف کوڅې په منځ کې ځان والوزاوه چې په پایله کې یې دیارلس استعماریان مړه شول. د یهودي دولت چارواکي لیوني شول او په زړونو یې ویره ننوتله، په سړکونو، ادارو، هوټلونو او دوکانونو کې د خلکو رش کم شو او بسونه خالي شول. یوه امنیتي چارواکي په زوره سره مېز وواهه او غوښتنه یې وکړه چې د فلسطین اداره باید خپل مسؤلیتونه او وعدې پوره کړي تر څو له خپل کنټرول لاندې سیمو څخه د تروریزم جرړې ختمې کړي، له دې نه وروسته د ادارې عسکرو په خپلو سیمو کې په پراخه کچه د اسلامي کارمندانو نیول پیل کړل، په سلګونو کسان یې زندانونو ته واچول او په لسګونو له سخت او ویرونکي تحقیق سره مخ شول.

زما ورور ماجد د ورځې په نیمایي کې کور ته راغی چې د هغه له کار نه د راتګ وخت نه ؤ. ماسپښین یې پوښتنه وکړه چې ابراهیم چیرته دی؟ هغه په کور کې نه ؤ، نو ماجد ماته په غوږ کې وویل چې د هغه د نیولو حکم شوی دی او پکار ده چې هغه د خلکو له سترګو پناه شي. هغه بیرته خپل کار ته ولاړ او زه د ابراهیم په لټون پسې ووتم. ما هغه له یوه ملګري سره پیدا کړ، هغه ته مې خبره وکړه او

سمدستي يې د ځان د غائب کولو اماده ګي ونيوله، ما هغه د هغه د يو ملګري کور ته يوړو او د هغه په موټر کې بيرته کور ته راغلم تر څو مريم او مور ته ووايم چې هغه مطلوب شوی دی او له يوه ملګري سره پټ شوی دی چې د اداري امنيتي ارګانونه يې ونه نيسي تر څو چې حالات بيرته سم شوي نه وي. ماښام مور ټول د مور په کوټه کې رايو ځای شو چې له معمول سره سم د اخري وخت په موضوعاتو خبرې اترې وشوې. د اوسنيو عملياتو، په پراخه کچه د نيونو او د ځينو نيول شويو په خلاف له سختو شکنجو سره د تحقيقاتو د افواهاتو خبرې وشوې. حسن داسې غصه ؤ چې له دې وړاندې ما نه ؤ ليدلی. زما مور څو ځله ورته وويل چې غږ دې کم ساته هسې نه بهر يې څوک واوري او تا هم ونيسي، حسن د محمود په طرف په چيغه سره وويل: دوی څنګه عزتمند خلک نيسي او زندانونو ته يې اچوي؟ په داسې حال کې چې همدا خلک وو چې په تېرو کلونو کې يې مقاومت پيل کړ او اشغالګر يې تېښتې ته مجبور کړل؟ محمود په خندا ورته وايي: دا ستا او ستاسو د ګوند فکر دی، دا خلک امنيت تباه کول غواړي او د فلسطين د خلکو له عليا ګټو سره لوبې کوي له همدې امله د دوی نيول ضروري دی. حسن په غصه ورته وايي: د کومو ګټو په هکله خبرې کوې؟ د فلسطين د خلکو ګټې همدا دي چې عزتمند خلک ونيول شي او هغوی په تحقيقاتي زندانونو کې له ذلت سره مخ شي؟ ايا دا د فلسطيني خلکو ګټې نه دي؟ محمود ورته وايي: عليا ملي ګټې زموږ د فلسطين د خلکو د يو ازاد دولت جوړول دي چې په راتلونکو کلونو کې به وشي کله چې موږ د دائمي حل لپاره مذاکرات کوو.

حسن ورته وايي: حمله چا پيل کړه؟ ايا موږ لومړی عمليات پيل کړل او که ستا امن شريکو اسرائيليانو؟ چا چې يحيی عياش شهيد کړ؟ ايا موږ د هغه په هکله څه وکړو؟ ايا موږ غلي شو تر څو اسرائيل د نورو ځوانانو د وژلو جرائت هم پيدا کړي؟ او کله چې هغوی يحيی شهيد کړ نو تا څه وکړل؟ تا څه وکړل؟ محمود ځواب ورکوي: تاسو په عقل او حکمت سره کار نه کاوه. پکار وه چې تاسو د امن پروسې ته موقع ورکړې وای خو تاسو داسې ونکړل او تاسو په ۱۹۹۵ کې...

حسن په لوړ غږ ورته وایي: دا بریدونه په هغو سیمو کې وشول چې اوس هم د اشغالګرو په لاس کې دي او هغه یې ادارې ته نه دي سپارلې نو ته ولې... محمود یې خبره غوڅه کړه: دا بریدونه د اسرائیلو په حکومت فشار اچوي نو څکه هغوی د یحیی د وژلو پریکړه وکړه. حسن وویل: اوهو! یعنی که اسرائیلي دولت د انتهاء پسندو د فشار لاندې راځي نو هغوی باید د خپل فشار د کمولو په خاطر زموږ د مبارزې نښانونه هدف وګرځوي او موږ به یې تماشه کوو او دا وایو چې دوی ته موقع ورکړئ او د امن پروسه خرابه نکړئ؟ او که عزتمند خلک د یو انجنیر د وینو بدل واخلي نو هغه باید ونیول شي او په زندانونو کې تعذیب شي... محمود یې خبره غوڅه کړه: څوک په زندانونو کې نه دي وهل شوي او نه... حسن یې خبره غوڅه کړه: هو! وهل شوي دي او وهل کیږي، د ماجد او خالد په طرف ګوري او پوښتنه ترې کوي: ایا داسې نه ده ماجده؟ ایا داسې نه ده خالده؟ ایا خلک وهل کیږي او ذلیل کیږي نه؟ خالد او ماجد د سر په خوځولو سره د خبرې تائید وکړ نو محمود وویل: دا خلک له دې امله نه وهل کیږي چې دوی د اشغالګرو په ضد عملیات کړي دي بلکې د دې لپاره وهل کیږي چې دوی د ادارې د مشرانو د وژلو پلانونه جوړول. حسن ورته وویل: دا حقیقت نه دی، دا درواغ او فقط بهتان دی او دا ناشونې ده چې څوک د هغوی د وژلو پلان جوړ کړي، او تا په خپلو سترګو ولیدل چې موږ د ادارې د خلکو او هغو فوځیانو څنګه هرکلی وکړ چې له بهر نه راغلي وو، تا ولیدل چې موږ هغوی ته څومره عزت ورکړ او خپلې سینې او زړونه مو هغوی ته پرانیستل او موږ څنګه... محمود یې خبره غوڅه کړه: خو اوس تاسو بالکل برعکس چلند غوره کړی دی، ایا تاسو نه وینئ چې اوس مو په اسرائیلو د جهنم دروازې خلاصې کړې دي؟ په اتو ورځو کې درې لوی بریدونه. په لسګونو مړه او په سلګونو ټپیان؟ تاسو څه فکر کوئ؟ دا خو لیونتوب دی. مریم په مداخلت کولو سره وویل: دوی څنګه خپل ورونه نیسي او زندانونو ته یې اچوي او شکنجه کوي یې؟ خالد او ماجد د احتجاج په شکل وویل: موږ له دې معاملې سره هیڅ تړاو نلرو، موږ فقط واړه عسکر یو، چې څه حکم راته کیږي هغه کوو او موږ په

سیاست هېڅ نه پوهېږو او موږ... محمود په مداخلت کولو سره وویل: کله چې یو وروړ د خپل کور پلاتونه خرابوي او د هغه ګټو ته تاوان رسوي نو د هغه نیول او هغه ته لاره ښودل ضروري دي.

مریم په چیغه کولو سره ورته وایي: ای سړیه! ایا ته زړه نه لرې؟ او خپل ورونه په دې وجه نیسې چې هغوی د اشغال په ضد کارونه کوي؟ ته څنګه د خپلې خور خاوند او د تره زوی نیولی شې؟ ایا ستاسو سختي تر دې حده ورسېده؟ الله اکبر.

محمود ورته وویل: ای مریم! دا هر څه د ډېر وخت لپاره نه دي. په څو ورځو یا څو میاشتو کې به هغوی پرېښودل شي بلکې دا هر څه په موږ د اچول شوي فشار د کمولو په خاطر دي.

حسن په زوېره وویل: نو بیا تحقیق، اذیت او بد چلند د څه لپاره ورسره کېږي؟ محمود وویل: ما درته وویل کنه چې دا د هغو خلکو لپاره دي چې هغوی په پلان جوړولو کې ملوث ثابت شي. حسن وویل: دا محض بهانه او ښکاره درواغ دي. محمود په خندا وویل: تاته معلومات نشته چې څه روان دي. حسنه! ستاسو خلک د دنیا تباه کول غواړي، تاسو لیوني یاست، له عقل نه کار نه اخلئ. حسن په زوره ورته وایي: موږ له عقل نه کار نه اخلو؟ ته به وګورې محموده، زیات وخت به نه واخلي چې هر څه واضح شي او تاسو ته به معلومه شي چې یهودیانو له تاسو سره دوکه وکړه او تاسو به په خپلو چلونو کې راښکېل کړي، دا خلک بې ګناه انسانان وژني او د الله او د هغه د رسول په خلاف جنګ کوي، دوی هېڅ وعده او عهد نه لري، څنګه چې ته فکر کوې چې وروستی حل مذاکرات دي او هغوی به له یروشلم او یهودي میشت ځایونو څخه لاس واخلي او یا به د پنځم جون حالاتو ته راستانه شي، دا هر څه فقط زموږ د فلسطیني صف د ویشلو لپاره کېږي او زموږ په خپلو کې د جنګولو او ملي ګټو ته د تاوان رسولو په خاطر کېږي؟

محمود په خندا ورته وایي: اوس ته سیاست پوه هم شوې؟ خو په راتلونکې کې به څه کېږي، د دې وړاندوینه کولی شې؟ حسن په خندا ورته وایي: دا زما وړاندوینه نه ده وروره، دا هغه څه دي چې الله تعالی موږ ته د هغوی په هکله

ویلي دي، موږ یې د هغوی د عاداتو او عمل نه خبر کړي یو چې دا خلک هیڅ وعده او تعهد نه پیژني او سمې لارې ته نشي راتلی تر څو د دوی په سرونو د وریځې په شان غر پورته نه کړلی شي، فقط د ویرې او وحشت له احساس سره دوی مخته تللی شي. محمود په خندا ورته وویل: تاسو همیشه د خپل دین پوهه له سیاست سره ګډوئ، په قرانکریم کې د موسی علیه السلام د وخت د یهودو ذکر دی او د نن زمانې له یهودو سره څه تړاو لري؟ حسن په خندا ورته وایي: سبحان الله! ایا ته نه پوهیږې چې تاریخ په خپله ځان تکراروي؟ او یهودیان هماغه یهودیان دي؟ ته به وګورې محموده، ته به وګورې او که ژوندی وم نو تاته به یې درياد کړم.

څو ورځې وروسته حسن هم ونیول شو او څه وخت بعد موږ ته د هغه د ملاقات اجازه راکړل شوه، موږ ته معلومه شوه چې نه له هغه څخه تحقیق شوی دی او نه شکنجه شوی دی خو هغه موږ ته په یقین سره وویل چې ځینې خلک د لیونتوب تر حده شکنجه شوي دي او ځینو ته یې بدني تاوان هم رسیدلی دی. زما مور د حسن نیول نشوای زغملی، له همدې امله به چې موږ کله هم ملاقات ته ورتلو او یا به ترې راتلو نو زما مور به د زندان ساتونکو او مشرانو ته بد رد ویل چې هغوی به موږ د ننه او بهر راویستلو، هغوی به هیڅ ځواب نه ورکاوه او داسې به یې څرګندوله چې ګواکې دوی هیڅ نه اوري او یا په بل کار کې مشغول دي، کله کله به چې دوی ته مخامخ ښکنځلې وشوې نو په هغوی کې به یوه تن په نرمي سره وویل: یا حجة! الله دې تاسو کامیاب کړي، موږ خو فقط د حکم تعمیل کوو او دا زموږ روزګار دی خو زما مور به د دوی روزګار ته هم ښکنځل کول.

یوه ورځ ماجد ماته پټ په غوږ کې وویل چې ما او خالد ته ویل شوي دي چې باید د ابراهیم په هکله هر څه معلومات دوی ته ورکړو او که دا ثابته شوه چې موږ څه معلومات پټ کړي دي نو موږ ته به سزا راکړلی شي، موږ د افسرانو په مخ کې له خجالت نه باید وساتل شو، موږ ته د هیڅ قسم معلوماتو د پټ نه ساتلو تلقین شوی دی. موږ ته یوه مناسبه طریقه پکار وه چې کله موږ مریم،

اسراء او یاسر ابراهیم ته ور ورو. او دا به هلته ممکنه وي چې کله خالد او ماجد په کور کې نه وي بلکې کار ته تللي وي او مور یاسر او اسراء ته هم نصیحت وکړ چې په دې هکله هېڅ خبرې ونکړي او مور به هر وخت د دوی د ورلو لپاره یوه مناسبه بهانه لټوله.

د اسرائیلي ټاکنو وخت هم رانږدې شو او د عامه نظر اخیستنې له مخې دا معلومیده چې د لیکود ګوند نوماند بنیامین نتنیاهو د حزب العمل د نوماند شمعون پیرس په مقابل کې مخکې دی. کوم خلک چې د امن او اوسلو لوظنامې په هیله وو هغوی د ټاکنو د پایلو په هکله حقیقي خطر احساس کاوه. مور هم په کور کې په ټاکنو نظر ساتلو او د پایلو انتظار مو کاوه ځکه دا زمور لپاره ډېر مهم وو. محمود غوښتل چې ټاکنې حزب العمل وګټي ځکه له دې سره به د امن پروسه روانه شي چې له ادارې سره به د خپلو اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي، او هغه د بنیامین نتنیاهو او د لیکود ګوند له ګټلو څخه په ویره کې و ځکه هغه به یقیناً دا ټول معاملات معطل کوي. مور په کور کې نه پوهیدو چې مور څه غواړو. د محمود په خبرو او تحلیل کې یو څه صداقت و. لږ تر لږه مور ته په دې پوهېدل پکار وو چې د فلسطین د ستونزې دا سفر چیرته ځي او د اوسلو لوظنامې ریښتینولي او پایلې څه دي. خو دا هم کتل غواړي چې د ښي لاسو او لیکود په ګټلو سره معاملات څنګه کیږي؟ له همدې امله زمور دریځ واضح نه و. مور ټوله شپه خبرونه کتل خو د خوب د غلبې له امله مور د ټاکنو له پایلو خبر نه شو خو سهار مور ته معلومه شوه چې د نتنیاهو او لیکود ګوند ټاکنې ګټلې دي.

دا خبر د ټولو لپاره د حیرانتیا وړ و چې د اپوزیسیون د مشر نتنیاهو او د حکومت مشر نتنیاهو کې ډېر فرق دی. داسې معلومیږي چې منصب، بین المللي اړیکې او سفارتي تعلقات په نظریاتي دریځونو ډېر اثر غورځوي. په دې میدان کې نظریاتي دریځونه د سیاسي او حقیقي فشار سره ټکر کیږي او عملي دریځونه پیدا کوي. له همدې امله مور یو څه وخت وروسته د اسرائیلو حکومت په دریځ کې هغه وخت بدلون ولیده چې د الخلیل ښار فلسطیني ادارې ته د سپارلو خبره راغله. یو طرفته نتنیاهو مخکینی لوظنامه له یو مخې رد نه کړه بلکې د سیاسي او

سفارتي فشار له امله يې هغه په رسمي توګه ومنله او لوظنامه په يو نوي شکل کې رامخې ته شوه چې په هغه کې د الخليل ښار د تقسيمولو يا د هغه په سيمو د کنټرول لپاره نوي اصطلاحات ايجاد شول.

يادونه: د اوسلو لوظنامه يوه تاريخي د امن لوظنامه ده چې په ۱۹۹۳ کې د اسرائيلو او فلسطين د ازادۍ غورځنګ (PLO) په مابين کې وشوه. د دې لوظنامې مقصد د اسرائيلو او فلسطينيانو په مابين کې د روانې جګړې د حل لټول او د امن راوستل ؤ. د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسيزو کې د اسرائيلو او فلسطين په مابين کې د جنګونو او تاوتريخوالي فضا جوړه وه، په ۱۹۹۱ کې د ميډرډ امن کانفرانس نه وروسته ډيرې هڅې وشوې تر څو د دواړو جهتونو په مابين کې د امن خبرې اترې پيل شي. په ۱۹۹۲ کې د ناروې دولت د پټو مذاکراتو اغاز وکړ چې په اوسلو کې ترسره شول، په دې خبرو اترو کې د اسرائيلو او PLO استازي شامل وو. د مذاکراتو د څو پړاوونو نه وروسته په ۱۹۹۳ کې په يوې ابتدائي لوظنامې هوکړه وشوه. په دې لوظنامه کې په دې اتفاق وشو چې فلسطينيانو ته به خپلواکي سپارل کيږي او اسرائيل به د غزې له تړانګې او لويديځې غاړې څخه خپل فوځ وباسي. د ۱۹۹۳ کال په ۱۳ ستمبر د واشنګټن ډي سي په سپينه ماڼۍ کې د اوسلو په لوظنامې لاسليک وشو. په لاسليک کوونکو کې د اسرائيلو وزير اعظم اسحاق رابين، د PLO مشر ياسر عرفات او امريکايي صدر بل کلينټن شامل وو. د اوسلو لوظنامې د اسرائيلو او فلسطين په مابين کې يوه نوې دروازه پرانيستله چې له دې وروسته دواړو جهتونو د امن د راوستلو هڅې پيل کړې، خو بيا هم له دې لوظنامې نه وروسته ډېرې ستونزې او خنډونه رامنځته شول او د امن په پروسه کې پرمختګ ډېر سست ؤ. دا لوظنامه د امن د لارو په موندلو کې يو مهم کوښښ ؤ خو د وخت په تيريدو سره د دې په پايلو کې ډيرې ننګونې او خنډونه رامنځته شول.

... زما د ترور زوی عبدالرحيم د خپل لنډ قيد د مودې له پوره کولو وروسته په ساختماني کارونو کې مشغول شو، او بيا د نرسنګ د زده کړو لپاره ولاړ. زما ورور حسن د ادارې په زندان کې په مناسب حالت کې ساتل کيده. کله چې

لیکوډ په ټاکنو کې بریا ترلاسه کړه نو هغه ته د اونۍ په اخر کې اجازه ورکول کیده چې شپه په کور کې تېره کړي، هغه به د جمعې ورځ له موږ سره تېره کړه او د هفتې په سهار به بیا زندان ته ولاړ. که په کور کې به کوم بیړنی حالت راتلو نو هغه ته به اکثر وخت اجازه ورکول کیده. ابراهیم په پرله پسې توګه پټ ؤ خو د هغه کور ته راتګ ډیر اسانه شوی ؤ ځکه د ادارې د امنیت له خوا په هغه فشار کم شوی ؤ خو بیا هم هغه په خپل تګ راتګ او پناه ځایونو کې پوره احتیاط کاوه.

زما مور په ما فشار واچاوه چې زه له یو متخصص ډاکټر سره مشوره وکړم ځکه دا څرګنده شوه چې زموږ د اولاد نه کیدو له امله څه ستونزه شته. د یوې مودې لپاره ما دا خبره له پامه غورځوله خو د مور خبره سمه وه او دا معامله زموږ لپاره مهمه شوه.

د نتنیاهو د واک له سمبالولو وروسته د اسرائیلو او فلسطیني ادارې په مابین کې حالات کړکیچن شول، تر ټولو مهمه پیښه په هغه وخت کې دا رامنځته شوه چې کله خبر راغی چې اسرائیلي دولت د مسجد اقصی لاندې یو تونل جوړوي چې د جومات د ړنګیدو خطره هم لري. دې خبر خلک راوپارول او سړکونو ته راووتل. د فلسطیني ادارې د کارمندانو او اسرائیلي فوځ تر منځ سختې نښتې وشوې. ډیری فوځیان او پولیس مړه شول، زما ورور خالد هم په هغو نښتو کې شامل ؤ چې د اریز له سرحدي پوستې سره رامنځته شوې، هغه په اوږه په مرمۍ ولګېده او په لاس او اوږه یې پلستر ولګول شو او کور ته رخصت ورکړلی شو. خو موږ هلته حیران شو چې هغه د رخصت په دوران کې اداري وغوښت او څو ساعته وروسته چې کله هغه کور ته راغی نو مخ یې له غصې نه سور شوی ؤ. هغه فوځي محکمې ته وړاندې شوی ؤ او د اریز په پوسته بغیر له اجازې د ډزو کولو له امله ۵۰۰ شیکل جریمه شو. د اسرائیلو له دولت سره حالات نور هم کړکیچن شول خو له دې سره د ادارې اړیکې له اپوزیسیون سره په ښې کیدو شوې. ډیری بندیان یې خوشې کړل چې زما ورور حسن هم پکې شامل ؤ. هغه تقریباً له یو کال وروسته خپل کور. میرمنې او بچیانو ته راستون شو.

نهه ویشتم څپرکی

د غزې ښار په شجاعیه کوڅه کې په یو کور کې نضال، د هغه مور او پلار، محمد او دوه لونې ناستې دي. محمد چې پنځه ویشت کلن دی :زیتون ډیر په خوند سره خوري چې له امله یې د هغه مور پوښتنه ترې کوي: محمده! ته ولې فقط زیتون خورې؟ ایا تاته نور خواړه خوند نه درکوي؟ هغه ځواب ورکوي: نه مورې! ماته هر څه خوند راکوي خو زیتون زیات خوند راکوي. ایا دا د هغه ونې زیتون نه دي چې د هغه لاندې عماد شهید شوی دی ؟ د مور له سترګو یې اوښکې بهیږي او وایي: هو زویه! الله تعالی دې په هغه رحم وکړي. محمد وایي: له دې امله زه دا زیتون خوښوم او زه داسې انګېرم چې په دې زیتون کې د عماد روح اوسیږي او زه یې په ډیره مینه خورم ځکه زه له عماد سره مینه لرم.

دا واضحه شوې وه چې نتنیاهو د واک له شمبالولو نه وروسته د امن په پروسه کې ښکېل شو او مخته تګ یې نشو کولی، سیاسي حالات ورځ تر بلې خرابیدل چې له امله یې د اوسلو لوظنامې مخالفینو یقین پیدا شو چې دا پروسه ناکامه ده ځکه هغوی لیدل چې لوظنامې ماتیږي او سرغړونه ترې کیږي.

دا خبره څو ځله حسن زموږ په کور کې وکړه او محمود ځواب ورکړ چې دا هر څه د هغو عملیاتو له امله رامنځته کیږي. که دا بریدونه نه کیدلی نو نتنیاهو به واک ته نه وای رسیدلی او د امن پروسه به له پلان سره سمه روانه وای. خو په دې خبره ټول متفق وو چې د امن پروسه ولاړه ده او یا ختمه شوې ده.

عبدالرحیم له خپلو دوو ملګرو سره چې کلاشنکوفونه ورسره وو په خپل موټر کې د بیت شمش سره نږدې چې د ۱۹۴۸ اشغال شوې سیمه ده او له صوریف نه څو کیلومتره لیرې پرته ده؛ د یوه موټر انتظار کوي. هغه وینې چې یو موټر د سړک له غاړې سره ټکر شو او پکې سپاره دواړه کسان ووژل شول. څو ورځې بعد عبدالرحیم او د هغه ملګري د ماښام له لمانځه وروسته په جومات کې ناست دي او د خپل ژوند د معاملاتو په اړه خبرې کوي. عبدالرحیم وایي: ورونو! په زرګونو فلسطیني بندیان د اسرائیلو له زندانونو خوشي شول خو د اوسلو لوظنامې مخالفین زموږ ورونه تراوسه پورې نه دي خوشي شوي.

جميل وويل: هو! ته صحيح وايې، په دوی کې په سلګونو داسې بنديان دي چې په هغوی باندې د اسرائيلو د وينو تويولو تور دی او هغوی نه خوشې کيږي.
عبدالرحيم وايي: موږ بايد د هغوی د راخلاصولو لپاره يو څه وکړو. بل تن ځواب ورکوي: هو، هو! موږ بايد جدي يو څه وکړو.
يو جيپ موټر چې درې تنه مجاهدين پکې ناست دي د ۱۹۴۸ په اشغال شوې سيمه کې د صرفند فوځي اډې سره په نږدې سړک روان دی. دوی داسې ښکاري چې دوی اشغالګر فوځيان دي. يو فوځي د لمر ډوبيدو په وخت په يو تم ځای کې موټر ته انتظار دی چې هغه له فوځي کمپ نه کور ته تلو او په لاس سره موټرو ته اشاره کوي تر څو هغه هم له ځان سره يوسي. د مجاهدينو جيپ فوځي ته نږدې دريږي، يو مجاهد تومانچه راوباسي او هغه درې ډزه ولې او په قتل يې رسوي، مجاهدين د هغه جسد په نږدې د زيتونو په پټيو کې غورځوي او بيرته عبدالرحيم ته راځي چې هغه د يو ژوندي فوځي د راوستلو انتظار کوي تر څو هغه وساتي او د بنديانو په راخلاصولو مذاکرات پيل شي. دوی عبدالرحيم ته ټوله کيسه کوي، نو عبدالرحيم له دوی سره بهر وځي چې جسد دفن کړي تر څو په راتلونکې کې دا کار د بنديانو د خلاصون لپاره د زيات فشار په توګه وکاروي.
څو ورځې وروسته عبدالرحيم له خپلو ملګرو سره د بيت شميش سره نږدې سړک ته وځي او په يو موټر ډزې کوي چې په هغه کې درې تنه وژل کيږي او دوی په هماغه وخت بيرته کلي ته راستنيږي. وزير اعظم نتنياهو د خپل حکومت په ځمکه باندې د اشغال او ظلم پاليسي ته دوام ورکوي. د هغه حکومت په يروشلم کې د ابو غنيم ځمکه غصب کړه او هلته يې د يهودي استوګنځي د پروژې پرانيسته وکړه چې عربي کلي يې له يروشلم څخه جلا کول. په دې کار سره يوه لويه مطبوعاتي او سياسي ګډوډي جوړيږي. عبدالرحيم او د هغه ملګري فکر کوي چې د دې لپاره بايد څه وشي. په دې وخت کې ډير مجاهدين په دې خبره يقين کوي چې د جنګ نوبت به ضرور راځي او له

يهودو سره د امن وهم به ډير ژر ختم شي، نښې نښانې څرګنديدلې نو ځکه دوی د همدې ورځ لپاره اماده ګي پيل کړه.
په لويديځه غاړه کې يو نظامي قوماندان په ډيره پټه طريقه سره مصروف دی او نوي ګروپونه جوړوي او هغوی ته تربيت ورکوي، او په مختلفو سيمو کې وسله راټولوي او په ملګرو يې تقسيموي. په غزه کې حسن د ابراهيم په هداياتو او د يو متخصص په مشوره د خپلو آلاتو، ماشينونو او ورکشاپ په کارولو سره د لاسي بمونو په جوړولو او ذخيره کولو مشغول دی او د سيمه يزو ټوپکونو د جوړولو هڅه کوي، حال دا چې د هغوی کيفيت کمزوری دی خو هغه به له کبريتي بمونو او ډبرو څخه ښه وي.
د جبل ابو غنيم په معامله کې له پرمختګ سره، په لويديځه غاړه کې د القسام قطعې نظامي قوماندان له عبدالرحيم سره رابطه وکړه ځکه د هغه کنډک په دې وخت کې د يوې لويې فدايي حملې لپاره اماده او فعال ؤ چې د اسرائيلو په زړه کې په ابو غنيم کې د ترسره شويو اقداماتو په مقابل کې غبرګون وښيي. هغوی عبدالرحيم ته د چاوديدونکو توکو يو تيار شوی بکس ورکړ چې د اشغالګرو په يوه غونډه کې يې کيږدي او بيا په ريموټ کنټرول سره چاودنه ورکړي. بکس هغه ترلاسه کړ او موسی او يو بل مجاهد هغه په موټر کې تل ابيب ته روان کړ چې هلته موسی د دې کار لپاره يوه چای خونه غوره کړه چې له خلکو نه ډکه وه. د جمعې په ماسپښين کې پلان داسې ؤ چې بل مجاهد به بکس اخلي او لاندې به يې وړي او د ګڼه ګونې په مابين کې به يې د يو مېز لاندې ږدي او داسې به څرګندوي چې هغه د چای خونې له پخلنځي څخه د کوم شي د راوړلو لپاره بهر وځي او بيا به په ريموټ کنټرول سره چاودنه کوي، خو اسمان د موسی عبدالقادر اوديه د هرکلي لپاره اماده ؤ. هغه بکس واخيست او لاندې ولاړ او د چای خونې ساحې ته داخل شو. د دې پر ځای چې بکس کيږدي او بهر ولاړ شي: چاودنه وشوه چې له امله يې هغه شهيد شو. درې کسان نور مړه شول او له پنځوسو زيات ټپيان شول.

د اشغالګر دولت ليونتوب زيات شو او هغوی اخطارونه پيل کړل. د شهيد موسی هويت معلوم شو او فلسطيني امنيتي ادارې عبدالرحيم او جميل ونيول او په خليل زندان کې يې تحقيقات ترې وکړل او بيا يې زندان ته واچول.
خديجه فتحيه نږدې وه چې ليونۍ شي کله يې چې عبدالرحيم زندان ته واچاوه. کله به چې د هغه پلار يا تره کور ته راننوتل نو هغې به چيغې ورته وهلې چې يو څه وکړه تر څو عبدالرحيم راخوشې شي، هغوی به تسلي ورکوله او بهر به ولاړل تر څو د يو بانفوذه يا منځګړي لټون وکړي خو هيڅ ګټه به يې نه کوله. هغه به وخت په وخت زندان ته د هغې له يوې لور سره ورتله او نږدې وه چې زړه يې له درده وچوي کله به يې چې هغه په زندان کې وليده، او هغه به يې د خندولو هڅه کوله ګويا که هغه بالکل بندي نه وي. تقريباً اته مياشتې وروسته د زندان مشر ورته وويل چې ته او جميل به د محکمې لپاره اريحا زندان ته ليږدول کيږئ خو دوی هغه خبردار کړ چې دا يوه لويه تيروتنه ده ځکه اشغالګر فوځيان دوی له فلسطيني پوليسو څخه بيولی شي. د زندان پوليسو دا خبره له پامه وغورځوله او هغوی يې د خليل زندان له مشر سره مخامخ کړل او هغه اطمينان ورکړ چې داسې به نه کيږي. دوی ته يې زولنې واچولې او په يو موټر کې يې د يو پوليس په ساتنه کې وليږل. له څو ساعتونو سفر وروسته دوی ځانونه په يو کمين کې ايسار وليدل چې اشغالګرو فوځيانو نيولي ؤ، فوځيانو موټر ودراوه، دروازې يې خلاصې کړې، دوی ته يې ټوپک نيولي وو او د نوم په اخيستلو سره به يې راښکته کول او د اشغالګرو موټر ته يې وخيژول او يروشلم ته يې يوړل. څو مياشتې وروسته ترور ته له عبدالرحيم سره د ملاقات زمينه مساعده شوه چې د اشغالګرو په بند کې ؤ، هغه د خپل د زړه ټوټې په ليدلو لړزيدله او څنګه يې چې خپل زوی وليده نو له سترګو يې اوښکې روانې شوې، عبدالرحيم د هغې د خندولو هڅه کوله او هغې ته يې دادګيرنه ورکوله. هغې په چيغو کولو ورته وويل: په الله قسم هغوی ته او ستا ملګری يهوديانو ته په لاس ورکړئ او له زړه يې هغوی ته ښيرا وکړلې. ملاقات ختم شو او ترور يې له زندانه بهر راوباسله او هغه کور ته راغله او ټولو ته يې کيسه وکړه، هغې قسمونه خوړل چې عبدالرحيم

دښمنانو ته سپارل شوی دی او ښيراوې يې کولې. زموږ په کور کې دا خبرې معمول ګرځيدلې وې چې له عبدالرحيم سره څه وشول، زما مور زياته په غصه وه چې د خور زوی يې په داسې حالت کې دی. محمود د خبرې د واضح کولو، هڅه کوله چې دا هر څه قصداً نه دي شوي بلکې د اشغالګرو د يو لوټ مار په نتيجه کې رامنځته شوي دي او عبدالرحيم او د هغه ملګری يې اختطاف کړي دي، د محمود په خبره د هغوی يهودو ته سپارل امکان نلري. حسن له دې موقع نه په استفادې سره محمود ته وويل: دا خبره څنګه صحيح کيدای شي؟ او هغه عسکر ولې د خپل غفلت له امله نه دي نيول شوي؟ يهوديانو ته څنګه معلومات وشول چې اوس بنديان بهر ته وړي؟ او د هغوی نومونه څنګه ورته معلوم شول؟ او محمود ناممکنه ولې ورته وويل؟ ايا هغوی له اتو مياشتو زيات نشول بنديان؟ ايا په سلګونو د مقاومت ځوانان يې بنديان نکړل؟ او ايا خلک يې د تحقيقاتو پر مهال شکنجه نکړل؟ محمود تر هغه پورې غلی ؤ تر څو چې حسن په خپله غلی شو او بيا محمود ورته وويل: ته په اوبو کې د ماهيانو د نيولو هڅه کوې او زما د مور له احساساتو سره لوبې کوې ځکه چې بندي د هغې خوريې دی او دا ستا لپاره د شرم خبره ده چې داسې کوې. حسن په خندا ورته وويل: د شرم خبره زما لپاره ده؟ ايا زه يې په خپله اووه مياشتې بندي نه کړم؟ ايا هغوی د ابراهيم په نيولو پسې نه وو راغلي؟ او هغه يې څو مياشتې په پټيدلو مجبور نکړ؟ او د مور له احساساتو سره زه لوبې کوم؟

د تاوتريخوالي د پراخيدو له امله حالات بالکل اخري نقطې ته رسيدلي وو په ځانګړې توګه کله چې مجاهد محيي الدين شريف په رام الله کې شهيد کړلی شو. حماس تور پورې کړ چې د فلسطين امنيتي ادارې له اسرائيلو سره يو ځای هغه قتل کړی دی او فلسطيني ادارې تور لګاوه چې حماس په خپله هغه د داخلي اختلافاتو په اساس وژلی دی. تاوتريخوالی هغه وخت اوج ته ورسيده چې کله يو ځوان له زندان څخه د خلاصون وروسته بهر راغی، له هغه سره يو پلان ؤ چې مقصد يې په اسرائيلي زندان کې د فلسطيني بنديانو خلاصون ؤ.په دې پلان کې د فدايي بريدونو کمپاين کول او دې حملو ته د بنديانو د خلاصون

له غوښتنې سره ربط ورکول شامل ؤ او که بندیان خلاص نشي نو د نورو حملو اخطار هم پکې شامل ؤ. له خلاصون وروسته سمدستي هغه ځوان له ځینو مجاهدینو سره اړیکې ونیولې او د بیلابیلو حملو چمتووالی یې ونیوه. لومړی برید د یروشلم په محنی یهودا بازار کې وشو چې هلته دوو فدایانو ځانونه والوزول چې له امله یې په لوی شمېر کې خلک ووژل شول او ډیر ټپیان شول او لویه تباهي یې رامنځته کړه. له دې نه وروسته یوه اعلامیه خپره شوه چې په هغې کې د بندیانو د خلاصون غوښتنه وشوه او د نورو بریدونو اخطار ورکړل شو. او یوه بله حمله هم وشوه چې په هغه کې هم زیاته تباهي او مرګ ژوبله رامنځته شوه.

له دې نه وروسته د نتن یاهو د حکومت لیونتوب سر ته وخوت او سخت اخطارونه یې پیل کړل، د امریکایي فشار له امله د فلسطین په اداره هم فشار زیات شو چې له امله یې د ادارې او د اپوزیسیون تر منځ هم تنازعات زیات شول. ادارې د اپوزیسیون او په ځانګړې توګه د حماس په خلاف د نیولو کمپاین پیل کړ او د شیخ جمال او شیخ عبدالرحمن په شمول یې په لسګونو کسان د بیتونیا زندان ته واچول.

زموږ په کور کې د محمود، حسن او ابراهیم په مابین کې هم بحثونو زور وموند، دا بحثونه به کله کله تورونو لګولو ته ورسیدل او کله ناکله به لاس اچولو ته هم خبره لاړه په ځانګړې توګه د حسن او محمود په مابین کې. څو ورځې وروسته حسن بیا ونیول شو او ابراهیم د نیولو په اخري شیبه کې خلاص شو او ځان یې غائب کړ.

د افراطي مذهبي ګوندونو د مخالفت له امله د نتن یاهو دولت ړنګ شو او په اسرائیلو کې نوې ټاکنې پیل شوې چې په هغو کې د حزب العمل ګوند نوماند یهودا باراک بریا ترلاسه کړه. د باراک بریا د فلسطین د ادارې او د امن ملاتړو لپاره د هیلو یوه غوټۍ ثابته شوه ځکه یقین کیده چې هغه به د امن پروسه مخته یوسي. د فلسطین او اسرائیلو په مابین کې د روابطو له ښه کیدو سره د ادارې او اپوزیسیون په مابین کې اختلافات نور هم زیات شول او ادارې په اپوزیسیون باندې خپل فشار نور هم زیات کړ تر څو د امن په پروسه کې خنډ جوړ نکړي.

فلسطيني اداري خبر تر لاسه کړ چې ابراهيم چيرته پټ دی. نو په لوی شمېر کې فلسطيني امنيتي ادارو هغه ځای محاصره کړ او اخطار يې ورکړ که هغه په خپله ځان دوی ته ونه سپاري نو له سختو پايلو سره به مخ شي، ابراهيم دوی ته ځان وسپاره او زندان ته يوړل شو. زما د مور غم نور هم زيات شو. يوه طرفته يې خورېې په زندان کې ؤ او بل طرفته يې زوی او زوم هم بنديان شول. له دې نه علاوه د حسن د مېرمنې غم، د مريم غم او د حسن او د مريم د بچيانو غم. دا ټول چې سره يو ځای شول نو کور يې يو ځل بيا خاموش کړ او هغه يې د اوښکو او غمونو په يوه هديره بدل کړ. په دې وخت کې خبر راغی چې د اسرائيلو نوی مشر يهود باراک له فلسطينيانو سره د وروستي حل د مذاکراتو لپاره اماده دی، په دې سره د فلسطين اداري د خوښی ځرګندونه وکړه او امريکايي ملاتړ يې هم ترلاسه کړ. د خلکو لوی اميدونه پيدا شول چې د فلسطيني دولت د جوړيدو او القدس شريف يې د پايتخت کيدو ارمان به ژر پوره شي، د ۱۹۶۷ له جنګ نه وړاندې د سرحدونو څخه به اسرائيلي عسکر ووزي... په کيمپ ډيوډ کې د فلسطين او اسرائيلو خبرې اترې پيل شوې چې څارنه يې د امريکا صدر بل کلينټن کوله.

مور به خبرونه په ډير جديت سره کتل او دوباره له خپلې مور سره د خبرونو کتلو لپاره کيناستو. د حسن او ابراهيم د نشتون له امله د هغوی د مخالفت غږ خاموش ؤ چې هغوی له اسرائيلو سره د خبرو او امن مخالفت کاوه. زما د مور غم او د ابراهيم او حسن د قيد اثر په هغې باندې ځرګند ؤ. محمود به بيا بيا هڅه کوله چې هغې ته ډاډګيرنه ورکړي چې په کمپ ډيوډ کې له خبرو اترو او په هغه باندې له عمل کولو وروسته به حسن او ابراهيم ازاد شي تر دې پورې چې اسرائيل به هم خپل بنديان خوشي کړي، ځکه فلسطيني مرکچيانو دا خبره هم راپورته کړې وه او له لوظنامې وروسته له اسرائيلو سره د بنديانو د پاتې کيدو هيڅ جواز نه ؤ او بيا به د عبدالرحيم خلاصون هم ممکن وګرځي. څو ورځې وروسته خبرې اترې ناکامه شوې ځکه اسرائيل د لويو مسائلو د حل لپاره اماده نه وو مثلاً د القدس مسئله، د پناه غوښتونکو ستونزه. له ۱۹۶۷ نه وړاندې د پولو معلومول او د استعماري سيمو بيرته سپارل. دا خبرونه هم راغلل چې په فلسطيني صدر ياسر

عرفات باندې امریکایي صدر بل کلینټن زیات فشار راوړی دی چې هغه باید په دې مسئلو کې د اسرائیلو په وړاندې ټینګ شي خو د عرفات ځواب له سخت انکار سره ؤ، مرکچي ټیمونه بیرته راوګرځېدل شول او سیمه په یوه بنده کوڅه کې داخله شوه چې هر وخت یې په یوه سکروټه سره هم اور اخیستلی شوای. سکروټه هغه وخت ګرمه شوه کله چې د حزب لیکوید صدر «اریئل شارون» چې په اشغال شویو سیمو کې د اپوزیسیون مشر ؤ؛ د مسجد اقصی انګړ ته داخل شو، له هغه سره په سلګونو فوځیان او پولیس موجود وو، په دې اقدام سره په سیمه کې سخت تاوتریخوالی خپور شو، په غزه، لویدیځه غاړه او القدس کې خلکو له خپلو سینو ځخه په ډال جوړولو لاریونونه پیل کړل او د اشغالګرو په پوستو یې حملې پیل کړې، په ډبرو او خالي بوتلونو د سمبالو لاریون کوونکو نښتو زور واخیست او د لومړی انتقاضې انځور یې راتازه کړ.

د اشغالګر فوځ عکس العمل سخت او له توقع خلاف ؤ په ځانګړې توګه په هغه چاپیریال کې چې حکومت د امن او مذاکراتو ملاتړی بلل کیده خو په سیاسي باراک او نظامي باراک کې هېڅ فرق نه ؤ بلکې هغه په سیاست کې هم همدومره سخت او بې رحمه ثابت شو ځومره چې په فوځ کې سخت ؤ. دوی دا ګڼله چې باید فلسطیني خلک سړکونو ته راوباسل شي او په دوی مطبوعاتي او سیاسي فشار راولي تر ځو دوی د کمپ ډیوډ په کانفرانس کې له خپلو وړاندې کړیو شرائطو نه تېر شي نو ځکه فوځ ته حکم وشو چې له لاریون کوونکو سره بې رحمانه چلند وکړي چې له امله یې ډیر کسان شهیدان او ټپیان شول. کله چې فلسطیني پولیسو او امنیتي کسانو ولیدل چې د دوی ورونه د اشغالګرو لخوا وژل کیږي نو د دوی ځینو منسوبینو خپل احساسات کنټرول نشوای کړای. په دوی کې ځینو په اشغالګرو ډزې وکړې او ځو تنه یې مړه او ټپیان کړل. حالات د خرابیدو په خوا روان وو او دا فقط یو مذاکراتي دوکه نه وه بلکې یو جدي بحران ؤ. د فلسطیني شهیدانو شمېر سلګونو ته پورته شو او عسکرو د اشغالګرو د هدایاتو سره سم د وژنو او وحشت سلسلې ته دوام ورکړ.

د غزې د مرکزي زندان په یو وطاق کې پنځلس بندیان تلویزیون ته ناست دي او خبرونه ګوري. چې هغوی د وروستیو پیښو او نښتو په هکله راپور ورکاوه او د

لسګونو شهیدانو او سلګونو ټپیانو په هکله یې خبرې کولې. «د نن ورځې د نښتو ځایونه او هلته د ترسره شویو نښتو د شهیدانو او ټپیانو خبر. د رفح ښار په صلاح الدین دروازه کې، د خان یونس ښار په لویدیځ کې د التفاح له پوستې سره. همدارنګه له دیر البلح سره نږدې د کفاردراوم په کلي کې او د نتساریم له کلي سره نږدې د شهداء له څلور لارې سره. د معبر ایرز په سرحدي پوسته او ختیځه شجاعیه کې. همدارنګه د لویدیځې غاړې هم همداسې انځورونه نشریږي لکه د یروشلم ښار او د هغه اطراف، د رام الله ښار څنډې. په نابلس کې د یوسف له قبر سره نږدې، د جنین او د هغه د شاوخوا کمپونو انځورنه هم خپاره شول. په وطاق کې د خبرونو له لیدلو سره مکمل خاموشي خپره شوه او کله چې خبرونه ختم شول نو په هغو ځوانانو کې د غصې اظهار څرګندیږي. یو د الله اکبر په ویلو سره چیغې وهي، بل په بستره پښې وهي او چیغې وهي: دا به تر څو پورې روان وي؟ دریم بغیر له څه ویلو خپل سر په دواړو لاسونو نیولی دی، څلورم د غصې له امله خپل سر وهي...

ابراهیم د بسترې څنګ ته ناست دی، پښې یې په ځمکه لګیږي، هغه خپل لاسونه په زنګنونو ایښي دي او سر یې په لاسونو کې ایښې دی او خاموش ناست دی، یو ځوان پوښتنه ترې کوي: ابراهیمه ستا څه رایه ده، ابراهیم د هغه طرفته ګوري او وایي: دا زموږ حال دی، زموږ د ملت د خلکو ژوند او وینه د اوسلو د تجربو میدان ګرځیدلی دی، که دا مذاکرات کامیاب شي نو ډیره ښه ده او که کامیاب نشي نو هیڅ خبره نشته، موږ یې بیا پیل کولی شو، همدا حل دی؟ د مخکې انتقاضې ټولې قربانۍ ضایع شوې او اوس له سیاسیونو او مرکچیانو سره معاملات بې نتیجې شول نو څه فرق دی چې موږ یې بیا پیل کړو؟

په سلګونو بلکې په زرګونو شهیدان وغورځي او په زرګونو ټپیان شي او بیا یو څوک راشي او د یوې نوې اوسلو یا بل نوم سره یوه نوې لوظنامه وړاندې کړي او په همدې توګه له هرې مبارزې وروسته سیاسیون راشي او د میوې د شوکولو هڅه کوي، هغه میوه له وخت وړاندې شوکوي نو ځکه هغه د سزا په توګه له میوې نه محروم پاتې کیږي. نه میوه د پخیدو لپاره په ونه کې پریږدي او نه یې ګټه وي چې له وخت وړاندې یې وشوکوي. همدا کیسه زموږ له مخکینۍ

انتقاضې سره وشوه چې موږ به یې بیا پیل کړو تر څو چې یو څوک راشي او دا
وګنې چې میوه پخه شوې ده او وخت یې راغلی دی او هر هغه څه تباه کړي د
کومو لپاره چې موږ قرباني ورکړې دي.
ځوان پوښتنه وکړه: د دې مطلب دادی چې ته دا ګڼې چې حالات به په دې
شکل تر ډیره دوام وکړي؟
ابراهیم وویل:هو دا حالات به دوام وکړي، ایا ته نه وینې چې دا سیمه د سختي
او د ځان د بربادۍ په حالت کې داخلیږي؟ هر شی له بمونو څخه ډک دی او
هر شی له بل شي سره تړلی دی، هره چاودنه نورې چاودنې پیدا کوي، له
اشغالګرو سره د مذاکراتو لپاره داسې څوک نشته چې هغه د خبرو اترو وړتیا
ولري او زموږ د ملت په غوښتنو کلک ودریږي. نه د القدس په موضوع، نه د
۱۹٦۷ په سرحدونو، نه د مهاجرینو په موضوع. نه د یهودو په میشت ځایونو او نه
په اوبو باندې. او ته به د فلسطین په خلکو کې یو هم داسې څوک پیدا نکړې
چې د دې ستونزو د حل په موخه یو قدم مخته ولاړ شي او څوک هم چې داسې
جرائت وکړي هغه به په زرګونو خلک ومومي چې دده په ضد به نعرې وهي او
هغه به د خیانت په تور تورن کوي.
ځوان وویل: بیا خو به حالت کړکیچن وي او د ځوانانو زخمونه به نازک وي او
دا هلکان به د اشغالګرو د ټانګونو او ټوپکو په وړاندې جنګیږي. دا حرام کار
دی او باید داسې ونشي او دوی باید منع شي ځکه دا هر څه بې ګټې دي.
ابراهیم په خندا ورته وایي: نه وروره دا بې ګټې نه دي، دا هلکان د الله تعالی په
نزد شهادت حاصلوي ځکه د هغوی نیتونه صفا او ریښتوني دي. دا یو ټکان دی
چې زموږ د وینو برخه پکې اخیستل کیږي او حالات به بیشکه پرمختګ کوي.
ته به وګورې چې صبا به د خلکو غصه زیاته شي او حالات به په خپله دې ځای
ته ورسیږي چې یو څوک به په جرائت سره بیرغ پورته کوي او د جلاد په مخ
کې به توره راوباسي او دښمن به د هغې وینې قیمت چې دوی بهولې ده په
خپلې وینې سره، په خپل راحت سره، په خپل امنیت سره، په خپل قوت سره ، په
خپل اقتصاد سره او د خپلو سترګو په اوبو سره ورکوي.

ځوان پوښتنه وکړه: او دوی به تر څو پورې موږ په زندانونو کې ساتي؟ د امن خیال له دې بد رنګه اشغال سره مات شوی دی. ابراهیم په خندا وویل: دا به زیات وخت نه وي، فقط څو اونۍ، فقط څو اونۍ.
د انتقاضې فعالیتونه زیات شول او تاوتریخوالي شدت پیدا کړ. اشغالګرو عسکرو خپل ټول توان له خپلو ټولو لارو چارو سره یو ځای په کار واچاوه. د اشغالګرو ماهر نښه ویشتونکي به په ټاورونو. پوستو او موانعو باندې موجود وو او د لاریون کوونکو د سر په نښه کولو سره به یې ډزې کولې. د تلویزیون یو چینل په دې هکله یو راپور جوړ کړی ؤ چې یو عسکر په یو لوی دوربین کې لاریون کوونکو ته ګوري. یو لاریون کوونکی یې په دوربین کې ولیده او د درازکوف والا ته یې ویل چې دده شاته ټوپک ته پروت ؤ: هغه سړی ویني چې ژیړ کمیس یې اغوستلی. اوږده ویښتان لري. د هغه په لاس کې ډبره ده. هغه ډبره وغورځوله. ایا ته هغه وینې؟ نښان ویشتونکي ورته وویل: هو، هو زه یې وینم. لومړی عسکر ورته وایي: هغه له مخې لیرې کړه! نښان ویشتونکي ډزې وکړې. او هغه عسکر خپل ملګري ته وویل چې نورو ځوانانو هغه د مرمیو د وریدو لاندې پورته کړ او نښان ویشتونکي په یو بل هدف هم ګزار وکړ. له دې نه معلومیده چې هغه یو ماهر او تجربه کار نښان ویشتونکی دی.
د دې زورزیاتیو او ظلم په وړاندې د فلسطین پولیسو او امنیتي ادارو ځوابي ډزې پیل کړې چې هغوی د لاریون کوونکو شاوخوا ولاړ وو او له دې نه وروسته په څرګند ډول د نښه کولو عملیات پیل شول چې په هغه کې وسله اخیستونکي خلک حتی چې پولیس هم هدف وګرځول شول او بیا د پولیسو د ځینو ودانیو د نښه کولو لپاره بمباري هم پیل شوه. د اشغالګرو حکومت او مطبوعاتو تور پورې کړ چې فلسطیني اداره په خپلو زندانونو کې د قیدي مجرمینو لپاره لارې خلاصوي چې د دوی په خلاف د فعالیتونو پلانونه جوړ کړي او دا هم څرګنده شوه چې اشغالګر په زندانونو کې د بندیانو په خلاف هم د عملیاتو اماده ګي نیسي. په دې ګې اول په نابلس کې د «صنین» زندان ؤ چې یوې (F۱٦) الوتکې په نیم ټن بم سره تباه کړ. مطلوب شخص محمود ابو هنود د بلاک په کناره کې

ځ او هغه الله تعالی وساتلو خو د زندان ساتونکي ډير پوليس مړه او ټپيان شول. اداري خپل ځان د دوو اوروناو په مابين کې وموند. يو دا چې ايا دا بنديان له اسرائيلو سره د شوې لوظنامې له مخې په زندان کې وساتي او که خوشي يې کړي او بل طرفته امريکا وه چې په هر شي يې فشار او اخطار ورکاوه.
په بيتمنيا زندان کې په لسګونو بنديان ساتل شوي دي. د يو بلاک په يو وطاق کې له بنديانو سره شيخ جمال او شيخ عبدالرحمن هم موجود دي. يوه ځوان چيغه وکړه: دا وګورئ اپاچي هليکوپټر دی، دلته يې ګرځوي. ايا تاسو يې وينئ؟ او له کړکۍ نه اشاره کوي. بل ځوان چيغه کوي: داسې ښکاري چې هغه په موږ بمبار کوي او په وطاق کې ګډوډي او شور جوړيږي. په نورو وطاقونو کې شيخ جمال بنديان خاموش کوي او د ځانونو د کنټرول ورته وايي او محافظ عسکر راغواړي او هغه لکه څنګه چې د ساتونکو عادت دی له ډير سستي وروسته راځي. شيخ ورته وايي چې دوی ويريږي چې د هغوی وطاق په نښه نشي. پوليس ځواب ورکوي چې هغه هيڅ هم نشي کولی ځکه هغه د داسې کولو اجازه نلري. شيخ جمال هغه ته وايي چې په دنده مامور افسر دې راوغواړي خو عسکر بهانې کوي او اروړمي کاږي. شيخ جمال د دروازې له اوسپنو شاته هغه له سستي او غفلت نه راپورته کوي او چيغه ورته کوي: زه درته وايم چې افسر راوغواړه! ايا ته زما په خبره نه پوهيږې؟ دلته بمبار کيدلی شي! عسکر په بېړه وايي: په سترګو، په سترګو. هغه د دالان اخر ته ځي او تليفون پورته کوي او خپل افسر ته زنګ کوي او هغه په سواليه توګه راځي او جمال ته وايي: څه شوي دي؟ شيخ جمال هغه ته ټوله خبره کوي، افسر هغوی ته ډاډګيرنه ورکوي چې هيڅ نه کيږي موږ له تاسو سره يو. شيخ جمال هغه ته وضاحت ورکوي چې اپاچي هليکوپټر په وطاق باندې بمباري کوي. د هر وطاق لپاره يو خاص او هدايت يافته ميزائيل دی. افسر بيا د ډاډ خبرې کوي او شيخ جمال چيغه پرې کوي چې موږ په دې وطاق کې نه اوسيږو، په هيڅ صورت نه اوسيږو! افسر ځواب ورکوي چې زه څه کولی شم؟ شيخ ورته وايي چې موږ له دې ځايه وباسئ او خپلو دفترونو او وطاقونو ته مو يوسئ. افسر ځواب ورکوي چې زه

داسې نښم کولی څکه زه یې احکام نلرم. شیخ ورته وایي: له خپل قوماندان سره رابطه وکړه. له موږ سره چې هر څه وشي تاسو به یې مسؤل یاست. هغه د تلیفون لپاره ځي او ځوانان هلیکوپتر ته ګوري چې په پرله پسې توګه په زندان پروازونه کوي. جمال په چیغه له افسر نه پوښتنه کوي چې څه وشول او څه خواب درته راغی؟ او هغه ځواب ورکوي چې ستاسو غوښتنه رد شوه. شیخ په چیغه کولو سره وایي: رده شوه؟ او ځوانانو ته وایي چې دروازې ماتې کړئ. ځینې ځوانان اوسپنیزې بسترې پورته کوي او له دروزاې سره یې ټکر کوي تر دې پورې چې دروازه له خپل ځای نه لیرې کیږي او همدا کار په نورو وطاقونو کې هم کیږي. ټول خلک له وطاقونو څخه بهر دالان ته راوځي. له لیرې څخه وسله وال فوځ له وسلو. ګاز او کوتکو سره اماده را روان دی او د مقام قوماندان هم ورسره دی. بندیان چیغې او د تکبیر نعرې وهي. یو ځوان ورته وایي: ایا تاسو شرمیږئ نه چې موږ د دښمن د میزائیلو او ستاسو د ټوپکونو او کوتکو په مابین کې یو. شرم وکړئ!

ځایي قوماندان خپلو عسکرو ته د شاته کیدو حکم وکړ او له شیخ جمال سره یې مذاکرات پیل کړل چې هغه د حالاتو په اړه وضاحت ورکړ. قوماندان دوی ته په دالان او میدان کې د اوسیدو اجازه ورکړه او که اړتیا شوه نو د پولسو په دفترونو او وطاقونو کې هم اوسیدلی شي. حالات په تېزي سره بدلیدل څکه د دښمن د ظلم او بربریت په مقابل کې خلکو د داسې یو بغاوت د فعالیتونو په اړه فکر پیل کړ چې دښمن او د هغوی ښاریانو ته زیان ورسوي او د ډیرو استشهادي عملیاتو هڅې وشوې. د ۱۹۴۸ په اشغال شویو سیمو کې په دې عملیاتو کې تر یوه حده کامیابي ترلاسه شوه او ځینې خلک یې ووژل خو زیاتره ناکام شول او فقط د ټپیانو سبب شول خو په دې کار سره یې په بندیانو کې ویره پیدا کړه او د راتلونکو پېښو وړاندوینه یې وکړه. ډیر ځله ځینې ځوانان د ۱۹۴۸ اشغال شویو سیمو ته له ټوپکو سره په داخلیدو کې بریالي شول چې هلته به هغوی په سړک، تم ځای او ښار کې په خلکو ډزې کولې. ځینې به یې ووژل او اکثره به یې ټپیان کړل او بیا به د دښمن پولیسو او امنیتي منسوبینو دوی محاصره

کړل ، يا به يې ووژل او يا به يې ونيول. هره ورځ به د خلکو لوی شمېر د شهيدانو په جنازو کې ګډون کاوه، د غصې اظهار به يې کاوه او د انتقام غوښتنه به يې کوله او دښمن ته به يې د ظلمونو د حساب ورکولو اعلان کاوه.
اشغالګرو د هليکوپترو او طيارو په واسطه د امنيتي ادارو او پوليسو مراکز زيات په نښه کول چې د فلسطيني ادارې مربوط وو. لومړی به يې د هغوی شاوخوا پروازونه کول چې هغوی به دا ځايونه خالي کړل او بيا به يې په بمبار کولو سره تباه کړل او په دې سره به يې ادارې ته اخطار ورکاوه چې که حالات همداسې دوام ومومي نو هغوی به ختم کړي. ادارې هم دا احساس کړه که چېرته حالات همداسې روان وي او اشغالګر په هغو زندانونو حمله وکړي چې هلته سياسي بنديان دي نو دوی ته هم خطر پيدا کيدای شي نو له همدې امله دوی د ځينو بنديانو خوشي کول پيل کړل، زما ورور حسن يې خوشی کړ او نور بنديان يې نامعلوم ملکي اپارتمانونو ته نقل کړل چې هلته په توقيفونو کې وساتل شول لکه څنګه چې له ابراهيم سره وشول. د باراک حکومت ړنګ شو او په اسرائيلو کې نوي انتخابات وشول چې له مخې يې اريئل شارون چې د خپل قصابي رول له امله مشهور دی؛ وزير اعظم مقرر شو او دا څرګنده شوه چې حالات نور هم د کړکېچ او خرابيدو په طرف روان دي.

ديرشم څپرکی

د اقصی انتقاضه په لومړی مياشت کې چې ۲۸ ستمبر ۲۰۰۰ ميلادي کال ؤ د شارون د مسجد اقصی له سفر کولو وروسته راوپارېده. او د اسرائيلي مطبوعاتو د نشر شويو ارقامو له مخې اشغالګرو فوځيانو په لويديځه غاړه کې په لاريون کوونکو تقريباً يو ميليون ډزې کړې دي.
د اشغالګر فوځ مشر هغه که يهودا باراک و او که له هغه نه وروسته ايريئل شارون ؤ؛ خپلو فوځي مشرانو ته يې د انتقاضې د ځپلو او له بنياده د ختمولو لپاره شنې اشارې ورکړې او فوځي مشرانو خپل فوځ ته د لاريون کوونکو د ختمولو حکم وکړ. زموږ ملت وروسته نشو، نه يې څنډ وکړ او نه هم زړه نازړه شول او د

اشغالګر دولت د قتل او منظم تروریزم سره د مقابلې لپاره یې بغیر له کوم سوچ نه خپل سرونه په لاسونو کې نیولي وو او مخته روان وو. د فلسطیني ملت د مختلفو سیاسي او نظریاتي عقائدو سره د تړاو لرونکو خلکو جوش او جذبه راپورته شوه، هغوی وسلې واخیستې او د خپلو خلکو د ساتنې په موخه د اشغالګرو مخې ته ودرېدل چې هغوی همیشه د جمهوریت او بشري حقوقو نعرې وهلې. د فتح، حماس، جهاد او نورو محاذونو خلک ټول د یو مقصد لپاره راټول شول او د اشغالګرو په خلاف یې وسله پورته کړه او قاتلینو ته د هغه تریخ پان د خوند ور څکلو لپاره اماده شول چې هغوی زموږ خلکو ته په غزه، رام الله، نابلس او نورو ښارونو کې ور څکلی ؤ. د ځوانانو استشهادي کنډکونه جوړ شول او د اشغالګرو او زورواکو د نښه کولو لپاره یې کار پیل کړ.

د اوسلو د عمل مخالفین اوس هم د ادارې د بریدونو ښکار ول چې له انتقاضې وړاندې په دوی پیل شوي وو چې له امله یې هغوی له ابتداء نه د قوي کار پیل کولو وړ نه وو خو د هغوی کارونه په تدریجي توګه د پرمختګ په خوا روان وو. هر چې د فتح غورځنګ خبره ده نو د هغه کارمندان د فلسطیني ادارې په مختلفو شعبو کې مدغم شوي وو، له هغوی سره خلک، وسلې او صلاحیت هم وو خو له هغوی سره د پریکړې کولو کمبود وو. هغوی عزم په خپل اوږو کېښود او یو ځل بیا د اشغالګر مجرم په وړاندې د وسلوال مقاومت په لاره روان شول.

مهند ابو حلاوه په دیرشم اکتوبر په ختیځ القدس کې د ملي بانک د یوې څانګې دوه ساتونکي ووژل او د دې کار مسؤلیت د الاقصی د شهیدانو قطعې قبول کړ او په همدې توګه د فتح دغو ګروپونو د الاقصی د شهیدانو د قطعې په نوم کار پیل کړ. حسین عبیات د خپل صلاحیت او زړورتیا په اساس په بیت لحم او بیت جالا کې د دې قطعې مشر مقرر شو. هغه او د هغه په لسګونو جنګیالیو ملګرو په هغو سیمو کې د اشغالګرو او زورواکو خوبونه حرام کړل په ځانګړې توګه د زندانونو له یهودي میشت ځایونو سره نږدې. حسین عبیات د ۲۰۰۰ میلادي کال په نهم نومبر ووژل شو. د الاقصی د شهیدانو قطعې لومړی ګروپ تشکیل شو او هغوی د اشغالګرو او زورواکو په خلاف عملیات پیل کړل.

د شهيدانو په جنازو کې ګډون کوونکو په زرګونو خلکو د هغو پښتوانيو مشرانو په خلاف شعارونه پورته کړل چې له اسرائيلو او امريکا سره په مرسته کې ملوث وو، دې خلکو څو ځله په هغو مراکزو حملې وکړې چې هلته د اپوزيسيون بنديان ساتل کيدل، د هغوی د خلاصون غوښتنه يې وکړه او ځينې وختونه يې د دې مراکزو ديوالونه په خوځولو سره رنګ کړل او بنديان يې ازاد کړل. د ابراهيم او د هغه د ورونو په ګډون د لويديځې غاړې او غزې په سلګونو مجاهدين بنديان خوشي شول او هغوی سمدستي د خپلو خلکو د ساتنې لپاره چې د اشغالګر فوځ د حملو ښکار ول؛ اماده شول. په دوی کې يو مجاهد چې کله ورته وويل شول چې ته خلاصيږې نو هغه هيڅ احساساتي عکس العمل ښکاره نه کړ او نه يې سمدستي د تګ لپاره تياری وکړ بلکې غلی کيناست او کله چې ساتونکو له هغه څخه د دې چلند پوښتنه وکړه نو هغه وويل چې هغه تلل نه غواړي او ايا د يو څه زيات وخت لپاره به هغه په زندان کې ونه ساتل شي؟ ساتونکو د هغه لاسونه او پښې وتړل، موټر ته يې واچاوه، د هغه کور ته يې ورساوه او هلته يې زولنې ترې خلاصې کړې او له موټر نه يې ښکته کړ.

د ابراهيم د خلاصون جشن ولمانځل شو، د هغه بچيانو اسراء او ياسر هغه ته غيږې ورکولې، هغه يې ښکلولو او لوبې يې ورسره کولې، د هغه ډير ملګري او ګاونډيان هم د هغه کور ته د مبارکي لپاره راغلل. له دې موقع نه په استفادې ابراهيم د ټولو خلکو په وړاندې د امن د درواغو په هکله خبره وکړه چې زموږ په خلکو مسلط شوی ؤ چې زموږ د لومړی انتفاضې کوښښونه، مبارزې او قربانۍ يې ضايع کړې. هغه په دې خبره ټينګار وکړ چې له اشغالګرو سره د امن خبرې يوه دوکه ده چې زموږ خلک د هغوی له ازادۍ او عرت نه د ليرې ساتلو لپاره خرڅيږي او دا چې يوازې د مقاومت لاره ده چې په لبنان کې يې اشغالګر له جنوبي لبنان څخه تېښتې ته مجبور کړل.

دا اشغالګر ګروپ له غزې نه تېښتې ته تيار ؤ او په ۱۹۹۳ کې له لويديځې غاړې نه هم تيښتې ته تيار ؤ کله چې مقاومت دوی په خپلو وارونو سره ړانده کړي وو

او هغه وخت د دوی ډېرو مشرانو هم ويلي وو چې دوی به داسې کوي خو زموږ فلسطينيان راغلل او دښمن ته يې د هغوی د جرمونو له شاخ څخه د راښکته کېدو لپاره زينه کېښوده، نه يوازې دا چې دوی مو د هغوی له ستونزو نه رابهر کړل بلکې موږ خپله په هغو لوظنامو کې بند پاتې شو چې په هغو کې مو په خپله خاوره د دوی درې ربعې حق منلی دی او موږ په هغو لوظنامو کې بند پاتې شولو چې په هغو کې موږ د امنيتي همکارۍ او هماهنګۍ ژمنه کړې ده چې په پايله کې يې مقاومت بند کړلی شو، عزتمند خلک ونيول شول، زندانونو ته واچول شول او د دوی په ضد ظلم او بربريت ترسره شو، موږ په اسانۍ سره د اشغالګرو په ساتونکو بدل شولو، خو د دې ټولو په بدل کې موږ څه ترلاسه کړل؟ هغوی زموږ د حقوقو له منلو نه انکار وکړ او کله چې موږ په خپلو حقوقو ټينګار وکړ نو هغوی زموږ په خلکو د خپل جنګي ماشين جهنم راخلاص کړ. هره ورځ په لسګونو کسان شهيدان کيږي، په سلګونو ټپيان کيږي او د هغوی امريکايي څرخکې زموږ په خلکو توغندي اوروي څوک چې له خپلو ازادو او زړورو روحونو سره د اشغالګرو د بربريت له منلو انکار کوي. وروڼو! دا خاوره پاکه او برکتي ده، الله تعالی د دې په هکله فرمايلي دي «سبحان الذي اسری بعبده ليلاً من المجسد الحرام الی المسجد الاقصی الذي بارکنا حوله لنريه من اياتنا انه هو السميع البصير» دا د اسراء او معراج خاوره ده، برکتي خاوره ده، دا به تر قيامته پورې د رباط او جهاد خاوره وي او هيڅوک دا نشي بندولی تر څو چې زموږ ارمانونه د الله په مرسته پوره شوي نه وي.

عربو او اسلامي ګوندونو د فلسطين د حالاتو سره تعامل وکړ او د خپلو هيوادونو په پايتختونو کې سړکونو ته راووتل، له رباط نه تر صنعاء او جکارته پورې، په لکونو خلکو په فلسطين کې د پاڅون په ملاتړ او د اشغالګرو د جرمونو او عام وژنو په خلاف شعارونه ورکول «خيبر خيبر يا يهود... جيش محمد سوف يعود...» او دا چيغې به يې وهلې «انتقام انتقام... يا کتائب القسام» يو څوان سړی له خپل موټر نه د تل ابيب په ساحل کې ښکته کيږي، په مضبوطو ګامونو روان دی او په شونډو يې دادمنه مسکا ده، د جون په شروع کې په ساحل باندې يو

تفريحي سيمې ته ځي چې هلته د ځوانو هلکانو او انجونو ازدحام جوړ دی. هغه د دوی په مابين کې داده ګرځي او په خپل لاس سره برقي بټن وهي او داسې يوه قوي چاودنه کيږي چې غوږونه کاڼه کوي. د خلکو چيغې او شور جوړيږي. ايمولانسونه، امنيتي کارمندان او د بمونو متخصصين د پيښې ځای ته رسيږي. په لسګونو خلک مړه کيږي او په ډېر شمېر کې خلک ټپيان کيږي. موږ د خپلې مور په کوټه کې ناست وو او خپلو کوټو ته د تګ اماده ګي مو نيوله چې ناڅاپه په تلويزيون باندې عام پروګرامونه بند شول او د پيښې له ځايه په ژوندی بڼه نشريات پيل شول، له مختلفو جهتونو څخه د دې تروريستي پيښې د غندلو اعلاميې پيل شوې. ما د ابراهيم طرفته وکتل ګويا که زه له هغه نه پوښتنه کوم چې ستا په دې اړه څه فکر دی؟ هغه زما په مطلب پوه شو او زياته يې کړه: ايا ته دا ظالمه نړۍ نه وينې، زموږ خلک له تيرو اتو مياشتو څخه په پرله پسې ډول وژل کيږي او اشغالګر فوځ خپلې نوې وسلې، طيارې، ټانګونه په موږ استعمالوي خو دنيا کڼه او ګونګه ده. او کله چې زموږ د مغلوب، مقهور او مظلوم طرف نه د خپل ازاد او عزتمند ژوند لپاره ځينې عمليات ترسره شي نو د دوی غږونه پورته شي، تر دې پورې چې زموږ د ملت ځينې خلک يې هم غندنه کوي. د دې هر څه خو هيڅ قيمت نشته خو ايا د هغو لکونو خلکو چې له رباط څخه تر جکارته پورې په سړکونو راوتلي وو او همدا غوښتنه يې کوله، ايا دنيا هغه واوريده؟ هغوی نعرې وهلې «انتقام انتقام يا کتائب القسام» نو زموږ خلکو څه انتقام غوښته؟ او که زموږ خلک هغه څه غواړي چې زموږ حق دی چې موږ د خپلې دفاع لپاره وجنګيږو نو په دې کې څه بدي ده؟

د جولايي په مياشت کې اشغالګرو فوځيانو د هليکوپټرو، طيارو، ټانګونو، ميزائيلو او خاصو فوځي قطعاتو او د خپلو جاسوسانو په مټ په لويديځه غاړه او غزه کې د ۹۵ کسانو د قتل هڅې کړې دي چې له جملې يې په اتياوو کې بريالي شول چې په هغو کې د مشهورو فلسطيني ګوندونو ډير شمېر کارمندان ووژل شول. په نابلس کې د اسلامي څېړنيز مرکز په دفتر له راکټ سره بريد وشو چې د استوګنې په يو کور کې جوړ شوی ؤ او په دې حمله کې جمال سليم، جمال منصور او د مرکز نور څلور کارمندان ووژل شول. په نابلس او د هيواد په ټولو

ښارونو ،کليو او کمپونو کې خلک راووتل او د اشغالګرو د جرمونو په وړاندې يې د جدي عکس العمل غوښتنه وکړه او په لکونو خلکو دا شعارونه ورکول «انتقام انتقام يا کتائب القسام». اشغالګر فوځ واضحه پاليسي جوړه کړې وه چې دوی په پټه هغې ته د «اصطياد الناشطين» نوم ورکړی ؤ چې له مخې يې فوځ ته د هر هغه فلسطيني کارمند د وژلو اجازه وه چې د هغه نوم د هر جاسوس په راپور کې راشي او يا د استخباراتو په څېړنو کې جوت شي.

يو ځوان فلسطيني خبريال د يو لوی استشهادي بريد لپاره د مناسب هدف د لټون په موخه يروشلم ته روان شو، هغه يو مصروف ريستورانت وليده، راتلونکې ورځ هغه د موسيقي په يوه آله کې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو سره هلته ورسيده او تر شا يې يو ځوان خالي لاسونه روان دی تر څو امنيتي کسان په هغه شک ونکړي ځکه هغوی هر ځای له فدايي بريدونو څخه په ويره کې وو. کله چې هغه ريستورانت ته نږدې کېږي نو وروسته شخص خپل رفتار کموي او مخکې فدايي خپل رفتار تېزوي او له بم سره «سبارو» ريستورانت ته داخلېږي. له داخليدو څو دقيقې وروسته بم چاودنه کوي، چاودنه قوي وه او د مړو شويو جسدونه د ريستورانت له دروازو بهر راشړي، د چيغو او ژړا غږونه پورته کېږي. ايمبولانسونه، امنيتي کارکوونکي او د چاوديدونکو توکو متخصصين ځای ته ځانونه رسوي چې هلته له پنځلسو زيات خلک وژل شو دي او په لسګونو ټپيان دي.

ابراهيم، حسن او له هغوی سره يو بل ځوان عدنان عسقوله په غزه کې د حسن په ورکشاپ کې په خاموشي سره کار کوي، د ځوان له هداياتو سره سم د هاوان د مرمۍ په شان ساخت تيارېږي او هغه له چاوديدونکو توکو څخه ډکېږي او بيا د هاوان دسګاه تيارېږي، دوی يې موټر ته وروپوته کوي او د جنوب په طرف روانېږي، تر دې پورې چې د يوې يهودي ميشتې سيمې څنډې ته رسېږي او هلته دسګاه نصب کوي او د مرمۍ په ور اچولو سره «بسم الله الله اکبر. وما رميت اذ رميت ولکن الله رمی» وايي او ځانونه په ځمکه غورځوي. د هاوان غږ د چاودنې په شان پورته کېږي او مرمۍ د اسمان خوا ته حرکت کوي او بيا د يهودو په نږدې کلي نيتساريم کې غورځېږي. درې واړه مجاهدين يو بل ته

غيږې ورکوي او په بريالیتوب سره يو بل ته مبارکي ورکوي. بيا ورکشاپ ته ستنيږي او هلته نورې مرمۍ اماده کوي، د پنځه مرميو له تياريدو نه پس ابراهيم هغه په خپل موټر کې ږدي او د شمال په طرف روانيږي، د جباليه کمپ د يو کور دروازه ټکوي، يو ځوان رابهر کيږي او له هغه سره په موټر کې کيني او د يهودي ميشتو کليو شمالي څنډې ته روانيږي، هاوان نصب کوي او د نيتسانيت په يهودي کلي لومړۍ مرمۍ فير کوي، بيا موټر ته خيژي، ابراهيم هلته هغه ځوان له څلورو نورو مرميو سره ښکته کوي او په بېړه د ورکشاپ خواته راځي او له هغه ځايه نوی تيار شوی هاوان او پنځه مرمۍ په موټر کې ږدي او د جنوب په طرف روانيږي، د خان يونس په کمپ کې يوه دروازه ټکوي، يو ځوان رابهر کيږي او له هغه سره د کمپ څنډې ته ځي، هاوان نصب کوي او لومړۍ مرمۍ فير کوي او بيا راستنيږي او باقي مرمۍ او هاوان هغه ځوان ته ورکوي. کله چې د اشغالګرو د رهبري له طرفه په يهودي ميشت ځايونو د هاوانونو په خلاف د اخطارونو غږونه پورته کيږي نو ځيني هغه خلک چې په لويديځه غاړه او غزه کې په سياسي ژوند کې څرګند دي؛ ويريږي او د ځينو غږونه پورته کيږي چې دا لوبې بايد ودرول شي چې هيڅ ګټه نلري او تاوان پيښوي. ابراهيم او حسن نورې تياریانې نيسي او کله چې خبرونه او غوښتنې اوري نو خاندي. ابراهيم وايي: له دې خلکو سره بايد څه وشي؟ دوی غواړي چې اشغالګر دې موږ وژني او موږ دې له ژړا پرته هيڅ نه کوو، دوی سپين بيرغونه رپوي او له هغه قصاب نه د رحم کولو غوښتنه کوي چې بالکل رحم نه پيژني، کار کوئ خوږو ملګرو. کار کوئ! دا جهاد دی، يا فتحه او يا شهادت، موږ بايد ساده وسلې جوړې کړو. او موږ بايد هغو ته پرمختګ ورکړو، تباه کوونکي صلاحيتونه يې زيات کړو. واټن يې زيات کړو او په هغو فوځونو حملې وکړو چې د ټولو فوځي صلاحيتونو مالکان دي. زموږ د کمزورو وسلو او زموږ له کمزوري سره سره به د الله تعالی په مرسته په جنګ کې يو نوی توزان پيدا کوو او که هغه په موږ بمبار کوي نو موږ به په دوی بمبار کوو. حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي: په الله قسم! که له ما سره هيڅ هم نه وي نو بيا به هم د دوی په ضد جګړه کوم او

الحمدلله له موږ سره بهترينې وسلې شته، موږ به له ټولو صلاحيتونو سره له دوی سره جنګ کوو او موږ بايد دغو صلاحيتونو ته پرمختګ ورکړو، موږ د هغې معرکې په پيل کې يو چې د هغې په هکله رسول الله صلی الله عليه وسلم په صحيحينو کې فرمايلي دي: تر هغه وخت پورې به قيامت قائم نشي تر څو پورې چې تاسو له يهودو سره جګړه نه وي کړې، تر دې پورې چې کاڼي به هم وايي، ای مسلمانه! ای د الله بنده، دا يهودي زما شاته دی، راشه هغه قتل کړه، دا ورځ راتلونکې ده او ان شاء الله نږدې ده.

ابو علي مصطفی چې د الجبهة الشيعية عمومي سکرتر دی، له خپل موټر نه ښکته کيږي او په رام الله ښار کې د خپل دفتر په زينو پورته خيژي، په دفتر کې په خپله څوکۍ له کيناستلو وروسته يو اپاچي هليکوپټر راځي او په ودانۍ بمبار کوي، د تظاهراتو يو سپک غږ پورته کيږي چې څنګه يو اشغالګر هليکوپټر راځي او يو سياسي شخصيت او فلسطيني مشر په نښه کوي او مهذبه دنيا خپلې سترګې او غوږونه بندوي.

څو اونۍ وروسته دوه ځوانان د يروشلم په حيات هوټل کې يوه اونۍ تيروي چې هلته کله کله يهودي افراطي وزير رحبعام زئيوي هم قيام کوي چې هغه د فلسطين د ختمولو وکالت کوي، هغه په اشغالګر فوځ کې يو جنرال ؤ او د فلسطيني تروريزم په خلاف د حکومتي مشر په منصب فائز ؤ. په ټاکلي وخت له اوو بجو نه وروسته هغه له خپل وطاق نه راوځي، يو ځوان هغه ته اواز کوي، هغه د ځوان طرفته ورګوري او د هغه ځوان له طرفه د تومانچې ډزې کيږي چې هغه په قتل رسوي، دواړه ځوانان په هوټل کې د موټرو تم ځای ته منډې وهي او د صحنې له ځايه ځانونه وباسي. څو دقيقې وروسته هوټل او شاواخوا سيمه لټ په لټ کتل کيږي، اشغالګر دولت اخطارونه ورکوي او اعلانونه کوي. د فلسطيني ادارې له خوا د مقاومت، استشهادي بريدونو او د هاوانونو د بريدونو د بندولو غږ پورته کيږي، ابراهيم په خندا خندا دا غږونه اوري او وايي: دا به تر زيات وخت پورې نه وي ځکه اشغالګر به موږ ته دا اجازه رانکړي، هغوی به خپلو حملو ته دوام ورکوي او له موږ سره به فقط يو حل وي چې له خپلو ټولو حقوقو نه لاس

په سر شو، هغه وخت شاید حملې ودرېږي. زموږ حاکم او جلاد یو دی. ځکه موږ هیڅکله دوی ته تېبېدل نه قبلوو او له خپلو ټولو حقوقو څخه لاس نه اخلو او زموږ دښمن موږ فقط په هغه صورت کې قبلوي چې موږ همداسې وکړو. نو دا به ډېر وخت دوام ونکړي، زموږ دښمن به په موږ د فشار اچولو هڅه کوي تر څو موږ له دې غوښتنو څخه تېر شو او ښکاره خبره ده چې موږ داسې نشو کولی، نو هغوی به په دې فکر په موږ د حملو او زموږ د وژلو هڅه کوي چې موږ دوی ته ټیټ شو، نو له دې امله موږ ته پکار دي چې اماده و اوسو او چمتووالي ته دوام ورکړو. حسن، ابراهیم او دریم ځوان په موټر کې د خان یونس په طرف روانیږي، هلته له یو مجاهد سره ملاقات کوي او له هغه سره په جلال کوڅه کې یو ورکشاپ ته ځي، هغوی مرمۍ او توپونه تیاروي او د ورکشاپ څښتن او بل مجاهد ته د کار کولو طریقه ور زده کوي، بیا دوی یو بل ورکشاپ ته ځي او څښتن ته یې تربیت ورکوي او بیا څلورم او پنځم ورکشاپ ته ځي.

یو ځوان چې د کتائب شهداء الاقصی کارمند دی؛ په تل ابیب کې له یوه موټر نه ښکته کیږي، د هغه په لاس کې یو بکس دی، هغه په مضبوطو ګامونو د د ودونو یو تالار ته ځي چې له اشغالګرو څخه ډک دی: هغه بکس خلاصوي او له هغه نه یو کلاشنکوف سره له څو شاجورونو او لاسي بمونو راوباسي، هغه خلکو ته نږدې ورځي. ډزې پیل کوي او لاسي بمونه غورځوي. تر دې پورې چې په لوی شمېر کې فوځ راځي او له هغه سره جګړه پیل کوي او د هغه روح اسمانونو ته پورته کیږي، هغه په لسګونو خلک مړه او ټپیان کړل.

د اشغالګرو جدید طیارې په مجاهدینو، کارمندانو او فلسطیني ځوانانو د هیواد په هره برخه کې بمباري کوي او د اشغالګرو جنګي ماشینونه د بې دریغه خلکو ژوند اخلي، د هغوی فوځي درانه ټانګونه، هلیکوپټرې، نوې وسلې او لوی لوی بلډوزر طوفانونه جوړوي او د خپلې لارې په مخ کې هر شی تباه کوي، کورونه. ورکشاپونه او کروندې پایمال کوي. د فلسطیني خلکو مجاهدین او فدایان له لومړنیو توکو لکه سرې څخه بمونه جوړوي او له خپلو ځانونو یې تاووي او د

دښمن سيمې ته په داخليدو سره هغوی ته د هغه جبر خوند ورڅکي چې زموږ
په خلکو يې شپه او ورځ کوي. په لويو ښارونو لکه القدس، تل ابيب، حيفا، نيتانيا
او اشدود کې لوی بريدونه کيږي او د اشغالگرو په زړه ويره او ډار ننوځي.
سړکونه خالي شول بغير له دې چې يو زوړ يا ځوان سړي به د خپل کار د ژر ترا
ژره د پوره کولو په هڅه کې روان ؤ، چای خونې خالي شوې، هيڅوک هوټلونو
ته نه تلل، عمومي ترانسپورت او بسونه تقريباً خالي شول او دوه يا درې کسان به
په مشکله پکې سپريدل.
په تل ابيب او لويديځ يروشلم کې د هر کور مخې ته د يو نيم متر په اندازه د
شګو بوجونه ايښي دي لکه څنګه چې په فوځي ځايونو کې ايښي وي، هر ځای
په زرګونو فوځيان موجود دي، د فوځيانو او پوليسو شمېر له عامو وګړو څخه
لس چنده زيات دی، هره ورځ يا څو ورځې بعد موانع کيښودل کيږي او دوی د
موټرو او پکې د ناستو خلکو تالاشي اخلي څکه دوی د عملياتو اخطار ترلاسه
کړی دی، موټر په اوږدو کتارونو کې ولاړ دي او ژوند د دوکانونو په دروازو
باندې معطل ولاړ دی، په سلګونو دوکانونو باندې تختې لګيدلې دي چې پرې
ليکلي دي: دا د خرڅلاو لپاره دی او يا تر نامعلومې نيټې پورې بند دی، څکه
اقتصادي ژوند تباه شوی ؤ. په همدې توګه اپاچي هليکوپټر يو کس وژني، بيا
بل وژني، په زرګونو خلک د بمبار شوي ځای طرفته منډې وهي تر څو د ټپيانو
د خلاصولو هڅه وکړي او په چيغو وهلو سره د عکس العمل او د ظلم د بندولو
غوښته کوي.
ابرهيم، حسن او عدنان ناست دي او د دوی مخې ته د اوږده واټن ويشتونکي
توغندي نقشې پرتې دي، ابراهيم له عدنان نه پوښتنه کوي چې ايا هغه په خپل
ورکشاپ کې دغو نقشو ته عملي شکل ورکولی شي؟ عدنان هغه دوه او بيا درې
څله ګوري او بيا د تائيد سر خوځوي. هغه په کار پيل کوي او کوم شی يې چې
تيار کړی دی هغه په موټر کې ږدي او د بيت حانون طرفته روانيږي چيرته چې
دوی ميزائيل نصب کوي او لاندې تار ته يې اور ورکوي، دوی يو څه شاته
کيږي او د کاميابي دعاګانې کوي. څو ثانيې وروسته ميزائيل په شور کولو سره له

سرحد نه تيريږي، درې واړه يو بل ته غيږې ورکوي، او بيا د نورو ميزائيلو د تيارولو او نورو کسانو ته د ورښودلو لپاره بيرته ستنيږي.
قسام او نور ګروپونه د يو جرم او بل جرم په غبرګون کې توغندي فير کوي، ځينو غړونو به خلک وويرول چې اشغالګر به څه عکس العمل وښيي چې هغوی هر وخت اخطارونه ورکوي؟ ابراهيم په خندا وويل: نور به دوی څه وکړي چې دوی نه دي کړي؟ اوس هم قتل، بمبار او تباهي روانه ده، اوس به بيا جوړول غواړي چې دوی يې بيا تباه کړي. عدنان وايي: ايا ته نه وينې چې دوی شرطونه ږدي چې خلک نور ستړي شوي دي او ملت ارام ژوند غواړي ځکه دوی د دې درنه بيعه ادا کړې ده. ابراهيم په خندا ورته وايي: څوک ستړي شوي دي؟ ته يا زه؟ زموږ ميندې او ميرمنې چې د خپلو زامنو، ځانونو، کورونو او د هر قيمتي شي بيعه ورکوي؛ په هغوی کې هيچا هم د ستړيا احساس نه دی کړی، ايا تا ونه ليدل چې هر ځل د شهيد مور اعلان کوي چې هغه د القدس او اقصی لپاره د خپلو نورو زامنو د قربانولو لپاره هم اماده ده، او څوک چې دا خبره کوي چې زموږ ملت نور ستړی شوی دی هغوی د سياسي او اقتصادي ګټو لرونکي يو څو تنه دي او محدود خلک دي، خو صبر کوونکی ملت د خپل عزت، کرامت او مقدساتو لپاره د هر قيمتي څيز قربانولو ته اماده دی.
د عز الدين القسام قطعې يوه شپاړس کلن ځوان چې فوځي يونيفورم يې په تن دی او په سر يې يوه شنه خولۍ ده چې په هغې لا اله الا الله محمد رسول الله ليکلي دي، ټوپک يې په لاس کې دی او له ملا يې څو لاسي بمونه تړلي دي؛ له موټر ښکته شو او په الشجاعيه کې د «ابو نضال» د کور د دروازې په خلاصولو سره کور ته د ننه شو. ام نضال ورته وايي: زما خوږه زويه محمد! دا څه دي؟ هلک په خندا ورته وايي: زه د شهادت عملياتو ته روان يم موري! مور يې د يوې شيبې لپاره غلې ودريږي او بيا محمد ورته وايي: ايا ستا دغه د زيتون ونه ياديږي، او د زيتون ونې ته اشاره کوي، چې دلته عماد څو کاله مخوا شهيد شو. ايا ستا عماد په ياد دې موري؟ او ايا ستا په زړه دي چې زما د دې ونې له ميوې سره څومره مينه وه ځکه هغه د عماد له روح سره ګډه وه؟ ايا ستا په ياديږي چې

تا مور ته له فلسطین، القدس، جهاد او قرباني سره مینه راښودلې ده؟ اوس وخت راغلی دی مورې! ما خپل ځان د دوی په ځایونو د حملې کولو په وخت لیدلی دی چې دوی د پسونو او وزو په څېر وژنم او بیا شهید شم او ما خپل ځان د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاسونو کې په جنت کې لیدلی دی. هغه ماته په ښه راغلاست ویلو سره ویل: مرحبا محمد مرحبا! د مور په سترګو کې یې اوښکې راځي او هغه مخکې له دې چې دا اوښکې یې په رخسار تویې شي د خپل ټیکري په پیڅکه یې پاکوي او بیا ورته وایي: الله دې تا کامیاب کړي زما زویه، الله دې تا کامیاب کړي او ستا وار دې الله رسا کړي، بیا هغه په غېږ کې نیسي، هغه ښکلوي، د هغه لاس، سر او ټوپک ښکلوي او هغه ته نصیحت کوي: زویه! کله چې حمله کوې نو زړه نازړه مه کېږه او شاته مه ګوره . د الله د دین په هکله په هغوی رحم مکوه زما خوږه . زما ځانه. زما د زړه ټکړې! په جنت کې د رسول الله (ص) تر ملاقات پورې د خدای پامان!!!

محمد د هغې سر ښکلوي او بیا ور تېتېږي د هغې لاسونه ښکلوي او په تګ تګ کې ورته وایي: تلیفون له ځان سره چالان پرېږده، زه له هغه ځایه تاته الوداع وایم. ام نضال په جای نماز کیني او خپل زوی ته د کامیابي او قبولیت دعاوې کوي. محمد د عتصیون یهودي میشتې سیمې له اغزن تارونو تیرېږي او د نظامي مذهبي مدرسې په خوا حرکت کوي، هغه خپله مخابراتي اله خلاصوي او یو بټن وهي، ام نضال تلفیون پورته کوي او ورته وایي: چیرته یې زما د زړه ټکړې؟ هغه د محمد له سکون او اطمینان څخه ډک غږ اوري: دلته یم مورې، زه خپل هدف ته ورسیدم. خوږې مورې د خدای پامان او په جنت کې تر ملاقات پورې د خدای پامان. زما خوږې مورې زه تلیفون خلاص پرېږدم تر څو ته د جنګ غږ واورې، هغه تلیفون په خپل کمربند کې ږدي او د تکبیر په نعرو وهلو سره اپارتمان ته داخلیږي: الله اکبر. د خیبر ورځ بیا راغله! هغه پرله پسې لاسي بمونه غورځوي، بیا د مرکزي تالار د دروازې طرفته ځي او ډزې پیل کوي او ام نضال د هغه غږونه اوري او دعاګانې کوي، ای الله د هغه وار رسا وګرځوې، په هدف یې برابر کړې څکه ته اصل نښان ویشتونکی یې او ستا وار هیڅکله خطاء نه ځي ای رب العالمینه. له راغلو فوځیانو سره د ډزو تبادله پیل کیږي او محمد په

څمکه غورځي او وايي« زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته هيڅ لايق د عبادت نشته او محمد د الله رسول دی» او د محمد د مور په ژبه زغاريد (د خوښۍ غږونه) زمزمه کيږي او وايي: الحمدلله چې زه يې د هغه په شهادت سره ونازولم او له الله تعالى نه سوال کوم چې ما له هغه سره يو ځای د رحمت په ځای کې يو ځای کړي. خلک د دوی کور ته راټوليږي او د هغې يوه ګاونډۍ ورته وايي: تا هغه ته څنګه الوداع ويله په داسې حال کې چې ته پوهيدې چې هغه د مرګ په لاره روان دی؟ هغې ځواب ورکړ: په الله قسم هغه ماته د دنيا او په دنيا کې د شته ټولو شيانو څخه محبوب دی خو هغه د الله تعالى په لاره کې او د القدس او اقصی په خاطر کم دی. په الله قسم چې زه زموږ د خلکو د عظمت او زموږ د ملت د عزت لپاره «نضال»، «حسام» او «رواد» هم د الله په لاره کې قربانولو ته اماده يمه او زه اميد لرم چې الله به موږ په خپل رحمت سره نازوي او موږ ټول به په ريښتوني مقام کې د حبيب مصطفى صلى الله عليه وسلم په حضور کې سره جمع کوي.

زما موبايل ته زنګ راغی او ما پورته کړ او له هغه طرفه د ابراهيم غږ راغی: بلې احمده السلام عليکم. ما ځواب ورکړ: وعليکم السلام و رحمة الله وبرکاته. هغه وويل: ته چيرته يې ؟ ډير وخت مې نه يې ليدلی. ته مې ياديدې څکه مې زنګ درته وکړ، ته څنګه يې او په کور کې څه حال دی؟ ټولو ته زما سلام وايه او د اسراء او ياسر ښکلول مه هېروه! ما پوښتنه وکړه: ايا ته د هغوی ليدلو ته نه راځې؟ ته هغوی له ډيره وخته نه يې ليدلی. هغه ځواب راکړ: معلومات نشته خو زه به هڅه کوم خو ته پوهيږې چې زه څومره مصروف يم، ما پوښتنه وکړه: ستا طرفته څه خبرونه دي ابراهيمه؟ هغه په خندا وويل: احمده! ته پوهيږې چې ما نن شپه يو خوب وليده چې د سهار د رڼا په شان واضح ؤ، ما وليدل چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث وايم، په هغوی کې يو حديث دادی:

له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: قيامت به تر هغه پورې قائم نشي تر څو پورې چې تاسو مسلمانانو له يهودو سره جګړه نه وي کړې، تاسو مسلمانان به هغوی وژنئ تر دې

پورې چې یهودي به د ډبرو او ونو شاته پټ شي او ډبره او ونه به وایي چې ای مسلمانه، ای د الله بنده، دا یهودي زما شاته پټ دی، راشه هغه قتل کړه بغیر د غرقد له ونې ځکه هغه د یهودو ونه ده. یو بل حدیث له عبدالله بن حوالة نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:تاسو به فوځونه لیږئ. یو فوځ شام ته، یو فوځ عراق ته او یوفوځ یمن ته، زه (عبدالله) پورته شوم او ومې ویل: یا رسو الله ماته حکم وکړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په تا باندې لازم دي چې شام ته لاړ شې، څوک چې هلته نشي تللی هغه دې یمن ته ولاړ شي او له خپل غور څخه دې اوبه وڅکي ځکه الله تعالی د شام او د هغه د خلکو ذمه اخیستې ده.
په یو بل حدیث کې راځي: له حضرت ابو امامه رضي الله عنه روایت دی چې نبي علیه السلام وفرمایل: زما په امت کې به یوه ډله همیشه غالبه او په دین باندې ولاړه وي، په خپلو دښمنانو به غالبه وي، هغوی به د خپلو مخالفینو او یا د مرسته نه کوونکو هېڅ پروا نه ساتي مګر دا چې هغوی ته څه تکلیف ورسوي تر دې پورې چې د الله تعالی حکم راشي او هغوی به په هماغه حال کې وي، صحابه وو پوښتنه وکړه: یا رسول الله هغه خلک به چیرته وي؟ نبي علیه السلام وفرمایل چې په بیت المقدس او شاوخوا کې.
له حضرت عبدالله بن حوالة نه روایت دی چې هغه وویل: یا رسول الله ماته یو داسې ځای وښایه چې هلته زه و اوسیږم، که ماته معلومه شي چې ته به ژوندی پاتې شې نو بل هیڅ شي ته به ستا په قربت ترجیح ورنکړم، نبي علیه السلام درې ځله وفرمایل: شام اختیار کړه. کله چې نبي علیه السلام له هغه څخه د شام ناخوښه کول ولیدل نو ویې فرمایل: ایا تاته معلومه ده چې الله تعالی څه فرمایي؟ الله فرمایي: ای شام. ای شام زما لاس په تا باندې دی، ای شام! ته زما په ملکونو کې زما خوښ یې، زه به تاته زما بهترین بنده ګان داخلوم، ته زما نعمت یې او زما د عذاب دُره یې. ته بهترین یې او ستا په طرف محشر هم دی، او ما د شپې ولیدل کله چې زما معراج ؤ نو یوه سپینه ستن چې د ملغلرې په شان وه او فرښتې یې پورته کوي. ما پوښتنه وکړه: څه شی وړئ؟ هغوی وویل: موږ د اسلام ستن

وړو. موږ ته حکم شوی دی چې هغه په شام کې کیږدو. او کله چې زه ویده شوم نو ما ولیدل چې یو کتاب زما د بالښت له لاندې څخه وویستل شو نو ما سوچ وکړ چې الله تعالی د ځمکې له خلکو نه کناره کشي وکړه نو ما خپل نظر شاته وکړ نو هغه یو روښانه نور ؤ چې زما مخې ته ؤ تر څو پورې چې هغه په شام کې نه وه کیښودل شوې. څوک چې شام ته تګ نه غواړي هغه دې د یمن خواته لاړ شي او د خپلو تالابونو اوبه دې وڅکي ځکه الله تعالی زما لپاره د شام هیواد کفالت په خپله ذمه کې اخیستی دی.

ای احمده! بیا ما ولیدل چې زه روژه دار یم او رسول الله صلی الله علیه وسلم راته فرمایي: نن به ستا روژه ماتی له موږ سره وي ابراهیمه! نو زه ستا انتظار کوم. ما په چیغه کولو ورته وویل: ایا د دې مطلب... هغه زه ایسار کړم او زیاته یې کړه: چیغې مه وهه احمده. چیغې مه وهه! زه بیخي زیات احتیاط کوم خو دا یوه داسې بلنه ده چې رد کیدلی نشي، د خدای پامان احمده، او موبایل یې بند کړ. زه د یوې شیبې لپاره په خپل ځای ودریدم او زما په سترګو کې اوښکې راغلې ځکه زما یقین راغی چې دا الوداعي کلمات دي، بیا زه دوهم منزل ته په زینو پورته شوم نو ما مریم ولیدله چې خندل یې. ما ورته وویل: ایا هغه له تا سره خبرې وکړې؟ هغې په خندا وویل: هو! خو په خوب کې. هغه ماته داسې الوداع وویله چې زه به یې هیڅکله هېره نکړم او ماته یې د اسراء او یاسر په هکله وصیت وکړ. هغې خندل او زما په رخسار تړمې اوښکې روانې وې. هغې په خندا وویل: ته ژاړې ای کم عقله! په تا څه وشول؟ په دې وخت کې کله چې یو اپاچي هلیکوپټر د هغه په موټر بمبار وکړ چې په هغه کې ابراهیم ؤ نو ما احساس وکړ چې زما د زړه درزا ودریده او زه په منډه شوم. په زرګونو خلکو د هغه موټر طرفته منډې وهلې چې د بمبار هدف ګرځیدلی ؤ او ما له ځینو خلکو واوریدل چې هغوی ویل: دا ابراهیم صالح دی. ما د ابراهیم ټکړې راټولې کړې او په یو کټ کې مې واچولې او د شهید جسد مو د خلکو له زیات ازدحام سره کور ته روان کړ. په دروازه کې مریم ولاړه وه او ټیکری یې په سر کړی ؤ. د هغې له مخ نه مسکا نه ورکېدله او د هغې زغارید (د خوښۍ غږونه) د ازدحام په شور باندې

غالب وو. د هغې ښي طرفته یاسر او چپ طرفته یې اسراء ولاړه وه او شاته زما د مور سر ښکارېده چې د ټیکري په پیڅکه یې اوښکې پاکولې. کله چې دروازې ته ورسیدو نو محمود هم په هماغه وخت له کور نه بهر روان ؤ. ما یاسر په خپلو اوږو پورته کړ او محمود اسراء په خپلو اوږو پورته کړله. ما او محمود دواړو د مریم طرفته لاسونه اوږده کړل او هغې مورږ دواړو ته یو یو کلاشنکوف راکړ، مورږ ټوپکونه واخیستل او هغوی مو په اوږو کېنول او روان شو. خلکو نعرې وهلې «خیبر خیبر یا یهود... جیش محمد سوف یعود...بسم الله الله اکبر...بسم الله قد حانت خیبر. بالروح بالدم نفدیک یا شهید... بالروح بالدم نفدیک یا فلسطین... عالقدس رایحین...شهداء بالملایین..» او له تنګو کوڅو څخه په زرګونو نقاب پوش د کتائب القسام افراد په خپل ځانګړي یونیفورم کې د کتارونو په شکل کې راووتل او دوی شنه بیرغونه پورته کړي وو. د کتائب الشهداء افراد هم په خپل ځانګړي یونیفورم کې د کتارونو په شکل کې راووتل او ژړ بیرغونه یې پورته کړي وو او د کتائب القدس افرادو تور بیرغونه پورته کړي وو. نورو خلکو هم مختلف قسم وسلې په هوا کې ښورولې او شهید ته یې الوداع ویل. ما خپل ټوپک ښوراوه او یاسر مې په بل لاس نیولی ؤ چې زما په اوږه ناست ؤ. له ابراهیم سره زما د تېرو شویو شیبو او د هغه خبرې زما له ذهن څخه نه وتلې په ځانګړې توګه د هغه اخري خبرې چې ماته یې کړې وې...

دا کیسه د ۲۰۰۴ میلادي کال په دسمبر میاشت کې د فلسطین په بئر السبع زندان کې مکمل شوه او د بئر السبع په توقیف خونو کې ولیکل شوه او په خپل دیرشم څپرکي سره تکمیل شوه.

بسم الله الرحمن الرحیم

شهید یحیی سنوار څلور کتابونه لیکلي چې اغزي او لونګ یې له ډلې څخه دی په دغه کتاب کې سنوار د غزې او فلسطین تصویر وړاندې کړی.



دا ناول نه زما شخصي قصه ده او نه د يو خاص شخص قصه ده، البته د دې ناول ټول واقعات رېښتيني دي، د دې هره واقعه او يا د واقعاتو مجموعه حتماً له يوه فلسطيني وګړي سره تړاو لري. په دې کې تخيل فقط دومره کارول شوی، چې د يو ناول شکل ورکړل شوی چې هغه په ځانګړو کرکټرونو باندې راڅرخي تر څو په دې کې د ناول غوښتنې پوره کړای شي. له دې پرته هر څه رېښتوني دي او د دې زياتره برخه ما له هغو خلکو اورېدلي چې دوی په خپله، يا يې کلېوالو او خپلوانو د فلسطين په پاکه خاوره تر لسيزو پورې زغملي دي.

زه دا کتاب د هغو خلکو په نوم کوم د چا زړونه چې د اسراء او معراج له ځمکې سره مينه لري، له بحر اوقيانوس نه نيولې تر خليج پورې، بلکې له بحر اوقيانوس نه نيولې تر بحر اوقيانوس پورې.

يحيى ابراهيم السنوار

بئر سبع زندان ٢٠٠٤

د حکمرانان کتابتون لینک: https://t.me/Azizafghn

قدرمنو دوستانو که له تاسې سره غوره کتابونه وي ، او تر اوسه نوي سکن شوي ، سکن یې کړئ ، او موږ ته یې په لاندې شمیره ولیږئ ، موږ به یې د ټلیګرام له چینل او نورو رسنیو څخه خپاره کړو ، دا به ستاسې لپاره صدقه جاریه شي ، ځکه په ډیرو هیوادونو کې زموږ تاسې مسلمانان پښتانه ورونه شتون لري ، چې دوی د دیني کتابونو د مطالعې شوق او مینه لري ، خو هغوی یادو کتابونو ته لاس رسی نه لري ، غوره دا ده چې دا کتابونه هغوی ته په pdf بڼه ورورسیږي ، او هغوی استفاده ترې وکړي ، تاسې به د خیر په دې کار کې شریک یاست ، او دا به ستاسې لپاره صدقه جاریه وي. مننه.

د واټساف شمیره: 0093780836517

Azizur Rahman Hussaini